بسم الله الرحمن الرحيم

يخرج منهما اللّؤلؤ والمرجان

# ترصيع الدّرر فی توضيح سمط الدّرر

المعروف

به

# الجواهر السّجنية

(۱) د سمط الدرر مکمله ترجمه او تفصيلی وضاحت

(۲) د هر سورة تفصيلی ربط او خلاصه

(۳) د آيتونو په خپل مينځ کښی او د عوي سره

# فهرس الموضوعات

انتساب............................................................................................................................................... 2

د ليکلو باعث ......................................................................................................................................... 3

ددې كتاب طرز و طريقه ........................................................................................................................ 7

تقاريظ ............................................................................................................................................. 11

تقريظ شيخ القرآن والحديث حضرت العلامه مولانا ميرسميع الحق صاحب سربند.......................................... 11

تقريظ شيخ القرآن والحديث حضرت مولانا غلام حبيب صاحب.......................................................... 13

تقريظ ماهر فى فن أسماء الرجال شيخ القرآن والحديث مولانا تاج بر خان صاحب......................................... 15

تقريظ شيخ القرآن مولانا عبدالشكورصاحب........................................................................ 16

تقريظ مفتي ومرشدى مكرم محمد مسلم نستوى صاحب .................................................................... 17

تقريظ شيخ الادب فارس الالفاظ والمعانى مولانا فضل حق.............................................................. 19

تقريظ مفتي اعظم اشاعت شيخ الحديث مفتى سراج الدين صاحب.......................................................... 22

تقريظ شيخ الحديث حضرت العلامه مولانا عبدالله چارباغى صاحب سوات ........................................... 23

تقريظ شيخ القران والحديث حضرت مولانا عبدالجبار صاحب باجوړ............................................. 25

تقريظ شيخ القران والحديث مولانا سراج الدين صاحب باړه خيبر ايجنسى............................................ 26

تقريظ الفاضل الاديب العالم النبيل فضيلة الشيخ مولانا شيراحمد منيب ................................................... 28

تقريظ حضرت مولانا سخى داد خوستى ژوب بلوچستان............................................................. 31

تقريظ شيخ القرآن والحديث حضرت مولانا عبدالرحيم صاحب................................................... 34

تقریظ صاحب السجن ابوحفص ........ 36

مُقّدِمة ........ 37

خصوصيات د طرز دمشائخو ........ 39

فضيلةالقرآن ........ 40

فضيلةاهل القرآن ........ 44

الاداب لفهم القرآن ........ 46

قرآن څه وائی ؟........ 55

معنی التوحید ........ 56

اقسام التوحید ........ 56

الشرک ........ 60

اقسام الشرک : ........ 60

قبائح الشرک : ........ 61

التقسیم الاخر فی الشرک : ........ 63

الشرک الاعتقادی ........ 63

(۱) الشرک فی العلم ........ 64

(۲) الشرک فی التصرف ........ 66

(۳) الشرک فی العبادت ........ 66

(٤) الشرک فی الدعاء ........ 67

الشرک الفعلی.......... 67

مقاصد عالیه.......... 69

صداقة الرسول.......... 71

صداقت الکتاب.......... 74

مقام القرآن.......... 76

﴿۱﴾ تعریف القرآن.......... 76

﴿۳﴾ حکمة النزول.......... 76

الایمان بالاخرة.......... 80

جهاد فی سبیل الله تعالی.......... 84

الانفاق فی سبیل الله.......... 88

التنظیم والجماعة.......... 90

الاداب.......... 92

ربط او مناسبت.......... 92

قرآن چاسره خبره کوی؟.......... 93

خطاب مع المنکرین.......... 94

اقسام المنکرین.......... 94

[۱] المشرکین.......... 94

طرق الرد علي المشرکین.......... 95

اليهود........................................................................................................ 96

النصارى ........................................................................................................ 97

انداز بیان د قرآن ........................................................................................ 99

اقسام الدليل................................................................................................. 99

الدليل العقلی ............................................................................................. 99

اقسام الدليل العقلی .................................................................................. 99

الدليل النقلی.............................................................................................. 100

الدليل الوحی.............................................................................................. 101

الحلف ........................................................................................................ 101

څلورمه خبره چه بيان اوکړې نو څه به اوشی يعنی اثر به ئ څه وی؟..................... 104

اصول د فهم دسورة.................................................................................... 107

(1)ربط د سورت ........................................................................................ 108

ربط اسمی................................................................................................... 108

ربط معنوی ................................................................................................. 108

ربط معنوی کلی ........................................................................................ 109

ربط معنوی جزی ....................................................................................... 109

(2) دعوی دسورة........................................................................................ 110

(3) خلاصه او تقسیم دسورة ....................................................................... 112

(4) حاصل دسورة......114

(5) امتيازات دسورة......115

بحث دترتيب نزولى ومصحفى......117

اصول دزده كولو دآيت......119

ربط دآيت كريمه......119

شان نزول دآيت......123

تقسيم دقرآن كريم څلورو حصو ته......126

سورة الفاتحه......129

فضيلةالفاتحة......129

دعوى دسورة......133

خلاصه دسورة......133

مقاصد الآيات وتناسبها......134

حاصل دسورة......136

امتيازات......136

سورة البقره......138

ربط دمخكنبي سورة سره......138

دعوى دسورة......139

خلاصه او تقسيم دسورة......139

تقسیم دسورة..........140
الحصة الاولى ..........140
الحصة الثانية ..........143
الحصة الثالثه ..........144
الحصة الرابعة..........145
مقاصد الايات وتناسبها..........145
الحصة الا ولى ..........145
الحصة الثانية رسالت..........165
الحصة الثالثه ..........181
بيان جهاد فى سبيل الله..........181
الحصة الرابعة..........195
الانفاق فى سبيل الله..........195
حاصل دسورة ..........201
سورة آل عمران..........204
ربط دمخکنبي سورة سره..........204
دعوى دسورة..........205
خلاصه او تقسيم دسورة..........205
رد د اصولو دنصرانيت..........208

مقاصد الايات وتناسبها........ 209

الحصة الا ولى ........ 209

الحصة الثانية ........ 217

الحصة الثالثة ........ 223

حاصل دسورة ........ 235

امتيازات ........ 236

سورة النساء........ 238

ربط دمخكبني سورة سره........ 238

دعوى د سورة........ 239

خلاصه او تقسيم دسورة........ 239

اهمية ددعوي دسورة........ 241

مقاصد الايات وتناسبها........ 244

الحصة الا ولى ........ 244

الحصة الثالثة ........ 264

حاصل دسورة ........ 269

امتيازات ........ 269

سورة المائده........ 271

ربط دمخكبني سورة سره........ 271

دعوى دسورة.................................................................................................272

وضاحت ددعوي دسورة .....................................................................................272

خلاصه او تقسيم دسورة.....................................................................................277

مقاصدالايات وتناسبها.....................................................................................279

حاصل د سورة ...............................................................................................297

امتيازات ......................................................................................................298

دقرآن كريم دويمه حصه....................................................................................300

سورة الانعام ................................................................................................301

ربط دمخکښي سورة سره....................................................................................301

دعوى د سورة................................................................................................302

خلاصه او تقسسم دسورة....................................................................................302

مقاصدالايات وتناسبها.....................................................................................304

دويمه حصه..................................................................................................319

حاصل دسورة ...............................................................................................325

امتيازات ......................................................................................................325

سورة الاعراف.................................................................................................327

ربط دمخکښي سورة سره....................................................................................327

دعوى دسورة ................................................................................................328

خلاصه دسورة ........ 328

مقاصدالايات وتناسبها........ 330

حاصل دسورة ........ 343

امتيازات ........ 344

سورة الانفال........ 346

ربط دمخكبنې سورة سره........ 346

دعوى دسورة........ 347

خلاصه او تقسيم دسورة........ 347

مقاصدالايات وتناسبها........ 349

حاصل دسورة ........ 357

امتيازات ........ 358

سورة التوبه........ 360

ربط دمخكبنې سورة سره........ 360

خلاصه اوتقسيم دسورة ........ 361

مقاصدالايات وتناسبها........ 362

حاصل دسورة ........ 375

امتيازات ........ 376

سورة يونس........ 377

ربط دمخكښې سورة سره......377
دعوى دسورة......378
خلاصه او تقسيم دسورة......379
مقاصدالايات وتناسبها......381
حاصل دسورة......391
امتيازات......392
سورة هود......393
ربط دمخكښې سورة سره......393
دعوى دسورة......394
خلاصه دسورة......394
مقاصدالايات وتناسبها......395
حاصل دسورة......402
امتيازات......402
سورة يوسف......404
ربط دمخكښې سورة سره......404
دعوى دسورة......405
خلاصه دسورة......406
اشارات دسورة يوسف......406

مقاصدالایات وتناسبها.................................................................................................407

حاصل دسورة ...........................................................................................................414

امتیازات .................................................................................................................414

سورة الرعد.............................................................................................................416

ربط دمخکبني سورة سره.............................................................................................416

دعوی دسورة...........................................................................................................417

خلاصه او تقسیم دسورة..............................................................................................417

مقاصدالایات وتناسبها.................................................................................................419

حاصل دسورة ...........................................................................................................425

امتیازات .................................................................................................................426

سورة ابراهیم............................................................................................................428

ربط دمخکبني سورة سره.............................................................................................428

دعوی دسورة...........................................................................................................428

خلاصه او تقسیم دسورة..............................................................................................429

مقاصد الایات وتناسبها................................................................................................430

حاصل دسورة ...........................................................................................................436

امتیازات .................................................................................................................436

سورة الحجر............................................................................................................438

ربط دمخکنبې سورة سره.................................................. 438

خلاصه او تقسيم دسورة.................................................. 439

مقاصد الايات وتناسبها.................................................. 440

حاصل دسورة .................................................. 444

امتيازات .................................................. 444

سورة النحل .................................................. 446

ربط دمخکنبې سورة سره.................................................. 446

دعوى دسورة.................................................. 447

خلاصه او تقسيم دسورة.................................................. 447

مقاصدالايات وتناسبها.................................................. 449

حاصل دسورة .................................................. 463

امتيازات .................................................. 464

سورة بنى اسرائيل .................................................. 465

ربط دمخکنبې سورة سره.................................................. 465

دعوى دسورة.................................................. 466

خلاصه دسورة .................................................. 466

مقاصدالايات وتناسبها.................................................. 468

حاصل دسورة .................................................. 477

امتيازات ........ 477

دريمه حصه دقرآن........ 479

سورة الكهف ........ 480

مناسبت دمخكنبي سورة سره ........ 480

دعوى دسورة........ 482

خلاصه دسورة ........ 483

مقاصدالايات وتناسبها........ 484

حاصل دسورة ........ 497

امتيازات دسورة ........ 498

سورة مريم........ 499

مناسبت دمخكنبي سورة سره ........ 499

دعوى السورة........ 500

خلاصه او تقسيم دسورة........ 500

تقسيم دسورة........ 501

تناسب الايات ومقاصدها ........ 502

حاصل دسورة ........ 510

امتيازات السورة........ 511

سورة طه........ 512

مناسبت دسورة دمخكبنې سره ........................................ 512

دعوى السورة........................................ 512

خلاصة السورة........................................ 513

تناسب الايات ومقاصدها........................................ 514

حاصل دسورة ........................................ 526

امتيازات دسورة ........................................ 526

سورة الانبياء ........................................ 528

مناسبت دمخكبنې سورة سره ........................................ 528

دعوى دسورة الانبياء........................................ 529

خلاصه اوتقسيم دسورة ........................................ 529

تقسيم دسورة........................................ 529

تفصيل ددې بابونو........................................ 530

ارتبـــــاط الايات........................................ 532

حاصل دسورة ........................................ 543

امتيازات ........................................ 543

سورة الحج ........................................ 545

مناسبت دمخكبنې سورة سره ........................................ 545

دعوى دسورة........................................ 546

خلاصه او تقسيم دسورة.......................................................................................547

نظم الايات ومقاصدها ........................................................................................548

حاصل دسورة ...................................................................................................559

امتيازات السورة..................................................................................................559

سورة المومنون....................................................................................................561

ربط دمخكبني سورة سره.......................................................................................561

دعوى دسورة.......................................................................................................562

خلاصه او تقسيم دسورة.......................................................................................562

تناسب الايات ومقاصدها......................................................................................565

حاصل دسورة ...................................................................................................574

امتيازات السورة..................................................................................................574

سورة النور..........................................................................................................576

مناسبت دمخكبني سورة سره .................................................................................576

دعوى دسورة.......................................................................................................577

خلاصه او تقسيم دسورة.......................................................................................578

نظم الآيات فى السلک ........................................................................................580

حاصل دسورة ...................................................................................................589

امتيازات ...........................................................................................................590

سورة الفرقان ........................................................................................................ 591

تعلق دسورة دمخکښي سورة سره ........................................................................................ 591

خلاصه دسورة ........................................................................................................ 593

تناسب الايات ومقاصدها ........................................................................................ 593

حاصل دسورة ........................................................................................................ 599

امتيازات  دسورة ........................................................................................................ 600

بسم الله الرحمٰن الرحیم

# انتساب

دلوئي الله
په لوئي شکرونو
او دهغه په محبوب ﷺ دهغه مناسب
د الله تعالیٰ په خوښه درودونو او رحمتونو نه روستو
په انتساب کښې به دحضرت شیخ القران مجتهد فی القران صاحب
سمط الدرر مولانا محمد طاهر رحمة الله تعالیٰ علیه د قدرمند نه روستو
او دهغه د نامورو شاګردانو چه د هغه نوم او طرز دقران ئې پهٔ عالم اوځلولو او
دخپلو محترمو محبوبو استاذانو چه دهغوی په محنت او دعاء بنده ددې قابل شو او دخپلو خوږو
او محبوبو د سبق او د نتظیم او د مدرسې جواهرالقران او د جیل د ملګرو او د محبوبو طالبانو د نومونو نه
روستو به څهٔ د خپل عاجز او موّحد پلار چه پیسې به ئې قرض کړې او څه به ئې مدرسې ته اولیږلم او د
خپلو ګرانو او خوږو رونړو خویندو چه هغوی څه بالکل ددین او دقران خدمت ته فارغ کړې یم او ځما
نه هیڅ یو ددنیا د کار مطالبه نه کوی او نه ئې کړې ده او اوس څه جیل کښې یم او هغوی بهر ځما
نه زیات پریشانه دی او دخپلې درنې او خوږې عاجزې زړه خوګې مورچه ځما جیل دهغې
خوبونه او آرام حرام کړې دی او دهغې دژړا ګانو او دعاګانو دا اثر مخې ته راخکاره
شو د دوی نومونه هیرول به ډیره نمک حرامی وی چرې به څه دوی هیرنه
کړم الله تعالیٰ دې ټولو ته صدقه جاریه کړی او الله تعالیٰ دې
په خپـــل دربـــار کښې قبـــول کـــړی
اٰمیـــن یـــا رب العـــالـــمین
والله المـــوفـــق
وهوالمـــعین

## د ليکلو باعث

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله رب العالمين ، الرحمٰن الرحيم ، مالک يوم الدين الذى خلق السمٰوٰت والارض وجعل الظلمٰت والنور وانزل على عبده الكتٰب ولم يجعل له عوجا قيماً ، الذى له مافى السمٰوٰت والارض وله الحمد فى الاخرة وهو الرحيم الغفور فاطرالسمٰوٰت والارض جاعل الملٰئكة رسلاً اولى اجنحة مثنىٰ وثلاث وربع يزيد فى الخلق ما يشاء وهو على كل شيئ قدير۔ الذى هو الخالق المربى المبارک المالک ، سبحان الله الذى لم يکن له شريک فى الملک ولم يتخذ ولداً ولا نائباً ولا نصيراً تعالىٰ الله عما يقول الظالمون قولاً منكراً وزوراً، له المجد والثناء والعظمة والكبرياء تعالىٰ علواً كبيراً ۔۔۔۔

والصلوٰة والسلام على محمد المبعوث الى كافّة الناس بشيراً ونذيرا و داعياً الى الله سراجاً منيراً وفضّله بالكتاب المبين ذكرا عليا وخيراً كثيراً وعلى اٰله و اصحابه الذين فازوا منه بالحكمة العلياء واعتصموا بحبل الله المتين وعروة الوثقىٰ وصاروا بذالک ائمةالهدىٰ ۔۔۔ امابعد

دالله تعالىٰ په لوئې فضل و کرم او خصوصى مهربانئ سره د بنده عاجز تعلق د ډير ماشوموالى نه دقران کريم د خادم عظيم جماعت اشاعة التوحيد والسنة العالمية سره دې په اتم جماعت کښې اووم چه دترجمې استاذ حافظ عبدالظاهر راته اووئيل چه په پنج پير کښې په روژه کښې د قران مجيد د ترجمې دوره کيږى نو ځما اراده ده چه ځه به ځم ما ورته اوئيل چه دجمعې په ورځ چهټى وى او که سبق وائى؟ نو هغه اووې چه نه چهټى نه وى نو ما وې چه دجمعې په ورځ به ځه تاسو سره ځم چه ځه په اول ځل لاړم او ما د حضرت شيخ القران ابواليمان مولانا محمد طيب طاهرى آواز واوريدلو او د طالبانو هجوم مې اوليدلو نو ماله ئې ډيره مزه راکړه نو بيا به ځه د زيارت په ورځ هم سکول ته نه تلم او درس له به راتلم بيا مې ورسره خالى هم اوکړو نو هفته کښې به درې ورځې درس له راتلم او څلور به سکول ته تلم پدې دوران کښې به حضرت شيخ القران مدظله العالى د سمط الدرر نوم اغستلو او دهغې د ليکلو تاريخ به ئې وئيلو نو ځما زړه کښې شوق شو چه دا کتاب اغستل غواړى خو ماسره پيسې نه وې وړوکې ووم چه په اختر کښې راله يو بل پيسې راکړې نو صوابئ ته راغلم او يو کتب

خانه په سردار ماركيټ كښې وه حامد كتب خانه نو داختر په پيسو مې ځان له سمط الدرر واغستو او ورسره تفسير ابن عباس اګر چه ځه په عربئ نه پوهيدلم خو دمحبت د وجې مې واغستو څه وخت پس الله رب العزت په ما رحم اوكړو او ځه طالب شوم خپل والد محترم رحمة الله تعالیٰ عليه په غريبئ كښې ځه مدرسې ته اوليږم په ١٤١٨ ھ رمضان كښې ځه په ويسه كښې درس كښې شريک ووم د حضرت شيخ القران والحديث مولانا غلام حبيب صاحب سره چه ځما ډير محبوب استاذ دې نو هغه يوه ورځ په درس كښې په سورة المائده كښې سمط الدرر راوړو او يوه حواله ترې اووئيله بيا ئې اووئيل چه سمط الدرر د خلاصو كتاب ندې دا ځما په نيزد تفسير دې او ځه ورته تفسير سمط الدرر وايم دا چه تفصيلى شى نو جلدونه ترې جوړيږى مونږ حيران وو چه دا څنګه دومره اوږديږى وخت تيريدلو د تدريس په اول كال الله رب العزت ماله توفيق راكړو چه ځه دحضرت شيخ الاسلام مولانا ولى الله الشهيد رحمة الله تعالیٰ عليه سره لاړم رجب ١٤٢٤ھ كښې چه دهغوي درس واوريدلو او هغوى د بقرې خلاصه اووئيله نو ما ځان سره سمط الدرر اوړې وو نو ځه حيران شوم چه دوي دخپل استاذ طرز څنګه تفصيلى كوى او دهغې تشريح كوى څو كاله ځه مسلسل درس كښې پاتې شوم چه هغوي د شيخ القران رحمة الله تعالیٰ عليه درس ته اجتهادى طرز وئيلو او وئيل ئې چه ځمونږ د پښتنو دپاره دهغه طرز ډير عمده دې ـ دپنج پير درس د تكرار او بيا بيا كولو سره او ويسه درس بار بار كولو سره او دكابلګرام درس بار بار كولو سره ځۀ څه لږ په سمط الدرر پوهه شوم او ويسه شيخ صاحب خبره مې رو رو زړه ته كوزيدله يوه ورځ مې ملګرو ته تذكره اوكړه چه زړه كښې سوچ اوكړم او ستړګې پټې كړم نو چه سمط الدرر له شرح اوليكم نو دجلد دپاسه به شى ملګرو به وې شروع اوكړه خو جرات نه كيدلو چه دا به څنګه شى په رمضان ١٤٣١ ھ كښې بنده عاجز د حضرت شيخ القران رحمة الله تعالیٰ عليه يو زوړ شاګرد چه هغه د حضرت شيخ القران نه ديرش ځله قران وئيلې وو او دحضرت شيخ القران په ژوند ئې درس نه وو كړې شيخ القران مولانا مير سميع الحق صاحب مد ظله العالى سره د درس توفيق الله تعالیٰ راكړو نو هغه به سمط الدرر سم درسى وئيلو او ماته ترې ډير فائده اوشوه يوه ورځ ما هغه له چاپې كوله نو ماورته عرض اوكړو چه سمط الدرر لږ اوږد كړې شى او مقاصد ظاهر كړې شى نو څنګه به وى ځما خيال وو چه هغوى ته مې وئيل چه تاسو اوكړئ نو هغوى ماته اووئيل چه

که دا کار دِ اوکړو نو شيخ القران به په قبر کښې خوشحاله کړې ته شروع اوکړه او چې ځما نه چه څه تعاون کيږی ځه به کوم ما عرض اوکړو چه ستاسو سمط الدرر بـه ځـه فوټـو سټيټ کړم هغوی اجازت اوکړو بيا ما اوئيل چه ځه به يو سورة اوليکم او تاسو ته به يئ او خـايم خو د ناراستيئ د لاسه او څه د مصروفيت دلاسه ما هيڅ اونکړل پـه کال ۱٤۳۳ هـ کښـې ځـه پنج پير ته دحضرت شيخ القران مدظله العالی ملاقات له تلي ووم چه څه خبره شروع شوه مـا عرض اوکړو چه که سمط الدرر لږ مرتب شی نو هغوئ اووئيل چه دا آيتونه ورسره اوليکه ما سوچ اوکړو چه اکثر استاذان مشوره درکوی نو څه ليکم خو څـه ددې کار نـه يريـدم چـه د انتهائی غټې هستيئ کتاب دې ځه به څنګه ددې شرح ليکم او څه مِ دا انتظار وو چه کيدې شی د حضرت شيخ القران رحمة الله يو لوئې شاګرد ددې باره کښې څه اوليکی يا څه ليک مخې له راشی نو څه فائده به اوشی خو څه مخې ته رانغلل او ماهم څه اونکړل دغه شان وخت تير شو چه الله څه کوی نو هغه کيږی -

مدعی لاکھ برا چاہے تو کیا ہوتا ہے۔

وہی ہوتا ہے جو منظور خدا ہوتا ہے

چه په ۲۸ جمادی الثـانی ۱٤۳۳ هـ ۲۰ مـئی ۲۰۱۲ ء د اتـوار پـه ورځ ځمـونږ پـه مدرسـه کښـې اختتامی پروګرام وو او ډيرو استاذانو تشريف راوړې وو په هغې کښې ځما استاذ شيخ القران مولانا محمد طيب طاهری هم تشريف راوړې وو دهغوی د رخصتيئ نه روستو ځه پـه مدرسـه کښې ملاست ووم تقريباً څلور بجې وې چه يو ملګری مولانا فضل وهاب صاحب راويخ کړم چه مدرسه کښې آرمی ده چاپه ده په هغې کښې ځه عاجز هم ګرفتار شـوم او سـوات تـه ئـې راوستلم چه څه وو هغه اوشو نو ما دپيژندګلو فوجيانو ته اوئيل چه که وخـت زيـات وی نـو ماله څه کتابونه راوغواړيئ چه ځه مصروف شم خو هغوی وئيل چه بس نن صبا کښې به لاړ شې په ديکښې تقريباً درې مياشتې اووتلې او نن صبا وو، دوړوکی اختر ورځ وه يکم شوال ۱٤۳۳هـ وه ځه په جيل کښې ناست ووم پريشانه هـم ووم دعاء مِ کـوله چـه اې الله کـه ځمـا وخت وی ستا فيصله لا دخلاصيدو نه وی نـو مـاله د سـمط الدرر او بلغـة الحـيران د راوړو بندوبست اوکړه او کور سره رابطه اوکړه دالله تعالیٰ احسان وو چه پـه دغـه ورځ ماسـخوتن دمونځ نه روستو ناست وو چه يو کس راغې وې ستا ملاقات له ميجر شـير شـاه راغـی ځـان

تيار کړه نو ځه لاړم هغه ماله کور ته فون اوکړو ما خپل محترم رور حاجی هارون الرشید ته اووې چه ځما دا کتابونه پکار دی کیدیشی تاته معلوم نه وی خو کوشش اوکړه د الله تعالیٰ احسان وو چه داختر په دیارلسمه ورځ ۱۳ شوال باندې محترم رور قائم شاه ساکن پنج پير هغه راغې او ځه سامان سره دکتابونو راوړو خو دبلغة الحيران چه په تسهیل او تحقیق د ډاکټر سراج الاسلام وو دویم جلد ئې راوړو ما دا هم غنیمت اوګڼړلو او دسورة الکهف نه م په ۱٤ شوال شروع اوکړه د الله تعالیٰ په لوئې امداد باندې د هر سورت ليکلو سره به م خيال وو چه بس نن اووځم او نن اوځم د الله تعالیٰ کړه وو چه ۲ ذی الحجه راغله او الله تعالیٰ ټول ليکل سر ته اورسول والحمد لله علی ذالک دالله تعالیٰ لوئې فضل او احسان چه په جیل کښې ماله دومره لويه تحفه راکړه او ټول قران کریم سر ته اورسیدلو۔ پښتانه وائی دالله تعالیٰ په هر کار کښې خير وی نو ما عاجزله ئې په جیل کښې دومره خير راکړو الله تعالیٰ دِ قبول کړی-

## د دې كتاب طرز وطريقه

حضرت شيخ القران رحمه الله تعالیٰ عليه پـه سـمط الدرر كښـې د سـورت ربـط ، مقصـد او خلاصه ليكلې او ورسره د سورت د اهم مضامينو د آيتونو نمبرې ليكلې دی چه په هغې سره د آيتونو مناسبت ظاهريږی ، په نوم د سمط الدرر كښې هم دی چه " فی ربط الايات والسور " نو د آيتونو ربط معلومول لږ ګران وو ، استاذان ، شيوخ كرام په اصولو د قران كريم بيانولو كښې د هغې طريقه اوخائی او كله كله په درس كښې نشاندهی اوكړی خو د وخت د كمی د وجې نه او د طلباء د فهم باندې داكتفاء نه هغوی طلباء ته ډير ځايونه پريږدی نو ډير طالبان رونړه او عوام دقران شوق لرونكی هغوی كله كله د ايت كريمه په ربط كښې حيران وی او د سورت د آيتونو دعوی سره لګول ګران وی نو په دې ليک كښې د ربط د سورت وضاحت شوې دې په آسانه طريقه سره او كله پكښې لږ زيادت شوې چه دحضـرت شـيخ القـران رحمـه الله ممتـاز شاګردانو ربط وئيلې وی نو يو نيم ربط مونږ زيات كړې او هغه هـم د سـمط الدرر نـه اخـذ كيدې شی چه كومه وجه د ربط دسورت ګران وه نو هغه خه په تفصيل سره ليكلې شوې ده او د هر سورت د دعوې بيان د هغې وضاحت چه دسورت په مقصد پوهـه حاصـله شی ورسره د آيتونو نمبرې ليكلې شوې دی ـ چه كوم مشكل كار وو چه دسورت آيتونه ددعـوې سره لـږول وو نو د هغې مستقل جدا وضاحت شوې دې د كومو آيتونو د پاره چه شيخ القران رحمه الله د مقصد تعين كړې وو چه زجر يا تخويف يا دليل وغيره نوهغه د هغه آيت سره ليكلې شوې دې او سره د وضاحت نه او ددعوې سره د لګولو نه ، ځكه چه ټول سورت د دعوې خدمت كـوی يعنې چه دې آيت كښې زجر دې نو په څه دې؟ او څنګه دې؟ چه تخويف د څه نه او په څه دې؟ داسې دهرې خبرې وضاحت ان شاء الله تعالیٰ شوې چه طالبانو رونړو او عوام تـه تـرې ربط معلومول او د آيت مقصد معلومول آسان شی۔ او چه كوم آيتونـه حضرت شـيخ القـران رحمه الله تعالیٰ پريخودلی دی ،ځكه شيخ القران رحمه الله تعالیٰ په ديباچه د سـمط الدرركښـې وئيلی چه ما اكثر آيتونه ليكلی ټول مِ ندی ليكلی نو چه كوم آيتونه پاتې دی نو هغـه بـه دخپلـو استاذانو د افاداتو نه او د حضرت شيخ القران رحمه الله د اسـتاذ محـترم شـيخ الشـيوخ مولانـا حسين علی الوانی نورالله مرقده د بلغة الحيران نه دهغې مقصد متعين شوې ان شاء الله الرحمٰن

چه يو آيت به نه وى پاتې شوې چه دهغې دمقصد تعين نه وى شوې نو په هر سورت كښې مونږه د څو خبرو بيان كړې دې ـ
(١) يو ربط د مخكښې سورت سره (٢) دعوى دسورت (٣) خلاصه او تقسيم د سورت خو چه تقسيم كوم سورت كښې شوې وى (٤) د آيت كريمه مقصد او د هغې مناسبت په آسان انداز سره (٥) حاصل د سورت په تقريرى انداز سره او امتيازات ـ دا څيزونه د سورة الفاتحه نه شروع شوى دى او تر سورة الناس پورې په هر سورت كښې ددې بيان ان شاء الله تعالىٰ شوې چه دسمط الدرر ميوه شوكول او ملغلرې حاصلول هر رور مسلمان ، قران سره شوق لرونكى ته آسان شى او څمونږ د شيوخو په انداز د قران باندې او په ربط مناسبت باندې پوهه شى چه دا يو امتيازى انداز دې چه بل تفسير او بل چا سره نشته دې ـــ
څما محبوب او محترم استاذ شيخ القران و شيخ الاسلام و شهيد اسلام مولانا ولى الله كابلگرامى رحمة الله تعالىٰ عليه يو كال درس شروع كولو نو هغه اوفرمائيل چه د هرې صدئ يو امتياز وى څمونږ ددې دصدئ امتياز هغه د قران كريم خدمت دې پدې خاص نهج باندې نشته دې كه وى نو يا به تلمذاً وى او يا به سرقةً وى يعنى كه دا طرز څما د استاذانو نه علاوه بل څوك بيانوى نو يا به څما د استاذانو شاگرد وى يا به دكتابونو او د كيسټو نه غلا كوى ، نو دا طرز دقران ډير ناشنا دې ـ
حضرت شيخ القران مولانا مير سميع الحق صاحب خو دحضرت شيخ القران رحمه الله انتهائى عاشق او مداح دې هغوى به درس كښې فرمائيل چه قران كښې هر تفسير كوشش كړې دې خو چه سمط الدرر كوم كار كړې دې نو چه د هغې په طرز وائې نو ډير اسرار معلوميږى او هغوئ به فرمائيل چه څه د سمط الدرر نه لگيا يم لكه چه دآسمان نه لگيا يم او چه د بل تفسير نه خبره اوكړم نو څان راته كچه خكارى نو سمط الدرر كمال كړې دې هغوئ د مذاق په طور يوه ورځ اوفرمائيل چه دسبق په دوران كښې ډير مخكښې مِ تفسير كبير كتلو نو د يو آيت ربط ئې ليكلې وو نو وې ما ورله دپاسه اوليكل چه كه دا چل دِ زده كولو نو بستره به دِ راغستې وه او د بدرئ غاړې ته يعنى پنج پير ته به راغلې وو بيا ئې اوخاندل چه غټ سړې دې امام رازى خو دا څما دخپل استاذ سره محبت او څما جذبات وو نو غرض سمط الدرر

کښې ډير رموز او اسرار پراته دى مونږ مختصر انداز سره دهغې بيان کړې دې ان شاء الله الرحمٰن چه کتونکى له او قران سره شوق لرونکو له به خوند ورکړى --
هر تفسير د قران کريم لوئې خدمت کړې دې الله تعالىٰ دِ ټولو له اجر ورکړى د آيتونو ربط هم کله بيان کړى خو چه ځمونږ د شيوخو کوم انداز دې نو دا په يو تفسير کښې نشته دې چه سورت د يو مضون سره اولګوى او ټول آيتونه دهغې خدمت اوکړى سمط الدرر د هغې خادمانو د قران نه يو زبردست خادم دې دا ليک د سمط الدرر خادم دې ددې ليک د کتلو نه مخکښې چه کوم اصول ليکلې کيږى نو دهغې مطالعه سر سرى ډيره ضرورى ده چه د ليک نه فائده اغستل آسان شى -
دا ليکل په جيل کښې شوى دى خو ان شاء الله الرحمٰن د الله په فضل به دکتونکو خوښ شى ځما دعا ده چه الله تعالىٰ دا ليکل په خپل دربار لا يزال کښې قبول کړى او الله تعالىٰ دې پرې ټولو مسلمانانو ته فائده اورسوى او الله تعالىٰ دِ د شيخ القران رحمه الله او دهغه نسل او دهغه شاګردانو دپاره او ځما د محترمو استاذانو دپاره صدقه جاريه کړى او الله تعالىٰ دې ځما د مور پلار او رونړو خويندو او ټولو رشته دارانو دپاره صدقه جاريه کړى -- څوک چه پدې کښې کوشش کوى او کړې دې الله تعالىٰ دې ورلره اجرونه ورکړى --- دا ځما اولنې ليک دې الله تعالىٰ دِ قبول کړى او الله تعالىٰ ماله نور دخپلې رضا مطابق د ليکلو توفيق راکړى او الله تعالىٰ ځما په قلم کښې برکت کړى --اٰمين يا رب العالمين ۔ ويرحم الله عبداً قال اٰمينا ---

كتونكو ته مِ درخواست دي چه ما او ځما مور او پلار او رونړه خويندې او اهل بيت او اهل مدرسه او مدرسه او ځما استاذان او ملګرى په دعاګانو كښې ياد ساتى او دې كښې به غلطئ زياتې وى چې مضمونى غلطى وى نو ضرور دې ما خبردار كړى چه ددې اصلاح اوكړې شى او د هغې نسبت ماته اوكړى نه كه ځما استاذانو او شيخ القران رحمه الله ته ، دا به ځما دفهم قصور او غلطى وى ---

**ليكونكې**

مجتبىٰ عامر بن عبدالمتين متين غفرالله لهما

خادم مدرسه جواهرالقران لاشاعة التوحيد والسنة سليم خان صوابى

حالاً مسجون او قيدى په حيات آباد مينګوره سوات كښې

٣ ذى الحجه ١٤٣٣ هـ ٨ اكتوبر ٢٠١٢ء يوم الخميس ٢٧ : ٠٢ بعد از ظهر ---

## تقاريظ

### تقريظ شيخ القرآن والحديث حضرت العلامه مولانا ميرسميع الحق صاحب سربند

ان الحمد لله نحمده ونستعينه ونستهديه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيآت اعمالنا من يهده الله فهو المهتد ومن يضلل فلن تجد له وليا مرشدا-

ونشهد ان لااله الاالله وحده لا شريک له ونشهد ان سيدنا وحبيبنا وشفيعنا محمداً عبده ورسوله صلي الله تعاليٰ عليه وعلي آله ومن تبعهم باحسان الي يوم الدين-

وبعد : فان الهدف الاساسي والوسيلة الاوليٰ والمهمة لاصلاح النفوس وتزكية القلوب والوقاية والحفظ من مشكلات الدنيا والاخرة وعلاجها هو علم القرآن والسنة-

وعليه فمن اراد النجاح والفلاح واراد الزكاة والنجاة والصلاح فلاطريق له سوي الكتاب والسنة ،قراءة وحفظا وتعلما وتدّبرا ،لان مصدره عزة هذا الدين واهله وسر تجدده في نفوس المسلمين هو القرآن الذي لا يخلق من كثرة الترادد ،ولا تنقضي عجائبه ،ولا يمله القاري والسامع الذي هو حبل الله المتين ، من تصدّق وتمسّک به فقد نال درجة الشرف ومنزلة العليٰ ،ومن اعرض عنه فان له معيشة ضنكا ، ونحشره في الاخرة اعمي ،والسبب انه ترک الذكر والهدي ولكن مع الاسف الشديد انصرف الناس عن القرآن الكريم واشتغلوا بعضهم باشياء غير مفيدة ، وظنوا ان السعادة والنجاح والدواء الشافي يحصل لهم في البعد عن هذا ، ولكن هيهات هيهات ما يدّعون ،ويتركون ما خلقوا لاجلهم وهو معرفة الخالق الذي انزل الكتاب لمعرفته-

ولكن الناس يتفاوتون في فهمهم وادراكهم لاٰيات القران الكريم كما قال الامام سهل بن عبدالله التستري رحمه الله :"لو اعطي العبد بكل حرف من القرآن الف فهم لم يبلغ نهاية ما اودع الله في اية من كتابه لانه كلام الله وكلامه صفته كما انه ليس لله نهاية ،فكذلک لا نهاية لفهم كلامه وانما يفهم كل بمقدار ما يفتح الله علي قلبه ،وكلام الله غير مخلوق ولا يبلغ الي نهاية فهمه ،فهو محدثة مخلوقة---"

وهذا كلام صحيح والتجربة والواقع يشهد بذلک لان فهم القرآن وتدبره مواهب من الكريم الوهاب يعطيها لمن صدق في طلبها وسلک الاسباب الموصلة اليها بجد واجتهاد-

ولما كان الامر بهذه المثابة انكب العلماء والمفسرون علي كتاب الله تعاليٰ قراءة وتدبرا وتفسيرا واستنباطا وكثرت تصانيفهم المتعلقة بعلومه ما يشفي ويكفي ما بين مختصر ومطول ، ولكن لابد من تفسيره للناس بلسانهم ولهجتهم وتبين معانيه علي قدر افهامهم حتي يستفيدوامنه اكثر ولذلک قال عزوجل :(ومmatch ارسلنا من رسول الا بلسان قومه ليبين لهم --- ) والذي يكتب حول القران الكريم سطرا او سطرين او صفحة او صفحتين فهو ماجور عندالله وسعيه مشكور ان شاء الله ونرجوا له الخير وندعوله بالبركة والمزيد من العلم،

واخونا الفاضل المدقق فضيلة الشيخ المفتي محمد مجتبيٰ عامر حفظه الله ورعاه من الذين جاهدوا في سبيله وفي نشرهذا العلم المبارک حيث الف التفسير من الفاتحة الي الناس في ظلمات السجن وبعده عن الناس وقد افاد واجاد-

واورد فيه ادق المباحث القرآنية باسلوب سهل- وهذا في الحقيقة بسط وتوضيح لسمط الدرر الذي الفه المفسر المعاصر شيخنا شيخ القرآن محمد طاهر نورالله مرقده (الا اني وجدت بعض الاخطاء الاملائية وان كانت لا يعتبر اخطاء ولكن مثل هذا الكتاب لا يناسب ----)

وقدامعنت النظر عليه سريعا فوجدته مفيدا جدا ومناسبا خصوصا لطلبة العلم-

واسئل الله عزوجل ان يتقبل منه هذا الجهد المبارک وان يجزيه عنا خيرالجزاء- وان يجعله في ميزان حسناته -انه سميع مجيب وصلي الله وسلم وبارک علي محمد وآله وصحبه اجمعين-

وانا الي اواه ابن الشرف مير سميع الحق

22 ذي الحجة 1434ھ الموافق 27 من اكتوبر 2013 م

## تقریظ شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا غلام حبیب صاحب

ویسۂ ضلع اٹک

بسم اللّٰہ الرحمٰن الرحیم

الحمدللّٰہ رب العٰلمین والصلوٰۃ والسلام علي سید المرسلین والہ وصحبہ اجمعین

ومن اھتديٰ بھدیتہ ودعاء بدعوتہ الي یوم الدین۔

وبعد دنیا میں انسان کو اللہ مہربان نے جس مقصد کیلئے پیدا کیا ہے وہ اللہ سبحانہ وتعالیٰ کی معرفت اور اس ذات کا قرب حاصل کرنا ہے اور اسکی وحدانیت اور صمدیت کا اعتراف واقرار کرنا ہے۔۔ جیسا کہ ارشاد ربانی ہے سورۃ الذاریات " وما خلقت الجن والانس الا لیعبدون " وایضاً" وتبتل الیہ تبتیلا "اور یہ مقام اللہ تعالیٰ کی کتاب سے ہی ملتا ہے۔ جیسا کہ ارشاد ربانی ہے۔ " واعتصموا بحبل اللہ جمیعا"وایضاً " فقد استمسک بالعروۃ الوثقيٰ--- الایۃ " وایضاً جاء في الحدیث الشریف " الا انھا ستکون فتنۃ قلت مالمخرج منھا یارسول اللہ قال کتاب اللہ فیہ نبا ءماقبلکم وخبر ما بعدکم -الحدیث "اسی نسبت سے اللہ نے خادمین قرآن مجید کو بڑی بڑی فضیلتوں سے نوازا ہے۔ کسی نے کیا خوب کلام باری تعالیٰ کے بارے میں لکھا ہے اور اسطرح خادمین قرآن کا مقام بیان کیا ہے "

کلام اللہ افضل مارواہ رسول اللہ عن جبرئیل قطعا
عجائبہ یحار اللب فیھا ولیت تنقضي بدعاو وضعا
وخادمہ بتفسیر المعاني اجل الناس منقبۃ ووضعا

نیز علوم قرآن بہت مشکل ہے جسکے لئے اچھا خاصا علم چاہیئے۔ جیسا کہ بدرالدین زرکشیؒ لکھتے ہیں۔" کتاب اللہ بحر عمیق وفھمہ دقیق لا یصل الي فھمہ الا من تبحر في العلوم و عامل اللہ بتقواہ في السر والعلانیۃ - " بہرحال برادر محترم فخر الاماثل والاقران حبی فی اللہ مفتی مجتبیٰ عامر عمراللہ عمرہ وبارک فی علمہ کی مایہ ناز تالیف المسمیٰ ب "الجواہر السجنیہ" کا کچھ حصہ دیکھا تو بندہ پراز تقصیر اس علمی ذوق پر مبارک باد دیتا ہے کہ اچھے انداز سے خلاصہ جات اور ارتباط بین السور پر محنت کی ہے اور طلباء وعلماء کرام پر جو کہ علم تفسیر کا ذوق رکھتے ہیں احسان عظیم کیا ہے کہ پشتو زبان میں با محاورہ مطلب خیز عام فہم فصیح و بلیغ انداز میں بیان کیا ہے اللہ تعالیٰ اس محنت عظیم کو اپنے دربار میں قبول فرماوے اور یہ کتاب مفید عوام وخواص بنائیں اور وسیلہ نجات فی الدارین اور باقیات الصالحات کا حصہ بنادے۔

**فلما رئيت وقرات حسبت كانها قلائد در في نحور الخرائد**

**فقلت له اهلا وسهلا ومرحبا خدمت كتاب الله مخزونة بالفوائد**

**فجزاه الله خيرالجزاء في الدنيا والآخرة**

**ولاعيش الا عيش الاخرة فاقبله في الدنيا والاخرة**

**الاحقر غلام حبيب خادم الحديث والتفسير**

بجامعہ جواہر القرآن لاشاعت التوحید والسنۃ ویسہ ضلع اٹک۔

## تقريظ ماهر فی فن أسماء الرجال شيخ القرآن والحديث مولانا تاج بر خان صاحب

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الحمد لله جعل القرآن هداً ونوراً والصلاة والسلام علي سيد المرسلين محمدﷺ وجعله سراجاً وقمراً منيراً وعلي اٰله واصحابه اجمعين-

**امابعد:**

بنده عاجز د اخ في الله مفتی مجتبیٰ حفظه الله عن شر الوراء کتاب الجواهر السجنية بعضي ځایونه ما اوکتل دوجې دبیمارئ نه مِ ټول نه شو کتلې ۔ ماشاء الله دقرآن دخدمت ښه حق ئې ادا کړې دې ۔ بارک الله في علمه و مساعيه كله ۔ الله د دا كتاب خپل بندیانو په زړونو کښې هم ددي قبوليت واچوي او الله دې دعلماء ، طالبانو او دعوامو دپاره دقرآن دفهم دپاره کامل رهنما اوګرځوي ۔ رب کريم دې په دنیا کښې رفع درجات مفتي صاحب دپاره او په آخرت کښې ذريعه دنجات اوګرځوي ۔ رب کائنات دې مفتي صاحب ته په دې ميدان کښې دتصنيف او تاليف دپاره مزيد توفيق ورکړي ۔ او الله تعالیٰ دې دعزت او اطمينان زندګي ورته نصیب کړي ۔ وصلي الله تعالیٰ علي خير خلقه محمد واٰله واصحابه اجمعين ۔ امين يارب العلمين ۔

افقر الي الله تاج بر

مورخه ۱۰ شعبان ۱٤۳٤ ھ یوم الاربعاء

بمطابق۱۹ جون ۲۰۱۳ ء

## تقريظ شيخ القرآن مولانا عبدالشكورصاحب

شيخ الحديث جامعه تعليم القرآن خال دير

الحمدلله وكفيٰ والصلوٰة والسلام علي عباده الذين اصطفيٰ-

**امابعد:**

د محترم ورور مفتي مجتبيٰ عامر صاحب مدظله العالي په پښتو ژبه كښې د خپلو مشائخو دطريقه درس قرآن وضاحت ليكلې دې ـ "وهو في ما اريٰ ولاازكيٰ علي الله احدا"

د طلباء و علماء دپاره مفيد في فهم القرآن دې الله دې په خپل در كښې مقبوليت وركړي او دهغوي لره ، مشائخو لره باقيات صالحات نه دې رب العزت اوګرځوي ـ

آمين

الاحقر عبدالشكور

## تقريظ مفتي ومرشدی مکرم محمد مسلم نستوی صاحب

شيخ الحديث و مدير جامعه روضة الاسلام نسته چارسده

نحمده ونصلي علي رسوله الكريم:

**امابعد:** معزز لوستونکو په مخ دزمکې چه کوم موضوعاتو او خبرو باندېبحث کیږي په هغې کښې بهترین موضوع قرآن شریف دې . په قرآن شریف کښې سوچ ، فکر او مشغولیت د کامیابۍ ددواړو جهانو او دایمان د تقویت یوه زبردسته ذریعه ده په دې صدۍ کښې د شیخ العرب والعجم شیخ القرآن مولانا محمد طاهر نورالله مرقده د قرآن شریف په حقله ډیر علمي او عملي خدمات دي چه زمانه به تر قیامت پورې هغه یاد ساتي او کله کله به هغوي په خپله فرمائیل چه :

ان اثارنا تدل علينا فانظروا بعدنا الي الاثار

" څمونږ نښې به په مونږ دلالت کوي پس څمونږ نه روستو څمونږنښو ته اوګورئ .

سو فیصد حقیقت دې چه دحضرت شیخ القرآن رح نه روستو ډیرې علمي اوعملي نښې لکه دنمر ځلنده او پړقیدونکې پاتې دي او یو جهان د هغې معترف او اقرار کونکې دي . په دغه نښو کښې یو عظیم او بلند یادګار ددوئ قیمتي تصانیف مبارکه دي چه په علمي دنیا کښې د هغې ډیر لوړمقام دې خصوصاً کتاب سمط الدرر في ربط الايات والسور چه د " صغر حجمه وكبر علمه " موزون مصداق دې او قابل دید قابل داد دواړه دې . دمشائخ وقت نه ئې زبردست خراج تحسین بجاطور حاصل کړې دې .

دامایه ناز کتاب دعبارت په لحاظ سره مختصر وو او عمومي استفادې دپاره دده توضیح مناسب وه او دا بلند کتاب ددې منتظر وو چه څوک راپاسي او دده ملغلرې کولاؤ کړي او هر استعداد والا کس تریمستفید بهرور او سودمند شي . دالله تعالیٰ دا فضل وکرم څمونږ دقدرمند قابل صداحترام رور مولانا مفتی مجتبیٰ عامرسلمه الله په برخه قلم دتقدیر لیکلې وو. هغوي د خپلو مشائخو په اشارو او مشورو ددې کتاب نوموړي خدمت په خائسته ډول د

ابتلاء في دين الله په دور كښې دجيل په دروازو دننه سرانجام كړو او يو قابل رشک كارنامه ئې پايه تكميل ته اورسوله . وذاک من فضل الله عليه .

مولانا مجتبىٰ عامر سلمه الله قابل رشک استعداد والا بااخلاق باكردار جوان عالم دين دې معتمد عليه دخپلواستاذانو او مشرانو دې او هردلعزيز شخصيت دې . ددوي كتاب "الجواهر السجنية فی ربط الايات والسور القرآنية" مونږڅه صفحات اوكتل ماشاء الله ډير ډولي انداز سره تشريح شويده دقرآن شريف خودونكو او زده كونكو دپاره په كتابي دنيا كښې ډير مفيد مواد وجود ته راغلل . شائقين دقرآن له ددې قدر ضروري دې .

الله تعالىٰ دِ دبرادرمحترم حضرت مفتي صاحب سلمه الله دا كوشش خپل دربار عاليه كښې قبول كړي او نافع للخلائق دِ په بركت داسماء حسنىٰ سره اوګرځوي او علم ،عمل او عمر كښې دِ ورله الله تعالىٰ بركت واچوي سره د والدې او رونړو ،خويندو او سره دټول ماحول دِ الله د بليات اٰفاتو محفوظ اوساتي . اللّٰهُمَّ وفّقه لامثال امثاله.

محمد مسلم نستوي ٧ شوال ١٤٣٢ ھ

## تقريظ شيخ الادب فارس الالفاظ والمعانی مولانا فضل حق

عرف ڈبر صاحب حق صاحب باجوڑ

الحمدللّٰه والصلوٰة والسلام علي خاتم النبيين وسيدالمرسلين ورحمة للعالمين وعلي آله و صحبه اجمعين۔

امابعد فيقول الفقير الحقير

ويوماً جاءنا بيدالفداء(1) كتابٌ ذوالهداية والشفاء

كتاب الربط في سوَر الكتاب يفيدک بالدراية والسقاء

وقد طالعته فوجدت فيه لئالي ذات حسن والبهاء

افاد المجتبيٰ فيه بعلم حريا كان ذالک باجتباء

افاد روابطاً ومناسباتٍ تدلّ علي الفطانة والذّكاء

اخونا المجتبيٰ مرءٌ كريمٌ يفيد الناس خيرا بالسواء

تعلّم من شيوخ الحق علما ونوراً ليس ذالک ذاانطفاء

تعلم من شيوخ الحق علماً ونوراً ذالهداية والصفاء

له خلق الكرام المتقين اولي صفة المروّة والحياء

فحقا كا تلميذ الكرام له خلق الشجاعة والسخاء

يسمّي عامراً مفتي فقيه يعَمر وصف حب والاخاء

كريمٌ خادم الاستاذ مرءٌ له شان الشرافة والوفاء

افاد بحسن همته كتاباً جزاه الله من خير الجزاء

كتابٌ جامع لفرائداتٍ مفيدات مزيلات الغطاء(2)

افاد خلاصه القرآن فيها بطرزٍ للكرام اولي اصطفاء

يبين مقصد الآيات سهلاً وعذباً قد اتي بلذيذ ماء

---

(1) اعني فداءالرحمان توردهيرى

(2) (مفيدات الخلاصة للقراء)

يعلمک امتيازا والدعـــاوي ... وياتي بالوضاحة والضيـــــاء
يفيد النور والضوء المنــيرا ... يشبه ضوئه شمس السمــــــاء
فينشر منه نورالعـــلم نشــرا ... كنشر الشمس نوراً في الهواء
بل الحق المبين ان فيـــــه ... مزيد النور من شمس الـعلا([3])
فان الشمس تظهر في النهار ... فقط وتغيب في وقت المســـاء
وشمس العلم ليس لها غروب ... يزيده ضياءها وقت العشـــــاء
يزيل غياهب الشبهات طـــراً ... اذا طالعتَ تظفر باهتـــــداء
يفسرّ مقصد السورات شرحاً ... فتصبح صافيات من خفـــــاء
اتي بلطائف الآيــــــا ت فيه ... يفوز القلب منها بانجــــلاء
فكان كتابه عقـــــدا فريدا ... حرّيا بالمدائح والثنـــــــاء
فاعطاء الطالبين فوائـــــدات ... وذالک عندنا خيرالعــــــطاء
ابوالاحسان انشدها سروراً ... فيتحف بالقصائد والدّعـــــاء
اطال الله عمر ابي حـماس ... واجزل اجره يوم اللــــــقاء
تفكر في صـــــناعتنا([4]) فكيف ... عددنا ها بديباجٍ وطــــــاء

---

([3]) اي الفوق
([4])لطائفنا

**اي بعدد تسع وعشرين بحساب الابجد وذالک**

**لان الدال اربعة والياء عشرة والباء اثنان**

**والالف واحد والجيم ثلاثة فصارت عشرين**

**والطاء تسعة فصارت تسعة وعشرين**

## تقريظ مفتي اعظم اشاعت شيخ الحديث مفتى سراج الدين صاحب

شيخ الحديث دارالقرآن پنج پيرصوابی

بسم الله الرحمن الرحيم•

حامداًومصلياً

امابعد ما څه مواضع دخپل انتهائي محبوب مظلوم ورور حضرت مفتى مجتبیٰ عامر حفظهُ الله د كتاب اوكتل ډير خوشحاله شوم ۔ ان شاء الله د حضرت شيخ القرآن مولانا محمد طاهرؒ عظيم كتاب سمط الدرر د فهم د پاره بې حد مفيد به شي ۔ علماء نه علاوه عوامو ته هم انتهائي مفيد دې الله رب العزت ته په درګاه عاليه كښې دست بدعاء يم چه الله رب العزت مفتي صاحب علم اور عمل بركتي كړي او ددوي قلم او بيان كښې ډيرډير بركات واچوي ۔ او ددوي كتاب مفيد دعوامو او دعلماؤ ته اوګرځوې ۔

اناالاحقر سراج الدين عفي عنه

## تقريظ شيخ الحديث حضرت العلامه مولا نا عبدالله چارباغی صاحب سوات

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده-

امابعد ـ قرآن كريم دالله تعالىٰ يو بيش بها او بې بدل نعمت دې - قال تعالىٰ قل بفضل الله وبرحمته فبذلک فليفرحوا هو خير مما يجمعون○ لهذا هغه انسان ډير لوي سعادت والا او خوش نصيبه دې چه دخپل طاقت او مقدور مناسب د قرآن كريم تعليم تعلم درس وتدريس او دقرآن د ايزده کړې متعلقه علوم کښې تاليف تصنيف خپله مشغله اوګرځوي ـ په دې سلسله کښې علماء كرامو او مشائخ عظامو ډير څه ليکلي دي او دهر عالم او شيخ د قرآن په خودلو او بيانولو کښې جداجدا طرز او شان دې چه دهغې نه دقرآن كريم عظمت او دعالم د قرآن په خودلو کښې مهارت او تجربه واضحه کيږي په دې باره کښې ځمونږ خوږاو ګران قدردان رور حضرت علامه شيخ القرآن مفتی مجتبیٰ عامر صاحب مدظله العالي سليم خان صوابي چه دا كتاب ليکلي دې دا هم د دغه سلسلې يو کړئ ده ما دهغې څه حصه مطالعه کړه نو ماته معلومه شوه چه د جناب مفتي صاحب دا تحرير د قرآن كريم يو قابل قدر خدمت دې او دقرآن كريم د ترجمې او تفسير د شائقينو لپاره بيش بها تحفه ده او ډير مفيد كتاب دې ـ

دعاء كوم چه الله پاک دِ په خپل بارګاه کښې د مفـتی صـاحب دا جدوجهـد او سـعي مقبـول ومنظور اوګرځوي او د دينه استفاده کونکو ته دِ الله تعالیٰ خير کثير نصيب کړي ـ آمين ثم آمين ـ

انا الاحقر خادم العلماء عبدالله عفي عنه چارباغ ضلع سوات

تاريخ ۹ شعبان ١٤٣٤ ه بروز چهار شنبه.

## تقريظ شيخ القران والحديث حضرت مولانا عبدالجبار صاحب باجوڑ

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله رب العلمين - الرحمٰن الرحيم -مالک يوم الدين- والصلوة والسلام علي الانبيائ والمرسلين - لا سيما علي سيدنا محمد خاتم النبيين- وعلي اله واصحابه الطاهرين الطيبين -

امابعد : بنده حقير پر از تقصير دحضرت فاضل نوجوان ، مرد ميدان ، فصيح اللسان مولانا مفتي محمد مجتبيٰ عامر حفظه الله القادر تاليف شده كتاب " الجواہر السجنية " دسورة العنكبوت دخلاصي نه تر سورة الفاطر پورې مطالعه كړو - ماشاء الله ډير بهترين او په عجيب انداز ئې ليكلې دې باقي مې پرې قياس كړو-*قياس كن زگلستان ما بهار مارا*

او دمطالعې نه ئ پته لګي چه څومره دقدر وړ دې عيان را چه بيان ، او ولې به نه وي چه مولف ئې داخلاص نمو نه او بيا دجيل دتورو تمبو دداخل نه علماؤ طلباؤ ته يو تحفه ده-دعا كوم چه باري تعالیٰ دې دجناب مفتي صاحب دا سعي قبوله كړي او ددوي د والدينو ، او مشائخوددوي دپاره صدقه جاريه اوګرځوي-او ددوي په عمر، علم ، عمل، كښ د نور خير او بركت واچوي - امين ثم امين - رحم الله من قال امينا-

الاحقر محمد عبدالجبارالباجوري غفر له

حالا نزيل فنجفير لخدمة القرآن والحديث بجامعةالامام محمد طاهرنورالله مرقده

يوم الجمعة ساعة ٧/٤٥ -٢٨ربيع الثاني ١٤٣٥ه-

## تقريظ شيخ القران والحديث مولا نا سراج الدين صاحب باړه خيبر ايجنسى

بسم الله الرحمن الرحيم .

نحمده نصلي علي رسوله الكريم ـ امابعد

حضرت مولانا حسين علي رحمة الله عليه رحمة واسعة سيدالعارفين سند المحدثين شيخ طريقت رهبرشريعت مرشد الاولياء والاتقياء تلميذ رشيد شيخ رشيد احمد فقيه الامة ممتاز تلميذ وو د دوره حديث په كال كښې د شيخ رشيد احمد رحمه الله ممتاز مشاراليه بالبيان څلور شاګردان وو په كښې مولانا حسين علي رحمه الله ،مولانا احسان الله رحمه الله ، مولانا محمد يحيٰ كاندهلوي رحمه الله ، او مولانا زكريا رحمه الله او بيا په دوي كښې ممتاز مثالي حضرت حسين علي رحمه الله وو ـ هغوي د فراغت نه بعد په خپل وطن ضلع ميانوالي علاقه وان بچهران كښې ددين كار شروع كړو ـ چه په خصوصيات سره دوره تفسير قرآن كريم او دوره حديث نبوي ﷺ په درس تدريس همه وقت مصروف وو او لوئ زميندار هم وو د زميدارۍ كار محنت به ئ پخپله كولو او دا پوره داستان دې ـ ددوي په سوونو شاګردان دي په هغوي كښې مشهور چه الله تعالیٰ دهغوي نه ډير كار اخستې دې ـ اول شيخ المشائخ سيدالاذكياء فاتح الاقران محسود زمان حضرت شيخ القرآن والحديث مولانا محمد طاهر رحمه الله مرحوم وو دهغوي كمالات ددين خدمات په چا مخفي ندي ـ دويم حضرت شيخ القرآن غلام الله خان مرحوم وو چه صرف دقرآن كريم په تفسير كښې ماهر نه وو بلكه تمام فنون كه يد طولیٰ لرلو ـ د انهى استاذ محمد ولي الله مرحوم ممتاز شاګرد وو قامع الشرك قائم علي التوحيد دهغوي روحاني غذا وه د بريليانو دپاره شمشير بې نيام وو ـ بريليان دهغوي مخكښې خس وخاشاک وو هغوي به تمام زندګئ روژهٔ كښې دقرآن كريم دورې او په باقي ايام كښې به په جلسو كښې مصروف وو او خالص توحيد به ئې بيانولو ـ دريم حضرت شيخ الحديث مولانا شمس الدين مرحوم وو دهغوي ديني كمالات خدمات اظهر من الشمس دي ـ څلورم سيد عنايت الله شاه بخاري مرحوم وو چه هغه د حسين علي مرحوم مريد وو او دشاه انورشاه كشميري شاګرد خاص وو د لايخاف لومه لائم پوره مصداق وو ـ پنځم قاضي نورمحمد مرحوم نهايت متقي پرهيزګار وو دقاضي شمس الدين رحمه الله رور وو ـ شپږم حضرت مولانا محمد

امير مرحوم سرګودهې والا وو ـ دې حضراتو دقرآن کريم خدمات کړي دي ـ دقرآن خلاصې ئې هم چاپ کړې دي ـ

الحاصل : محترم حضرت مفتی مجتبیٰ صاحب دقرآن کريم خلاصې دسوات په جيل کښې ليکلې دي د هغې نه بعض حصې ما ملاحظه کړې ـ ماشاء الله لا حول ولا قوه الا بالله ډيرې مفيدې دي او دمولانا موصوف کمال دادې چه په جيل کښې کتابونه ناياب وي نو دا د مولانا مفتی مجتبیٰ صاحب د ذکاوت او ذهانت صاف دليل دې ـ

بهر حال کتاب مذکور د ډيرو خصوصياتو حامل دې ـ

١ . دا کتاب په خالصه يوسفزئي ژبه کښې دې چه طلباء دپاره نهايت مفيد دې ـ

٢. په عامو خلاصو او بيانونو کښې چه کوم اصطلاحات بيانيږي نو هغه اکثر په عربې کښې وي نو دوي حتي الامکان په پښتو کښې کوشش کړيدې ـ

٣. بيا هغوي ورسره ورسره عام فهم تشريح کړيده ـ

٤ . ترتيب نزولي او ذکري ئے د هر سورت بيان کړيدې ـ ٥. دسورتونو ربط ئې په بهترين اندازسره بيان کړې دې ـ ٦. ربط بين الايات ئې په ښه طريقه بيان کړې دې ـ

٧. امتيازات د سورتونو ډيراعلیٰ دي ځکه چه د مواد او بنياد د سمط الدرر خيال ئې ساتلې دي ـ

٨. په خلاصو بيانولو کښې ورسره ورسره د بعض مشکل الفاظو لفظي او معنوي بيان ئې کړې دي ـ

٩. لکه چه ښنګه دوئ په خپلو اقرانو کښې ممتاز دي نو دغه شان کتاب ئې هم ممتاز دې ـ

١٠. د متعدد مشاهير مشائخو نه ئې استفاده کړيده ـ تلک عشره کاملة ـ

دالله تعالیٰ نه دعا ده چه الله پاک دې مولانا موصوف ته ددينې خدماتو ، درس تدريس ، تاليف، تصنيف، مناظرو ، وغيره مزيد ترقي او توفيق نصيب کړي او الله تعالیٰ دې دا کتاب د عامو او خاصو علماؤ او طلباؤ دپاره مفيد او دخير ذريعه اوګرځوي او د مولانا په عمر ، علم او عمل او اولاد کښې برکات واچوي ـ امين يارب العالمين ■

انا الاحقر الي الله سراج الدين آفريدي باړه خيبر ايجنسي ـ

## تقريظ الفاضل الاديب العالم النبيل فضيلة الشيخ مولا نا شيراحمد منيب

قريهٔ وردگ افغانستان

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على محمد وعلى آله واصحابه واتباعه اجمعين

امابعد : ما دخپل محترم كشر رور علامه مفتي " مجتبیٰ " صاحب تاليف " الباقيات الصالحات " المكتوب في السجن حالة المحن والتكليفات مطالعه كه او دكتاب دبيان اسلوب مي اوكتو محترم مفتي صاحب سلمه الله د پښتنو په موجوده عالمانو طالبانو دقرآن كريم د فهم يوه لويه علمي پيرزونه كړيده ۔ لكه چي ددينه وړاندې علامه محمد يارباچا صاحب په پښتنو باندي دعلم د قرآن دليكلو مهرباني كړي وه او خلاصې دقرآن مجيد ئې په پښتو كښي اوليكلې او په خپل ژوند كښي ئې شائع كړي ۔

دمفتي صاحب سلمه الله او دباچا صاحب اشاره علماؤ ته دا خودل دي چي كه علماؤ د پنجاب بخپله ژبه دقرآن پاک د تفسير خدمتونه كړي دي نو پښتانه علماهم د هغوي نه دقرآن كريم په خدمت كولو كښي كم نه دي ۔ په وړاندِي صدئ كښي په پښتو ژبه فقط يو تفسير ليكلي شوي وو په " تفسير يسير " مشهور وو ۔ په پښتنو كښي دكتاب الله دتفسير چا مناسب ليكل نه دي كړي دا شرف په موجوده عصر كښي الله پاک " مفتي صاحب" ته وركړه دكتاب په مزاياؤ باندې څما غوندې خلق تفصيلي ليكل نشي كولې خو بيا هم مونږ به د مؤلف دكتاب څه امتيازي خصوصيتونه اوليكو.

١. ربط د ايتونو په دي طريقه په پښتنو كښي چانه دي كړي. دا طرز صرف د مؤلف د علمي كوششونو انفرادي نتيجه ده.

٢ . دربط په تو ضيح باندي په لنډو الفاظو د لوستونكي پوهه كول دا نمط فقط د مفتي صاحب علمي ايجاد شوي ځانګړي طريقه ده.

٣. ترتيب د مضامينو چي په كوم معيار باندي تفصيلي ليكلي شوي دي نو دا د مؤلف د كوششونو د كاميابۍ يوازينۍ بيلګه ده.

٤. د معتمدو منلو شوو مصادرو نه التقاط او د مطلب اخستل په لنډو الفاظو د لوستونكو پوهه كول صرف د مؤلف د تجربه كارۍ او علمي تمرس ښكارندوي دي چي دا امتياز خالص دده برښه ده.

٥ . دمشرانو عالمانو ځني نكتو ته توجه نه وه ځكه د هغه وخت عالمان به په اشارو پوهيدل ليكن د اوسنۍ زماني تقاضا دا نه برداشت كوي نو په تفصيلي بڼه لوستونكي پوهه كول او د هغوي ذهن ته مضامين په آسانه لهجه نتويستل د مؤلف د اديبانه طرز يوه نااشنا معياري شاهكار دي.

٦. د سورت دامتيازاتو ليكل صرف په الفاظو د قرآن كريم استدلال كول په پښتو كتاب ليكل د مؤلف امتياز ښائي چي دي په تعبير كښي له نورو نه ممتاز لري ـ

٧. داسي طريقه جوړول چي دنورو تفاسيرو د كتلو نه يو عالم مستغني كوي بخپله د تفسير نه كفايت كوي نو دا هم د مؤلف دامتياز مظاهره ده چه تر اوسه پوري د چا ورته خيال شوي نه دي ـ

٨ ـ اسلوب د بيان په داسې محور چورلول چه د هغې نه د سورت د مضامينو ټول حاصل ډير په اسانه ذهن ته ننوزي او پس دلوستلو نه لوستونكي په دي جرأت كوي چي دسورت ټول حاصل په يو څو جملو كښي خلقو ته واوروي نو دا فقط د مؤلف د جادونكار طرز برښه ده چي دهر چا په نصيب نه ده شوي ـ

٩. د ترتيب طرز د تاليف يوه نوي اختراع ده چي اول تفصيل بيا لنډيز او روسته په هغې علمي تبصرې چي داد مؤلف اجتهادي طريقه ده او د "خيرالكلام ما قل ودل ولم يطل فيمل " رښتيني مصداق دي ـ

١٠. د زوائدو خبرو يا چي د مضمون سره سمون نه لري د داسي بي هوده كلام نه پوره ځان ساتنه شويده او په لنډو الفاظو خپل مقصد بيانول د مؤلف دتاليف امتيازي اختصاص په ګوته كوي ـ

دا ځكه چي بي ځايه اوګود بيان اوس نوي نسل نه خوښوي ـ تلك عشرة كاملة ـ

ځما دمطالعې كولو نه روستو دغه مذكور امتيازات ذهن ته راغلي دي انشاء الله چي ما به مبالغه نوي كړي ـ بلكه دكتاب د كتلو نه روستو ماته دغه امتيازات حاصل شوي دي ـ

"علمي خاندان"

علامه " مفتي مجتبيٰ صاحب " د يو علمي كورنئ غړي دي چي دده والد صاحب عبدالمتين رحمة الله عليه هم دانشمند وو او هم د خپلي ژبي پښتو معياري اديب وو او دتجربه او پوهه اوس خلق په طور دمثال پيش كوي او دهغه ددين د زده كړې سره شوق او ددين خدمت باندې دايو برهان قاطع دي چي مفتي صاحب دهغوي خَلَفِ صالح پاتې شو او داسې ددين خدمت الله پاک ورنه واخسته چي تر ډيره وخته پورې به يادګار وي .

## تقريظ حضرت مولانا سخی داد خوستی ژوب بلوچستان

الحمد لله وكفيٰ وسلام علي عباده الذين اصطفيٰ

په دنيا كښې چه څومره علمونه دي بيا كه هغه په كتابونو كښــي دي او كــه ده انســانانو پــه دماغو كښې دي دا ټوله اجمالي طور له قرانه راوتلي دي ـ

جميع العلم في القران لٰكن تقاصر عنه افهام الرجال

ژباړه : ټوله علمونه په قران كښې موجود دي ، خو دخلقو ذهنونه كوتاه دي (د ټولــو علمــو وه پوهه ته نسي رسيداي)مګر ځينه علمونه داسي دي چي دهغو نسبت خاص وه قــرآن پــاک تــه كيږي لكه تفسير القران ، اصول القران ، احكام القران ، مشـكلات القــران ، قــراء ات القــران ، تجويد القران ، ربط ايات وسور القران ، امثال القران ، اعراب القــران ، اسـباب نــزول القــران ، فضائل القران ، قِصص القران ، اوامر و نواهي القران ، لغات القران ، ارض القران ، او نور !

پر دا ټولو ذكر سوو علمونو بې سماره كتابونه ليكل سوي دي او بيا خاص په علم تفسير كښې په عربي زبه كښې په زراؤ تفسيرونه تصنيف سوي دي او بيا خاص په علم تفسير كښــي پــه ګڼ سمار سره تفسيري تاليفونه سوي دي ـ خو بيا لا هم ده قران مبــين معــارف نــدي خــتم سوي ده دې وجه داده چه الله تعالیٰ د قران په اړوند فرمائي " ونزلّنا عليک الكتاب تبيانا لــكل شيء ( ١٦:٨٩)

ژباړه : " موږ پر تا داسي كتاب ( قران) نازل كړي دئ چه په هغه كښې ده هــر شي پــورا بيــان دي "

نو شيان ډُمره ډير دي چه دهغو نومونه اخستل هم تر حساب تردي ، او بيا ده هر شي تفصــيل بيانه ول خو بيخي ده انسان ده وس خبره نده ـ وائي چي يوه روځ مولانا قاسم نــانوتوي رحمــه الله تقرير كاوه او دتقرير موضوع ئي دا اٰيت وو " نزلنا عليک الكتاب تبيانا لــكل شيء " نــو يــو طالب دبيان په مينځ كښې پوښتنه ځينه وكړه : په قران كښې چي ده هري مسئلې حل موجود دئ نو له مشكلو مسائلو څخه يوه مسئله ده جُز لا يتجزيٰ هم ده ـ په دي كښې اختلاف دئ چي جز لايتجزيٰ سته او كه نسته ځينه خلق وائي سته او ځينه بيا ده نيست مــدعيان دي او هر فريق پر خپله دعوي باندي ډير دليلونه وړاندي كوي نو په قران كښې ددې مسئلې حــل

سته او كه يأ؟ مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله په جواب كښي ورته ووه؛ چي په قرانِ پاک كښي ددې مسئلې حل صرف په نيمه جمله كښي سوي دئ هغه دا : اذا مزقتم كل ممزق " (٣٤ـ٧ ) ژباړه : چي څه وخت تاسي زله ذرې ذرې سئ " نو دكل ممزق معني د جز لايتجزيٰ ده ـ زكه چي د جز لايتجزيٰ معني داده : هغه ذره چي پرمخ تقسيم نه قبلوي " بس دغه مقصد ده كل ممزق هم دئ مقصد دا چي قران مجيد د علومو هغه درياب دَي چي څنډه نه لري او تر اوسه پوري څوک ددغ درياب تر انتها پوري ندي رسيدلي او نه بيا دا امكان سته چي څوک ده وو رسيژي دا زكه چي الله تعاليٰ فرمايلي دي

" قل لوكان البحر مدادا لكلمٰت ربي لنفد البحر قبل ان تنفد كلمٰت ربي ولو جئنا بمثله مددا (١٨ـ١٠٩)

ژباړه : ته ورته ووايه كچري دا سمندر سياهي سي زما ده خبرو ده ليكلو ده پاره نو دا سمندر به ختم سي زما ده خبرو تر ختميدو له مخه كه څه هم موږ ددغ كار ده پاره دغوني يو بل سمندر راوړو "

خو بيا هم مسلمان لره ضروري ده چي د خپل وس برابر ده قران حكيم ده علمونو ده حاصله ولو او ده خوررولو دپاره كوشش وكړي لكه څنګه چه دعلم تفسير په تعريف كښي راځي : هو علم باصول يعرف بها معاني كلام الله تعاليٰ علي حسب طاقه البشريه : يعني علم تفسير يو څه اصول لري چي په هغو سره د الله تعاليٰ د كلام معناګاني ده انسان ده وس مطابق معلوميژي "

نو دقران پاک ده علمونو له سمندره ځخه مولانا مجتبيٰ عامر صاحب سلمه الله يو څو انتهائي قيمتي ملغلري رايستلي دي او بيا ئي هغه په بهترين انداز سره پيلې دي او ده ملغلرو پر دغ لاړئ ده " الجواهرالسجنيه " نوم ينبي دي (ډهه) ده " الجواهرالسجنيه " معني داده : " د جيل والا قيمتي غمي " مولانا دا نوم په دي وجه پريښي دي چي ده دا كتاب ده سوات د مينګوري په جيل كښي ليكلي دي ـ الحمدلله مولانا زموږ داسلاف تاريخ را ژوندَي كړو شيخ الهند مولانا محمود الحسن رحمه الله هم ده مالټا جيل كښي ده قران پاک ترجمه كړې وه ـ

دا كتاب په علم اصول كښي دَي او په حقيقت كښي دا د شيخ القران مولانا محمد طاهر رحمه الله ده كتاب " سمط الدرر في ربط الأيات والسور " ده پښتو ترجمه او شرح ده ـ په دي كښي مولانا مجتبيٰ صاحب پنځه خبري په ډير تفصيل سره بيان كړي دي يعني ربط دسورة ، دعوي

سورة ، مقصد سورة ، خلاصه سورة ، امتياز سورة ، ـ بيا دغه هم پنځه خبري هره يوه ځانته ډير قسمونه لري مثلا ربط پر دوه قسمه ده ربط اسمي ربط معنوي ـ دعوي هم پر دوه قسمه ده دعوي اصلي دعوي فرعي ، او خلاصه هم پر دوه قسمه ده يوه خلاصه د عامو كتابو ده يوه خلاصه خاص ده دقران د سوره ده دغه نمونه مقصد او امتياز هم ډير اقسام لري ـ زما دا يقين دي چي كم څوک ده مولانا دغه كتاب ښه زده كړي نو هغه ته به دقران په پوهيدلو كښي ډير لوئ كومک حاصل سي ـ نو لدي وجي هر پښتون عالم او طالب لره پكار دي چي دغه كتاب په مطالعه كښي راولي ـ

الله تعالىٰ ده مولانا مجتبيٰ عامر صاحب ته ده قران كريم پر دې خدمت باندي بې حسابه ثوابونه وركړي او ده نجات ذريعه وګرزوي اٰمين ـ وصلي الله علي سيدنا محمد واٰله واصحابه اجمعين ـ

سخي داد خؤستي ١٥لوي اختر كال ١٤٣٤ ه دوشنبه

## تقريظ شيخ القرآن والحديث حضرت مولانا عبدالرحيم صاحب

شاه پور شانګله

الحمد لله الذى خلق الانسان وعلمه البيان والصلوة والسلام على من ارسل نبينا وعلمه القرآن وعلى آله واصحابه الذين هم معيار الايمان ـ امابعد

دې کښې شک نشته چه شيخ القرآن حضرت مولانا محمد طاهررحمه الله ددې صدئ مجدد او محقق انسان وو الله تعالیٰ چه هغوی له په تفسير قرآن کريم کښې کوم مهارت تامه ورکړې وو او کوم خدمات چه هغوی د شرک و بدعات په ختمولو کښې کړی دی هغې نه صرف ضدی، عنادی، او متعصب سړې انکار کوی ـ دهغوی ددرس چه کومه انقلابی او الهامی طريقه وه هغه صرف الله تعالیٰ د هغوي نصيب کړې وه ـ هغوی د انقلابی درس سره سره تصنيفی خدمات هم کړی دی چه هغې کښې " سمط الدرر فی ربط الايات والسور " داسې تصنيف دے چه صرف هغه ځوک پرې پوهيږی چه چا د بدرئ اوبه څکلې وی ـ او بالذات د هغوی شاګرد وی چه دهغه خوش قسمته خلقو تعداد اوس په مزه مزه کميږی او د پخو ميوو په شان يوه يوه راغورزيږی ـ نو ددغه کتاب وضاحت او شرح په مورنئ ژبه کښې لازمی وه ـ مؤلف فاضل الشيخ مفتی مجتبیٰ عامر په کشرانو عالمانو کښې يو نامتو عالم دے الله تعالیٰ ورته پدې لږ عمر کښې ډير لوئې علوم نصيب کړی دی او د ټولو مشائخو سره ئې خصوصی تعلق او رابطه ساتله او د ټولو علوم ئے بې شبې جمع کړی دی ـ ځما شيخ شيخ القرآن د شاه پور به وئيل چه بعض شاګرد داسې وی چه هغه سړے الله تعالیٰ ته تحفه کوی چه الله تعالیٰ دا ځما تحفه ده ـ

نو په هغوی کښې مولوی مجتبیٰ هم دے ـ دے ځما يو قابل فخر شاګرد دے ـ خو څه ئے د ځان نه په علم کښې اوچت ګنړم ـ الله تعالیٰ دې ورله مزيد توفيق ورکړی او دهغئ په علم او عمر کښې دې الله تعالیٰ برکت واچوی د هغوی دا کتاب " الجواهرالسجنيه " ما ځائې په ځائې مطالعه کړو يقيناً د حل کولو حق ئے ادا کړې دے او دروستنو راتلونکو د پاره ئے ناممکن ( فهم هذاالکتاب ) ممکن ګرځولے دے ـ دا کتاب د حقيقی قرآن فهمئ د پاره يو لوئې معاون اوممد دے ـ د تعصب چشمه لرے کول پکار دی او ددينه استفاده پکار ده ـ د کتاب طرز ئ

دادے چه هر سورة کښې ئے د پنځه خبرو اهتمام کړې دے ۔ (۱) مناسبت د مخکښې سورة سره (۲) دعوی د سورة (۳) خلاصه دسورة (٤) مقاصد الایات وتناسبها (٥) امتیازات السورة ۔

مفتی صاحب له الله تعالیٰ فصاحت سره په پښتو ادب کښې هم لویه حصه ورکړې ده او بیا ظرافت طبعی ورسره هم شامل ده ۔ نو ددې وجې د کتاب مطالعه ډیره اسانه ده ۔ الله تعالیٰ نه سوال دے چه د مفتی صاحب په زندګئ کښې برکت واچوی او د هغوی علم کښې دے مزید اضافه اوکړی او ددین د خدمت توفیق دې ورکړی ۔ او دا کتاب او دهغوی نور خدمات په خپل دربار کښې قبول کړی . کالشمس بین النجوم او دقرآنی علومو شائقینو ته درخواست دے چه ددې کتاب مطالعه دې خامخا اوکړی ۔

واناالاحقر عبدالرحیم شاه پور شانګله

## تقريظ صاحب السجن ابوحفص

الحمد لوليه والسلام على نبيه :

مرحبا يا مجتبیٰ یا مرتضیٰ ان تغب جاء القضاء ضاق القضاء

الحمد لله د کتاب انداز ډیر دل آویز دے . او دومره لطیف انداز کښې مقاصد او مناسبات بیان شوی دی ، چه د علومو او رموزو نه علاوه د قرآن په مزاج باندې سړے پوهه وی.

او د قرآن په مزاج پوهیدل د قرآن د علومو نه زیات اهم دی ځکه چې دین اسلام دین فطرت دے او احکام اسلام د مزاج او فطرت سلیمه موافق دی . نو چه په مزاج د خپل مذهب او کتاب پوهه حاصله شی نو رسوخ فی الاسلام به حاصل شی . او الحمد لله چه د حضرت مفتی مجتبیٰ عامر انجاه الله من کل کربٍ دا کتاب " الجواهرالسجنیه " هم دقرآن د علومو په تحصیل کښې ممد دے او هم د قرآن د مزاج په پیژندګلو کښې . فالحمد لله

الله دِ دا کتاب د قرآن د زده کونکو د پاره کامیابه نسخه اوګرځوی . او د مفتی صاحب او د استاذانو ، مشائخو او والدینو ، رشته دارانو ، متعلقینو دپاره دِ ذخیره آخرت اوګرځوی او مزید توفیق دِ الله ورکړی ۔ آمین ثم آمین

ابوحفص 29-01-2020

## مُقدِمة

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين الرحمن الرحيم مالك يوم الدين والصلوة والسلام على رسوله محمد و اله واصحابه اجمعين - وبعد :

نعمتونه دالله رب العزت ډير زيات دى - دشميرلو دحد نه بهردى لکه رب العزت خپله فرمائى " وان تعدّوا نعمة الله لاتحصوها " نو دهر نعمت په مقابله کښې دالله د شان هومره قدرونه او شکرونه- خو په دې ټولو نعمتونو کښې يو ډير لوئې نعمت هغه قرآن کريم دې ، دالله کتاب- " الحياة فى ظلال القرآن نعمة لا توازيها نعمة " داسې نعمت چه بل نعمت ئې مقابله نشى کولې-او دټولو نعمتونو باره کښې به رب العزت دقيامت په ورځ تپوس کوى- لکه فرمائى : " لتسئلن يومئذ عن النعيم "

قسم دې خوامخواه تپوس به کولې شى ستاسو نه دقيامت په ورځ باندې دټولو نعمتونو په باره کښې -

نو دټولو نعمتونو نه لوئې نعمت په بنديانو او پيريانو باندې دالله کتاب دې- نو ددې باره کښې به هم تپوس کوى-بل ځائې کښې الله وائى : "

وَ اِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ وَ لِقَوْمِكَ ۚ وَ سَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ ۴۴" الزخرف:

او يقيناً خامخا دا کتاب لوئې عزت دې ستا او ستا دقوم د پاره او زر ده چې تپوس به کولې شى ستاسو نه -

بيضاوى کښې وائى : " وانه لذکر لک اى شرف لک ولقومک وسوف تسئلون اى عنه يوم القيامة عن قيامکم بحقه "

يعنى دا عزت او شرف ستادې او ستا د قوم ، او د قيامت په ورځ به ددې د حق باره کښې به تپوس کولې شى- (بيضاوى) نوقرآن دا لوئې عزت دې نو لوى نعمت دې خو ددې دحق پوره کولو باره کښې به الله تپوس کوى - نو حقوق دقرآن کريم خو ډير دى خو يو حق پکښې دادې چه ددې په مقصد باندې ځان پوهه کړې شى - چه يو تن ته

پلار یا رور یا بل رشته دار خط راولیږی نو د هغې حق داوی چه ځان پرې پوهه کړې شی او دغه وجه ده چه دغه رالیږلې شوی خط باندې ځان پوهه کولو دپاره دا خط په پوهه کسانو باندې ګرځولې شی - که خپله پرې نه پوهیږی- نو قرآن کریم هم دالله خط دې او مخلوق بندیانو او پیریانو ته ئې رالیږلې دې نو پکار ده چه ددې په مقصد باندې هم ځان پوهه کړې شی- دا دقرآن حق دې - نو دقرآن دمقصد د وضاحت دپاره او دفهم د آسانولو دپاره علماؤ ډیر کړاؤنه او کوششونه کړی دی- او په اصول دتفسیر باندې ئې کار کړې دې او ځا تفاسیر لیکلی دی- خو په دی باب کښې زمونږه د اساتذو " چه کوم ژوندی دی الله دِ په عمر او صحت کښې برکتونه واچوی او چه کوم وفات شوی دی دهغوی دِ الله قبرونه منور کړی " یو خاص طرز چه هغوی په هغه خاص نهج او طرز باندې دقرآن وضاحت کوی- دهغې ډیرخصوصیات دی خو دهغې نه یو څو خصوصیات ذکر کوو-

## خصوصيات د طرز د مشائخو

﴿۱﴾ يو دا چه عام فهم دی - هر سړې پرې پوهيږی دعالم نه عالم او د امی نه امی - نوفائده ئې زياته ده ،په دې طريقې عالم هم پوهيږی او امی هم پوهيږی-

﴿۲﴾ قرآن ديو خاص مقصد دپاره نازل شوې دې چه هغه اصلاح دمخلوق ده هم دعقيدې او هم دعمل نو په دې طريقې سره دا مقصد دنزول القرآن په صحيح طريقه ادا کيږی-

﴿۳﴾ قرآن مجيد ديو زمانې دخلقو پورې خاص ندې- بلکه عام دې تر قيامته پورې - نو په دې طرز کښې دقرآن هغه عموم باقی پاتې کيږی او دهر دور سره ئې مناسبت او تطبيق آسان وی-

نو الله دې توفيق راکړی چه دهغوی د طرز صحيح بيان اوکړو ، هغوی د قرآن د زده کولو دپاره څه اصول مقرر کړی دی د هغې نه مخکښې اول مونږ ددې محنت قيمت او فضيلت بيانوو ځکه چه دا دور مادی دې هر څوک دا خبره کوی۔ چه دا کار کوم نو څه به ملاويږی نو هسې نه چه دا محنت بې کاره اوګڼړی.

## فضيلة القرآن

غوره والې دقرآن کريم په مختلف طريقو سره :

**اول فضيلت**: قرآن په خپله قيمتى کتاب دې په دِ باندې الله ملاويږى -

﴿ وَهَٰذَا صِرَٰطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًاۗ قَدۡ فَصَّلۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَذَّكَّرُونَ ١٢٦ ﴾ (الأنعام: ١٢٦)

ترجمه : او دا لار د رب دِ ده بالکل نيغه ، يقيناً جدا جدا بيانوم نخې دپاره د داسې قوم چه نصيحت اخلى-

﴿ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسۡتَقِيمٗا فَٱتَّبِعُوهُۖ وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَن سَبِيلِهِۦۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴾ الأنعام: ١٥٣

ترجمه : او دا لار ځما ده بالکل سمه نو پدې پسې روان شئ او مه روانيږئ په نورو لارو نو جدا به کړى تاسو د لارې د هغه نه -**دا حکم کوى تاسو ددې کيديشى چه تاسو ځان بچ کړئ -**

**درب لاره ده نو هغه پرې ملاويږى- نو که سړى د ناستې او ګرمئ تکليف برداشت کړو خو الله ورته پرې ملاؤ شى نو :**

*نرخ بالا کن که هنوز ارزانی است*

**دويم فضيلت : چه قرآن لويه خزانه ده او دنيا ډيره لږه ده -**

**نن صبا مادى دور دې خلق په روپئ دوه روپو پسې ګرځى خو روپئ دوه روپئ لا څه کوې ټولې دنيا ته قرآن قليل وائى :**

﴿ قُلۡ مَتَٰعُ ٱلدُّنۡيَا قَلِيلٞ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ ﴾ النساء: ٧٧

ورته اوايه چه سامان ددنيا **ډير معمولى دې او آخرت ډير غوره دې دپاره د هغه چه ځان بچ کوى او يريږى -**

﴿ مَتَٰعٞ قَلِيلٞ ثُمَّ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ١٩٧ ﴾ آل عمران: ١٩٧

سامان انتهائی معمولی بیا ځائ ددوی دوزخ دي اوبده بستره ده۔

**نو دنیا لږه ده نو انتهائی لږه ده په نشت حساب ده خو قرآن ته خیر کثیر او دقرآن عمل ته**

﴿ يُؤْتِي ٱلْحِكْمَةَ مَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُؤْتَ ٱلْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ ﴾ البقرة: ٢٦٩

ورکوی الله تعالیٰ پوهه د قرآن هغه چاته چه اراده اوکړی او چاته چه ورکړې شوه پوهه د قرآن نو ده ته ورکړې شو خیر زیات ۔

**مال دقارون میراث دي او علم د قرآن دپیغمبر میراث دي - دپیغمبرﷺ سره مال او دولت ددنیا نه وو خو بیا ورته هم الله فرمائی :**

﴿ إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ ① ﴾ الکوثر: ١

**تاته مونږه خیر کثیر درکړې دې- نو هغه قرآن دې کنه په دنیا کښې - او دنبیﷺ باره کښې راځی چه دټولو نه زیات سخی نبی ﷺوو او دا سخاوت به ئې په رمضان کښې نور هم زیات وو - نو دا سخاوت دځه وو نبیﷺپه خپله په مړه ګیډه ډوډئ نده خوړلې نو محدثین ذکر کوی چه دا سخاوت دقرآن کریم بیان وو - چه دالویه خزانه به ئې تقسیموله- او دقرآن بیان به ئې کولو او دا بیان به ئې په رمضان کښې نور هم زیات شو نو سخا به ئې زیاته شوه- اقبال هم کلیات کښې وائی :**

گفت حکمت راخدا خیر کثیر هر کجا این خیر رابینی بگیر
جز بقرآن ضیغمِی روباهی ست فقر قرآن اصل شهنشاهی است

**نو قرآن لوئې خیر دې زما ددنیا روپو پیسو طرف ته عام طور باند ذهن ځی خو اصل خزانه او خیر هغه قرآن او اصل بادشاهی دقرآن بادشاهی ده- دپنج پیر شیخ صاحب فرمائی : " که څوک راته وائی چه دقرآن درس پرېږده او بادشاهی او وزارت دملک درکوو نو پرېږدو ته ئې تیار نه یم -"**

**دریم فضیلت** : چه دا قرآن کریم سبب د مینې ، محبت او الفت دې - کوم کور کښې چه قرآن راشی نو هغه کور کښې به مینه او محبت وی - په کوم کلی کښې چه قرآن

**راشي په عقیده او عمل نو هغه کلې کښې به مینه او محبت وی - په کوم ملک کښې چه قرآن راشي نو هغه ملک کښې به مینه او محبت وی - په کوم تنظیم کښې چه قرآن راشي نو دهغه تنظیم په ارکانو کښې به مینه محبت وی-**

﴿ وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا وَكُنتُمۡ عَلَىٰ شَفَا حُفۡرَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنۡهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ﴿١٠٣﴾ ﴾ آل عمران: ١٠٣

ترجمه : او یاد کړئ احسان دالله په خپلو ځانونو په هغه وخت کښې چه وئ تاسو دشمنان نو مینه ئې راوستله ستاسو د زړونو تر مینځه نو شوئ تاسو په احسان د الله تعالیٰ رونړه او وئ په غاړه د کندې د اور نو بچ کړئ الله تعالیٰ تاسو د هغې نه دغه شان بیانوی الله تاسو ته خپل آیتونه کیدیشی چه تاسو لار اومومئ -

**څلورم فضیلت**: **چه خلق رحمت دالله غواړی نو د الله درحمت سبب هم قرآن کریم دې -**

﴿ وَإِذَا قُرِئَ ٱلۡقُرۡءَانُ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾ ﴾ الأعراف: ٢٠٤

**ترجمه : او چه کله لوستې شی قرآن نو غوږ کیږدئ هغې ته او غلی شئ کیدې چه په تاسو مهربانی اوکړې شی-**

**نو چه چرته قرآن وی هلته خصوصی رحمتونه دالله وی-**

**پنځم فضیلت**: **چه دا قرآن سبب دخوشحالئ دې - خوشحالی په دوه قسمه باندې ده- یو ظاهری خوشحالی ده وقتی چه لطیفه وغیره اوریدو سره حاصلیږی خو بله ده حقیقی خوشحالی - نو په قرآن کښې حقیقی خوشحالی حاصلیږی- الله وائی: " الا بذکرالله تطمئن القلوب "خبردار په یادولو د الله سرپږی زړونه -**

**" فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ا " (یونس ٥٨)**

**شپږم فضیلت** : **چه دا قرآن دخیرونو او برکتونو ذریعه ده - ددې په ذریعه برکتونه نازلیږی :**

﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا۟ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم ۚ مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ ﴿٦٦﴾ ﴾ المائدة: ٦٦

ترجمه : نو كه دوى جارى كړې وې تورات او انجيل (په خپلو وختونو كښې) او هغه كتاب چه نازل كړې شوې دې دوى ته نو خامخواه خوراک به كړې وې دوى د بره نه او دلاندې دخپو خپلو نه او ځنې ددوى نه يو ډله ده تابعداره او ډير ددوى نه بد دى هغه چه كوى دوى ـ

نو قرآن هم دالله كتاب دې نو ددې په اقامة سره به هم خيرونه او بركتونه راځى - رزق به سوا كيږى- په فضائل دقرآن باندې مختلف كتابونه ليكلې شوى دى او احاديث هم ډير دى په دې باب كښې-

**الحديث الاول** : نبى ﷺ فرمائى:

" القرآن احب الى الله من السمٰوٰت والارض ومن فيهن " (سنن الدارمى)

قرآن محبوب دې الله تعالىٰ ته د آسمانونو او زمكو نه او څوک چه په دې كښې دى ـ نو چه څوک قرآن راواخلى نو هغه به هم الله ته محبوب شى-

**الحديث الثانى**: نبى ﷺ فرمائى :

اوصيكم بتقوى الله والقرآن فانه نور الظلمة وهدى النهار فاتلوه على ماكان من جهد وفاقة " - (شعب الايمان)

تاسو ته وصيت كوم د الله نه د يريدلو او دقرآن د نيولو د قرآن د تيرو رنړا ده اود ورځ رهنمائى ده نو دا اولولئ دې لره سره د تكليف او د لوږې ـ

نو غوره امتى هغه دې چه دخپل پيغمبر دا حديث په ځائې كړى - قرآن راواخلى خو سختى تكليف به وى خو چه دتكاليفو سختو او مشكلات دوجې نه دقرآن درس او تدريس نه پريږدى-

## فضيلة اهل القرآن

نو دقرآن والا هم ډير فضيلت او غوره والې دې چه دا غوره ددې امة دې كما فى الحديث " خيركم من تعلم القرآن وعلمّه "(مسند ابو داود الطيالسى)
غوره په تاسو كښې هغه څوک دى چه قرآن زده كوى او نورو ته ئې خائى ـ
" نو معلم او متعلم ئې غوره دى په تاسو كښې او امة چه دى نو
"كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ تَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ۱ (ال عمران۱۱۰)
وئ تاسو غوره امت ويستلې شوئ يئ دپاره دخلقو ، حكم به كوئ د نيكئ او منع به كوئ د ناروا نه او ايمان به راوړئ په الله باندِ ـ
خو امة دامتونو نه غوره او قرآن والا ددې امة غوره نو قرآن والا دغورو غوره شو - دشوملو نه چه كوچ اويستلې شى - نو قرآن والا كه نارينه دى كه زنانه دى نو غوره دى- لكه په حديث كښې راځى-"
" اشراف امتى حملة القرآن " (رواه البيهقى فى شعب الايمان ) نو چه حمل دقرآن ئې علماً او عملاً كړې وى - نو نبى ﷺوائى دا اشراف او عزتمند د امت ځما دى- او قرآن هم عزت دې ددوى-

﴿ لَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ كِتَٰبٗا فِيهِ ذِكۡرُكُمۡۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٠ ﴾ الأنبياء: ١٠

بې شكه نازل كړې م دې تاسو ته كتاب چه پدې كښې عزت ستاسو دې نو آيا تاسو د عقل نه كار نه اخلئ ـ
دا رنګې په حديث كښې راځى :
"يوتى بحملة القرآن يوم القيامة ـ دقرآن اوچتونكى به د قيامت په ورځ راوستلې شى "، نو الله به ورته وائى: "
انتم وعاة كلامى أخذكم بما اخذبه الانبياء الا الوحى ""

چه تاسو ځما دكلام خيال ساتونكى يئ ، نو هغه عامله به تاسو سره كـوم چـه كومـه د انبياء سره كوم صرف فرق بـه د وحى وى ـ نـو دقيامـة پـه ورځ بـه ددوى او انبيـاء تـر مينځه صرف ديوې درجې فرق وى چه هغه دنبوت او وحى درجه ده-

دارنګې قرآن والا دالله اهل او خواص دى :

عن انس قال : قال رسول الله ﷺ: ان لله اهْلِين من الناس ، قالو: من هم يارسول الله ، قال : اهل القرآن هم اهل الله وخاصته "-(نسائى)

او دقرآن د درس وتدريس باره كښې نووى رح حديث نقل كړې دې-

عن ابى هريرةؓ ان رسول الله ﷺقال: ماا جتمع قوم فى بيت من بيوت الله يتلون كتاب الله ويتدارسونه بينهم الا نزلت عليهم السكينة وغشيتهم الرحمة وحفتهم الملائكة وذكرهم الله فيمن عنده -

ابو هريره رضى الله عنه وائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى چه څه خلق د الله تعالىٰ په كور كښې غونډ شى د الله كتاب تلاوت كوى او خپلو كښې ئې درس كوى نو په هغوئ خصوصى تسلى او آرام نازليږى او رحمت ترې تاو شى او درحمت فرشتې ترې چاپير شى او الله تعالىٰ په خپل خصوصى مجلس كښې د هغوى تذكره كوى۔

## الاداب لفهم القرآن

اوس دفضيلة ذكر كولو نه روستو كوم آداب پكار دی دپاره د فائدې اغستلو دقرآن نه او د مستفيد كيدلو دقرآن نه چه په هغه ادب باندې سرېې خائسته شی نو علم دقرآن به ورته حاصل شی او سره د حصول نه به مقصود ته اورسيږی او په اسانه به اورسی- او دا قانون دې او قاعده ده چه كله يو كار په اصول او اداب باندې وی نو دهغې فائده وی او فائده ئې زياته وی او پائيداره هم وی او چه كله يو كار په اصول او اداب باندې نه وی نو په هغې باندې خو يا د سره فائده مرتبه نشی او كه مرتبه شی نو كمه وی او كه زياته وی نو بيا پائيداره نه وی يعنی بل چاته منتقل نشی- ددې وجې دقرآن په زده كړه كنبې او دقرآن نه په استفاده كنبې هم دادابو لحاظ پكار دې- مفيدالطالبين كنبې وائی " من حرم الادب فقد حرم الخير الكثير " رومی بابا وائی -

از خدا جوئيم توفيق ادب كه بے ادب محروم ماند از فضل رب

بے ادب تنها نه خود را داشت بد بلكه آتش در همه آفاق زد

نوبې ادبی لوئې لعنت دې او ادب لوئې رحمت دې - نو ددې وجې نه د قرآن په زده كړه كنبې د آدابو لحاظ پكار دې- ددې په آدابو باندې مستقل كتابونه ليكلې شوی دی لكه " التبيان فی آداب حملة القرآن " دامام نوویؒ كتاب دې - داسې نور په كتابونو كنبې پرې ابواب هم قائم كړې شوی دی-خو مختصرا يو څو آداب دلته ذكر كوو-

(١) **النية**: نية كنبې دوه خبرې دی- يو نية صحيح كول او برابرول- كابلگرام شيخؒ و نورالله مرقده به فرمائی؛ چه نية څه ته وائی نو وئيل چه عالمان دنية معنی كوی - " انبعاث القلب الی نحو ما يتمناه " دزړه راپورته كيدل دهغه څه طرف ته چه زړه ئې غواړی او تمنا ئې كوی- مثال لكه دا وخت مونږاو تاسو چه قرآن ته ناست يو او قرآن زده كوو نو دې وخت كنبې مونږدوكانداری كولې شوه ، زميندارى كولې شوه ، بازار ته تلې شو وغيره كارونه مو پكنبې كولې شو خو دِ ټولو كارونو كنبې زمونږ زړه قرآن

راغستل غوره کړل او ددې په طرف راپورته شو نو دا انبعاث او راپورته کيدلو باندې باعث دالله رضا نه علاوه يو بل باعث وو- مثلاً قرآن زده کوم چه خلق راته شيخ اووائی ، مقرر اعظم راته اوائی يا امامتی به راته ملاؤ شی نو اړه به پکښې ملاويږی ، ګاډی کښې به راته خلق مخکښې سِټ پريږدی ، ګاډې به راته اودروی، دايم اې امتحان کښې به فائده راکړی وغيره نو دا نيت صحيح ندې - چه دالله طرف ته تلونکې نه دې او که باعث دا وو چه دا د الله کتاب م راواغستو چه دالله زما او دعالم د اصلاح دپاره رالیږلې دې نو دا زده کوم چه دځان او عالم اصلاح پرې اوکړم او الله رانه راضی شی نو دا دالله په طرف تلونکی دی نو دا نية صحيح دې- نو نية يو صحيح کول پکار دی- قاضی شمس الدين‎ؒ د مشکاة په شرح کښې ذکر کوی دنيت مثال دتخم دې- " ان حنطة فحنطة وان شعيراً فشعير " چه څنګه تخم کری نو هم هغه شان فصل راخيژی نو هکذا که نيت صحيح نو اعمال به صحيح وی فائده مند به وی او که نيت غلط وو اعمال به غلط وی فائده به پرې نه مرتب کيږی- او د نيت مثال د لوخی دويخ دې که دلوخی ويخ صفا وی او اوبه پکښې واچوی نو صفا وی او که ګنده وی او اوبه پکښې واچوی نو اوبه ګنده - نو دغه شان که نيت ګنده وو غلط وو نو فائده مند علم او عمل پرې نه مرتب کيږی-نو تصحيح د نيت ډيره ضروری ده- دکابل ګرام شيخ صيب رحمه الله تعالیٰ و نورالله مرقده به فرمائيل : چه صاحب القرآن له کم زده کړه کوی او که خودنه کوی پکار دی چه په خپل نيت باندې نظر ثانی کوی او هره ورځ دی تجديد النية کوی- سفيان‎ؒ وائی:

طلبنا العلم لغيرالله فابى العلم الا ان يكون لله "

که د الله رضا مِ لټوې نو علم وائی دربشم او کنه نو تش معلومات به وی علم به نه وی- نو نيت کښې صحت ضروری وو - دويم په نيت کښې مضبوطيا ضروری ده ځکه چه نيت څومره مضبوط وی هغه هومره به امداد سوا وی- او چه څومره کچه وی نو هم هغه هومره به امداد کم وی- حديث مو مخکښې ذکر کړې وو -" فاتلوه على ماكان من

جهد وفاقة " كه هر څومره سخته او تكليف او لوړه و تنده وی خو په مضبوط نية كار كوه دخپل منزل نه روستو كيږئ مه لكه يو شاعر وايي-

لكه اونه مستقيم په خپل مقام يم        كه خزان راباندې راشى كه بهار

یہ نغمہ فصل گل ولالہ کا نہیں پابند        بہار ہو کہ خزاں لاالہ الااللہ

په دې عزم او نية كار كوه نو كه هرڅه كيږی كه عالم ورانيږی نو وران دې شی-كه كور دې رنګيږی نو رنګ دِ شی خو ستا په مقصد كښې دی خلل رانشی-الله فرمائی:

وَ الَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ط ١ (سورة العنكبوت ٦٩)

او هغه كسان چه كوشش كوئ زمونږ په دين كښ خامخا پرابه نيزم دوئ ته لارې خپلې -

الله وائی دخپل معرفت لارې ورته پرانيزم- ګرمی به په تا اثرانداز نه وی-يخنی به په تا اثرانداز نه وی- د هيڅ يوڅيز نه به نه متاثره كيږی-كابلګرام شيخ صاحب رحمة الله تعالیٰ عليه به فرمائيل : "

المعونات تاتی بحسب النيات "-

امدادونه دنية مطابق راځی - كه نية كلک امداد زيات او كه كچه نو امداد كم - بيا به ئې مثال ورله وئيلو چه يو سړې دې په لاره باندې روان دې تياره ده خو دده زړه كښې يره ده چه دې لاره باندې ديوان دی او دا نية ئې مضبوط نه وی نو دهر جاړې نه ورته ديو جوړيږی - دهرې ګټې نه ورته ديو جوړيږی-دلختې نه ورته مار جوړيږی- خو چه ورنزدی شی نو نه ديو وی او نه مار - هغه جاړه ، ګټه او لخته وی -دا ولې نية ئې كمزورې وی-او چه نية مضبوط وی او دې روان وی نو كه حقيقی سپې راوځی نو هم دې ورله سرته ګټه راخلاصوی - يعنی په لنډو دا چه نية مضبوط وی نو حقيقی مصائب به هم اثرانداز نه وی- هغه به ورته خيالی اوګرځی-او كه نية كمزورې وی نو خيالی به درته حقيقی شی-نو ته هم دقرآن دعلم مسافر ئې نو نية مضبوط كړه كار ته كار اوايه - مصائب او حالات به راځی امداد به دِ الله كوی-

وہ مرد نہیں جو ڈر جائے حالات کے خونی منظر سے

جس حال میں جینا مشکل ہو اس حال میں

جینا لازم ہے

نو دا غمونه او فکرونه پریږده او خپل مقصد ته متوجه شه مفتی محمد مسلم صیب د چارسدې به فرمائیل

ہیچ نہ داریم و غم ہیچ نہ داریم دستار نہ داریم و غم پیچ نہ داریم

نو چه په صحیح نیة او مضبوط نیة باندې قرآن له راغلې نو ستا ناسته ، ګرځیدل خوب ، ډوډۍ خورل ، داټول عبادت دی- درس ختم شو وائی خوب کوم چه تکرار ته دمه شم نو داخوب عبادت ، دخوب نه راپاخیدې وائی چائې سخښم چه تکرار کښې مِ سر نه خوږیږی نو دا چائې سخښل دې عبادت دې دتکرار نه روستو مازیګر چکر ته تلل چه صبا له درس ته تازه یم نو دا چکر دې عبادت دې - " وانما لامرئ مانوی " ان حنطة فحنطة وان شعیراً فشعیر " دنیت سره وړوکې عمل ډیر لوئې شی- د صحابه کرامو نیت ډیر مضبوط وو نو ددې وجې نه نبیﷺفرمائی که تاسو د اُحد هومره سره زر خرچ کرئ نو دصحابو یوې کجهورې ته نشئ رسیدلې- نو اول ادب وو تصحیح النیة او کلک والې دنیت-

(۲) **التسلسل فی العمل**: دویم ادب چه په فهم دقرآن کښې ضروری دې نو هغه دې التسلسل فی العمل - قضائی به پکښې نه وی - د چارسدې مفتی صاحب مدظله العالی فرمائی - دقضایئ خپل سپیره توب وی ولو کان جمعه - هغه که ورځ د جمعې ولې نه وی - نوپابندی سره درس ته حاضریدل او بیا په پابندئ سره تکرار کول- چه کوم طالب خپله تکرار کوی نو هغه بالفعل مدرس دې-په دیکښې دخال شیخ صاحب ډیر پابند دې - چه کله د هغوی درس شروع شی تر ۲۵ رمضان هغوی کورته نه ځی - وائی چله مِ خرابیږی- بیا زمونږه په کال ددرس باندې کوروالا بیماره وه او دتیمرګرې په هسپتال کښې پرته وه او دخال او تیمرګرې په مینځ کښې دومره فاصله نه ده درس پکښې قضا

کیدو هم نه که هغوی هسپتال ته تللې خو دهغې باوجود لاړنه -وې چله مِ خرابیږی او خپل ځوې مولانا حسین علی ئې اولیږلو وې دمور خدمت دِ اوکړه- نو دویم التسلسل ډیر ضروری دې-ابن الحاج ذکر کوی چه کوم طالب العلم یو ورځ غیر حاضری اوکړی نو لک چه هفته غیر حاضری ئۍ اوکړه چه دوه ورځې اوکړی نو لکه چه میاشت غیر حاضری ئې اوکړه یعنی دومره ضرر به وی او چه درې ورځې غیر حاضری اوکړی نو لاخیر فیه پدیکښ هیڅ خیر نشته -

﴿۳﴾ **التطهر**: پاکی ضروری ده دپاره دفهم القرآن - الله فرمائی :

﴿ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُطَهَّرُونَ ﴿٧٩﴾ ﴾ الواقعه ۷۹

نه به مسه کوی دې لره مګر پاکان ظاهراً او باطناً - نو بې اودسه به نه ئې دویم شرک او بدعت به پکښې نه وی- داده باطنی پاکی - بدعتی او مشرک په قرآن نه پوهیږی-هسې یکفرون به کوی خو----

﴿٤﴾ **السواک**: دا په مخکښې کښې داخل دې خو تخصیص بعدالتعمیم دې للاهتمام نو مسواک کول چه کله قرآن ته اودس کوی نو مسواک پکښې کوه یا زوړ اودس دې نو قرآن ته د ناستې وخت کښې قرآن دپاره مسواک کوه- حدیث کښې راځی -نبی ﷺ فرمائی :

طیبوا افواهکم فانها طرق القرآن "(بیهقی)

خپلې خلې پاکې کړئ ځکه دالارې دقرآن دی نو چه په کومه لاره بادشاه راځی نو هغه لارې پاکولې شی او خلق هغه لارې صفا کوی نو قرآن بادشاه دې دراتلو لاره ئې خله ده نو داپاکول پکار دی -نو السواک مسواک کول ضروری دی-

چه ته دومره لوئې میلمه به کور ته بیائې اول خپل غولې صفاکړه له خشاکه

(من ابو عتبان فداءالرحمان عابد)

﴿٥﴾ **ترک المشاغل واصغاء القلب الیه**: نور کارونه به پریږدې - همه تن به قرآن ته متوجه شی- الله فرمائی

﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُۥ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى ٱلسَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴿٣٧﴾ ﴾ ق: ٣٧

په دې قرآن کښې نصيحت دې هغه چادپاره چه وی دهغه دپاره زړه متوجه يا کيږدی غوږ او وی دې حاضر ( قلباً او قالباً)-

دانه چه ناست يمه تاسره او زړه مې په کندو کښې دې او بل په بارانه کښې دې-سړې دبادشاه په دربار کښې ناست وی او بادشا ته توجه نه کوی نو بادشاه خفه کيږی - نوقرآن بادشاه دې او د بادشاه کتاب دې نو چه ديته هم توجه نه کوی نو ناراضه کيږی-نو دقرآن مجيد په وخت کښې عبثې کول دا بې ادبی ده-او قرآن فهم ته خلل دې الله پرې ناراضه کيږی-

*چشم بند، لب بند، گوش بند گر نیابی سر حق بر من بخند*

سترګې د فضول کتلو نه شوندې د فضول وئيلو نه او غوږ دفضول اوريدلو نه بند کړه نو کا تاته رازونه دحق ميلاو نه ژو نو بيا ماپورې اوخانده

﴿٦﴾ **جعله على كرسى**: قرآن په اوچت ځائې باندې کيخودل-دانه چه ته زمکه باندې ناست ئې او قرآن کريم هم په زمکه باندې پروت وی يا دې ترې لاندې صرف څادر غوړولې وی نه په اوچت ځائې ريل وغيره باندې ايخودل-

﴿٧﴾ **الاستماع والانصات**: غوږ کيخودل او چپ کيدل قرآن ته بيا يو سماع ده او بل استماع ده نو سماع کښې تکی کم دی او استماع کښې زيات دی نو نفس اوريدلو ته سماع وائی او په اراده اوريدلو ته استماع وائی - لکه يو سړې دې په لاره باندې روان دې د قرآن آواز ئې په غوږونو اولګيدو نو داده سماع او بل دی چه دکور نه راغلی په ارادې دقرآن اوريدلو باندې او جمات کښې قرآن اوريدلو ته کيناسې په اراده باندې نو داده استماع - الله قرآن کښې استماع صفت دمومنانو وئيلې دې چه :

﴿ ٱلَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقَوْلَ ﴾ الزمر: ١٨

چه قرآن پسې غوږونه کرځوی -

وَ اِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَ اَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ۝(سورة الاعراف ٢٠٤)

او كله چه لوستلې كيږی قرآن نا تاسو ورته غوږ كيږدئ او چپ شئ كيدې شی په تاسو باندې رحم اوكړې شی۔

صحابه كرام به په پوره اداب سره قرآن اوريدو " كاَنَّ على رؤسنا الطيور "۔

﴿۸﴾ **التدبر**: د سمع نه روستو په قرآن كښې سوچ او تدبر كول فكر كول چه دا قرآن رانه څه غواړی او دڅه نه م منع كوی او ددې انجام به څه شی۔ علی رضی الله عنه فرمائی : " لاخير فی قراءة لاتدبر فيها " مقصدی فائده نه مرتب كيږی۔په هغه تلاوت چه بدون التدبر وی۔ نور ثواب خو به وی خو ثواب ځانله څيز دې او مقصود ځان له څيز دې - امام زركشیؒ په البرهان كښې ذكر كوی - " ويكره قرأة القرآن بلا تدبر " او قرآن وائی :

﴿ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ﴿٨٢﴾ ﴾ النساء: ٨٢

آيا سوچ نه كوئ دوی په قرآن كښې كه دا دادقرآن د الله تعالیٰ نه علاوه د بل چا د طرفنه وې نو پدې كښې به ئې ډير اختلاف موندلې وې ۔

﴿ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَآ ﴿٢٤﴾ ﴾ محمد: ٢٤ "

نو آيا سوچ نه كوی په قرآن كښې يا ددوئ په زړونو ژرندې دی ۔

نو تدبر پكار دې - علامه ابن القيمؒ فرمائی:

ـه فتدبر القرآن ان رمت الهدیٰ فالعلم تحت تدبر القرآن

سوچ كوه په قرآن كښې كه قصد كوې د هدايت علم دقرآن د سوچ د لاندې دې ۔

علم دقرآن په سوچ او فكر حاصليږی۔

﴿۹﴾ **الاجتناب عن موانع فهم القرآن**: د موانع د فهم القرآن نه ځان بچ كول او موانع د فهم القرآن نه ډير دی۔

(۱) **حب الدنيا** : ددنيا مينه دقرآن علم ته مانع ده چه دكوم طالب مينه دموبائيل او موټرسائيكلو سره ده او ددنيا شوق ئې وو نو ده ته دعلم نه نصيب كيږی۔ نبیﷺددنيا

شوق نه لرو يو ورته ملګرو اوئيل يوه خکلي ګدئ به درته جوړه کړو چه هغې باندې کينې نو نبیﷺورته وائی : " مالى ولدنياكم الا كراكب استظل تحت الشجرة ثم راحها "" څما ستاسو ددنيا سره څه کار دې بس دومره چه لکه سور سړې د ونې د لاندې دمه کوی بيا ترې لاړ شی۔ خو سره ددې نه نبیﷺته وائی دپاره دتعليم دامت :

﴿ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا ﴾ الحجر: ٨٨

(مه اوږدوه سترګې دِ (اوږو سترګو کتل مه کوه ) هغه څه ته چه فائده ورکړی ده مونږپه هغې سره دوئ ته) (حجر ٨٨)

چه قرآن کريم مِ درله درکړو نو ته دتمام جهان نه مالداره ئې او څانله يو جهان ئې نو دنيا ته به په اوږو سترګو نه ګورې- نبیﷺفرمائی :

من هداه الله الاسلام وعلمه القرآن ثم شكى الفاقة كتب الله الفقر بين عينيه الى يوم القيامة "-

چاته چه الله تعالیٰ اسلام خودلې وی او قرآن ئې ورته خودلې وی او بيا خپل حاجت فرياد مخلوق ته کوی نو الله تعالیٰ به دده د سترګو تر قيامته لوږه اوليکی ۔ ابوبکر[رض] فرمائی : چه ديو عالم او قاری په نظر کښې د دنيا څيزونه لوئې راغلل او لوئې اوګڼړل نو " فقد صغّر العظيم وعظّم الصغير "-

سفيان وائی ددنيا محبت او علم د قرآن يو زړه کښې نشی جمع کيدې-

*هم خدا خواہی وہم دنیای دون — این خیال است ومحال است وجنون*

هم الله غواړې او هم بې کاره دنيا ، داهسې خيال او ليونتوب دې ۔ نو يو ددنيا دمحبت نه زړه پاکول پکار دی څکه چه کوم زړه کښې د دنيا محبت وی هغې کښې د قرآن علم نشی راتللې محبت ددنيا مانع دې -

(٢) **المعاصى**: نو دګناه نه زړه او اندامونه پاکول پکار دی- بدنظری ګناه ده ، دروغ ګناه ده، غيبت ګناه ده ، دارنګې ټول ګناهونه شو ددې نه څان پاکول پکار دی دا دفهم القرآن دپاره مضر دی- امام شافعی[رح] فرمائی-

شکوت الی وکیع سوء حفظی فاوصانی الی ترک المعاصی
فان العلم نور من الهٍ ونور الله لا یعطیٰ لعاصی

**(۳) التکبر**: لکه الله فرمائی :

" ساصرف عن ایاتی الذین یتکبرون فی الارض بغیرالحق "(اعراف)

چا کښې چه تکبر راغلې نو هغه علم دقرآن نشی حاصلولې - نو تواضع او عاجزی مفید ده د په علم قرآنی کښې او تکبر مضر دی " من تواضع لله رفعه الله "- او څنګه عاجزی ممده فی فهم القرآن نو داسې عمل په هغې هم ممد فی فهم القرآن دې - دارنګې د قرآن د اداب او داستاد، د ځائې او ملګری احترام کول هم دی او د صفايئ اهتمام هم دې نو داځه مختصر اداب دی- چه ددې خیال اوساتلې شی نو فائده به مرتب شی او ډیره به هم وی او پائیداره به هم وی- نو ځمونږمشائخ چه قرآن وائی او خائی نو د هغې د زده کړې څه اصول دی هغه اصول په درې قسمه یو چه د ټول قرآن سره تعلق لری دویم چه د فهم د سورة سره تعلق لری - دریم چه د فهم دایت سره تعلق لری - اول هغه اصول چه د ټول قرآن سره تعلق لری ، نو هغه مونږه څو خبرو کښې راګیرو (۱) قرآن څه وائی ؟ (۲) چاته ئ وائی ؟ (۳) څنګه ئ وائی ؟ انداز بیان ئ څه دې ؟(٤) چه وې وائی نو څه به اوشی -

نو ددې خبرو پیژندل ضروری دی دپاره دځان پوهه کولو په قرآن باندې نو ددې څلورو واړه خبرو تفصیل کوو بالترتیب -

## قرآن څه وائی ؟

نوځمونږه شیوخ ټول او متقدمین دا وائی چه د قرآن کریم موضوع ده التوحید ، لااله الاالله ، یو والي دالله - ملاعلی قاری په شرح د فقه اکبر کښي لیکی - " القرآن کله فی التوحید وحقوق اهله " - شیخ التفسیر علامه مفتی محمد حسین نیلوی به فرمائیل چه دقرآن موضوع ده " التوحید ومایتبعه " اصلی مقصودی مسئله ده توحید او نوری مسئلي ئې نوکراني دی نو توحید سر دخادمانو او نوکرانو نه دا دقرآن موضوع ده - کابلګرام شیخ رحمة الله تعالیٰ علیه به فرمائیل چه زما زړه غواړی چه موضوع دقرآن ده " الانسان من حیث السعادة والشقاوة " قرآن دانسان نه انسان جوړول غواړی او وئیل به ئې په دې خپله خبره راسره دلیل هم شته دې هغه چه یو کتاب په کوم مقصود کښي وی نو په ابتداء کښې خپل مقصود ته اشاره کوی نو قرآن کښې هم اول ورځ مضمون کښي الله فرمائی:

﴿ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ۝١ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝٢ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ۝٣ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ۝٥ ﴾ العلق: ١ – ٥

خو ددې رجع هم هغه ته کیږی چه انسان سعید ګرځی نو په توحید او چه شقی ګرځی نو په ترک دتوحید باندې- نو قرآن توحید بیانوی نو دتوحید معنی څه ده؟

## معنى التوحيد

دتوحيد معنى دانه ده چه يکې ګڼتن بلکه دتوحيد معنى ده يک دانستن - يو وئيل نه بلکه يو ګڼړل او منل الله لره په ذات ، او صفات کښې يو منل " تقرير الالٰهية لله تعالىٰ " مجوس دوه او عيسايان درې منل نو الله وائى پاخه کافران دى-

## اقسام التوحيد

توحيد په درې قسمه باندې دې-

(١) توحيد فى الذات (٢) توحيد فى الصفات (٣) توحيد فى الافعال

دتوحيد فى الذات مطلب دادې چه دالله دذات غوندې ذات دچانشته دې-

﴿ وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾ ﴾ البقرة: ١٦٣

دتوحيد فى الصفات مطلب دادې چه دالله دصفات غوندې دچا صفات نشته دى-

﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ﴾الشورى: ١١-

اى لا كذاته ذات ولا كصفته صفة " الله خالق دې ، الله مالک او اختيار مند دې نو دالله داختيار غوندې دچا اختيار نشته -دالله اختيار دې

"﴿ لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ ﴿٢٣﴾ ﴾ الأنبياء: ٢٣

تپوس به نه شى کولې د الله نه د هغه څه باره کښې چه الله ئ کوى او ددوى نه به تپوس کولې شى --

شريعت مقررونکې دې نو بل څوک شريعت مقررونکې نشته دې -

﴿ شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰ ۖ أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ ۚ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ ۚ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾ ﴾الشورى: ١٣

**مقرر کړي دي الله تعالیٰ ستاسو دپاره د ژوند تیرولو طریقه هغه چه حکم ئي کړي دي په هغي سره نوح علیه السلام ته او هغه چه وحی م کړي وه تاته او او هغه چه حکم م کړي وو په هغي سره ابراهیم او موسی او عیسیٰ علیهم السلام ته هغه دا چه اودروئ د الله تعالیٰ دین (یعنی جاری کړئ دین په عالم) او جدائی مه کوئ پدي کښ ، ډیره ګرانه لګی په مشرکانو هغه مسئله د توحید چه ته رابلې دوی لره هغي ته ، الله خوخوی د ځان په طرف هغه چالره چه اراده اوکړی او روانوی د ځان په طرف هغه چا لره چه هغه راګرځی الله تعالیٰ ته ۔**

**نو شارع ، مفتی او حاکم الله دي- دبل چا داصفت نشته دي-**

**او دریم توحید فی الافعال ددي مطلب دادي چه دالله تعالیٰ دکارونو غوندي څوک کارونه نشی کولي ، لکه الله روزی ورکوی بي داسباب نه دا بل څوک نشی ورکولي- باران وروی، عزت ورکوی ، ذلت ورکوی،**

﴿ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ ﴾آل عمران: ٢٦

او عزت ورکوی چاته چه اراده اوکړی او ذلت ورکوی چاته چه اراده اوکړی

﴿ صُنۡعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍ ﴾ النمل: ٨٨

**جوړخ د الله دي هغه چه مضبوط کړي دي هر یوڅیز**

**دالله صنع غوندي صنع دچا نشته دي-**

﴿ تُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۖ وَتُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَتُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّۖ ﴾ آل عمران: ٢٧

دننه کوی شپه په ورځ کښ او دننه کوی ورځ په شپه کښ او راوباسی ژوندي د مړی نه او مړي د ژوندی نه ۔

**جزئيات ئي بي شميره دی خو زمکي،آسمان،دریابونو، ستورو،او نمر ته ګوره نو-اوس دري واړه اقسام دتوحید کښي چه چا یوپریخودو نو کافر دي - الله ذات، صفات**

**او افعال كښې يو منل دا دټولو نه اوله او ړومبۍ فريضه ده - دمونځ نه اوله ده دهر يو عبادة نه اول دا ضروری ده چه معرفت دالله اوشی-**

﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ۝٥٦ ﴾ الذاريات: ٥٦

ما نه دی پیدا کړی پیریان او انسانان مګر ددې د پاره چه څما عباد اوکړی -

ای لیعرفون " **خو تعبير ئې په عبادت سره اوکړو چه مقصود دمعرفت نه ئې عبادت دې-**

سوال: **ددې نه مخکښې بل فرض شته دې او کنه** - جواب : **دنبراس والا اختلاف نقل کړې دې چه څنې وائی ددې نه مخکښې فکر ضروری دې خو بيا وائی يو مقاصد دی او بل ده وسيله الی المقاصد نو مقاصد کښې دټولو نه ړومبې هغه توحيد - نو داده مرتبه دتوحيد دا رنګې ټول کتابونه الله دې له راليږلی دی:**

قَالَ تَعَالَىٰ:﴿ إِنَّ هَٰذَا لَفِى ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ ۝١٨ ﴾ الأعلى: ١٨

ای مسئلة سَبِّحِ ٱسْمَ رَبِّكَ ٱلْأَعْلَى لَفِى ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ

**ټول انبياء کرام الله دې له راليږلی دی - سورة الانبياء آية نمبر ٢٥ ،**

**"وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِیٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ"** سورة الانبياء **٢٥"**

**او نہ مو دی ليږلی مخکښې ستا نہ هيڅ يو پيغمبر مګر وحی بہ مو کولہ هغہ تہ ددې خبرې چہ لائق حاجت سر کونکے مګر څہ نو څما عبادت اوکړئ**

**کائنات ئې ټول ددې مسئلې دپاره پيدا کړی دی**

﴿ مَا خَلَقْنَٰهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۝٣٩ ﴾ الدخان: ٣٩

نه م دی پیدا کړی دادواړه مګر حق خکاره کولو له خو ډیر د دوئ نه نه پوهيږی -

**دغه شان سورة يونس ٥ -**

**انسانان او پيريان هم دې له پيدا دی-**

﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ﴾ الذاريات: ٥٦

او نه م دی پیدا کړی پیریان او انسان مګر صرف دې له چه دوئ عبادت کوی ځما

**نو دا مسئله دټول کائنات نچوړ دی نو تاج د لولاک ئې کړو په سر او**

**که صورة د محمد نه وې پیدا پیدا کړې به خدائې نه وه دا دنیا**

**داخبرې صحیح نه دی نو دهغې مطلب دادې چه دنبیﷺپه ژبه باند بیان دتوحید مقصود نه وی نو الله به نه وو پیدا کړې- نو داتوحید دقرآن موضوع ده الله رب العزت فرمائی :**

﴿ الٓرۚ كِتَٰبٌ أُحۡكِمَتۡ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتۡ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ﴿١﴾ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۚ ﴾ هود: ١ – ٢

**الر ، د لوئې شان والا کتاب کلک کړې شوی دی ، آیتونه ددې او واضح کړې شوې دی د طرفنه د حکمت والا او خبردار ذات نه په دې مسئله چه عبادت به نه کوی مګر صرف د یو الله**

**أُحۡكِمَتۡ او فُصِّلَتۡ دې په دې خبره باندې چه أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَ ، لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهَ- ددې وجې نه امام رازی وائی - معلومه شوه چه مقصود دقرآن کریم نه بل څه ندی اِلَّا هذَا الحَرْفُ الوَاحِدُ چه أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَ - نو دا توحید قرآن بیانوی - خو الاشیاء تعرف باضدادها - چه تیاره نه وی پیژندلې نو رنړا نشی پیژندلې-**

**دسپرلی دمازیګر قدر دهغو سره وی چه سیزلې چاله باد وی دخزان مخ**

**ونذيمهم وبهم عرفنا فضله وبضدها تتبين الاشياء**

**نو قرآن د وضاحت دپاره رد دشرک کوی خو اول دشرک معنی اوپیژنه چه شرک څه ته وائی ؟**

## الشرک

نوشرک برخه داروئ او حصه داروئ ته وائی- دشریعت په ژبه کښې دالله په ذات او صفات یا کار کښې دالله سره څوک حصه دار او برخه دار کول او ګڼړل- دیته شرک وائی -

**اقسام الشرک**: نو اقسام الشرک په یو اعتبار سره داد توحید نه معلوم شو چه درې قسمه دی - (۱) یو دې شرک فی الذات مطلب ئې دا چه دالله سره ذات کښې څوک حصه دار ګرځول لکه مجوسو به وئیل خدایان دوه دی - یو دخیر ذمه دار دی او بل دشر ذمه دار دی (۲) دویم په صفات کښې حصه دار جوړول دا دې شرک فی الصفات لکه دمکی مشرکانو به وئیل دا کارونه ټول الله نه کوی بلکه دا فلانې کار ئې فلانی بابا ته حواله کړې دې نو دا فلانې بابا کوی - دارنګې چا کارساز او متصرف عیسیٰ ﷺدی- فلانې په پټو پوهیږی-اولاد الله ورکوی- دارنګې غیرالله شارع، حاکم ګڼړل عوام له هم اختیار دملک دقانون جوړولو وغیره دادې شرک فی الصفات - (۳) دریم دې شرک فی الحقوق د الله تعالیٰ حق د عبادت بل چا له ورکول لکه رکوع او سجده طواف ، اطاعت مطلقه ، نذر وغیره د الله تعالیٰ حقونه دی نو دا بل له ورکول شرک دې ۔

خنګه چه توحید انتهائی عظیم دې نو نو دغه شان شرک انتهائی قبیح دې نو که هر شې وی ژوندې وی که مړ نو دالله تعالیٰ سره ئې برخه دار ګرځول حرام دی-الله فرمائی:

﴿ وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗا ﴾ النساء: ٣٦

نو هیڅ شې هم دالله سره حصه دار مه ګرځوئ- چه دشرک رد باره کښې آیت اوائ نو خلق وائی دا دبتانوباره کښې دې نو وایه دشیئاً څه معنی ده

﴿ قُلْ إِنَّمَا أَدْعُو رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِهِ أَحَدًا ﴿٢٠﴾ ﴾ الجن: ٢٠

ورته اوایه چه زه رابلم خپل رب او حصه دار نه ګرځوم د هغه سره هیڅوک - نو شرک منهی عنه دې نو قبیح دې - نور قباحتونه دشرک هم قرآن ذکر کوی-

**قبائح الشرک**: (۱) دمشرک هیڅ یو نیک عمل دالله په دربار کښې قبول ندې لکه ورلره مثال ذکر کوی -

﴿ مَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ أَعْمَالُهُمْ كَرَمَادٍ اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ لَا يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُوا عَلَى شَيْءٍ ذَلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ ﴾ (سورة ابراهيم ۱۸)

مثال د هغه کسانو چه کفر ئ کړې د رب خپل نه عملونه ددئ پشان د ایرې دې چه تیزه شی په دې باندې سیلئ په هغه ورځ اوچه کښ، لاس ئ بر نه شی په هغه څه چه کړی ئ دی په هیڅ څیز او دغه ده ګمراهی د حق نه ډیره لرې -

چه دمشرک د عمل مثال کرماد دې چه تیزه سیلئ پرې راشی او والوزوی ئې-

﴿ وَقَدِمْنَا إِلَى مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا ﴾(سورة الفرقان ۲۳)

او مونږ رامخکښ شو هغه څه ته چه کړی دی دوی څه عمل نو اوګرځوو دی لره دوړه الوځولې شوې -

﴿ وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾ (سورة الزمر ٦٥)

او تحقیق سره وحی کړې شوې ده تاته او هغه کسانو ته چه مخکښ ستا نه وو که چرته شرک اوکړو تا نو خامخا برباد به شی عمل ستا او خامخا شې به ته د تاوانیانو نه -

﴿ وَلَوْ أَشْرَكُوا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ (سورة الانعام ۸۸ )

او که شرک اوکړو دوی نو خامخا برباد شو ددوی نه هغه څه چه دوی به کول -

(۲) قباحت دشرک سبب د دله توب او بزدلئ دې او مشرک دله وی او بزدله وی لکه

﴿ سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَا أَشْرَكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ وَبِئْسَ مَثْوَى الظَّالِمِينَ ﴾(سورة آلعمران ۱۵۱ )

زر دي چه او به غورځوو په زړونو د هغه کسانو کښ چه کفر ئ کړي دي رعب د وجي ددي نه چه شریک کړی وو دوی د الله سره هغه چه نه دي رالیږلي الله په هغي باندي څه دلیل او ځائ ددوی اور دي او بد ځائ دي دپاره د ظالمانو ـ

(۳) شرک سبب دتباهئ او هلاکت دي او دبي عزتئ او ذلةدي چه انسان داوج کمال نه پستئ ته راغورزوی- د سپی نه ئي لاندي کوی چه دسپي ذبیحه حلاله وی او دمشرک هغه حرامه وی-

﴿ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴾(سورة الحج ٣١ )

او چا چه شرک اوکړو د الله سره نو لکه چه راپریوتو دي دآسمان نه نو اوتختوی ده لره مارغان یا والوځوی ده لره سیلئ هغه ځائ لري ته ـ

(٤) شرک سبب دحماقت دي او کم عقلتوب دي - مشرک کم عقل وی-

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَنْ يَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ وَإِنْ يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لَا يَسْتَنْقِذُوهُ مِنْهُ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ ﴾ (سورة الحج ٧٣ )

اې خلقو بیانولې شی تاسو ته یو مثال نو غوږ کیږدئ دي ته ، یقیناً هغه کسان چه رابلی سوا د الله نه بل څوک ، دوی نه شی پیدا کولي یو مچ اګر که راجمع شی دي ته ، او که چرته اوتختوی دوی نه دا مچ څه څیز نو نه شی واپس کولي دوی دا د هغه مچ نه کمزوري دي غوښتونکي اوغوښتلي شوي ـ

، چه داسې بدیهی مثالونو باندي هم نه پوهیږی-

(٥) دمشرک مغفرة نه کیږی چه بي توبي مړ شی-

﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا (٤٨) إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا (١١٦) ﴾ (سورة النساء) -

يقيناً الله نه بخی دا چه شرک اوکړې شی دالله سره او بخی هغه چه علاوه ددې شرک نه وی چاته چه اراده اوکړی او چا چه شرک اوکړو د الله سره نو تحقیق ده جوړه کړه ګناه لویه (٤٨) او چا چه شرک اوکړو د الله سره نو تحقیق سره دې ګمراه شوپه ګمراه کیدو ډیر لرې سره (١١٦) ۔

(٦) مشرک مفتری علی الله وی- په الله تعالیٰ درغ جوړوی ۔ سورة النساء ٤٨- (٧) مشرک شاتم الله دې ، الله ته کنځل کونکې دې - لکه حدیث کښې راځی-الله فرمائی بنده ماته کنځل کوی او دا ورلره مناسب نه دی-او کنځل الله ته څه دی؟ نو هغه دا چه بنده وائی- الله ځان له نیازولی نیولی دی-نائبان نو نائبان ضرورة محتاج ته وی نو دوی الله محتاج ګنړی نو دا الله ته کنځل دی-

(٨) مشرک ابدی جهنمی دې - لکه

﴿ إِنَّهُ مَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴾ (سورة المائده ٧٢ ) -

یقیناً شان دادې چا چه شرک اوکړو د الله سره نو تحقیق حرام کړو الله په ده باندې جنت او ځائ دده اور دې او نه به وی د پاره د ظالمانو څوک امدادی ۔

نو دشرک د پلیتئ نه دِ الله مونږ ټول همیشه دپاره اوساتی-

**التقسیم الاخر فی الشرک** : شرک په بل اعتبار سره په دوه قسمه دې - (۱) الشرک الاعتقادی (۲) الشرک الفعلی- دهر یو لنډ وضاحت-

**الشرکالاعتقادی** : د عقیدې شرک ددې مطلب دادې چه یو سړې په زړه کښې دالله یو صفت دالله نه علاوه بل چالره اومنی او بل چاله ئې ورکړی- لکه په پټو پوهیدل دالله

صفت ، اولاد ورکول دالله صفت دي او دا صفت د زړه نه یو پیغمبر یا ولی یا بل چالره اومنی او اوګرځوی- نو دادی د عقیدې شرک - او دا عقیده لرونکې چورلټ کافر دې اګر چه په خله باندې څه نه وی وئیلې - بیا ددې شرک اعتقادی ډیر قسمونه دی خو مشرکانو څه غټ غټ صفات دالله تعالیٰ مخلوق له ورکړی وو لکه صفت دعلم ، داختیاراتو او عبادت او د رامدد شې نو ددې وجې نه استاذان د شرک اعتقادی څلور غټ قسمونه ذکر کوی-

(۱) **الشرک فی العلم**: دشرک فی العلم مطلب دادې چه په پټو باندې پوهیدل دا صفت دالله تعالیٰ دې نو دا صفت نبی، ولی یا پیر ، فقیر له ورکړې شی نو دادې شرک فی العلم قرآن په دې باندې لګیدلې دې په پټو باندې پوهه یو الله دې بل څوک پرې نه پوهیږی- څو آیتونه

﴿ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ (3) قُلْ لَا أَقُولُ لَكُمْ عِنْدِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ ---- (50) وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ (59) ﴾ (سورة الانعام ۵۹،۵۰،۳)

پوهیږی الله په رازونو ستاسو او په تیزه وینه ستاسو او پوهیږی په هغه څه چه تاسو ئ کوئ-اوایه ورته پیغمبره نه وائم تاسو ته چه ځما سره خزانې دالله دی او نه پوهیږم ځه په پټو باندې -، او دې الله سره دی کنجیانې د غیبو، نه دی معلومې دا کنجیانې مګر الله ته ، او پوهیږی په هغه څه چه په اوچه کښې دی او په لونده کښې دی، او نه راغورځیږی یو پاڼړه مګر معلومه ده الله ته او نه یوه دانه په تیارو د زمکې او نه لونده او نه اوچه مګر په لیک ښکاره کښې دی

﴿ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ ﴾(سورة البقرة ۳۳ )

اووئيل الله ! آيا نه م وو وئيلى تاسو ته چه يقيناً زه پوهيږم په پټو د اسمانونو او د زمکو او زه پوهيږم په هغه څه چه تاسو ئ ښکاره کوئ او په هغه څه چه تاسو به پټول --

﴿ وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ ﴾ (سورة الاعراف ۱۸۸ )

او کچرته زه پوهيدے په پټو باندې نو ډير خير به م جمع کړې وے او نه به وے رسيدلے ماته څه تکليف۔

﴿ يَوْمَ يَجْمَعُ اللَّهُ الرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَا أُجِبْتُمْ قَالُوا لَا عِلْمَ لَنَا إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴾ (سورة المائده ۱۰۹)

په هغه ورځ چه جمع به کړی الله پيغمبران نو اوبه وائى ورته څه جواب درکړے شوے وو تاسو ته ؟ نو اوبه وائى دوى مونږ ته هيڅ پته نشته يقيناً ته ښه پوهيږى په پټو باندے۔

﴿ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَنْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ ﴾ (سورة سبا ۱٤ )

نو هر کله چه راپريوتو سليمان عليه السلام نو ښکاره شوه پيريانو ته دا خبره چه که چرته پوهيدلے دوى په غيبو باندے نو وخت به نه وو تير کړے دوى په عذاب سپکونکى کښې۔

﴿ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴾ (سورة الحجرات ۱۸ )

يقيناً الله پوهيږى په پټو د اسمانونو او د زمکو او الله دے ليدونکے د هغه څه چه تاسو عمل کوئ۔

﴿ قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴾ (سورة النمل ٦٥ )

اوايه ورته اے پيغمبره نه پوهيږى هغه څوک چه اسمانونو کښې دى او زمکه کښې دى په پټو بے دالله نه او دوى ته نه پوهيږى چه کله به دوى پورته کولے شى -

(۲) **الشرک فی التصرف**: دشرک فی التصرف مطلب دادې چه دالله سره په اختیاراتو کښې حصه دار جوړ کړې شی لکه الله مالک دنفع او نقصان دې نو د یو پیر ، فقیر متعلق هم دا عقیده اولرلې شی چه دا هم مالک د نفع او نقصان دې- خو اختیارات په دوه قسمه باندې دی یو داسباب دلاندې او بل چه اسباب نه لاندې نه وی- نو چه اسباب نه لاندې نه وی نو دا قسم اختیارات دالله دی لکه یو تن ولاړ دې دلته او وائی پیر بابا ما باندې کټ اړولې شی ما هلاکولې شی نو دپیربابا سره دهلاکولو اسباب کوم دی نو دادې شرک فی التصرف ، ډاکټر دارو ورکولې شی خو صحت نه شی ورکولې-خو چه ته زیارت ته لاړ شې او وائې دا به راله دسر درد خه کوی - نو هغه کومې ګولۍ درکوی نو دادې شرک فی التصرف - دا قسم اختیارات الله قرآن کښې ځان له ثابتوی لکه سورة الانعام ۱۷ سورة الفاطر۲ سورة الفرقان ۳ سورة الشوریٰ ٤٦ سورة الاحقاف ۲۸ سورة الرعد ١٦ او سورة یونس ۱۷ کښې-

تصرف دوه قسمه دې (۱) یو تصرف تکوینی (۲) دویم تشریعی ،

تکوینی باران ورول ، شین کول ، ورځ او شپه بدلول ، عزت ،ذلت ورکول وغیره چه کائنات کښ څه کیږی ددې اختیار دالله تعالیٰ دې - دویم تشریعی ، حلالول ، حرامول ، بیزه حلاله ، سپې حرام ، نکاح حلاله ، زنا حرامه ، وغیره ټول تصرفات د الله تعالیٰ دی - مشرکانو تکوینی ډیر اختیارات دالله تعالیٰ منل نو دا قرآن دلیل کړی چه دا اختیار د الله تعالیٰ دې نو تشریعی هم د هغه دې -

(۳) **الشرک فی العبادت**: د الله دپار بنده څه تعظیم کوی دبدن یا دمال لکه سجده کوی رکوع کوی قیام کوی ، طواف کوی یا زکوٰة ورکوی یا دالله په نوم منخته کوی نو ددې عقیده دغیر دپاره اوساتلې شی چه دا تعظیم مالی یا بدنی دیو بنده او مخلوق دپاره هم جائز دی نو دادې شرک فی العبادة-قبر ته ئې سجده اوکړه یا پیر ته ټیټ شو یا دقبر نه ئې طواف اوکړو یا ئې دبابا په نوم اوګې ورکړو- په دې عقیده چه دې ځما د حال نه خبردار دې او ځما د نفع او نقصان مالک دې نو دیته شرک فی العبادت وائی- نو قرآن

عبادت حق دالله وئيلي دي لکه سورة الانعام ٥٩ وغيره کښې- بيا يو خاص قسم دعبادت دې چغه وهل او رامدد شه وئيل نو دا چغه وهل غيرالله ته مشرکانو کښې زياته وه نو قرآن ئې جدا ذکر کوی - نو استاذان ئې هم جدا قسم شماری-

(٤) **الشرک فی الدعاء**: مطلب ئې دادې چه خپل حاجاتو کښې چغه وهل دالله ته پکار وه څکه غائبانه چغه وهل او رامدد شه وئيل دا حق دالله دې خو يو تن خپلو حاجاتو کښې غيرالله رامدد کړی او څه ظاهری اسباب د اوريدو نه وی او دا بيا هم عقيده ساتی چه څما آواز اوری او رارسی - دغيرالله په رابللو قرآن رد کوی-

﴿ إِنْ تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ ﴾ (سورة الفاطر ١٤ )

که چرته تاسو رابلئ دوی نو نه اوری بلنه ستاسو، او که چرته واوری هم نو قبولتيا نه شی کولے ستاسو او د قيامت په ورځ به انکار کوی په شرک ستاسو او خبر به نه کړی تا پشان د خبردار ذات۔

﴿ قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَمَا لَهُ مِنْهُمْ مِنْ ظَهِيرٍ ﴾ (سورة سبا ٢٢ )

اوايه اے پيغمبره! راوبلئ هغه څوک چه ګمان پرے کوئ تاسو سوا د الله نه واکدار به نه شی تاسو ته په اندازے د يو ذرے په اسمانونو کښې او نه په زمکه کښې او نه به وی دوی لره په دِ دواړو کښې څوک شريک او نه به وی دوی له څوک امدادی۔

﴿ بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِنْ شَاءَ وَتَنْسَوْنَ مَا تُشْرِكُونَ ﴾ (سورة الانعام٤٠)

بلکه دا الله راوبلئ نو لرے به کړی هغه تکليف چه تاسو رابلئ هغے ته که اوغواړی او پريږدی هغه چه تاسو شرک کوئ-

**الشرک الفعلی**: شرک فعلی يا عملی ديته وائی چه يو کار داسې اوکړې شی چه دهغې نه دا معلوميږی چه دا صفت بل له ورکولې شی خو زړه کښې دا عقيده نه وی - عقيده ئې دا

وى چه دا صفت دالله دې لکه يو سړې په خله باندې اووائى چه څوک دکور نه اووتو او چا ورپسې جارو اووهله نو جارو کيږى به- نو مطلب دا نه وه چه دا جارو ئېجارو کوى - عقيده ئې داده چه هلاکت الله راولى خو داخبره ئې دخلې نه اووتله نو داې شرک فعلى- په لنډو دا چه يو مباح کار په عقيده دخير او يا شر په ځان واجبول يا په ځان منع کول نو دادې شرک فعلى لکه دجمعې په ورځ کارکول مباح دى خو يوسړې ئې په ځان منع کړى-چه په دې ورځې کار کولو باندې دسړى ګوته غوڅيږى- يا ناوې له هلک په لاس کښې ورکوى وائى چه ړومبې ئې هلک اوشى- نو دا هلک ورکول ناوې لره مباح وو خو دوى ئې ضرورى ګنړى په دې عقيده دخير باندې چه بيا ئې اولاد نارينه پيدا شى وغيره-

نو دقرآن او ټول اسمانى کتابونو اهم او اصلى مقصود هغه څه وو ؟ نو هغه وو بيان د لااله الاالله او ټول آسمانى کتابونه ددې مسئلې خدمت کوى او چه نور پکښې څه هم بيانيږى نو ددې مسئلې دخادم او دنوکر په حيثيت بيانيږى نو که د شرک رد کوى نو هغه هم وضاحت ددې مسئلې دپاره وى-

## مقاصد عاليه

دا خو اجمالی خبره شوه اوس که لږه تفصیلی کوې نو ټول آسمانی کتابونه اته مسئلې بیانوی - اصل پکښې توحید دې او نورې دهغې خدمت کوی- نو اول د مسئلةالتوحید دویم ده مسئله دصداقت دپیغمبر چه ددې مسئلې دبیانونکی د استاذ تذکره- او صداقت چه دې رشتنې دې- دریمه دا دتوحید مسئله دکوم کتاب په حواله بیانیږی نو دهغه کتاب مقام او څلورمه مسئله دایمان بالاخرة چه ددې ثمره او میوه به په آخره کښې ملاویږی - نو دا څلورمقاصد عالیه دی لوئې لوئې مقاصد او غټې مسئلې دی - ددې څلورو واړو امداد به په څلورو نورو مسئلو باندې کیږی یوه د الجهاد فی سبیل الله تعالیٰ دالله ددین او ددې تیرو مسئلو دپاره انتهائی کوشش کول دویمه مسئله دالانفاق ددې څلور واړو دپاره اود جهاد دپاره مال لګول اوس دا ټول کارونه به هله کیږی چه ددې عقیدې خاوندان ټول یو موټې شی نو دریمه مسئله الجماعة التنظیم- په تنظیم او جماعت کښې نوی ، زاړه ، مشران ، کشران ، نارینه ، زنانه ، غریب ، مالدار هر قسم خلق به وی نو دهر یو مناسب ادب او احترام پکار دې نو څلورمه مسئله شوه الاداب - او ټولې اته مسئلې شوې - هر آسمانی کتاب دا مسئلې بیانوی اوس چاته به ئې بیانوی او څنګه به ئې بیانوی ؟او بیا انداز بیان به ئې څه وی؟نو هغه راځی خو دا اوله خبره ده چه قرآن څه وائی- نو دیکښې دتوحید مونږه په لنډو وضاحت اوکړو او ورسره دشرک- اوس دا مسئله دتوحید په خپل سوچ او فکر نه کیږی کیدې شی څوک په خپل فکر او سوچ باندې مسئله دتوحید معلوموی او هغې کښې غلط شی ځکه عقل انسانی که ډیر خه عقل شی او پاک او صاف عقل شی نو دومره به اوکړی چه دیو شی خه والې به معلوم کړی- خو بیا پرې حکم لګولې نشی-هغه به هم دبعض بختورو عقل وی نو په عقل چه شریعت ورسره تل نه وی نو دالله پیژندل مسئله دتوحید مکمل پیژندل اګر چه ناممکن نه دی خو ګران ضرور دی- ځکه قرآن ذکر کوی :

﴿ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ لَٱتَّبَعۡتُمُ ٱلشَّيۡطَٰنَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٨٣﴾ ﴾النساء: ٨٣

که نه وې فضل دالله او رحمت ئې ( چه قرآن او پیغمبر دي ) نو تابعداری به مو کړې وه د شیطان ( الله مو په عقل نه شو پیژندلې ) مګر لږ غوندې ( چه هغوی به الله په عقل پیژندلې وو )

## صداقة الرسول

نو دتوحيد دمسئلې دپاره معلم او ددې دخودنې دپاره الله وخت په وخت انبيائې كرام راليږل مونږه ته چه كوم معلم او خودونكې د توحيد راغلې وو هغه وو جناب محمد رسول الله ﷺچه په هغوى باندې د نبوت سلسله ختمه شوه - نو الله نبى ﷺدلااله الاالله شارح او معلم راليږلې وو نو چه كوم توحيد او لااله الاالله د معلم دخوخې او وينا مطابق نه وى نو دا لااله الاالله الحاد دې توحيد نه دې- فلاسفه يا داسې نور لكه معتزله ځان ته اصحاب التوحيد وائى يا بريليان شو نو ددې توحيد د نبى ﷺ د خودنې مطابق نه دې نو بې دينى ده نو داضرورى كړه چه دا به په تعليم دپيغمبر وى نو قرآن دتعارف دالله نه روستو دنبى ﷺمقام بيانوى- دا مسئله قرآن كښې يو لوئې باب دې خو په لنډو ئې خلاصه داده چه قرآن دا په څو طريقو بيانوى-

﴿١﴾ اوله طريقه دصداقت الرسول داده چه الله وائى چه ته زمونږه رشتنې پيغمبر ئې - صفا الله وائى چه زمونږ استاذې ئې - لكه

﴿إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا﴾ (سورة البقره ١١٩ )

يقيناً مونږه ليږلې ئې ته د پاره د ښكاره كولو دحق زيرې وركونكې او يرونكې

﴿٢﴾ دويمه طريقه دا وى چه الله وائى ما معجزې وركړى دى آيات مِ وركړى دى او آيات او معجزو والا پيغمر وى دروغژن نه وى نو داسې قسم مضمون والا آيات هم د صداقت الرسول سره تعلق لرى-

﴿٣﴾ دريمه طريقه وجوب الاطاعة - الله د پيغمبر تابعدارى ضرورى كړې ده نو چه دچا تابعدارى واجب وى نو هغه پيغمبر وى لكه فرمائى :

﴿ وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ ﴾التغابن: ١٢

تابعدارى اوكړئ دالله تعالىٰ او تابعدارى اوكړئ د پيغمبر ـ

دارنګې :

﴿ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ﴾ الحشر: ٧

او هغه چه درکوی تاسو ته پیغمبر نو واخلئ هغې لره او چه بندوی تاسو د هگې نه نو بند شئ ترې ۔

**وغیره - ایات چه ددې مضمون والا ایات هم دصداقت الرسول سره تعلق لری-**

**﴿٤﴾ خلورمه طریقه چه دپیغمبر په نافرمانئ باندې دعذاب تذکره اوکړی لکه فرمائی "**

﴿ فَلْيَحْذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾ ﴾النور: ٦٣

اود یریږی هغه کسان چه مخالفت کوی د حکم دهغه ، ددې نه چه اوبه رسیږی دوی ته فتنه یا به اورسیږی دوی ته عذاب دردناک .

﴿ وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ ٱلْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِۦ جَهَنَّمَ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾ ﴾ ( النساء: ١١٥)

او څوک چه مخالفت کوی د پیغمبر علیه السلام نه پس ددے نه چه ښکاره شو ده ته هدایت او تابعداری کوی بې دلارې د مومنانو نه نو وابه ړو ده لره هغه طرف ته چه دے واغوختلو اوبه سوزوم ده لره په دوزخ او بد ځائ د گرځیدلو دے .

**نو چه دچا نافرمانی سبب د عذاب وی نو هغه به په حقه پیغمبر وی- او دیکښې ورسره تخویف هم وی-**

**﴿٥﴾ پنځمه طریقه چه دپیغمبر دشان اخلاق او دعادات بیان اوکړی چه داد اخلاق والا دی - لکه فرمائی " انک لعلی خلق عظیم "-**

**﴿٦﴾ شپږمه طریقه چه دمنکرین د رسالت د اعتراضونو او شبهات جوابونه چه کوم خلق اعتراضونه کوی نوپیغمبر باندې نو قرآن دهغې جوابونه کوی لکه بقره دویمه حصه کښې صداقت الرسول په دې انداز ذکر کوی چه دیهودو د نهو(٩) اعتراضات جوابونه کوی- دارنګې سورة الانعام ، بنی اسرائیل او فرقان ئې هم په دې انداز بیانوی-**

﴿۷﴾ اوومه طريقه چه دپيغمبر دمخالفينو پليتئ ذكر كړى قباحتونه چه دوى كښې دا دا پليتئ دى نو ځكه ددې پيغمبر نه انكار كوى لكه العمران ئې په دې انداز بيانوى چه قباحتونه داهل كتاب ذكر كړى- نو دا اجمالاً اووه طريقې شوې چه دې سره قرآن بيان دصداقت الرسول كوى- كله په دې مسئله مستقل سورتونه هم ذكر كړى - لكه سورة الضحىٰ شوه ، سورة الانشراح وغيره - نو دويم مقصد په دې انداز قرآن كريم ذكر كوى-

## صداقت الكتاب

بيا په پيغمبر ته الله ددې مسئلې دبيانولو دپاره كتاب ورکړې دې نو دهغه كتاب مقام چه دهغه كتاب مقام معلوم شی نو دهغې سره به مقام دپيغمبر او ورسره به مقام د مسئلې دتوحيد معلوم شی ځکه چه څومره كتاب اوچت وی نو هم هغه هومره به معلوم نشي- او چه ديو قيمت او مقام معلوم نه وی نو د دهغې عزت په زړه کښې کم وی- کابلګرام شيخ صاحب به ورلره مثال ذکر کوو چه لکه يو زميندار وی او ځوئی ورلره راډو ګهړئ راليږلی وی- او دې زميندار ته پته دا نه وی چه ددې ګهړئ څومره قيمت دې نو دے ددغه ګهړئ سره ګوډ هم کوی ، تريشر ورسره هم کوی اوبه خور پکښې هم کوی بوسارې پکښې هم تړی خو که ناڅاپي ورسره څوک ملاو شی او ورته وائی کاکا دا تا چه کومه ګهړئ په لاس کړې ده نو ديته راډو وائی ددې دا دننه ستنې دسرو دی-او داډيره قيمتی ده نو بيا که کاکا اوده کيږی نو هم ئې په رومال کښې بندوی او دکټ سر ته ئې ږدی او که اوبه خور کوی نو رومال کښې واچوی بيا ئې جيب کښې کيږدی او بيا جيب په بټه کښې دننه کړی- دا ولې ؟ نو لږساعت مخکښې چه قيمت ئې ورته نه وو معلوم و هر کار ئې ورسره کوو او اوس ئې دومره خيال ساتئ . ځکه قيمت او مقام ئې ورته معلوم شو- يو دويم مثال به ئې وئيلو چه څه يو ورځ کلی کښې ناست اوم يو سړې راغلو نو ماسره خوا کښې کيناستو نو زه په جائې نماز ناست اوم او هغې کښې لږځائې خالی وو نو هغې باندې کيناستو نو زه لږ آخوا شوم نو رورو ئې څه دجائې نماز نه لرې کړم- بيا ئې وئيل چه ولی الله مولوی صاحب سره مِ کار دې- ديکښې يو کس راغلو وې مولوی صيب څنګه ئې ؟ نو هغه دا خبره واوريده نو پوهه شو نو رورو د جائې نماز نه خکته شو . نو لږ ساعت روستو چه ورته معلوم شو نو ځائې ئې پريخودو- پښتانه هم وائی- خر دخيد په خوراک څه پوهيږی- هغه ته ئې قيمت نه وی معلوم-

*قدرزر زرگر شناسد ،قدر جوہر جوہری* *قدر گل بلبل شناسد، قدر دلدل علی*

نو دعالم قدر اميانو ته معلوم نه وی نو هغوی سره ئې دومره قدر نه وی خو دطالبانو ته ئې قيمت معلوم وی نو په سر ئې ګرځوی - نو قرآن هم خپل ځان په خپله خائی او خپل قيمت په مختلف اندازونو بيانوی-

## مقام القرآن

﴿۱﴾ **تعريف القرآن**: دقرآن تعريف کوی چه دا دچا دطرفنه دچا په واسطه په چا باندې راغلې دې ؟ لکه سورة السجده ۲ ، سورة الاعراف ۲ سورة الشعراء ۱۹۲ سورة عبس ۱۳،۱٤،۱۵ وغیره- نو دتعریف دقرآن نه مقام دقرآن معلوم شی-چه الله رالیږلې دې چه دهغه دذات مثل او مثال نشته دې او راوړې جبرئیل دې افضل الملائکة دې چه دهغه مثل او مثال نشته دې- " ذومرّة فاستویٰ " ذی قوة عند ذی العرش المکین "- او په افضل البشر جناب محمد رسول الله ﷺباندې چه دهغه مثل او مثال نشته دې نو ددې قرآن هم مثل او مثال نشته دې-

﴿۳﴾ **حکمة النزول** : چه کوم مقصد له نازل شوې دې نو هغه مقصد ئې ډیر غټ او لوئې مقصد دې ځکه یو مقصد ئې ابلاغ دې د احکام شرعیو لکه سورة البقره ۱۸۵ - دویم التحکیم داد فیصلې کتاب دې - دا قانون دعالم دې نو خلق د ډی، سی ،ایس پې دخبرې خیال ساتی نو داد قانون کتاب دې او دقانون نه اعراض کول ځان له سر ماتول دی- سورة النساء ۱۰۵،۵۹، سورة المائده ٤۲،٤۸،٦۷ سورة الانعام ۱۱٤ شوریٰ ۱۰ سورة النحل ٦٤ - دریم مقصد التدبر دې - دفکر او سوچ دپاره دې سورة ص ۲۹ - څلورم مقصد ئې دې اخراج الناس من الظلمات الی النور- خلق دتیرو نه رڼړا ته راشی- سورة ابراهیم ۱ سورة الاحقاف ۳۵ نو دومره لوئې لوئې مقاصد لری چه خلق د ذلت نه عزت ته راوباسی، دغلامۍ نه آزادئ ته راوباسی دتیرو نه رڼړا ته نو ته اوګوره چه دقرآن به څومره مقام وی-

﴿٤﴾ چه په دې باندې کوم څه ملاویږی نو هغه ډیر قیمتی دی دټولونه اوچت دا چه په دې باندې الله ملاویږی- پدې کتاب باندې ایمان او ددې مشغولتیا سره بنده ته الله ملاویږی- په هر کلام کښې دمتکلم رنګ پټ وی او پروت وی- زیب النساء شاعره وه هغې به خپل کلام مشاعرې ته لیږلو- یوه ورځ چه عاقل خان دهغې کلام واوریدو نو

دهغې دليدلو شوق ئې ظاهر کړو نو دا خبره زيب النساء ته راورسيده نو آئنده دپاره چه مشاعرې ته کلام ليږلو نو ورسره ئې په يو کاغذ باندې د عاقل خان جواب اوليږلو په شعر کښې چه :

در سخن مخفی منم چوں بوئےگل در برگ گل
ہر کہ دیدن میل دارد در سخن بیند مرا

په خپلو خبرو کښې داسې پټه يم لکه د ګل په پاڼړو کښې چه بوئ پټ وی ، څوک چه د ليدلو شوق لری نو څما په خبرو کښې دِ ما اوګوری ـ

نو قرآن دالله کتاب دې دالله رنګ پکښې پټ دې الله پرې ملاويږی-

﴿٥﴾ چه کوم خلق دا راواخلی نو هغه مصطفیٰ او غوره ګرځی لکه الله رب العزت فرمائی :

﴿ ثُمَّ أَوْرَثْنَا ٱلْكِتَـٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ﴾ فاطر: ٣٢

بيا مونږ په ميراث کښې ورکړو کتاب هغه کسانو ته چه غوره کړی وو مونږ د بنديانو زمونږ نه

الله وائی چه مصطفیٰ او غوره خلقو ته مِ کتاب په مفتو کښې ورکړو- سوال :که ته وائې چه مونږه دا سختی ګرمی او تکاليف زغمو نو څنګه مفتو کښې دې- جواب : سړيه يو تن دې يو ګهنټه مزدوری اوکړی او پنځه زره روپئ ورکړی مالک نو هغه وائی مفتې او هسې ئې راکړې - نو که د ټول عمر په کړاؤ او کوشش قرآن ملاؤ شی نو

نـرخ بـالا کن کـه هـنـوز ارزانـی اسـت

نو چه کومه خلقو له الله دقرآن راغستلو توفيق ورکړی نو دادالله لوئې فضل دې او لوئې رحم دې په هغوی باندې-

ايـن سـعـادت بـزور بـازو نـيـست تـا نـه بـخـشـد خـدائـې بـخـشـنـده

او انسان به پرې غوره او مصطفیٰ ولې نه ګرځی - چه کوم ځلی کښې نازل دې نو هغه ځلې غوره په کومه شپه کښې نازل شوې دې نو هغه شپه غوره او چه په کوم مياشت کښې راغلې دې هغه مياشت غوره

﴿ وَهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ٱلْأَمِينِ ﴿٣﴾ ﴾ التين:

او شاید دے دا ښار امن والا

﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلْقُرْءَانُ ﴾ البقرة: ١٨٥

میاشت د رمضان هغه ده چه نازل کړې شوې دے په هغې کښې قرآن

﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ فِى لَيْلَةِ ٱلْقَدْرِ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ﴾القدر: ١ – ٣

یقیناً مونږ نازل کړے دے دا قرآن په شپه د قدر کښې ، او څه شی پوهه کړې ته چه ده شپه د قدر ، شپه د قدر غوره ده د زرو شپو نه

**﴿٦﴾ دقرآن د پریخودونکی سپکاوې ئې بیان کړې دې -**

﴿ وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِى فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ أَعْمَىٰ ﴿١٢٤﴾ ﴾ طه: ١٢٤

او هغه څوک چه واوړیدو د ذکر (کتاب) زما نه نو یقیناً وی به ده لره ژوند تنګ او پورته به کړو مونږه دے په ورځ د قیامت ړوند -

﴿ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلْكَلْبِ ﴾ الأعراف: ١٧٦

نو مثال دده په شان د سپی دے -

﴿ أُوْلَٰٓئِكَ كَٱلْأَنْعَٰمِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ﴾ الأعراف: ١٧٩

دا کسان پشان د خارو دی بلکه د هغئ نه هم زیات خطا دی -

**او عذابونه ئې ورلره ذکر کړی دی نو چه مخالف ئې داسې پلیت دی نو د قرآن مقام معلوم شو-**

**﴿٧﴾ په قرآن باندې د منکرین د اعتراضاتو جوابونه کوی چه هغوی وائی دا د ځان نه جوړ دې ، دا شعر دې ، کهانة دې -**

﴿ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ﴿٨٢﴾ ﴾ النساء: ٨٢

او كه چرته وے دا قرآن د غيرالله د طرفنه نو خامخا موندلے به وو دوئ په ديكښې اختلاف ډير -

﴿ قُلۡ فَأۡتُواْ بِعَشۡرِ سُوَرٖ مِّثۡلِهِۦ مُفۡتَرَيَٰتٖ وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم ﴾ هود: ١٣

اوايه ورته راوړئ لس سورتونه په شان ددې قرآن او راوبلئ هغه څوک چه ستاسو وس وى -

﴿ قُل لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأۡتُواْ بِمِثۡلِ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لَا يَأۡتُونَ بِمِثۡلِهِۦ ﴾ الإسراء: ٨٨

**﴿٨﴾ دحفاظت وعده ئې الله خپله كړې ده -**

﴿ إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ٩ ﴾ الحجر: ٩

**او بيان دمقام دقرآن كښې الله مستقل سورة سورة القدر ئې نازل كړې دې-**

## الايمان بالاخرة

اوس دا مسئلې چه چا اومنلې نو هغی ته به ددې ثمره په آخرت کښې ملاویږی او چه چا ترې انکار اوکړو نو دهغې سزا به ورته په آخرة کښې ملاویږی- نو څلورمه مسئله:

ایمان په قیامت باندې یوه ورځ راروانه ده چه د الله رب العزت مخې ته اودریدل دی نو لااله الاالله او محمد رسول الله او قرآن باره کښې به تپوس کوی- په زمانه جاهلیت کښې هم څه نه څه تصور د قیامت وو لکه دنبی ﷺنیکه عبدالمطلب ته دیو ظالم دمرګ خبر اورسیدو چه هغه فلانې ظالم بادشاه مړشو- نو هغه تپوس اوکړو چه په خپل مرګ مړ دې او که چا اووژلو؟نو ې په خپل مرګ مړ دې نو هغه اوې خه " انی لاَعلم ان بعد الیوم یوما یجازیٰ فیه الظالم "- (الملل والنحل للشهرستانی ) نو انسانه ته خپل نن پسې صبا منې او خپلې شپې پسې ورځ منې نو دا یقین هم پوخ کړه چه ټوله دنیا نن دې او دې نن پسې صبا شته دې او صبا راروان دې - ددې وجې نه قرآن قیامة ته غد وائی

﴿ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖ ﴾ الحشر: ۱۸

نو دصبا دپاره غنم اخلې، ګوره اخلې او پیسې جمع کوې او د آخرت د صبا دپاره دې هیڅ اونه کړل - نو زمانه جاهلیت کښې هم تصور دقیامت وو څه نه څه خو هغوی به وئیل مونږه په غټ سړی لاس ایخې دې هغه به مو خلاصوی-

﴿ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِۚ ﴾ یونس: ۱۸

دا سفارشیان دی زمونږ د الله سره ،

﴿ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ ﴾ الزمر: ۳

مونږه عبادت نه کوو ددوی مګر دې دپاره چه نزدې کړی مونږه الله ته په درجه کښې .

یهودو هم آخرت منلو- خو وئیل به ئې " نحن ابناء الله واحباءه " او

﴿ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعۡدُودَةً ﴾ البقرة: ٨٠

هيڅ کله به اونه رسی مونږ ته اور مګ ورځې د شمير۔

**او فلاسفو هم آخرت منلو خو صرف دحشر روحانی قائل وو - نو قرآن نظريه دحشر او قيامت پيش کوی په صحيح انداز باندې او دا ددې دپاره چه انسان سره فکر پيدا کړی چه صبا به دالله سره ملاويږم نو الله ته به څه وائم او څه جواب به ورکوم- نو دا مسئله د قيامت هم قرآن په مختلفو اندازونو باندې ذکر کوی-**

**﴿١﴾ القياس على المبدأ : په اول ځل پيدائش باندې قياس چه اول ځل ئې څنګه پيدا کړې وې نو دغه شان به دې بيا پيدا کړی- لکه سور الحج آيت نمبر ٥ - دا رنګې " کما بدأکم تعودون "**

**﴿٢﴾ دباران نه روستو فصل رازرغونيدو باندې قياس کوی- لکه**

﴿ وَيُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ وَكَذَٰلِكَ تُخۡرَجُونَ ﴾ الروم: ١٩

او تازه کوی زمکه پس د اوچوالی ددی نه او دغه شان به تاسو راويستلے شئ۔

﴿ وَأَحۡيَيۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةً مَّيۡتًاۚ كَذَٰلِكَ ٱلۡخُرُوجُ ﴾ ق: ١١

او تازه کړې ده مونږ په دِ سره کلے اوچ دغه شان دی راويستل۔

**نو لکه چه باران سره دزمکې نه شينکې راوخيژی نو داسې به دبره نه دالله حکم وی او دلاندې نه به تاسو زرغون شئ-**

**﴿٣﴾ دالله علم او قدرة بيان اوکړی چه الله عالم دې ستا دبدن زره زره ورته معلومه ده او قادر هم دې نو راجمع کولې ئې هم شی نو څه بعيده ده**

﴿ إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٌ ﴾ الطارق: ٨

يقنا الله په واپس کولو ددې باندې خامخا وس والا دے ۔

﴿ بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ ﴾ القيامة: ٤

بيشکه وس والا يو په دې چه برابر به کړو مونږ اندامونه دده ۔

**﴿٤﴾ دقسم چه الله قسم اوکړی چه قیامت به راځی او حق دي**

﴿ وَيَسْتَنۢبِـُٔونَكَ أَحَقٌّ هُوَۖ قُلْ إِى وَرَبِّىٓ إِنَّهُۥ لَحَقٌّۖ ﴾ یونس: ٥٣

تپوس کوی تانه چه آیا حق دے دا نو ورته اوایه چه آو قسم م دِ وی په رب زما چه یقیناً دا حق دے۔

**دارنګې**

﴿ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَٱلشَّيَـٰطِينَ ﴾ مریم: ٦٨

نو قسم م دِ وی په رب ستا چه خامخا جمع به کړو دوی او شیطانان۔

**دارنګې** ﴿ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتُبْعَثُنَّ ﴾ التغابن: ٧

اوایه بیشکه او قسم م دِ وی په رب زما خامخا تاسو به پورته کولے شئ۔

﴿ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَـٰلِمِ ٱلْغَيْبِۖ ﴾ سبأ: ٣

اوایه بیشکه قسم م دِ وی په رب ستا خامخارابه ولی تاسو، پوهه دے په پټو باندې۔

**﴿٥﴾ خطرناکی دقیامت ذکر کوی ابتدائی او واقعی - څه حالات به ترې مخکښې راځی او څه چه کله واقع شی - لکه**

﴿ إِنَّ زَلْزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَىْءٌ عَظِيمٌ ﴾ الحج: ١

یقیناً زلزله د قیامت ده او خیز لوئ۔

**دارنګې سورة التکویر او سورة عبس کښې فرمائی**

﴿ يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ وَصَـٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾ ﴾ عبس: ٣٤ – ٣٧

په هغه ورځ چه تخټی به سړے د رور خپل نه او د مور خپلې نه او د پلار خپل نه او د بی بی خپلې نه او د زامنو خپلو نه، د پاره د هر یو تن ددوی نه په دغه ورځ یو حالت وی چه دے به ئ بے پروا کړے وی۔

دارنګي سورة المعارج اوګوره- او دقيامت دمسئلې دپاره هم د قرآن کښې مستقل سورتونه الله نازل کړی دی - لکه سورة القيامة شو سورة التکوير وغيره -

داڅلور مقاصد عاليه دی لوئې لوئې مقاصد ددې تذکره په مکی سورتونو کښې زياته ده - نو بيا دا څلور واړه په يو سورة کښې ذکر کړی دی لک سورة البينة او سورة التغابن شو- کله دوه ذکر کړی لکه سورة البقره ، العمران شو کله يو يو باندې مستقل سورتونه ذکر کړی - او کله به دا څلور واړه يو آيت کښې هم ذکر کوی لکه سورة النساء ۱۳۶ نمبر آيت کښې خو مکی سورتونو کښې به په دې باندې زور ډير وی-

## جهاد فی سبیل الله تعالی

اوس چه دا څلور دِ زده کړل او حاصلې دِ کړې نو بس کینې به نه بلکه ددې دپاره به کوشش کوې او ددې کوشش نوم دې الجهاد فی سبیل الله تعالیٰ - نو داده پنځمه مسئله- او دا کوشش او کړاؤ شروع کیږی دڅېې نه او انتهاء به ئې راځی په سیف او سنان باندې - نو ددې کوشش هم مختلف صورتونه دی-

﴿۱﴾ **النشر والدعوة**: خورول او دعوة ورکول دی- الله داعی دې ، پیغمبر داعی دې او امت داعی دې-

﴿ وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ ﴾ یونس: ۲۵

او الله رابلی تاسو کور د سلامتیا ته ۔

﴿ وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذۡنِهِۦ وَسِرَاجٗا مُّنِيرٗا ﴾ الأحزاب: ٤٦

او رابلونکے دے الله طرفته په حکم دالله تعالیٰ او ډیوه ده روښانه ۔

﴿ كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ ﴾ آل عمران: ۱۱۰

يئ تاسو غوره امت ويستلے شوی يئ د پاره دخلقو ۔

کله لفظ دتبلیغ استعمالوی:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ﴾ المائدة: ٦

اے رسول ﷺ اورسوه هغه څه چه رالیږلے شوی دی تاته د طرفه د رب ستا ۔

**کله تِکی دبیان راوړی:**

﴿ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ ﴾ النحل: ٤٤

دِ دپاره چه بیان کړے خلقو ته هغه څه چه نازل کړې شوی دی دوی ته ۔

**کله کاتمینو ته زورنې ورکوی:**

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَآ أَنزَلْنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلْهُدَىٰ مِنۢ بَعْدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِى ٱلْكِتَٰبِ ۙ أُو۟لَٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ﴾ البقرة: ١٥٩

یقیناً هغه کسان چه پټوی هغه څه چه رالیږلی دی مونږ د واضحو دلائلو نه او هدایت پس ددې نه چه واضح کړل مونږ دا دپاره د خلقو په کتاب کښې دغه کسان لعنت وائی په دوی باندې الله او لعنت وائی په دوی باندې لعنت ویونکی۔

﴿۲﴾ **الحفظ : ددې مسئلو به حفاظت کوې - چه توحید کښې څوک ګندونه رادننه نه کړی- سنت سره بدعت ګډ نه کړی- قانون دغیرالله ته قانون او نه وائی- او دقرآن په ځائې هغه نافذ نه کړی او یا ئې دقوانین قرانیو سره خلط نه کړی - نو ددې دا حفاظت کیږی په العلم سره د یادولو نه روستو دا به په دنیا باندې حاکم کوو چه توحید، رسالت او قرآن دا به اوچت وی نو چه ته دې ته اوچت وائی نو نور به نورو ته اوچت وائی نو ټکراؤ به راځی نو کیدې شی هغوی به اعتراضونه کوی نو دهغې جوابونه به کول غواړی نو دمناظرې صورت به هم پکښې راځی- مصائب او تکالیف به در رسوی نو دا هم دجهاد صورت دې- نو ستا خو خپله خوښه نه ده نو ته ئې پریخودلې نشې او هغه به ئې پریږدی نه نو جنګ ته به خبره رسی نو القتال فی سبیل الله تعالیٰ الله پیدا کړې دې او دالله نه منی او الله وائی ختم ئې کړئ- نو ختم ئې کړه ستا پرې څه سر ئې قلم کړه- مرید هندی ( اقبال) پیر رومی ته اووې دجهاد په فلسفه نه پوهیږم نو پیر رومی ورته اووئیل-**

*امر حق راہم بامر حق شکن  برز جاج دوست سنگ دوست زن*

**نو دا قتال قرآن کریم په مختلف طریقو ذکر کوی-**

**﴿۱﴾ طریقة الامر بالقتال : په قتال باندې امر کوی لکه د**

﴿ وَقَٰتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمْ ﴾ البقرة: ١٩٠

او جنګ اوکړئ په لار د الله کښې دهغه کسانو سره چه جنګ کوی تاسو سره۔

**دغه شان** ﴿ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ ﴾ البقرة: ١٩١

اووژنئ تاسو دئ کوم ځائ چه بیامومئ دوی ۔

﴿ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ ﴾ البقرة: ١٩٣

او جنګ اوکړئ دوی سره تر دے پوري چه پاتي نه شی فتنه ( شرک ) ۔

﴿ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً ﴾ التوبة: ٣٦

او جنګ اوکړئ د مشرکانو سره پوره په پوره لکه چه جنګ کوی تاسوسره پوره په پوره ۔

﴿ قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ ﴾ التوبة: ٢٩

جنګ اوکړئ د هغه کسانو سره چه ایمان نه راوړی په الله باندې او نه په ورځ روستونئ او حرام نه ګنړی هغه چه حرام کړی دی الله تعالیٰ او پیغمبر د الله ، او نه دین کوی دین حق د هغه کسانونه چه ورکړے شوے ورته کتاب تردے چه ورکړی جزیه په خپل لاس او وی دوی ذلیله ۔

**﴿٢﴾ بیان القوانین للقتال - لکه سورة الانفال شپږ قوانین دقتال ذکر کوی په میدان جنګ کښې۔**

**﴿٣﴾ په بیان دمستحقین بالقتال چه د جنګ مستحق څوک دی لکه توبه کښې آیة نمبر ٥ -**

﴿ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ ﴾ التوبة: ٥

نو اوژنئ مشرکان کوم ځائ چه اومومئ دوی ۔

**دغه شان**

﴿ أَلَا تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَّكَثُوا أَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوا بِإِخْرَاجِ الرَّسُولِ ﴾ التوبة: ١٣

ولې تاسو جنګ نه کوئ داسې قوم سره چه ماتې کړې یئ دی قسمونه خپل او قصد یئ کړے د ویستلو د پیغمبر۔

**وغیرها-**

**﴿٤﴾ بدفع الموانع : چه جهاد ته کوم موانع دی شکوک او شبهات نو هغه رفع کړی- لکه سورة التوبه ۲۸،۲٤،۱۹،۷ وغیره-**

**﴿٥﴾ التحریضات : جنګ ته ئې راتیز کړه- چه هغه په باطله جنګیږی نو ته په حقه نه جنګیږې۔**

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ حَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَى ٱلْقِتَالِ ۚ ( الأنفال: ٦٥)

**اے پیغمبره تیز کړه مومنان په قتال باندې۔**

**وغیره۔**

**﴿٦﴾ نو کله ترغیبات او ترهیبات چه څوک جهاد کوی نو د هغې مقام او چه څوک نه کوی هغی ته یرې- او دیکښې مستقل سورتونه ئې هم رالیږلی- لکه سورة الانفال ، التوبه، الفتح، محمد ، الصف وغیرها- خو دا جهاد او قتال څه په ګټو لوټو نه کیږی - نو شپږمه مسئله ذکر کوی-**

## الانفاق فی سبیل الله

او انفاق عام دې كه دبدن وى ، كه دوخت وى او كه دمال وى خو قرآن په انفاق د مال ډير زور وركوى- ځكه المال يميل اليه القلب دې نو دې ته خلق ډير نه تياريږى-

*اگر سر خواہی حاضر است اگر زر خواہی تقاضا است*

نو قرآن وائى دا تاته مقبول او محبوب شې مال دا به لګول غواړې- نو دا مسئله دانفاق قرآن په مختلف اندازونو ذكر كوى-

﴿۱﴾ الامر بالانفاق : د انفاق كولو حكم اوكړى- لكه سورة البقره ۱۹۵ كښې وائى -

﴿ وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ ﴾ البقرة: ۱۹۵

او خرچ اوكړئ په لار دالله كښې او مه غورځوئ ځان خپل په لاسونو خپلو هلاكت ته -

دارنګې سورة البقره ۲٦۷ ، او سورة الحديد-

﴿۲﴾ د مال لګولو شرطونه بيان كړى- لكه سورة البقره ۲٦۱ نه-

﴿۳﴾ بيان المصارف : په ځائې به ئې لګوې بې ځايه به ئې نه لګوې- نو مصارف بيانوى لكه

﴿ لِلۡفُقَرَآءِ ٱلَّذِينَ أُحۡصِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ البقرة: ۲۷۳

دپاره د فقراء هغه كسانو چه بند كړے شوى دى په لار دالله كښې -

دارنګې سورة التوبه ٦٥ -

﴿٤﴾ دمال نه لګولو موانع - لكه سورة الحديد رفع دهغه موانع كوى - ستا نه دې دالله دې الله دركړې - زه ستا دې خو الله ته به پاتې كيږى- زه سړيه قرض ئې وركړ- حققت خو ئې لړاوګوره ته وايئ د بيمارئ په وخت به مِ پكار راشى - نو دبيمارئ راوستونكې الله نو ختمونكې ئې هم الله دې-

**﴿۵﴾ الترغيب الی الانفاق : د مال لګولو ډيرې فائدې دی -- بدله ئې دوچند ميلاويږی - سورة البقره ۲۴۵،۲۶۱، سورة الحديد ۱۱ وغيرها- خو داټول کارونه چه کوې نو چه ځان ځان له وی نو برکت پکښې نه وی نو اوومه مسئله بيانوی-**

## التنظيم والجماعة

نو دتوحيد ملګرى ملغلرې دى نو چه ملغلرې يوه يوځائې او بل بل ځائې وى نو خوند نه کوى خو چه کله په يو تار کښې او پئيلې شى او اميل ترې جوړ شى نو بيا ئې خلق په غاړو کښې اچوى نو دا موحدين ملغلرې دى نو چه دا په يو تار کښې اوپئلې شى نو قدر به ئې هله زيات شى نو دا ملغلرې تار کښې اوپيه اويو ورله محراب جوړ کړه- دا يو بدن کړه نوځه به اندامونه شى او يو به پکښې سر او امير شى - نو چه دا نظم و نسق پکښې وى نو قدر به ئې پيدا شى-په يو ځنګل کښې درې غويان وو او درې واړه په اتفاق وو په ټول ځنګل ئې بادشاهى وه - زمرې هم د هغوى دحکومت دلاندې وو زمرى ورته چل جوړ کړو تور او سور غوې ئې ځانله کړو ورته وائى د سپين غوى درکښې ډير بد خکارى تاسو دواړه خوند کوى نو که دا درنه ختم کړم نو ستاسو به په ځنګل بادشاهى کوى وى ځه دا سپين سنبهال کړه - زمرې په سپين غوى ورغلو او ختم ئې کړو - بله ورځ ئې سور غوى ته اوئيل دا تور غوې درسره بد ښکارى دا تور سخا رنګ ئې نيولى دى دا به درنه سنبهال کړم او تابه يواځې په ځنګل بادشاهى کوې وې زه سنبهال ئې کړه- نو زمرى تور غوې هم سنبهال کړو بله ورځ ئې سور غوى ته وئيل اشنا زان سموه نو هغه ورته اووئيل زه په هغه ورځ مړ اوم په کومه ورځ چه سپين غوې مړ وو نو اتفاق وو نو بادشاهى کوله خو چه بې اتفاقه ئې کړل نو ختم شو درې واړو سر اوخوړو - يو لخته وى او بل وى دلختو ګيډې نو دګيډى ماتول ګران وى- خو دلختې ماتول څه مسئله نه ده نو دا اتفاق او اتحاد پکار دې چه موحدين يو موټې وى او يو ګيډې وى نو قوة به ئې زيات وى- دا تنظيم او جماعت په مختلف طريقو ذکر کوى-

﴿۱﴾ **تاسيس الجماعة** : نو دجماعت جوړولو دپاره قوانين په العمران کښې ذکر کوی پنځه - (۱) عقيده به دارکانو يوه وی - عقيده دتوحيد- (۲) قانون به قرآن وی - (۳) ارکان به فعال وی-(٤) مال به په جماعت باندې لګوی- (٥) او غير به رازدار نه وی-

﴿۲﴾ **تهذيب الاخلاق** : هر هر فرد دِ سم وی نو دځان ځانی اصلاح دپاره لس قوانين چه هغې سره به تعلق دالله سره هم برابر شی او خلقو سره هم - سورة البقره ۱۷۷ کښې-

﴿۳﴾ **تدبير المنزل** : چه کور سم نه وی نو بيا هم تنظيم صحيح نه وی نو دکورنۍ اصلاح دپاره ۱۸ قوانين ذکر کوی- سورة البقره ۲۱۵ نه-

﴿٤﴾ **سياست مدنی** تدبير المملكة د هغې دپاره څلور قوانين سورة البقره ۱۷۸ نه چه دا ملک کښې نوی راغلې نو اتفاق او اتحاد نه نشی راتللې نو تنظيم نشی کاميابيدلې-

﴿٥﴾ **اصلاح المعاشره** چه معاشره برباده وی نو تنظيم به څه ترقی اوکړی نو سورة النساء کښې اصلاح المعاشره-

﴿٦﴾ **الاداب لترقی الجماعة** : نو هغه سورة الحجرات ذکر کوی چه آدب خيال وی نو جماعت به ترقی کوی-

(۷) **حفاظت الجماعت** : نو دا به سورة المجادلة کښې بيانوی - او تنظيم چه د اداب نه خالی وی ارکان ديو بل ادب نه کوی نو تنظيم ترقی نه شی کولې - نو اتمه مسئله ذکر کوی-

**الاداب**

چه د آدابو لحاظ اوساتلې شی نو تنظیم به مضبوط شی او چه تنظیم مضبوط شی نو مال به په صحیح طریقه جمع کیږی- او په صحیح طریقه به لګی او چه محکمه مالیات مضبوطه شوه نو جهاد به مخ په وړاندې لاړ شی او دجهاد میدان ته تلل د قیامت یقین مضبوطیدل دی او چه یقین د آخرت مضبوط شو نو قرآن به منی نو ورسره د پیغمبر تائید اوشی نو چه د پیغمبر تائید اوشو نو مسئله دتوحید ته به بلندی حاصله شی-

**ربط او مناسبت** :

دبل طرفنه مسئله دتوحید اومنه په تعلیم دپیغمبر باندې او په حواله دقرآن باندې نو په قیامت کښې به دې سر اوچت وی ددې مسئلو دپاره کړاؤ او کوشش او محنت اوکړه- او ورسره مال اولګوه - ددې عقیدې ملګری یو کړه - د آدابو د لحاظ سره سره - نو دتوحید عَلم(جهنډه) به په عالم کښې بلند شی- دا اته واړه مسئلې قرآن بیانوی یوسورة هم ددې نه نه خالی کیږی کله اوږد سورة وی نو ددې آیاتونه ډیر بیان شی او کله سورة مختصر وی نو نیم بیان شی کله ډیر او کله مختصر سورة وی نو یوه دعوی وی- نو داوه اوله خبره چه قرآن څه وائی ؟ اوس دا خبره چه چاته وائی او خبره چاسره کوی-

## قرآن چاسره خبره کوی؟

یعنی د قرآن کریم مخاطب څوک دی ، د قرآن کریم آواز صدا بصحرا نه دے یعنی خؤشی میدان ته آواز نه کوی اوریدونکی ئے شته دے۔

نو قرآن دوه قسمه ډلو سره خبرې کوی - (۱) منونکی (۲) نه منونکی - منونکی مسلمانان او مومنان دی- هغوی ته چه کله قرآن بیان کوی نو په مختلفو طریقو سره دهغوی سره خطاب کوی-

﴿۱﴾ الترغیب الی الثبات : چه دامسئلې مو منلی دی نو دې باندې کلک شئ - لکه:

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسْتَقَـٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحْزَنُواْ وَأَبْشِرُواْ بِٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴾ فصلت: ۳۰

یقیناً هغه کسان چه وئیلی دی چه رب زمونږ الله دے بیا کلک شول نو راځی په دوی باندې فرښتې ، دا چه نه به یریږئ تاسو او نه به خفه کیږئ او زیری واخلئ په جنت هغه چه تاسو سره ئ وعده کولے شوه ۔

هکذا هود ، زخرف ، سورة النساء ۱۳۵-

﴿۲﴾ کله زجر او زورنه په سستئ او تکاسل باندې لکه انفال ۱۳،۱٤ -

﴿۳﴾ کله ورته تشجیع ورکوی جهاد ته- نر شه په نرتوب کار اوکړه فضول نه ځی- العمران ۱٤۲،۱۵۷ -

﴿٤﴾ کله ورته خوشحالی اوروی بیا خوشحالی کله ددنیا وی او کله دبرزخ- الانفال ۱۰،العمران ۲۱، طه ۱۷ ، ۷۵ سورة البقره ۳۵ سورة النحل ۹۷ سورة الکهف ۳۱-

﴿۵﴾ کله دهغوی مراتب دهدایة بیان کری ، انابة ، هدایة ، استقامت ، ربط القلب - لکه سورة الکهف ١٤ ، سورة القصص ۱۰ وغیره - دا حال وو دمنونکو او دمنقادینو او نه منونکی که هر څوک دی دهغوی سره چه خبرې کوی-

## خطاب مع المنكرين

د نه منونکو منکرین سره چه کله قران خبرې کوی نو دا هم په مختلف اندازونو باندې-

﴿۱﴾ دهغوی په عمل زجر اوزورنه وی - سورة النمل ۷۱،سورة النحل ۷۳، سورة یونس ۳٤،البقره ۱۵۹،٤۲،٤۱ العمران ٦۲،٦۳ النساء ٤٦-

﴿۲﴾ التخویف یره ورته اوروی بیا کله ددنیا وی - لکه سورة مریم ۹۸ زاریات ۱۱، او کله اخروی وی لکه سورة البقره ۲۷، او کله برزخی وی لکه:

﴿ ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا وَعَشِيّٗاۚ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ ﴾

غافر: ٤٦

﴿۳﴾ کله دهغوی مراتب ذکر کوی شک ، ضلالت ، جدال نو ختم القلب- اول ئې شک پیدا شی یره دچا اومنم د فلانکی اومنم که دفلانی - بیا ورپسې ضلالت او گمراهی راشی نو دهغې نه روستو دحق پرست سره جهګړې شروع کړی - نو اعتراضونه کوی وغیره نو بس اعتراضونو سره ئې په زړه ټاپه اولګی ختم القلب- سورة النساء ۱۵۵ ، سورة البقره ۷، سورة حم السجده ۵، وغیره - نو دا مراتب ئې په ځائې ذکر کوی-

**اقسام المنكرين**: د نه منونکو ډیرے ډلې دی ، غټې ډلې دادی -**(۱) دهریان (۲) مجوس (۳)مشرکین، (٤) اهل کتاب، (۵) منافقین-**

دقرآن کریم د نزول په وخت کښې دهریان او مجوس کم وو نو ډیر تفصیل ئے نه کوی البته قرآن کښې د هغوی رد شته دا نورې ډلے ډیرې وې نو دهغوی تفصیل ډیر کوی - هم د هغوی تفصیل کوو -

[۱] **المشركين**: دوی بیا خپل کور کښې په څلور قسمه باندې دی-

(۱) یو هغه دی چې نیکان بندیان به ئې الله سره حصه دار کړی وی - المشرکین بالعبادالصالحین او دا اول شرک وو چه دنیا ته راغلې وو " اول شرک تطّرق العالم " - د

آدمﷺپنځه ځامن وو چه سورة نوح کښې ئې تذکره راغلې ده- هغه ئې دالله سره حصه دار ګرځولی وو-

**(۲) هغه وو چه ملائک ئې دالله سره حصه دار کړې وې - فرشتو ته به ئې دالله لونړه وئیلې- فلاسفه ورته عقول مجرده وائی- المشرکین بالملائکة-**

**(۳) مظاهر پرست چه مَظهر ته ګوری خومُظهر ته نه ګوری - دستورو او سپوږمئ او نمر په خیال بندګی کوی - المشرکین بالکواکب -**

**(٤) هغه قسم چه هغوی د پیریانو بندګی کوله ماماګان به ورته پختنو د یرې نه وئیل - نو زمونږ نیکه دکومې پیرئ سره واده کړې وو - نو المشرکین بالجن- قرآن چه په مشرکانو باندې رد کوی نو په مختلف اندازونو باندې-**

**طرق الرد علي المشرکین**: (۱) دهغوی دمعبودانو عاجزی ذکر کوی- لکه :

﴿ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٞ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ كِتَٰبٗا فَهُمۡ عَلَىٰ بَيِّنَتٖ مِّنۡهُۚ ﴾ فاطر: ٤٠

اوخایئ ماته څه شے پیدا کړے دې دوی ( معبودان باطلو) د زمکې نه یا شتے دوی ته څه برخه په آسمانونو کښې یا ورکړے مونږ دوی ته یو کتاب نو دوی دی په واضح دلیل باندے دهغې نه -

**الایة دارنګې سورة النحل ۲۰،۲۱ سورة الحج ۷۳ او سورة مریم کښې عاجزی دنیکانو بندیانو مستقلا! ذکر کوه چه ګورې دا درامدد شه لائق نه دی-**

**(۲) مستحق دعبادت الله دې- سورة البقره ۲۱ ، سورة الفاتحه ٤ ،**

﴿ وَهُوَ ٱلَّذِي فِي ٱلسَّمَآءِ إِلَٰهٞ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَٰهٞۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡعَلِيمُ ﴾ الزخرف: ٨٤

دا الله هغه ذات دے چه په آسمان کښې کارساز دے او په زمکه کښې کارساز دے او دا الله حکمت والا پوهه دے -

﴿ وَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ البقرة: ١٦٣

او حاجت سرکونکے ستاسو حاجت سرکونکے دے یکی یو نشتہ بل حاجت سر کونکے مگر هغہ الله چہ ډیر زیات مهربان دے او مهربانی د هغہ خوئ دے ۔

(۳) الله دا دومره غټ غټ کارونه کوی سورة الرعد، اوله رکوع ، سورة الانعام ۴۵ دلائل عقليه ، سورة النحل كښې الادلةالمتنوعة -

(٤) الخصومة مناظره ورسره کوی - قرآن په دې شان چه دمشرکانو دشبهات او اعتراضات جوابونه کوی-دهغوی شبهات لکه وائی د الله نیازولی دی - مونږه ئې عبادة نه کوو خو دوی زمونږسفارشیان دی - سورة یونس ۱۸ ئې جواب دې- پلار نیکه تابعدار یو - دا به ئې رالره تقدیر کښې لیکلی وی ، الاقتداء بالآباء او الاحتجاج بالتقدير نو بقره او انعام کښې ددې جوابونه کوی- كله قياس بالمخلوق کوی - *چھت پہ چڑھنا ہو تو سیڑھی کی ضرورت ہوتی ہے۔* " ان نفوسنا نجسة لا تصلح لعبادة الله الاعظم- نو مونږه ددې نیکانو بندگی کوو چه دوی خوشحاله شی نو دوی به ئې الله ته اووائی- الله پرې رد کوی " وضرب لنا مثلاً ونسى خلقه فلا تضربوا لله الامثال "-

[۲] **اهل كتاب**: دویمه ډله د نه منونکو نه اهل کتاب دی دوی په خپل کور کښې دوه قسمه دی- (۱) اليهود (۲) النصاریٰ-

**اليهود**: دوی د موسیٰ علیه السلام تابعدار وو دتورات منونکی وو- او موسیٰﷺته به ئې آخری پیغمبر وئیلو چه دا آخری پیغمبر دې او دده نه روستو بل پیغمبر نشته دې دوی کښې علم غالب وو خو سره د علم نه بې دینه وو نو ددې دوجې نه - سفيان بن عيينه وائی :

" من فسد من علماءنا ففيه شبه من اليهود "

او شاولی الله په الفوز الكبير ۲۷ کښې لیکلی-

" فان اردت ان ترىٰ انموذج اليهود ، فانظر الى علماء السوء الذين يطلبون الدنيا ، ويولعون بتقليد السلف ويعرضون من نصوص الكتاب والسنة "۔

نو قرآن دتورات مقام هم بیانوی خو دهغې سره په دې پلیتانو باندې رد کوی اشاره ده چه نقصان د تورات نه دې بلکه نقصان دده دې-

**النصارئ** : دوی دعیسیٰ ﷺ تابعدار وو او د انجیل منونکی وو او دنبی ﷺ دنبوة خو ئې یا بالکل نه منو یا ئې منلو خوصرف دعرب دپاره - چونکه دوی پیران وو امیان دخلقو پرې اعتماد وو نو قرآن ددئ پلیتئ ډیرې بیانوی چه هغه اعتماد دخلقو ترې اوچت شی او یهود ملیان وو نو هغوی اعتراضونه کول نو قرآن دهغوی د اعتراضونو جوابونه ډیر کوی- دغه وجه ده چه بقره کښې اصلاح دیهودو نو دویمه حصه کښې دهغوی داعتراضونو جوابونه کوی او العمران کښې اصلاح دنصارو کوی نو دهغوی ۱۵ پلیتئ ذکر کوی دویمه حصه کښې- او نصاری کښې جهل غالب وو نو ددې وجه نه سفیان بن عیینه فرمائی -

"من فسد من عبادنا ففیه شبه من النصاریٰ "

او شاه صاحب په الفوزالکبیر کښې لیکی -

" وان شئت ان تری نموذجا لهذا الفریق فانظر الیوم الی اولاد المشائخ والاولیاء "

صاحب حقان او بې علمه پیران اوګوره-

[۳ ] **المنافقون**: دریمه ډله د نه منونکو نه منافقان دی - منافق د نفاق نه - او نافقه هغه پټ سورې دخادمۍ ته وئیلې شی چه ښکاری دیخوا په انتظار وی او هغه په دویم سورې بل طرفته وتلې وی- نو هغه دویم ایمرجنسی سوری ته نافقه وائی- نو منافق ته هم منافق وائی چه ده داسلام نه ایمرجنسی سوراخ جوړ کړې دې - نو چه اسلام زور پرې راشی نو وائی مسلمان یم نو داعقیده ئې نه وی خو ایمرجنسی سورې وی دمجاهد دتورې نه پرې ځان محفوظ کوی- وائی مسلمان یم او وی کافر- پنج پیر شیخ صاحب فرمائی- عرب هغه کجهورې ته چه ظاهر پړچ ئې مزیدار وی او دننه بوس غوندې وی نو تمر منافق وائی- نو دمنافق هم ظاهر پړچ مزیدار وی وائی مسلمان یم او دننه بوس وی- شاه صاحب الفوزالکبیر کښې لیکی

" وان شئت ان ترى نموذجا للمنافقين فانطلق الى مجالس الامراء وانظر الى مصاحبيهم وندمائهم "

قرآن کريم ددوی پليتئ بيانوی چه خلقو ته په ډاګه کړی- شاه صاحب چه دا نمونې ذکر کړی دی نو بيا وائی ـ

" فاذا قرأت القرآن فلا تحسب ان المخاصمة كانت مع قوم انقرضوا
كلا بل مامن بلاء كان فيما سبق من الزمان الا وهو موجود اليوم
بطريق الانموذج كما ورد فى الحديث الشريف " لتتبعن سنن من
قبلكم "فمقصود القرآن الكريم بيان كليات تلك المفاسد لاخصوص الموارد "

دا وه دويمه خبره چه قرآن چاسره خبرې کوی نو هغه مو بيان کړل چه قرآن دوو ډلو سره منونکو او نه منونکو سره خبرې کوی او نه منونکی بيا څلور ډلې جوړې دی - نو ورسره مو دا هم اووئيل چه هغه ختم شوی نه دی - نو د قرآن آواز صدا بصحرا نه دې - بلکه مخاطبين ئې شته دې اوس چه قرآن دا مسائل بيانوی نو په کوم انداز ئې بيانوی ؟ نو دريمه خبره-

## انداز بيان د قرآن

نو ددې تيرو مسئلو نه يو مسئله يا چه اوږد سورة وى نو دوه درې مسئلې يا څلور مسئلې راواخلى او هغه دسورة مركزى مضمون اوګرځوى- استاذان هغې ته دعوى دسورة وائى- يعنى سورة ددې خبرې مدعى دې او دعوى ئې كوى- نو زمونږ او ستاسو په معاشره كښې چه يو سړې ديوې خبرې دعوى اوكړى مثلاً اووائى چه دا پټې زما دې -نو بيا هغې باندې ثبوتونه پكار وى ګواهان پكار وى چه دې وائى چه دا پټې ځما دې- نو وائى په دې باندې زماسره ګواهان شته دې نو هغه مدعى ثبوت پيش كوى - نو سورة هم چه ددې اتو مسئلو نه يو دعوى اوكړى نو بيا په هغې باندې ثبوتونه پيش كوى -نو هغې ته دقرآن په ژبه كښې دلائل وائى نو په دعوى باندې دلائل پيش كوى- دليل په لغت كښې لارخودونكى ته وائى نو قرآن كښې هم چه كوم دليل وى نو ددعوى طرف ته لاربنائى او ددعوى اثبات كوى او دعوى ښكاره كوى-

**اقسام الدليل**: نو قرآن چه كوم دلائل ذكر كوى نو داغه په درې قسمه باندې دى- (۱) دليل عقلى - (۲) دليل نقلى - (۳) دليل وحى-

**الدليل العقلى**: ددې مطلب دادې چه كوم مخالف او منكر وى نو هغه وائى چه دا ته چه كومه خبره پيش كوې دالله ديو والى يا درسالت يا دايمان بالاخرة ، يا بله نو دا دعقل نه خلاف ده عقل دا نه منى نو قرآن مجيد دهغې دپاره عقلى خبره ذكر كړې چه اوګوره ته وائې دعقل خلاف ده - ديو زميندار سړى عقل د عام ان پړه عقل هم دا تسليموى چه داخبره داسې ده- كله به وائى آسمان ته اوګوره ، زمكې ته اوګوره - يه سړيه خپل ځان ته اوګوره-ديته دليل عقلى وائى-

**اقسام الدليل العقلى** : دا دليل عقلى په خپل كور كښې په غټو دريو قسمونو باندې دې-
(۱) عقلى محض (۲) عقلى اعترافى (۳) عقلى مسكت للخصم -

﴿۱﴾ **العقلی المحض**: چه صرف بس عقلي دلیل دي دمخاطب نه دي کښې څه مطالبه وغیره نه وی - لکه سورة البقرة ۲۱،۱٦٤ وغیره ، سورة الرعد ۲٤ -

﴿۲﴾ **العقلی الاعترافی** : اعتراف اقرار ته وائی ددې مطلب دادې چه دمقابل نه پرې دستخط اخلي منکر ته وائی ته اووایه چه د زمکې او اسمانونو مالک څوک دې وغیره - لکه یونس ۳۱ سورة المومن ۸٤، ۸۹ سورة العنکبوت ٦۱ سورة الزخرف ۹-

﴿۳﴾ **العقلی الالزامی المسکت للخصم**: داسې دلیل چه مقابل ملزم کوې او چپ کوې ئې جواب ته هم جوړ نشي - الله حق پرست ته وائی زه ته ورته جواب ورکړه هغه خو داسې شو چه لکه خله کښې ګټه ماته شوې وی - لکه سورة الانعام ٤۰ ، ٤۷ وغیره - ددې درې واړو مقصد دا وی چه دا کومه خبره ده نو دا دعقل نه خلاف نه وه-

**الدلیل النقلی** : دبل چا نه ئې نقل کړی چه داخبره دې هم کوی - مقصد دا وی چه مشرک ، کافر، مقابل ددعوی هغه داخبره اوکړی چه ستا دا خبره ناشنا ده ددې ویونکی بل څوک نشته دې ته په دې مسئله کښې تن تنها یواځې ئې بل څوک دې ملګرې نشته دې لکه نبیﷺته مشرکانو وئیل :

﴿ مَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ ﴾ ص: ۷

نو دلیل نقلي ددې دپاره راوړلې شی چه وائی نه یواځې نه دې ملګرې ئې په دې مسئله کښې شته دې- بیا دا خپل کور کښې څو قسمه دې-

﴿۱﴾ **النقلی من الانبیاء**: نقل دانبیاؤ کرامو نه پیش کوی کله په یوځل نقل کړی اجماعی وی لکه سورة النحل ۳٦ سورة الانبیاء ۲۸ - او کله ځان ځان له د یو یو نه وی چه اوګوره ابراهیمﷺوئیلی دی ، هود ، نوح، صالح عیلهم السلام وئیلی دی- شعیب ﷺهم دغه مسئله بیان کړې ده لکه سورة الاعراف ، هود، او الشعراء وغیره سورتونو کښې شو-

﴿۲﴾ **النقلى من الملائكة**: چه ملائک هم په دې مسئله باندې دی او دا خبره کوی بیا کله دفرشتو حال ذکر کړی لکه ابتداء دصافات کښې

﴿ وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفّٗا ١ فَٱلزَّٰجِرَٰتِ زَجۡرٗا ٢ فَٱلتَّٰلِيَٰتِ ذِكۡرًا ٣ إِنَّ إِلَٰهَكُمۡ لَوَٰحِدٞ ٤ ﴾ الصافات: ١ - ٤

کله دفرشتو وینا نقل کړی چه اوګوره هغوی هم دخپلې عاجزئ اظهار کوی هغه ته- لکه صافات ١٦٤،١٦٥ کښې- سورة مريم ٦٤ وغيره-

﴿۳﴾ **النقلى من الجنات**: دپیریانو نه نقل چه اوګوره هغوی هم ددې خبرې ګواهی کوی- لکه سورة الجن ابتداء شوه- سورة الاحقاف ۲۹ شو-

﴿٤﴾ **النقلى من عباد الصالحين** : د تیرو نیکانو عالمانو نه نقل چه د تیرو دینونو عالمان او نیکان ددې قائل دی او داخبره منی لکه سورة القصص ٥٢ سورة الكهف ١٤ سورة المومن ۲۸ سورة يس ۲۲-

﴿٥﴾ **النقلى من الوحوش والطيور**: عام دواب چه دی هغه هم ددې قائل دی یواځې څه مرغئ ئې هم قائل دی - لکه سورة النمل ۲۵، ۲٦ -

**الدليل الوحى**: دريم قسم دليل هغه د وحی دے ، ددې مقصد دراوړو نه دا وی چه کافر منکرين ددعوى حق پرست ته نسبت دافتراء کوی چه دادی دځان نه جوړه کړې ده - دې خبره کښې دروغژن ئې او دپریخودولو مطالبه ترې کوی چه دتوحید د مسئلې بیان پریږده نو دهغې دپاره دليل وحی پیش کوی چه ددې ماته حکم شوې وحی راته شوې ده نو څنګه پریږدم لکه سورة الانعام ١٤ سورة يونس ١٥ ، ١٠٤ وغيره- ددليل وحی وی چه وائی د ځان نه نه وائم او پریخودلې ئې نشم دا راته وئیلې شوې ده پابند یم دا به سر ته رسوم - نو درې قسمه ادله شو چه دې سره قرآن ثبوتونه پیش کوی - بله انداز بیان ئې دا وی چه په هغه خبره باندې قسم خوری- نوځلورمه طريقه دثبوت

**الحلف**: په هغه دعوی او مسئله باندې قسم خوری- خو قسم په څو قسمه دې-

﴿۱﴾ چه دچا په نوم باندې قسم خوری نو هغه كارساز او مددګار ګنړی او عالم او متصرف ګنری- یعنی دا ئې عقيده وی چه قسم خوری چه دده په نوم قسم خورم خو که دا کار او نه کړم او ددې خلاف اوکړم نو دا ما رانيولې شی- او ماته تکلیف راکولې شی- لکه یو سړې اووائی چه زما دې دالله په نوم باندې قسم وی چه دا فلانکې کار به نه کوم نو دده دا عقیده ده که دا فلانکې کار اوکړم نو الله مارانيولې شی او ضرر راته رسولې شی- او الله زما ددې کار نه خبردار دې - نو داقسمه قسم خوړل بغير دالله دنوم نه دبل چا په نوم کول حرام دی او شرک دې - دا به صرف دالله په نوم وی- نبی ﷺفرمائی من حلف بغيرالله فقد اشرک- دا رنګې فرمائی " من حلف بغيرالله فليقل استغفرالله " ګناه ئې اوکړه نو بخنه او استغفار دې اوغواړی- او توبه دې اوباسی چه الله توبه مِ ده- پښتانه چه وائی دلوئې ځوان قول راکړه نو داحرام دی ځکه چه دا به ئې په دې عقیده باندې وئیل چه که دا کار اونه کړم او خلاف اوکړم نو لوئې ځوان به ټکره راکړی-

﴿۲﴾ قسم دادې چه هغه ددعاء دپاره وی لکه " لعمرک انهم لفی سکرتهم يعمهون " - واه عمر دې ډير شه-

﴿۳﴾ قسم دخيرو وی لکه حسان رض فرمائيلی وو-

ثكلت بنيتی ان لم تروها تثير النقع من طرفی كداء

او چه مکه کله بيا فتح شوه نو حسان رض ته نبی ﷺاوفرمائيل - نذر دې پوره کړه " اوف بنذرک " نو په دواړو لونړو دی بور شم-

﴿٤﴾ قسم هغه دګواهئ وی او د دليل چه په کوم څيز باندې قسم خوری نو هغه ګواه کوی او دليل کوی په يو شی باندې- لکه شاعران دمحبوب پوزه باندې ، سترګو وغيره باندې قسم خوری نو دليل کوی ئې په حسن دمحبوب باندې- کله شاعر وائی-

قسم بلب میگون تو وزلف شبگون تو که تو محبوب دلربائی

نو دلته دمحبوب شونډې دلیل ګرځوی په حسن او خائسته والی دمحبوب باندې- نو دیکښې چه په کوم څیز باندې دلیل کوی نو دهغې سره به ئې مناسبت وی - نو قرآن کښې دا قِسم قَسم ذکر کوی - قسم بمعنی شاهد لکه ابتداء د صافات ، ابتداء د ذاریات او مناسبتونه پکښې شته دې لکه صف د فرشتو زورل او لوستل دقرآن شاهد دې په دې چه " ان الهکم لواحد "ـ والمرسلات عرفا -دا انقلابات په دې ګواه دی چه " انما توعدون لصادق " چه هغه لوئې انقلاب هم حق دې- نو بله طریقه د حلف او قسم وه - اوس کله چه قرآن کښې مسئله ثابته شی نو کله په دلیل کله په قسم نو د داثبات او ثبوت مسئلې نه روستو امثال ذکر کوی تنویراً علی الدعوی او د وضاحت دپاره - په دعوی باندې روشنائی او رنړائی غورزولو دپاره- عرب هم وائی مسئله بلا مثاله کناقه بلا مهاره نو امثله راوړی خو دا اثبات د مسئلې د پاره نه وی بلکه د وضاحت د مسئلې دپاره وی- قرآن کښې ٤٤ امثله ذکر دی لکه دقرآن کله دحق پرست کله دباطل پرستو وغیره او دمثالونو دخپلو مسئلو سره یو زبردست مناسبت وی او یوه لویه فلسفه پکښې پرته وی- بیا چه مثالونه هم بیان کړی نو خلق دوه ډلې شی څوک مسئله اومنی او څوک اونه منی- او دا قانون دې چه عدالت کښې یو سړې دعوی اوکړی او مدعی دلائل اووائی خو دهغه په هغه فیصله واوروی-نو یوه اوړه او بل پړه کړی- نو قرآن هم وړه پړه شروع کړی- چه څوک اومنی نو وړه او چه اونه منی نو پړه نو منونکو او وړو ته خوشحالی اوروی او نه منونکو پړو ته یرې او زورنې ورکړی - دنیا کښې به تباه شی هلاک به شی د پخوانونمونې ورته پیش کړی -اوګوره فلانکو نه وه منلې نو تباه و برباد کړی م وو نو که تا اونه منله نو ته د کوم باغ مولئ یئ - " ام لکم برأة فی الزبر " ولې تا چرته پرچی راوړې ده څه نو یره ورکړی ددنیا برزخ او آخرة - په دې طریقه باندې قرآن سورة کښې خپله مسئله او دعوی ثابتوی او خلقو ته ئې ښائی - دا وه دریمه خبره انداز بیان چه قرآن خپله خبره څنګه کوی او څنګه ثابتوی- نو درې

خبرې شوې- قرآن څه وائی نو اته مسئلې چاته وائی نو منونکو او نه منونکو ته په کوم انداز ئے وائی نو یا دلائل یا حلف او دوضاحت دپاره مثال -
کله دا داعی دپاره تسلی او ډاډګیرنه ورکوی چه خفګان مه کوه همت مه بائیله کامیابی ستاده ، کله په داعی چه کوم امتحانات راځی نو دهغې تذکره اوکړه لکه عقبات سته چه شپږ غونډئ به پار کول غواړی - کله داعی ته تشجیع او بهادری ورکوی د هغې د پاره واقعات ذکر کړی چه داسې طریقے سره بهادرئ سره مسئله بیان کړه ، چه په نه منلو کښې کوم رکاوټ او دیوال وی نو هغه لرے کړی چه هغه دنیا ده او دهغے مینه نو تزهید من الدنیا او ترغیب الی الاخرة دا مضمون چلوی او دکلکون او تثبت دپاره امور مصلحه بیانوی چه نیک اعمال کوه چه زړه دِ مضبوط وی -

**څلورمه خبره چه بیان اوکړې نو څه به اوشی یعنی اثر به ئ څه وی؟**

نو ته بیان کوه ستا بیان بے اثره نه ځی ، "فذکر ان نفعت الذکرئ "" فذکر انما انت مذکر " ستا کار بیان کول دی ته بیان کوه نو ستا مخاطب په دوه قسمه دے یو هغه دے چه د هغه په زړه کښې د هدایت تخم وی یعنی انابت ، طلب د حق او مینه دحق ، دویم قسم هغه دے چه د هغه په زړه کښې د ضلالت او د ګمراهۍ تخم وی یعنی شک ، ریب ، اضطراب ، نو دا په زړه کښې چه انابت وی یعنی د هدایت تخم وی نو ستا بیان سره به هغه ته دویمه مرتبه ملاو شی چه هدایت دے ،لکه
"اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَنْ يُنِيبُ "(شوری ۱۳)
الله تعالیٰ خوښوی دځان په طرف هغه چاله چه اراده ئ اوکړی او لار خائی د ځان ته هغه چاله چه هغه راګرځی -
بیا هم بیان بس کوه مه او بیان کوه دے هدایت والا ته به نوره ترقی ملاو شی په لاره به سیدها شی او نیغ به شی او همیشه به پرے پاتے شی یعنی استقامت به ورته ملاو شی دا هدایت نور زیات شو کلک شو -

"وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَآتَاهُمْ تَقْوَاهُمْ " (محمد ۱۷)
اوهغه کسان چه هدایت ئ موندلے دے زیاته به کړی دوی لره الله تعالیٰ کلکون او مضبوطوالے او وربه کړی دوئ لره تقوی اوپرهیز۔
" إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا ۔۔۔۔ "
یقیناً هغه کسان چه وائی چه رب ځمونږ الله تعالیٰ دے او بیا کلک شو ۔۔۔۔
نو دا دهدایت دریمه مرتبه شوه ، بیا هم ته بیان کوه ستا بیان بے کاره نه ځی دا چه کوم کلک دے نو هم د قرآن نه مورږ نه دے چه ګنی اوس ده ته ضرورت د بیان نشته دے , چه ته بیان کوې نو دے به دِ حد ته اورسی چه اورته غورځیدل به قبلوی بلکه خپله به داور نه غیرہ ډکوی ، هرقسم تکلیف او مصیبت که راځی نو دے به ئے ډیر په رونږ تندی برداشت کوی خو روستو کیږی به نه او خپله مسئله به نه پریږدی دیته ربط القلب وائی زړه به ئے مضبوط شی ،
"وَرَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ "(الكهف ١٤)
او مونږ کلکون راوستلے وو په زړونو ددوی په هغه وخت کښې چه اودریدل نو اوئ وئیل چه رب زمونږ رب د آسمانونواو زمکو دے ۔
دا دهدایت درجې شوې څلور انابت ، هدایت ، استقامت ، ربط القلب ۔
ددې نه معنې د هدایت هم معلومې شوې ، نو څنو آیتونو کښې اشکالونه هم حل شو چه " هدىً للمتقين " یا هدىً لقوم یوقنون ، او داعی ته هم وائی چه کار دې ختم نه دے ، دا هدایت په حد ولاړ نه دے ۔ دا څلور غټې درجې شوې او بیا پدې کښې خپلو کښې مراتب دی .
دا په قرآن په سورة الکهف ١٤ کښې یو ځائ ذکر کړی کله کله ځان ځان له ذکر کړی۔،
دویم قسم مخاطب اوریدونکے وو چه د هغه زړه کښې د ګمراهۍ تخم دے چه شک دے ، نو ده ته بیان کوه کیدیشی چه شک ئے ختم شی قابل د علاج دے لاعلاجه مرض ندے نو که علاج کوی نو کیدیشی ، که علاج ئ اونکړو نو ګمراهه به شی نو ضلالت

پرے راشی اوس هم بیان کوه علاج به ئ اوشی که په ضلالت کلک شو او علاج ئے اونکړو نو بیا د حق پرستو سره جهګړه شروع کړی نو بیان کوه که واپس نشی او پدې کلک شی نو مهر پرے راشی ختم القلب ، دا قرآن کریم ځان ځان له هم ذکر کوی او یو ځائ ئ هم ذکر کوی لکه :

" وَلَقَدْ جَاءَكُمْ يُوسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا زِلْتُمْ فِي شَكٍّ مِمَّا جَاءَكُمْ بِهِ حَتَّى إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَبْعَثَ اللَّهُ مِنْ بَعْدِهِ رَسُولًا كَذَلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُرْتَابٌ (٣٤) الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَانٍ أَتَاهُمْ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ وَعِنْدَ الَّذِينَ آمَنُوا كَذَلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ (٣٥)" (سورة المومن ٣٤ )

او البته تحقیق راغلےوو تاسو ته یوسف علیه السلام مخکښې په واضحو دلائلو نو همیشه وئ تاسو په شک کښې د هغه څه نه چه راغلے وو تاسو ته دا یوسف علیه السلام په هغې باندې تر دې چه کله وفات شو هغه نو تاسو اوئیل هیڅ کله به راونه لیږی الله پس دده نه بل پیغمبر دغه شان ګمراه کوی الله هغه څو ک چه وی زیاتے کونکے شک کونکے - هغه کسان چه جهګړه کوی په آیتونو دالله کښې بغیر د دلیل نه چه راغلے وی دوی ته ډیره د غصې خبره ده په نزد دالله او په نزد هغه کسانو چه ایمان ئ راوړے دے دغه شان مهر وهی الله په زړه د هر تکبر کونکی سرکشه -

دا څلور مراتب د ضلالت شو--- نو مهر پرے الله تعالیٰ هسے نه دے راوستے خو دده د عمل د وجې نه راغلے -

داڅلور خبرے شوے ، دا هغه اصول وو چه د ټول قرآن سره تعلق لری صرف د خُلاصې په طور ذکر کړې شو---

الحمد لله وهذا اخر ما وفقنی الله ـ

الله ما او زما مور اوپلار او استاذان ټول اوبخه الله په دنیا او آخرت کښې راسره درحم او فضل معامله اوکړه نه که دعدل او انصاف - آمین

## اصول د فهم دسورة

دويم قسم هغه دی چه هغه تعلق لری دزده کولو دسورة سره،چه په هغې سره د سورة زده کول آسان شی-دلته اوس هغه ذکرکولې شی-

ځمونږ.مشائخ کرام چه کوم اصول دسورة دزده کولو مقرر کړی دی نو هغه داسې دی چه هغوی فرمائی چه د هر سورة دشروع کولو نه مخکښې پنځه خبرې پيژندل ضروری دی-

(1)ربط د مخکښې سورة سره (2) دعوی دسورة (3) خلاصه او تقسيم دسورة (4) حاصل دسورة (5) امتيازات دسورة - مبتدعين اشکال کوی چه تاسو هر سورة کښې دا بيانوئ نو دا خو نبی عليه السلام نه دی بيان کړی -؟دا خوبدعت شو- نو خپله بدعت کوئ او مونږ دبدعت نه منع کوئ-

جواب:اول خو مبتدع د بدعت په تعريف نه پوهيږی ځکه بدعت وسائلواو ذرائعو کښې نه راځی په مقاصدو کښې وی لکه :د قرآن دپاره قاعده وئيل-دويم ده دحديثو مطالعه نده کړی ګنی دا اشکال به ئې نه وو کړې-صحابه هغه اهل لسان او دصحبت نبوی نه بهراور او دمشکوٰة نبوت نه علم حآصلونکی وو-نو هغوی ته دا خبری بالکل واضحې وې- لکه حديث قدسی کښې دفاتحی تقسيم راغلې دې- چه "قسمت الصلوة بينی و بين عبدی " او دغه شان عثمان رضی الله عنه وائی چه:

"ان قصتها شبيهة بقصة الأنفال"دا ربط ته اشاره ده-

به اين عقل ودانش ببايد گريست

دا خبری پيژندل په هر سورة کښې ضروری دی -ددې هرې خبرې وضاحت په لنډ انداز سره --

**(1) ربط د سورت**

دربط خپله معنی ده جوړاو تړون ، یعنی دا خبره معلوموول چه ددې سورة د مخکښې سره څه مناسبت او جوړاو رشته او تړون دې-لکه:چه دفاتحې پسې البقره ذکر کیدله نو ددې څه وجه وه؟ددوی به څه تعلق اوخپلولی وی-ځکه به یوځائ ذکر شوی وی-نو هغه څه ده لکه دوه کسان یوځائ ګرځی نوخلق وائی دوئ ولې یوبل سره ډیر ګرځی.دارونړه دی که ملګری دی؟دکاروبارشراکتیان دی که څه وجه ده؟نودالله تعالیٰ کلام ډیر اوچت او معجز کلام دې-نو دې کښې به مناسبت ډیر په اعلیٰ انداز سره وی-دا مناسبت دسورتونو معلوموول او ذکر کول دا ځمونږدشیوخ کرامو کمال او امتیاز دې-

داربط دیو سورة دبل سورة سره په درې قسمه دې-(1)ربط اسمی(2)ربط معنوی او مضمونی بیا دا معنوی په دوه قسمه دې کلی او جزی-نو ټول درې شو- ددې لږ وضاحت:

**ربط اسمی** : دیته ربط نامی هم وائی یعنی دنوم ربط چه العمران دنوم او دبقری دنوم دیوبل سره څه ربط او جوړدې دغه شان دهر سورة دنومونو ربط دیوبل سره -داربط به شیخ القرآن مولانا غلام الله خان صاحبؒ ذکر کولو اوپه جواهرالقرآن کښې ئې لیکلې هم دې-او دهغه مایه ناز شاګرد ځما انتهائی محبوب استاذ حضرت شیخ القرآن مولانا غلام حبیب صاحب ادام الله اظلاله هغوی ئې په درس کښې ذکر کوی-خودحضرت شیخ القرآن مولانا محمد طاهر رحمه الله تعالیٰ دا ذکر کول عادت نه وو اوپه سمط الدررکښې ئې ندې ذکر کړې نو دهر سورة سره ئې مونږه نه ذکر کوو البته ان شاء الله الرحمٰن چه کله لیک پائې ته اورسی نو په آخر کښې به ټول ربط نامی او اسمی اولیکلې شی-

**ربط معنوی** : دیته د مضمون او معنی ربط وئیلې کیږی.چه ددې سورة او دبل سورة دمعنی او مضمون یو بل سره څه ربط دې- یعنی په یو سورة کښې داسې مضمون ذکر دې چه ددې دبل سورة دمضمون سره یو قسم تعلق او هغې مسئلې دبل سورة دمسئلو سره تړلې شوې دی-دا ربط معنوی په خپل کور کښې دوه قسمه دې-یو کلی دویم جزی-

**ربط معنوی کلی :** -دا دیته وئیلې کیږی چه دیو سورة دکل یعنی مضمون دبل سره مناسبت وی یعنی د دعوو او مقصدونو مناسبت دا وجه دربط ډیره مضبوطه ده-ځکه چه پدې سره ټول سورة دبل ټول سورة سره اوتړلې شی-حضرت شیخ القرآن رحمة الله تعالیٰ په سمط الدرر کښې ددې ډیر خیال ساتلې دې چه دمضمون او مسئلې ربط راشی چه سورة دبل سره خه اوتړلې شی-

**ربط معنوی جزی:** ربط معنوی جزی دیته وئیلې کیږی چه دیو سورة ځنې آیتونه دبل سورة دځنې آیتونو سره اوتړلې شی دیته هم حضرت شیخ القرآن رحمه الله تعالیٰ په سمط الدرر کښې کله کله اشاره کوی- لکه سورة طور،نباء،نازعات وغیره کښې - دی دپاره چه دا ښکاره کړی چه دا هم یو طریقه ده-ځما محترم محبوب استاذ دحضرت شیخ القرآن فرزند ارجمند شیخ القرآن مولانا محمد طیب صاحب مد ظله العالی پدیکښې ډیر مهارت لری-او کله کله دیو سورة دبل سورة سره دربط پنځوس وجې ذکر کوی-او بل ځما مشفق او محبوب استاذ شیخ القرآن شیخ الاسلام مولانا ولی الله شهید رحمه الله تعالیٰ پدیکښې زبردست مهارت وو او هغوی به ددې فائده وئیله چه دا وجه د ربط اګر چه دمخکښې نه کمزورې ده خو یوه فائده پکښې ده چه ځومره مناسبتونه اوئیلې شی نو دومره آیتونه ددواړو سورتونو په تفسیرالقرآن بالقرآن په طریقه حل شی--دا دسمط الدرر نه هم ډیرې معلومیږی-پدیکښې شیخ کابلګرامی رحمه الله تعالیٰ کتاب لیکلې دې ان شاء الله چه منظر عام ته به راشی-

## (2) دعوی دسورة

دویمه خبره چه دسورة په زده کولو کښې هغه ضروری ده نو هغه دعوی دسورة ده ددې معنی مطلب دادې-چه هغه کومه خبره ده چه داسورة ئې ډیر په زور شور سره بیانوی اودسورة ټول آیتونه دهغې خدمت کوی-؟دعوی ورته وائی یعنی داسورة دا دعوی کوی چه څه داخپله خبره ثابتوم - دیته محور دسورة ،مرکزی مضمون دسورة ، مقصد د سورة ، دا ټول نومونه ورته اخلی-ددعوې مثال دسورة دپاره داسې دې لکه داونې دپاره تخم چه په تخم سره یو اونه دبلې اونې نه جدا وی-نو دغه شان په دعوې سره یو سورة دبل سورة نه جدا وی-او لکه چه ده تخم اثر په تنه ،څانګه او پاڼړو کښې موجود وی نو دغه شان دسورة دهر آیة مناسبت او تعلق به هم ددعوې سره موجود وی-ددعوې متعلق څو خبرې پیژندل ضروری دی-

**اوله خبره:** دعوی دوه قسمه ده-یوه دعوی اصلیه دویمه دعوی دسورة-

دعوی اصلیه دیته وئیلې کیږی چه کوم دټول قرآن مقصودی دعوی ده چه هغه توحید دې"لااله الاالله" - او دعوی دسورة ددې نه علاوه بل مضمون هم راځی-نو کله دعوی اصلیه او دعوی دسورة یو شی لکه چه دیو سورة دعوی دتوحید وی نو هم اصلی دعوی ده او هم دسورة دعوی ده او کله جدا جدا وی لکه چه د سورة دعوی جهاد وی او پکښې توحید ددعوې اصلی په طور ذکر شی-حضرت شیخ القرآن رحمه الله تعالیٰ سمط الدرر کښې کله دعوی دسورة ته هم دعوی اصلی وائی چه ددې مقصد دا چه دا په سورة کښې مقصود ده او کله جداجدا نومونه ځنوځایونو کښې ذکر کړی-

**دویمه خبره :** چه دسورة دعوی اکثر هغه دمقاصدو ثمانیو نه وی یعنی چه کوم دقرآن مقصدی مضامین دی اته نو دعوی دهغې نه وی-کم چرته دمقاصدو نه علاوه راشی چه دهغې د مقاصدو سره ډیر مناسبت وی-

**دریمه خبره**:دیو سورة ګنړې دعوې کیدلې شی یعنی چه کله یو سورة اوږد وی نو په هغه کښې ګنړې دعوې او مقاصد کیدلې شی لکه چه دسورة البقرة دعوی ده "مقاصد اربعه "نو څلور واړه مقاصد بیانوی ،نو څلور دعوې ئې دی-

**څلورمه خبره**:لکه څنګه چه دیو سورة ګنړې دعوې کیدلې شی نو دغه شان د ګنړو سورتونو یوه دعوی کیدلې شی-چې کله سورتونه مختصر وی نو ګنړسورتونه هغه یوه خبره بیانوی خو اندازِ بیان مختلف وی-نو دغه ځائې کښې د ګنړو سورتونو دعوی دمقاصدو نه شی او دهر سورة دعوی دهغه د تبعی مضامینو نه شی- نو دا هم کیدې شی-

## (3) خلاصه او تقسيم دسورة

خلاصه نچوړ ته وئيلې کيږی-په عامو کتابونو کښې چه خلاصه وی نو دهغې مقصد دا وی چه ضروری مضامين ذکر شی او غير ضروری پريخودلې شی-خوقرآن کريم کښې دا تعريف ندې -ځما محترم محبوب استاذ او مرشد مولانا مفتی محمد مسلم نستوی بارک الله فی عمره وصحته فرمائی :چه تعريف دادې:چه اوږده خبره په لنډو الفاظوکښې ادا کول - چه د يره اوږده خبره وی او هغه په لنډالفاظو ادا شی-اودامطلب هم چه يو مقصودی مضامين اوبل دهغې خادم مضآمين وی-نو هغه مقصودی ترې ذکر شی بياکله دا په ترتيب دذکر سورة سره ذکر شی نو ورته ترتيب دسورة هم وی خلاصه کښې ترتيب وی او که نه وی مونږه دلته کښې خلاصه اوترتيب يو شان ذکر کړی دی - ځکه چه خلاصه ځان له او ترتيب ځان له ذکر کوی نو بيا اوږدوالې ډير راځی.

**تقسيم دسورة :** دتقسيم معنی ده ويشل او حصې کول- نو کله په سورة کښې مسئلې مختلفې وی نو استاذان او مشائخ دهغې تقسيم اوکړی حصو ته چه دا سورة دومره حصې دې.او کله بابونو ته- چه کله مسئله يوه وی خو انداز دبيان ئې مختلف وی او کله داسې وی چه مسئلې متعدد وی خو ټولې يو ځائې روانې وی نو تقسيم هلته نه کيږی- نو تقسيم څو قسمه شو:

يو چه مسئلې متعدد وی يعنی دعوې ډيرې وی نو تقسيم حصو ته اوشی لکه دسورة البقرة او العمران شو-:

دويم چه مسئله يوه وی خو اندازِ بيان مختلف وی نو تقسيم بابونو ته کيږی-لکه سورة المائده لس بابه ده -

دريم اندازِ بيان هم يو مسئله هم يوه ده خودا يو انداز په مختلفو طريقو بيان شوې وی ځکه چه دقرآن صفت متشابهاً دې او مثانی دې- لکه سورة الزمر شو يا دځنې نورو سورتونو تقسيم شو-

ځلورم چه کله سورة کښې دعوې متعددې او ګنړې وی خوبرغې او یو ځائې روانې وی نو تقسیم نه کیږی -لکه سورة هود او اعراف شو هلته تقسیم نشته-

پنځم مسئله هم یو وی انداز هم یو وی نو هلته هم تقسیم نه کیږی-دا ډیر سورتونه دی لکه بنی اسرائیل شو کهف شو وغیره نور سورتونه شو-

**خبرداري:** کله حضرت شیخ القرآن رحمة الله علیه په سمط الدرر کښې دیو سورة تقسیم نه وی کړې او مونږبه دهغې تقسیم کړې وی-نو یو خو ځکه چه سمط الدرر کښې ثُم ثُم سره دهغی تقسیم ته یا بل ټکی "وَمِن قوله" سره تقسیم ته اشاره وی او یا دحضرت شیخ القرآن علیه الغفران ممتازانو شاګردانو نه خصوصاًدهغه تلمیذ خاص فرزندارجمند حضرت شیخ القرآن ابوالیمان صاحب نه به مونږ دغه تقسیم زده کړې وی نو دا هم اصل کښې دحضرت شیخ القرآن وی نو ځکه به مونږلیکلې وی.ځکه په دې لیک کښې التزام د طرز دحضرت شیخ القرآن علیه رحمة الله علیه شوې دې-

### (4) حاصل دسورة

يعنى دسورة نه روستو دسورة مسئله په مختصر ټکو کښې وړاندې کول-دابياکله په مضمونى انداز سره وى چه په سورة کښې دا دا وو-اوکله د وعظ او بيان په انداز سره-شيخ القرآنؒ په سمط الدرر کښې دواړه اندازونه استعمال کړى دى-لکه :دسورة طٰهٰ حاصل دتقرير او وعظ په انداز دې او دسورة المائده حاصل په څو ټکو کښې ذکر دې-او کله دمضامينو په انداز وى لکه دا ډير دې مونږچه کوم حاصل دسورة ليکلې دې نو په تقريرى او وعظ انداز سره ځماپه استاذانو کښې دا طرز د ډيرو وو خو ډير خاص دحضرت شيخ القرآن مولانا عبدالشکور صاحب چه دحضرت شيخ القرآنؒ مايه ناز شاګرد دې او ځما محبوب استاذ مفتى اعظم شيخ التفسير والحديث مولانا محمد حسين نيلوى رحمة الله تعالىٰ عليه ---خو ځه په جيل کښې ددواړو دليک نه محروم يم نو صرف طرز دهغوى ليکم نور ديادو نه چه څه الله تعالىٰ ذهن کښې اوغورځوى نو هغه ليکلې کيږى-الله تعالىٰ دِ قبول کړى-آمين

## (5) امتيازات دسورة

پنځمه خبره چه دسورة دفهم دپاره ضروري ده نو هغه دی امتيازات- د امتيازاتو مطلب جدا څيزونه او هغه خاص امور چه هغه په بل سورة کښې نشته دې ديته امتيازات او خصوصيات وائی-دا کوم امور دی چه دهغې دوجې نه دا سورة دبل نه جدا دې ځکه چه هر کله د سورة مناسبتونه او ربطونه پيش کړې شی نو داسې به درته خکاره شی چه دادواړه سورتونه ګنی يودی-داسی دی لکه بوده او تنسته،دجامی اوږده او لنډ تارونه -نو ذهن ته راځی چه آخر داسورتونه بيا جدا ولې شوی او دوی له نومونه ولې بدل کيخودلې شو نو هغه امور امتيازيه هغه جداڅيزونه ذکر کول-امتيازات په درې قسمه دی-

(1) امتياز کله داسې وی چه دغه خبره بالکل په بل سورة کښې نه وی لکه واقعه دبقرې چه بالکل په بل سورة کښې نشته دې -

(2) او کله داسې وی چه بل سورة کښې وی خو په داسې انداز سره نه وی لکه څنګه چه پدی سورة کښې انداز دې -لکه واقعه دموسیٰ عليہ السلام څنګه چه په طٰهٰ کښې ده-

(3) او کله داسې وی چه بل سورة کښې هم وی خو صرف په بل سورة کښې وی او په ګنړو سورتونو کښې نه وی-يعنی بس دغه مسئله صرف په دو سورتونو کښې ذکر ده نورو کښې نشته-

حضرت شيخ القرآن رحمة الله تعالیٰ په سمط الدرر کښې دبقرېد ابتدا نه مخکښې داخبره ذکر کړې ده چه په هر سورة کښې داخبرې پيژندل ضروری دی په هغې کښې امتياز هم ذکر کړې دې-بيا په سمط الدرر کښې ده ځنو سورتونو په آخر کښې امتياز ته اشاره کړې ده اوګنړو سورتونو کښې نه دې ذکر کړې خو درس کښې به ئې ذکر کول نو شيوخ کرام هغه امتيازات ذکر کوی-نو دهغوی دافاداتو نه به مونږ دهرسورة په

**آخر كښې امتيازات ذكر كوو-خصوصاً دافاداتو دشيخ القرآن مولانا محمدطيب مدظله العالى-**

## بحث دترتيب نزولی ومصحفی

ان شاء الله تعالیٰ مونږبه په هر سورة کښې ددی پنځوخبرو اهتمام کوو الله دِ اسان کړی،او الله تعالیٰ دِ سر ته اورسوی--ددې نه علاوه استاذان دسورة په سر کښې ديو څو خبرو نورو لحاظ کوی چه يو دهغې نه ترتيب نزولی او مصحفی دې-

دقرآن کريم دنزول ترتيب ځان له دې اودليکلو ترتيب ځان له دې -يعنی قرآن کريم يو داسې وو چه کوم په لوح محفوظ کښې ليکلې شوې وو نو هغه داسې وو لکه چه ځمونږ مخې ته پروت دې چه اول دهغې فاتحه او آخر دهغې الناس دې-او دويم ترتيب هغه دې چه په کوم باندې دنيا ته وخت په وخت راغلې دې-نو دواړو کښې فرق دې ځکه چه يو دزده کړې ترتيب وی او بل دعلاج او استعمال ترتيب وی دی کښې فرق وی-لکه يو سړې ډاکټری او طب زده کوی نو يادسر نه شروع کوی او يا دمعدې نه خو چه مريض ورله راشی او علاج کوی نو چه هغه وائی ځما خپې خوږيږی نوداسې نه وی چه دې ورته وائی چه ما اول زده کړې دمعدې علاج دې نو تاله به اول دهغې علاج کوم-بلکه چه کوم مريض راغلې وی دهغې علاج کوی-دغه شان بل مثال چه يو سړې صَرف زده کړی نو دماضی ګردان اول ياد کړی نو چه بيا ترې څوک دصيغې تپوس اوکړی او هغه امر وی نو داسې نه وی چه دې وائی چه اول ماضی ياده کړه بلکه چه دکومې صيغې تپوس شوې وی دهغی جواب ورکوی-دغه شان دافتاء چه اول داودس او مونځ مسئلې زده کړی خو که څوک دنکاح دمسئلې تپوس اوکړی نو دې جواب دمونځ نه ورکوی دغه شان قرآن کريم په دې ترتيب په لوح محفوظ کښې پروت وو خو چه راتلو دنيا ته نو دمرضونو دعلاج دپاره راغلې او دحوادث په طور چه دکومې خبرې به نبی ﷺ ته ضرورت کيدلو نو هغه به ورته بيانيدله نو دادوه ترتيبه شول يو ته ترتيب نزولی وائی او بل ته ترتيب مصحفی او عثمانی وائی-نو اوس به ته هم زده کړه دفاتحې نه اوکړې خو چه بيان کوې نو ګوره چه کوم ځائې کښې ضرورت دکومې مسئلې وی نو هغه بيان کړه دا نه چه ته هغوی ته وائی چه ما اول فاتحه زده کړی ده ځه به دا وائم

-ددې فائده داده چه دسورت مخکښې والې روستو والې معلوم شی-د دور پته اولګی دناسخ او منسوخ اندازه لګول آسان شی داسې نور فوائد علماء لیکلی دی-نورکله استاذان وجه دتسمیې دسورة او کله نور نومونه دسورة ذکرکوی-اوکله دضرورت دپاره دسورة شان نزول بیان کړی-

کوم آداب چه دسورة دپوهې دپاره وو نو په مختصر انداز هغه سر ته اورسیدل دا څما داستاذانو ددرسونو خورې ورې ملغلرې دی چه دهغې اجتباء او غوروالې دې څائې کښې اوشو الله تعالیٰ دِ قبول کړی-

# تمت

بسم الله الرحمن الرحيم

## اصول دزده كولو د آيت

لكه چه دسورة دپاره څه خبرې ضروري وې چه په هغې سره سورة زده كول آسانيدل نو دغه شان دآية دزده كولو دپاره هم څه آداب اوخبرې دي چه په هر آيت كښې دهغې لحاظ ساتل ضروري دي--هغه پنځه خبرې دي-

(1)ربط دآيت كريمه (2) مقصد دآية كريمه (3) تحقيق د ګرانو ټكو او لفظي ترجمه (4) تشريح دآيت كريمه په داسې طريقه چه مقصد دآيت واضحه شي او كه كومه فقهي مسئله وي هغه واضحه شي-(5)حل د مشكل ---

ددې خبرو لږ مختصر وضاحت-

**ربط دآيت كريمه**:په دنيا كښې دهر چا خبره هغه مربوطه او تړلې وي او خلق هغه خبره خوخوي چه هغه ديو بل سره مناسبت لري او كتاب هم چه يو بل سره مربوط او تړلې وي نو هغه دخلقو خوخ وي-نو قرآن مجيد هم دلوئې الله تعالیٰ كتاب دې پديكښې دامناسبت ډير په خكلي انداز سره وي خو ظاهر كښې چه بنده ګوري نو كله توحيد كله جنګ كله نكاح او طلاق كله حج نو ددې څه مناسبت دې؟ دامناسبت خكاره كول يو اهم كار دې دمتقدمينو په كتابونو كښې ديته اشارات ملاويږي خو چه كوم كارځمونږ مشائخو كړې دې پدې فن كښې نو د ددې صدئ امتياز دې ځكه ربط دآية دا دوه قسمه دې-

(١) يوربط دآيت دمقصد اوددعوې دسورة سره :چه آيت هغه دمضمون دسورة سره اوتړلې شي چه ټول آيتونه ديو مسئلې خدمت كوي-په هر آيت كښې ددعوې متعلق څه خبره موجود شي دا ډيره مضبوطه وجه دربط او مناسبت ده-اګر كه دآيت مخكښې آيت سره ربط نه وي نو نه دِ وي-

(۲) دويم ربط دهر آيت دبل آيت سره: داخو ځنو ځايونو کښې ډير ظاهر وی-تفاسير ورته هم اشاره اوکړی اوځنې ځايونو کښې هغه پټ وی.نو بيادهغې دپاره باريکو تکلفاتوته حاجت وی نو دقرآن آيتونه ډير په کچه تار ديوبل سره اوتړلې شی-
ځمونږمشائخ کوشش کوی چه آيتونه ددعوې سره اوتړلې شی-داضروری نه ده چه هر آيت دِ دبل آيت سره اوتړلې شی ځکه قانون دې چه کله واعظ وعظ کوی نو هغه کله سخته خبره کوی کله نرمه او کله دليل وائی او کله واقعه نقل کوی خو مقصد ئې ځان ته يو ايخې وی او دا ټولې خبرې دهغه مقصد دپاره کوی-لکه يو واعظ دمونځ په اهميت بيان کوی نو کله دمونځ دفرضيت دلائل وائی نو کله چه څوک مونځ نه کوی هغه ته زورنې شروع کړی اوکله زر دچا واقعه نقل کړی-چه هغه به مونځونه ډير په پابندئ کول داټولې خبری کوی خو د مونځ داهميت دپاره نو که هره خبره خپلو کښې تړلې نه وی نو دمقصد سره تړلې وی دغه شان قرآن هم کوی ځما محبوب استاذ شيخ الاسلام کابلګرامی رحمة الله تعالیٰ عليه به فرمائيل چه دتعليم طريقې دوه وی-يوه فطری او بله استعدادی-نو فطری طريقه تعليم کښې داترتيب وی چه دمخاطب اود شاګرد دحال لحاظ کولې شی دخبرې او دخبره کونکی لحاظ نه وی-او په استعدادی که دخپل ترتيب اودخبرې اود طريقې لحاظ وی لکه اول قاعده بيا ناظره اوبيا ټکی بياترجمه-دا استعدادی په خپل ترتيب به چليږې-
نو د قرآن کريم طريقه دتعليم ، فطری ده ، د مخاطب لحاظ قرآن کريم کوی نو کله مسئله وی کله دليل کله زجر کله تخويف کله بشارت کله تسلی کله تزهيد کله آخرت -ځکه چه دمخاطب تندی ته ګوری چه که شک ئې وی نو دليل ورته بيان کړی که ضدی وی نو زر ورته زورنه او تخويف اووائی که لالچی وی نو زر ورته بشارت اووائی سره ددی نه چه مقصد يو وی نو ځمونږشيوخ کرامو ددې لحاظ کړې دې-اګر چه دويمه وجه دربط ترې هم بيا معلومه شی خو هغې له ډير زور نه ورکوی-

حضرت شیخ القرآنؒ چه دخپل کتاب نوم ایخودلې دې نو هغه هم داسې سې چه"سمط الدرر فی ربط الایات والسور"نو ربط دآیتونو څنګه وو نو هغه پدې انداز دې چه شیخ القرآنؒ ټول ایتونه ددعوې سره تړلی دی- چونکه پدې هر څوک نه پوهیدل مګر ماهر علماء پرې پوهیدل نو پدې لیکلو کښې صرف په عنوان دایت چه زجر دې اکتفاء نه ده شوې بلکه زجرپه کومه طریقه او په څه دې-چه مقصد سره اوتړلې شی -دغه شان تخویف-نودااساتذه کرام اصولو کښې بیان کړی چه داټول تبعی مضامین ددعوې دخدمت دپاره دی-بیادرس کښې دومره وخت نه وی اګر چه اشاره اوکړی نو عام طلباء کرام او عوام رونړه هغوی ربط دآیت نه شی لګولې نو ددې وجې پدې لیک کښې ددې خبرې خصوصی اهتمام شوې دې- او ځان له عنوان پرې قائم شوې دې چه د سمط الدرر نه ددې اخذ او اغستل آسان شی-الله دِ دصحیح طریقې سره دبیان توفیق راکړی--آمین

(2) **مقصد دآیت کریمه**:یعنی دا آیت کریمه څه وائی اوړد آیت دې خو په لنډو دهغه مراد پیش کول-لکه آیت المدائنة اوږد آیت دې نو پدې کښې څه دی-نو لنډ چه اصلاح دمعاملې او دصحیح معاملو طریقه خودل-نو آیت کریمه کښې لنډ مقصد خودل دا دحضرت شیخ القرآنؒ اکثرو ایتونو له کړې دې سره ربط پیژندل دآیت اسانیږی -شیخ القرآن رحمة الله علیه زواجر یو ځائې ذکر کړی دی -دغه شان دلائل عقلیه وغیره مونږه نمبروار دهرآیت سره دهغه آیت نمبر دهغه مقصد او بیا په پښتو کښې دهغې وضاحت چه پوهه او ربط آسان شی-ډیر کم آیتونه دی چه هغه سمط الدرر کښې نه دی لیکلې شوی-چه ده کښې څه وی دهغې نمبر په سمط الدرر کښې نه وی یا شیخ القرآن دامتحان دطالب اودکوشش دهغه د پاره پریخودلی وو ان شاء الله پدې لیک کښې هغه آیتونه مکمل شوی دی -داستاذانو د درس د افاداتو نه او خصوصا دحضرت شیخ القرآن رحمة الله تعالیٰ علیه داستاذ مولانا حسین علی رحمة الله تعالیٰ دبلغة الحیران نه-

(3) **تشريح دمشكل الالفاظ**: كله په آية كريمه كښې ګران ټكى راغلى وى نو چه دهغې وضاحت نوى شوې نو په آيت كريمه پوهيدل ګران دى نو دهغه ټكو وضاحت كول كله يو ټكې په ګڼرو معنو راځى نو دهغې وضاحت او چه دې آيت كښې مراد ده دهغې تعين كول او لفظى ترجمه دعربئ دادب سره برابر په خپله ژبه كښې داسې كول چه مراد دآيت واضح شى-

(4) **تشريح دآيت كريمه**: دلفظى ترجمې نه روستو دا آيت كريمه داسې وضاحت كول چه په هغې كښې څه حكم وى چه هغه واضح شى او رڼړا شى او كه هغې كښې په غلط مذهب رد وى هغه هم واضح شى او كچرته فقهى مسئله وى نو بغير داختلاف نه په آسانه د عوامو مخې ته راشى-چه آيت داسې انداز سره پيش كړې شى چه عمل كول پرې آسان شى اودعمل دپاره ئې برابر كړى دى چه پته اولګى چه آيت ځما نه څه غواړى او مادڅه نه منع كوى - چه آيت واضح او روشن شى-

(5) **حل دمشكل**: كله كله په آيت كريمه كښې يو اشكال راشى چه دهغې دوجې نه پوهيدل په آيت كريمه ګران شى -دا اشكال كله ظاهرى عارض دوجې وى چه ځمونږپوهه او عقل ناقص دې نو مونږ ته په آيتونو كښې تعارض ښكاره شى اوكله داشكال دنحوى مسئلې او قاعدې دوجې نه او كله په مراد معلومولو كښې اشكال وى نو دغه د اشكال ځائې معلومول او بيا دهغې مشكل حل كول داضرورى دى-

پدې مختصر ليک كښې صرف دسورة مطابق دټولو خبرولحاظ شوې دې ان شاء الله او دآيت باره كښې صرف اولنې دوه چه ربط او مقصد دآيت دې دا ذكر كيږى نورو سره بيا خبره ډيره اوږديږى نو څه قابليت لرم خو دالله نه سوال كوم چه توفيق راكړى چه داسې ليكل اوكړم چه دا ټول څيزونه پكښې وى په زړه كښې اراده لرم او څه مواد مِ جمع كړى هم دى چه داستاذانو په طرزيو خائسته تفسير مخې له راشى الله دِ اوكړى-

## شان نزول دآيت

خبـرد ا ر ي : دآيت په زده كړه كښې خو شان نزول پيژندل هم ضروري وی- نو هغه خو تاسو ذكر نه كړو ؟ ددې خبرې جواب دادې چه يو آيت كريمه حل دې بل علم سوا كول دی نو د آيت حل په شان نزول موقوف ندې بلكه شان نزول نقصان پيدا كوی-
حاصل دا چه شان نزول كله داسې وی چه بغير دهغې نه آيت سمجه او پوهې ته نه راځی نو هغه وئيل خو ضروری دی لكه په مائده كښې دجام واقعه شوه او كله داسې وی چه آيت بغير دهغې نه سمجه ته راځی نو كه په داسې طرز سره اووئيلې شی چه دهغې نه كليه جوړه شی چه هره داسې واقعه وی نو د هغې حكم به دآيت وی لكه صحابه كرامو به وئيل چه "نزلت فی كذا"ددې مطلب به داوو چه پداسې غوندې معامله كښې آيت نازل شوې يعنی چه هره داسې معامله راشی نو داحكم به وی-لكه په سورة المائده كښې آيت المحاربه (33)يا آية الصيد شو(4) يا آية صلٰوة الخوف او يا آية التيمم وغيره-داټول آيتونه په خاص واقع كښې نازل شوی خو دا قاعدې دی او حكم ئې هرچا ته شامل دے نو كه چرته شان نزول بيانونكې په داسې طريقه شان نزول بيان كړی چه هغه قاعده كليه كړی او دا ښكاره كړی چه دهرې داسې معاملې به داسې حكم وی نو ماشاء الله بيائې بيانول پكار دی ځكه د آيت كريمه صحيح مراد به معلوم شی او دځان نه به مصداق جوړول نشی بلكه شان نزول به ئې تائيد شی-او كچرته پداسې طريقې سره قرآن كريم بيانيږی چه دهغې سره دقرآن كريم عموم او دوام ته نقصان رسيږی چه خلق دا ګمان اوكړی چه داخوكافرانو باره كښې راغلې دې يا ديهوديانو باره كښې راغلې دې او مونږه ترې نه خلاص يو نو پداسې طريقه شان نزول بيانول دنقصان نه خالی ندی-ددې باره كښې وئيلی شوی دی چه:

"اضّر الاشياء فی فهم القرآن شان النزول --"

چه دقرآن كريم په پوهه كښې نقصانی څيز هغه شان نزول دې په داسې ځائې كښې لكه چه ديو سړی مخې ته دا آيت كريمه اولوستلے شو چه :

" وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ "(المائده 44)

نو هغه سړی اووئیل چه دا خو دیهودو باره کښې دي نو حضرت حذیفة بن الیمان رضی الله عنه ورته اوفرمائیل چه:

" نعم الاخوة لکم بنو اسرائیل ان کان لکم الحلو ولهم المرّ "

یعنی بنی اسرائیل ستاسو خه رونړه دی که آیت خوږوی نو دا به ستاسو وی او چه کله تریخ وی اوسخت نو وائی دادبنی اسرائیل له دي-

دغه شان سیدنا عمر رضی الله عنه فرمائی چه:

" إن بني إسرائيل قد مضوا و أنتم تعنون يا امة محمد ﷺ"

چه بنی اسرائیل تیر شو اوس به ددغې آیتونو نه تاسو مراد یئ- یعنی مقصد دا چه دا نه چه دبنی اسرائیلو آیتونه په هغوی پورې ترلی شوی دهغوی دپلیتو نه تاسو ځان او ساتئ او چه هغوی په کومو خو اعمالو عزت موندلې هغه تاسو اوکړئ- ځما استاذ او مرشد مولانا مفتی محمد مسلم نستوی صاحب فرمائی چه یو خوئی او عمل دالله تعالیٰ د یهودی او دکافرو نه ندې خوښ نودمسلمان شهزاده نه به ئې څه خوښ شی-یعنی چه یو عمل دالله تعالیٰ په کافر کښې بدې شی نو په تا کښې به څه خوښ شی-

دغه شان سیدنا ابوهریرة رضی الله عنه فرمائی چه :

" ما أشبه الليلة بالبارحة "

چه ننئ شپه او تیره شپه دواړه یو شان دی نو بنی اسرائیل او تاسو یو ئی دا نه چه آیتونه دهغوی پورې خاص شو-

ددې بحث په آخر کښې یو حدیث لیکلې کیږی او بیا سورة شروع کوو چه " ختامه مسک " شی --جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه:

"لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ, حَذوا بِحَذوٍ ، شِبْرًا بِشِبْرٍ, حَتَّى لَوْ دَخَلوا جُحْرَ ضَبٍ لَدَخَلْتُمُوْهُ " وفی روایة حتی لواتی احدهم امه علانية لفیکم من یفعل ذلک اوکما قال علیه السلام ؛

چه تاسوبه دتیرو په نقش قدم باندې او په طریقه چلیږئ پل په پل او لویشت په لویشت تردې که په هغوی کښې یو تن دسمسرې سوړې ته ننوتې وی نو تاسو به هم داسې کوئ او بل روایة کښې دی چه کچرته په هغوی کښې یو تن داسې وی چه مورسره ئې زنا کړې وی (معاذ الله)نو تاسو کښې به هم یو تن داسې کوی-

نو عموم دقرآن باقی ساتل چه قرآن دهر دور او معاشرې سره اولګی داضروری دی -ځمونږد مشائخ په طرز دشان نزول ډیر اهتمام نشته دې دپاره چه دامقصد فوت نشی او ځمونږمشائخو چه څنګه قرآن کریم دهر دور او معاشرې دپاره برابر کړې دې او داصلاح دپاره نه نو ډیر کم په تفاسیرو کښې به داسې وی چه داسې ئې کړې دی -الله دِ پرې مونږه پوهه کړی-آمین یا ربّ العٰلمین

څه مختصرآداب سر ته اورسیدل الله تعالیٰ دِ قبول کړی او الله دِ ځما د معافئ ذریعه کړی اوځما مور اوپلار او استاذانو دپاره صدقه جاریه کړی-

11 ذی القعدة 1433 - 27 ستمبر 2012

یوم الخمیس **3:41** بمقام مینګوره جیل

نظرثانی بمقام غلنئ جیل مهمند

ونظر ثالث بمقام فضاګټ جیل سوات

۲۶ جمادی الثانی ۱۴۴۱هج ۲۰ فروری ۲۰۲۰ء یوم الخمیس بعدالعصر

# تمت الاصول

## تقسيم دقرآن کريم څلورو حصوته

ځمونږ مشائخو کرامو قرآن کريم دفهم اودپوهې په اعتبار څلورو حصو ته تقسيم کړې دې او هره حصه دقرآن کريم هغه په الحمد لله سره شروع کيږی-

اوله حصه دسورة الفاتحه نه تر انعام پورې ده پديکښې پنځه سورتونه دی يعنی د مائدې تر ختمه پورې-

دويمه حصه دسورة الانعام نه تر کهف پورې ده پديکښې دولس سورتونه دی يعنی تر بنی اسرائيل تر ختميدلو پورې ده-

دريمه حصه دسورة الکهف نه تر سورة سباء پورې ده پديکښې ټول شپاړلس سورتونه دی- داحزاب په آخر ختميږی-

څلورمه حصه دسورة سبا نه تر آخره پورې ده پديکښې ټول يو اتيا سورتونه دی -

په اوله حصه کښې بيان دپيدائش دعالم چه الله تعالیٰ هغه ذات دې چه دا عالم ئې دنيشت نه شته کړې دې -نو هغه الله خپل اِلٰه او معبود اوګڼرئ بل څوک نه-

په دويمه حصه کښې بيان دې دتربيت دعالم چه الله تعالیٰ مخلوق پيدا کړې دې نو بيا ئې دغه شان ندې پريخودلې بلکه دهرقسم ئې دهغه مناسب تربيت او پالنه کړی ده- پالنه اوتربيت دادپيدائش نه روستو وی نو مخلوق لکه چه په پيدائش کښې دالله تعالیٰ محتاج نو په تربيت اوپه بقاء يعنی پاتې کيدو کښې هم دالله تعالیٰ محتاج دی-

په دريمه حصه کښې وائی چه په ټولو څيزونو کښې خيرونه او برکتونه غورځونکې الله تعالیٰ دې او برکت غورځول پس دتربيت نه وی نو چه دبدن تربيت اوشو نودروح تربيت هم الله تعالیٰ کړې دې -"انزل علی عبده الکتاب "په کهف کښې وائی چه روح دالله دطرفنه راغلې وو نو غذا هم دالله تعالیٰ دطرفنه راغلې ده - دا خيرونه او برکتونه الله تعالیٰ ورکوی-

ځلورمه حصه کښې وائی چه مالک او اختيارمند هغه صرف يو الله تعالیٰ دې هغه ذات دچا نه مجبوره کيږی نه او څوک پرې زور نشی کولې او دهغه داجازت نه بغير څوک سفارش کولې نشی-

مختصره دا چه په اوله حصه کښې بيان دې چه "خالق لکل شیء هو الله "په دويمه حصه کښې بيان دې چه " المربّی لکل شیء هوالله " په دريمه حصه کښې بيان دې چه " المبارک فی کل شیء هو الله " او په ځلورمه حصه کښې بيان دې چه " مالک لکل شیء هوالله تعالی "

دا په داسې انداز او هره حصه په الحمدلله شروع شوه دا ځکه چه قرآن کريم ددې دپاره راغلې دې چه انسانانو او پيريانو ته دالله تعالیٰ پيژندګلو او تعارف اوکړی-ځکه په فرائضو کښې اولنې فرض هغه دادې چه بنده الله تعالیٰ اوپيژنی-ددې دمعرفت دپاره خلقت هم شوې دې-اوهربنده الله تعالیٰ داسې اوپيژنی چه خپله ئې پرې زړه اوبه اوڅکی-صرف دا نه چه داسې او وائی چه فلانکې وائی چه الله تعالیٰ شته نو ځه هم وائم چه شته او فلانکې وائی چه شريک ورله نشته نو ځه هم وائم چه نشته-نه صرف دبل په وئيلو باندې نه بلکه چه دده زړه خپله دا ګواهی ورکړی چه الله تعالیٰ شته هم او شريک او حصه دار نه لری-يعنی چه هر سړې دالله تعالیٰ په پيژندګلو کښې مجتهد شی مقلّد نه وی- هغه ځان له خبره ده چه ايمان تقليدی معتبر دې که ندې -او دعلماء اختلاف په خپل ځائې خو قرآن تعارف دالله تعالیٰ داسې کوی چه ستا زړه به خپله اوبه اوڅکی پدې خبره -نو کچرته دا ذمه داری الله تعالیٰ بل چاته حواله کړې وې نو چه خلقو به څنګه څنګه دلائل وئيل؟اوڅه به ئ جوړول او کولې به ئې نه شو-نو داذمه داری الله تعالیٰ بل چاته حواله نه کړه بلکه په خپله ئې دخپل تعارف او پيژندل دپاره کتاب راوليږلواو هغه پداسې انداز تعارف کوی چه ډير اسان او انتهائی ژور - چه دساده نه ساده سړې پرې پوهيږی او که عالم او فلاسفر هغه ژور کوی او پکښې مخې ته ځی

نو سر ورله نشی معلوملې-ځما استاذ جامع المعقول والمنقول مولانا فضل حق عرف ډېر صاحب حق صاحب دقرآن باره کښې فرمائی چه:

ـــه كتاب مستبين من عليمٍ وجيز النظم للذكرىٰ يسيرٌ

فبحر للعلوم بلا نهاية و لكن فهمنا عنها قصير

ترجمه :عظيم الشان واضحه کتاب دالله تعالیٰ دطرفنه راغلې دې-په ټکو کښې ډېر مختصر دې او نصيحت اغستل ترې ډېر اسان دی-اودعلمونو بې پايه درياب دې خوځمونږ سوچ او عقل ترې نه کوتاه او لنډ دې نه رسی ورته-

نو دتعارف دالله دپاره دغه څلور غټې طريقې وې چه پديکښې سوچ اوشی او فکر نو دالله تعالیٰ تعارف آسان شی-او په خه انداز سره اوشی- او قرآن کريم هم دا څلور طريقې خوروی چه کوم دعقل دلائل ذکر کوی-چه هر عقلمند سړې چه سوچ اوکړی-نو هغه به تسليم کړی نه هغه دا څلور طريقې اوږدې شوې دی -يو نظام خالقيت قرآن بيا ددی جزئيات او تفصيلات ذکر کوی-او دويم نظام ربوبيت په عجيب انداز قرآن ذکر کوی-دريم نظام برکت او احسانات او انعامات دا قرآن په ناشنا انداز سره ذکر کوی-او څلورم نظام ملک واختيارات وتصرف چه اختيارونه دهغه په لاس کښې دی دا هم يو عجيب انداز دقرآن دې-دا څلور طريقې وې دپيژندلو دالله تعالیٰ په آسانه سره-نو قرآن څلور حصې شوې-

" نو اوله حصه خلق دويمه حصه تربيت دريمه حصه برکت او څلورمه حصه ملک ده- "

دسورة الفاتحه نه اوله حصه دخلق شروع کيږی نور تبعی مضامين پکښې دی خو اکثر احوال دپيدائش ذکر کوی-چه مخلوق په پيدا کولو کښې الله تعالیٰ ته محتاج دې-دنيشت نه شته کونکې دده خامخا څوک شته کونکې شته دې- نو هغه الله تعالیٰ دې-

نزولا (٥) مصحفا (١) — سورة الفاتحة مكية — ركوعات (١) آيات (٧)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة الفاتحه

سورة الفاتحه په نزول کښې پنځم (5) نمبر دې- پس دسورة المدثر نه نازل شوې ده او په ترتيب دسورتونو کښې اول سورة دې-مخکښې د سورة البقرة نه دې-

## فضيلة الفاتحة

سورة الفاتحه چونکه دقرآن کريم اول سورة دې نو دادربط او دمناسبت نه مستغنى دې ځکه مخکښې ترېنه بل سورة نشته دې چه مونږدهغې سره مناسبت اووايو-البته استاذان دربط په ځائې دسورة الفاتحې فضيلت ذکر کوى-دفضيلت دفاتحې باره کښې چه څومره روايات صحيحه راغلى دى نو دومره دبل سورة په باره کښې نه دى راغلى- دهغى نه تقريباً څلور روايات هغه شيخ القرآن رحمه الله سمط الدرر کښې ذکر کړى دى- دهغې نه مخکښې نومونه دفاتحې ځکه چه ديو سورة څومره نومونه ډير وى نو دومره دا د هغې په عزت او شرافت دلالت کوى-لکه يو سړې دې هم حافظ هم قارى هم عالم هم مفتى هم حاجى دې ،نو دادهغه په عزت دلالت کوى-نو دسورة الفاتحې دپاره هم ګڼراسماء دى-

(1) فاتحه : داورته ځکه وائى چه پدې باندې قرآن کريم کُهلاويږى او پرانستلې کيږى-

(2) شافية : دشفاء نه علاج ته وائى-ځکه چه دا هم دباطنى مرضونو او ظاهرى مرضونو شفاء او علاج دې-

(3) کافية : دا پوره ده دپاره داصلاح دعقيدې-او يو مرسل روايت کښې راځى چه سورة الفاتحه دهرڅانه عوض کيږى خو ددې نه څوک نشى عوض کيدې-

(4) ام الكتاب : عربیان هر هغه شی ته چه هغه ډیر څیزونه راجمع کوی اود هغی تابعدار ډیر وی نو هغه ته ام وائی- لکه چه کومه ځرمن هغه مازغه راجمع کوی هغې ته ام الدماغ وائی-او دلښکر غټې جهنډې ته چه ټول لښکر د هغې دلاندې جمع کیږی نو ام الجیش ورته وائی-او مکې ته ام القریٰ وائی،لکه دا دټولو کلو نه مخکښې ده- او زمکه ددې نه غوړولې شوې ده- نو سورة الفاتحه ته ام القرآن وائی ځکه چه دا دقرآن نه مخکښې ده او دقرآن ټول مضامین دې ته راجمع کیږی-څنګه راجمع کیږی؟ نو دهغې شیخ القرآن رحمه الله ټولې دیارلس وجې ذکر کړی دی- مونږ صرف دې ځایئ کښې دوه وجې ذکر کوو چه هغه ځمونږدشیوخو خاص دی-

(1) **یوه** دا چه دقرآن کریم غټ مقاصد هغه اته دی-توحید ، رسالت ، صداقت الکتاب -ایمان بالاخرة ، جهاد ، انفاق ، تنظیم ، آداب- ددې مضامینو نه دا اولنی غټ څلور دا سورة الفاتحه صراحة ذکر کړی دی- دمالک یوم الدین پورې توحید او قیامة- اهدنا الصراط المستقیم کښې صداقة الکتاب- او په انعمت علیهم کښې رسالت ذکر کوی-دا نور څلور مضمونونه هم ذکردی خو لږ په دقت سره- فرق ثلٰثه ذ کر دی نو جهاد به راځی او هغې له د مال ضرورت دې--او ایاک نعبد وایاک نستعین کښې صیغې دجمعې دی نو تنظیم ته اشاره ده او عبادت او استعانت کښې آدابو او احکامو ته اشاره ده-نو ټول مضامین د قرآن ذ کر شو-

(2) **دویمه طریقه** : چه د قرآن کریم څلور حصې دی- خالق الله تعالیٰ دې تر انعام پورې-او ترتیبت کونکې الله تعالیٰ دې دانعام نه تر کهف پورې- او برکت غورځونکې الله تعالیٰ دې دکهف نه تر سباء،او مالک الله تعالیٰ دې تر آخره دا څلور واړه په فاتحه کښې دی- الحمد لله کښې وصف مشهوره مراد دې چه خالق الله تعالیٰ دې-او په رب العلمین کښې دویمه حصه -اوپه الرحمٰن الرحیم کښې دریمه حصه -او په مالک یوم الدین کښې څلورمه حصه-نو چه الله تعالیٰ دِ اوپیژندو نو دهغه عبادت اوکړه- فَاعبدالله-او چه دهغه عبادت کوی نو صرف دهغه نه حاجات غواړه دبل چانه

نه-فادعواالله نو د زمر او حواميم خلاصه پکښې هم راغله اياک نعبد سره او اياک نستعين سره-او حواميم دټول قرآن کريم خلاصه ده او دهغې خلاصه راغله فاتحې ته-نو ټول قرآن فاتحې ته راجع شو-ګويا که داسې شوه چه :

ان الله الذى خلقک من العدم وربّاک بعد الحياة وبارک فيک
فهو الالٰهُ الواحد الصمد الذى لم يلد ولم يولد ولم يکن له کفوا
احد -(سمط الدرر صفحه 15)

يعنى کوم ذات چه پيدا کړې دنيشت نه او دژوند درکولو نه روستو ئې درله تربيت اوکړو او برکت ئې در کښې او غورځولو نو هغه الله تعالیٰ يکى يو دې حاجت سر کونکې نه يئ څوک نائب شته او نه دچا نائب دې او نه دهغه دصفاتو په شان بل څوک شته-بيا داحصه بسم الله ته هم جمع کيږى ځکه چه دځلورو حصو نه دوه صراحة ذکر شوې چه الله سره اوله حصه او الرحمٰن الرحيم سره دويمه دريمه حصه يوه يوه به پرې قياس شى-او دباء تعلق د استعين سره دې -نو خلاصه دحواميمو پکښې هم راغله نو تسميې ته جمع شو-او دالله دپيژندګلو نه اصل مقصود عبادت او د عبادت اصل چه استعانت نو باء ته راغونډ شو نو دتسميې مسئله شوه چه: "استعينوا باسمهٖ خاصة لا بغيره -"

(5) السبع المثانى : هغه اووه آيتونه چه بار بار لوستلې کيږى مونځونوکښې او يا ددې مضمون په قرآن کښې بيابيا مکرر کيږى-

(6) الرقيه : داد دم والا سورة دې صحابو پرې هم دم کړې وو او نبى **7** به پرې هم کوو-

(7) الوافيه : داد کافيې هم معنى ده -

(8) الواقيه : بچ کونکې سورة چه دا بنده دجهنم نه بچ کوى-

(9) سورة الصلوٰة : دا ځکه چه دا په مونځ کښې لوستلې کيږى او په حديث قدسى کښې راغلى دى چه قسمت الصلوٰة بينى وبين عبدى --

(10) الکنز : خزانه دا هم خزانه ده دا په يو روايت کښې نوم راغلې دې-

(11) اساس القرآن : دقرآن دمضامينو او علومو بنياد دي لکه چه مختصر بيان ئې مخکښې اوشو-

روايات چه کوم په فضيلت دفاتحه کښې راغلی دی نو هغه ډير زيات دی دارقطنی فرمائی چه دبل سورة په فضيلت کښې دومره صحيح روايات ندی راغلی-لکه څنګه چه په فاتحه کښې راغلی دی-

(1) روايت : نبی 7 فرمائيلی چه تورات ، انجيل ، زبور او قرآن کريم کښې ددې پشان سورة ندې نازل شوې-

(2) دويم روايت : بخاری کښې د اوږد روايت حصه ده چه نبی 7 صحابی ته فرمائيلی وو چه څه به تاته د قرآن کريم اعظم سورة اوخائم او بيا ئې ورته دا سورة اووې اوبيا ئې اووې چه دا سبع المثانی دې او لوئې قرآن دې-

(3) ابو هريره رضی الله عنه روايت دې چه نبی 7 ابئ بن کعب ته اوفرمائيل چه تاته داسې سورة اونه خائم چه تورات ،زبور ،انجيل ،او قرآن کښې دهغې پشان سورة ندې نازل شوې او ځما اميد دې چه ته لا دجمات د دروازې نه وتلې نه ئې چه تابه زده کړې وی- بيادغه روايت کښې دا هم دی چه داسې هم ده چه ته ئې په مانځه کښې وائې نو صحابی وائی چه ماورته فاتحه اووئيله نو نبی 7 اوفرمائيل چه ځما دِ په هغه ذات قسم وی چه دهغه په لاس کښې ځما روح دې چه په تورات انجيل او قرآن کښې ددې په شان ندې نازل شوې او دا سبع المثانی او قرآن عظيم دې چه ماته راکړې شوې دې -

(4) بهيقی کښې دحسن نه روايت دې چه الله تعالیٰ دآسمان نه يوسل څلور کتابونه نازل کړی وو دهغې علوم ئې په څلورو کښې کيخودل يعنی تورات ،زبور ، انجيل او قرآن کښې بيا دتورات ،زبور ،انجيل علوم ئې په قرآن کښې کيخودل-بيا ئې دقرآن علوم په هغه سورتونو کښې کيخودل چه هغې ته مفصل وائی-بيا دمفصل علوم ئې په فاتحه کښې کيخودل -نو چه چا دفاتحې تفسير زده کړو نو داسې ده لکه چه هغه د ټولو آسمانی کتابونو تفسير زده کړو-

نور هم ډير رويات او آثار او اقوال شته دي خو نکتفی بهذا۔

کله استاذان دلطيفي په طور ربط دفاتحې دنزولی ترتيب سره بيان کړی چه سورة علق کښې ترغيب وو قرآن ته نو قلم کښې تشجيع او بهادری ده او په مزمل کښې ترغيب الی القرآن چه ملګری په دی تيار کړه نو مدثر کښې چه کار به دِ څه وی؟ چه" وربک فکبر" -اوس څنګه به تکبير بيانوم او څه به بيانوم هغه مضامين اجمالاً خائی چه دهغې رسول ضروری دی -دا څما محترم استاذ شيخ الاسلام کابلګرامی رحمه الله تعالیٰ دافاداتو نه دی-الله تعالیٰ دِ دهغه قبر منور کړی او الله تعالیٰ دِ دهغه نسل په قرآن او سنت آباد ساتی ، سره څما د ټولواستاذانو-- آمين ثم آمين

## دعوی دسورة

دسورة الفاتحه مرکزی مضمون او دعوی اومقصد هغه هغه دې چه کوم دقرآن کريم دعوی اصلی ده چه "التوحيد "-دالله تعالی تعارف او پيژندګلو دالله دشان مطابق چه هغه په ذات او په صفاتو کښې يو اوګڼړه-"دانور مضامين چه مونږ مخکښې ذکر کړل نو هغه تبعاً بيانيږی-کله استاذان دعوی مقاصد اربعه عاليه يعنی توحيد ، رسالت ،صداقت الکتاب او ايمان بالاخرة هم وائی-خو اول اولیٰ دې-"

## خلاصه دسورة

داسورة دا خپله مسئله چه اثبات دتوحيد دا په کوم انداز بيانوی نو دابتداء نه تر آيت 3 "مالک يوم الدين" پورې دعوی او په هغې باندې څلور دلائل ذکر کوی-او بيا په 4 آية کښې ددلائلو ثمره او نتيجه ذکر کوی- د"اهدنا" نه تر آخره پورې دعا ده دتثبت او دکلکون په دعوی باندې، او ذکر دفرق ثلثو سره دهغوئ دنتيجو نه -

په حديث قدسی کښې چه کومه خلاصه ددې سورة راغلې ده نو هغه هم تقريباً داسې ده څکه چه دابتداء نه تر " مالک يوم الدين " دا دالله تعالیٰ برخه ده-او " اياک نعبد " دا دبنده او الله تر مينځه ده يعنی بنده عابد نو الله معبود ، بنده مستعين نو الله

تعالیٰ مستعان-او د" اهدنا " ه دا صرف دبنده ده- او الله تعالیٰ فرمائی چه" ولعبدی ماسئل "-ځما بنده چه څه غواړی نو هغه به ورته ملاؤ شی-دعا غوختل دبنده کار دې-

## مقاصد الآيات وتناسبها

الحمد لله (1):دعوی دسورة سره داولنی دلیل نه -- دعوی دسورة توحید وو نو الحمد لله کښې هغه ذکر کوی چه صفات دخدائې توب دالله تعالیٰ دی دبل چا نه دی-چه مشرکان داصفات بل چاته ورکوی نو دعوی شوه او اولنې دلیل ورسره هم شو-

لله : په دیکښې وصف مشهوره دخالقیت مراد دې- چه الله په صفت د خلق هر چا پیژندلو-مشرکانو نه به دِ چه هم تپوس اوکړو چه ستاسو خالق څوک دې؟نو هغوی به جواب کښې وئیل چه الله تعالیٰ- نواولنې دلیل چه اې ظالمانو!چه لکه صفت دخلق هغه لره منئ نو دغه شان ورله دا نور صفات هم اومنئ او هغه پکښې یواځې اوګڼړئ- نو مطلب چې " الحمدُ للخالقِ "

رب العٰلمین: دویم دلیل ! چه الله تعالیٰ په خپلو صفتونو کښې یواځی او تنها ځکه دې چه صرف هغه الله تعالیٰ رب دې او پالونکې، بل څوک تربیت کونکې نشته دې - نو چه تربیت صرف الله لره منئ نو الحمد لله نور صفات هم دهغه اومنئ-

الرحمٰن الرحیم (2) : دریم دلیل ! هر قسم احسانات که عام دی او که خاص دی که دنیا کښې دی او که آخرت کښې او خیرونه او برکتونه ورکونکې الله تعالیٰ دې-نو ددې نه معلومیږی چه الله تعالیٰ په خپلو صفتونو کښې یو دې-

مالک یوم الدین--(3) څلورم دلیل ! چه مالک اختیارمند دټولو کارونو یک یو الله دې - پدې دنیا کښې هم خصوصاً په هغه ورځ چه ددنیا مالکانِ مجازیان او ستاسو معبودانِ باطله دا به ټول عاجزه وی او څه وس به نه لری نو مالک او اختیارمند الله تعالیٰ شو-نو نور صفات دخدائې توب هم دهغه دی-

اياک نعبد واياک نستعين --(4) ثمره ددلائلو او نتيجه ! ددلائلو نه دا نتيجه راوته چه اوس به ستاسو ضمير او عقل چه سالم وی او دضد او دعناد نه پاک وی نو هغه به دا آواز کوی چه اې الله تعالیٰ مونږ هر قسمه عبادت او هر قسمه تعظيم صرف تاله کوواو بل چاله ئې نه کوو او په خپلو ټولو حاجتونو کښې صرف تا رامدد کوو بل ځوک نه رامدد کوو- دا هم دالحمد لله يو معنی شوه خو په بل انداز چه دمشرکانو دامطالبه کيدله ګنی ځنی صفتونه خوهغوی الله تعالیٰ لره منل او تنها ئې پکښې هم ګنړلو خو په عبادت او استعانت کښې به ئې تنها نه ګنړلو نو په هغوی هم رد راغلې- نوداد دلائلو لازمی اثر شو-

اهدنا الصراط ----(5) دعا د کلکيدلو په دعوی باندې يعنی دربط القلب دعاء- او ذکر د فرقو ثلثو سره دنتيجې دهغې نه ! دا دعوی ډيره زبردسته ده او ډيره قيمتی ده - شيطانی قوتونه به اوس ستا خلاف کار کوی نو دا زبردسته نيغه لار ده-نو په دِ د کلکيدلو دالله تعالیٰ نه سوال کوه- چه الله دِ پرې هميشه کلک ساتی - اې الله تعالیٰ ! مونږه پرې کلک ساته-او د د عوی او دلائلو سره به داسې نه وی چه ګنی ټول خلق به منونکی شی بلکه څه به منونکی شی او څه به ضد او عناد او جهل کښې پاتې شی او ديته به رانشی-

صراط الذين انعمت عليهم-- (٦) ذکر دفريق اول نمونه دهغه چا چه هغوی ته ربط القلب نصيب شوې وو- او هغوی ته بشارت دا هغه بختور دی چه دوی په دِ دلائلو او توحيد ځان پوهه کړو او عمل ئې پرې شروع کړو-نو دوی سره دانعاماتو تذکره کوی چه دوی له به الله تعالیٰ انعامات ورکړی- نو اې الله ! مونږ دداسې خلقو په لار روان کړه-

غير المغضوب عليهم ولاالضالين-(7) ذکر دنورو دو ډلو چه هغه په توحيد کښې مخالف شوی وو او هغوی له يره او تخويف ! يوه ډله چه په هغوی غضب اوشو سره

دپوهيدلو نه انکار اوکړو پوهه هم شو او انکار ئې اوکړوضديان او عناديان دی نو سزا دا شوه چه په دوی غضب دې- يعنی مهرجباريت پرې لګيدلې دې-

بله ډله چه هغوی د سره د ځان دپوهه کولو تکليف نه کوی،نو حيران او پريشان دی چه مونږد چا پسې لاړ شو- ددوی سزا چه ضلال کښې دی-نو چه په چا احسان شوې دې نوهغه ددې دوو نه علاوه دی- پدې دويمه لا مهر نه دې لګيدلې-دوئ قابل داصلاح دی-

## حاصل دسورة

اې انسانانو اوپيريانو ! دخدائې توب صفات صرف الله تعالیٰ له اومنئ هغه خالق اورب او رحمٰن او رحيم يعنی برکت غورځونکې او اختيارمند دې نو صرف هغه له عبادت کوئ-او په حاجاتو کښې صرف هغه رامدد کوئ-دا يو خکلې او مضبوطه عقيده ده پدی دکلکيدلو دعاګنی کوئ چه الله ددې عقيدې دعمل کونکو او علم لرونکو سره مو يو ځائې کړی او کوم چه سره دعلمه نه منی او يا دهغوی علم خراب شوې دې دهغوی د ملګرتيا نه مو اوساتې-

## امتيازات

(1) تعليم المسئله يعنی دالله تعالیٰ نه د غوختلو طريقه خائی-چه اول صفتونه دالله تعالیٰ اوکړه بيا خپله عاجزی اياک نعبد بيا خپله وفاداری اياک نستعين سره او بيا خپل حاجت اهدنا سره-

*گدا خود را ترا سلطان چوں دیدم    بدرگاہ تو اے رحمان دو دیدم*

(2)بيان درد په فرق ضالو دمشرکينو او مبتدعينو ټولو -(3) ام القرآن

(4) ذکر دفرق ثلثو سره د نتيجو نه په مختصر الفاظو باندې-

(5)صفات دالله تعالیٰ او دلائل-(٦) داثبات دنبوت دپاره لس طريقې-(٧) دوه بيمارئ او دوه علاجه - تکبر او حسد بيمارئ دی- دهغې علاج داياک نعبد او اياک نستعين-(٧)

دالله تعالیٰ پنځه صفتونه او پنځه صفتونه دبنده-(٨) دهوښيار سړی علامات -<١> چه تعلق دالله تعالیٰ سره جوړوی- <٢> انکساری او تواضع وی پکښې-< ٣ >خپل مقصد پیژنی اهدنا سره-< ٤> ښه ملګری سره ملګرتیا کوی ، صراط الذين-< ٥> دغلطو دملګرتیا نه ځان ساتی-(٩) بیان دادب چه دنعمت او دخو څيزونو نسبة الله تعالیٰ ته پکار دې او دغضب او ضلال ندې پکار-(١٠) دالله تعالیٰ دمعرفت څلور طريقې خلق، تربيت، برکت، او ملک-

**تمت** سورة الفاتحه بعون الذى لا تخفىٰ منه خافية،

12 ه 1433 ه يوم الجمعة 28 ستمبر 2012 ء 12:21 من صباح

تصحيح ونظرثانی : ١٢ جمادی الاولیٰ ١٤٤٠ھ ١٧ جنوری ٢٠١٩ء يوم الخميس

بمقام غلنئ جیل مهمند

نظر ثالث : ٢٦ جمادی الثانی ١٤٤١ھ ٢٠ فروری ٢٠٢٠ يوم الخميس بمقام فضاء ګټ جیل سوات

نزولا (٨٧) مصحفا (٢) — سورة البقرة مدنية — ركوعات (٤٠) ايات (٢٨٦)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة البقره

سورة البقره مدنی سورة دې په نزول کښې اووه اتیایم (87) نمبر دې پس دسورة المطففین نه نازل شوې دې او په ترتیب دسورتونو کښې دویم (2) نمبر دې پس دسورة الفاتحه نه-

## ربط دمخکښې سورة سره

مناسبت او ربط دمخکښې یعنی د البقرة دفاتحې سره هغه په ګنړو وجوهو باندې دې څنې دهغې نه دلته ذکر کولې شی-

اوله وجه : په سورة الفاتحه کښې بیان دتوحید اوشو نو سورة البقره ددغې دعوې وضاحت کوی او دلائل پرې پیش کوی-" يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ --(21)" سره-

دویمه وجه : په سورة الفاتحه کښې سوال دمومنانو وو چه :"اهدنا الصراط-" نو سورة البقره کښې دهغې قبلیدل دی-چه : "ذالک الکتاب " هغه صراط مستقیم چه تا غوختلو نو هغه دا قرآن کریم دې-

دریمه وجه : په سورة الفاتحه کښې دالله تعالیٰ پنځه صفات بیان کړل-الله ، رب ،رحمٰن ، رحیم ، مالک -نو په سورة الفاتحه کښې پنځه صفات دمومنانو په هغې تفریع کوی چه دا صفات د الله تعالیٰ دِ اومنل نو اوس به دا کارونه کوې-(یعنی فاتحه کښې وې چه دعقیدې پنج پیرې شوې نو بقره کښې وائی چه اوس دعمل پنج پیرې شه-)

څلورمه وجه : په سورة الفاتحه کښې بیان دمقاصد اربعه عالیو وو اجمالاً نو په سورة الفاتحه کښې دهغې تفصیل کوی-

پنځمه وجه : چه په سورة الفاتحه کښې ذکر دفرق ثلثو وو او دهغوی جزا او سزا خو په لنډو الفاظو سره نو په سورة البقرة کښې دهغې تفصيل او وضاحت کوی دابتداء نه اوصاف او نتائج ئې خائی تفصيلاً خه په اوږدو باندې-

## دعوی دسورة

دسورة البقره مرکزی مضمون او دعوی هغه څلور خبرې دی ځکه سورة اوږد دې نو مضامين ئې ګنړ دی-توحيد ، رسالت ، جهاد فی سبيل الله او انفاق فی سبيل الله- يعنی دوه داولنی څلورو مقاصدو نه صراحة بيانوی دوه ورسره پټ بيانوی.او دروستنو نه دوه صراحة بيانوی او دوه ورسره پټ بيانوی-خو اصلاً پکښې دغه څلور دی دا نور څلورتبعاً او خدمت له دی -يعنی توحيد ثابتوی او درسالت خبره کوی او جها د ، انفاق- نو دعوی دسورة اثبات المقاصد الاربعة - ددې څلورو مقاصدو بيان دا دعوی دسورة ده-

## خلاصه او تقسيم دسورة

دسورة مختصره خلاصه داده چه دابتداء نه ذکر دفرقو ثلثو چه هوښيار شه دا به دِ مخې له راځی-اودهغوی جزا او سزا او مثالونه- بيا ذکر دتوحيد په هغې دلائل او انعامات اول په خطاب عام او بيا په خطاب خاص سره او دبنی اسرائيلو تذکره په اوږدو باندې-چه نه منئ نو اعلان دمباهلې داتر 96 پورې بيا ذکر درسالت او په هغې نهه شبهات او دهغې جوابونه او آخر کښې توحيد او رد دشرک فعلی دا تر 176 پورې- بيا ذکر دجهاد او دهغې مختلف منازل ذکر کوی-دځان دسمولو ، د ملک دسمولو او دکور دسمولو-اوبيا په واقعه دطالوت ترغيب داتر 253 پورې- بيا ذکر دانفاق اول دوه قسمه خلق دهغوی مثالونه بيا دانفاق تفصيلی تذکره مثالونه ترغيبات او تحذير دسود نه او دصحيح معاملاتو طريقه او تتمه دسورة کښې خلاصه دمضامينو دسورة --تفصيلی خلاصه په تقسيم کښې راځی-ځکه مختصر اوليکلې شوه بيا تکرار راځی-

## تقسیم دسورة

سورة البقره چه بیان ددې مضامینو کوی نو دا منقسم ده څلورو حصو ته- اوله حصه دابتداء نه تر 96 آیت او په کښې توحید بیانوی-دویمه حصه د 97 " قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ " نه تر 176 پورې پدیکښې بیان درسالت، دریمه حصه د 177 " لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ " نه تر 253 پورې پدیکښې بیان دجهاد فی سبیل الله تعالیٰ دې-څلورمه حصه د 254 " يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا " نه تر آخرتر سورته پدیکښې انفاق فی سبیل الله تعالیٰ او په آخرې رکوع کښې خلاصه دسورة-

## الحصة الاولی

تفصیل : اوله حصه دابتداء نه تر 96 نمبر آیة پورې ده پدیکښې بیان دتوحید دې او دا درې بابونه ده -

**اول باب** : تر ایة 20 پورې " إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ " پورې پدیکښې تمهید دے اصل مسئلے ته ۔ ابتداء په مقام دقرآن کریم او بیا ذکر داولې ډلې چه مومنان دی دهغوی پنځه صفات او نتیجه دآخرت تر آیة (5)پورې- د آیة (6) نه ذکر ددویمې ډلې چه کافران نه منونکی دی یعنی " مغضوب علیهم " دهغوی په دو آیتونو کښې تذکره او نتیجه ددنیا او آخرت او د آیة (8) "ومن الناس " نه تر (16) " وماکانوا مهتدین "پورې ذکر دمنافقینو یعنی دضالینو - دهغوی ناکاره صفتونه ذکر کوی او حکمونه ورله ذکر کوی - د " آیة (17) مثلهم " نه مثال دکافرانو او د (19) نه دمنافقانو مثال ذکر کوی-نو په باب اول کښې بیان دترغیب الی القرآن او ذکر ددریو ډلو بطور تمهید -چه راروان اهم اعلان ته لار سموی چه یو قیمتی اعلان د کیدلو دې - نو دی کښې شک نشته - ددې منونکی په عقیده او عمل کامیاب دی او نه منونکی په دنیا او آخرت کښې ناکامه دی- کوم چه دوه رنګی دی نو هغوی دِ هم سم شی - ګنی تباه به شی- هغه اهم اعلان کوم دې؟ نو هغه مسئله دتوحید " اعبدوا " سره-

**دویم باب**: دآیت (21) " یاایهاالناس " نه تر آیت (39)" هم فیها خالدون " پورې پدیکښې اول دعوی اصلي په خطابِ عام سره ، یعنی هغه انقلابي آواز چه دهغې دوجې خلق درې ډلې شو- بیا پنځه دلائل پدې او ثمره " فلا تجعلوا لله انداداً "سره -
" وان کنتم فی ریبٍ " (23) نه رد په منکرینو د رسالت باندې او دلیل وحی -بیا تخویف نه منونکو ته - په (24) کښې او بشارت منونکو ته په (25) کښې او (26)کښې جواب دشبهې کوی- د " کیف تکفرون " (28) نه څلور انعامات عامه چه په عامو خلقو الله تعالیٰ کړی چه که په دلیل څوک منی نو هغه به په دلیل اومنی ګنی نو په احسان دِ اومنی ځکه " الانسان عبدالاحسان" -اول احسان (28) چه تاسو مِ دنیشت نه شته کړی یئ-دویم احسان چه ددنیا دفائدې څیزونه مِ ستاسو دپاره پیدا کړی دی-په (29)کښې دریم احسان چه فرشتو ستاسو دپلار آدم تعظیم کړې وو -داپرې الله تعالیٰ کړې وو-په (34)کښې څلور احسان ستاسو دبابا آدم 7 نه چه کوتاهی شوی وه هغه مِ ورته معاف کړی وه-نو دومره احسانات مِ کړی دی بیا هم نه منئ او شرک کوئ یعنی تاسو سره مِ احسانات کړی دی او ته د غټ خاندان سړې ئې- بابا ته دِ اوګوره نو دغټ خاندان سړی سره سپک کار چه شرک دې خوند نه کوی- ختم په بشارت او تخویف-
**دریم باب**:دریم باب د (40) نه تر (96) پورې دې-د" یٰبنی اسرائیل " نه- پدیکښې اووه فصول دی یعنی دبنی اسرائیلو دپاره په مختلف اندازونو خبره کوی-خطاب خاص دې-اول فصل د (40) نه تر (48) تر ختمه پورې-باقی خطابات شپږدی یعنې شپږ اندازونو سره خبره کوی-اول فصل کښې درې پلیتئ دیهودو ذکر کوی،چه دهغې نه ځان بچ کول پکار دی- تحریف ، کتمان حق او ترک عمل- دا پلیتئ دیهودو وې-او درې خه صفتونه دمومنانو چه په دې ځان خائسته کول پکار دی-صبر ، صلٰوة او ایمان بالآخرة- په (28 ) کښې تخویف- چه په آباء واجدادو فخر مه کوئ څه فائده نشی درکولې فائده د" اعبدوا " په منلو کښې ده - نو راشئ او منئ-

خبـرد ا رے : چه داحضرت شيخ القرآن وئيلی دی نو اوامر خو هم د دريو نه زيات دی او نواهی هم - نو په څه ترتيب درې درې وائی؟ نو جواب دادې چه دلته اندراج دې - اصول ديهوديت شيخ القرآن خودلی دی نو هغه دريو ته راګرځی او د څه اعمالو اصول ددغه مرضونو علاج دغه دريو ته راګرځی-

خطاب اول : داد (٤٩) نه تر (٦٢) پورې دې پديکښې ديهودو سره پدې انداز خبره کوی چه اومنئ ځکه څما داحساناتو دلاندې يئ- نو اته احسانات ذکر کوی او دوه عذابونه- اته احسانات ،49، 52، 53 ، ٥٤، 55، 57، 57 ، ٦٠ -او دوه عذابونه يو په 59 کښې او دويم په ٦١ کښې عذابونه ځکه ذکر کوی چه په احسان کولو کښې څه مجبور نه يم کله مو چه بې ادبی کړې ده نو څپيړه ۾ درکړې ده اوس هم درکولې شم-او ختم دخطاب په ترغيب باندې-

دويم خطاب : د (63) نه تر (82) پورې- پديکښې خبائث ذکر کوی چه داخلق قابل دتقليد نه دی- ددوی اقتداء مه کوئ-درې قبائح دمشرانو ديهودو ذکر کوی او څلور د اوسنو يهودو-درې دمشرانو دهغوی ذکر کوی- نقض العهد (وعده ماتول )په آيت (63)کښې دويم الحيل فی احکام الله تعالیٰ (يعنی دالله احکاماتو کښې چلونه کول ) دهغې دوه نمونې ذکر کوی-يو 65 ، 66 کښې دويم د 67 نه تر 71 پورې-دريمه پليتی قتل النفس واتهام البری (چه وژل دمال دپاره او په بې ګناه تهمت لګول) په 72 ، 73 کښې - بيا زجر- او 75 نه داوسنو خباثتونه ذکر کوی يو چه دوی کښې تحريف کونکی دی-دا په 75 ، 79 کښې دويم منافقان دی پکښې په 76 کښې ، دريم چه مقلدين دی د آراؤ ديهودو په 78 ، څلورم سره دبد عمل نه دجنت دعوې کوی-په 80 کښې او ختم په تخويف او بشارت --

دريم خطاب : دريم انداز دادې چه دوی اوامرو باندې عمل نه کوی او چه کوم نواهی دی نو په هغې اتيان کوی، يعنی د کولو کار نہ کوئ او د نہ کولو هغې تہ پړانګ دے -دا

د 83 نه تر 86 او ختم په تخويف باندې-اول ايت کښې اوامر او دهغې نه اعراض او وريسې نواهی او دهغې نه اعراض ذکر کوی-

څلورم خطاب : 87 ، 88 کښې چه انکار ددوی د مخکښې انبياء کرامو نه دا دمخکښې خطاب نتيجه شوه چه دا انبياء نه ئ انکار شروع کړو-اوامر او نواهی څه چه دهغې بيانونکی هم نه منی او وژنی ئې-

پنځم خطاب : 89 ، 90 کښې چه ددې پيغمبر نه هم انکار کوی سره داقرار او دعاګانونه - ددواړو خطابونو تتمه يوه ده -په زجر او توبيخ او په تخويف سره -

شپږم خطاب : د 91 نه تر 96 پديکښې خلاصه دتير او اعلان دمباهلې د 94 نه -

## الحصة الثانية

دويمه حصه دسورة د 97 نه شروع کيږی تر 176 آيت پورې- دا په صداقت الرسول6 کښې چه توحيد اومنه په تعليم دنبی 7 چه دا دالله تعالىٰ حق استاذې دې خو چونکه خطاب اکثر يهودو سره نو دهغوی اعتراضات او دهغوی جوابونه هغوی په رسالت شبهات کوی نو دهغې جوابونه کوی نهه شبهات کوی او دهغې جوابونه-

اوله شبهه 97 آيت کښې او دهغې جواب دويمه شبهه او دريمه په 102 کښې ،څلورمه شبهه په 104 آيت کښې او پنځمه شبهه په 106 آيت کښې اوومه شبهه په 116 کښې مينځ کښې زواجر وغيره دی-او د 124 نه تر 141 پورې تذکره دابراهيم 7 ددريو خبرو دپاره چه " بيت الله بنی للتوحيد " نو ولې پکښې شرک کوئ په 125 کښې، دويم دا پيغمبر د ابراهيم 7 دعا ده نو ولې ترنه انکار کوئ په 129 کښې ،او دريمه توحيد د انبياء متفقه فيصله ده نو ولې ترې نه انکار کوئ په 132 ، 133 کښې - 142 کښې اتم اعتراض او شبهه او دهغې جواب په 158 کښې نهم اعتراض اودهغې جواب -بيا ترغيب بيان دحق ته د 163 نه مسئله دتوحيد په هغې دليل او زجر

او 168 نه رد د شرک فعلي -ابتداء دسورة کښې رد دشرک اعتقادی او آخر کښې رد د شرک فعلي او زجر کاتمانو دحق ته-

96 نه تر 123 پورې اووه شبهات دهغې جوابونه - 124 نه تر 141 پورې تذکره دابراهيم **7** ددريو مقصدونو دپاره او د 142 نه تر 176 پورې دوه شبهات او مسئله دتوحيد رد دشرک فعلي او زجر کاتمينو دحق ته-

**الحصة الثالثه**

دسورة دريمه حصه د 177 نه تر 253 پرې ده- پديکښې بيان دجهاد فی سبيل الله چه لااله الاالله محمد رسول الله دپاره جنګ اوکړه -دا مسئله په عالم خوره کړه-دجهاد مختلف منازل او مراتب دی درې بابونو کښې ذکر کوی-

اول باب اومنزل : تهذيب الاخلاق چه دمجاهد تربيت دهغې لس اوصاف ذکر کوی 177 کښې -

دويم باب او منزل : تدبير المملکة چه دجهاد دپاره دا ضروری ده چه په ملک کښې به اندرونی فساد نه وی -دا سياست مدنی دې -پدې سره به ظلم ختم شی او کلې به دفساد نه پاک شی-چه کوم ملک او وطن کښې ظلم او عدوان وی او فساد وی نو هغه قوم جهاد نشی کولې - ددې دپاره څلور قوانين ذکر کوی- اول 178 کښې قصاص دظالم نه - دويم چه تقسيم دمال په قانون شرعی 180 کښې -دريم مسئله دصوم چه ارکان جهاد ته تيار شی - نهی درشوت نه 188 کښې -بيا ذکر ددعوې دقتال 190 کښې- د 196 نه مسئله دحج تنويراً علی الجهاد لکه چه جهاد کښې دواړه مال او بدن کړيږی نو حج کښې هم - او دخلقو تقسيم دوو قسمونو ته شقی او سعيد 207 پورې-بيا تر غيبات جهاد ته-

دريم باب او منزل : دجهاد دريم منزل هغه هغه آداب دی چه په هغې سره اصلاح دکور راځی يعنی تدبير المنزل- ځکه چه مجاهد ته دکور نه پريشانی وی نوهغه جهاد نشی

كولې-نو دكور د اصلاح دپاره 18 حكمونه ذكر كوى دآيت 215 نه تر 242 پورې - 243 نه تر 253 پورې ترغيبات جهاد ته او ترغيب دپاره واقع دطالوت ذكر كوى-سره دحكمت دمشروعيت د جنګ ته په آيت 251 كښې -

## الحصة الرابعة

څلورمه حصه دسورة د 254 نه تر آخر تر سورة ده او پديكښې بيان دانفاق فى سبيل الله دې - چه جهاد بغير دانفاق نه ترقى نه كوى-اول دعوى دحصې 254 كښې بيا مسئله دتوحيد چه دكومې دپاره جهاد كيږى - بيا ذكر ددوو ډلو چه يو اولياء الرحمٰن چه يو دالله دوستان دى-چه څه تياره راځى هغه الله تعالىٰ ختموى-او دويم اولياء الشيطٰن دى چه څه رڼړا راځى هغه ورته دې تياره كړى په 257 كښې - او مثالونه اول داولياء الشيطٰن 258 كښې- او داولياء الرحمٰن دوه مثالونه 259 او 260 كښې -بيا د 261 نه تر 266 پورې مثالونه دمخلصينو او غيرمخلصينو- د 267 نه تر 274 پورې ترغيب انفاق ته او بيان دمصارفو او تحذير شومانو ته- 272 كښې تسلى نبى**7** ته -د 275 نه تحذير سوديانو ته چه غلط معاملات مه كوئ -

282 نه صحيح معاملات ذكر كوى- 284 نه خاتمه دسورة او پديكښې څلور واړه مسئلې بياذكر كوى-

تـمـت خلاصة البقره

## مقاصد الايات وتناسبها

## الحصة الاولى

دابتداء دسورة نه تر آيت 96 پورې اوله حصه دسورة ده - پديكښې مسئله دتوحيد ذكر كيږى-ااو دا درې بابونه ده-اول باب دابتداء نه تر 20 آية پورې-پديكښې ذكر ددريو ډلو كوى-چه داعى هوښيار شى - چه دانه چه څه دعوت وركړم دتوحيد نو ټول به

ځما منونکی شی بلکه داسې درې ډلې به ستا مخې له راځی-دا ددې انقلابی آواز اثر دې -نو دا اولنې باب مسئلې ته لار سموی او تمهید دې -

ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ-اول باب تر 20 پورې --او پدې کښې فرق ثلثه بطور تمهيد--

ذَلِكَ الْكِتَابُ :مقام دقرآن کريم او ترغيب ، دقرآن مدح او تعريف کوی چه راروان مضمون دزړه په غوړو واورئ ځکه دا عظيم الشان مضمون دې او دشک شبهې نه پاک دې -

هُدًى لِلْمُتَّقِينَ (2) دقرآن کريم بل صفت چه پدې سره داسې زبردست جماعت تياريږی چه دهغوی راروان اوصاف دی نو دا اومنئ چه دکاميابئ په لار قدم کيږدئ-

الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ --(3)ذکر داولې ډلې چه هغه منعومٌ عليهم دی- يعنی احسان والا خلق او منونکی دقرآن -دهغوی پنځه صفتونه ذکرکوی-

الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ : اول صفت چه لکه ديهودو په ايمان کښې چون چرا نه کوی چه حتی نری الله جهرة بلکه ايمان راوړی په پټو څيزونو باندِ او ناديده-

وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ : دويم صفت چه عمل کوی دا مونځ دعقيدې زوت او ياداشت او اجراء ده لکه ديهودو " تنسون انفسکم " والا ندی-چه ځان هيروی او بل ته مسئلې کوی-

وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ (3) دريم صفت چه مالی تعظيم هم د الله تعالیٰ کوی دالله تعالیٰ په نوم مال لګوی لکه ديهوديانو اعتراضونه نه کوی چه : " انّ الله فقير ونحن اغنيا ء " چه نعوذ بالله الله تعالیٰ غريب شوې دې څمونږ نه غواړی-نه به دوی منل کوی-

وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ ---(4)څلورم صفت چه کومه آسمانی وحی ده که تاته شوې ده او که نورو انبياؤ ته شوې ده نو په هغې د زړه نه ايمان راوړی چه دا حق ده - ديهوديانو پشان ندی چه وائی : "نؤمن بما أنزل علينا ويکفرون بما وراء ه -" چه خپله وحی منو او دنورو نه انکار کوو-

وَبِالْاخِرَةِ -- پنځم صفت :چه دالله په خوخه او په آسمانی تعلیم آخرت منی دقانون مطابق ، او یقین پرې کوی دا نه چه لکه دیهودو وائی چه آخرت شتې خو مونږله دوزخ نشته او مونږ به جنت ته ځو-او فخر په آباء کوی-مسلمانان داسې جماعت دې چه په قانون الٰهی مطابق قیامت منی-نو دمومنانو داسې صفات او دیهودو دغه ګنده صفات وو-ځکه یهود لرې کول پکار دی او مسلمانان په عالم قائمول او پاتې کول پکار دی-نو په دنیا د عالمګیر حکومت کولو د خلافت الهیه اختیار هغه دمومنانو دې نه که دیهودو ځکه دا صفات پدې امت کښې دی- او ددې صفت والا نتیجه داده :

أُولَئِكَ عَلَى هُدًى مِنْ رَبِّهِمْ--- بیان دحکم او نتیجه دنیاوی-دا ډله چه مومنان دی او داصفات پکښې راغلل نو ددوی د دنیا میوه داشوه چه دادهدایت په اس سواره شو-دا تمغه ورله الله ورکړه - ددوی طرف صحیح دې او لارئې صحیح نیولې ده-

وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (5) بیان دحکم اُخروی او ثمره اخروی-ددوی دعمل دآخرت ثمره چه دوی ته په آخرت کښې ددې عمل میوه ملاؤ شی چه دوی به کامیاب شی او کامران په خپل مقصود کښې-محبوب به ورته ملاؤ شی او چه دڅه نه یریږی د هغې نه به بچ شی-

دا خو هغه وو چه دقرآن دعوت ئې قبول کړو نو داسې خلق ترې جوړشو اوس هغه اوګوره چه هغوی دعوت دقرآن اوغورځوو-

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ---(6) ذکر ددویمې ډلې چه هغه کافران دی- یعنی مغضوب علیهم-چه هغوی په مسئله پوهه شو-او ضد او عناد کوی او منی نه -نو راشه ددوی حال اوګوره چه ددوی څه حال دې؟

سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ :دا ددوی ناکاره صفت ذکر کوی چه په دوی وعظ دداعی بالکل اثر نه کوی بیان کول او نه کول په دوی برابر ،هغه شان زړه په زړه پاتې شی-مومنان ترې اثر قبول کړو او دوی ترې د سره څه فائده نه اخلی- " کان لم یسمعها --- "

خَتَمَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ --- داد دوی ددنیا حکم او ثمره چه ددنیا اثر ئې دا شو چه اسباب د علم ئې ختم شو ځکه کوم څیز چه الله تعالیٰ کوم مقصود له ورکړې وی او په هغه کښې نه استعمالیږی نو هغه زنګ اوکړی او خراب شی-چه څوک ګرځی نه نو په خپو ئ درد راځی.نودا اسباب الله تعالیٰ دحق پهچان له ورکړی دی نودې دا اسباب په هغی کښې نه استعمالوی نو دا اسباب بند شو -دا دده دبد عمل نتیجه شوه-چه مرچکې خورې نو خله به دِ ترخیږی-

وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ (7) دا نتیجه دآخرت -چه په آخرت کښې ورته ددې عمل لویه سزا ملاؤ شی - نو دواړه دِ اوکتل نو کوم دِ په ځان سود وی هغه مخکښې که دا او که دا --دا خو هغه وو چه دسره اوریدو ته تیارنه وو یا اوریدل ئې کول خو فائده ئې ترې نه اغسته اوس راشه چه یو بل جماعت اوګورو :

(8)وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ --- ذکر ددریمې ډلې ضالین یعنی منافقین او دورنګه ډله ،چه هغوی وخت پاس کوی-داسې یو جماعت به هم وی چه هغه به په ظاهر ځان تا سره ملګرې کوی او وی به ستا د دشمن دوست -داډیر خطرناک دې نقصان ئې هم زیات دې او پیژندل ئې هم ګران دی- نو قرآن دده بیان په اوږدو کوی-او پلیتئ ورله ذکر کوی چه ځان بچ کول ترې اسان شی-مسلمانانو ته او اسلام ته چه د منافق نه څومره نقصان رسیدلې دې نو دومره نقصان دسور کافر نه ندې رسیدلې- ځکه چه شکل د مفسد وی او فساد کوی نو د هغه نه بچ کیدل آسان وی او چه شکل د مصلح وی او فساد کوی نو دهغه نه بچ کیدل ګران دی - نو ځکه قرآن دده بیان په اوږدو کوی چه اوئ پیژنه او ځان ترې اوساته-دا په دوه قسمه دې اعتقادی او عملی-اعتقادی چه عقیده دکفر وی او په خله صرف اسلام زوتوی-دویم عملی چه عقیده ئ دکفر نه ده خو ظاهری عمل هغه دمنافقت کوی-تاسره یو شان چلیږی او یوشان خبره کوی اوزړه کښې دهغې خلاف ساتی- بغض وغیره-داتر 16 بیانوی-

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ --- دا دمنافق تعريف دې خو مونږته ددې پته نه لګی-ځکه مونږزړه نه څه خبر یو نو قرآن نخې شروع کړې-

يُخَادِعُونَ اللَّهَ --- (9) اول خباثت چه المخادعة : چه پدغه دورنګئ باندې مومنان دهوکه کول غواړی چه مونږبه مسلمانان شمار شو نو دنیاوی فائده به راته ملاؤ شی-

وَمَا يَخْدَعُونَ --- دویمه پلیتی چه شعور پکښې نشته -دومره نه پوهیږی چه دا دهوکه مِ دځان سره ده-

فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ ----(10) دریمه پلیتی چه مرضیان دی چه په زړونو کښې دشک او نفاق بیمارتیا ده نو پکار ده چه ځان له علاج اوکړی،یعنی دوی داسې نده چه مهر پرې لږیدلې او مرض ئې لاعلاجه دې نه بلکه که دعلاج دکتاب نه علاج کوی نو اوبه شی - خو :

فَزَادَهُمُ اللَّهُ مَرَضًا :اول حکم دنیاوی ،چه دوی دقرآن نه ځان سم نه کړو نو هغه بیماری ئې نوره هم سوا شوه -نو که پدې حالت ورله مرګ راغې نو :

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ : حکم اخروی که ځان ئې سم نه کړو او مرګ ورله راغې نو معذب به شی-

بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ (10) دائې پلیتی ده چه کذب دقول او عمل کوی-قول "امنّا بالله " او دفعل "يخادعون الله "- یعنی وینا هم ددروغو او عمل ئې هم ددروغو-

(11) وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ --- پنځمه پلیتی چه دوی اصلاح ته فساد وائی-یعنی دمسلمانانو رازونه فاش کوی کافرانو ته او وائی چه مونږ اراده دصلح ده -نو دوی فساد ته اصلاح او نور داسې ډیر خپل روان کار ته سم وائی-

(12) أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ ---شپږمه پلیتی :چه الفساد فی الارض -د شرک ،بدعت ، فحشاء او دقانون دغیرالله پرچار کوی دا اصل دفساد جرړې دی-خو دوی داصلاح او دفساد فرق نه پیژنی-

(13) وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا ---- اوومه پليتى تسفية المومنين : چه مومنانو او صحابو ته كم عقل او بيوقوف وائی-چه دوی ددې دور په سياست نه پوهيږی-داځان له دماغ غواړی-
أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ --- اتمه پليتى السفاهة : كم عقل په خپله دی چه دخپل آخرت فكر ورسره نشته دې او ددنيا دسمولو دپاره ځان له آخرت تباه كړو اودا له څه په دې خپله ناپوهئ هم پوهه ندی ،ځان ته سره ددی نه هوښيار وائی-
(14) وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا ---- نهمه پليتى چه الاستهزاء بالمومنين : دمسلمانانو سره خندنې كوی او وشتې -چه دا مونږ ساده موندلی دی په لږ څه خوشحاليږی- مونږاصل ستاسو ملګری يو-خپلو ګمراهو ملګرواو ليډرانو ته وائی-
(15) اللَّهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ -- ددغه عمل سزا -
وَيَمُدُّهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ (15) داحكم دنياوی ،ددنيا نتيجه ددغه عمل-چه كه ددې عمل نه واپس نشی او بند نشی نو يو ورځ به مهر جباريت ته اوررسی او مهر زده به شی-يعنی دهدايت صلاحيت به ترې ختم شی-
(16) أُولَئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا ---- دائې لسمه پليتى : چه:

لالې مِ نوې سوداګر شو په سل ئې اخلی په پنځوس ئې خرڅوينه

دافائدې او دنقصان څيز نه پيژنی-
وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ (16) داهم حكم دنيوی ،ثمره ددنيا -چه دا څنګه طرز عمل باندې روان دې نو دده نه دهدايت طمع نشی كيدې،
(17) مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي ---- ددې ځائې نه د روستنو دو ډلو دپاره مثالونه ذكر كوی- اوله ډله مسلمانان وو هغه خو دنمر پشان ځليدل په هغوی كښې څه پټوالې نه وو دهغوی مثال ته حاجت نه وو نو اول مثال دكافرانو ذكر كوی او دويم مثال دمنافقانو-چه راشه چه ته به وائی چه داسې څنګه كيدې شه چه يو سړی له دفائدې څيز راشی په هغې كښې ددنيا او دآخرت عزت او شرافت وی نو هغه دهغې نه څنګه ځان ړوند -كونړ كړی او هغې ته شاه كړی-نو راشئ مثال ئې واورئ چه داخبره دِ ذهن ته كوزه شی-

مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي --دا مثال دکافرانو دي -سړي اور بل کړی.چارچاپیره ورسره کسان وی اور رنړا اوکړی- نو دي خلقو له پکار وو چه ددي رنړا نه ئي فائده اغستلي وې نو دوی الټه ددي رنړا او رنړا والا دشمنی شروع کړی-نو هسې اووایئ چه دوی به ددې اور نه څه فائده واخلي-نو دغه شان نبی7 ،قرآن بیان کړو نو دلرې نه خلق راغلل فائده واغستله او دوئ دشمنی شروع کړه-نو دغه شان پاتې شی رنړا ترې مدینې ته لاړه او دوی په سکروټو سوزی-

*سلمان زفارس بلال زحبش صهیب زروم — زخاک مکه ابوجهل چه بوالعجبی است (اقبال)*

(18) صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ ----دا ئې نتیجه لکه د "خَتَمَ اللّٰهُ " چه اسباب ئې ختم شو-

(19) أَوْ كَصَيِّبٍ مِنَ السَّمَاءِ ----- داد منافقینو مثال خو شیخ القرآن رحمة الله په سمط الدرر کښې ذکر کوی چه :

" ولایبعد ان ینوع الثانی الی النوعین فتکون الامثلةثلٰثة "

چه منافق دوه قسمه شی او دا مثال هم دوه حصې شی نو مثالونه به درې شی-نو هغه داسې چه تر "یکاد البرق یخطف ابصارهم " پورې به یو مثآل شی دمنافق اواعتقادی چه دقرآن اوریدلو ته تیار نه دے چه هسې نه مخلص شم او ایمان راوړم مړ به شم قرآن اوریدل او ایمان ورته مرګ خکاری ، چه لکه باران کښې تیرې او بریښنا وی نو قرآن کښې ګران احکامات او آسان شته او دجهاد احکامات هم دی او دفتح هم ده نو دې ګرانو ته نه تیاریږی او خپل علاج نه کوی دقرآن نه غوږونه بندوی- چه هسې نه اثر راباندې اوکړی - مسلمان به شم ایمان ورته مرګ خکاری-یکاد البرق --- دا بشارت منافق له فائده نه ورکوی یا ترقی داسلام به اوشی او دده منافقت به ظاهر شی-او "محیط بالکافرین " سره اشاره شوه چه منافق اعتقادی کافر دي-

كُلَّمَا أَضَاءَ لَهُمْ مَشَوْا فِيهِ --- داد منافق عملی مثال چه اوری خو عمل ته تیار نه دے لکه په باران کښې روان سړې هغه رنړا کښې قدم اوچتوی او بیا ولاړ وی ځان له دامن ځائې ګوری-نو دغه شان دا منافق چه که په دین کښې ورته څه فائده ملاویږی نودې

وائی چه دشریعت او سنت طریقې نه قربان او کچرته څه نقصان راشی نودې اودریږی یعنی بیا په دین عمل نه کوی-پوره دمثالونو وضاحت بیا استاذان په درس کښې کوی -دلته صرف دشیخ القرآن رحمة الله دخبرې مقصد او دهغوې په طریقه دآیتونو بیان کول مقصد دی-

وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ --- دا دروستو تتمه یعنی دمثالونو دمنافقانو تتمه ده -چه دوی کښې لا داصلاح ځائې شته څه سوې پکښې باقی دې -نو که ځان سمول غواړی نو سم دِ کړی ګنی نو لکه دکافرانو به پرې مهر اولږی - لا پرې الله تعالیٰ مهر لګولې ندې-دامهر لګول په الله تعالیٰ څه ګران ندی ځکه الله تعالیٰ قادر دې-

خبره دِ واوریده دقرآن کریم مقام او بیان ددریو ډلو چه ستا مخې له به داسې قسمه خلق راځی نوهوښیار شه ځان به کړوې او خواری به کوې اوس هغه کوم آواز دې چه په هغې سره دا انقلاب راځی او داسې جماعتونه ورسره جوړیږی نو دهغې بیان-

(21) يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ... دویم باب داولې حصې او دا تر آیت 39 "خالدون" پورې -پدیکښې مسئله توحیداو دلائل او احسانات دمنلو دپاره-

يَا أَيُّهَا النَّاسُ ---خطاب عام دتوحید چه انسانانو او پیریانو ټولو ته دتوحید اعلان دې-دعوی دتوحید شوه اوس پدې دلیل څه دې او ددې ثبوت څه دې-

الَّذِي خَلَقَكُمْ ---اول دلیل : خپل پیدائش ته اوګوره ته چا پیدا کړې ئې-

وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ --دویم دلیل چه ستا مشران او دا چې چاته رامدد شه وائې نودا چا پیدا کړی دی-

(22) الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا ---دریم دلیل : لږ خکته زمکې ته او پورته آسمان ته اوګوره اوسیږې دچا په کور کښې ؟

وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً :څلورم دلیل : اوبه دچا څښکې؟ " فَأَخْرَجَ بِهِ " :پنځم دلیل : خورې دچا نو پیدا کړې الله تعالیٰ اوسې دالله په کهنډر کښې اوخورې او څکې دالله

تعالىٰ او عبادت دبل كوې ؟ كهانا پينا ساڈې گهرسونا سرانداد دِ گهر؟ خورې څكې ځما كره او اكئ اچئ مُلا كره-
فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا :داثمره او نتيجه ددلائلو چه ددې دلائلو اثر پكار دې چه هيڅ قسم تعظيم او صفت دالله تعالىٰ كښې شريک او حصه دار مه گرځوئ - او دائې ځكه ذكر كړه چه چا به وئيل چه مشركانو ته چه وائی : "اعبدوا ربكم " نو هغوی خو هم دالله تعالىٰ عبادت كوی نو جواب چه عبادت دالله تعالىٰ داسې پكار دې چه بل ورسره شريک او حصه دار نه وی -دوی ورسره دنورو هم كوی او دالله هم كوی-
(23) وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ --- صداقت الرسول او رد په منكرينو درسالت باندې -او اشاره دليل وحی ته هم ده-چه داسې انداز مسئله بيان شوه نو اوس دوی پدې اعتراض وارد كوی-چه داخبرې دې دځان نه كوی كچرته دا وحی وه نو مونږ به منلې وې خو دا مسئله د"اعبدوا" دې دځان نه جوړوی نو قرآن په دوی رد كوی چه پدی كتاب كښې شک نشته دې چه دا ځمونږ دطرفنه دې داخوسرنامه ذكرشوې وه خو كه ستاسوځه شک وی لكه چه ځنگه دې په عجيب انداز په خپله مدعىٰ دليل وائی او هره خبره ئې صحيح وی دماضی او راروانه نو تاسو هم په خپل شرک داسې دليلونه اووائئ او داسې كتاب پيش كړئ-
وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ --تاسو مشكلاتو كښې غير رامدد كوئ نو داهم په تاسو يو مشكل راغلې دې نو خپل معبودان وغيره رامدد كړئ-
(24) فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا ----تخويف او يره دآخرت نه منونكو ته چه تاسو ددې كتاب او دمسئلې د"اعبدوا" مقابله نشئ كولې نوخير مو منلو كښې دې ددې مسئلو دمنكرينو دپاره اور تيار دې ،خطرناک - او هغه خلق او گټې چه خلاف ددې مسئلې استعمال شوې وې هغه دَ هغه اور خشاک دې نو خه نده چه ځان ترې بچ كړئ نو اومنئ گنې تباه به شئ-

(25) وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا ---خوشحالی منونکو ته - چه کومو بختورو او نیک بختو دي مسئلې د "اعبدوا" ته تن کیخودو نو لږدهغوی حال اوګوره چه الله تعالیٰ به ئې څنګه اکرام کوی نو ددې دحصول کوشش اوکړه-بې ځایه انکارونه مه کوئ-
(26) إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي ---جواب دشبهې : دومره نالائقه دی بې انصافه داسې په دلیل بیان اوشو او دنتیجو نه خبر شو او سره ددې نه اعتراض کوی چه که دا قرآن دالله تعالیٰ دطرفنه وې نو پدیکښې به دبې کاره څیزونو ،رعد ،برق ،او دباران ،ماشی او مچانو وغیره دداسې څیزونو تذکره نه وه-داخبرې خو که څوک زمیندار اوکړی نوصحیح ده -نو دالله تعالیٰ دشان سره مناسب ندی-نو جواب : الله تعالیٰ تاسو په مسئله پوهه کوی-که دپوهې دپاره په مثال کښې دهرڅه ضرورت راځی نو الله تعالیٰ هغه نه پریږدی او بیانوی ئې او دا خو امتحان دې پوهه او ایمان والا مسئله باندې پوهه شی چه دمثال سره هغه مسئله او ممثل خه واضح شو او ضدیان دیته ګوری چه ده له داسې خبرې نه وې مناسب هغوی ترې مسئله نه زده کوی-ګمراهی او عناد ئې خکاره شی-او دا الله تعالیٰ په قرآن خکاره کوی-
(27) الَّذِينَ يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ --- چه په کومو خلقود قرآن داسې زبردست بیان التہ اثر کوی دهغه ګنده اعمال ذکر وی-
أُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ (27): تخویف :چه نتیجه ئې دتاوان ده نو ځان دتاوان نه بچ کړئ-
(28) كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ---ذکر دخلورو نعمتونو عامو چه په هرچا شوی دی-
شیخ القرآن رحمه الله کمال اوکړو-دا پیدائش وغیره مخکښې ذکر وو نو هغې ته دلیل اووې او دلته نعمت اووې دا ولې دا ځکه چه دا خطاب عامو انسانانو او پیریانو ته څه خاص طبقې ته ندے او په عامو خلقو کښې دوه قسمه خلق وی -یو چه هغوی څه شک وغیره لری او مزاج ئې دا وی چه دلیل دِ پیش شی-دویم قسم هغه دی چه هغه داحسان نه مجبوره کیږی -ځکه عام طور مشهوره ده چه : "الانسان عبد الاحسان "-انسان داحسان غلام وی-نوهغه مخکښې دلائل شو او دا احسانات چه دواړه طبقو سره

خبره تام شی ،ماشاء الله ،(دا څما د استاذ محترم شیخ القرآن مولانا میر سمیع الحق صاحب د درس افادات دی-)

نعمتونه هم چه ذکر کوی نو عام ذکر وی چه هیڅوک دهغې نه خلاص او پاتې نشتې یعنی هغه نعمت په هر چا دې-څکه دعوت عام وو-

كَيْفَ تَكْفُرُونَ - اول نعمت او احسان : چه دنیشت نه مِ شته کړې ئې ما پیدا کړې نو اوس ماسره حصه دار جوړوې-؟

(29) هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ ---- دویم نعمت او احسان : چه ددنیا دفائدې څیزونه هم ستا دپاره پیدا شوی دی چه په تا کوم نعمتونه دی نو د الله تعالیٰ دی-نو څنګه د"اعبدوا" نه مخ اړوې-

وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ-(29) اثبات دعلم الغیب الله تعالیٰ لاره چه الله تعالیٰ لکه څنګه خالق دې نو دغه شان عالم هم دې،نو "اعبدوا ربکم "-

(30) وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ ---دادریم احسان او نعمت ته تمهید او لار برابرول : اول خلقت دآدم7 - چه خلقت دآدم ﷺدعظیم مقصد دپاره شوې دې چه په زمکه دالله تعالیٰ قانون جاری کول- یعنی عبادت دالله تعالیٰ په خلافت پوره کیږی نو څکه د" اعبدوا" پسے د خلافت تذکره کوی-

(31)وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ ---فضیلت دآدم 7 خکاره کول فرشتو باندې او دا فضیلت په سبب دعلم دې - دخلافت ارضی دپاره دعلم ضرورت وو- دا تر "کنتم تکتمون "(33) پورې-

(32) قَالُوا سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا ---عجز دفرشتو او نفی دعلم الغیب دفرشتو نه نو معلومه شوه چه څوک داسې وی هغه قابل دعبادت ندی نو فرشتې نوری مخلوق دعبادت قابل ندی-

قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ --- اثبات دعلم الغیب یو الله تعالیٰ لره-

(34) وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا ---- دريم نعمت او احسان نعمت عامه : الله تعالیٰ په تاسو دااحسان کړي دي چه ستاسو بابا او پلار آدم7 ئي معّظم دفرشتو ګرځولي دي -يعنی فرشتو ته ئي دهغه دتعظيم وينا کړي ده او هغوی دهغه تعظيم کړي وو-نو حلالی اولاد هغه وی چه هغه دپلار احسان هير نه کړی نو راشئ او شکرانه ادا کړئ او "اعبدوا"- او وه دلوئي خاندان سرﻳه سپک کار چه شرک دي مه کوه-

(35) وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ ---تمهيد څلورم نعمت ته تر "الی حين" (36) پورې-

وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ----اکرام دآدم 7 او دامتحان دپاره يو بوټي بندول-

(36) فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا ----دآدم 7 عجز او دشيطان عاجزی-اوګوره دآدم 7 نه هير شوی نو بې ارادې ترې هغه بوټې اوخوړلې شو لکه بنده چه په خته کښې اوخوئيږی نو عاجزه وو نو خاکی او د خاورې مخلوق هم دبند ګئ قابل ندې او شيطان ستاسو آبائی دشمن دې نو هغه هم ناری مخلوق دې او دعبادت قابل ندې ځکه دشمن دې-

(37) فَتَلَقَّى آدَمُ مِنْ رَبِّهِ ---- څلورم احسان او نعمت عامه چه ستاسو دبابا آدم 7 توبه ﻣِ قبوله کړې وه -نوحاصل چه ته ﻣِ هم دنعمتونودلاندې او دپلار نيکه نعمتونه ډِهم نو شريف سړې او انسان هغه داحسان قدر کوی نو راشئ او دامسئله د "اعبدوا" اومنئ باوجود د دومره احسانونونه "کيف تکفرون " هسې په کومه خله او په کوم زړه انکار کوی-

(38) فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ ---- بشارت او خوشحالی دهغه وخت نه دا مقرر کړې وه الله تعالیٰ خوتاسو ته هم هدايت راغلې دې -"هدی للمتقين-" او هغه دا مسئله کوی چه "اعبدوا ربکم "-نو چه چا اومنله نو انجام ئي ګوره-

(39) وَالَّذِينَ كَفَرُوا ---- تخويف او يره :چه کومو دادعوت ټکراؤ کړو او وې نه منلو نو دهغه نتيجه--باب ختم شو مسئله د "اعبدوا "اومنئ دلائل احسانات جواب دشبهې هم اوشو او نتيجې هم اوخودلې شوې-

(40) يٰبَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا ---ددې ځائې نه تر(96)پورې دريم باب داولې حصې ذکر کوی پديکښې خطاب خاص دې پس دخطاب عام نه -قانون دادې چه اول عامه خبره اوشی بيا چه کوم مخوريز او عزتمند خلق وی يادهغوی منلوکښې فائده ډيره وی نوهغه ته دعوت ور کولې کيږی -اول قرآن خپله خبره په عام خطاب ذکر کړه-نو اوس بنی اسرائيلو ته خاص دعوت ورکوی چه دوی عوامو په نخه کول چه فلانکې مولوی صيب نه منی نو مونږ څنګه اومنو-؟نو قرآن هغوی ته دعوت ورکړودوی سره خبره ډيره اوږده کوی او په مختلف اندازونو باندې کوی-خو حاصل ئې دوه طريقې دی-يو احسانات مخې ته کول او دويم ددوی پليتئ خکاره کول-احسانات ځکه چه " هل جزاء الاحسان الاالاحسان "-ما درسره خه کړی دی نو تاسو هم خه اوکړئ او ځما د داعی دامسئله د"اعبدوا" اومنئ او شرک مه کوئ-نو چه پدې اونشی نو بيا خباثتونه-او دا ځکه چه عوام په دوی دهوکه کيدل او ددوی د نه منلو دوجې هغوی نه منله نو قرآن دهغوی ګندګی خکاره کوی چه داخلق ګورې قابل دتقليد نه دی-دوی پسې روان نشئ ګنی نو کوهی ته به مو ارتاؤ کړی-داخو پرې ورګډ دی تا به پرې ورګډ کړی-

داخبرې دددوی سره په اووو 7 فصلونو کښې دی-خو اول فصل شپږخطابات دی اول فصل کښې دوی ته دعوت او دا وائی چه بد خويونه درې پريږدئ او دمسلمانانو خه خويونه درې ځان کښې راولئ-داتر (48) پورې دې-

يٰبَنِي إِسْرَائِيلَ ---دا دعوت بنی اسرائيلو ته خطاب خاص چه تاسو دپيغمبر دمنلو وعده هم کړې ده نوځما ديرې لحاظ اوکړئ او ځما راليږلې شوې کتاب او دعوی د"اعبدوا " اومنئ-اودکفر ليډران کيږئ مه-دا دعوت او دعوت په تکی د"يٰبنی اسرائيل" سره ورکوی-چه ستاسو پلار عابد وو نو تاسو هم عبادت اوکړئ-

وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ----دا اول مرض ديهودو چه تحريف وو-نو دهغې نه منع کوی چه ددنيا دلالچ دپاره نوم ناموس عزت اړې تړې دپاره ځما په آيتونو کښې تبديلی مه کوی-

(42)وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ ----دويم مرض او دويمه پليتى ديهودو كتمان حق چه دحق مسئله پټول وو-نو داهم مه كوئ-
(43) وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ -----طريقه علاج او امر مصلح : چه دا دوه كارونه ځكه كوه چه يو پكښې حب جاه دې او بل حب مال دې نو دمونځ او زكوٰة پابندى اوكړئ چه دغه مرضونه درنه ختم شى-نو مقصد دغه مرضونه ختمول دى او دجماعت دمومنانو سره ملګرى شئ-چه تكبر درنه ختم شى-
(44) أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ ----دريم مرض او پليتى چه ترک عمل دې -كله به بل ته اووئيل چه داحق پيغمبر او مسئله بالكل حقه كوى نو اې ظالمانو چه بل ته وائې خو خپله ولې نه منې-
(45) وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ ----اوس درې خه صفتونه دمومنانو دغه ګنده اعمال پريږدئ او دااعمال په ځان كښې راولئ-پدې ځان خائسته كړئ-يو آيت كښې دوه ذكر كوى-صبر او صلوٰة دا په ځان كښې راولئ ستاسو حاجات به الله تعالىٰ پوره كړى-خه ضرورت دې چه په ګناه رزق ګټئ-
(46) الَّذِينَ يَظُنُّونَ ---- دريم صفت په آخرت ايمان-

(47) يٰبَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا ----دوباره دعوت سره دذكر د "انى فضلتكم " چه دهغه وخت په خلقو ما مقام دركړې وو اوس به مو هم عزتمند كړم خو ايمان راوړئ-دا ما په توحيد دركړې وو اوس دتوحيد نه لرې تلى ئئ راشئ ددې پيغمبر په تعليم توحيد اومنئ-
(48) وَاتَّقُوا يَوْمًا --- تخويف او يره دآخرت -چه فخر په مشرانو او غلطې آرزوګانې په قيامت كښې نه پكاريږى هلته عقيده دتوحيد پكاريږى نو راشئ او اومنئ او آخرولې نه منئ تاسو سره ډير احسانات كړى لږخو خپل احساناتو ته اوګورئ نو داحساناتو بدل كښې احسان وى نو "اعبدوا ربكم " راشئ او ځما ددې داعى دعوت قبول كړئ او انكار مه كوى-اوس احسانات-

(49) وَإِذْ نَجَّيْنٰكُمْ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ ---- ددې ځائي نه اول خطاب تر آيت (62) پورې او پديکښې اته احسانات او دوه عذابونه ذکر کوی -عذابونه ځکه ذکر کوی چه کله تاسو نالائقی کړی ده او نامناسب کار مو کړې وو و په هغه وخت کښې مِ سزادرکړې وه نو که اوس نامناسب کار اوکړئ نو بيا هم سزا درکولې شم دا نه چه تش احسانات -
وَإِذْ نَجَّيْنَاكُمْ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ--- اول احسان دفرعون دمظالمو اوسختو نه نجات -څومره تکليفونه به ئ درکول او څه ظلمونه به ئ کول دهغې نه مِ خلاص کړئ-
(50) وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ ----دويم احسان نجاة من الغرق :يو درياب وو اوفرعون ئې غرق کړو او تاسو دغرقيدلو نه خلاص شوئ او دشمن مِ درله تباه کړو نو دا درله چا اوکړل-
(51)وَإِذْ وَاعَدْنَا مُوسَى ---- تر" لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ(52) دريم نعمت او احسان چه " العفو بعد الذنب "تاسو يو جرم کړې وو چه دسخی عبادت وو نو هغه مِ درته معاف کړې وو-نو اول ايت کښې جرم او دويم کښې معافی-
(53) وَإِذْ آتَيْنَا مُوسَى ----څلورم احسان "اعطاء التوراة " :الله تعالیٰ تاسو له دژوند دتيرولو دپاره نظآم او قانون درکړو چه تورات وو- ځکه بې قانونه ژوند دخارو وی-
(54) وَإِذْ قَالَ مُوسَى ---- پنځم احسان "العفو عن القتل فَتَابَ عَلَيْكُمْ "سره ذکر کوی چه الله دتوبې دقبوليت شرط دا مقرر کړې وو چه سخی چا عبادت ندې کړې نو دوی دِ عبادت کونکی قتل کړی چه تاسو تيار شوئ -الله تعالیٰ دا حکم معاف کړو دا احسان درباندې الله تعالیٰ کړې وو-
(55) وَإِذْ قُلْتُمْ --- تر لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (56) سره شپږم احسان او نعمت چه ديو بې ادبئ دوجې مِ مړه کړی وئ دسزا په طور نو بيا مِ درله ژوند درکړو "ثم بعثنٰکم " سره احسان ذکر کوی-اول نه درته هغه احساس دنعمت کوی چه داسې مو کړی وو-
(57) وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ ---- اووم نعمت چه تظليل الغمام او انزال المنّ والسلوى :يعنی چه کله دفرعونيانو نه خلاص شوئ او په ريګستان او خوشی بيابان کښې نو نه

مو دسر پټولو ځائې وو او نه درسره دخوراک څه وو او ما دربانديې احسان اوکړو وريځ به سورې کولو او تيار خوراک به راتلو -نو اوس هم قدر نه کوئ-

(58)وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُوا --- ددې نه تر بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ(59) پورې اولنې عذاب : نقمت اول اوله سزا چه "انزال العذاب بسوء الادب " تاسو ته الله تعالىٰ ديو کلى دجهاد حکم اوکړو او دهغې دتلو ادب ئې درته ذکر کړو فعلى ادب چه "سجداً " په عاجزئ به ځئ او قولى عاجزى اوادب چه حطّة به وائئ-چه ځمونږ خطائى معاف کړه نو تاسو دا بدل کړل او بې ادبى مو اوکړه نو ځنګه څپيړه مِ درکړې وه نو دا بل طرف راسره هم شته دې -

(60) وَإِذِ اسْتَسْقَى مُوسَى --- اتم احسان "انفجار العيون من الحجر " :دګټې نه مِ درله اوبه راويستلې وې -داچا کړى دى چه څومره قبيلې وې دومره مِ درله چينې رايستلې وى -

(61) وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى ---- دويم عذاب " الذلةوالهوان بسبب الكفران " :چه دنعمتونو ناقدرى مو کړې وه نوسزا مِ درکړې وه او ذلةاو سپکاوې مِ درکړې وو-

(62) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ---- ترغيب سره تتمه دخطاب : چه احسانات مو واوريدل او عذابونه نو راشئ په نوم او لقب کښې نجات نشته چه نفس دمومن لقب يا ديهودى يا دنصرانى په لقب کښې نجات نه دنجات دپاره کردارضرورى دې اُمن او عمل صالحاً نو دې سره به کامياب شئ او کاميابى به مو په برخه شى نو راشئ پدې دعوت دپيغمبر چه "اعبدوا" دې ايمان راوړئ -

(63) وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ ---- دويم خطاب تر آيت (82) "خالدون" پورې -اوس پديکښې بيان دخباثتونو ذکر کوى -درې خباثتونه دمشرانو ديهودو ذکرکوى او څلور داوسنو ذکر کوى -چه اې دمکې والو او اې عوامو داسې قسم مليان دا قابل دتقليد ندى دا خو په خپله هم داسې دى او په پلار نيکه داسې بيکاره دى-نو ددوى اتباع او تقليد کول خوځان کندې ته غورځول دى-اول تر آيت (74) پورې ديهودو دمشرانو پليتئ ذکر کوى -

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ --- اول خباثت دأباؤ ديهودو چه "نقض العهد " دا تر "الخٰسرين"(64) پورې ذکر کوی-چه دا داسې خلق دی چه الله تعالیٰ سره ئې کړې وعدې او لوظونه مات کړی دی-

(65) وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِينَ اعْتَدَوْا ---- دويمه پليتی دمشرانو ديهودو چه "الحيل فی احکام الله تعالیٰ " : چه الله تعالیٰ به ورته حکمونه اوکړل نو دوی به درواکولو دپاره ځان له حيلې کتلې دی ددې دوه نمونې ذکر کوی يو "اعتداء فی السبت " دخالی ورځ داحترام خيال نه ساتل او زياتې کول-ځکه حيلې دوه قسمه دی (۱) يو حرام حلالول لکه خالی والا (۲) دويم ځان د حکم الٰهی نه خلاصول لکه بقرې والا -اول کښې حيله سازی او دويم کښې تعمق

(67) وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ ---- دويمه نمونه دمخکښې پليتئ چه دالله تعالیٰ احکامو کښې ليت ولعلّ ، پس وپيش کول-"الحيل فی ذبح البقرة " دغوا په حلالولو کښې څومره ټال متهول کړې وو ځکه دوی دهغې بندګی کړې وه نو لاس ئې ورلره نه ورتلو او دالله تعالیٰ مرضیٰ وه چه دوی به ئې حلالوی چه دامعبود ئې سپک شی-نو دادويمه نمونه او که ځان له ځان له خباثت ئې ګرځولې نو خباثتونه به څلور شی هيڅ خبره نده -دا خباثت تر آيت وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ (71) پورې ذکر کوی -

(72) وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا ---- دريمه پليتی چه "قتل النفس واتهام البرئ " دمال او دولت دپاره ئې بې ګناه خلق وژل او تهمت بې ګناه باندې لګول -او دالله تعالیٰ دهغوی هغه ګندګی خکاره کول او مړې ژوندې کول -

كَذَلِكَ يُحْيِي اللَّهُ --- خبرې سره خبره ذکر کوی چه مړی ژوندی کول دا دالله تعالیٰ کار دې -

(74) ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُمْ ---- زجر، زورنه چه څومره په ترغيب سره بيان اوشو داحساناتو په بيان سره او څومره په ترهيب سره چه خباثتونه او عذابونه بيان شو او معجزه دوی اوليدله نو پکار وه چه ددوی زړونه نرم شوې وې او دادعوت ئې قبول کړې نو دوی

نور سخت شو دګتې نه هم سخت ځکه دګتې نه کله کله اوبه لاړې شی او ددوی په زړه کښې هډو نرمی رانغله - نو ځکه دا خباثتونه اولاد ته منتقل شو،

وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ---- تخویف ، یره ذکر کوی چه ستاسو په کارونو الله تعالیٰ خبردار دے نو بدل به درکړی-

(75) أَفَتَطْمَعُونَ أَنْ يُؤْمِنُوا لَكُمْ ----اوس دموجوده بنی اسرائیلو خباثتونه بیانیږی اودهغوی جماعتونه چه دوی کښې هم مختلف قسمونه د-

أَفَتَطْمَعُونَ أَنْ يُؤْمِنُوا لَكُمْ --- کښې اول قسم چه " المحرّفون لکتاب الله ": دا پکښې علماء خلق وو چه دالله تعالیٰ په کتاب کښې هیرا پیری کوی او غلط مقصدونه ورله ذکرکوی-

(76) وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا --- دویم جماعت او ډله چه مفسدان او منافقان پکښې دی داسې طریقه سره منافقتونه کوی -

(77) أَوَلَا يَعْلَمُونَ --- سره زجر، زورنه او اثبات دعلم الغیب الله تعالیٰ لره چه ولې ددوی پدې جرم څه الله تعالیٰ نه پوهیږی او تخویف هم دې چه سزا به ورکړی-

(78) وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ --- دریم جماعت او ډله "المقلدون لاراء الیهود" :ان پړهه مریدان دمشرانو دخبرو ړوند تقلید کوی-چه مونږ په حقه یو او جنت ته به ځو ،صرف دخپلو ملیانو اوریدلې خبرې زوتوی نور څه تحقیق نه کوی-او ځان دکتاب په مقصد نه پوهه کوی-

(79) فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ --- داهغه مخکښې محرفینو تحریف کونکو لږتفصیل چه څنګه تحریف کوی یا مستقل ډله ده نو پنځه ډلې به شی چه دوی کښې مفتیان دی په لاس سره تحریری طور تحریف کوی فتوی به اولیکی دځان نه اووائی به "هذا ما قضى الله به "-چه دا پرې الله تعالیٰ فیصله کړې ده هسې به ورسره آیت اووائ-

(80) وَقَالُوا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَعْدُودَةً --- څلورمه ډله ،"المخصصون لانفسهم بالجنة " صاحبزادګان دی ګدی نشين چه سره دبد عملونه ځان دجنت ټهيکداران ګڼري-چه جنت ته مونږنه ځو نو ولې انګريزان به ورته ځی-

قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللَّهِ --- سره ددوی په خبره باندې ردونه کوی-

(81) بَلَى مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً ---- تتمه دخطاب او تخويف :خبره ستاسو دارمان او آرزو نده بلکه خبره دقانون ده چه چا هم د"اعبدوا" خلاف اوکړو شرک او توبه ئې ترې اونه ويستله نو دوزخی دې که يهودی وی که نصرانی که هر څوک وی-

(82) وَالَّذِينَ آمَنُوا --- بشارت : چه چا دامسئله د"اعبدوا" اومنله نو جنت به ئې ځائې شی -نو راشئ دا غلط اعمال او کارونه پريږدئ ځان له دجنت فکر اوکړئ-

(83) وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ---- ددې ځائې نه دريم خطاب ذکرکوی-او پديکښې يو مستقل خباثت ذکرکوی چه " انكارهم من الاوامر واتيانهم بالنواهی "-مطلب دا چه دکولو کار نه کوی او دنه کولو هغه کوی الټه روان دی- تتمه په تخويف -

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ --- دې آيت کښې اوامر ذکر کوی چه دعبادت دالله تعالىٰ تاسو ته هم حکم شوې او اوس هم دې دليل نقلی هم شو او نور احکامات نو کله مو پوره کړل -

ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ --- انکار داوامر او دهغې نه مخ اړول داستاسو زوړ عادت دې-

(84) وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ ---- دې آيت کښې ذکر دنواهيو چه مونږدرته وئيلی وو چه دا کارونه مه کوئ او تاسو راسره منلې هم وه-

(85) ثُمَّ أَنْتُمْ هَؤُلَاءِ ---- دادنواهيونه انکار او اعراض چه کومه کښې به فائده نو هغه به مو کول او چه کومه کښې به فائده نه وه هغه به مو نه کول-

(86) أُولَئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا --- تتمه دخطاب په تخويف ، يره باندے ،چه په دنيا مئين به معذب او په سزا شی-دبشارت ځائې پکښې پاتې نشو-

(87) وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ ---- څلورم خطاب او دې کښې خباثت ذکر کوی چه "انكارهم من انبياء السابقين "-چه دتير خباثت نتيجه دا شوه چه دانبياؤ نه انکار

شروع شو- يعنی محکښې وې چه امر اونهی نه منی اوس وائی چه څوک امر اونهی بيانوی هغه هم نه منی- دا تر (88) پورې دوه آيتونو کښې ده-
وَقَالُوا قُلُوبُنَا غُلْفٌ ---- دانبياؤ نه دانکار وجه چه په خپل علم غاوره وو اوځان ئې دنورو دعلم نه بې پروا ګڼړلو-
بَلْ لَعَنَهُمُ اللَّهُ --- اصل حقيقت دادې چه مهر پرې راغلې دې-
(89) وَلَمَّا جَاءَهُمْ كِتَابٌ --- پنځم خطاب او پديکښې "انکارهم من هذاالنبی "-چه دتير نتيجه دا شوه چه دا عادت دانکار وو نو ددې پيغمبر نه ئې هم انکار اوکړو ګنی دا خو دوی غوختلې هم وو او مسئله د"اعبدوا" هم ددوی دکتاب سره يوه وه چه "لا تعبدون الاالله " او دوی دده حقانيت پيژندلې هم وو خو انکار ئې اوکړو سره ددې ټولو خبرو-
(90) بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهِ أَنْفُسَهُمْ---- تتمه ددواړو خطابونو دڅلورم او پنځم ځکه ددواړو مراد يو وو چه انکار دنبيانو نه وو نو تتمه ورلره يوه راوړله-
بِئْسَمَا اشْتَرَوْا--- زجر او توبيخ چه ډير ناکاره څيز ته موځان وقف کړې دې چه هغه دماانزل الله چه اعبدوا ربکم دے د هغې نه انکار دوجې دضد او دعناد نه چه دا وحی په ده ولې راځی نو دنيا کښې مغضوب شو -"غير المغضوب عليهم " فَبَآءُوْا بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ : يو غضب انکارهم من انبياء السابقين او دويم غضب انکارهم من هذا النبی ﷺ-
(91) وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا ---- شپږم خطاب تر (96) پورې او پديکښې خلاصه د ماسبقه- خبرې دبنی اسرائيلو سره اوړدې اوشوې ،نو د تيرو خبرو خلاصه ذکرکوی چه مونږ ورله دعوت دايمان ورکړو چه " اٰمِنوا بما انزل الله " چه ايمان راوړئ - نو ددوی ضد او عناد چه مونږبله وحی نه منو، صرف خپله منو- نو خپله ئې هم ډيره منلې وه کنه، دا خباثتونه مو اوکتل ،دا دوی خکلې ايمان دې داسې داسې کارونه ئې کړی -لنډ ئې ترې يو څو ذکر کړل چه دروغ وائی په هغه خپل ئې هم ايمان نشته دې-دا تر (93)

پورې خلاصه ده په دغه انداز-"فافهم وکن من الشکرين لعلّک لا تجده هکذا فی غيرهذا--والحمدلله-"

(94) قُلْ إِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْآخِرَة ---- اعلان دمباهلې : اول ئې زورى چه دومره په عجيب انداز بيان اوشو په عام خطاب سره هم سره ددلائل او احسانات او په خاص خطاب سره هم نو اوس هم دوى نه منى او ځآن ته دجنت ٹهيکداران وائى-نو اوس ورسره مباهله اوکړه چه راځئ چه دروغژن له مرګ اوغواړو نو ستاسو خو يقين دې چه مونږ رسيدلى يو نو تاسو له مرګ نه راځى مونږله به راشى نو ځمونږنه به خلاص شئ-نو دا چرې نه کوى ځکه دوى ته خپلې لوړې او ژورې معلومې دى-او دوى په دنيوى ژوند ډير مئين دى-داژوند دوى دعذاب نه بچ کولې نشى-دعذاب نه بچاؤ په "اعبدوا " پکار دې چه دااومنئ په تعليم د نبی 7 سره نو د نبی 7 پيغمبرى منل ورله ضرورى دى نو هغه چرته منى په هغه هم اعتراضونه کوى-راروانې حصې سره مناسبت شو-

## الحصة الثانية رسالت

(96) قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ --- ددې ځائې نه دسورة دويمه حصه ده په بيان درسالت دنبی 7 کښې چه "لااله الاالله" بيان شوه نو اوس" محمد رسول الله " بيانوى-اشاره ده چه "لااله الاالله " به منې خو په تعليم دجناب رسول الله 6 باندې -هغه به دالله تعالیٰ حق پيغمبر منې-

خبردارې : شيخ القرآن رحمة الله تعالیٰ عليه دسمط الدرر په اجمال کښې حصه تر (100) پورې وئيلې ده او دويمه حصه د "ولمّا جاءهم" (101) نه شروع کوى او په تفصيل کښې د "قل من کان " نه شروع کوى ددې څه وجه ده ؟

ځما محبوب استاذ شيخ الاسلام کابلګرامى رحمه الله تعالیٰ به فرمائيل چه دا ځکه چه " قل من کان " دمخکښې سره هم لږى او دروستو سره هم لږى-قرآن کريم چه مضمون خلاصوى د يو په آخر يا دبل په اول کښې داسې آيتونه راوړى چه دواړو سره لږى-نو د"

قل من كان " دا شبه دتوحيد سره هم لړيده او درسالت سره هم لړيده نو ستا خوخه ده كه حصه تر (96) وائی او كه تر( 100) پورې ځكه شيخ القرآن رحمة الله عليه دواړه ذكر كړی دی-

اوس رسالت پدې حصه كښې بيانوی تر آيت (176) پورې -

انداز بيان :چه خبره اكثر مليانو سره ده او مليان اعتراضونه كوی نو ددې وجې درسالت بيان كوی په بيان دشبهاتو باندې چه دوی په رسالت څه اعتراضونه كوی نو دهغې جوابونه به كوی -ټول نهه اعتراضونه دی -داووم او اتم اعتراض تر مينځه تذكره د ابراهيم **7** ددريو مقصدونو دپاره او په آخرحصه كښې مسئله د توحيداو رد دشرك فعلی كوی -او زجر كاتمينو دحق ته-

قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ --- اوله شبهه او دهغې جواب : اوله شبهه په اتيان دجبرئيل **7** باندې يعنی چه تاته وحی راوړونكې فرشته او د"اعبدوا ربكم " راوړونكې -فرشته هغه جبرئيل **7** دې او هغه خو ځمونږ اُبائی دشمن دې -ځمونږنيكيان ئې تباه كړی دی -دااعتراض په واسطه او په سند دې-دا به اوس هم كوی ستا په استاذ په صحابو او په ائمه كرامو داټول سندونه دی-په دوی به اعتراض كوی-نو ددې جوابونه پنځه كوی-تر" عَدُوٌّ لِلْكَافِرِينَ"(98) پورې-

(99) وَلَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ ----صداقة دقرآن او زجر چه داسې صاف كتاب رانازليږی او دوی انكار كوی نو دا فاسقان دی- اودا ځكه چه :

(100) أَوَكُلَّمَا عَاهَدُوا عَهْدًا ---- زجر : يعنی دا عهد ماتول ددوی زوړ عادت دې-زاړه مجرمان دی بلكه اكثر په خپل كتاب هم صحيح طريقې سره ايمان نه راوړی-داټول آيتونه دجبرئيل **7** دعداوت سره متعلق چه دا عداوت پكار ندې-

(101) وَلَمَّا جَاءَهُمْ رَسُولٌ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ---- صداقت دنبی **7** او زجر دوی ته په انكار دهغه ؛داسې شان والا پيغمبر چه ده هغه او ستاسو دكتاب مسئله يوه ده نو دا بې انصافه دهغه نه هم انكار كوی او دالله تعالیٰ كتاب شاته غورځوی-

(102) وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ ---- دويمه شبهه او دهغې جواب :دوی شبهه په رنګونو کوله چه ته دسلیمان 7 تذکره په انبیاؤ کښې کوې او هغه خو ساحر وو نو معلومیږی چه دساحر ملګرې ساحر وی نو ته هم ساحر ئې-چه په خوئې ثانی نو ددوارو یارانې وی- دویم چه مونږ ته څنې اوراد ملاؤ شوی دی او هغه سلیمانی دی او هغه پیغمبر وو او په هغې کښې بلنه د غیرالله ده نو معلومیږی چه دا هغه ته وحی شوی وه نو ته مونږه څنګه دبلنې دغیرالله نه منع کوې-ته پیغمبر نه ئې-نو دهغې جواب "وما کفرسلیمان "-چه دا کفر دسحر او دشرک دا شیطانانو کړې وو -دسلیمان 7 لمن ددې نه پاکه ده-اوس به دا شبهه کوی څکه دا په ملګری اعتراض دې نو ستا په ملګری به اعتراض کوی-څوک عالم به ذکر کړی چه هغه ته یادوې کله شاه اسماعیل کله ابن تیمیه وغیره نو جواب به کوې دهغوی صفائی به کوې-شیاطین چه ساحران وو هغوی کفر کړې وو-

وَمَا أُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ --- دریمه شبهه او اعتراض او دهغی جواب چه سحر او بلنه دغیرالله جائز ده-څکه چه پدې باندې دآسمان نه فرشتې راغلې وې او ته مونږ دهغې نه منع کوې نو معلومیږی چه ته پیغمبر نه ئې نو جواب چه "ما انزل " ما نافیه شی نو جواب حاصل چه فرشتو له دسحر باره کښې علم بالکل ندې ورکړې شوې هغوی ردکړې دې او خلقو به دهغوی دضد دوجې دساحرانو نه جادو زده کولو -"منهما" یعنی "من ضدهما " فیتعلّمون من غیرهما من ضدهما " -او چه "ما" موصوله شی نوبیادجواب حاصل دادې چه دا ابتلاء او امتحان وو چه فرشتو به دسحر ردکولو او خلق به ئې پوهه کول چه دوی دمعجزې او دسحر فرق اوپیژنی لکه یوعالم وائی چه داسې کار اوشی شرک دې او داسې توحید دې-نو خلق هغه شرک رااواخلی -یا یو عالم په بیان د رد دپاره غلط دم اووائی چه ددې نه څان بچ کړئ نو څنې هغه راواخلی او دم پرې کوی-نو دیکښې دعالم څه ګناه دې دغه شان فرشتو به بیان کولو دوی به ترې خپل غرض راویستلو-نو داابتلاء ده-

وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ ----سره عام قانون دخلقو چه مزاج دخلقو پدې دې چه علم ضارّه ته زور ډېر کوی په مقابله دعلم نافعه کښې -
وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرَاهُ ---- سره تخويف او يره ذکر کوی چه داسې له په آخرت کښې څه ثواب نشته-
(103) وَلَوْ أَنَّهُمْ آمَنُوا ---- ترغيب ايمان ته :ټولو سره اولګو "اٰمِنوا باعبدوا" ، او " امنوا بعصمة جبرئيل وسليمٰن والملٰئكة --"چه پدې ټولو ايمان راوړلې وې -"واتقوا"دشبهاتو نه ځان بچ کړې وې-
(104) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا --- څلورمه شبهه او دهغې جواب : چه ته مونږ دصحيح الفاظو او اورادو نه منع کوې مونږته اجازې شوې دې او ته وائې چه هغه مه وايئ نو ته ځنګه پيغمبر ئې ؟ جواب هغه الفاظ چه هغې کښې دشرک او بې ادبئ وهم وی نو هغه مه وايئ يعنی د الفاظ شرکيه نه ځان اوساتئ-
(105) مَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- زجر په انکار دقرآن باندې - شبهات او اعتراض چه کوی نو اصل وجه دا نده چه ستا په نبوت يا په کتاب کښې څه چل دې -بلکه دا ضديان او عناديان چه دی نو په تاسو ئې خير او فائده او عالمی تحريک او دعالم دپاره داعيان کيدل او آخری امت کيدل دا ټول خيرونه دی -او قرآن ندې پيرزو نو هسې په زوره پکښې کوږوالې ګوری خو دا څه ددوی ټهيکه نه ده-دا اختيار دالله تعالیٰ دې چا له خپل رحمت او فضل ورکوی نو په تاسو باندې ئې اوکړو -ګوره زر به بل اعتراض اوکړی -
(106) مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَة --- پنځمه شبهه او دهغې جواب :پنځمه شبهه په نسخ باندې چه ته صحيح پيغمبر نه ئې ځکه چه ته په يو خبره نه اودريږې -کله يو وائی او کله بله او "راعنا" وو او اوس ختم شو نو بل راغې-دغه شان روستو دقبلې مسئلې ته به تمهيد هم شی - نو دهغې جواب چه بل حکم آسان هم وی او فائده پکښې هم دا حکمتی جواب-"نأت بخير" حکيمانه جواب دې-

أَلَمْ تَعْلَمْ ---حاكمانه جواب چه اختيارمند او بادشاه الله تعالیٰ دې ځه خو دهغه دحکم پابند يم چه هغه راته ښنګه وائی ځه به هغه شان کوم-او دليل عقلی هم دې -

(108) أَمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَسْأَلُوا ---- تيقظ او بيداری مومنانو ته :چه مسلمانه ويخ شه بيدار شه ،بې ادبه او يهودی اعتراضونه کوی نو هسې نه چه ته متاثره شې او ته چرته اعتراض شروع نه کړې ګنی نو نتيجه به خرابه شی-

(109) وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ ---- دويم تيقظ او بيداری ويخ شه يهوديان داسې منصوبې کوی چه تادخپل اصلی شريعت او قرآن نه اودپيغمبر داتباع نه واړوی خبردار چرته موخراب نه کړی-

(110) وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ ---- امور مصلحه للتثبت :چه هرکله داسې اعتراضونه کيږی او دشمن داسې نيغ ناست وی او دګمراه کولو په کوشش کښې وی نوګرانه ده اوزړه ته پريشانی راځی نو وائی داسې اعمال نيک کوه چه تعلق دالله تعالیٰ سره مضبوط وی چه زړه دِ مضبوط وی-

(111) وَقَالُوا لَنْ يَدْخُلَ الْجَنَّةَ ---- زجر او تيقظ مومنانو ته دا يهود او نصاریٰ ستا دګمراه کولو کوشش کوی ته کلک شه نيک اعمال کوه دهغوی يوحربه داده چه جنت په يهوديت او په نصرانيت کښې منحصر ګڼړی -داخبره کوی دادِ دپاره چه تاسو شکيان کړی ويخ شه دابې انصافه دی دوی سره پدې څه دليل نشته صرف دخلې دعوې او ارمانونه دی-

(112) بَلَى مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ ---- د دوی دخبرې رد او بشارت چه نجات په دې قانون دې په يهوديت او يا په نصرانيت کښې ندې ، " من اسلم " کښې توحيد او محسن کښې اتباع د پيغمبر نو رسالت ته اشاره شوه نو کاميابی پدے ده۔

(113) وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصَارَى ---- دا هم زجر يهود ته چه دوی دې اقوالو ته ګوره چه دآسمانی کتاب دعوې کونکی هغه ديوبل نه ددين نفی کوی چه يو بې دينه بل ته

بې دينه وائی-پدې ورله رد کوی-او تسلی هم ده چه فکر مه کوه په خپلو کښې اختہ دی تاسو تہ څہ وئيلی نہ شی-

(114) وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ ---- زجر چه هرکله ددعوت نه روستو دجماعتونو نه ويستل يقينی وو نو مانعينو دجماعت ته زورنه ورکوی-دايهود اونصاری او مشرکين لوئې ظالمان دی چه دوی په جماعتونوکښې شرک کوی-او موحد دجماعت نه بندوی دا بې انصافه هم ځان دجنت ټهيکداران ګنړی په کومه خله داسې خبرې کوئ -

(115) وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ---- تسلی موحد ته :چه که تادجمات نه اوباسی نو ستا دجمات سره څه واسطه ؟ته خو دالله تعالیٰ بنده ئې او دهغه مسئله کوې نو الله تعالیٰ هر ځائې دې خپل کار جاری ساته --(او دا هم دقبلې مسئلې ته اشاره ده-)

هر ملک ملک ماست که ملک خدائے ماست

(116) وَقَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا ---- شپږمه شبهه اودهغې جواب :دا بې انصافه ددې بدعملو سره ،ددوی يوه بله بدعملی چه وائی الله ځان له نيازولی نيولی-لکه عزير 7 او عيسی 7 - وائی به چه تاته ټول شاګردان برابر دی څه ؟ نو دغه شان الله تعالیٰ ته هم ټول مخلوق يوشان ندی -څه پرې ډير ګران دی دهغوی خبره خکته نه غورځوی نو مونږ دوی تہ وايو او دوئ الله تعالیٰ تہ وائی ، دويم دا چہ " ولداً نائباً متصرفاً فی الامور" (شيخ الشيوخ ) نو ځنی کارونہ ئ دوی تہ حوالہ کړی دی نو د هغې جوابونہ کوی۔ چه :

سُبْحَانَهُ :اول جواب -بَلْ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ :دويم جواب -كُلٌّ لَهُ قَانِتُونَ :دريم جواب- بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ : خلورم جواب - وَإِذَا قَضَى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ- پنځم جواب -نو پنځ پيريه دمشرک پہ اعتراض دا پنځه ګزاره ورکړه-دالله تعالیٰ نائب او نيازولی ته څه حاجت دې-

تیر فکر را تو انداختے بعید نحن اقرب الیہ گفت من حبل الورید"

(118) وَقَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ---- اوومه شبهه او دهغې جواب : چه ستا په رسالت او په صداقت دې الله تعالیٰ مونږسره خبرې اوکړی يعنی ځمونږپه نوم خط ولې نه رالیږی چه

دا مِ دراوليږلو نو وې منئ تاته به وائی چه يره مونږه دشپې څه خوب او رنړاولې نه وينو چه ستا دريشتنوالی ثخه ده- اول جواب " وكذالک قال " ېخوانو هم داسے اعتراضونه کړی وو نو څه فائده ورله نه وه ورکړې-

قَدْ بَيَّنَّا --- دويم جواب :خبرو ته څه حاجت د حقانيت دلائل راغلی دی خو چه چا کښې انابت وی-بادشاه چه قانون مقرر کړی نو هر کورله نه ځی دا ددوی څه کم عقل اعتراض دې-

(119) إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ ---- تسلی :چه کله اعتراضات کیږی نو کله کله زړه ته خدشه راشی چه يره کيدې شی په ما کښې څه چل وی خو ځه خبر نه يم -نو تسلی ته حق پيغمبر ئې او دا چه کوم نه منی نو دوی فکر مه کوه تاخپله ذمه فارغه کړې ده تا نه به ددې دوزخيانو باره کښې تپوس نه کیږی -تسلی داسې هم چه دوئ پدې اعتراضونو ستا نبوت پټول غواړی چه دا مسئله خکاره نشی نو تسلی ته دالله تعالیٰ حق پيغمبر يئ -

(120) وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ ---- تيقظ او تنبيه داعی ته :بيدار شه کله که داعی زړه کښې راشی چه څه به ددوی کړم او څه به ځما شی نو داغم به ختم شی او يو شريکه مسلمانی به جوړه کړو نو وائی ويخ شه - دايهودو نصاری هسې نه خوشحاليږی چه څو مکمل دين پرې نه ايږدې دالله تعالیٰ کتاب هدايت بالکل کره دې ددې ديوې خبرې نه هم وا نه وړې دالله تعالیٰ عذاب نه څوک خلاصونکې نشته-دا وائی نبی **7** ته خو مراد امت دې-ځکه دهغه نه دا متصور نه وه-

(121) الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ ---- دليل نقلی دعلماؤ داهل کتابو نه :دا بې انصافه چه داسې شبهات کوی او په انکار کلک دی-نو ددوی مليان خو هم ځنې داسې دی چه هغوی قرآن منی او ايمان پرې راوړی او ددې پيغمبر په صداقت ايمان راوړئ نو دوی دهغوی نه هم عبرت نه اخلی -

وَمَنْ يَكْفُرْ بِهِ ---- تخويف :چه پدې ايمان رانه وړئ نو تاوانی -

(122) يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا ---- داهغه "يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ " رامعاد کړو اشاره وه چه تردې پورې خطاب وو بنی اسرائیلو سره اول ورسره دتوحید خبره اوشوه او بیاورسره درسالت باره کښې تفصیل سره خبره اوشوه نو ترغیب ورکوی چه ایمان راوړئ -
(123) وَاتَّقُوا يَوْمًا ---- يره : چه فخر دأباء او ديهوديت او نصرانيت مو پکار نه راځی-
(124) وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ ---- ددې ځائې نه ترآخره پورې داتم اعتراض پورې تذکره دابراهيم 7 کوی يهوديانو او مشرکانو به ځان ته ابراهيميان وې-نو وائی راشئ اوګورئ چه اصل ابراهيمی څوک دې او دا تذکره دابراهيم 7 ددريو خبرو دپاره کوی- يوه چه "بيت الله دتوحيد دپاره جوړ شوې دې نو شرک پکښې ولې کوئ- ۱۲۵ کښې - دويم دې پيغمبر له دعاء ابراهيم 7 غوختلې وه نو انکار ترې ولې کوی-۱۲۹ کښې- او دريم توحيد دټولو انبياؤ اتفاقی دين دې انکار ترې ولې کوی-دا په ۱۳۲ او ۱۳۳ کښې -او دابه اتمې شبهې ته تمهيد هم شی ځکه هغه شبهه په تحويل دقبلې ده نو خائی چه دا پيغمبر ابراهيمی دې نو دده قبله هم ده ابراهيم ﷺ پکار ده-
وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ ---ابتلاء او امامت ملاويدل دابراهيم 7 -
(125) وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَة ---- اوله خبره چه دابراهيم 7 دبيت الله شريف د تعمير په وخت دا وئيلی شوی وو چه :" أَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ " بيت الله شريف به دشرک نه پاک ساتی نو هغه توحيد له جوړ شوې او تاسو پکښې شرک کوئ -بتان مو پکښې کيخودل -نو اصلی د ابراهيم 7 تابعدار نبی 7 دې چه شرک ختموی نو راشئ دده اومنئ -
(126) وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ ---- دعاء دابراهيم 7 دبيت الله او دمکې دپاره-
(127) وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ ---- تعمير دابراهيم 7 بيت الله لره او تمهيد دويمې خبرې ته چه هغه مدرسه او جُمات جوړ کړو او دالله تعالیٰ نه ورله استاذ غوختلې وو-
(نبی 7 داسماعيل 7 په اولاد کښې وو ځکه ورسره اسماعيل 7 ذکر کړې دې-)

(129) رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ --- دويمه خبره چه ددې پيغمبر دپاره ابراهيم 7 دعاء غوختلې وه چه ددوی نه پيغمبر راوله -نو تاسو دابراهيم 7 څنګه نوم اخلئ چه دهغه ددعاء نه انکار کوئ - نوراشئ که ځان ته ابراهيميان وايئ نو ددې پيغمبر رسالت تسليم کړئ-
(130) وَمَنْ يَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ ----زجر او ترغيب دمنلو دنبی 7 ته :راشئ ددې پيغمبر اتباع اوکړئ ځکه داصحيح ابراهيمی دې او د ابراهيم 7 دعاء ده اوس هم څوک دده نه اعراض کوی نوغټ سفيه او کم عقل دې -
(131) إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ ---- دابراهيم 7 دمقام وجه چه هغه دالله تعالیٰ تابعدار وو-
(132) وَوَصَّى بِهَا إِبْرَاهِيمُ ---- ددې نه تر " وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ " (133) پورې دريمه خبره چه دوی ددې پيغمبر خلاف کوی ځکه چه دې توحيد بيانوی نو توحيد خو دټولو انبياؤ متفقه مسئله ده -نو ولې ددې نه انکار کوئ ؟
(134) تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ---- رد په افتخار ديهودو : چه په دغه ټولو خبروکښې دنبیﷺخلاف کوئ او دعوی دابراهيميت کوئ او سره ددې فخر هم کوئ نو پدې رد کوی چه دا وايئ چه اګر که هر څه يو خوجنت ته به ځو-نو دهغې رد چه خپله څه اوکړه هغه لاړل ددنيا اوس ته څه خپل اوخايه-
(135) وَقَالُوا كُونُوا هُودًا --- زجر: سره ددې نه چه دومره عجيبه بيان اوشو او ددوی دآباؤ اجداد دين اوخودلې شو چه دشرک نه بيزار وو سره ددې نه دوی بيا هم ديهوديت او نصرانيت چه په هغې کښې شرک پروت دې دهغې دعوت ورکوی خلقو ته نو زورنه ورکوی چه- ددين ابراهيمی اتباع چه دشرک نه بالکل پاک دې هغه پکار ده او دهغې اتباع اوکړئ په هغې کښې هدايت دې-
(136) قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ ---- ترغيب بيان داسلام ته - چه ددئ دغه طرفته دعوت ورکوی نو تاسو دوی ته حقيقت د اسلام بيان کړئ چه هدايت پدې کښې دې په يهوديت او نصرانيت کښې ندې- چه مونږ يهوديت او نصرانيت نه پيژنو مونږديو الله په توحيد ايمان لرونکی يو او چه څه دپيغمبر په واسطه وحی شوې ده-

(137) فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا ---زجر يهودو ته چه هدايت په يهوديت او نصرانيت کښې ندې پديکښې دې چه دصحابو څنګه په توحيد رسالت او په تيرو انبياؤ ايمان دې دغه شان ايمان راوړئ نو دوی به هم په هدايت شی-

وَإِنْ تَوَلَّوْا ---تسلی چه که دوی ستا خلاف کوی نو ددوی په مقابله کښې تاله يوالله کافی دې-

کیا فکر اگر ساری خدائی ہو مخالف کافی ہے اگر ایک خدا میرے لئے ہے

(138) صِبْغَةَ اللَّهِ ---ترغيب او تعليم مومنانو ته د رد په اهل کتابو چه تاسو په ځان يو رنګ اوبل رنګ لګوئ او په هغې کلک يئ راشئ دتوحيد رنګ او دالله تعالیٰ ددين رنګ قبول کړئ چه کامياب شئ-مونږ خو دهغه الله عبادت کوو-

(139) قُلْ أَتُحَاجُّونَنَا فِي اللَّهِ --- زجر اهل کتابو ته : سره ددې دومره بيان نه که بيا هم ستاخلاف کوی او په توحيد کښې درسره جهګړه کوی او په يهوديت او نصرانيت مسئله کښې درسره جهګړه کوی نو صاف اعلان ورته اوکړه-

(140) أَمْ تَقُولُونَ --- زجر اهل کتابو ته چه دعقل نه کار واخلئ په کومه خُله تاسو وائئ چه ابراهيم 7 او دهغه اولاد يهود او نصٰری وو تاسو دمخکښې بيان څه معلومه نه کړه خو عقل دکوم ځائې نه راوړو-

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ --- زجر کاتمينو دحق ته : چه د چا په علم کښې حق مسئله وه دتوحيد يا دنبی 7 دصداقت او دالله تعالیٰ دطرفنه ثابته وه اودې هغه پټوی يعنی بيان ئې نه کوی نو دده نه لوئې ظالم بل نشته دې نو معلومه شوه چه يهود لوئې ظالمان دی-

وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ --- تخويف :چه الله تعالیٰ ته ددوی ټول اعمال معلوم دی جواب به ورکړی-

(141) تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ --- بيا رد په فخر او په ناز ديهودو او نصارو چه څمونږ مشران انبياء وو مونږ به معاف کوی -

(142) سَيَقُولُ السُّفَهَاءُ مِنَ النَّاسِ ---- اتمه شبهه او دهغې جواب : نبی **7** په حقانیت ثومره مدلل او خکلې بیان اوشواو دابراهیمیت حقیقت خکاره شو- بیا هم دا کم عقل زر شبهه کوی او اعتراض کوی په تحویل دقبلې باندې - چه دې دانبیاء کرامو د متفقه قبلې نه مخالفت کوی- چه نبی **7** په مدینه کښې بیت المقدس ته مونځ کوو چه وحی راغله مخ واړوه بیت الله شریف ته نو یو غوبل جوړشو یهودو اعتراض کولو چه ولې بیت المقدس کښې ثه چل وو دا ثه قبله نه وه؟ او منافقانو وې سړې دټینګې ندې صبابه بل ثه شروع کړی-او مشرکانو وې رو رو بیاځمونږ طرفته راځی-پردی کلی کښې اوسیدل ثه آسان کار ندې-دا غوغا شوه ،غوبل شو نو قرآن ډیرپه اوږدو جوابونه کوی-او بیا بیا حکمتونه خائی-او زجرونه هم-

قُلْ لِلَّهِ الْمَشْرِقُ ---- اول جواب اجمالی او حاکمانه بادشاهی طریقې سره جواب :اختیار دطرفونو دالله تعالیٰ سره دې- په طرفونو کښې ثه پاکی نشته دې -پاکی دالله تعالیٰ دحکم منلو کښې ده نو ځه دهغه حکم منم-ځه دالله بنده یم دطرفونو بنده نه یم ،

(143) وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا ---- دویم جواب خو اوس حکمتونه ذکر کوی-دا حکیمانه جوابونه دی -چونکه دې اعتراض له دوی ډیر زور ورکړې وو نو ددې وجې نه قرآن کریم ډیر په زور او شور جوابونه کوی -دجواب حاصل دادې چه تاسو دتوحید داعیان امت یئ نو تاسو له مرکزیت پکار دې او بیت الله شریف د ټولې دنیا مرکز وو نو دا مِ ستاسو قبله کړه -

وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي ---- دویم حکمت : چه دې کښې دتابعدار او دغیر تابعدار او دمخلص او غیر مخلص پته اولګی -ځکه د ګرانو احکاماتو سره ملګری معلوم شی-

وَمَا كَانَ اللَّهُ ---- دفع دشبهې چه بیت المقدس ته کوم مونځونه شوی دی یا جنازې شوی دی ،مړی خخ شوی دی ؟ جواب هغه دالله تعالیٰ په حکم وو په هغې ستاسو ایمان وو نوالله تعالیٰ دایمان سره کړی اعمال نه بربادوی -

(144) قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ ---- تسلی او تنبیه نبی 7 ته : چه دتحویل نه مخکښې ستا هم په اخری وخت کښې داخواهش وو چه لا قبله بدله نشی او پریشانی به دِ وه او پریشانی دمخ ستامونږپه آسمان کښې لیدله ستا خیال وو چه کیدې شی یهود مانوس شی او ایمان راوړی نو مونږبه تاله داسې قبله درکړو چه ته به پرې خوشحاله شې-ځکه ته هم ابراهیمی ئې او دا قبله هم ابراهیمی ده-نو حکم راغې چه "فَوَلِّ " قبله بدله شوه-دمدینې په ابتدائی دور کښې دنبیﷺخواهش وو چه څما قبله هغه بیت الله شریف شی نو دلته قرآن کښې روستې حال ذکر دې او حدیث کښې اول حال ذکر دې-

وَإِنَّ الَّذِينَ ---- تسلی چه دیهودو هم اکثر ته پته وه چه داسې به کیدله ددوی په کتاب کښې وو چه دا پیغمبر به دوو قبلو ته مونځ کوی -

وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ ---- تخویف چه الله تعالیٰ ته ددوی اعمال معلوم دی بدل به ورکړی-

(145) وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ ---- تنبیه نبی 7 ته چه تا وئیل چه قبله دِ بدله نشی کیدې شی دوی ایمان راوړی نو دا ډیر نالائقه دی ګوره ورته داددوی عمل دې-ضدیان او عنادیان دی-ددوی په خواهش پسې مه ځه-

(١٤٧) الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ---- زجر یهودو ته : دوی ته دا مسئله او ستا حقانیت بالکل صاف معلوم دې خو کاتمین دی-اوا دلیل نقلی په صداقت او تحویل د قبلې هم شو-

(148) لِكُلٍّ وِجْهَة ---- دریم حکمت چه دهر قوم ځان له دطرف وو دمخ اړولو نو مسلمانان ځان له امت او جماعت او قوم دې نو ددوی به هم خپل طرف وی -دا نده چه دبل طرفته به مخ کوی -

فاستبقوا ---- ترغیب مومنانو ته - چه دالله تعالیٰ حکم اومنئ - او ددوی فکر مه کوئ-ځکه

أَيْنَ مَا تَكُونُوا ---- تخویف اخروی : وخت راروان دې ددې معترضینو او منکرینو پته به اولږی -

(149) وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ ---- بيا حكم پس دزواجرو او جواباتو نه - چه دوی به دا اعتراضات کوی- ته خپل کار جاری ساته -ستا مسئله او ته په حقه ئې-

(150) وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ ---- دا دځلورم حکمت دپاره بیا راوړو چه دچا اعتراض پاتې نشی دا پیغمبر ابراهیمی دې او قبله ئې ابراهیمی نده-نو مونږه ته ابراهیمی قبلې ته واړولې چه اعتراضات ختم شی او هرچه دضدیانو اعتراضات دی نو داخو به لګیا وی ددې څه فکر مه کوه -

وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِي ---- اشاره ده چه قبله بدلول نعمت پوره کول دی- لکه پیغمبر رالیږل یو نعمت او هدایت کول یو نعمت نو دا قبله مِ هم درکړه چه په تاسو ټول نعمتونه تام کړم-

(152) فَاذْكُرُونِي ---- ترغیب چه هر کله ما نعمتونه پوره کړل نو تاسو هم ځما دتوحید تذکره کوئ او په اتباع باندې کلک اوسیږئ او ناقدری مه کوئ او دِ اعتراضونو فکر مه کوئ- که چرته څه پریشانی راځی نو :

(153) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا ---- تلقین دتثبت او کلکوالی : چه کچرته په تحویل دقبله او دپیغمبر په اتباع کښې مصائب راځی نو دالله تعالیٰ مدد پدې طریقه غواړی-

إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ (153) بشارت دمعیت : چه کله ته کلک شوې نو الله تعالیٰ دې ملګرې دې نو ته نور څه وائی؟ ړوند دخدائې نه څه غوړی ،دوه سترګې بینا -

(154) وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ ---- بشارت مومنینومقتولینو فی سبیل الله ته- حتی کچرته ستاسو یو ملګرې دپیغمبر په اتباع کښې قتل هم شی- نو همت مه بائلئ دا الله تعالیٰ ته حساب شو دې دعامو مړو پشان ندې -دې دالله تعالیٰ سره په یو زبردست ژوند ژوندې دې-

(155) وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ---- تلقین دصبر :دانده چه امتحانات به نه راځی -امتحانات به ضرور راځی او دامختلف قسمه امتحانات به راځی خو تاسو کلک شئ په توحید او په رسالت باندې-

وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ (155) بشارت- خوشحالی کلکو خلقو ته-

(156) الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبة ---- دصابرينو نخه -چه هغوی په مصيبت کښې الله تعالیٰ يادوی-
(157) أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ---- درې خوشحالئ او انعامات دکلکو او صابرينو-چه هرکله ددين په مصيبت دمخالفينو په شبهاتو کلک شوې او په مصائبو دِ صبر اوکړو نو دادرې خوشحالئ به درته ملاؤ شی -
(158) إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَة ---- نهمه شبهه په رسالت او دهغې جواب : يره په صفا او مروه خو بتان پراته دی- نو دا مسلمانان مونږ دبتانو دعبادت نه منع کوی او په خپله دهغې سعی کوی نو داخو دبتانو بندګی ده- چه کوم ځائې کښې تر اوسه شرک کيدلو نو دهغې دتعظيم څه مطلب؟او دمسلمانانو زړه کښې هم شک راغلې وو نو دهغې جواب چه صفا او مروه خو دالله تعالیٰ دنخو نه دی-داخو پرې نالائقو بتان کيخودلی وو پدې سره دهغوی په تعظيم کښې څه فرق نه راځی -
(159) إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ ---- زجر علماء سوء او رهبان سوء ته شبهات ختم شو نو اوس ناکاره مليانو او پيرانو ته زورنه ورکوی چه پدې شبهاتو سره او پدې اعتراضونو سره ددوی غرض هغه دادې چه دالله تعالیٰ صاف دين پټ کړی -چه توحيد او رسالت ظاهر نشی ( چه دالله تعالیٰ يو والې او ددې پيغمبر ﷺپيغمبری خلقو ته ظاهره نشی ) چه الله تعالیٰ صاف بيان کړې دی نو دا اتفاقی لعنتيان دی-
(160) إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا---- دعوت توبې ته : دالله تعالیٰ شان کريمی، سره ددې نه وائی چه که اوس هم دا بد عمل پريخودلو نو معاف کوم مو او دعالم دتوبې درې شرائط ذکر کوی-
(161) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا---- ټول کافرانو ته زجر او تخويف اخروی ، يعنی يره د آخرت - چه کوم منکر دتوحيد او رسالت دی او دهغې نه توبه نه اوباسی نو حال ئې دادې-
(163) وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ---- مسئله دتوحيد : دبحث درسالت په اختتام کښې مسئله دتوحيد ذکر کوی چه دپيغمبر بعثت ددې دپاره شوې وو او مخکښې دحق کاتمينو(

پتهونکو ته)  ته زورنه وه نو چه کومه مسئله اول دبيانولو ده نو هغه اوس وائی چه هغه مسئله دتوحيد ده-دا بيانول پکار دی-او چا چه دا مسئله پته کړه- نو دغه حشر به ئې وی او کافر ددې وجې نه دوزخيان شو چه ددې نه انکار کوی - دلته مسئله دتوحيد دا مبداء درد دشرک فعلی دپاره په سر دسورة کښې "اعبدوا "سره رد دشرک اعتقادی وو نو اوس رد دشرک فعلی کوی چه دواړه قسمه دشرک رد شی -او دا خکاره شی چه پيغمبر ددې دواړو شرکونو د رد پاره راغلې وو-

وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ --- مسئله دتوحيد-

(164) إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ ---- دلائل عقليه په توحيد اته (٨) په يو آيت کريمه کښې اته (٨) دلائل ذکر کوی چه الله تعالیٰ په ذات و صفاتو کښې يو څکه دې چه دا کارونه هغه يواځې کړی دی نو دې کارونو کښې سوچ اوکړئ-

(165) وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ ---- زجر مشرکينو ته : چه دا بې انصافه مشرک سره ددومره دلائلو نه الله تعالیٰ سره شريکان جوړوی او بيا ورسره داسې محبت کوی لکه چه دالله تعالیٰ سره کوی-لکه چه دالله تعالیٰ په نوم نذر ونياز ورکوی-نو دغه شان دغير الله په نوم هم نذر ونياز ورکوی نو داڅومره بې انصافه دی ،

وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ ظَلَمُوا--- ددې نه تر " وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ (167) پورې تخويف اخروی چه يو ورځ راروانه ده دا ظالمان به دخپل عمل انجام اووينی-اوبيا به دا عابدين او معبودين چه ډيره مينه به ئې ورسره کوله نو ديو بل دشمنان به شی-خوڅه فائده ئې بيا په هغه وخت کښې نشته دې -نو خه داده چه اوس دشرک فعلی ټول اقسام پريږدئ او :

(68) يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا ---- رد دشرک فعلی او رد په تحريمات العباد - لکه چه رد دشرک اعتقادی کښې خطاب عام وو نو رد دشرک فعلی کښې هم خطاب عام راوړو او د شرک فعلی لوئې شاخ هغه تحريمات العباد وو - چه په عقيده دخير او شر باندې بغير

د ظاهرى اسبابو په ځان دالله تعالىٰ حلال شوى بند کړى نو الله تعالىٰ وائى چه " کلوا" چه کوم ما حلال کړى دى نو هغه په ځان مه بندوئ بلکه هغه حلال اوګنړئ-

وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ---- تحذير ، يره داتباع دشيطان نه : چه دتحريمات العباد دا لار تاسو ته شيطان خائى نو دده مه منئ دهغه کار دادي چه تاسو په ناکاره کارونو او خبرو راړوى-

(170) وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا ---- زجر او رد په دليل دمشرکانو باندې چه ته ورته دقرآن په حواله دومره خکلې بيان اوکړې نو دې بې انصافه ته ګوره چه وائى څه بې دليله خو نه يم ماسره دليل شته دې ځما مشران ماله کافى دى-

(171) وَمَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- نو دداسې خلقو مثال : چه په ړنده دمشرانو پسې روان دى او قرآن او سنت پريږدى نو دائې مثال دې -

صُمٌّ بُكْمٌ ---- مهر پرې اولږيدو لکه چه په اول سر کښې ئې وئيلى وو چه "صم بكمُ" " او "ختم الله " په دوى دقرآن بيان اثر نه کوى- وائى مونږمشرانو پسې روان يو نو دوى خو نه منى خو تاسو نو -

(172) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا ---- رد دتحريمات العباد دپاره خطاب خاص: چه کافران او مشرکان خو نه منى- هغوى خو اتباع دآباء کوى خو اې مومنانو تاسو چرته دځان نه تحريمات جوړ نه کړئ تاسو دالله تعالىٰ حلال شوى څيزونه استعمال کړئ او دالله تعالىٰ دنعمت قدر اوکړئ-

(173) إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَة---- بيان دتحريمات الله : حرام هغه دى چه الله تعالىٰ حرام کړى وى- نو پخه خبره ده چه دا څيزونه حرام دى نو چه الله تعالىٰ کوم حرام کړى دى هغې ته حرام اووايئ-

وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ --- رد په نذور العباد : دمخلوق په نوم چه کومه منخته اوشوه نو داهم الله تعالىٰ حرامه کړې ده -اګر که هغه څيز ذاتاً حلال وو -لکه ګډ ، چيلې خو چه

دمخلوق دتقرب نوم پرې واغستې شو نو دا حرام شو نوديته حرام اووائۍ-مشرکینو به دا استعمالولو او قرآن بند کړو-

(174) إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ --- زجر پټونکو دحق ته او تخويف : رد دشرک فعلی ګران کار وو اوپدیکښې دګیډې نقصان وو نو چه څوک دا نه کوی او دا مسئلې پټوی نو تر " لَفِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ " (176) پورې هغوی ته زورنه ورکوی-او یره ورکوی -

تر دې دویمه حصه دسورة ختم شوه -رد په شبهاتو چه په رسالت واردیدلې او رد دشرک فعلی په آخر کښې -

## الحصة الثالثه

## بیان جهاد فی سبیل الله

(177) لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا ----د (177) نه اوس دریمه حصه دسورة شروع کوی په بیان دجهاد فی سبیل الله کښې چه دامسئله دتوحید او دسنت دِ زده کړه نو اوس دا نده چه داځان سره خوندی کړه او د یو نه دوه کیږۍ مه-نه بلکه ددې دپاره کړاؤ او کوشش اوکړۍ چه دا په عالم خوره شی- ددې کړاؤ نوم جهاد دې-او دا به بیانوی تر " انّ الله یفعل مایرید " (253) پورې - دجهاد مختلف منازل دی هغه ټول به بیانوی-اول منزل اصلاح دمجاهد دا په (177) کښې بیانوی -بیا دویم منزل تدبیر دمملکت اصلاح دملک ،دا (178) نه بیانوی تر "ان نصر الله قریب " (214) پورې، سره دترغیباتو نه-دریم منزل اصلاح البیت ،کور سمول دا د(215) نه بیانوی تر آخره-ورسره واقعه دطالوت دترغیب دپاره ذکر کوی-دا ټول منازل په عجیب انداز قرآن بیانوی- یعنی بقره دجهاد نه مخکښې نظامِ جهاد برابروی- چه دجهاد دکولو نظام برابر شی-

لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا ---- بیان داصلاح دمجاهد : پدې آیت کریمه کښې دمجاهد داصلاح دپاره لس آداب ذکر کوی-پنځه متعلق دعقیدې او پنځه متعلق دعمل-چه دا پکښې

راشی نو هغه بیا جهاد کولې شی ،او میدان ته تلې شی-دا دې تهذیب الاخلاق تر "والنبیین " پورې پنځه اوصاف چه دعقیدې اصلاح پرې راځی-
وَآتَى الْمَالَ ---- ددې نه تر آخره پورې پنځه اوصاف چه اصلاح دعمل پرې راځی -بیا ددرس دوران کښې شیوخ دهغې طریقه خائی-او دمجاهد سره ئې لګوی-خو لنډ دا چه مجاهد کښې دا اوصاف پکار دی-چه دا راشی دا به صحیح مجاهد وی-
(178) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا --- ددې ځائې نه تر (189) پورې اصلاح دملک او وطن دپاره څلور بنیادی اصول ذکر کوی چه پکار ده چه ملک او وطن پدې قوانین باندې جوړ شی نو دهغې ملک والا بیا جهاد کولې شی چه ملک کښې دننه افرا تفری بګاړ او ظلم نه وی چه کوم ملک کښې ظلم او عدوان وی نو هغه جهاد نشی کولې-
خبردارے :قرآن عجیبه کار اوکړو دځان پسې دکور اصلاح وی او بیا دملک نو قرآن دملک اصلاح مخکښې کړه او دکور هغه ئې روستو کړله نو دا ولې؟نو جواب چه نیت دملک او عالم مخکښې پکار دے نو صحیح خبره ده چه دکور اصلاح مخکښې خو قرآن د ملک اصلاح را مخکښې کړه چه نیت به دکل عالم ساتې داسې نه چه دکور شې نه بلکه تاته کار پروت دې-(شیخ الاسلام کابلګرامی شهید رحمه الله تعالیٰ )
كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ ---- اول قانون چه " قصاص من الظالم " چه دظالم خلاف آواز اوچت کړې نو مظلومان به دِ ملګری شی چه دظلم بدل اغستل پکار دی-ځکه که دظالم لاس او نه نیولې شی نو ظلم به عام شی ددې قانون مطلب فوجداری مقدمې ټولې په قرآن حل کړئ نه په خپل قانون باندې- چه دملک نه ظلم ختم شو نو جهاد به اوکړے شئ-
خبردارے : شیخ القرآن رحمہ الله تعالیٰ د قاتل په ځائ ټکې د ظالم راوړو چه کلیه شی او هر ظالم ته شامل شی ځکه چې د جزئیات نه کلِی مستنبط کولې شی او قرآن تصریح په قتل ځکه اوکړه چه بیا د قتل قباحت نه معلومیدلو ( میر صاحب )

(179) وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاة ---- دقصاص فائده -چه امن او خوشحالی او سکون به راشی-

(180) كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ ---- دویم قانون -" تقسیم الاموال بالقانون الالٰهی "- د مالونو دوجې نه فتنه او فساد راځی نو مال په قانون دشریعت تقسیم کړئ اوس به دِ غریبان ملګری شی-ځمات به دِ تیار شی-چه کوم کس وفات کیږی نو مناسب ده چه هغه ددې خبرې وصیت اوکړی چه ځما مال دشریعت په طریقه تقسیم کړې ددې قانون مطلب دادې چه مالی مقدمې هم په قانون دقرآن حل کړئ-بیا دوصیت متعلق دوه خبرې کوی چه یو تبدیل ناجائز (181) کښې او بل حق ته دبرابرولو دپاره او شریعت قانون ته دبرابرولو دپاره تبدیل نو دا جائز(182) کښې -

(183) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ ---- دریم قانون ،"مسئلةالصوم لارتباط النفس " :دریم قانون داصلاح دملک دپاره ذکر کوی چه ارکان او افراد دِ روژه نیسی- ددې دپاره چې دلوږې او تندې عادت وی نو جهاد به کولې شی دا نه چه صبا بیا په جهاد کښې دلوږې او تندې دوجې نه روستو کیږی-او په روژه کښې ضبط الاوقات وی هر څه په وخت وی نو دده اوقات به مرتب شی-او بله دا هم چه روژه سره بنده د سختې عادت شی نو بیاکار خپل په خپله کولې شی دا نه چه بل ته به هر وخت منت کوی-او بله دا هم چه روژه داتفاق یو اهم منظر دې-چه ټول مسلمانان روژه وی یو وخت باندې ،ماتوی او روژه کوی نو دغه شان دِ متفق او متحد شی-

سوال : چه روژه خو تهذیب الاخلاق سره تعلق لری- ځکه چه د نفس اصلاح ده پکښې - نو داشیخ القرآن په تدبیرالمملکة کښې ولې ذکرکړه-نو جوابونه او وجوهات محکښې بیان شو او داصلاح دملک سره ئې مناسبت ذکر شو- دا ځما داستاذانو ددرس افادات دی --الحمد لله -

قرآن چه یو مسئله شروع کړی نو کله ئې بیا اوږده ذکر کوی او دهغې ضروری مواد او خبرې ذکر کوی-نو روژه په نفس شاق ده نو قرآن ورلره سهولیات او رخصتونه ذکر کوی-چه دومره ګران کار ندې-

كَمَا كُتِبَ --- اول سهولت ته پکښې یواځې نه ئې مصیبت چه عام شی آسان شی-

لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ---- دویم سهولت چه فائدې ته سوچ اوکړې نو بیا ډیر آسانه ده-

(184) أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ ----دریم سهولت :چه څوورځې خو چه شمیرې نو ختم وی-

فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ ---- څلورم سهولت :چه بیمارئ او سفر کښې مه نیسه چه تکلیف دې بیا قضا راوګرځوئ څه سختی نه کوی الله-

وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ --- حکم دسرسایې او صدقة الفطر ----تبعاً-

(185) شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي ---- فضیلت دمیاشت درمضان او د ایام معدودات تفسیر چې هغه دادې او شغل خائې چه رمضان کښې دا شغل ځان له جوړکړه چه قرآن وایه دا نه چه تش خوب او فلمونه-

فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ --- حکم دفرضیت : چه کله دومره سهولیات شو او دفضیلت میاشت شوه-نو چه مقیم وې او په صحت روغ نو درمضان روژې درباندې فرض دی-

وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا ---- تیر سهولت بیا ذکر کوی چه "فلیصمه "سره منسوخ شوې ندې-

يُرِيدُ اللَّهُ ---- حکمت-

(186) وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي ---- ترغیب : روژه سبب دقرب الٰهی دې په یو روژې سره انسان داویا کالو دبُعد په فاصله الله تعالیٰ ته نزدې کیږی نو چه الله تعالیٰ قریب شوې نو سوالونه دهغه نه اوکړه-

(187) أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ --- پنځم سهولت :دشپې په جماع او په خوراک څښاک پابندی نشته دې-

وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ ---- د اعتکاف په دوران کښې دجماع حرمت -دروژې احکام ئې څه جامع طریقې سره ذکرکړل-

(188) وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ ---- خلورم قانون "النهى عن الرشوة " په ملک کښې دې رشوتونه ، بدې او رشوتې نه وی نو قابل خلق به مخې ته لاړشی-او پردې حق به نشی اغستلې او چه رشوتونه وی نو په رشوت به خلق پردې حق حاصلوی او نالائقه خلق به عهدو له ځی نو ملک به تباه شی -روژه ئې په مینځ کښې ذکر کړه ځکه دا په تولو کښې معاون ده چه دخپل مال نه سرې ځان بچ کوی نو دبل دمال نه به هم ځان بچ کوی-

(189) يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَهِلَّةِ ---- تاديب فی الاقوال :دا ادب ورکوی چه خبرې سمې کوئ دوی سوال کولو چه روژه دومره دفضیلت ده نو دیرش پوره کول چه کوم وخت کښې نیول وی-نو جواب چه روژه وخت معین کښې ثواب دې دا میاشتې الله تعالیٰ مقرر کړی-چه تاسو دپاره دینی او دنیوی امورو کښې اوقات مقرر کړی نو دا په وقت مقرر کښې ثواب دې -

وَلَيْسَ الْبِرُّ ---- تاديب الافعال : دغه سوال مو داسې بې کاره دی چه لکه چه دا عمل مو بې کاره ،چه کور ته به په خپله چنه او په شاه راتللئ -التِه کارونه پریږدئ -

واتقوا الله : اصل الاصول او سنخه تعمیل احکام چه ددې خیال ساےئ نو عمل کول به آسان وی-

(190) وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ---- دعوی دقتال : هرکله چه ملک سم شو نو بیاخپل کار شروع کړئ یعنی کوم کار له چه نظام برابریدل نوهغه شروع کړئ دا نه چه لور تیره کوئ او غنم نه ریبئ-نو ددې ځائې نه اوس جهاد او هغې ته ترغیبات ذکر کوی-نو اوس حفظ ددین پس دحفاظت د بدن سع مسل نہ چې ال او بدن محفوظ نو اوس ددین حفاظت په جهاد سره-

وَاقْتُلُوهُمْ ---- ترغيب الى القتال : چه تاسو دملکه شړی نو ته ئې هم شړه او دوژلو دپاره لوئې جواز شرک دې-(192) فَإِنِ انْتَهَوْا --- دعوت دتوبې-

(193) وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى ---- غايه او انتهاء دقتال : چه د شرک قانون په عالم پاتې نشی تر هغې پورې به جنګ کوې يعني دمه دِ نشته۔
(194) الشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ ---- ادب دقتال :چه دمحترم اوقاتو او ځايونو کافر خيال ساتی نو تاسوئې هم خيال ساتئ۔
واتقوا الله : نسخه د مدد حاصلولو د الله تعالیٰ ۔
(195) وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ---- ترغيب الى الانفاق :جهاد بغير دانفاق نه ترقی نه کوی نو مال اولګوئ او جمع کوئ مه ګنی نو کافر به درباندې زوراور شی هلاک به شئ نودجهاد ترقئ دپاره مالونه اولګوئ ۔او دنياوی کارونو ته توجه مه کوئ جهاد اوکړئ ګنی نو هلاک به شئ۔
(196) وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ ---- " مسئلةالحج تنوير على ما سبق " دحج مسئله راوړی داځکه چې جهاد اوکړئ او مال اولګوئ نو دا کار په نفس ګران دې نوحج سره تربيت او ټريننګ اوکړئ چه جهاد درته آسان شی ځکه جهاد کښې هم نفس او مال لګی او په حج کښې هم دواړه کړيږی۔نور تفصيل هم استاذان دحضرت شيخ القرآن ددې ټکی کوی چه (1) حج کښې دالله تعالیٰ د مينې مظهر دې نو جهاد کښې هم دمحبوب دپاره سر تلی کښې کيخودل دی۔(2) جهاد کښې ديو امير تابعداری نو حج کښې ددغې مشق دې ۔(3) جهاد کښې رمی ده نو حج کښې هم رمی ده او(4) جهاد کښې ذبح او وژل دی نوحج کښې هم چه ذبح اوکړې چه وينو سره عادت شې چه بيادرته زړه نه خرابيږی۔(٥) او حج ته په حديث کښې جهاد وئيلی دی چه " جهادكنّ الحج "۔ داسې نورې نکتې نو ځکه مسئله دحج په مينځ دبحث دجهاد کښې راوړه۔(٦) په حج کښې چغې وی نو په جهاد کښې هم چغې وی (٧) په حج کښې يو شان جامې وی نو په جها دکښې هم (٨) په حج کښې مال اوبدن دواړه لګی نو په جهاد کښې هم (٩) په حج کښې هم کور پريخودل وی نو په جهاد کښې هم کور هجرت دې (١٠) حج سره ګناهونه معاف کيږی نو په جهاد کښې هم ګناهونه معاف کيږی ۔

دامسئله دحج ددې (195) نه تر (203) پورې ذکر کوی نوراحکامات دی آیتونه مربوط دی نو هرآیت لیکلو ته حاجت نشته دې-

(200) فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ ---- دې سره دحاجیانو دوه قسمه ذکر کوی چه یو قسم شقی بدبخته چه په حرم کښې دنیا غواړی-

(201) وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ ---- دویم قسم دحاجی سعید-چه ددنیا او آخرت دعزت او خوشحالئ سوال کوی-

(۲۰۳) واتقوا الله : نسخه د عمل او دې اجتماع د حج سره د آخرت اجتماع یاده کړئ،

(204) وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ ---- زجر مفسدینو ته او منافقانو ته -او اول ترغیب : او دابیانوی هم چه هر کار کښې دخلقو دوه قسمه دی-شقی او سعید نو اول شقی ذکر کوی-

(204) او (205) کښې دشقی پلیتی ذکر کوی-او مسلمانانو له ترغیب-چه خلق فساد کوی او ددین ځایونه روانوی او ته ورسره جنګ نه کوی دا قسمه خلق لرې کول غواړی-(206) کښې ورته تخویف ذکر کوی- چه دوزخ به دِ ځائ شی -

(207) وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي ---- دادویم قسم چه هغه نیک بخته چه په الله تعالیٰ ئې ځان قربان کړلو -دویم ترغیب-

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا ----ترغیب الی الجهاد : چه تفصیل سره مو بیان واوریدلو نو اوس په اسلام کښې پوره دننه شئ او قتال هم اسلام کښې دې نواوکړئ او دشیطان اتباع مه کوئ دفسادیانو نه وژل هم دشیطان اتباع ده-نو دا مه کوئ-

(209) فَإِنْ زَلَلْتُمْ مِنْ بَعْدِ مَا ---- زجر اویره نه کونکو د جهاد ته ، چه سره دَ دومره ترغیباتو کښې جهاد نه کوئ او اسلام کښې پوره نه دننه کیږئ-نو عذاب به راشی-

(210) هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا أَنْ ---- تخویف اخروی یا دنیوی ؛چه کافر نه منی او دخپلو شرارتونو نه راګرځی نه او د شرک نه دقیامت نه بغیر نه واپس کیږی یا چه تر څو عذاب نه وی لیدلے - نو دوی ولے اسلام ته نه راځی-نو جنګ ورسره اوکړئ-

(211) سَلْ بَنِي إِسْرَائِيلَ ---- نمونه دتخويف دنيوى :چه داکافران نه منى او دکفر او شرک نه واپس کيږى نه نو عذاب راتلل څه ناشنا کار ندې اوګوره بنى اسرائيلو چه احکام بدل کړل نو څنګه سزا مِ ورکړې وه نو دوى له به هم سزا ورکړم-او ترغيب هم کيدې شى چه جنګ اوکړئ بنى اسرائيلو نه وو کړې نو څه سزا ورته ملاؤ شوې چه "فانها محرمة عليهم اربعين سنة " -

(212) زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا ---- ترغيب الى الجهاد:پنځم ترغيب چه کافران په دنيا مست دى او مسلمانانو سره مذاق او ټوقې کوى لهذا دوى سره جنګ اوکړئ او سبب دکافرانو دانکار داحکامو نه په دنيا مست دى نو دادحقانيت نخه نده -

(213) كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً ---- ترغيب الى الجهاد چه خلق په توحيد متفق وو مشرکينو په اتفاقى مسئله کښې اختلاف اوکړو نو داختم کړئ -او داسې هم چه هميشه نه دا قانون دې چه داسې اختلاف وى او الله تعالىٰ مومنانو له فتح ورکوى نو تاسو له به هم فتح درکړى نو جهاد اوکړئ-

(214) أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ ---- ترغيب الى الجهاد په امثلو سابقينو :پخوانو مسلمانانو ددين دپاره داسې زبردستې سختې تيرې کړې دى او ته به داسې په آسانه جنت ته دننه شې-جنت تلو دپاره دمال او سر قربانى پکار ده-

ـــــ *تیرے کعبے کو جبینوں سے بسایا ہم نے* *تیرے قرآن کو سینوں سے لگایا ہم نے*

(215) يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ ---- ددې ځائې نه تر " لعلكم تعقلون " (242) پورې دريم منزل دجهاد ذکرکوى چه هغه اصلاح دکور ده تدبير المنزل چه کور دمجاهد سم وى چه کور کښې افراتفرى او پريشانى وى نوهغه کور والا مجاهد جهاد نشى کولې نو لهذا کور سم کړئ -دې دپاره اتلس قوانين او مسئلې ذکر کوى ددې ټولو مناسبت دکور سره ضرورى دې چه کورکلې پرې څنګه سميږى- جهاد سره دهرحکم مناسبت ضرورى ندې دټولو مناسبت شته دې چه کورسم شى نو جهاد کول به آسان شى ځکه

كورنۍ پريشانۍ به نه وی نو دهرې يوې دکور داصلاح سره بيانول دی څنې خو ظاهر دی چه کوم ظاهر نه وی نو هغه به ذکر کړې شی -ان شاء الله تعالیٰ-

يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ ---- اول حکم الانفاق : دکور داصلاح دپاره اول حکم چه دکور مشر دِ په کور والو مال لګوی چه ددوی سترګې مړې وی اونورو ته په اوږی نظر نه ګوری او بل ته پسخيږی نه او اخلاقی خرابۍ پکښې نه راځی-نو چه په کور مال لګوی نو په جهاد به هم لګوی-

(216) كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ ---- دويم حکم القتال :دکور په مشر کښې دِ قوت مدافعت دبدئ موجود وی -چه کور کښې څوک غلط کارکوی چه دې دفع کولې شی او جذبه دجهاد دې پکښې وی چه دکور ارکان هم ددې جذبې نه سرشار وی نو چه کور دمنکر مقابله کوی نو بهر به هم کوی-

(217) يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ ---- دريم حکم "قتال فی اشهر الحرام " :يعنی په کور کښې د عزت مندو اوقاتو احترام وی دمونځ دوخت دروژې وغيره نو چه کور دمحترم اوقاتو احترام کوی نو بهر به جهاد کښې هم دمحترم اوقاتو احترام کوی-تفصيلی بيان دهغې کوی-او تخويف کافرانو ته او بشارت مومنانو ته ذکر کوی په ۲۱۸ کښې -

(219) يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ---- څلورم حکم "النهی عن الخمر والميسر" دشراب او جوارى نه منع يعنى په کور کښې دې حرام خوراکونه لکه شراب او حرام کارونه لکه جوارى دانه وی-څکه شرابی دمور دعزت خيال نه ساتی نو دبل به څه اوساتی او جوارګر دپلار نه غلا کوی نو دې سره کور تباه کيږی او معاشره نو پدې پابندی اولګوئ او داسې ارکان بيا جهاد نشی کولې-چه حرام خور اوحرام کار نه وی هغه جهاد کولې شی-

يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ ---- د اول حکم اعاده ده د"قل العفو "دپاره چه دځان نه زيات کړه او خرچ اوکړه دځان نه زياتی کوه او لګوه -

(220) يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى ----پنځم حکم " اصلاح اليتامیٰ " -په کور کښې او معاشره کښې بې پلاره بچی پاتې شی- چې جهاد کیږی نو یتیمان به وی نودهغوی که صحیح تربیت اونشی او دمال خیال ئې اونه ساتلې شی-نو هغه بې سره لوئې شی-او دمعاشرې او دکور ناسوراو پریشانی شی ددوی تربیت اوکړئ دا به دالله په دین بیا صحیح جنګیږی -
(221) وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ ---- شپږم حکم "النهی عن نکاح المشرکات والمشرکین " : چه خپل بسترې او کور ته مشرک مه راوله او خپله موحده لور خور مشرک له مه ورکوه --دې سره به دشرک اود مشرک نه نفرت ختم شی او دادجهنم سبب دې بل دا به د راز فاشئ یوه ذریعه شی -نو نه به دِ دکور په امن شی او نه به صبا جهاد کولې شی -ځکه هغه تا جهاد ته نه پریږدی -
(222) وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ ----- اووم حکم " النهی عن الجماع فی الحیض " :کله کله دعذر او تکلیف په بناء دخپلې ښځې نه جدا کیږه یعنې کور کښې داضروری ده چه دیو بل دتکلیف او عذرلحاظ اوساتلې شی - که داسې نه وی نو نفرت سوا کیږی او پریشانی نو داسې نفرت چه د ښځې او خاوند وی نو هغه خاوند جهاد نشی کولې - ځکه جماع فی الحیض سبب دنفرت دې نو تنظیم کښې داسې کار مه کوه چه ملګرې درنه متنفره شی او که ملګری کښې څه نقصان شرعی راشی نو څه لږوخت له ترې جدا شئ چه اصلاح اوشی-
(223) وَقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ ---- اتم حکم " مقصد الوطی الولد " :کور دبی بی سره ملاویږې همبستری کوې نو صرف شهوت رانی مه کوه- بلکه لوئې مقصد داولاد پیدا کول مخې ته کړه چه مجاهدین زیات شی -
واتقوالله : نسخه د عمل کولو ،
وبشّر : بشارت په دے قانون ځآن سمونکو ته۔
(224) وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً ---- نهم حکم "التعظيم لله " :یعنی کور به هله سم وی چه په کور کښې دالله تعالیٰ دنوم تعظیم وی - دالله نوم دې دَ نیکئ دمنع کیدلو سبب نه

ګرځی چه هلک ته مور سحر وائی مونځ اوکړه او هغه وائی چه قسم په خدائې که مې اوکړلو او چه وائی فلمونه مه ګوره هغه وائی چه قسم دې که چا ترې بند کړم -دا دالله تعالیٰ دنوم بې عزتی ده -داسې خلق هغه مجاهدین نشی جوړیدې نو دالله دنوم تعظیم اوکړئ او که بې ځایه مو اغستې وی نو مناسب سزا به درته ملاؤ شی -دوه آیتونه دی-

(226) لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ ---- لسم حکم "الايلاء " : دادیو خاص قِسم قَسم تذکره کوی چه یو سړی دخپلې بی بی نه قسم کړې وی نو داسې نده چه ګنی ټول عمر دې-هغه غریبه اور ته نیولې وی اودې نه ورنزدې کیږی دې سره کور سم نه پاتې کیږی نو اوس دهغې حکم زده کړئ چه کور محفوظ او سم پاتې شی چه جهاد کول آسان شی او پریشانی نه وی -

(228) وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ ---- يولسم حکم "الطلاق " : کچرته دځه دوجې نه خبره دبنځې اودخاوند طلاقو ته اورسی نو دطلاق باره کښې هم دا آداب شرعيو لمن مه پریږدئ -نو معاشره او کور به نه خرابیږی -دا مسئله اوږده ده تر آیت (232) پورې ذکر کوی-دطلاق رجعی حکم دغه شان دمغلظ حکم ،دنکاح ثانی حکم دا ټول ذکرکوی- خو دلته ذکر ته حاجت نشته ځکه دا دتفسير سره تعلق لری-آیتونه مربوط دی-مینځ کښې په آيت (231) کښې ترغيب داحکامو زده کولو ته ورکوی چه دقرآن او سنت نه خپل احکام زده کړئ- چه معاشره مو سمه پاتې شی-نور ترغیبات هم دی -

(233) وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ ---- دولسم حکم " الرضاع " : چه په کور کښې دا هم اهمه مسئله وی چه دماشوم دشودو او پیو ورکول مسئله نو دې آیت کښې دهغې احکام ذکر کوی -چه پدې احکامو عمل وی نو نه به پلار ته تکلیف وی او نه به مور ته تکلیف وی-او کور به دفتنې او فساد اواختلاف نه محفوظ وی -اوسړې به جهاد ته فارغ البال وی -دجهاد په میدان کښې به ورسره دا فکر نه وی چه دبچی به مې څه شوی وی-

(234) وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ ---- دیارلسم حکم " عدة المتوفى عنها زوجها " :چه کور کښې کونډه پاتې شوه یا دشهید ښځه پاتې شوه نو دهغې متعلق حکم چه څلور

مياشتې او لس ورځې دا دزوړخاوند باندې دغم کولو حق دې او دخاوند رونړه وغيره به پرې خرچه کوی که ددې نه پس دويمه نکاح کوی نو څه خبره نده-
(235) وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ ---- څوارلسم حکم "الخطبة " : چه که دچا دکونډې سره دنکاح کولو اراده وه نو دوران عدت دې ددې حرکت نه کوی-ځکه پدې هغه ښځه هم خفه کيږی او دهغه مړی هم بې عزتی او بې احترامی ده - البته که صرف اشاره کښې خبره کيږی نو څه خبره نده -دا دزړونو دساتلو سبب دې -
وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ ---- نسخه دتعميل داحکامو چه الله په سر حاضرناظرګڼړه نو عمل به په احکامو آسان وی-
(236) لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ ---- پنځلسم حکم " طلاق الغير المدخول بها " :کچرته دطلاق دا مسئله ددخول نه مخکښې راپيښه شی نو دا دشمنئ سبب مه جوړوئ پدې را روانو احکامو شرعيو عمل اوکړئ نو کور کلي معاشره به صحيح سالمه پاتې شی او دفتنې او فساد او بغض او حسد نه به بچ شی -
وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ---- يا دې حکم سره لږی يا دټولو احکامو سره لږی د کور د اصلاح
(238) حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ ---- شپاړسم حکم "الصلوٰة " :دکور داصلاح په احکاماتو کښې مونځ راوړو داځکه چه ته خو لګيا طلاق وغيره فيصله کوې خو مونځ دِ هير نشی -ځکه مقصود ددې احکامونه ستا او دکور او اصلاح ده-او دا په تعلق الٰهی کيږی اوتعلق الٰهی په مونځ حاصليږی -نو دمونځ خيال اوساتئ چه اصلاح صحيح سره راشی-
(240) وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ ---- اوولسم حکم " وصية بالاحسان مع المتوفى عنها زوجها " :چه يو سړې مړکيږی نودخپلې ښځې دپاره دِ دکال وصيت اوکړی چه ځما وارثان به ئې خيال ساتی او خرچه به پرې کوی-واجب څلورمياشتې او لس ورځې وې خو که هغه نکاح نه کوی يا څوک ملاويږی نه نو تر کاله پورې دخاوند دکور نه دِ خوراک اوکړئ احسان اوکړئ چه زړه مات نشی - نو کور به سم پاتې شی -

(241) وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ ---- اتلسم حکم "حکم المتعة " : چه دطلاقو شوو ښځو سره احسان اوکړئ چه په معاشره کښې بغض او حسد سوا نه شی او نفرتونه زیات نشی -نو حکم استحبابی دے - او یا مراد د متاع نہ د عدت خرچہ ده او حکم وجوبی دے-

(242) كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ ---- حکمت داحکامو دبیان چه هوښیار شئ او په صحیح طریقه معاشره سمه کړئ-

(243) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا ---- تخویف په نه کولو دقتال :خپله سم شوې ملک سم شو او کور سم شو نو اوس دجنګ په باره کښې مرګ نه مه یریږه-نه ګورې یو قوم دمرګ دیرې جنګ نه وو کړې نو الله تعالیٰ مړه کړی وو نو تا به هم مړکړی-

(244) وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ---- حکم دجهاد او قتال : چه تیار شوې نو جنګ اوکړه-

(245) مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ ---- ترغیب الی الانفاق :چه دجهاد دترقئ دپاره مال اولګوئ-

(246) أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ ---- دترغیب الی الجهاد دپاره واقعه دطالوت ذکر کوی چه مال دِ اولګولو نو جهاد اوکړه لکه چه دطالوت ملګرو کړې او روستو کیږه مه -خودجهاد دپاره امیر منتخب کړئ-

(246) ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا ---- دادامیر دانتخاب مطالبه -

قَالُوا وَمَا لَنَا ---- اصلاح دنیت ضروری ده -

(247) وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ ---- امیر منتخب کول او دهغې اصول خه پکار دی -

(248) وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَة ---- چه کله امیر په اصولو منتخب شو نو اوس به بشارت راځی نو دطالوت په امارت زیرې-

(249) فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ ---- دامیر دخپلو ملګرو دانقیاد امتحان چه هسې نه چه بیا په معرکه کښې روستو شی-

كَمْ مِنْ فِئَة قَلِيلَة ---- اعتماد په نصرت الٰهی کول نه که په ډیر والی او په عدد-

(250) وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ ----په معركه کښې توجه الله تعالىٰ ته او دتثبت دعاء کول -
(251) وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ ---- حکمت دمشروعيت دقتال چه قتال دفساد او دهشت گردئ دختمولو دپاره دامن پيغام دې خو ډير کم عقل پوهيږی نه - او دې فضل الهی ته دهشت گردی وائی-
(252) تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ ---- صداقت دنبی 7 :چه دا اخبار دغيبو ته بيانوېږ نو ته حق پيغمبر ئې او دجهاد حقانيت چه پدې باندې تاته الله تعالىٰ وحی کړې ده او ته ئې پرې راليږلې نو داحق مضمون دې نو " فاقتلوا " -
(253) تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا ---- علت دقتال : چه ټول رسولان په توحيد متفق وو فضيلت ورکول دا خو ځمونږ کار دې خو روستو خلقو په توحيد کښې اختلاف کړې وو نو چه سره دعلم نه دوی اختلاف اوکړو نو جنګ ناګزير دې خامخواه به جنګ کيږی . که الله تعالىٰ دوی په خپله هلاکوی نو هلاکولې شی خودا دالله تعالىٰ امتحان دې -چه دقتال حکم ئې تاسو ته اوکړو نو جنګ اوکړئ او جنګ بغير دمال نه نه کيږی مال اولګوئ-

## الحصة الرابعة

## الانفاق فی سبیل الله

(254) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا ---- ددې ځائې نه څلورمه حصه دسورة ذکر کیږی چه جهادکوئ نوجهاد بغیر دمال نه نه کیږی نو اوس ترغیب ورکوی انفاق ته دا به تر آخره تر سورته وی پدیکښې ترغیبات او مثالونه دانفاق ذکرکیږی -
أَنْفِقُوا مِمَّا ---- دعوی ددې حصې ،ترغیب الی الانفاق -
(255) اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ ---- دعوی دتوحید : هغه مسئله ذکرکوی چه دکومې دترقئ دپاره جهاد او انفاق کیږی یعنی دا انفاق اوجهاد ددې مسئلې دپاره کیږی پدې یوآیت کښې لس دلائل دتوحید دی او اوولس ځله دالله تعالیٰ نوم دې پټ اوخکاره -اورد دشفاعت قهری پکښې هم دې ځکه داآیت دټولو آیتونو نه اعظم او اوچت دې -
(256) لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ ---- دفع دوهم چه جهاد او انفاق دې لره دی چه خلق په زوره مسلمانان شی نو جواب چه مونږد انفاق وینادجهاد د ترقئ دپاره کوو نوداددې دپاره ندې چه کافر په زوره مسلمانان شی بلکه هغه خودې له وو چه "حتی لاتکون فتنة " چه کافران مسلمانانو له په زوره کافر نه کړی -
قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ ---- اکراه ته څه حاجت دې دواړه لارې بالکل صاف بیان شوې دی-
فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ ---- بشارت مومن ته -
(257) اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا ---- بیان ددوو ډلو : چه حق او باطل دواړه معلوم دی نو دوه ډلې جوړشوې یو اولیاء الرحمٰن او دویم اولیاء الشیطٰن او کارهم ذکر شو چه اولیاء الرحمٰن چه دالله دوستان دی نو هغوی کښې انابت وو نو الله تعالیٰ دهغوی شک شبه ختموی که څه تیاره راشی نو الله تعالیٰ ئې دتیارې نه رڼرا ته اوباسی او چه کوم اولیاء الشیطن دی ،دشیطٰن ډله ده نو هغوی کښې ضد او عناد دې نو په هغوی مهر اولګی نو که چرته حق ورته خکاره هم شی نو هغوی ضداوعناد کوی او منی نه نو تیاره کښې

پاتې شی نورنړا نه ئې شیطان تیارې ته کړی که دغه شان دِ پرې مازغه کار نه کوی نو مثالونه اوګوره-
أُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ---- تخویف اخروی-
(258) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ ---- دا مثال دمعاند او ضدی دشیطان ددوست دې-دائې محکښې کړو ځکه دعلاج په ځائې کښې مریض محکښې کیږی-نمرود ته رنړا راغله په دلیل کښې پړشو خو هغه شان تیاره کښې پاتې شو-وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَغ
(259) أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ ---- دااول مثل دمنیب او دالله تعالیٰ ددوست چه اوګوره دې نیک بنده هسې زړه کښې خبره راغله چه دمړو دژوندی کول کیفیت به څه وی الله تعالیٰ ورله دغه خدشه دزړه نه لرې کړه او خپله ئې پرې مرګ راوستو او اووې لیدل -
(260) وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ ---- دویم مثال دخدائې ددوست چه ابراهیم **7** داسوال اوکړو چه زه دمړو ژوندی کیدل په سترګو وینم نو الله تعالیٰ ورته ځنګه اوخودل-
(261) مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ ---- ترغیب الی الانفاق او مثالونه دمنفقینو فی سبیل الله او فی غیر سبیل الله تر (269) پورې-چه کله ته پدې خبره پوهه شوې چه جهاد او انفاق دخلقو زور دمسلمانولو دپاره ندی بلکه دمعاندینو شر پرې دفع کیږی او داځکه چه حق مسئله بالکل واضحه ده نو اوس اې دالله دوستانو راشئ او مال خرچ کړئ او دا خدشه زړه کښې مه راولئ چه مال به موکم شی-داتیاره الله تعالیٰ لرې کوی-تاسو په اخلاص خرچ کړئ نودا به الله تعالیٰ زیات کړی-
مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ ---- اول مثال دخرچ کونکو په لار دالله تعالیٰ کښې چه په شرطونو خرچ اوکړی نو الله تعالیٰ ئې ورله دومره زیاتوی-
(262) الَّذِينَ يُنْفِقُونَ ---- بیان دشرائطو چه "أَمْوَالَهُمْ" :خپل مال به لګوی-
"فِي سَبِيلِ اللَّهِ " دنوم ناموس دپاره به نه وی-"ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ " چه تکلیف او زبادنه به ورپسې نه وی-

"لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ" :خوشحالی داسی خلقو ته-
(263) قَوْلٌ مَعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ ---- بل ادب دخرچ چه تکلیف سره ورکولو نه نرمه خبره بهتره ده-
(264) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- مثال دمنفقينو (خرچ کونکو) فی غيرسبيل الله چه دالله تعالیٰ په لار کښې مال نه لګوی يعنی دشرطونو لحاظ نه کوی نو دهغوی حال اوګوره چه هيڅ فائده به ورنکړی-
(265) وَمَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ ---- بل مثال دمخلصينو :اول مثال کښې زيادت داجر وو او دلته هغه صحيح نيت خائی او دا وائی چه څومره نيت خائسته کيږی نو دومره اجر زياتيږی-
(266) أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تَكُونَ لَهُ جَنَّةٌ ---- بل مثال درياکارو او خرچ کوونکو فی غيرسبيل الله چه په شرطونو برابر نه وی-اول مثال کښې صرف دومره وه چه فائده به ورنکړی دلته داخائی چه دانتهائی حاجت او ضرورت په وخت به فائده ورنکړی اوخرچ به ئې تباه شی-
كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ ---- ترغيب فکر اوسوچ ته چه کوم دې خوښ دې سوچ اوکړه نوظاهره خبره ده چه مخلص خه دې نو اوس خرچ اوکړه نو چه خرچ کوئ نو:
(267) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا ---- ترغيب انفاق طيب ته :چه مال طيب او مرغوب محبوب خرچ کړه چه کوم ځان له نه خوخوې نوالله تعالیٰ له ئې څنګه ورکوې-
(268) الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ ---- جواب دوسوسې دشيطان،چه مونږمال خرچ کوو نو دضرورت په وخت به بيا څه کوو او دا خو کميږی نو دهغې جواب داشيطانی وسوسې دی ددې اتباع مه کوئ دالله تعالیٰ وعده باندې اعتماد اوکړئ-
(269) يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ ---- ترغيب الی القرآن : دانفاق شرطونه معلومول او په ځائې لګول دادقرآن کريم نه معلوميږی نو راشئ قرآن کريم زده کړئ دالوئې خيردې-دويمه طريقه چه غريب عالم او طالب سره فکر شو چه ماسره مال نشته چه م

خرچ کړې وې نو اجربه ئِم حاصل کړې وې نو الله تعالیٰ وائی تاته زبردست مال ملاؤ شوې دې چه قرآن دې دادهر څه نه بهتر دې بیان اوکړه- (ویسه شیخ صاحب رحمه الله) دریمه طریقه د ربط: سندهی رحمة الله تعالیٰ وائی چه په جماعت دمسلمانانو کښې یومالدار خلق دی چه دجماعت دپاره به مال لګوی دویم هغه دی چه هغه به مشن خوروی دجماعت په علم سره نو دلته دهغه خلقو مقام ذکر کوی او هغوی ته وائی چه لکه دمال دخورولو شرطونه وو نو علم دهغې نه ډیر بهتر دې دهغې به هم شرطونه وی-څلورمه چه آیت کښې امتنان دې او دحکمة نه مراد په موقع مناسب څیز خرچ کول داحکمت الله تعالیٰ څنو له ورکوی دالوئې څیزونه دی څکه لږ خرچ ډیره فائده اوکی -(نیلوی صاحب رح)

(270) وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ نَفَقة ---- ترغیب الی الاخلاص :چه دنیت نه دِ الله تعالیٰ خبردار او په خرچ دِ هم عالم دې که څه اوس کوې او که څه وعده کوې چه خرچ کوم به په ټولو الله عالم دې نو نیت دِ سم کړه-

وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ ---- یره بخلاؤ ته او ریاء کارو ته چه خرچ نه کوی او یا کوی خوریاکار کوی نو داظالم دې نوهغه ته یره-

(271) إِنْ تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ ---- ترغیب الی الانفاق : دموقع مناسب چه څنګه ضرورت وی هغه شان خرچ اوکړه که پټ وی که ښکاره-اجر به ملاویږی-

(272) لَيْسَ عَلَيْكَ هُدَاهُمْ ---- تسلی نبی 7 ته :چه ماورته داسې ترغیباتو سره بیان اوکړو بیا هم دوی خرچ نه کوی نو تسلی دا کارستاندې-یا مونږ په خپلو رشته دارانو خرچه اوکړی او هغوی هدٰو ایمان نه راوړی- نو جواب اختیار ستاسو نه دے-

وَمَا تُنْفِقُوا ---- ترغیب انفاق ته چه څان له خرچ کول دی-یعنې فائده ئې ستا ده-

وَمَا تُنْفِقُونَ --- ترغیب تصحیح دنیت ته چه نیت دالله تعالیٰ رضاء اوساته -

وَمَا تُنْفِقُوا --- ضائع کیږی نه نو خرچ کړه-

(273) لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ ---- بيان دمصارف - يره خرڅ کوو خو کوم ځائې خرڅ کړو او چاله ورکړو نو ځائې خائی چه پدې ځائې خرڅ کړه-
(274) الَّذِينَ يُنْفِقُونَ ---- بشارت خرڅ کونکو ته -
(275) الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا ---- زجر بخلاؤ اوسود خورو ته - څه وايم چه دالله تعالیٰ دپاره خرڅ اوکړئ بې درياء سمعت او څه دنيوی عوض نه نو دې نالائقه اوشوم دشيطان په وسوسه چه "يعدكم الفقر ويامركم بالفحشاء " کښې انختې دې قرض هم په عوض ورکوی مفت خرڅ کول خو لا درکنار نودا سودی تباه دی نو دسودی انجام او په هغې دفعات ذکر کوی-
لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا --- دايو دفع او سزا -
ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا --- دادسودی دليل چه تجارت کښې هم ګټل دی او سود کښې هم نو يوشے دے-
وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا ---- داجواب ددليل دده چه داخو داسې ده چه سړې وائی بيزه او سپې يو شې دی ځکه څلور خپې د دواړو دی نو سپې هم خوره- بيع الله روا کړې ده او سود ئې ناروا کړې دې نوبيا خو زنا او نکاح هم يوشې دې-
وَمَنْ عَادَ فَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ --- تخويف : چه داسې سړې چه دسود حلت له دلائل وائی نوکفرکښې څه شک او دوزخی شو هميشه ،دويمه دفع هم شوه-
(276) يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا ---- جواب دوهم دسودی چه سود سره مال سوا کيږی -نو جواب : وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ غ دوه دفعې پرې نورې لګوی چه "کفّار" دې چه روا ګڼړی او " اثيم " چه حلال ئې نه ګڼړی-
(277) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ---- بشارت چه په توحيد او رسالت ئې ايمان راوړو اوجهاد او انفاق ئې اوکړو او سود نه ځان ساتی نو هغوی ته خوشحالی -
(278) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا ---- دسود نه دبچ کيدو ترغيب او دهغې نسخه چه "اتقوا الله " او " ان كنتم مومنين "-

(279) فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا ---- تخويف سودیانوته او پنځمه دفعه چه سود نه پرېږدی نودائې حال دې-
وَإِنْ تُبْتُمْ ----- سود اغستل ورله جائز ندی-
(280) وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ --- ترغیب الی الاحسان : غریب سره احسان اوکړه-
(282) وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ ---- تخويف اخروى : چه دسود نه بچ کیدل اوصحیح انفاق پدې نسخه آسانیږی چه دقیامت یره ده-
(283) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ ---- ترغیب صحیح معاملاتو ته : غلط معاملات پرېږدئ او په صحیح اصولو باندې معاملات اوکړئ - تاسو دې له سود کوئ چه قرض دارې دقرض نه اونه تختی او په وخت ئې راکړی نو دهغې داطریقه اوکړئ چه کومه درته ماوئیله په صحیح طریقه معاملات اول آیت کښې دحضر(دکلی او کور) مسئله ده -دویم کښې دسفر مسئله ده تقریباً ټولې پنځویشت مسئلې دی-چه درس وخت کښې دهغې تفصیل کولې شی -"وَاتَّقُوا اللَّهَ"چه ذکر کوی نو دانسخه دتعمیل ده -
(284) لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ ---- خاتمه دسورة او پدیکښې دوباره څلور واړه مضامین دسورة ذکر کوی-چه سورة اوږد وو نو هسې نه چه ذهن نه دِ مقصدی مضامین اونه ځی نو راشه هغه واوره-
لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ ---- مسئله دتوحید -
وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ ---- تخويف :چه کومه عقیده زړه کښې ساتې توحید که شرک نوحساب به درسره کیږی او اختیارات دفیصلې دالله تعالیٰ دی-
(285) آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ---- مسئله رسالت : او دمومنانو شان چه هغوی څنګه "سمعنا" او "اطعنا" وائی لکه دیهودو "سمعنا" او "عصینا" نه وائی-
(286) لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا ---- مسئله جهاد او انفاق ته اشاره : دا څه ستا دوس نه بهر ندی دا ستا دوس نه لاندې دی -

لَهَا مَا كَسَبَتْ ---- ترغيب او تخويف دمنلو فائده دِ خپله ده او دنه منلو نقصان دِ هم خپل دي -

رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا ---- په اختتام کښې دعاء دغوختلو طريقه هم زده کړه چه په داسې طريقه دعاء غواړه که څه کمې زياتې شوې وی چه الله تعالیٰ معاف کړی او په دعاء کښې مختصرې طريقه سره بيامضامين معاد کوی-

أَنْتَ مَوْلَانَا ---- دا توحيد شو نو "لااله الاالله " نو "محمد رسول الله " پرې قياس کړه-چه "اذا ذُکرتُ ذُکرتَ -" -

فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَۼ(286) جهاد نو انفاق پرې قياس کړه ځکه جهاد بغير دانفاق نه ترقی نه کوی-

**حاصل دسورة**

اې انسانانواو پيريانو!زبردست کتاب چه دهغه ددعوت دوجې درې ډلې مخې له راځی دعوت ورکوی ددې مسئلې چه "اعبدوا ربکم " نوخپل هر قسم تعظيم الله تعالیٰ لره اوکړئ دا خبره په دليل مدلل ده او تاسو ځما داحساناتو دلاندِ يئ-خاص کر مليانو ته هم ددې دعوت دې-هغوی دِ ځان مستغنی نه ګڼړې نو اې مليانو او يهودو تاسو هم دادعوت قبول کړئ -احسانات مِ درباندې کړې دی نوشکر اوکړئ- نو که نه منی نو اې خلقو تاسو په دوی مه دهوکه کيږئ داډير پليتان دی- ګنی رادِ شی که ځان ته په حقه وائی نو مباهله دِ اوکړی-

نودادعوت په تعليم د "محمدرسول الله " اومنئ هغه الله تعالیٰ ددې مسئلې دعوت دپاره راليږلې وو ضديان او عناديان په هغه اعتراضونه کوی اعتراضونو ته څه حاجت -دوی ځان ته ښکه ابراهيميان وائی-دا پيغمبر خو صحيح ابراهيمی دې-خومقصود ددوی دادې چه دده رسالت په دنيا ښکاره نشی اوداپټوی نو داپه لعنت دی-نو تاسو هر قسمه شرک پريږدئ او ددې "لااله الاالله محمدرسول الله "په خاطر منظم شئ -ځان سم

کړئ،ملک سم کړئ ، او کور سم کړئ-دمرګ نه يره مه کوئ صحيح امير منتخب کړئ ااو ددې مسئلې دشمنان ختم کړئ خوداکوشش به هله ترقى کوى چه تاسو په اخلاص سره مال خرچ کړئ نو مالونه خرچ کړئ بخل مه کوئ او خلاف هم مه کوئ-الله به درله اجر درکړى-او سوالونه دالله تعالىٰ نه خپل نصرت او مغفرت دپاره کوى تاسو دهغه کلمه راغستې ده هغه به ستاسو امداد کوى-

**امتيازات**

(1)خباثتونه کثيره ديهودو(2) عجز دالٰه ديهودو چه بقره وه (3)دعداوت دجبرئيل **7** جوابونه (4) صفائى دسليمٰن **7** (5) صفائى دفرشتو چه " ومااانزل على الملکين ببابل " (6) نهى داقوالو شرکيو نه په " لاتقولوا راعنا " (7) بيان دنسخ (8) ذکر دتعمير دبيت الله " اذ يرفع " (9) تحويل دقبلې (10) دصابرينو اجر (11) ذکر دمنازل الجهاد چه منازل ثلٰثه (12) واقعة طالوت (13) امثله دانفاق (4) تحذير سوديانو ته (15) واقعات خمسه دبعث بعد الموت -

# تــمــت

سورة البقرة بعون راحم المومنين ومعذّب الکفرة الفجرة

اللهم اجعل وجوهنا مسفرة ضاحکة مستبشرة ولاتجعل عليها غبرة

14 ه 1433 ه 30 ستمبر 2012 ء يوم الاثنين 50 : 03 بعدالظهر مينګوره جيل کنبې بقره اختتام ته اورسيده - نن د "ان الصفا " نه شروع شوې وه دالله تعالىٰ په لوئې کرم تردې تام شوه- په ليکلو باندې دالله لوئې شکر ګزار يم ځکه داخالص دالله مهربانى ده چه ځما دنالائقه نه په جيل کنبې داليکل اخلې-الله دِ داليکل سرته اورسوى او الله تعالىٰ دِ په خپل دربار کنبې قبول او منظورکړى-اوالله تعالىٰ دِ ځمادموراوپلاراوخويندو او رونړو او استاذانو دپاره صدقه جاريه کړى-او الله تعالىٰ دِ ماپه خيراو عافيت دخپل دين خدمت دپاره دجيل نه بهر اوباسى او الله تعالىٰ دِ ځما دمور صحت نصيب کړى او الله دِ ځماپه تلو خوشحاله کړى-آمين-

نظرثانی : ۲۱ رجب المرجب ۱٤٤۰ھ بمطابق ۲۸ مارچ ۲۰۱۹ ء یوم الخمیس غلنئ جیل مهمند

پدی ورځ مونږ دوباره پټ کړے شو اود غلنئ د پولیټیکل جیل نه غائب کړے شو - ایم آئی خفیه جیل ته او بیا په ۲۵ اپریل سوات فضاء ت ته بوتلے شو - دا اوس سوات فضاء ګټ کښې بیا اوکتلے شو-۲۲ فروری ۲۰۲۰ء یوم السبت ۲۸ جمادی الثانی ۱٤٤۱ھ

نزولا (۸۹) مصحفا (۳) سورة ال عمران مدنية ركوعات (۲۰) ايات (۲۰۰)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة آل عمران

سورة ال عمران مدنی سورة دې په نزول کښې نوی (90) نمبر دې-پس دسورة الانفال نه نازل شوې دې او په ترتیب دسورتونو کښې دریم (3) نمبر دې پس دسورة البقرة نه-

## ربط دمخکښې سورة سره

مناسبت ،رشته ،جوړ ،تعلق دسورة ال عمران دسورة البقرة سره په ګڼړو وجوهو باندې دې-دهغې نه یو څو دلته ذکر کولې شی-

**اوله وجه** : سورة آل عمران تتمه ده دمضامینو دسورة البقرة-یعنی لکه چه بقره کښې توحید ،رسالت ،جهاد او انفاق وو نو دلته هم هغه دی خو لږ په تفصیل-او چه کوم شبهات راځی په دې مقاصدو نودهغې جوابونه-

**دویمه وجه** : فاتحه کښې درې ډلې بیان شوې وې ،نو بقره کښې زیاته توجه دخطاب هغه اصلاح دیهودو (مغضوبٌ علیهم) ته وه ،اوس په سورة ال عمران کښې زیاته توجه دخطاب ضالینو یعنی نصارو ته ده-

**دریمه وجه** : په سورة البقره کښې عجز دالٰهو دیهودو څکاره شو نو په سورة العمران کښې عجز داله دنصاروچه عیسیٰ 7 دې -دهغه عاجزی او دبقرې نه ترق چه هلته دیهودو په اله دذبح حکم شوې وو او دلته اقرار دعبودیت داله دنصارو چه هغه دعبدیت اقرار کوی-اودنصارو دا اعتراض چه هغه ته انجیل کښې ابن الله وئیلی دی دهغې جواب-

**ځلورمه وجه** : سورة البقره کښې بيان درسالت ووپه دفع دشبهاتو ديهودو-نو دلته بيان درسالت دې په خباثتونو دنصارو اوملنګانو-

**پنځمه وجه** : چه سورة البقره کښې بيان دجهاد وو په تدبير المملكة او المنزل دهغې ابتدائی منازل ثلثه وو نو دلته بيان دجهاد دې په جوړولو دتنظيم او دتنظيم اصول خائی-

**شپږمه وجه** : دسورة البقره په آخر کښې " فانصرنا على القوم الكٰفرين "خو دلته ابتداء کښې مسئله دنصرت ذکر کوی- اوپه کومه چه کافر کافر ګرځيدلې چه هغه مسئله د توحيد ده -

**دعوی دسورة**

دسورة ال عمران مرکزی مضمون او دعوی دهغې هغه ځلور خبرې کومې چه دسورة البقره دې-اثبات دمقاصد اربعو توحيد ،رسالت ،جهاد او انفاق خو طرز بيان لږتفصيلی، سره دبيان دادلو او جواب دشبهاتو نه چې په توحيد کومه شبهه واردیږی-دغه شان په نورو مقاصدو نوهغې جواب به اوشی -دبقرې دمضامينو وضاحت کوی-

**خلاصه او تقسيم دسورة**

دسورة مختصره خلاصه خوداده چه دابتداء نه تر (64) پورې بيان دتوحيد او رد دشبهې دنصارو اوعجز دعيسیٰ **7** ذکر کوی-بياد(64) نه دنبی **7** درسالت بيان کوی او اهل کتابو خباثتونه ذکرکوی-او که څه شبهه په رسالت وی دهغې جواب به اوشی تر آيت (101) پورې -د(102) نه بيان دجهاد او انفاق کوی مخلوط، دجهاد دپاره تنظيم اودهغې اصول او که څه شبهه په جهاد او انفاق دچا وی دهغې جواب به اوشی -په آخر دسورة کښې به مضامين بيا رامعاد کړی-تفصيل دخلاصې په تقسيم کښې -

**تقسيم دسورة** : سورة ال عمران دبيان دمقاصدو دپاره منقسم دې دريو حصو ته-اوله حصه تر " عَلِيمٌ بِالْمُفْسِدِينَ "(63)پورې پديکښې بيان دتوحيد- دويمه حصه د (64) "

قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ " نه تر " فَقَدْ هُدِيَ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ " (101) پورې پديکښې بيان درسالت - اودريمه حصه د" يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا " (102) نه تر آخر تر سورته پديکښې بيان دجهاد او انفاق دې -

**اوله حصه** : دسورة اوله حصه دابتداء نه تر (63) آيت پورې ده او ديکښې توحيد بيانيږی او دادرې بابونه ده -

اول باب: دابتداء نه تر " وَالْمُسْتَغْفِرِينَ بِالْأَسْحَارِ " (17) پورې او پديکښې اول مسئله دتوحيد او په هغې ادله ثلٰثه (عقلی ،نقلی ،وحی)تر آيت (6) پورې-آيت (7) کښې دشبهې دنصارو اول جواب چه انجيل کښې عيسیٰ **7** ته ابن وئيلی دی-نو دهغې جواب -بيا تعليم مومنانو ته په وخت د ورود دشبهاتو کښې ايت (8) کښې-د (10) نه تر (13) پورې تخويف اخروی او دنياوی نه منونکو ته -(14) کښې تزهيد من الدنيا او ترغيب الی الاخرة ،کثرة ددنيا مفيد ندې-لکه فرعون او مکې والا ته ئے چه فائده اونکړه-

دويم باب : د " شَهِدَ اللَّهُ " (17) نه تر آيت " وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ " (25) پورې-پديکښې اول دعوی دتوحيد په ادلوثلٰثو سره په يو آيت کښې اوجواب دشبهې دنصارو دويم چه دادوی په انجيل کښې دځان نه دننه کړې دې په آيت (19) کښې . (20) کښې صداقت الرسول ذکر کوی-(21) کښې تخويف ذکر کوی-او ددوی خباثت چه قتل دانبياء او موحدينو او تشجيع مومنانو ته -او نور قباحتونه ورله ذکرکوی او ختم په تخويف باندې-

دريم باب : د " قُلِ اللَّهُمَّ " (26) نه تر (63) پورې -اول بيان دتوحيد دې او بيا قطع دموالات دکافرو نه (28) سره د تخويف اخروی نه تر (30) پورې -په (31) کښې ترغيب اتباع دنبی **7** ته -د " إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَى " (33) دنصارو دشبهې تفصيلی جواب چه هغه اله نشی کيدلې د امرءة عمران عاجزی او شجره نسب د عيسیٰ **7** عاجزی ذکر

کوی-او 15 دلائل ذکر کوی په عبدیت دعیسیٰ **7** باندې-آخر کښې اعلان دمباهلې ورته کوی-

دویمه حصه : دویمه حصه دسورة د " قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ " (64) نه تر آیت (101) پورې-پدیکښې بیان درسالت کوی -شروع په توحید کوی دا مقصد اعلیٰ هم دې او دې له پیغمبران هم راغلی وو-او بیا د بنی اسرائیلو اهل کتابو خباثتونه ذکر کوی-تقریباً (15) پلیتئ ذکرکوی-64،65، 69 ، 70 ، 71، 72، 73، 75، 78، 79، 81، 86،، ٩٣، 96، 99 - آخر کښې مسلمانانو ته دهغوی اتباع نه تحذیر او ختم په ترغیب باندې-

**دریمه حصه** : دسورة دریمه حصه د (102) نه ترآخره ده-پدیکښې ترغیب جهاد او انفاق ته او په هغې د شبهے جواب -خودجهاد او انفاق دپاره دتنظیم ضرورت دې نو دتنظیم دپاره قواعد ذکر کوی-پنځه قواعد او اصول-

اول قانون او اصل:(102) چه دټولو ملګرو عقیده به یوه وی-

دویم قانون او اصل:(103) قانون دتنظیم به قرآن او سنت وی-

دریم قانون او اصل:(104) کښې چه ارکان دجماعت به دجماعت مشن په مخکښې بوځی-اودعوت به ورکوی-فعّآل به وی-مینځ کښې ددې متعلقات ذکر کوی-

څلورم قانون او اصل:(115) کښې چه ارکان دجماعت به په جماعت او په مشن مال لګوی-

پنځم قانون او اصل:(118) کښې دحفاظت دجماعت دپاره:چه غیر به په تاسو کښې رازدار نه وی او اسباب دتباعد او لرې کولو دمنافقانو ذکرکوی- د(121) نه دبدر واقعه ذکر کوی په اصولو باندې تنویر چه په بدر کښې داصولو پابندی وه نو کامیابی وه او احد کښې پابندی نه وه نو وقتی ناکامی راغله- یعنی دفتح نه مو څه فائده وانغسته- ځکه په تاسو کښې متکاسلین او سست خلق وو -داتقریباً تر آیت (149) پورې ذکرکوی سره دترغیباتو دجهاد نه او په جهاد شبهه او د هغے جواب چی که جهاد حق وې نو احد کښې شکست ولې ملاؤ شو نو د احد د تکلیف حکمتونه- بیا د(150) نه دمشرکانو

او اهل کتابو پلیتئ ذکرکوی-چه دهغوی داتباع نه ځان بچ کړئ-مینځ کښې دجهاد ترغیبات دی تر آیت (179) پورې- د(180) نه زجر بخلاؤ ته اوترغیب انفاق ته او په انفاق شبهه او د هغے جواب- او زجر علماء سوء ته بیاخاتمه دسورة او په هغې کښې اعاده دمضامینو دسورة-

**رد د اصولو د نصرانیت**

سورة په رد دنصرانیت کښې وو نوپدیکښې یوامتیازی مضمون دا ذکرکوی چه رد داصولو دنصرانیت پکښې کوی دنصرانیت څه اصول دی چه په هغې دنصرانیت بنیاد دې - دا اصول دا سورة رد کوی -

**اول اصل** : چه داپیغمبر مونږ منو چه پیغمبر دې خو دې صرف عربو ته پیغمبر دې -نو دهغې جواب په (٨١)کښې - چه دټولو انبیاء نه ددې پیغمبر داتباع وعده اغستې شوې وه-

**دویم اصل** : دین دنصرانیت حق دین دې او داالله تعالیٰ مرضی اوخوښ دین دې - نوددې جواب په (19) کښې .چه " إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ " -

**دریم اصل** : چه دانبیاء ګواهی دنصرانیت په حقانیت موجود ده نو دهغې جواب په (81)

**څلورم اصل** : تثلیث ثابت دې هم په عقل باندې او هم په نقل باندې-نو جواب په (62) کښې -

**پنځم اصل** : چه اصل موحدین مونږیو جواب په (64) کښې -

**شپږم اصل** : چه عیسیٰ **7** په اصل کښې اله وو -نو دهغې جواب (50) کښې -

تـمـت خلاصة العمران بعون الملک الرحمٰن 14 ھ 1433 ھ 10:05 لیلةیوم الاثنین

## مقاصد الايات وتناسبها

### الحصة الاولى

دسورة دابتداء نه تر درې شپيتم (63) آيت پورې اوله حصه ده اوپديکښې بيان دتوحيد دې-او جواب دغتې شبهې دنصارو دې او څه دوړو وړو شبهو دې-او دا اوله حصه درې بابونه ده- اول باب دابتداء نه تر " والمستغفرين بالاسحار "(17) آيت پورې دې -

الم (1) اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ ----(2) اصل دعوى دتوحيد ئې په ابتداء کښې راوړه-او په هغې دلائل ثلٰثه ذکر کوى- چه عقلى ،نقلى وحى دى-چه دادلائل پدې ګواهى کوى-چه کارساز ،متصرف او دهر قسمه تعظيم لائق هغه صرف الله تعالىٰ دې-نه عيسىٰ **7** ،نه دهغه مور او نه بل يو نيک بنده-

الْحَيُّ : (1) دليل عقلى -چه هميشه ژوند داصفت صرف دالله تعالىٰ دې-نه دعيسىٰ **7** ،نه دهغه دمور او نه دبل يو نيک بنده-

الْقَيُّومُ (2) دليل عقلى : چه ددې ټول کائنات تدبير کونکې څوک دې-؟نو هغه صرف الله تعالىٰ دې-نه عيسىٰ **7** نه دهغه مور اونه بل څوک-

نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ ----(3) : دليل وحى :دادعوى خو څه ځه دخپل طرفنه نه وائم بلکه ماته ئې الله تعالىٰ وحى کوى نوهغه وحى وائم-

مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنْزَلَ التَّوْرَاة وَالْإِنْجِيلَ (3)دليل نقلى :چه ځه پدې دعوى کښې يواځې او تنها هم نه يم بلکه دتورات او انجيل کښې هم دغه مضمون او دعوى وه-

(4) هُدًى لِلنَّاسِ وَأَنْزَلَ الْفُرْقَانَ ---- دا د"نزّل الكتاب "دليل وحى سره تعلق لرى-چه هغه داسې کلام رالېږلې دې-

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ----(4) تخويف : چه سره ددې دلائلو اوس هم څوک دا مسئله نه منى نودا به ئې انجام شى -معذّب به شى-

إِنَّ اللَّهَ لَا يَخْفَى عَلَيْهِ ---(5) (3) دليل عقلي چه "عالم بكل شيء هوالله "ددې ظالمانو دا انكار مناسب ندې او دوی له ځكه عذاب دې چه پدې مسئله خو داسې دلائل موجود دی الله تعالیٰ په هر څه عالم دې عیسیٰ 7 او دهغه مور خو داسې ندی-

(6) هُوَ الَّذِي يُصَوِّرُكُمْ ---- (4) دليل عقلي " چه خالق لكل شيء هو الله " هغه الله مصوِر دې او عیسیٰ 7 خو مصوِر ندې بلكه مصوَر دې نو هغه به څنګه اله شي- چې د مور په خيټه كښې پاتې شي نو اله نشي كيدې -

لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ(6) دائې نتيجه ذكر كړه ددلائلو چه دا دلائل ددې دعوی سره بالكل برابر دی او دانتيجه ترې راوزی دا كارونه بل څوک نشی كولې غالب هم هغه دې او حكمت هم دهغه دې -

(7) هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ---- اول جواب دشبهې دنصارو : چه په داسې انداز سره بيان اوشو نو اوس دوی وائی چه اصل كښې ځمونږيوشک دې نوهغه اعتراض او شک دا چه په انجيل كښې دعيسیٰ 7 باره كښې لفظ دابن استعمال شوې دې چه دا ابن الله دې نو انجيل خوآسمانی كتاب دې نو ولې داخبره څه غلطه ده ؟ او ستاسو كتاب كښې هم څه مشتبه الفاظ ملاويږی چه "روحٌ منه" او "كلمتُه" وغيره الفاظ ملاويږی-نو معلوميږی چه عيسیٰ 7 د څه كمال نه خالی ندې-نو ددې اول جواب كوی-چه په آسمانی كتاب كښې دوه قسمه الفاظ وی يو هغه چه دهغې يوه معنی وی دبلې معنی څه ګنجائش پكښې نه وی او دويم هغه چه دهغې دوی ياډيرې معنې وی-نو يو معنیٰ مراد وی او هغه بل اوريدونكې په شک او شبه كښې اوغورځوی-چه اوس كومه واخلم-اول ته محكمات وائی دويم ته متشابهات وائی-نو كچرته دا لفظ په انجيل كښې وی نو دادمتشابهاتو نه دې - د ابن يو معنی ځوې ده او بله معنی محبوب ده-نوځوې ئې اغستل دمحكماتو خلاف دی-ځكه الله تعالیٰ دولد نه پاک دې- نو دا بله معنی مراد ده چه هغه د الله تعالیٰ محبوب بنده وو نو چه كوم خلق كړو زړونو والا وی او دشرک لټونكی اوو نو هغه كړه معنی واخلی-په سوونو محكماتو ته نه ګوری-او يو متشابه پسې

روان وی-نو دمتشابه لفظ خپل مراد حاصلول دا د اهل زیغو صفت دي-او کوم چه صحیح اهل علم وی نو هغه دا منی چه دا لفظ متشابه د الله تعالیٰ دطرفنه دي خو مطلب صحیح به الله تعالیٰ اوسپارو-غلط مقصد چه هغه دنورو محکماتو سره ټکرخوری هغه نه اخلی-نو صحیح خلق متشابهاتو حل دمحکماتو په رنړا کښې کوی- نو تاسو کاړه یئ چه دابن نه غلطه معنی دبچی اخلی محکمات موجود دی چه دالله تعالیٰ ولد نشته دي او ددې نه هغه منزه دي-

خبردارې : تسلیمی جواب ئې مقدم کړو ځکه که فوراً ئې وئیلې وې چه داپه انجیل کښې نشته تاسو پکښې دننه کړې دي نو دوی به پروپیګنډه کوله چه اوګوره آسمانی کتاب نه منی هسې دعوی کوی چه مونږتول آسمانی کتابونه منو-

(8) رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا.... تعلیم مومنانو ته په وخت دشبهاتو کښې چه کله کاړه خلق شبهات واردوی-نو تاسو الله تعالیٰ ته توجه اوکړئ چه الله تعالیٰ تا مونږته په محکماتو هدایت کړې دې نو اوس ځمونږزړونه دمتشابهاتو په کږه معنی مه کږوې او مونږله استقامت نصیب کړې-

(9) رَبَّنَا إِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ ---- یعنی دامتشابهات په دنیا کښې دازمیښت دپاره دی آخرت کښې به ته تپوس کوې چه چا تاویلونه غلط کړی وو او چا نه وو کړی-

(10) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- تخویف اخروی : نو اې دغیر عبادت کونکیه او بې ځایه په توحید شبهات واردونکیه اوس اومنه اوس دِ وخت دې چه دالله عذاب راشی نوهیڅ درله نفع نشی درکولې دا مو خو به د آخرت حال شی-په مال او ولد فخر مه کوئ-

(11) كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ ---- تخویف دنیوی: یواځې آخرت نه چا چه ځما دآیتونو تکذیب کړې دې نوهغه په دنیا کښې هم تباه شوی دی او برباد شوی دی نه ګورې فرعونیانو ته نو چه تاسو داسې کوئ نو هغه الله تعالیٰ به تاسو هم تباه کړی-

(12) قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا ---- بلکه دالله تعالیٰ دطرفنه څه چه ددې مومنانو دلاسه به هم مغلوب اوکمزوری شئ-دا هم تخویف دنیوی دې او دوی به مو جهنم ته اورسوی-

(13) قَدْ كَانَ لَكُمْ آيَةٌ ---- دا نمونه دمغلويت ددنيا : چه داخو غټ طاقتونه دی-ځان ته سپړ طاقت وائی- دوی سره مالونه دولتونه او فوجونه دی نو څنګه به مغلوب شی اوکمزوری به شی-؟نو دهغې نمونه چه په بدر کبرئ کښې مونه وو کتلی کافرو سره هر څه زيات وو خو فائده ئې ورنکړه نو ددې نه دِ عبرت واخلی-

(14) زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ ---- تزهيد من الدنيا :چه سره ددومره زبردست بيان نه حق نه منی-او توحيد ته تن نه کيږدی نو دې ددنيا په محبت مست دې-او داورته خائسته شوی ده- او وائی که توحيد اومنونو داهر څه به رانه پاتی شی-نو دهغې حال وائی چه دا يو څو ورځې ژوند دې اصل مقام دآخرت دې-دهغې دپاره تيارې پکار دې-

(15) قُلْ أَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ ---- ترغيب الى الاٰخرت او بشارت سره داوصافو دمومنانو نه چه دنيا پريږدئ او دآخرت دحصول کوشش اوکړئ-په هغې کښې زبردست نعمتونه دی-او چه داراروان صفات په چا کښې وی نو هغوی له ئې الله تعالیٰ ورکوی-نو دغه صفات ځان کښې پيدا کړئ او غلط صفات پريږدئ -(17) پورې ،او دتوحيد مسئله څه ناشنا نه ده ډيره مدللةده ګورئ-

(18) شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ ---- دويم باب داولې حصې تر آيت (25) پورې دې-

شَهِدَ اللَّهُ --- مسئله دتوحيد سره دادلو ثلٰثو نه ،وحی عقلی ، نقلی -

شَهِدَ اللَّهُ ---- دليل وحی- يعنی الله تعالیٰ ددې بيان کوی-داخو څه دځان نه نه وائم،

وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُو الْعِلْمِ ---- دليل نقلی -دفرشتو ګواهی او داهل علمو دا نقلی دليل شو-

قَائِمًا بِالْقِسْطِ ---- دليل عقلی - چه داهر يو په انصاف ولاړ دې نو داعقلی شو-

لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ ---- ثمره ده چه دې دريواړو دلائلو نتيجه داشوه - نو اوس هم نه منی-

(19) إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ ---- توحيد اتفاقی مسئله ده- پديکښې په هيڅ يو دين کښې اختلاف ندې راغلې او د هر پيغمبر دا بيان وو- نو چه ددے خلاف کوم الفاظ ملاو شی نو هغه به د باغيانو د ځان نه دننه کړی وی-

وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ ---- شرک دکومې راغې نو باغیانو ده ضد او عناد دوجې اختلاف کړې وو- او دادویم جواب دې دمرکزی شبهې دنصارو-چه تاسو وائی توحید اتفاقی دین دې نو په انجیل کښې چه لفظ دابن الله ملاؤیږی دعیسیٰ 7 باره کښې - نو دهغې جواب محکښې اوشو چه دادمتشابهاتو نه دی-که وی نو تاسو ئې په مقصد نه پوهیږئ-او دویم جواب اوس کوم چه دا په اصل انجیل کښې نشته دې ځکه " ان الدین عندا لله الاسلام " ټولو آسمانی کتابونه دتوحید نه ډک وو-دا پکښې باغیانو دځان نه وردننه کړې دې -او دا د مشرکینو او مبتدعینو عادت دې-دکتاب الله نه علاوه په نورو کتابونو کښې هم چه دنیکانو په کتابونو کښې غلطې خبرې وردننه کړی نو ستاسو خبره په مونږ حجت کیدلې نشی-

وَمَنْ يَكْفُرْ ---- تخویف :اوس اومنئ ګنی وخت راروان دې-

(20) فَإِنْ حَاجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ ---- زجر اوصداقة الرسول او دعوت اهل کتابو ته :چه که باجود ددې دومره عجیب بیان او جواب دشبهې دوی بیا هم نه منی-نو ورته صاف او وایئ-چه ځه خو دیو الله غلام یم او بنده دبل چا نه یم او ځما تابعدار هم داسې دی تاسو هم راشئ او دا مسئله اومنئ-که نه منئ نو ځما ذمه داری ادا شوه او نور به درسره الله تعالیٰ پوهه شی-

(21) اِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ ---- دا تخویف اخروی تر " ومالهم من نصرین "

(22) پورې دې-او داهل کتابو پلیتئ چه دوی انبیاء کرام او موحدین شهیدان کول-چه دتوحید بیان ئې ورته کولو-او بهادری موحدینو ته چه اې موحده ! کلک شه محکښې موحدین شهیدان شوی دی خو توحید ئې پریخودلې ندې-نو ته چرته توحید له چهټی ورنکړې چه بیان دمسئلې دا سنة الانبیاء دې نو مسئله په نره بیان کړه-

(23) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ ---- زجر اهل کتابو ته او دهغوی خباثت :چه دادومره نالائقه دی چه په خپل کتاب هم فیصلې ته نه تیاریږی چه په هغې کښې هم دامسئله دتوحید لیکلې ده نو دامستحق دعذاب دی-

(24) ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا ---- سبب داعراض : چه دادکتاب الله نه اعراض ځکه کوی چه ځان دجنت مستحق ګنړی او ځان له څه ډهکوسلې جوړې کړې دی په هغه پسې روان دی۔
(25) فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنَاهُمْ ---- تخويف اخروی چه اوس خو آسمانی کتاب له نه راځی خو په آخرت کښې به بيا څه کوی هلته پدې دعوو باندې نه خلاصيږی هلته خو خبره دعمل ده۔
(26) قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ ---- دريم باب داولې حصې تر آخرتر حصې پورې چه (63) دې -پديکښې به دريم جواب دشبهې دنصارو کوی تفصيلی۔
قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ ---- مسئله دتوحيد په دريم ځل سره داثبات نه دتصرف الله تعالیٰ له او دليل عقلی (27) کښې - چه داکارونه کونکې صرف الله تعالیٰ دې نه عيسیٰ **7** او نه ئې مور -نودوی بيا هم ديکښې شک کوی-او انکار کوی ددې نه -او دا صفتونه ئ ذکر کړل نصارو ته اشاره ده چه ستاسو نه ئ حکومت واغستو او مومنانو له ئ ورکړو او نصاری پيران وو نو په طريقه ددعا ورته دعوت ورکوی۔
(28) لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ ---- قطع الموالات من الكفار:چه اې مومنانو ستاسو په يو الله تعالیٰ ايمان دې او داکفار چه سره ددې نه چه دومره بيان ورته اوشو او بيا هم دوی نه منی ضديان او عناديان دی نو دا دالله تعالیٰ دشمنان دی نو تاسو دالله دشمنانو سره دشمنی اوکړئ او دوی سره تعلقات کټ کړئ که څوک دوی سره دوستانه تعلقات ساتی نو د الله تعالیٰ به ورسره تعلق نه وی او حالت داکراه ځان له دې۔
(29) قُلْ إِنْ تُخْفُوا مَا فِي صُدُورِكُمْ ---- تخويف اخروی ترآخرد رکوع پورې دې -چه الله تعالیٰ په هر څه عالم دې که تاسو زړه کښې دهغوی سره محبت ساتئ نو الله تعالیٰ ته معلوم دی او په سزا ئې قادر دې -خپل اعمال به يو ورځ اووينئ نو اوس ځان سم کړه-الله تعالیٰ څومره په تاسو مهربان دے او بيان درته کوی۔

(31) قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ ---- ترغيب اتباع دنبی 7 ته - يعنى دکفارو سره دوستی مه کوی-ځکه که ماسره مومحبت وی نوداد الله تعالیٰ ددشمن په تعلق نه ملاویږی راشئ ځما د محبوب لار اونیسئ نوځه به تاسو سره محبت اوکړم یعنی ځما محبوبان به شئ او ګناه به ورته معاف کړم-نومځکښې بیان دلااله وو اوس بیان دالّآ الله کوی- دویمه طریقه د ربط چې اتباع د نبی علیه السلام اوکړئ او د هغه په اتباع کښې د کافرو نه بائیکاټ اوکړئ - دریمه طریقه د ربط چې نصارو د غیر الله بندګی کوله او مشرکانو د اصنامو او بتانو چې مونږ الله ته نزدے کړی نو ورته وائی چې په شرک نه په توحید به الله تعالیٰ ته نزدی کیږئ-

(32) قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ ---- ترغیب او تخویف-اطاعت اوکړئ ګنی نو عذاب به درکړی-

(33) إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَى آدَمَ وَنُوحًا ---- ددې ځائې نه تفصیلی جواب دشبهې دنصارو چه په انجیل کښې لفظ دابن ملاویږی نو دعیسیٰ 7 شجره نسب بیانوی-دهغه دمور پیدائش بیا دهغه چه کوم مبشّروو یحیٰ 7 دهغه پیدائش او بیا دعیسیٰ 7 پیدائش نو څنګه ابن الله شو-او دعیسیٰ 7 دخاندان او دفرشتو او دعیسیٰ 7 اقوال په توحید کښې ذکر کوی- اول دوه آیتونو کښې مختصر چه الله تعالیٰ غوره کړی وو او دیو بل نه پیدا وو اولاد وو نو څنګه اِلٰهه شو اِله کیدلې نشی-

(35) إِذْ قَالَتِ امْرَأَتُ عِمْرَانَ ----دعیسیٰ 7 د نیا یعنی دعیسیٰ علیه السلام د مور عاجزی-چه هغه الله تعالیٰ ته څنګه فریاد کوی-او دعیسی 7 دمور یعنی دمریم پیدائش -چه مریم خو پیدا شوې وه نو څنګه اله شو-

(37) فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ ---- چه دچا تربیت کیږی اودبل تربیت ته محتاج وی هغه اِله کیدلې نشی-

قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ----اوګوره مریم څنګه په وړوکوالی دالله تعالیٰ دتوحید آواز کوی-

(38) هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُ ---- دعيسیٰ **7** درشته دار ،ماما يا بل څه رشته دار زكريا **7** دهغه عاجزی الله تعالیٰ ته چه بچي دالله نه غواړی-

(39) فَنَادَتْهُ الْمَلَائِكَة ---- دهغه سوال قبليدل او يحيیٰ **7** مبشِّر اوزيرې وركونكې دعيسیٰ **7** وو دهغه دپيدا كيدلو بيان-

قَالَ كَذَلِكَ ---- قول دفرشتو چه اختيارات ټول دالله تعالیٰ دی-

(42) وَإِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَة ---- عاجزی دمريم او دعيسیٰ **7** دپيدا كيدلو بيان-چه كومه داسې ښځه وی هغه خدائې كيدلې نشی-

(43) ذَلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ ---- صداقت دنبی **7**- چه دا واقعات ناشنا بيانوې نو معلوميږی چه ته دالله تعالیٰ حق پيغمر ئې-دانه چه څوک دااوائی چه نبیﷺعالم الغيب وو-

(45) إِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَة ---- دعيسیٰ **7** دولادت زيرې او دعيسیٰ **7** اوصاف،

(47) قَالَتْ رَبِّ ---- دمريم تعجب-

قَالَ كَذَلِكِ ---- دفرشتو جواب-

(48) وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَة ---- دعيسیٰ **7** صفات او معجزات اودفع دشبهې چه كوم شبهات راځی چه هغه به داسې كارونه كول نو معلوميږی چه اله وو نو جواب چه دادالله تعالیٰ په اختياروو صرف په لاس دهغه ظاهر شوی وو-هغه خو په خپله دتوحيد باره كښې څه وائی-

(51) إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ ---- قول دعيسیٰ **7** په باره دتوحيد كښې نو څنګه ابن الله شو-

(52) فَلَمَّا أَحَسَّ عِيسَى ---- چه څوک داسې وی او دهغه دقتل منصوبې كيږی نوهغه به څنګه اله شی او ابن الله به شی-

(55) إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ---- دعيسیٰ **7** دقتل نه د بچاؤ دپاره تدبير الهی نو څنګه عيسیٰ **7** ابن الله شو-ددې ټولو دلائلو نه دامعلومه شوه چه هغه اله ندې-تقريباً 15 دلائل په عبديت دعيسیٰ **7** باندې-

(56) فَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا ---- سره تخويف اخروى -اوس هم نه منى نو دا به ئې انجام شى-
(57) وَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا ---- بشارت چه په عبديت دعيسىٰ 7 ئې ايمان راوړو نو دهغه به نتيجه داشى-
(58) ذَلِكَ نَتْلُوهُ عَلَيْك ---- صداقت دنبى 7 چه داسې بيان دداسې پيغمبر منل غواړى-
(59) إِنَّ مَثَلَ عِيسَى عِنْدَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ ---- دفع دتعجب او دليل دعبديت دعيسىٰ 7 چه كه ستاسو داتعجب وى چه بې پلاره پيدا دې-نو ځكه معبود دې نو بيا خو آدم 7 بې موره او بې پلاره پيدا دې نوهغه هم معبود دې څه؟ داخو دالله تعالىٰ قدرت دې-
(60) الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ ---- يعنى مسئله دعبديت دعيسىٰ 7 بالكل پاكه بيان شوه اوس پكښې ګنجائش نشته چه عيسىٰ 7 دالله تعالىٰ بنده دې عاجز ،دالوهيت او معبوديت ځائې پكښې نشته دې-
(61) فَمَنْ حَاجَّكَ فِيهِ مِنْ بَعْدِ ---- اعلان دمباهلې - داسې صاف بيان نه منى او اوس هم اعراض كوى او بحثونه كوئ نو ورته دمباهلې اعلان اوكړه چه باطل پرست ته بددعاء اوكړو چه تباه شى-
(62) إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْقَصَصُ ---- خلاصه دبحث او نتيجه - داخبره دتير بحث نه معلومه شوه نو چه اوس هم نه منى نو "فان الله عليم "(63) الله تعالىٰ ته ئې حواله كړه-اوله حصه سر ته اورسيدله او پدې كښې بيان دتوحيد اوشو او جواب دشبهې دنصارو او عبديت دعيسىٰ 7 په اكمله طريقه ثابت شو -اوس دويمه حصه دسورة په هغې كښې بيان درسالت كوى چه لااله الاالله سره محمد رسول الله هم اومنئ-

## الحصة الثانية

## رسالت

(64) قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا ---- ددې ځائې نه دسورة دويمه حصه په بيان دصداقت الرسول 6 كښې او چه كومه شبهه دهغوى په رسالت راځى نو دهغې جواب به

اوکړی-روستو دوه شبهات 93 ،96 کښې به ذکر شی-طرز د بیان درسالت هغه داسې کوی چه داهل کتابو خباثتونه بیانوی دلته دا طرز دې-چه کوم خلق دنبی 7 درسالت نه منکر دی-نودهغوی داخباثتونه پلیتئ دی- دا ځکه چه بقره کښې ډیره خبره دیهودو سره وه-اوهغه علماء وو نو مُلا اعتراض کوی او دلته خبره دپیرانو سره ده - ځکه نصاریٰ چه وو نو راهبان وو پیران وو عالمان پکښې کم وو-نو شبهات ئې دومره نشته دې-یودوه دی هغه هم داسې مضبوط ندی-او خبائث ورله ځکه ذکر کوی چه په پیرانو باندې خلق دهوکه کیږی-نو ګندګی ورله خکاره کړه چه خلق پرې دهوکه نشی-نورخلق ترې خراب نشی-پنځلس خباثتونه ذکرکوی-

قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ---- اول دعوت دتوحید ځکه دامقصد اصلی دې-ددې دپاره انبیاء کرام راغلی دی-خوراشه دامتفقه فیصله اومنی ولې ترې انکار کوی-څه خودغه اتفاق مسئله کوم څه بدله مسئله نه کوم-

وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا ---- اول خباثت داهل کتابو " اطاعة الاحباروالرهبان فی التحلیل والتحریم "-چه ملیان او پیران به ئې دشریعت ذمه دار ګنړل چه هغوی به څه ته حلال وې دوی به ورته هم حلال وې-چه هغوی به څه ته حرام وې نو دوی به ورته هم حرام وې-اوداربوبیت وو لکه چه په حدیث دعدی بن حاتم رضی الله عنه کښې دی چه هغه نبی 7 ته اووې چه مونږورته خدایان او ارباب نه وو وئیلی نو نبی 7 ورته اووې چه هغوی به څه ته حلال اووې نو تاسو به ورته نه وې او چه هغوی به څه ته حرام اووې نو تاسو به ورته نه وې-نو هغه وې وئیل به مو ورته-نه نبی 7 اووې دغه ربوبیت دې-

(65) يَا أَهْلَ الْكِتَابِ ---- دویم خباثت چه " ان ابراهیم 7 کان علی دیننا "-چه ابراهیم 7 څمونږپه دین وو هغه حنیفیت پریخودلې وو او یهودی یا نصرانی وو- دادباطل پرستو عادت وی چه هرغټ سړې ځان له راکاږی-نو ددې تفصیل سره جواب کوی تر آیت

(68) پورې او داخکاره کوی چه ابراهیم **7** په حنیفیت وو او دا پیغمبر دهغه اتباع او هغه ته ډیر نزدې وو او داامت والا- تاسو په کومه خله د ابراهیم علیه السلام نوم اخلئ-
(69) وَدَّتْ طَائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ ---- دریم خباثت "اضلال المومنین "-دائې کار دې چه مومنان ګمراه کوی یعنی په سمه روان خلق غلطې ته اړوی-
(70) يَا أَهْلَ الْكِتَابِ ---- څلورم خباثت "كفرهم بايات الله "-دائې بل خباثت چه بل ګمراه کول پریږده بلکه خپله دالله تعالیٰ دآیتونو نه انکار کوی او سره ددې نه چه خه پرې پوهیږی-
(71) يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَلْبِسُونَ الْحَقَّ ---- پنځم خباثت " تلبيس الحق بالباطل " حق او باطل ګډوی صفا خبره نه کوی چه حق واضح کړی دنبی **7** دپیغمبریئ بیان په انجیل کښې وو اوخکاره کولو به ئې نه-
(72) وَقَالَتْ طَائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ ---- شپږم خباثت " كيدهم لارتداد الضعفاء "-چه کوم نوی مسلمانان وی یاکمزوری بې علمه نو دهغوی داړولو دپاره چلونه جوړوی او دائې تدبیرونه دی-چه سحر ایمان راوړی ماښام کافر شی-چه داخلق شکیان شی چه فلانکې مولوی صاحب راغلې وو او واوریدلو بیا لاړو معلومیږی چه دده خبره کښې چل شته خو مونږپرې پوهیږو نه ملان پرې پوهیږی-نو هغه به شکیان شی-
(73) وَلَا تُؤْمِنُوا إِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِينَكُمْ ---- اووم خباثت " الوصية باليهودية المنسوخة" خپلو اتباعو او ملګرو ته هم خبره کوی چه دخپلو هم مسلکو مشربونه علاوه دبل ملا خبره مه منئ-نو ددې جواب ورته اوکړه چه " قل ان الهدى" چه که لکه دا بل عالم په حق وی او حقه مسئله کوی-نو بیا به هم دده نه منلې کیږی-او دا خبره دوی اتباعو ته څکه کوی چه په یهودیت کلک شئ-او دبل مه منئ چه بیا به بل له ستاسو غونته درجه ورکړې شی ستاسو یو خپل فضیلت دې او یا چه دهغه اومنئ نو ستا خلاف به ستا خبره دلیل کړی دالله دربار کښې-نو جواب ورته اوکړو چه " ان الفضل " درجات او

فضيلتونه ورکول دالله تعالیٰ اختیار دي-ستاسو لاس کښې ندې-تاسو له خپل وخت کښې فضيلت وو اوس ئې امت محمدی له ورکړو-

(75) وَمِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مَنْ إِنْ تَأْمَنْهُ ---- اتم خباثت " الخيانة والظلم" دا خيانت ګر دی او دعوامو مال ځان له رواګنړی چه داځمونږدپاره حلال دی-وئيل به ئې چه:

امیان ځمونږه خره دی            مونږ به پرې سواره جنت ته ځونه-

کله به ئې وې چه دا ځمونږه حق الخدمت دې چه په کومه طريقه مونږه واغستلو-

وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ----- زجرچه دا دوی په الله تعالیٰ سره دعلمه دروغ تړی-او وائی-

(76) بَلَى مَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ ---- رد ددوی- چه داسې نده بلکه اصل خبره داوه چه وفا ء اوتقویٰ پکار وه نومحبوبان شوی به وو-تش په دعوو باندې محبت دالله تعالیٰ نه ملاویږی-او هغه وفا کښې ددې پيغمبر منل هم دی-

(77) إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ ---- تخويف اخروی- انتهائی سخت تخويف او يره هغه خلقو ته چه هغوی دالله تعالیٰ آيتونه په بدل ددنيا کښې پريږدی -نو دَ دوی ددنيا دمفادو دوجې دالله تعالیٰ وعدې ماتې کړې نو انجام به ئې داشی-

(78) وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا ---- نهم خباثت " التحريف " - چه دوی دالله تعالیٰ کتاب او احکام بدلوی-اودخپلې معنی اومراد نه ئې اړوی په داسې طريقه چه عوام پرې دکتاب الله ګمان اوکړی-داددنيا رياست او محبت او جاه دپاره کوی-

(79) مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُؤْتِيَهُ اللَّهُ ---- لسم خباثت " الافتراء على العباد الصالحين "-چه دشرک په باره کښې په نيکانو بنديانو دروغ جوړوی چه دا مونږته دوی وئيلی دی چه مونږپه حاجاتو کښې رامدد کوئ-لکه دا به دوی عيسیٰ **7** او مريم ته نسبت کولو نو دهغې رد کوی تفصيلی تر " انتم مسلمون "(80) پورې -

(81) وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ ---- يولسم خباثت " التولى عن اتباع الرسول **6** "- چه دادومره خبيثان دی چه دنبی **7** داتباع نه مخ اړوی- سره ددې نه چه دټولو انبياء کرامو

نه دهغه داتباع او دنصرت وعده اغستې شوې وه۔نو ګویا دنبی 7 نه انکار ددوی دخپلو انبیاؤ نه هم انکار دې ۔نو دافاسقان دی۔
(83) أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ ---- زجر: چه دنبی 7 او دتوحید نه دوی اعراض کوی حالانکه دااعراض مناسب ندې ځکه چه دالله تعالیٰ دپاره خو هر څه تابعدار دی۔
(84) قُلْ آمَنَّا بِاللَّهِ ---- اظهار دخپلې عقيدې ۔ چه دوی خو اعتراض کوی۔خو ته ورته خپله عقيده صافه بيان کړه۔چه خِفاء پکښې پاتې نشی۔
(85) وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا ---- تخويف ۔اوورسره داتخويف هم بيان کړه چه داسلام دراتلو نه روستو اوس څوک دبل دين منی اګر چه په خپل وخت کښې آسمانی دين پاتې شوې وی خو اوس دهغې اتباع کوی نو دا به قبول نشی، اودې تاوانی دې۔نوچه دآسمانی دين داحال شو چه اوس قبول ندې نو دبدعت او دجمهوريت دقانون به څه حال وی او څنګه به قبول شی۔
(86) كَيْفَ يَهْدِي اللَّهُ قَوْمًا ---- دولسم خباثت " ارتدادهم وكفرهم بايات الله "۔دالله تعالیٰ دآيتونو حقانيت او دپيغمبر حقانيت خه معلوم شوې او سره ددې نه دهغې نه انکار کوی۔په دوی مهر لګيدلې دې۔
(87) أُولَئِكَ جَزَاؤُهُمْ ---- تخويف اخروی۔
(88) إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا ---- دعوت دتوبې ته اوس راشئ نوهم خه ده۔
(90) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- داهم تخويف دې چه سره دعلمه انکار کوی نو دده به څه توبه قبول شی۔او دنيا مال دولت به فائده ورکړی او نه به ورله څوک سفارشی وی۔

(92) لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ ــــ ترغيب اسلام تهـچه تاسو ته داسې بيان اوشوـپه هر انداز سره او تاسو دحب مال او رياست او مال دولت دوجې نه ددين نه بند يئ او ايمان نه راوړئ نو تاسو دا محبوب خرچ کړئـاو قربان کړئ نو جنت ته به اورسئ او کامل ايمان ته دا به قربانول غواړی۔

(93) كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا ---- ديارلسم خباثت " چه داسې شبهات جوړوی چه تاسو هسې وائئ چه مونږدانبياؤ اتباع کوو تاسو خو دانبياء اتباع نه کوئ-او داپيغمبر خو ابراهيمی ندې ځکه چه داوښ غوخه په محکښې شريعت کښې حرامه وه او تاسو هغې له استعمالوی-نو دهغې جواب دا دنصارو شبهه وه په رسالت باندې-تر (95) پورې جواب کوی۔

(96) اِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ ---- خوارلسم خباثت " ان قبلتنا قبل قبلتكم "-داسې شبهه کوی چه ځمونږقبله ستاسو دقبلې نه مخکښې ده نو دين هم مخکښې شو -نودهغې جواب او دبيت الله شريف مقام ذکر کوی چه قبله اول بيت الله شريف دې۔

(98) قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ ---- زجر او دعوت۔

(99) قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَصُدُّونَ ---- پنځلسم خباثت " الصد عن سبيل الله "- دالله تعالیٰ ددين په طريقو خلق بندوی-شيخ القرآن رحمه الله تعالیٰ فرمائی چه سوچ اوکړې نودا خباثتونه اوحيلې به په علماء سوء کښې نن مکمل بيا مومې۔

(100) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ----تحذير مومنانو ته ددوستئ او اتباع داهل کتابو نه -

ـه لاليه ځان نه خبر نه ئې فلانکې درپسې تبر ګرځوينه۔

نو مومنانويهود او نصری ستا دګمراه کولو او کافر کولو کوشش کوی نو خبردارچرته دهغوی اتباع اونه کړئ۔

(101) وَكَيْفَ تَكْفُرُونَ ---- زجراو تنبيه مومنانوتهـچه تاسو ته يهودو او نصارو داتباع څه حاجت دې او څنګه تاسو انکار کوی چه قرآن او سنت په تاسو کښې موجود دی-نو پدې مَنګل اولګوئ دا صراط مستقيم دې " اهدنا الصراط المستقيم " سره ئې

اولګوه-دویمه حصه په بیان درسالت کښې سر ته اورسیدله په بیان دخباثتونو دهغه چا چه هغوی دنبی 7 اتباع نه کوی-او انکار ترې نه کوی-اوس دوه مسئلې تامې شوې نو ددې دپاره جهاد اوکړئ یعنی دتائید دپیغمبردپاره جنګ اوکړئ چه توحید ترقی اوکړی-

## الحصة الثالثة

## جهاد او انفاق

(102) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ ---- ددې ځائې نه دریمه حصه دسورة ترآخره پورې-پدې کښې جهاد او انفاق برغ او مخلوط بوځی-دجهاد دپاره دتنظیم ضرورت دې -نو اول دتنظیم دتاسیس او دجوړولودپاره پنځه اصول او قواعد ذکرکوی-بیا په هغه آدابو تنویراً دبدر او احد واقعه ذکرکوی-او چه په جهاد دوی اعتراض کوی نو دهغې جواب کوی او په انفاق چه کوم اعتراض راځی نو دهغې جواب-

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ ---- اول اصل :" ان یکونوا علی عقیدة واحدة وهی التوحید"-دجماعت دجوړولو اولنې اصل او بنیاد دادې چه دټولو عقیده به یوه وی-چه هغه توحید دې ځکه صرف دالله تعالیٰ په نوم اتفاق او اتحاد راځی چه مختلف عقیدې وی نو اتفاق او اتحاد نشی راتلې اصل اتحاد هغه دزړونو دې دکپړو اتحاد خو په بازار کښې وی-

(103) وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا ---- دویم اصل:دجماعت دجوړولو دویم اصل اوبنیاد دادې چه ارکان دجماعت به په قرآن منګلې لګوی او دهغې حکم ته به منقاد وی-ځکه چه که په خپل خیال یا یو کس په خیال فیصله کوی نو اتفاق او اتحاد راتللې نشی په قرآن باندې به اتحاد راځی نو قانون به قرآن او سنت وی -بیا دهغې مقام ذکر کوی-

واذکروا : ترغیب قانون د قرآن کریم ته-

(104) وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ ---- دريم اصل: " چه اركان دجماعت هغه به فعّال وى يعنى چه كوم دَ جماعت مشن دي قرآن او كومه چه عقيده ده چه التوحيد نو دجماعت اركان به دهغې دعوت وركوى نو دوى به دلسو نه شل شى دشلو نه به ديرش شى ترقى به كوى نو كار به كوى-

(105) وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ ---- " التحذير عن التفرق "-دتنظيم او جماعت مقصود دادې چه تاسو متفق او متحد يئ نو دتحذير او اختلاف نه ځان ساتئ-اختلاف كونكو له عذاب عظيم دې-

(106) يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ--- نه تر "هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (107) -بشارت او تخويف : چه كوم خلقو په قرآن او سنت يو شو او دهغې اتباع كوى او دعوت وركوى نو هغه به سپين مخى او جنت كښې وى او هغه نور به په عذاب كښې وى-

(108) تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا ---- ترغيب الى القرآن "داچه كوم بيانيږى نوداځه دسياه چين دخاپيرو قصې نه دى-بلكه دا دالله تعالىٰ آيتونه دى نو اتباع اوكړئ-ځكه الله تعالىٰ په چا ظلم نه كوى دخپل عمل سزا به څكئ-

(109) وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ ---- مسئله دتوحيد آيتونو كښې دا مسئله بيانيږى او تنظيم ددې مسئلې دترقئ دپاره جوړيږى- نو دامسئله بيان كړئ او دعوت وركړئ-

(110) كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ---- تنوير او روشنائى رنړائى غورځول په دريم اصل باندې- ترغيب الى اشاعة التوحيد والسنة -چه تاسو ددې مسئلې دپاره انتخاب ددې امت شوې نوخامخواه به ددې دعوت وركوئ-

وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ ---- زجراهل كتابو ته چه پكار ده چه دوى منلې وې ستاسو دعوت -

(111) لَنْ يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى ---- " التشجيع " بهادر شه او توحيد اورسوه او بيان اوكړه كه اهل كتاب څه دهمكئ وغيره دركوى نو هيڅ نشى كولې خر چه ځومره په مخكښې خله

باندې آواز کوی نو دومره ئې د شاه آواز وی - داد دوی دهمکئ دی نور عملاً څه کولې نشی-
(112) ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّة ---- تخویف دنیاوی چه چا امر بالمعروف او نهی عن المنکر پریخودلو او سستی ئې اوکړه نو په هغه ذلةاو غضب او مسکنة راځی نو دیکښې سستی مه کوئ او په نرتوب بیان کړئ-مثال ئې اهل کتاب اوګورئ -
(113) لَيْسُوا سَوَاءً مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ ---- یعنی اهل کتاب ټول برابر دی نو د خو څه وایه دبدو بد څه پکښې شته دې چه دهغوی دا صفات دی-
(115) وَمَا يَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ ---- څلورم اصل : چه ارکان دجماعت به په جماعت مال لګوی-ځکه چه دجماعت دمشن دخوررولو دپاره دمال ضرورت وی نو ترغیب انفاق ته ورکړو چه "وما یفعلوا"-ناقدری به نه کیږی او وربه کړې شی-
(116) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- تخویف بخلاؤ ته : چه آخرت کښې دا مال دې خلاصولې نشی نو اوس ئې ولې دالله تعالیٰ په دین نه خرچ کوی چه په آخرت ئې پکار راشی-
(117) مَثَلُ مَا يُنْفِقُون ---- یره کافر خوهم ډیرې خرچې کوی هسپتالونه جوړوی وغیره نو دهغې جواب او مثال ذکرکوی-
(118) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَة ---- پنځم اصل: دجماعت حفاظت ضروری دې-ځکه چه دجماعت منصوبه هغه محفوظ وی چه اعداء او دشمنان دهغې دتوړاو ماتولو کوشش او نه کړی نو دهغې دپاره ضروری ده چه منافقین به ځان سره نه اخلئ او غیر به رازدار نه وی-چه راز فاش نشی-او په راروانو آیتونو کښې نخې ذکر کوی دبائیکاټ دمنافقانو او دلائل چه دا اسباب دی چه د دوی نه بائیکاټ اوکړئ-
"لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا "اول سبب-"وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ "دویم سبب- "قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَا --- "دریم سبب- "وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ --- "څلورم سبب- "لَا يُحِبُّونَكُمْ --- "پنځم سبب-

"بِالْكِتَابِ كُلِّهِ" شپږم سبب او كتاب كښې دا مسئله ده چه كافر او منافق سره دوستي مه كوئ-"وَإِذَا لَقُوكُمْ ---" اووم سبب- "وَإِذَا خَلَوْا ---" اتم سبب- "إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَة ---" نهم سبب- "وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَة ---" لسم سبب --- "تلك عشرة كاملة" -

وَإِنْ تَصْبِرُوا ---- ترغيب چه په قواعدو كلك شه او دمنافق ددوستئ نه ځان اوساته نو تاله ددوى چالونه څه تكليف دركولې نشي-

(121) وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ ---- ددې ځائې نه دوه واقعې ذكركوى -يو داحد او بله دبدر-دا تنويراً په قواعد رنړائى غورځوى چه بدر كښې تاسو لږوئ خو منافقين او متكاسلين دركښې نه وو او دامير په خبره متفق وئ اتفاق او اتحاد مو وو نو الله تعالیٰ ستاسو امداد كړې وو او په احد كښې ډير وئ خو چه منافق او سست خلق دركښې راغلل او دامير دخبرې نه موخلاف اوكړو-نو الله تعالیٰ درله وقتى شكست دركړو-يعنى دفتحې نه ئې فائده وانغستله- دا اول په لنډو ذكر كوى بيا داحد واقعه تفصيلى كوى ځكه هغې كښې وقتى شكست راغلې وو نو دهغې اسباب او فوائد خائى دمسلمانانو دتسلئ دپاره او منافقين پكښې خكاره شوى وو-نو دهغوى خباثت به بيان كړى-

وَإِذْ غَدَوْتَ ددې نه تر "الْمُؤْمِنُونَ "(122) پورې واقعه احد اجمالاً په لنډو روستو تفصيلى كوى-

(123) وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ نه تر فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ (128) پورې واقعه دبدر صرف دنصرت دهغې ذكركوى ځكه دلته مقصودى مقام دغه وو- نور تفصيل ئې په انفال كښې دې-

د " وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ" نه تر" مُسَوِّمِينَ (125) ذكر وو دنصرت او دوعدو دنصرت چه كه كافران ډيريږى تاسو متفق او متحد وئ او غير دركښې نه وو نو الله تعالیٰ ښنګه مددكړې وو-

(126) وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ --- ددې ځائې نه تر فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ- پورې چه مددكونكې الله تعالیٰ دې او حكمتونه دنصرت ذكركوى -اول حكمت او فائده " لِيَقْطَعَ طَرَفًا " (127) چه ځنې كافر هغه به په نصرت دالله تعالیٰ سره مردار شى-او قتل به كړې شى-

أَوْ يَكْبِتَهُمْ --- دويم حكمت او فائده ځنې به اوتختی او قيديان به شی۔
أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ --- دريم حكمت او فائده ځنې به عبرت واخلی نومومنان به شی۔
أَوْ يُعَذِّبَهُمْ --- څلورم حكمت ځنې به مختوم القلب وی مړه به شی ۔الله به ئې جهنم ته اورسوی۔
لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ ---- نفی دتصرف دنبی 7 نه چه دا ټول كارونه كونكې الله تعالیٰ وو دپيغمبر 7 پكښې هيڅ اختيار نه وو۔داجمله ئې ځكه مينځ كښې راوړه۔
(129) وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ --- مسئله توحيد: چه ددې مسئلې دپاره جهاد كيږی چه واكدار متصرف اختيارمند يو الله تعالیٰ دې۔
يَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ --- مختصر تخويف او بشارت۔
(130) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا ---- ترغيب الی الانفاق: جهاد بغير دانفاق نه ترقی نه كوی نو راشئ دالله تعالیٰ په لار كښې خرچ اوكړئ ۔سودسره ماده د بخل پيداكيږی نو داپريږدئ ۔داور نه به بچ شئ۔نو داذكر دانفاق په سلبی انداز سره كوی۔نزدې سره مناسبت هم دې چه نصرت الله تعالیٰ كوی خو تاسو هغه اسباب مه اختياروئ چه هغې سره نصرت بنديږی۔
وَاتَّقُوا اللَّهَ --- دسود نه دبچ كيدلو نسخه۔
(131) وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي --- دويمه نسخه دسود نه دبچ كيدلو۔
(132) وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ --- ترغيب اطاعت دالله اوپيغمبر ته چه هغوی دجهاد او انفاق حكم كوی او دسود نه ئې منع كوی۔نو تاسو اطاعت اوكړئ۔او اسباب د مدد چې پدې به مو الله مدد كوی۔
(133) وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ ---- ترغيب الی الاخرة : جنت كښې ځان له مقام جوړكړئ۔او دا منفقينو ته ملاويږی چه هغوی هر حالت كښې خرچ كوی د الله تعالیٰ په لار كښې۔ او دنيكانو اوصاف او بشارت تر " وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ" (136)۔ پورې۔دوه

قسمہ د متقیانو ذکر کوی یو اعلیٰ کاملین تر محسنین پورې ، دویم ادنیٰ چہ د کمال پہ لار روان شو د والذین اذا فعلوا ،نہ-

(137) قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ ---- تخویف دنیوی: اطاعت دالله تعالیٰ او پیغمبر اوکړئ او داصولو پابندئ سره جهاد او انفاق اوکړئ ګنی دخلاف کونکو انجام اوګورئ-

(138) هَذَا بَيَانٌ لِلنَّاسِ ---- ترغیب الی القرآن - دا قرآن ستاسو اصلاح کوی او تلقین درکوی نو که نوره زمکه درنه پاتې ده نو راشه قرآن خو اوګوره کنه-

(139) وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا---- تشجیع او ترغیب - چه تاسو په اصولو پابند یئ نو تاسو سره دنصرت وعده ده نو سستی مه کوئ- او غم په وقتی شکست مه کوئ-

(139) إِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ ---- دفع دوهم اودشبهې چه جهاد حق کار ندې ګنی احد کښې پیغمبر موجود دې صحابه موجود دی نو ولې شکست راتلو- او نزدې آیت سره هم شو چه "انتم الاعلون " نو احد کښې شکست ولې راتلو نو ددې مختلفو طریقو سره اوس په اوږدو بیان کوی-اول جواب بطور تسلی او حکیمانه جواب کوی چه داحد په شکست کښې ډیر فوائد وو-" ان یمسسکم " سره تسلی ده چه بدر کښې تاسوورته زخم رسولې وو نو که اوس تاسو ته اورسیدو نوڅه خبره ده او داخو ورځې الله تعالیٰ اړوی ضروری نده چه همیشه دِ فتح وی-

وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ--- سره حکمتونه ذکرکوی تر وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ (142) پورې-

وَلِيَعْلَمَ --- یوفائده مومن منافق پکښې معلوم شوتاسو ته-

وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ --- دویم حکمت:ځنې مومنان دشهادت په مرتبه فائزشو دالله کول غوختل-

وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ --- دریم حکمت : دمسلمانانو دجماعت پاکول مقصود وو-

(142) أَمْ حَسِبْتُمْ --- بغیر دسختئ نه خو جنت نه ملاویږی-

(143) وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ ---- زورنه او زجر چه تاسو ولې خفه کیږئ تاسو خو دشهادت مرګ غوختلې نو چه اوس راغې نو وائی چه دا دکومې راغې-

(144) وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ ---- تشجيع او ترغيب الى الجهاد-او زجرهم-داحد په ميدان کښې شيطانی آواز شوې وو چه: " ان محمداً قد قتل"چه نبی **7** شهيد شو نوځنې مسلمانانو څه ده سستئ اراده کړی وه نو بهادری ورکوی چه پيغمبرانو باندې مرګ راځی نو که نبی **7** مړشی نوتاسو به سستی کوئ او دين به پريږدئ بهادران شئ که امير شهيد هم شی خو جنګ به کوئ-ځکه:

(145) وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ --- بل ترغيب الى القتال:چه مرګ دهرنفس په نيته دې نو چه نيتۃ ميدان کښې پوره شوه که بهر نو ده چا دمرګ دوجې به دين او جهاد نه پريږدئ او نه ده خپل مرګ دوجې نه نيته مقرر نه بدليږی نو پدې ژوند ځان له دآخرت اراده اوکړئ-

(146) وَكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ ---- بل ترغيب جنګ ته نران شئ بهادران شئ دتيرو مومنانو نه عبرت واخلئ چه دانبياء په ملګرتيا کښې به ئې جنګ کولو اګر که نبی به شهيد هم شو خو هغوی روستو شوی نه او نه ئې بې همتی کړی وه نو تاسو هم بې همتی مه کوئ-او دهغوی پشان دتثبت او دثابت قدمئ سوالونه کوئ -هغوی له الله تعالیٰ په دنيا اوآخرت کښې بدلې ورکړې وې تاسو له به هم درکړی-تر " يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ (148) پورې-

(149) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا ---- تحذير مومنانو ته داطاعت دکافرانو او منافقانو نه-خبردار دمنافقانو چال کښې رانشئ-هغوی احد کښې تختيدلی وو او واپس تلی وو-نو دهغوی اطاعت مه کوئ-هغوی ستاسو خيرخواهان ندی-ستاسو مولی اوخيرخواه الله دې-دوی به ستاسو څه اوکړی-اصل مدد کونکې الله تعالیٰ دې او دهغه دمدد نمونه اوګوره-

(151)سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ --- نمونه دنصرت الٰهی په داسې طريقه به ستا مدد اوکړی تاته به کافر کمزوری کړی-او تخويف هم دې-

(152) وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ ---- داحد دشکست تفصیلی جواب او دفع دوهم چه الله تعالیٰ څمونږمدد کوی نواحد کښې ولې څمونږمدد نه کوو-نو جواب چه احد کښې چه کوم شکست راغلې وو نو هغه ستاسو دلاسه راغلې وو- الله تعالیٰ خپله وعده رشتیا کړې وه-خو تاسو دامیر په حکم کښې اختلاف اوکړو او ظاهری فتح درته محبوبه خکاره شوه او دهغې دوجې نه مو دنبی 7 حکم پرېخودلو نو شکست راغې-

وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ - بشارت: سره ددې نه ما معاف کړی یئ څما دطرفنه دمعافئ اعلان دې-

(153) إِذْ تُصْعِدُونَ ---- داحد دمیدان دهغه سخت وخت یو منظر-

لِكَيْلَا تَحْزَنُوا ---- داحکمت دبیانولو ددې په قرآن کښې چه دا ما څکه بیان کړو چه ستاسو دزړه نه غم لرې شی ګنی دا مانه بیانولو-"اخبرکم لکیلا"

(153) ثُمَّ أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً ---- رحمت الهی په کلکو خلقو-

وَطَائِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنْفُسُهُمْ ---- دمنافقینو حال په احد کښې او هغوی ته زجرونه-

(155) إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ ---- دوقتی شکست سبب-

وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ ---- بشارت او اعلان دمعافئ دالله تعالیٰ دطرفنه-

(156) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ كَفَرُوا ---- بیاتحذیر مومنانو ته داتباع دمنافقانو نه-چه منافقان داسې خبرې کوی تاسو چرته داسې خبرې دخلې نه اونه باسئ-مرګ او ژوند دالله تعالیٰ اختیار کښې دی جهاد کښې ندی-اودجهاد نه منع کول دا کار دکفارو دې-

(157) وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ--- نه تر " لَإِلَى اللَّهِ تُحْشَرُونَ "(158) پورې بشارت چه د الله تعالیٰ په دین مړه شی هغوی ته - درې بشارتونه ورکوی -یو چه مغفرت دویم رحمت دریم لالی الله- الله تعالیٰ سره به ملاؤ شی چه دچا په نوم مړشوې وو-چه دمال ددنیا نه شهادت بهتر دې-

(159) فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ ---- آداب امیر ته دنرمئ دملګرو سره-چه تهیک ده دوی ستا حق ضائع کړې دې خو داستا ملګری په تا مئین دی نو ته ورته خپل حق معاف کړه او دالله تعالیٰ نه ورله معافی اوغواړه او ددوی دخوشحالولو دپاره دوی سره بیا مشورې کوه چه دوی خوشحاله شی-نو پکار ده چه امیر کښې داصفات وی چه " فظ " بدزبانه نه وی-دویم "غلیظ " سخت زړې نه وی -او نرم خو به وی او دملګرو دزړه خیال ساتی-او "فتوکل " چه متوکل به وی-

(160) إِنْ يَنْصُرْكُمُ اللَّهُ ---- دتوکل علی الله تعالیٰ وجه او سبب ځکه په الله تعالیٰ توکل اوکړئ چه اصل امداد او برې دهغه په اختیار کښې دې-

(161) وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ ----

زجر منافقینو ته-دامنافقان په داسې نرم خو پیغمبر باندې دخیانت الزام لږوی-نو چرته پیغمبر او چرته خیانت-او بل داچه منافقانو دا وئیل چه دې ځمونږدا پلیتئ څه له بیانوی نو قرآن وائی چه پیغمبر په وحی کښې خیانت نشی کولې چه کومه وحی کیږی هغه به بیا نوی-ورپسې خیانت کونکو ته تخویف او دهغوی انجام ددې دپاره چه دپیغمبر شان دخیانت نه ډیر لرې دې- د " وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ "(163) پورې-

(164) لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ---- دپیغمبر **7** شان او مقام-هغه خو دالله تعالیٰ احسان دې او دا منافقان په هغه الزام لګوی او دهغه نه په بیان کښې خیانت متصور ندې-ځکه هغه ددې دپاره راغلې دې -چه هغه به بیان کوی-

(165) أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُمْ مُصِيبَةٌ ---- زجر مومنانو ته او داحد شکست بل جواب حاصل چه دا مصیبت راوستې الله تعالیٰ وو " فباذن الله ---" او سبب ئې ستاسو عمل شو چه نافرمانی وه داصولو او ضوابطو" هو من عند انفسكم "-او فائده پکښې وه - نو خفه کیږئ پرې مه څه فائدے خو تیرې شوې او بله فائده چه " وليعلم الذين نافقوا"-او دمنافقانو خباثت او پلیتی چه څنګه الله تعالیٰ هغه خکاره کړل-تر " بمايكتمون " (١٦٧) پورې-

(168) الَّذِينَ قَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ ---- زجر منافقانو ته چه تاسو وايئ چه جهاد کښې مرګ دې نو چه کوم په کلي کښې مرى نو هغه دِ دځان نه مرګ دفع کړى کنه۔

(169) وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا ---- بشارت شهداؤ ته او مقتول فى الجهاد ته - چه دمنافقانو څه خيال دې چه په احد کښې کوم کسان شهيدان شو نو داعبث لاړل اوختم شو يعنى جهادکښې مړشى نو خه او نه شو دهغه مقام اوګوره۔تر " المومنين " (171) پورې۔

(172) الَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلَّهِ وَالرَّسُولِ ---- داعامو مومنانو ته بشارت دهغوى په استجابت او په جوانمردئ او په بهادرئ تر " ان كنتم مومنين " (175) پورې۔هم دآخرت بشارت او هم ددنيا بشارت اوپکښې واقعو ته اشاره۔بدر صغرىٰ او حمراء الاسد ته۔ورسره داهم اووې چه " فلاتخافوهم وخافونِ "آئنده دکافرو نه مه يريږئ۔

(176) وَلَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ ---- تسلى نبى **7** ته -دغه ستا زبردست ملګرى وو چه دكومو بيان اوشو كوم چه كفر كښې تيزى او كفر ته روان دى نو غم مه كوه ستا مشن ته نقصان نشى رسولې چه ستا مشن دالله تعالىٰ دين دې او ورسره تخويف چه آخر انجام ئې ناکاره دې۔

(177) إِنَّ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ---- هم تسلى او تخويف اخروى چه تاله څه كولې نشى۔يعنى تائيد دماقبل۔

(178) وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- يره وركوى چه دا كافر تباه كيږى ولې نه او هغوى خپله هم خوشحاله وى چه مونږ په حقه يو دهغې رد او تخويف سره دتسلئ نه۔

(179) مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ ---- ترغيب الى الجهاد او حكمت دمشروعيت دجهاد۔ او دفع چه دومره ګران حكم او سخت ولې الله فرض كړو نو جواب چه داخو امتحان دې چه منافق او مومن جدا شى۔

مَا كَانَ اللَّهُ ---- يره دغه شان دې راته اوخائى نو دهغې جواب۔نو شابئ بهادران شئ او جنګ اوكړئ چه ستاسو اخلاص څكاره شى الله تعالىٰ به اجر دركړى۔

(180) وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ ---- زجر بخلاؤ ته - دانفاق مسئله بيا په سلبي انداز او منفي انداز -جهاد بغير دانفاق نه ترقي نه كوي نوبخيلان شومتيا كوي او مال دالله تعالىٰ په دين نه لګوي نو هغوی ته زورنه او تخويف وركوي- او لكه څنګه چې په جهاد بدني جداوالے د مخلص او غير مخلص راځي نو دغه شان په جهاد مالي هم څكاره كيږي- كه نه خرچ كوي نو ماته پاتي كيږي او په آخرت كښې پرې درله عذاب دركولې كيږي-

(181) لَقَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّذِينَ ---- زجراو جواب دشبهې په انفاق چه الله تعالىٰ مونږ ته وائي خرچ كړئ نو ولې الله تعالىٰ غريب دې څه نو داسې اعتراضونه دا دكړې خلې كاردې اوكړه خله په سوک سميږی نو ورسره تخويف تر " وليس بظلام للعبيد " (182) پورې-

(183) الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ عَهِدَ إِلَيْنَا ---- قباحت ديهودو او زجر- چه داخو داسې خلق دی داسې خبرې هم كوی دا زاړه پليتان دی -دا هم وائي چه ستاسو خيرات اور ولې نه خوری يعنی تاسو سره حسد كوی چه تاسو داخيراتونه او صدقات يو بل له ولې وركوئ په تاسو ئې نه دی سود-

(184) فَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ ---- تسلي -چه دوی داسې اعتراضونه كوی نو زړه ته خفګان رسی نو تسلي چه داسې لوئې لوئې پيغمبرانو سره شوی وو نو ته همت مه بائيله خپل كار جاری ساته-اوپه جهاد او انفاق كښې دمرګ فكر مه كوه -ځكه :

(185) كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَة الْمَوْتِ ---- ترغيب الى الجهاد والانفاق - كه تاسو وائي چه جهاد كوو مړه به شو يا انفاق كوو مال به كم شی نو " كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَة الْمَوْتِ "- وَمَا الْحَيَاة الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ" پدې اعتبار مه كوه- كار اوكړه-يعنی ديهودو او منافقانو پشان مه كيږئ جهاد بدنی او مالی اوكړئ-

(186) لَتُبْلَوُنَّ فِي أَمْوَالِكُمْ ---- بيا ترغيب جهاد او انفاق ته دا ازميښت او امتحان خو به درباندې راځی نو كار اوكړه او دمخالف فكر مه كوه څه كولې نشی -ته كلک شه او ځان د سستئ نه اوساته نو داډير همت والا كار دې-

؎ تندیٔ باد مخالف سے نہ گھبرا اے عقاب یہ تو چلتی ہے تجھے اونچا اڑانے کیلئے

(187) وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ ---- زجر علماء سوء ته-تاسو ته مونږه اووې چه امتحان به راځی کلک شئ دمال وغیره پرواه مه کوئ-او ستاسو دشمن تاسو له تکلیف نشی درکولې دا ستاسو ددشمن حال دې چه دالله تعالیٰ وعده ئې ددنیا دپاره غورځولې وه نوحال ئې څه شو -حق ئې ددنیوی لالچ دوجې بیان نه کړو-او دویم مناسبت وایه چه په جهاد لسانی کښې هم تکلیفات راځی نو جهاد لسانی اوکړئ د جهاد ترغیب ورکړئ ، دا د عالم ذمه واری ده دا نه چه دنیا خوخه کړئ

(188) لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ ---- قباحت دعلماء سوء او تخویف اخروی -حق ئې ندې بیان کړې او وائی ماته دِ خلق قاطع شرک وبدعت اوائی-نو دده انجام به څه وی اوګوره-

(189) وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ - نه خاتمه دسورة او پدیکښې اعاده دمضامینو اربعو چه سورة اوږد وو نو مضامینو ته لږسوچ اوکړه او فکر ته ئې راوله-اونزدې سره مناسبت ظاهر دې چه دا علماء سوء دا ضروری مقاصد نه بیانوی نو دا بیانول پکار دی-

وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ نه تر وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ (192) پورې بیان دتوحید سره ددلیل عقلی نه او سره دتخویف نه مشرکینو ته-

(163) رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا ددې نه مضمون درسالت تر لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ (194) پورې-

(195) فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ---- پدې آیت کښې دبشارت سره مضمون او مسئله دجهاد "قاتلو وقتلوا" سره معاد کوی-

(196) لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ ---- انفاق په بدل انداز چه ددنیا په مال ومتاع مه دهوکه کیږه ددې انجام ډیر خراب دې-ددې په ځائې چه الله تعالیٰ خرچ کونکو له کوم اجر تیار کړې دې هغه ډیر مزیدار دې نو لهذا مال خرچ کړه دآخرت هغه اجر حاصل کړې هغه اجر (198) کښې ذکر دې-

(199) وَإِنَّ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ ---- بشارت مومنانو داهل كتابو ته -سورت كښې داهل كتابو اصلاح كيدله نو چه هغې كښې كوم مومنان شو او ستا دعوت ئې قبول كړو او خپل غلط خوئ ئې پريخودلو -نوهغوی له به هم الله تعالیٰ زبردست اجر وركړی-دا اٰيت د ۱۸۷ سره متعلق دې-

(200) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا ---- ترغيب جهاد ته او په يو آيت كښې څلورواړه مضامين بيا ذكر كوی - آمَنُوا كښې توحيد صراحة او رسالت ضمناً راغې- اصْبِرُوا وَصَابِرُوا چه په توحيد كښې كوم مصائب راځی نوهغه ئې برداشت كړل-

وَرَابِطُوا مضمون دجهاد او چونكه جهاد بغير دانفاق نه نه كيږی نو انفاق ورسره ضمناً شو-نو داآيت كريمه دسورة لنډه خلاصه شوه-

### حاصل دسورة

اې نصارو او مشركينو مسئله دتوحيد په عقل او نقل او وحی سره ثابته ده چه دهر قسم تعظيم لائق هغه الله تعالیٰ دې-او هغه كارساز ،مددګار او مشكل كشاء دې ،نه عيسیٰ 7 او نه دهغه مور او نه بل نيک بنده - او كه ستاسو څه شبهه وی چه هغه ته په انجيل كښې ابن الله وئيلې دې نو كه داوی نو تاسو په مطلب نه پوهيږئ -يادادة چه دادسره شته دې نه دا ستاسو دلاس ليكلې شوې دې-اوګوره شجره نسب دعيسی 7 او دهغوی ټولو عاجزی چه څنګه عاجزان وو الله تعالیٰ ته -نو راشئ اومنئ كه نه منئ نو مباهله اوكړئ-او بل دعوت دمحمد رسول الله اومنئ دهغه رسالت باندې ستاسو دانبياؤ نه هم لوظونه اغستلې شوی وو-نو چه څوک نه منی نو دهغی دپليتو نه ځان خبر كړئ--اودهغوی داتباع نه ځان اوساتئ-ددې مسئلې درسولو دپاره منظّم شئ -تنظيم په اصولو دتنظيم جوړكړئ-او بيا دهغه اصولو دپابندئ په رڼړا كښې مال اولګوئ او جهاداوكړئ نو الله تعالیٰ به برې دركوی -لكه چه بدر كښې دركړې وو او كه داصولو پابندی مو اونكړه نو ناكامه به شئ لكه چه احد كښې وقتی ناكامی راغلې وه-او احد

کښې وقتی ناکامی راتلل داځه دجهاد بدنامی نده ځکه چه داخو دالله تعالیٰ حکمتونه وو پکښې -اوبل ستاسو نه څه غلطی شوې وه دهغې اصلاح مقصود وه-دمنافقانو په پروپیګنډو کښې مه راځئ-او ددې مسئلې دپاره ځان اوکړوئ مکمل طریقې سره-

**امتیازات**

(1) شهدالله انه لااله الاهو-په یوآیت کښې ادله ثلٰثه وحی ،نقلی ، عقلی-

(2) تقسیم دآیتونو دوو اقسامو ته محکم او متشابه-

(3)تقسیم دعلماؤ قسمینو ته اهل زیغ او راسخین-

(4) دعاء په وخت دشبهاتو کښې-" ربنا لاتزغ-"-

(5)دعیسیٰ **7** دعبدیت دلائل کثیره-

(6) دنصارو دشبهې زبردست جوابونه-

(7) انی متوفیک ورافعک الی --- دعیسیٰ **7** آسمان ته دختلو بیان-

(8) ان مثل عیسیٰ ---

(9) فمن حاجک--- ذکر دمباهلې دنصارو سره-

(10) بیان دخباثتونو داهل کتابو--

(11) واذ اخذالله میثاق النبیین---ذکر دوعدې دانبیاء کرامو په اتباع دنبی **7** -

(12) ذکر داصولو او قواعد دتاسیس دجماعت-پنځه اصول-

(13) لایالونکم خبالا-" ذکر دبائیکاټ دمنافقانو نه او دهغې لس اسباب-

(14) ذکر دشکست داحد په عجیب انداز اودهغې ډیر حکمتونه-

(15) وما محمد الا رسول --

تـمـت سورة ال عمران بعون الملک المنان ،خالق الانس والجان

15 ه 1433ھ یوم الاثنین 04:18 عصر یکم اکتوبر 2012ء -بمقام مینګوره جیل او څه نن انتهائی پریشانه ووم -خو چه دا سورۃ مِ اولیکلو نوځه دزړه تسلی

مِ اوشوه-برسټن او تولائی ئې راله راوړل -نو پدې خفه ووم چه وسوسه مِ راغله جوړې پخوی مِ -خو دجیل نه نجات ورکونکې الله تعالیٰ دی -الله به ما خلاص کړی -ان شاء الله تعالیٰ-

نزولا (٩٢) مصحفا (٤) سورة النساء مدنية ركوعات (٢٤) ايات (١٧٧)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة النساء

سورة النساء مدنی سورة دې په نزول کښې دوه نوی (92) نمبر دې پس دسورة الممتحنه نه نازل شوې دې-او په ترتیب دسورتونو کښې څلورم سورة دې پس دسورة ال عمران نه-

## ربط دمخکښې سورة سره

دسورة النساء مناسبت دالعمران سره په ګڼړو وجو باندې دې-ځنې دهغې نه دادی-

اوله وجه : په مخکښې سورتونو کښې بیان دتوحید او رسالت وو -یعنی اصلاح العقیده ،نو اوس دې سورة کښې بیان دامور منتظمو دې چه داعقیدې به هله ترقی کوی چه ستاسو معاشره په اصولو دسورة النساء برابر شی-

دویمه وجه : مخکښې سورتونو کښې توجه وه اصلاح العقائد ته نو دلته توجه ده اصلاح المعاشره او اصلاح الاعمال ته-چه نیک عمل اوکړئ اودټولو نه بهتر نیک عمل پردی حقونه ورکول دی نوهغه ورکړئ-

دریمه وجه : مخکښې ذکر وو دحقوق الله نو دلته ذکر دحقوق العباد دې-

څلورمه وجه : په سورة الفاتحه کښې فرق ثلٰثه وو نو په بقره کښې ډیره توجه وه په اصلاح دمغضوب علیهم او په ال عمران کښې ډیر خطاب نصارو ته وو چه ضالین وو نو په سورة النساء کښې ډیره توجه مومنانو ته ده " منعوم علیهم ته "-

پنځمه وجه : سورة ال عمران کښې بيان دجهاد وو په تاسيس دجماعت چه تنظيم برابر کړئ نو سورة النساء کښې بيان دجهاد دې باصلاح المعاشره چه معاشره پدې اصولو برابر کړه-هله به جهادکيږی-

## دعوی د سورة

دسورة مرکزی مضمون او دعوی هغه ده " ارشاد الامور المصلحة "-يعنی بيان دهغه امورو او آدابو او قوانينوچه په هغې سره اصلاح دمعاشرې راځی او بيا دغه معاشرې والا جهاد کولې شی او رد دشرک فی التصرف به پرې تفريع کوی- داځکه چه لکه څنګه چه دزمکې او آسمان دکارونو اختيارات د الله تعالیٰ دی نو دغه شان معاشره به هم په قانون دالله تعالیٰ جوړيږی دا هم دهغه اختيار دې دانه چه معاشرې به دغير په قانون جوړوې-

## خلاصه او تقسيم دسورة

دسورة مختصره خلاصه خو داده- شپاړس احکام بيانوی دا احکام بين الرعيت دی-يعنی ددې په جاری کولوبادشاه ته ضرورت نشته داشريعت هرسړې په ځان جاری کولې شی-بيا زواجر دی هغه خلقو ته چه پدې قوانينو معاشره نه جوړوی- تر آيت (57) بيا اته احکام ذکر کوی بين الراعی والرعية چه دهغې په جاری کولو کښې بادشاه او حاکم ته خليفه دمومنانو ته حاجت وی-او نهم پرې تنوير تر (135) او بيازواجر دی او قباحتونه اهل کتابو نه او منافقينو ته دوی ته زيات زواجر ورکوی ځکه چه دا مفسدين دمعاشرې دی-

**تقسيم دسورة** : سورة النساء خپل مقصد چه بيانوی نو په عجيب انداز بيانوی -ددې دبيان دپاره سورة در ې حصو ته منقسم دې-اوله حصه تر (٥٧) پورې-دويمه د(58) نه تر (134) پورې-دريمه حصه تر آخره-

**اوله حصه** : دسورة اوله حصه دابتداء دسورة نه تر "ندخلهم ظلا ظليلا(57)-پورې ده-او پديکښې ذکر دهغه شپاړسواحکامو دې چه هغه بين الرعية دی يعنی خکته طبقه، عوام هغه په خپله په ځان جاری کولې شی دهغې په نفاذ کښې حکومت اسلامی ته حاجت نشته دې- اول کښې تمهيد دې-نور داحکاماتو آيتونه : 2، 3 ،4 ، 5، ۷، 11، 15، 19، 22، 24، 29، 32، 33، 34، 35، 36-ددې احکامو په مينځ کښې تخويفات دی او زجرونه مومنانو ته او بيا زجرونه منافقينو او يهودو ته-ځکه دا مفسدين دمعاشرې دی-مومنانوته دريوآيتونو کښې او منافقانو ته شپږو آيتونو کښې اويهودو ته دولسو آيتونوکښې په طريقې دتضعيف او تنصيف - دمومنانو دغاړې نه چه راواخلې نو ورپسې زجرونه دمنافقانو دهغې نه ډبل-او ديهودو هغه دمنافقانو دهغې نه ډبل- او ديهودو دهغې نه چه راواخلې نو دمنافقانو هغه دهغې نيم او دمومنانو هغه دمنافقانو دهغې نيم شو-داټکې شيخ القرآن رحمة الله عليه ځکه اوليکلو چه دادعلم ميراث اصطلاح ده-نو هلته هم دميراث احکام وو نوځکه ئې دالفظ راوړو-مومنانو ته په( 1، 14، 30) کښې منافقانو ته په (36، 37،38،39،41،42)-بيا ٤٣ کښې تيقظ مومنانو تہ د" الم تر الی الذين " (٤٤) آيت نه تر (55) پورې 12 آيتونو کښې زرونې دی يهوود ته بيا تخويف او بشارت -مومن ته زجر ورکوی چه اومنه عمل کوه-ګنی منافق به شې او منافق ته وائی اومنه ګنی يهودی به شی-يهوديان ستاسو دشمنان دی ځکه چه دوی تاسو سره په توحيد کښې خلاف رسالت کښې خلاف نو دغه شان په اصلاح دمعاشره کښې هم درسره خلاف کوی نو مسلمه معاشره سمه جوړه کړه-ګنی يهوديت ته به اورسوی-ځکه په ټولو سورتونو کښې دوی ته زجرونه دی- (ميرصاحب په حواله دشيخ القرآن رح )-

**دويمه حصه** : دويمه حصه دسورة د(58) " ان الله يامركم--"نه تر " وكان الله سميعابصيرا"(134) پورې ده-اوپديکښې اته احکام ذکرکوی بين الراعی والرعية-يعنی هغه احکام چه په هغې کښې ضرورت وی حاکم ته يعنی هغه بغير دحاکم نه نه نافذ

کیږی-داحکامو آیتونه : ۵۸، 71، 74، 92، 93، 100، 101، 105 نهم حکم تنویر په ماسبقه دې-په آیت 127 کښې -ددې په مینځ کښې زواجر منافقانو ته او ترغیبات دی قتال ته ډیر زیات او تخویفات او بشارتونه-

**دریمه حصه** : دسورة دریمه حصه د(135) نه تر آخرترسورته پورې -پدیکښې اول ترغیب انقیاد ته او ذکر دمقاصدو اربعو په یوآیت کښې (136) بیا زواجر منافقانو ته چه معاشره په قانون دالله تعالیٰ نه جوړوی تر آیت (152) پورې بیا (153) نه زواجر یهودو ته او دهغوی پلیتئ ذکرکوی-بیانفی دشرک فی التصرف دانبیاؤ،ملائکو نه-چه ټول دالله تعالیٰ تابعدار دی او نفی دشرک فی التصرف ځکه کوی چه خائی داخبره چه تصرف اواختیار هم دالله تعالیٰ دې-اثبات درسالت او ترغیب الی القرآن په آخر کښې -اوآخر دسورة دسر سره تړی چه سورت دې له چلولې شوې وو-

## اهمیة ددعوي دسورة

دسورة مضمون اودعوی ده هغه احکام بیانول چه په هغې سره اصلاح دمعاشرې راځی-او معاشره معاشره دانسانانو جوړه شی-چه په هغې کښې دیوبل دحقوقو لحاظ وی-په معاشره کښې کمزوری خلق درې وو-زنانه،یتامیٰ اوغلامان-نو داسورة دهغوی حقونه ذکرکوی-یعنی دکمزور مخلوق حقونه ددې وجې نه دې سورة ته سورة الضعفاء هم وائی-خو قرآن "النساء" ذکر کړې-ځکه چه د ټولو نه زیات ظلم دزنانو سره کیدلو -دعربو معاشره کښې دسره زنانه دانسان په طور شمارلې کیدلې نه-دغه شان پښتنو کښې او رومیانو ښځې سر ته خیژولې وې-چه هغوی ئې دحد نه زیاتې اوچتې کړې وې-چاافراط کړې وو اوچا تفریط کړې وو-قرآن کریم په یوعجیب انداز دزنانو حقوق ذکرکوی-بل نظام داسې حقوق نشی ذکرکولې-نوځکه دالنساء تذکره اوکړه-که الضعفاء وئیلې -نو بیا النساء خصوصیت نه معلومیدلو-او دالنساء هم په یتامیٰ کښې هم ځان له نو دواړو کښې ددوی حقونه ذکرکوی-چه داثوک اونه وائی چه اسلام حقوق نسواں نه

ورکوی-دننۍ زماني هم داحربه ده چه اسلام دزنانو سره ظلم کوی-داخبره دظلم ده او دجهل -داهغه څوک کوی چه هغه داسلام نه خبرنه وی-نو دا د دوو خپو خر به داسلام نه څه خبر شی -په آکسفورډ کښې لوئې شوې هغه دقرآن او سنت نه څه خبردې-هغه دانګلش پاڼې اړولی دی نوهغه دقرآن د پاڼړو نه څه خبردې-قرآن هر حقدار له حق ورکوی-نوځکه سورة النساء اووې چه څوک داسلام دبدنامولو حربه استعمال نه کړی-قرآن کښې چرته سورة الرجال نشته دې-

دانسان اهم ضروریات هغه څو خبرې دی-

(1) حفظ الدین : یعنی دده دین دې محفوظ وی عقیده او عمل قرآن اسلام دادِ محفوظ وی دا یو اهم ضرورت دې-

(2) حفظ النفس : چه دده نفس دِ محفوظ وی دده بدن ته دِ تکلیف نه وی او دې دې هم دبل چا بدن ته تکلیف ورنکړی

(3) حفظ المال : چه دده مال دې محفوظ وی چه دده مال ته څه خطره نه وی او دې بې یرې وی-

(4) حفظ العرض والناموس : دده عزت نفس دِ محفوظ وی-څوک دِ دده بې عزتی اونکړی- دده کور والا عزت دِ محفوظ وی دخور دمور دښځې خاندان چه څوک ئې بې عزتی اونکړی

(٥) حفظ العقل : چې عقل محفوظ وی لکہ نشہ آور څیزونہ ، عقل خرابوی نو ھغہ حراموی۔

دیته الحاجیات الخمسة وائی-یعنی پنځه اهم ضروریات او حاجتونه -حفظ الدین خو ټول قرآن بیانوی-او دسورة النساء د احکام وخلاصه بس هغه درې خبرې دی -حفظ الاموال ، حفظ الانفس ، حفظ الاعراض-چه کومه معاشره کښې ددې حفاظت وی نوهغه دانسانانو معاشره ده او معاشره دانسانانو اهم ضرورت دې-ځکه قرآن "یاایهاالناس " وائی-چه دا اهم ضرورت دې چه کله دا نه وی او ددې خیال نشی ساتلې نو دادانسانانو

معاشره نده چه کومه معاشره کښې حفظ الانفس نه وی-نودادانسانانو معاشره نه ده - شرمخانو او سپو معاشره ده چه هغوی دخپل راحت دپاره دبل ژوند ختموی-لکه د ليډرانو معاشره شوه چه دخپل اقتدار دبچاؤ دپاره دبل ژوندختموی-اوخپل اقتدار محفوظ ساتی-او په کومه معاشره کښې چه حفظ الاموال نه وی-دپردی مالونو او دحقوقو خيال نشی ساتلې-بس صرف ګيده ډکول وی چه هر څه وی نو "الدنيا حلو حضرة "-حلو خوږې ته مچان راځی او خضر شنې له غويان راځی نو دادغويانو معاشره ده-دانسانانو نده-لکه دعوامو معاشره شوه-چه د قرآن نه خبرنه وی-او په کومه معاشره کښې چه دناموس او عزت حفاظت نه وی-نه ئې خپل عزت محفوظ او نه ترې دبل عزت محفوظ وی-نوداحشرات موذيان مارانو لړمانانو ، خنزيرانو معاشره وی-مار لړم دسړی عزت اخلی او دده پکښې څه فائده نه وی-بلکه کله کله پکښې سر اوخوری-نودانسانانو معاشره قرآن جوړوی-چه په هغې کښې ددې ټولو حفاظت وی-نو انسان هغه وی چه هغه دچا مال نه خوری -څوک وژنی نه بې ځايه او نه دچا عزت او پرتوګ ته لاس اچوی-نو قرآن دانسان نه صحيح انسان جوړوی -دانه چه شکل دانسان وی او وی خر، غوئې ،شرمخ او مارلړم-نوراشه قرآن له او سورة النساء له چه انسان شې او معاشره دِ دانسانانو شی-

داځما د دوو استاذانو محبوبانو چه هغه دحضرت شيخ القرآن عليه الغفران ډيرمشران شاګردان دی-دهغوی ددرس خلاصه وه -يو حضرت شيخ القرآن والحديث مولانا مير سميع الحق صاحب الله تعالیٰ دِ دهغه عمر او صحت کښې برکت واچوی او دويم شيخ الاسلام مولانا ولی الله صاحب کابلګرامی الشهيد رحمة الله تعالیٰ عليه--- الله دِ قبرمنور کړی -دادهغې مختصر بيان دلته نقل شو الله تعالیٰ دِ پرې صحيح طريقې سره کتونکو ته فائده ورکړی او الله تعالیٰ دِ ځما داستاذانو دپاره صدقه جاريه کړی-

تمت خلاصة سورة النساء 15 ه 1433 ه 10:00 ليلةالثلثاء

## مقاصد الايات وتناسبها

**الحصة الا ولیٰ**: دابتداء دسورة نه دسورة اوله حصه ده تر "ندخلهم ظلاً ظليلاً " (57) پورې-اوپديکښې شپاړلس احکام ذکرکوی دعوامو دپاره-چه دهغې په نفاذ کښې حکومت وقت ته حاجت نه وی-دابه تر (36) پورې ذکرکوی-بیابه زواجر وی منافقانو ته او يهودو ته ځکه داخلق چه منافقان سیاسی لیډران دی او يهودعلماء سوء دی-دوی په قرآنی اصولو او قوانینو معاشره نه جوړوی نوهغوی ته به زورنې ورکوی-دشپاړسو احکامو خلاصه درې خبرې دی-چه مالونه محفوظ شی ،نفسونه محفوظ شی او عزتونه محفوظ شی-او ددې خلاصه درې خبرې چه ظلم مه کوئ ، شرک مه کوئ او احسان کوئ-او دعذاب نه دبچ کیدلو اصول دی-نوسر سورة کښې ځکه وائی چه " اتقوا ربکم "- درب خپل دعذاب نه ځان پدې راروانو احکاماتو بچ کړئ-

(1) يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ ---- تمهيد ،تخويف او زجر-داټولو احکاماتو ته لا رسموی اودهغې په ادا کولو کښې امدادکوی-چه ديو مور او پلار نه پيدا يئ نو رونړه اوخويندې يئ-نودرور خور مال مه خوره-او دبدن حفاظت ئې اوکړه-داسې قرآن پوهه کوی-اوتخويف هم دې چه که دا احکام مو پوره نه کړل نوعذاب به درکړی-دهغه دعذاب نه به پدې احکامو بچ کيږئ-اومومنانو ته زورنه ده چه دالله نوم اخلئ او رشتې کټ کوئ-الله تعالیٰ ستاسو په سر حاضرناظر دې نو داحکاماتو پابندی اوکړئ-خه جی تيار شو-اوس احکامات کوم دی نو هغه احکامات شروع کوی-

(2) وَآتُوا الْيَتَامَى أَمْوَالَهُمْ ---- اول حکم " حفظ اموال اليتامیٰ "- يتيمان بې کسه پاتې شو نو تاسو دهغوی دمالونو حفاظت اوکړئ-دهغوی مال دخپل مال سره داسی مه ګډوئ چه دهغوی مال پکښې ختم شی او نقصان هغوی ته اورسی داغټ ګناه دې-

(3) وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا ---- دويم حکم " حفظ نفوس اليتامیٰ "- ديتيمانو جينکو دنفسونو حفاظت اوکړئ-ددې آيت نه داښکه معلوميږی؟ نو يوه طريقه داده چه که دادرسره يره وی چه که يتيمه جينئ په نکاح واخلم نو بيا به ورسره ظلم کوم-ځکه

چه دتپوس كولو به ئې څوک نه وی نو بيا داسې اوکړه چه نورې ښځې په نکاح واخله تر څلورو درته اجازت دې خو انصاف به کوې-دويمه طريقه داده چه که يريږې که يتيمه په نكاح واخلم نو دغه شان به پاتې شی او زياتې به ورسره کيږی- نو بيا يتيمه په نكاح واخله چه څو اخلې ترڅلورو خو دهغوی دمهر او نورو حقوقو خيال اوساته-

(4) وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً ---- دريم حكم " ايتاء مهورالنساء "-عامې ښځې چه کومې تاسو په نكاح كړې وی- نو مهر دهغوی حق دې-او په تاسو قرض دې-نوتاسو هغوی له دهغوی مهرونه ورکړئ او هغه ترې ضبط كوئ مه او په زوره ترې معاف کوئ هم مه-دښځو حق هغوی ته ورکړئ-

(5) وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ ---- څلورم حكم " حفظ اموال السفهاء "-چه يتيم لوئې شو نو فضول خرچه او كم عقل ،بوله دې نو ځان ئې دمال نه مه خلاصوه دهغه دمال حفاظت اوكړه اونګرانی اوکړه او دهغه دجامه پيزار خيال اوساته-

(6) وَابْتَلُوا الْيَتَامَى---- ترغيب " ابتلاء اليتامیٰ وتربيتهم "ته - يتيم ،سفيه دغه شان مه پريږده چه بياورله په مال خوندی شی-بلكه دهغه دتربيت خيال اوساته او کارونو له ئې ليږه او په طريقه پوهه كوه او تربيت ئې كوه نو چه هوښيار شو نو مال ورکړه او كه ته پکښې كسب كوې دهغه مال کښې نودكسب اجازت شته لكه چه دبل نه په مضاربت مال اخلې نو داواخله يا دبل زمكه په برخه كوې نو دااوکړه او دمال دحواله کولو وخت كښې ګواه مقرر كړه-

(7) لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ ---- پنځم حكم " اعطاء الحق لمن هو اهله من الميراث وغيره --- " چه كه نارينه وی او كه زنانه نو دهغوی خپله برخه ده كه ميراث كښې وی او كه هسې وی-نو تاسو دهغې دورکولو لحاظ اوکړئ او که مړی لږ پريخودلی وه او که ډير- نو د يتيم نه كه هلک وی او كه جينئ مال خوندی كوئ مه-

(8) وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُو الْقُرْبَى ---- ترغيب احسان مع اليتامیٰ ته چه ديتامیٰ سره احسان اوکړئ چه هغه يتيمانو كښې محتاجه وی او دتقسيم دورثې مطالبه كوی او

راشي نو تاسو ورته په نرمه خبره کوی او څه خوراک ورله ورکوئ چه بیا به حساب اوکړو -دایتامیٰ او مسکین هم په اولواالقربیٰ کښې داخل دی څه بهر ندی-خو جدا ذکر کړی دی دپاره دترحّم چه رحم پرې اوکړه-

(9) وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا ---- زجر دتقسیم مالکانو ته چه داخبره لګه په ځان راواړوو چه که ته مړشی او ستا بچی بل پسې ځی او رټی ئې نو ستابه په زړه څه تیریږی-

(10) إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا---- زجر اوتخویف -چه یتیم مال په ظلم سره خوړل ډیره بې انصافی ده او دوزخ به ئې ځائې شی-

(11) يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ ---- شپږم حکم " حکم المیراث واعطاء الفرائض "-دهرچا دهررشته دارحصې مقرردی نوتاسو هغه ته حصې حواله کړئ -دادوارثانو څوقسمه دی نو دواړه آیتونو کښې هغه بیانوی-

اول هغه حصه داران چه هغه دنسب دوجې میراث اوړی- "فی اولادکم "-داول چه مورپلار کښې یومړشی او بچی پاتې شی نودهغې احکام ذکرکوی-

وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا---- داچه بچې مړشی او مورپلار پاتې شی دهغې احکام-

فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ ---- ترغیب دادالله تعالیٰ دطرفنه دی نواومنه او حقوق ورکړه-

(12) وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ ---- دویم قسم حصه داران هغه دی چه نسب نه خودبل سبب چه صهر او نکاح ده دهغې دوجې میراث اوړی-

وَلَكُمْ نِصْفُ --- چه ښځه مړه شی او خاوند پاتې شی نودهغې صورتونه-

وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ --- چه سړې مړشی اوښځه پاتې شی نودهغې دمیراث اوړوطریقه-

وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً ----دیوسړی اصول اوفروع نشته دې یعنی مورپلارهم نشته اوبچی هم نشته نودهغې څنې احکام دلته اوځنې به په آخر دسورة کښې ذکرکوی-

غیر مضارّ ---- دا دټولو احکامو سره لګی-

وَصِيَّةً مِنَ اللَّهِ---- ترغیب دالله تعالیٰ دحکم لحاظ اوکړه-

(13) تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ-داترغيب منلوته دخپلې پولې اوحد لحاظ كوئ او دالله دهغې نه كوی-
وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ--- بشارت منونكو ته او داحكامو پابندی كونكو ته-
(14) وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ---- تخويف-چه ددغې احكامو پابندی نه كوی او دكمزورو دحقوقو خيال نه ساتی نو دوزخ به ئې ځائې شی او تباه به شی -نواې مومنانو! ځان د دوزخ مه مستحق كوئ-اوپابندی اوكړئ اوحقوق ادا كړئ-
(15) وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ ---- اووم حكم " سدّباب الفحشاء "-دفحشاء دروازې بند كړئ-دښځودحقونوخيال اوساتئ خودامطلب ندې چه هغوی دِ فحشاء كوی نه كچرته داسې كار خدانخواسته مخې ته راشی نوحكم زده كړه-
(16) وَاللَّذَانِ يَأْتِيَانِهَا مِنْكُمْ---- داهم دفحشاء دبندولو سره متعلق چه كچرته داپليتی دوه هلكان ،برواكان اوكړی نو بيا " فَآذُوهُمَا "-هغوی له سخته سزاوركړئ-
(17) إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللَّهِ ---- ترغيب الى التوبه او شرائط دقبول دتوبې-مخكښې آيت كښې دتوبې تذكره راغله نودتوبې تذكره كوی چه توبه الله قبلوی-خو چه په صحيح طريقه او په شروطو وی نو توبه اوباسئ چه الله تعالىٰ ئې قبوله كړی او دګناه نه پاک شئ-
(18) وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ ---- زجرهغه خلقو ته چه خلاف كوی ددې احكامو-داسيئات دی كنه او ياترې انكاركوی نو كفردې-او بيادمرګ په وخت كښې توبه اوباسی دغه قبول نده دغه وخت كښې خوده فرشتې اوليدلې نو داخودمشاهدې نه روستو توبه ده او دا قبول نده-
أُولَئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا - تخويف -چه داسې خلقو له عذاب دې-
(19) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ ---- اتم حكم " عدم ايراث النساء او نهی دعدوان على الانفس نه "- ميراث كښې مالونه ملاويږی ښځې نه ملاويږی-چه تاسو وايئ چه داځمونږ.كونډه ده دابه بل څوک په نكاح نه اخلی نو چه هغه نكاح كوی نوتاسو ئې

دنكاح نه بندوئ مه-اوكه په خپله مرضئ تاسو سره نكاح كوى نوورسره اوكړئ-او مهر ايسارولو له حيلې مه جوړوئ-

(20) وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ---- داهم دمخكښې سره متعلق دې چه ستاسو يوبل سره ليده كاته شوى دى نوتاسو دهغې نه مهرمه ايساروئ-دهغې حق وركړئ-

(22) وَلَا تَنْكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ ---- نهم حكم " تعظيم العشائر "-دخپلومشرانو تعظيم كوئ-كه ديو سړى دپلارمنكوحه وى،اوموطوئه وى نو اګركه دده مورنده خودپلار دمرګ نه پس دپلارعزت دادې چه دهغې سره به نكاح نه كوئ-

(23) حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ ---- لسم حكم " بيان المحرمات "-چه څنې زنانه داسې دى چه هغه په نكاح هم نه ملاويږى- يعنى مخكښې وې چه زنانه په نكاح ملاويږى په ميراث نه ملاويږى-اوس هغه ښځې ذكركوى چه هغه په نكاح هم نه ملاويږى-داپه دوو آيتونو كښې ذكركوى او په دويم آيت بيا دمهورو تاكيد چه كومې ښځې ددې نه علاوه روادى نو هم چه هغوى سره نكاح كوئ نو دمهر خيال اوساتئ-

(25) وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا--- مخكښې آيت كښى "الاماملكت ايمانكم " وئيلى وو-نواوس دې آيت دوينځې دنكاح دمتعلق څه آداب ذكركوى-

وَأَنْ تَصْبِرُوا خَيْرٌ لَكُمْ---- دادِ نزدې حكم سره لګى چه څان دنكاح دوينځې نه صبركړئ-چه نسب موخراب نشى نوهم صحيح ده-ګنى نوټولواحكامو سره اولګوه-اول يويوراخله او " ان تصبروا" ورسره وايه-لړ دپنج پير ددرس چكراولګوه چه شيخ ابواليمان صاحب داځنګه وائى-

(26) يُرِيدُ اللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ ---- دااحكام دبيانولو حكمت او فائده-تر " ضعيفا" (28) پورې-چه الله تعالىٰ تاسو ته دااحكامات بيانوى-داپه تاسو مهربانى كوى او تير حالات بيانوى چه چاپرې عمل نه ووكړې نوځنګه شو-كافربې دينه ستاسو معاشره په فحشاؤ اوپه ظلم تباه كول غواړى-دهغوى اراده ده چه تاسو دكافروپه خودساخته قانون معاشره جوړه كړئ-او الله تعالىٰ په تاسو مهربانى كوى او دااحكام آسانتيا ده چه تاسو اومنئ او

ګنی که نافرمانی کوئ نو بیا "خلق الانسان ضعیفا" انسان دسزاطاقت نه لری نوولې نافرمانی کوی تابعداری اوکړه معاشره به دِ هم پاکه شی او دسزا نه به هم بچ شې۔
(29) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا--- يولسم حكم " النهی عن العدوان فی الاموال- او يا نهی داموال محرّمو دخوړلو نه"- دظلم اوزياتی نه ځان اوساتئ اوديوبل مال په ظلم سره مه خورئ۔
وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ--- دايا دنزدې حكم سره لګی- چه دبل مال په ناجائزه خورې نو دا ځان وژل دی يوځل به دې مړكړی-يادسر نه يويوحكم راخله او يويوحكم سره لګوه چه دمال حفاظت اوكړه ځان مه وژنئ چه حفاظت نه كوې يوورځ به مړشې اودوزخی به شې۔
إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا--- ترغيب چه دااحكام دالله تعالیٰ درحم نمونه ده۔
(30) وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ عُدْوَانًا--- زجر اوتخويف-ظلم او عدوان مه كوئ حقونه وركړئ حقدارو ته-ګنی انجام به خراب شی-لږ 10،14،30 رامعاد كړه او په سور ئې اووايه او لږدې ناراً ته پكښې ګوره نو مزه به دركوی چه اې مومنه ددې احكامو خيال اوساته او معاشره پرې جوړه كړه ګنی نو " ياكلون فی بطونهم ناراً " او "يدخله نارا" او " نصليه ناراً"-دپنج پير شيخ ابواليمان مدظله العالی هغه انداز اوس ليكلو كښې نه ليكلې كيږی-ځكه خو هغه شاعر وائی چه :

گر مصور صورت آن جان جاناں میکشد — در حیرتم کہ نازش راچہ شان میکشد

ترجمه : كه تصوير جوړنكې دمحبوب تصوير جوړكړی- نوحيران يم چه دهغه دناز بيان به څنګه كوی۔
(31) إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ --- ترغيب الی تعميل الاحكام والبشارة - دا احكامات اومنه اودامخكښې چه كوم احكامات ذكرشو ددې نه خلاف كول ګناه كبيره ده-دګناه كبيره نه ځان بچ كړه الله تعالیٰ به دِ دمصائبو نه خلاص كړی-او دعزت مقام او معاشره به درته نصيب كړی هم په دنيا عزت او هم په آخرت۔

سَيِّئَاتِكُمْ: په معنی دمصائبو باندې اعراف(95) کښې -اوس دمعتزلو دااشکال څه ګنجائش پاتې نشو داځمونږدشيوخوکمال دې-" ادام الله اظلالهم من منهم احياء ونوّرالله مراقدهم من منهم الاموات-"

(32) وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ ---- دولسم حکم " النهى عن التحاسد "-بغض او حسد ديوبل سره مه کوئ-چه الله تعالیٰ کومې حصې چاله لږې چاله ډيرې مقررکړی دی نو دافضل غیراختیاری ددې ارمانونو کولو سره حسد زیاتیږی نودامه کوئ البته کوم فضل هغه اختیاری وی نو دهغې دسوال اجازت دې هغه کوی-

(33) وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ ---- دادمخکښې سره متعلق چه دهرمړی خپل دمیراث حقداران دی نو حقدار ته به حق ملاویږی بغض او حسد ته څه ضرورت دې-

وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ ---- دیارلسم حکم " اعطاء النصیب من النصر والرفاهية یعنی ایفاء العهود"- میراث خودرشتې څیزدې هغه خو به رشته ملاویږی په لوظ او وعده نه ملاویږی البته تاسو دیوملګری یادقبیلې سره دنصر او امداد وعده اوکړئ چه دیوبل امداد به کوو نوهغه وعده پوره کول خه کار دې دنیوی امداد هغه دیوبل سره لاس وغیره کوئ- پدې توجیه سره آیت دنسخ نه بچ شو-

(34) الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ ---- څوارلسم حکم " امیرالبیت هوالرجل "-داصحیح ده ښځې به میراث کښې دسړو سره شریکې دی خو سړوته الله تعالیٰ دڅه وجو نه فضیلت ورکړې دې نو ده کور حاکم هغه سړې دې نو هغه به دښځې دتادیب وغیره خیال ساتی او ښځه به دهغه حکم منی-بیا دنیکانو ښځوصفات او دبد اخلاقو داصلاح طریقه خائی-

(35) وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا ---- پنځلسم حکم " الصلح بين العشائر "- اوس دښځې خاوند ناچاقی راغله اوښځه پلار کره مروره لاړه نو دابه دغه شان ناسته وه -ښځه وائی چه څه نه ځم اوسړې وائی ځه ورپسې نه ځم نودهغې داصلاح طریقه خائی-

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيراً--- غلطی دچاده ،هم الله تعالیٰ ته معلوم دې او دصلح کونکو نیت هم۔

(36) وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا ---- شپاړسم حکم " التوحيد "-چه احکامودرعيت پابندی کول داعبادت دې نودابه صرف الله تعالیٰ له کوئ-بل چاله نه او پديکښې به الله تعالیٰ سره شريک او حصه دار نه جوړوئ-چه دبل چا په قانون معاشره جوړه کړئ-اوبيا حقوق اواحسان ته تلقين مختصر ذکرکوی۔

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ---- ددې ځائې نه زواجر منافقانو ته شروع شو چه هغه پدې قوانينو معاشره نه جوړوی-اول زجرمنافق ته-چه منافق سياسی ليډر په خپل سوچ او فکر او نوی تعليم فخر کوی پدې قانون معاشره نه جوړوی نو دې دالله تعالیٰ محبوب ندي يعنی عذاب به ورکړی۔

(37) الَّذِينَ يَبْخَلُونَ---- دويم زجررټنه منافق ته -چه دامنافق نه پخپله پدې احکامو معاشره جوړوی او ددې دپاره خرچ نه کوی-اوبخل کوی دبل حقوق نه ورکوی-اونه بل ته ددې ويناکوی-بل هم پدې دخرچې نه منع کوی او دالله تعالیٰ دااحکامات پټوی چه پدې چرته معاشره جوړه نشی ماته به وائی بياتکليف شی۔

وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُهِينًا ---- تخويف-سم دِ شی کَنی نوانجام به ئې داشی۔

(38) وَالَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ ---- دريم زجرمنافق ته-چه دامنافق ددنيا دنوم ناموس دپاره خرچ کوی خودالله تعالیٰ ددين موافق پردې حق نه ورکوی دآخرت دپاره، او چه پدې احکامو معاشره برابر شی نوحقونه نه ورکوی داسې بې انصافه دې اصل وجه داده چه يارئې شيطان دې۔

(39) وَمَاذَا عَلَيْهِمْ ---- څلورم زجر منافق ته- چه دنوم ناموس دپاره ئې خرچ کوو نو څه دآسمان تندر به پرې راغورځيدلې وو چه ددالله تعالیٰ دحکم مطابق په ايمان سره ئې خرچ کړې نو فائده به ورته رسيدلې وه۔

(40) إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّة ---- ترغيب الى الاحسان-راشه نن دِ وخت دي حقوق اداکړه او دالله تعالیٰ ددين دپاره دايمان په رڼرا کښې خرچ اوکړه نو پوره بدل به درکړې شی-

(41) فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّة بِشَهِيدٍ ---- پنځم زجر او رټنه منافق ته-چه اوس خرچ نه کوی او اتباع ته او احکامو ته تن نه کيږدی نو پدې ورځ خوبيانه کيږی دده ددې ورځ انتظار دې نوبياخو حآل ګوره-

(42) يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- شپږم زجراوتخويف اخروی-بياخوبه دمنافق او نافرمانه حال هغه ډيرقابل افسوس وی نونن دِ راشی دځان اصلاح دِ اوکړه-

(43) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاة ---- تيقظ او بيداری مومنانو ته- او امرمصلح،دمنافق حال دِ اوليدلو نومومنه ته غافله نشې په بيدارئ باندې دخپل دين داحکامو پابندی اوکړه خصوصاً دمونځ چه دانور منل درته آسان شی- اوزده کړه احکامات-غفلت مه کوه او که غفلت کوې نويهوديان دِ ګمراه کوی-

(44) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ ---- اوس ددې ځائې نه زجرونه يهودو ته چه هغوی ستاسو معاشره په قرآن او په سنت جوړيدلو ته نه پريږدی ،اوتاسو تباه کول غواړی-دازجرونه (55) پورې دی -دازجرونه دولسو آيتونو کښې دی-

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ --- اول زجر يهودوته-دايهود دومره بې کاره دی او بې انصافه دی چه خپله هم ګمراه دی دالله تعالیٰ ددين نه اوړيدلی دی قانون الهی نه منی او تاسو هم خطاکوی-

(45) وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِأَعْدَائِكُمْ ---- دويم زجر چه ستاسودشمنان دی دوی ددين او قرآن دوجې تاسو سره دشمنی کوی داسې نالائقه دی-

وَكَفَى بِاللَّهِ وَلِيًّا ---- تسلی مومنانو ته -مومنان وائی چه دوی ځمونږدشمنی کوی داخو خطرناک دشمن دې نو دهغې تسلی چه تاله الله پوره دې خو همت اوکړه-

(46) مِنَ الَّذِينَ هَادُوا ---- دریم زجر یهودو ته- چه ددوی نالائقتوب او خباثتونو ته اوګورئ تحریف کوی دپیغمبر دبې ادبئ الفاظ تیاروی او ستاسو په قانون او احکامو اعتراض کوی-داپه لعنت شوی دی-

(47) یَا أَیُّهَا الَّذِینَ أُوتُوا الْکِتَابَ ---- دعوت اهل کتابو ته دایمان او څلورم زجر-چه داچه کوم احکامات نازل شو داصلاح دمعاشرې نو پدې ایمان راوړئ ګنې یادموشی څنګه سزاګانې مِ درکړې وې هغه شان سزاګانې به درکړم-

(48) إِنَّ اللَّهَ لَا یَغْفِرُ ---- پنځم زجر او قباحت دشرک-چه دایهود دقرآن په قانون معاشره نه جوړوی اوخودساخته نظام پسې روان دی - کله جمهوریت او کله سیکولرزم وغیره پسې- نوداخوشرک دې او شرک الله تعالیٰ نه معاف کوی او دا ظالمان لا افتراء کوی شرک له دلائل وائی-

(49) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِینَ ---- شپږم زجر-چهوټی منه بړی بات-کار ته ګوره دعوې ته ګوره چه ځان پکښې سره دشرک او افتراء نه پاک صاف حسابوی-

(50) انْظُرْ کَیْفَ یَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ ----اووم زجر -چه داظالمان په الله تعالیٰ افتراء کوی چه مونږ خدارسیده خلق یو او مونږبه نه په عذاب کیږو داسې دعوې کوې او افتراء کوی-

(51) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِینَ ---- اتم زجر یهودو ته-چه دادشیطان او دبتانو وغیره عبادت کونکی په هدایت کیدلې نشی دوی د کافرانو باره کښې وائی چه دادمومنانو نه ډیر په هدایت دی دومره نالائقه بې انصافه اودالله تعالیٰ دنظام دشمنان دی-

(52) أُولَئِكَ الَّذِینَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ ---- نهم زجر یهودو ته - ددې عملونو او خبرو دوجې په لعنت شوی دی ځکه دې احکاموته نه راګرځی-

(53) أَمْ لَهُمْ نَصِیبٌ مِنَ الْمُلْكِ---- لسم زجر -چه دوی داسې دفخر خبرې کوی نوولې په بادشاهئ او په اختیار کښې دوی حصه دار دی څه؟ چه چاله ورکوی نو وردِ کړی-

(54) أَمْ یَحْسُدُونَ النَّاسَ---- یولسم زجر- اصل خبره داده چه دوی دصحابو سره او مومنانو سره حسد کوی چه دوی پدې قانون روان شی نودوی دنیاراګیروی نو په

مومنانو ئې خیر او قرآن ندې سود-نوبیادابراهیم علیه السلام والو سره هم حسد اوکړی-یعنی دحسد څه جواز نشته دې-

(55) فَمِنْهُمْ مَنْ آمَنَ بِهِ---- دولسم زجر-مخکښې هم په دوی کښې دوه ډلې جوړې شوې وې اوس هم دغه شان دی نو چه خلاف کوی دوزخ ورلره پوره دې-

(56) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا ---- تخویف اخروی-زواجر مومنانو ته هم بیان شوې وو چه احکام اومنه ګنی نفاق ته رسې منافقانو ته هم بیان شو چه ګورې یهودی کیږی او یهودیان ته تفصیلی بیان اوشو-اوس حصه ختموی نوتخویف اخروی چه څوک دااحکامات نه منی انکار ترې کوی نودهغه دپاره سخته سزاذکر کوی-

(57) وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ---- بشارت اخروی-کومو کسانو چه دااحکامات اومنل او عمل ئې پرې اوکړو یعنی ځان ئې پرې سم کړو او حقونه پردی ئې ورکړل نو دهغه خوشحالئ ګوره-

**الحصة الثانية**

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ(58) نه دویمه حصه دسورة اوداتر " وَكَانَ اللَّهُ سَمِيعًا بَصِيرًا" (134) پورې-اوپدیکښې اته احکام ذکرکوی چه هغه بین الراعی والرعیة دی-چه داسې احکام چه دهغې په نفاذ کښې حاکم دمسلمانانو ته حاجت وی-اودهغه سره متعلق وی-نودې به حکم کوی او رعایا به دهغې اطاعت کوی-نهم حکم پرې تنویردې-مینځ کښې زجرونه منافقانو ته دی-اشاره ده چه لکه چه منافقان تاسو سره په هغه کښې ( یعنی د وړې معاشرې پہ اصلاح کښې) خلاف کوی نوپدې کښې (یعنی د لوئ معاشرې پہ اصلاح کښې ) هم خلاف کوی دواړه قسمه احکاموکښې درسره خلاف کوی-

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ ---- اول حکم چه " اعطاء الامانات الی اهلها "-چه حکّامولہ پکار دی چه دوی امانتونه حقدارو له ورکړی-یعنی هرامانت ،عهده ،ذمه داری هر څه چه وی نوهغه چاله دِ ورکړی چه هغه دِ هغې اهل وی نااهل ته دِ نه ورکوی او فیصلې دِ په قرآن او سنت باندې کوی-

(59) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- ترغيب الى الاطاعة -مومنانو له پكار دى چه كله امراء دقرآن او سنت مطابق حكم جارى كوى-نوچه رعيت هغه اومنى-نورعايا به اطاعت كوى او راعى بادشاه هغه به حكم صحيح كوى-

(60) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ ---- ددې ځائې نه دزواجرو سلسله منافقانو ته-(1) زجر چه منافق داطاعت نه مخ اړوى يعنى مونږ.وايو اطاعت اوكړئ اومنافق ته ګوره چه دعوى ئې دايمان ده اوفيصله دقرآن نه په غيرقانون كوى-حئ بن احطب وغيره كوى-ده له پكار وو چه فيصله هم په قرآن كړې وې-خودشيطان تسلط دې پرې-

(61)وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا---- (2)زجر - چه دقرآن اوسنت دقانون دفيصلې دپاره دعوت وركړې شى نودمنافق حال اوګوره-

(62) فَكَيْفَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبة---- (3) زجر،داسې خبيثان دى چه كله دغير په قانون دفيصلې كولو دګناه دوجې څه مصيبت اورسيږى نو بيا هغه خپل نيكى شمارى چه مونږدغيرپه قانون فيصله كوله نوځمونږاراده خائسته ده نودې په اراده ګناه خائسته كوى په اراده خو زنانه خائسته كيږى-

(63) أُولَئِكَ الَّذِينَ يَعْلَمُ اللَّهُ---- (4) زجر ،ددوى نفاق او ګنداللّٰه تعالىٰ ته معلوم دې-ته خپل كار جارى ساته- ددوى تاويل رد كوى او تسلى داعى ته هم وركوى سره د تثّبت نه-

(64) وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ--- (5)زجر-چه رسول ﷺاللّٰه تعالىٰ دِ له رااليږلې دې-چه دااللّٰه تعالىٰ قانون جارى اواحكام نافذ كړى-نومنافق چه ددې خلاف كړې دې نوده له دپيغمبر عليہ السلام نه دمعافئ درخواست پكار وو نه كه خپلې ګناه له جواز كتل- نو تہ بخښنہ غواړې او خہ د پيغمبر نہ درخواست كوى۔

(65) فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ---- (6) زجر-چه دوى دعوى دايمان كوى خو ايمان بالكل نشته دې-دايمان شرائط دى-

يُحَكِّمُوكَ - اول شرط دايمان حاكم كول دقران او سنت - فِيمَا شَجَرَ- دويم شرط په هره معامله كښې ،دانه چه يوه نيمه كښې چه دده پكښې فائده وى-

ثُمَّ لَا يَجِدُوا- رضاء بحكم الله ورسوله-دریم شرط-چه دالله تعالیٰ اودپیغمبر علیه السلام په رضا به فیصله کوئ-او بیا په هغه فیصله باندې خوشحاله هم وی - اګرکه پړشوې وی خو طریقه ئې صحیح ده او په غلط قانون چه فیصله اوکړی نو اګر که دې اوګټی خو ده طریقه غلطه کړې ده نو پړدې-

وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا- څلورم شرط -آئنده هم تسلیم او بیا فیصله پدې قانون کول-

(66) وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ ---- (7) زجر-اطاعت داسې پکاروی چه دالله تعالیٰ حکم ته سر کیدی-او په اطاعت کښې خیردې-او مونږبه اجرونه درکړی وو-تر "مستقیماً"(68) پورې-د صحیح تسلیم نقشه داده-

(69) وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ ---- بشارت-دمنافقانو حال دِ اولیدو چه هغوی اطاعت نه کوی نو اوس دمطیعینواو تابعداروحال اوګوره چه هغوی له به الله تعالیٰ څه انعام ورکوی-

(71) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- دویم حکم " التحضیض الی الجهاد"-چه امراء اوحکّام هغه به خپل رعایاجهاد ته تیزوی او تیار به ئې ساتی او تیارې به پرې کوی-

(72) وَإِنَّ مِنْكُمْ--- نه تر "فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا "(73) پورې-زجرمداهنینو او سستو خلقو ته چه هغوی دامیرپه اطاعت کښې کوتاهی کوی اودجهاد په تیاری کولو اوجهاد کښې سستی کوی-

(74) فَلْيُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ---- دریم حکم "القتال فی سبیل الله "-چه هرکله امراء عادلان شی او حاکمان انصاف دار شی او رعیت دهغوی تابعدار شو نو اوس حکم دجهاد کوی چه جنګ اوکړئ دالله تعالیٰ په لارکښې-

وَمَنْ يُقَاتِلْ ---- ترغیب قتال ته-

(75) وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ ---- تحضیض الی القتال-په جنګ کولو راتیزول چه نه ګورې دې حالاتو ته تاغوږونه اغوستلی دی اوناست ئې-

(76) الَّذِينَ آمَنُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ---- بل تحضيض اوتيزى -ته دالله تعالیٰ دپاره لګيائي اوهغه بل دشيطان دپاره نو شابه دشيطان دوستان ختم کړه-دشيطان چل هغه کمزورې دې-

(77) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ ----- دابل ترغيب الى القتال- چه کله موقع دجنګ نه وى نوتيارې کوه په مونځ او په زکوٰة دادجهاد تربيت دې-او زجر منافقينو ته چه سستى دجهاد په موقع کښې هغوى کوى او دخلقو نه يريږى نو په دنيا مئين دې نودنيادآخرت باره کښې څه حيثيت لرى نو د دنيا لحاظ مه کوئ او جنګ اوکړئ-

(78) أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ ---- بل ترغيب-دمرګ نه هم مه يريږه او جنګ اوکړه مرګ په مقرر وخت هر ځائې راځى-نو خه نده چه دالله تعالیٰ په لار کښې مړشې الله تعالیٰ ته به حساب شې لکه :

اگر خونت فدائی یار گردد　　　از وہر قطرہ صد گلزار گردد

بمیداں میر ، اگر درخانہ مردی　　　مبارک خونِ تو بیکار گردد

وَإِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ ---- زجرمنافقينو-چه تکليف او شکست هغه دامير سياست او تدبير حسابوى او ځان ته نه ګورې-

قُلْ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ---- رد لنډ په منافقانو چه سختنه او راحته هر يو ورکونکې الله تعالیٰ دې خودورکولو قانون دې چه-

(79) مَا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ ---- تفصيلى رد او قانون الهى چه حسنه محض فضل دالله تعالیٰ دې او سيئه کښې دبنده کړوله دخله وى نو داتکليف ستاسو دخپل طرفنه دې پيغمبر ته او اميرته ولې نسبت کوئ-

وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ --- تسلى نبى عليه السلام ته خفه کيږه مه-ته صرف رسول ئې-چه ددې خبرو په ځائې ستااطاعت کړې وې نو ډيره خه به وه-

(80) مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ ---- ترغيب الى اطاعت الرسول-چه دوى له اطاعت پکار وو-ځکه دنبى عليه السلام اطاعت هغه دالله تعالیٰ اطاعت دې-

(81) وَيَقُولُونَ طَاعَةَ--- زجرمنافقينو ته-صرف دعوى داطاعت وى او عمل نه وى-التہ خلاف مشورې او جرګې کوى-نوته تسلى ساته اوتوكل په الله کوئ ددوى دِ بې انصافو نه مخ واړوئ-
(82) أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ--- زجر منافقينو ته-په کلمے کمزورئ هغوئ باندے۔ د قرآن کريم په آيتونو کښې به سوچ کړې وې نو دپيغمبر اوجهادحقانيت به درته معلوم شوې وو-قرآن دالله تعالىٰ دطرفنه دې ديکښې دروغ نشته نومنافق ولې مخ اړوى-
(83) وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ---- زجر منافقينو ته د هغوى سياسى کمزورى، چه دوى ډنډورې او پرپيګنډې بې تحقيقه کوى چه دهغې په سبب بې همتى کله مومنانو کښې راشى او بل داهم چه دمشر امير په خبره نه پوهيږى-نوچه کله څه دحملې يادآرام خبره اوکړى-نوظاهرنه وى مراد دجاسوسانو دوجې نه په هغې خاص خلق پوهيږى نودامنافق بيا هغوى سره جهګړه کوى-اوپروپيګنډه کوى اوراز فاش کوى-
ولولا فضل الله : ترغيب اطاعت تہ ۔
(84) فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ---- ترغيب الى القتال-چه خپله جنګ کوه او مومنان تيزکړه- يعنى فوجى بهرتى جارى ساته
عسى الله : د يوائى والى فكر مہ كوه۔
(85) مَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً---- ترغيب الى التحريض-چه څوک بل په نيک کار خصوصاً په جهادتيزوى نو هغې له دهغه دِ عمل کښې حصه ده-اوچه څوک دبدعمل دعوت اوسفارش کوى نودګناه برخه ده چه دده په دعوت ئې ګناه اوکړه-
(86) وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ ---- ترغيب منلو ته -يعنى يوتيزونکې اودجهاد واعظ راغې نودهغه سره ډير په خکلې طريقه پيش راشه-او خبره ئې اومنه او ته هم نورتيارکړه دهغه نه ډير،ګنى دهغه هومره خوتيارکړه کنه-

(87) اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ --- مسئله توحيد کومې مسئلې ته چه جهاد کيدلو نو هغه دامسئله ده ددې داعلاء دپاره قتال کيږی-نو اوکړئ جنګ اجر به ملاويږی-ورځ رارروانه ده-

(88) فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ ---- زجرمومنانو ته اومنافقانو ته-منافقانو ته خوظاهره ده-چه ددوی شرمونه پليتئ اوګوره ستاسو نه دکفر وغيره اراده کوی نو ،الله تعالیٰ ګمراه کړی دی - مومنانو ته زجرورکوی-چه دمنافقانو باره کښې توقف ته ضرورت نشته-چه تاسو وايئ چه جنګ ورسره اوکړو که اونکړو-دې اختلاف ته حاجت نشته دې- چه کوم دارالاسلام کښی دننه دی نو هغوی مه وژنئ او چه کوم بهر دی نوهغې کښې توقف ته حاجت نشته دې-داراروان اقسام چه کوم درسره جنګ نه کوی مه کوه ورسره او چه کوم درسره کوی نوصبر مه کوه-تر آيت " سلطاناً مبيناً "(91) پورې-ټول اقسام صرف ترجمې سره معلوميږی-

(92) وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا ---- څلورم حکم "الاحتياط فی القتل "-دا نه چه مونږاووې چه منافقان وژنه او ته دِ په مسلمانانو شروع اوکړی-مسلمان وژل دمسلمان شايان شان نه دی-وژلو کښې احتياط کوه-کچرته غلطی اوشی اراده کښې او ياپه فعل او کار کښې سرې مسلمان مړشو نوبيابه اسلامی حکومت کښې دا راروانه سزا وی-

(93) وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا--- دقتلِ عمد سزا اوتخويف چه کچرته مسلمان په قصده اووژلو نو دهغه داسزا ده-

(94) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ ---- پنځم حکم " اصلاح النية فی الجهاد "-چه جهادکښې اصلاح دنيت ضروری ده-هسې نه چه دڅه مال دولت دوجې نه څوک اووژنئ چه هغه وائی چه څه مومن يم اوته ورته وائی چه مال بچ کوې او مړئې کړې-بس چه هغه تابعدار شو نوڅه ضرورت دې چه خوامخواه ئې وژنې-

(95) لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ---- ترغيب الی الجهاد-دامطلب ندې چه ته کور کينې چه داځمانه نه کيږی-دااحتياط به څوک کوی-داده چه احتياط کوه ،نيت سم که

او جهاداوکړه-ځکه چه مجاهد له ډیراجرونه دی-داتر " غَفُورًا رَحِيمًا "(96) پورې ذکرکوی-

(97) إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ---- زجر او تخویف هجرت نه کونکو ته چه دامومنان ولې دکافرو په وطن کښې ایساریږی او هلته ناست دې اوځی ولې نه چه نه اوځی نو دابه ئې حال شی-

(98) إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ---- ددې حکم اوسزا نه داخلق مستثنیٰ دی- کیدې شی دا الله تعالیٰ معاف کړی-

(100) وَمَنْ يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ---- شپږم حکم " الترغیب الی الهجرة فی سبیل الله "-چه جهاد بغیر دهجرت نه نه کیږی نو پکاردی مومنانو له چه هغوی هجرت اوکړی اودهجرت فضیلت ذکرکوی-

(101) وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ ---- اووم حکم " حکم الصلوٰة فی السفر للتثبت والارتباط "-

چه په سفر کښې خصوصاً په جهاد کښې دمونځ خیال ساتئ کم اوکړئ دمقرر مقدار نه خو پریږدئ مه او دخوف په حالت کښې هم پریږدئ مه دې سره به ستاسو زړونه مضبوط وی او کلک به یئ داتر " موقوتا " (103) پورې بیانوی-

(104) وَلَا تَهِنُوا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ ---- ترغیب الی الجهاد-سستی مه کوئ او زخم دقتال نه مانع مه ګرځوئ-ځکه کافر هم زخمی دې او ستاداجر امید شته دهغوی نشته دې-

(105) إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ ---- اتم حکم" بیان القانون بعد فتح البلاد انه کتاب الله "-چه کله مو کلی اوزمکه فتحه کړه نواوس به قانون دخه جاری کوې -برطانوی کورټ اوکه تعزیرات هندوپاکستان اوکه نه دجمهوریت او اکثریت باندې به فیصلې کوئ-نه چه ملک دِ آزاد کړواو فتح درته نصیب شوه نو قانون به هغه دکتاب الله تعالیٰ وی-

ے تو نہ میدانی کہ آئینِ تو چیست زیرِ گردوں سرِ تمکینِ تو چیست
آں کتاب زندہ قرآن حکیم حکمتِ اولایزال است و قدیم

وَلَا تَكُنْ لِلْخَائِنِينَ خَصِيمًا- آداب امیر اوحاکم ته-الله نبی **6** ته ذکرکوی خو عام دی چه دخیانت ګر،چه دقانون الهی نه اوړی-نودهغه طرفداری مه کوه که به تقاضائې بشریت څه میلان راغې نو "واستغفرالله "-

(108) يَسْتَخْفُونَ مِنَ النَّاسِ ---- زجر خائنینو ته -چه کله پدې قوانینو برابر شوې-نواوس خائن ته زورنه ورکوی چه دوی داسې نالائقه دی چه مشورې اوجرګې کوی چه تادقانون الهی نه واړوی-

وَكَانَ اللَّهُ ---- تخويف چه الله ته ددوی هر څه معلوم دی-

(109) هَا أَنْتُمْ هَؤُلَاءِ ---- زورنه هغه خلقو ته چه د منافق طرفداری او صفائی ئے کوله چه د قیامت په ورځ به څوک وی او تنبیه مومنانو ته چه تاسو هم دخیانت ګر چه دقانون الٰهی نه خلاف روان دی نوطرفدار مه جوړیږئ نو چه دغیر دقانون کوشش کوئ نوولې دهغې پارټئ کښې رکن ئې او ووټونه ورله ګورې-دقیامت په ورځ به دده طرفدار څوک وی-

(110) وَمَنْ يَعْمَلْ سُوءًا---- دعوت توبې ته-چه خیانت کونکی ته وائی راشه توبه اوباسی-

(111) وَمَنْ يَكْسِبْ إِثْمًا ---- تخويف او تاکید توبے ته - چه توبه نه اوباسی نوځان خرابوئ-

(112) وَمَنْ يَكْسِبْ خَطِيئَةً ---- زجر منافق او خائن ته چه ګناه پخپله کوی او جرم په بل تړی- توبه کول درکنار الټه په بل تهمت لګوی-

(113) وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ ---- امتنان دالله په نبی علیه السلام او زجرمنافقینو ته-منافقین او خائنین کوشش کوی چه تادکتاب الله دقانون نه واړوی خوپه تادالله تعالیٰ احسان دې داخیانت ګرڅه کولې نه شی ته په قرآن دالله په احسان کلک شه-

(114) لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ---- زجرمنافقينو ته-دامنافقان دقانون الهی خلاف جرګې کوی-چه ددې محه بنده کړی-میتهنګونه کوی- داجرګې فضول دی جرګه خو هغه ده چه دقانون الهی دتائید اوخورولو دپاره وی-او رائج کولو دپاره وی-

(115) وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ ---- تخویف اخروی-څوک چه دمومنانوخلاف مشورې کوی او دقانون الهی نه اوړی نوهغوی ته دآخرت یره-

(116) إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ ---- زجرپداسې خلقو کښې دبخنې ځائې نشته دې ځکه دوی شرک کوی دایوځل هلته ذکرکړو-بیادلته اشاره ده چه خکته معاشره هم په قانون الهی جوړه کړه او بره معاشره هم اعلیٰ سیاست هم دقرآن په سیاست باندې برابر کړئ چه دانه منی او په خپل جوړاو یاپه بل قانون معاشره جوړوی نوداشرک دې دده بخښنه نشته دې تباه به شی-

(117) إِنْ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ ---- دشرک قباحت او تخویف دشیطان په یارانه تر "مَحِيصًا "

(121) پورې-چه دعاجزه مخلوق بندګی کوئ او حقیقت کښې دشیطان بندګی کوئ-او د شیطان تهیه اراده دګمراه کولو ده چه هغه قسمونه کړی وی چه دوی به څه اړوم او دین الهی او قانون الهی به بدلوی-نوهغه اتباع دجهنم سبب دې نو دامنافقین او خائنین چه دالله د قانون نه اوړی نوداپه تعلیم دشیطان روان دی-نوجهنم به ئې ځائې شی-

(122) وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ---- بشارت دغه شان په اوله حصه کښې هم ذکرکړې وو اشاره ده چه په هغه احکامو هم جنت اوپدې هم جنت کامل جنتی هغه دی چه دواړه قسمه قوانین رائج کړی-

(123) لَيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ ---- زجر-چه نجات هغه په تعمیل داحکام الهی کښې دې نه که چه ارمانونه اوخبرې ستاسو یادیهودو چه مړه بخی به مو که خیروی - نه خبره دقانون ده دبدعمل هم قانون- او د نیک عمل هم-

مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا--- تخویف بد عملو ته ، دلته د سوء نه مراد چه پدے قوانینو ملک نه برابروی-

(124) وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ ---- بشارت دنیک عمل سره دنجات وعده ده نو دااحکام عملی کړئ چه جنتیان شئ۔

(125) وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا ---- ترغیب-ابراهیم علیه السلام ځنګه ځان دالله تعالیٰ کړې وو-دغه شان ځان دالله تعالیٰ کړئ په عقیده او په عمل کښې-دلته دابراهیم ﷺد تابعدرائ حکم ځکه کوی چه معاشره هم په قانون الهی جوړول او په ملک کښې قانون نافذ کول دااصل ابراهیمیت دې۔

(126) وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ ---- مسئله توحید-اختیارات ټول دالله تعالیٰ دی نوچه دزمکې اوآسمان اختیارات دهغه دی نو دغه شان دمعاشرې جوړولو اودملک او وطن دجوړولواختیارات هم دهغه دی۔

(127) وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ ---- نهم حکم " تنویر په ماسبق "- د اولې حصې څه باقی مواد ذکرکوی-چه خیانت ګر څه کولې نشی په قانون الهی کلک شه خصوصاً دکمزورو دحقوقو خیال اوساته دائې په احکام دراعی کښې ځکه راوړو چه راعی د کمزورودحق خیال اوساتی- یعنی سیاست اعلیٰ او احکام سلطانیه ددې دپاره وو چه د کمزورو حق محفوظ شی۔

وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ --- داولې حصې په دویم حکم چه (3) آیت کښې په هغې تنویر دې-دواړه یوځائې کړه آیت به حل شی۔

(128) وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ ---- دا په څوارلسم حکم تنویر هلته دښځې بد خویونه او داصلاح طریقه دلته چه سړې بدخویه وی نوڅه به کیږی۔

(129) وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا ---- داهم په دویم حکم تنویر دې۔

(131) وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ ---- توحید چه اختیارات دالله دی نوځکه حکم کوی چه " اتقواالله "-

وَإِنْ تَكْفُرُوا ---- تخویف بیاورسره " لله مافی السمٰوٰت " ذکرکوی-چه اختیارات دالله دی-نودهغه دقبضې نه وتلې نشی۔

(132) وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ---- تاكيدكوی دوباره دكلكون دپاره-
(133) إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا النَّاسُ ---- تخویف چه كه تاسو داقوانین نه رائج كوئ نوتاسو به ختم كړی او نور متبع او تابعدار به پیداكړی- هغوی به دا قوانین رائج كړی او یا ستا استعدادات او طاقتونه به ختم كړی نو دالله تعالیٰ ددین دپاره به نه استعمالیږی او په نورخه به استعمالیږی-
(134) مَنْ كَانَ يُرِيدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا ---- ترغیب چه ددنیا دوجې داقانون الهی مه پریږدئ ټول په شریعت قائم شئ نو الله سره دنیاوآخرت دواړه دی دواړه به دركړی-

## الحصة الثالثة

(135) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ ---- ددې ځائې نه دسورة دریمه حصه شروع كیږی اوپدیكښې ترغیب اوبیا زجرونه -منافقانو ته-تر آیت(157)اوبیا اهل كتابو ته -اوآخركښې رد دشرك فی التصرف او ترغیب الی القرآن او آخردسورت به اوتړی اول سره-
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا ---- ترغیب الی الانقیاد-اې مومنانو چه كوم احكام بیان شو نوددې تابعداری اوكړئ-ددې احكامو بیان اوكړئ اګر كه نقصان هغه خپلو ته ولې نه وی-دالله تعالیٰ احكام دی الله تعالیٰ په هغوی ستانه ډیر مهربانه دی -
(136) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا ---- ترغیب اوذكر دمقاصدو اربعو-اې مومنانو په توحید رسالت،كتاب او قیامت په ایمان مضبوط شئ-دا احكام الله تعالیٰ په كتاب كښې په خپل پیغمبر رالیږلی دی قیامت كښې به بدله دركړی-داسې مقاصد یوځائې كړه-
وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ ---- زجر په انكاردمقاصدو-
(137) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ---- زجرمنافقانو ته او تخویف چه هغوی دااحكام نه منی خپلو فائدو ته ګوری چه فائده ایمان كښې وی نوایمان او كه كفر كښې وی

نوكفر يعنى دفائدې بنده دې دخدائې بنده ندې-نودمغفرت كور او ځائ پكښې نشته-او عذآب دې ورله دردناک(138) پورې-

(139) الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ ---- خباثت دمنافقانو- چه دوى دكافروسره يارانه كوى دهغوى په لارروان دى-

أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ ---- زجرچه دوى پدې چل عزت ګورى ناانصافه نودعزت مالک اواختيارمند خوالله تعالىٰ دې داقانون دِ جارى كړى چه عزت ورته ملاؤ شى-

(140) وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ ---- زجرمنافقانو ته چه دكافرودمجلس نه بائيكاټ حكم شوې وو نودوى ولې داسې انكاركوى او دقرآن قوانينوخلاف مجالسواو اسمبلو كښې كينى داخو دهغوى سره يوشان والې دې-نوداسې پارليمنټ او اسمبلئ نه بائيكاټ ضرورى دې-

إِنَّ اللَّهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِينَ ---يره دآخرت-چه دلته يوځائې نودوزخ كښې به هم يوځائې وى-

(141) الَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ---- قباحت دمنافقانو او پليتى دهغوى چه داسې نفاق كوى صرف دفائدې بنده دې-

(142) إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللَّهَ---- داهم دمنافق خباثت او پليتى-چه پدې چل دې خداع اودهوكه كوى او مونځ فرض نه ګنړى او په سستيا راپاسى دغه شان هرددين كارته-صرف حاضرى لګوى-

(143) مُذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَلِكَ---- بل خباثت چه دبزدلئ دوجې اولالچ دوجې دكفر اواسلام تر مينځه دى چه دكوم طرفنه نه ئې حاجت پوره كيږى هلته ځى لكه دشاة عائر-

(144) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- زجرمنافقانو ته چه دځلې ايمان دعوى كونكيه دعوى دايمان به دِ هله صحيح شى چه دكافرونه بائيكاټ اوكړئ-دكافروسره دوستى دا خو په ځان دكفرګواهى كول-او دليل قائمول دى-

(145) إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ ---- تخويف منافقانو ته تر " نصيراً " پورې-

(146) إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا ---- دعوت توبې ته او شرائط دتوبې دمنافق-راشئ پدې شرطونو توبه اوباسئ-

(147) مَا يَفْعَلُ اللَّهُ بِعَذَابِكُمْ ---- زجر اوتخويف-چه تاسو دالله داحكامو قدر كوى نوالله تعالیٰ تاسو نه په عذابوى عذاب ځكه راځى چه تاسو انكاركوئ تاسو اخلاص اوكړئ او ايمان راوړئ-

(148) لَا يُحِبُّ اللَّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ ---- زجرمنافقانو ته په دوستئ دكافروځه وايم چه " لاتتخذوا الكافرين " -كافروسره دوستى مه كوئ او منافق دوستى كوى-او حالانكه دالله تعالیٰ دبنده نه په په خله باندې دشرک كلمه راوستل دسره خوښ ندى بيالاكافرو سره كيناستل او دشرک خبروكښې دهغوى سره مرستې اوخندنې كول-

إِلَّا مَنْ ظُلِمَ---- دادځلې سرسرى ظاهرى دشرک وئيلو جواز په وخت داكراه كښې يعنى په اكراه كښې دشرک كلمه سرسرى په خله راشى نوځه ګناه نشته دې-

(149) إِنْ تُبْدُوا خَيْرًا ---- دحالت داكراه ټول صورتونه چه كوم جائز دى يو " إِنْ تُبْدُوا خَيْرًا "- چه په ډاګه دتوحيد مسئله بيان كړى كه شهيدشى نومرتبه ئې اوچته ده-

أَوْ تُخْفُوهُ --- دويم حالت ياپه خله شرک اووائى خو زړه كښې ئې ايمان دې او خيريعنى توحيد دې داجائز دې -

أَوْ تَعْفُوا عَنْ سُوءٍ-دريم حالت- چه دشرک نه مخ اړوى يعنى غلې دې-دشرک خبره باندې نه او وائى نه نه-

(150) إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ---- زجر اوتخويف هغه خلقو ته -چه ځنې پيغمبران منى اوځنې نه داديهودو كارو-

أُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ حَقًّا---- تخويف

(150) وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ---- سره بشارت

(153) يَسْأَلُكَ أَهْلُ الْكِتَابِ ---- ددې ځائې نه ذم ديهودو دهغوى پليتى ذكر كوى-اول كښې چه بې ځايه شبهات كوى بيازاړه خباثتونه رامعادكوى چه ددې

جرمونواوخباثتونو دوجې مونږدوی سره څه کړی دی- اول خباثتونه د (153) نه تر (159) پورې ذکرکوی او شماری ئې- فَبِظُلْمٍ مِنَ الَّذِينَ سره(160)-ددې خباثتونو سزا چه حلال پرې حرام شو ورپسې نور خباثتونه ذکرکوی-یعنی دتیرو او راروانو خباثتونو دوجې ورلره مونږداسزاورکړه-خباثتونه آسان دی صرف شمیرل کتودقرآن سره معلومیږی-

وَأَعْتَدْنَا (161) سره تخویف اخروی دیهودو ته-

(162) لَكِنِ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ ---- مدح دمومنین داهل کتابو او بشارت هغوی ته-

(163) إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ ---- صداقت دنبی علیه السلام او قرآن داهل کتاب دانکار اوداعتراضونو څه ګنجائش نشته دې-ځکه نبی علیه السلام هم دنورو انبیاء علیهم الصلوات والتسلیمات پشان پیغمبردې هغوی ته وحی شوې وه او لګه لګه به کیدله نودغه شان ده ته هم کیږی-دګنړو انبیاؤ تذکره کوی-

(165) رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ --- ګنړانبیاء علیهم الصلوات والتسلیمات خودهغوی کار معجزې راوستل او عذاب ورکول نه دی-بلکه دهغوی کار تبشیر اوانذار وو-

لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ--- حکمت دارسال الرسل- د پیغمبرانو د رالیږلو فائده ۔

(166) لَكِنِ اللَّهُ يَشْهَدُ ---- صداقت دقرآن باندې شهادت دالله تعالیٰ اوملائکو-چه منافقان او اهل کتاب که اعتراضونه کوی او انکار کوی-نوپه هغې دقرآن شان نه کمیږی-قرآن کریم الله تعالیٰ په خپل علم نازل کړې دې چه داداصلاح دعالم دپاره کافی دې که دوی اعتراض کوی نو ځان خرابوی-ځکه-

(167) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- زجر-(168) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- تخویف-

(170) يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمُ الرَّسُولُ بِالْحَقِّ ---- صداقة الرسول 6 -دامونږ حق پیغمبر رالیږلې دې نوکه ځان ده دوزخ نه بچ کول غواړی نودده اتباع اوکړئ او انکار مه کوئ-

وَإِنْ تَكْفُرُوا ---- تخویف - نقصان موخپل دې-

(171) يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ ---- زجريهودو ته -چه داسې صاف پيغمبر راغلې دې تاسو په هغه اعتراضات کوی اودهغه دمشن خلاف کوی نودا بدکارونه پريږدئ-اودانبياؤ باره کښې خبرې مه کوئ-
لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ---- رد دشرک فی التصرف-
(173) لَنْ يَسْتَنْكِفَ الْمَسِيحُ ---- يعنی دعيسیٰ عليه السلام دعبديت اقرار دا څه دهغه توهين ندې پدې هغه پخپله خوشحاله دی-ملائک او انبياؤ ټول دالله تعالیٰ عابدان دی-اودهغوی حکم ته منقاد-
وَمَنْ يَسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهِ ---- زجر چه دالله تعالیٰ دعبادت نه مخ اړوی اوځان ورته دالله تعالیٰ په اتباع او دهغه په احکامومنلو بدخکاری-نو الله تعالیٰ به ئې جمع کړی-
(174) فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ---- بشارت ايمان والو ته-
وَأَمَّا الَّذِينَ اسْتَنْكَفُوا ---- تخويف نه منونکو ته-
(174) يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمْ ---- صداقة القرآن - نوراشئ که کاميابی اونجات مو په ځان سود وی نو دادالله تعالیٰ داکتاب اومنئ-چه الله نوراليږلې دې چه ستاسو معاشره پرې روخانه شی او نورانی شی او دالله تعالیٰ رحمت مهربانئ ته به مو الله تعالیٰ دننه کړی-بشارت شو په (175) کښې-
(176) يَسْتَفْتُونَكَ ---- ذکر داحکامو چه په اول دسورة کښې وو نو په دآخر کښې هم دغه ذکر کوی- چه سورت دې له چلولې شوې وو چه پردی حقونه ورکړه-دامينځ کښې ټول ددې خبرې ممدات دی نوحقونه ورکړئ-دکلاله څه باقی صورتونه ذکرکوی-
يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ - ترغيب اوحکمة دبيان داحکامو-اومنئ چه گمراه نشئ-
وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ---- ستاسو انقياد او غيرانقياد الله تعالیٰ ته ظاهردې-

### حاصل دسورة

اې مومنانو دالله تعالیٰ نه اویرېږئ او پردی حقونه ورکړئ او دکمزورو دحقوقواو نفسونو او مالونوحفاظت اوکړئ- که داسې نه کوی نو اور به مو ځائې شی -منافق او یهودی هغه تاسو پدې احکامو عمل ته نه پرېږدی نودهغې نه په احتیاط شئ-هغه بې انصافه دی او دې سره خپل ملک په قوانینو برابرکړئ چه امراء انصاف دارشی-اورعیت تابعدار شی چه دالله تعالیٰ ددین دپاره جنګ اوکړئ په اصولو دفتح نه روستو قرآن نافذ کړئ-دخیانت ګرتابعداری مه کوئ هغه که هرڅه کوی تاسوسره څه نشی کولې تاسو کلک شئ-منافقان دکافرواتباع کوی دهوکې کوی او یهودېې ځایه شبهات کوی که بند نه شو نو تباه به شی په منلودپیغمبراوقرآن کښې ورله فائده ده نورانی به شی-

### امتیازات

(1) الاحکام الستة عشر- 16 احکام درعیت-

(2) نهه احکام دراعی او رعیت-

(3) زواجر ډیرمنافقانواویهودو ته-

(4) حکم دقصر الصلوٰة-

(5) فلاوربّک لایومنون- دایمان شرطونه- او رد د شرک فی الحکم په اوږدو-

(6) ان تجتنبوا کبائرماتنهون-

(7) په جمع خباثتونه دیهودو-

(8) دمنافق دتوبې شرطونه-

(9) لایحب الله الجهر- او داکراه دحالت صورتونه-

(10) ویتبع غیرسبیل المومنین-حجیة الاجماع-

تمت سورة النساء بعون مالک الارض والسماء

**16 ه 1433 ه یوم الثلثاء 04:06 بعد از ظهر 12 اکتوبر 2012 ء وانا فی السجن راجی الخلاص-**

سورة المائدة مدنية
نزولا (۱۱۲) مصحفا (۵)
رکوعات (۱۶) ایات (۱۲۰)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة المائده

سورة المائده مدنى سورة دې په نزول کښې يوسل دولسم (112) نمبردې پس دسورة الفتح نه نازل شوې دې او په ترتيب دسورتونو کښې پنځم سورة دې پس دسورة المائده نه۔

## ربط دمخکښې سورة سره

مناسبت،رشته،جوړ،تعلق او ربط دسورة المائده دسورة النساء سره په مختلفووجودې ځنې دهغې نه دلته ذکرکيږی۔

**اوله وجه**: مخکښې سورة کښې هغه احکام بيان کړل چه په هغې سره اصلاح د معاشرې راتله نو په سورة المائده کښې هغه احکام ذکرکوی چه په هغې سره اصلاح دخوراک راځی چه معاشره دِ سمه شوه نواوس به خورې څه خوراک سم کړه۔

**دويمه وجه**: په سورة النساء کښې رد دشرک فى التصرف وو نو په سورة المائده کښې رد دشرک فعلى کوی ځکه داشرک فعلى دشرک فى التصرف دپاره ذريعه اومبداء ګرځی۔

**دريمه وجه**: سورة النساء کښې زواجر وو يهودو ته ځکه هغوی خلاف په معاشره کښې کولو نودلته ورته زواجر چه په حل او په حرمت کښې هم خلاف کوی نو دلته ورته ډيرزواجر ذکرکوی۔

**څلورمه وجه**: په سورة النساء کښې رد دشرک اعتقادى وو نو په سورة المائده کښې رد دشرک فعلى کوی۔

**پنځمه وجه**: په آخر دسورة المائده کښې اووې چه " يبين الله لکم ان تضلوّا " نودلته اوس نور بيان کوی چه گمراه نشئ-

## دعوی دسورة

**دسورة مرکزی مضمون او دعوی هغه** " توضيح الحلال والحرام بذکرالمسائل الاربعة وان الحلّ والحرمة من الله تعالیٰ لامن غيره فکيف تشرکون به وتنذرون لغيره "**-يعنی دحلالو اوحرامو وضاحت په ذکرکولودڅلورومسئلوسره دهغې دوضاحت نه اوداخبره به وائی چه دحل او حرمت ذمه دار الله تعالیٰ دې نه بل څوک-نوپدې کښې الله تعالیٰ سره څوک مه حصه دار کوی او منختې وغيره دبل په نوم مه کوئ مختصر دعوی دسورة هغه رد دشرک فعلی په وضاحت دڅلورو مسئلو سره-**

## وضاحت ددعوې دسورة

**ددعوې وضاحت ته دلته ضرورت نشته دې ځکه دااصطلاحات دی اوداستاذان په اصولو کښې بيانوی او مونږهم دخپل مناسب په اصولو کښې ليکلی دی خوچونکه استاذان دورانِ درس چه سورة مائده شروع کوی نوددې وضاحت کوی دسورة دپوهې دپاره نودشيوخو په اقتداء او اتباع مونږهم دوس مطابق دې ځائې څه ليکل کوو الله تعالیٰ دې مونږته فهم نصيب کړی-**
**الله تعالیٰ په ذات اوصفت کښې يومنلو ته توحيد وائی يعنی داعقيده اول چه الله تعالیٰ د ذات پشان ذات نشته او دصفت پشان صفت دچانشته دې نوداتوحيددې توحيد يومنلو ته وائی يو وئيلو ته نه وائی-دتوحيدمقابله کښې شرک دې يعنی دالله تعالیٰ صفت چاله ورکول- داډيروخلقو کړی وو او اوس هم کوی لکه علم غيب يادکارسازئ يا دهرځائې نه اوريدل بې داسبابو نه او په هرځائې کښې ليدل بې داسبابو نه-داشرک دوه قسمه دې يواعتقادی يعنی دزړه نه دامنل چه فلانکې ځما حاجات بې داسبابو نه پوره کوی**

يا اسباب نشته ظاهری او ځماآواز دلرې نه اوری دامنل او عقیده ساتل داشرک اعتقادی دې-دویم دې شرک فعلی او عملی یعنی دفعل او عمل تر حده پورې وی او عقیدې ته نه وی کوزشوې لکه مثال غیرالله ته سجده کول نوداظاهر کښې عمل دکفر او شرک دې خوعقیده دکارسازیت ورسره نوی او چه عقیده ورسره وه چه داځه چاته سجده کوم نوداځما کارساز او مددګار دې نواوس شرک اعتقادی شو-دویم مثال چه داتور څادر نه اغوندم ځکه بیابیماریږم نوداظاهر خبره دشرک ده خوعقیده ملګرې نوی نو شرک فعلی دې او چه عقیده یوځائې شی دې څادر اویاڅادر والا بې داسبابو هلاکت راولی نواعتقادی شو-

دشرک فعلی حکم دادې چه داپه حقیقت کښې ګناه کبیره دې کفرندې خوچه مونږته دعقیده پته نه وی یاپته وی چه ددې سړی داعقیده نده چه داڅادرهلاکت راولی خوهسې نفرت کوی نوداګناه کبیره شو-اوکه پته اولګیده څه قرینه موجوده شوه چه عقیده هم صحیح نده نودابیا اعتقاد ته لاړو اوکفرشو-

دشرک فعلی دوضاحت دپاره استاذان څلورمسئلې ذکرکوی چه دوه په هغې کښې هغه توحید دې او دوه پکښې شرک فعلی دې هغه څلورمسئلې دادی-(1) تحریمات الله (2) تحریمات العباد (3) نذور الله (4) نذور العباد-دهرې مسئلې وضاحت لرکوو-

(1) **تحریمات الله**: الله تعالیٰ حاکم دې اوحاکم له اختیاروی چه هغه څه حلالوی په بندیانو اوڅه بندوی دهغه اختیار دې نوالله تعالیٰ ځنې اشیاء په بندیانو بند کړی دی -دادوه قسمه دی - یوحرام په حرمت موبّد چه داسې حرام وی چه دهغې نه حرمت چرې نه لرې کیږی-لکه مرداره ، خنزیر،زنا،داڅیزونه او کارونه چه الله تعالیٰ حرام کړی دی په حرمت موبّد سره بیا دا ځنې دنجاست دوجې نه وی او ځنې دکرامت دوجې نه وی لکه انسان شو- دویم حرام په حرمت موقت سره یعنی داحرمت همیشه نه وی بلکه دڅه وقته پورې وی لکه په احرام کښې ښکار کول شو-دا الله تعالیٰ تر څه وقته حرام کړی دی یادمکان دوجې لکه په حرم کښې ښکارکول شو-

**طريقه بيان**: قرآن تحريمات الله څنګه بيانوی نودهغې بيان کله په خکاره ټکی دحرمت بيان اوکړی چه " حرّم عليکم "-اوکله نهی اوکړی لکه " لاتقربوا الزناء " ،لاتاکلوا الربوٰ" اوکله دحلالو نه په غيرُ او الاّ سره استثنا کړی لکه چه " احلت لکم الانعام الّا مايُتلیٰ عليکم" شو - " الا مايتلیٰ عليکم " او " غير محلّی الصيد " - داټول طريقې دی دتحريمات الله چه داسې الفاظ راشی نومونږ به ورته تحريمات الله وايو-

**حکم دتحريمات الله**: په تحريمات الله عقيده دحرمت لرل فرض دی او عملاً به ترې نه ځان ساتی ځان به ترې نه بندوی-او دابعينه توحيد دې- که چا دقطعی حرامو نه انکاراوکړو نوکافرکيږی اوکه دحرمت قائل وی او عمل ترې زائله شی يعنی معامله ورسره دحلالو اوکړه اواستعمال ئې کړو نوفاسق دې او کافر ندې-

(2) **تحر يمات العباد** : دتحريمات الله مقابله کښې تحريمات العباد دی-چه بنديان راولګی اودالله حلال شوی څيزونه په ځان په عقيده دخيراوياشر بندکړی بغيردظاهری سبب نه يعنی ظاهری سبب نه وی او دخيراوشرطمع کوی ظاهری سبب لکه دسينې مرض غوړنه خوری وريژې نه خوری نوداخوپرهيزدې-ظاهری اسباب دی هيڅ څه ظاهری سبب نه وی خوزړه کښې خدشه وی چه که داسې اوکړم نوداسې به اوشی داسې مشرکينو دتحريمات الله مقابله کښې ډيرکړی وو موبد هم او موقت هم وو-ځنې څاروی به ئې په ځان بندکړل چه ددې استعمال مونږله جائز ندې-هميشه که مونږددې چائې يا غوخه استعمال کړه يا موټرې سورلی اوکړه نومونږته به څه ضرر رااورسی دادنفرت عقيده دهندوانو وه چهوت چهات اودامسلمانانو ته دهندوانو نه پاتې اوس معاشره کښې هم داڅيزونه ډير دی-اګرچه عقيده ورسره نه وی خوخبره اوکارګناه دې-داپه ځايونو کښې دی او وختونو کښې دی چه په فلانکۍ مياشت کښې داکار مه کوه خيرپکښې نه وی په فلانکۍ ورځ کوه خيرپکښې زيات دې غيرداذن شرعی نه-صفر کښې کډه مه کوه ،محرم ،حس حسين کښې واده مه کوی داسې نورډيردی دشروع چهارشنبه ورځ سپيره ګنړلې کيږی داسې په عاموڅيزونو کښې وی لکه

رنګونه شو چه فلانکې رنګ په مونږخه ندې دکارغه آواز سپيره ګڼړی-داسې  نورډېر چه ددرس دوران کښې تفصيل سره وئيلې کيږی دلته صرف نشاندهی مقصودوه چه دې سره که عقيده ټل شی دغيرالله نه دخيراوشر دبې سبب نو دا کفرته رسی هسې ګناه کبيره دې-

**دتحريمات العباد طريقه بيان** : قرآن کريم دا په مختلف اندازونو بيانوی-يوچه خکاره اووائی چه " لاتحرّموا "-دويم " کلوا" لفظ سره-دريم " احلت يا احل الله "-سره يعنی چه دا تاسو له راکړی دی نورګنړاندازونه دی چه بيانوی-

**حکم تحريمات العباد** : تحريمات العباد د تحريمات الله ضد دې- او مقابل هغه توحيد وو نوداشرک دې-اوهغې سره يعنی تحريمات الله سره معامله دبنديز وه چه ځان بندولو نو دلته هغه استعمالوې چه دا نفرت ختم شی نوعملاً ئې داحکم شو چه استعمال به ئې شروع کړې او اعتقاداً ئې داحکم دې چه په عقيده به پرې دحلت اوساتې چه داحلال دی-مونږدااويل چه شرک فعلی دې کچرته عقيده ورسره ټل شی ياداعقيده چه داځمونږ دپاره فلانکی منجورحرام کړی دی يافلانکی پيرپه مونږبندکړی دی -دااختيارات دهغه دې نوداخوشرک اعتقادی دحل اوحرمت تصرف غيرله ورکول دی ياداعقيده د خيرشرفلانکې څيزرسوی بغيرداسبابو نه داخوشرک اعتقادی شو که داورسره نه وی ټل صرف ځان ترې ساتی دخدشې خطرې نفرت په طورنوداشرک فعلی دی-معلومه شوه په تحريمات العباد کښې چه کوم تحريم ذکردې نودادبنديز په معنی دې يعنی لغوی دې چه صرف ځان ترې بندوی دنفرت په طور باندې نواستعمال دِ کړی چه دانفرت ختم شی-

(3) **نذورالله** : دريمه مسئله ده نذورالله يعنی هغه څيزچه دالله تعالیٰ دتعظيم دپاره اومنلې شی هغه بياکه هرڅه دی -لکه سړې وائی که دبيمارئ نه خه شوم نو الله تعالیٰ له به دا کارکوم يابه څه ځوم يابه نفل کوم داانذورالله دی-داځکه کوی چه الله تعالیٰ مالک دنفع نقصان او عالم الغيب ګڼړی چه داکارځماسرته رسولې شی-

طريقه بيان : داقرآن پداسې انداز بيانوى كله په لفظ دنذر چه " وليوفوا نذورهم "-اوكله په لفظ دشعائرالله باندې-

**ددې حكم**: چه داتوحيد ددې احترام او وفاء پكار ده او استعمالول ئې عين توحيددې خوراک ئې هم جائزدې-دامحترم دى ده احترام خيال ئې ساتل پكار دى كه هغه هرڅه وى-

(4) **نذورالعباد** : مشركينو دنذور الله مقابله كښې دخپلو معبودانو په نوم به څه څيزونه منل اوهغه به ئې محترم ګڼړل چه كه څمونږداكار اوشو نودابه مونږ فلانكى بابا له وركوو فلانكى زيارت له به اوړو-داتول نذور العباد دى-

**طرزبيان**: داقرآن كريم په مختلفو اندازونو بيانوى-يوپه " ماأهلّ به لغيرالله " سره-دويم " نصيباً لشركائهم"-دريم چه " زيّن لكثيرمن المشركين قتل اولادهم "-"ماذبح على النصب "-والانصاب " وغيره ګڼر اندازونه دى-چه قرآن ذكركوى-

**حكم**: اول نذر منل دغيرالله دپاره داشرک دې چه " النذر للعبادة والعبادة لغيرالله كفر "-دويم هغه شې حرام شو دغيرالله نوم پرې واغستې شو دتعظيم او دتقرب په نيت نودانيت ګنده دې-ددې دوجې نه هغه شې حرام شو دا استعمالول حرام دى دابې عزته دې نوددې بې عزتى اوكړه-

لنډه مختصره دخلوروخبروخلاصه " دالله بندشوى بند كړه دمخلوق بندشوى دابندنه دى دا استعمال كړه"-دايوقاعده شوه-

دويمه قاعده " دالله تعالىٰ دعزتمندو عزت اوكړه اوچه الله تعالىٰ بې عزته كړې وى نودهغې څه عزت نشته دې " ومن يهن الله فماله من مكرم "-

تمت الوضاحة 16 ه 1432 ه ليلةالاربعاء 08 : 09

## خلاصه او تقسيم دسورة

دسورة المائده مقصد هغه دشرک فعلی وو په وضاحت دڅلورو مسئلو سره - اوس داسورة داپه کوم انداز بیانوی نودسورة لنډه خلاصه خوداده چه اول کښې څلورمسئلې او آخر کښې څلورمسئلې او مینځ تشجیع فی التبلیغ او قبائح دیهودو یعنی دعلماء سوء او دهغوی نه بائیکاټ په تفصیل سره او رددشرک فی التصرف ځکه چه شرک فعلی ددې ذریعه ګرځی-مینځ کښې دهغې رد هم کوی او ختم دسورة هم پدې دې-تفصیلی خلاصه په تقسیم کښې -

**تقسیم د سورة** : سورة داخپله مسئله چه رد دشرک فعلی دې په عجیب اندازونو بیانوی-ددې دبیان دپاره سورة هغه منقسم دې لس بابونو ته ورسره خاتمه ده-یعنی داسورة خپله مسئله په لسو اندازونو بیانوی-اودادفصیح اوبلیغ کاروی چه هغه خپل مقصد په مختلف اندزونو سره بیان کړی-ځکه بیان دیته وائی چه خپل مقصد په ډیرو طریقو ادا کړی نوقرآن خوډیرفصیح اوبلیغ کتاب دې-هغه لس ابواب-

**اول باب** :دابتداء نه تر "وهوفی الاخرة من الخسرین (5) آیت پورې دې او پدیکښې ذکردمسائل اربعو یعنی څلورمسئلې ذکرکوی سره دترغیب اوتخویف نه-اوحکم دطعام داهل کتابو هم ذکرکوی-یعنی داباب په ذکرددعوې دسورة کښې دې-

**دویم باب**: د(6) " یاایهاالذین اٰمنوا---" نه تر " فلیتوکل المومنین (11)-پورې اوپدیکښې ذکردامورومصلحوچه هغه امداد دمبلغ کوی اودهغې مثال ذکرکوی-داباب ئې دیکښې ځکه راوړو چه دغه مسائل بیانول ګران کاردې ددې وجې نه مشرکین غصه کیږی ، صاحبزادګان اودزیارتونو تهیکه داران هغه راپاسی او منجوران نوستاخلاف به چغې اوباسی نو ته ځان تیار ساته اودس کښې هسې نه چه بیادِ څوک دغسل نه وی او په نرتوب مسئله اورسوه-اللّٰہ تعالیٰ به ستا مدد کوی-

**دریم باب**: دسورة دریم باب اوانداز هغه د " ولقد اخذاللّٰہ "(12) نه تر " علی کل شیئ قدیر" (19) پورې- پدیکښې دوعدو ماتونکو مثالونه او سزاګانې ذکرکوی-چه وعده

ماته کړی او حق پټ کړی نودهغوی سزاګانې اوترغیب قرآن کریم ته اتباع دنبی علیه السلام ته سره دنفی دشرک فی التصرف نه-نوتاسو ئې نشئ چه وعدې اولوظونه مات کړئ بلکه وعدې پوره کړئ ګنی داسزا به ستاسو شی-

**څلورم باب**: څلورم سبق دسورة د" واذ قال موسی " (20) آیت نه تر " الفسقین "(26) پورې او پدیکښې مثال دهغه خلقو چه هغوی دالله تعالیٰ په حکم منلو کښې سستی کړې وه او دپیغمبر نافرمانی ئې کړې وه چه څنګه حیران اوپریشان شوی وو نوتاسو سستی مه کوئ او نافرمانی مه کوئ-

**پنځم باب**: د " واتل علیم ---" (27) نه تر " علی کل شیئ قدیر "(40) پورې-اوپدیکښې څوخبرې ذکرکوی یوجزاء الظالم چه ظالم چه مخالفت دالله تعالیٰ اوپیغمبر کوی نو دهغه سزا اوګوره په دنیااوپه آخرت کښې،32،33،36،37 کښې،او دویمه خبره چه څوک کیناسته او کوشش نه کوی لکه دهابیل نوسرخوری-دریم ترغیب تبلیغ اواعمال مرضیو ته (35)کښې اوبل داچه په مفسد او ساعی دفساد باندې زړه مه سوئ ،33،38 او آخر کښې نفی دشرک فی التصرف-

**شپږم باب**: د" یاایهاالرسول " (41) نه تر " لقوم یوقنون "-(50) پورې پدیکښې تسلی نبی علیه السلام ته او زواجر یهودو ته، چه دوی شرک کوی او نذرونه وغیره جائز کوی او حرام خوری- او ترغیب تحکیم دکتاب الله ته چه په خپل مینځ کښې فیصله پدې کوی-

**اووم باب**: د " یاایهاالذین امنوالاتتخذوا " (51) نه تر " وان اکثرکم فاسقون " (59) پورې او پدیکښې مومنانو ته تهدید او یرول ددوستانې داهل کتابو نه او زجرمنافقانو ته په دوستئ داهل کتابو-دوی تاسو ددې مسئلو نه اړوی نودوستانه ورسره مه کوئ-

**اتم باب**: د " قل هل انبئکم " (60) نه تر "ساء مایعملون " (66) پورې -پدیکښې زواجرعلماء سوء ته سره د خباثتونو دهغوی نه چه چاکښې داپلیتی وی نوهغه ددوستئ

قابل دی-؟نوندې نوخپله فیصله اوکړه او ترغیب علماء ته داظهار دحق چه دغربت نه مه یریږئ الله تعالیٰ به رزق درکوی-

**نهم باب**: د " یایهاالرسول" (67) نه تر " اصحب الجحیم" (86) پورې پدیکښې ترغیب الی التبلیغ او قبائح داهل کتابو اوذکردعناد دهغوی چه دوی نه منی او نفی دشرک فی العبادة او نورقبائح داهل کتابو به ذکرکړی-

**لسم باب**: د" یاایهاالذین اٰمنوا " (87) نه تر " الفسقین " (108) پورې اودیکښې اعاده دمسائل اربعو چه کوم اصل دعوی دسورة وه چه سورة دې له چلولې شوې دې-د(109) نه ترآخر تر سورته خاتمه دسورت ذکرکوی-اوپدیکښې نفی دعلم الغیب دغیرالله نه په واقعې دعیسیٰ علیه السلام باندې چه انبیاء اوصالحین په غیبو نه پوهیږی نوځرنګې به ستاسو مدد اوکړی نوولې ئې تاسو په حاجاتو کښې رامدد کوئ او منختې او نذرونه ورله کوی-او په آخری آیت کښې نفی دشرک فی التصرف چه اختیارات دالله تعالیٰ دی نودحراملواختیاردهغه دې دمخلوق حرمتونه ختم کړئ او نذر هغه له کوئ بل چاله نذر مه کوئ-

**مقاصدالایات وتناسبها**

(1) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ ---- ددې ځائې نه اول باب دسورة تر " الخسرین " (5) آیت پورې-پدیکښې دعوی دسورة چه هغه وضاحت دځلورو مسئلو دې سره دترغیب اوتخویف نه-

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- ترغیب تعمیل دمسئلو ته-تاسو الله تعالیٰ سره لوظ کړې وو چه ته ځموږ رب ئې او رب هغه وی چه دحلالولواوحراملو اختیاردهغه وو نو تاسو وعده کړې وه چه موږبه ستاحلال او حرام منو نواوس هغه وعدې پوره کړئ- اوسورة مصدر په يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا " شو ځکه دحلالو خوراک ته مومن محتاج دې-او معاشره دهرچا

ضرورت وو نوالنساء مصدر په " ياايهاالناس " وو-نوداجمله تمهيد شو او ترغيب شو چه راروانې مسئلې اومنه-

أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ - رد په تحريمات العباد-دمشركانو تحريمات ختم كړى چه دڅاروو كښې يانورو څيزونو كښې په ځان څيزونه حرام كړى وو-نوداغلط دى او مخترع دى دغه استعمال كړئ او مه يريږئ چه ضرر به دركړى-ځكه دا الله تعالىٰ حلال كړى دى-

إِلَّا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ - تبعاً بيان دتحريمات الله - يعنى حرام خوهغه دى چه تاسو ته دهغې حرمت بيانيږى په قرآن كښې رابه شى تفصيلى دلته لنډه اشاره اوشوه-

غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ ---- تحريمات الله - يعنى" كونوا غيرمحلى الصيد"-چه الله تعالىٰ كوم حرمتونه كړى دى او كوم حرام كړى دى نودهغې حرمت برحال اوساتئ-

إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ - دمخكښې دواړو خبروعلت-دحل اوحرمت اختياردالله دې نو الله تعالىٰ فيصله او حكم كوى چه مخلوق تحريمات ختم كړه او ځماتحريمات برحال اوساته-

(2) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللَّهِ ---- مسئله دنذورالله - يعنى دالله تعالىٰ په نوم منلې شوې څيز محترم دې نوهغه باطلوى هم مه او دهغې بې عزتى مه كوئ كه هغه هرڅه وى تر دې چه د قربانئ اميلونه ولې نه وى-

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ ---- ترهيب چه كه بل څوک هتک دشعائرالله او بې عزتى كوى نوستاسوچپ كيناستل بې عزتى ده - يعنى چه كله نوى مسلمانانو ته مشركين اويهود ضرر رسوى-نو تاسو چپ مه كينئ-يامقصد داچه دبغض او حسد دوجې نه اوضد دوجې چرته هتک او بې عزتى دشعائرالله اونه كړى چه هغوى مخكښې تاسو دمسجدحرام نه بندكړى وئ او تاسو اوس وايئ چه مونږبه بدل اخلو مونږبه بندوو نه داسې مه كوئ چه ايمان ئې راوړو نوخپله هم ضد مه كوئ او بل څوک هم دهغوى بې عزتئ ته مه پريږدى-

وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى ---- ترغيب په توحيد سنت كښې امداد كوى- چپ مه كينئ-
وَاتَّقُوا اللَّهَ - نسخه دتعميل داحكامو چه پدې به ورته عمل كول آسان شى-
إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ - تخويف دمخالفت په صورة كښې به عذاب دركړى-
(3) حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَة ---- تحريمات الله او نذورالعباد-يعنى دالله حرمتونه باقى اوساتئ-اوداڅيزونه الله تعالىٰ حرام كړى دى-په هغې كښې دنذورالعباد حرمت هم دې-نوغيرالله له نذركول شرک دى اودهغې استعمال اوخوراک حرام دې-داپه " مَا أُهِلَّ " سره ذكركوى-
إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ --- داد " وَالْمُنْخَنِقَة " - نه روستو سره تعلق لرى-مخكښې سره نه لرى-
وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ ---- مخكښې "مَاأُهِلّ" عام وو كه هرڅه وى حلوه پراټې وغيره،دلته مذبوحه ځكه ددې استعمال ډيروو-
الْيَوْمَ يَئِسَ الذين كفروا مِن دينكم ---- ترغيب كلكيدو ته چه په دغه مسئلو باندې كلک شئ كافر څه كولې نشى اوس هغوى ستاسو نه نااميده شو چه اوس دوى مونږ طرفته نه راځى ځكه چه دسترخوان ئې رانه جدا كړو-
الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ ---- چه دامسئلې بيانول اومنل داددين كامل كيدل دى-
(4) يَسْأَلُونَكَ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ ---- دامتعلق د " احلت لكم بهيمة الانعام " سره- رد په تحريمات العباد- الطَّيِّبَاتُ حلال دى چه نذرونه دغيرالله نه وى نوچه الله تعالىٰ كوم حلال كړى دى نوځكه ئې تاسو حراموى مخلوق دحرمت اختيار نشته دې او بيادهغې سره دځكاردمسئلې لږوضاحت كوى-
وَاتَّقُوا اللَّهَ - نسخه دتعميل داحكامو-إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ - سره تخويف
(5) الْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ ---- اعاده دتيردپاره داحسان دالله او ورسره د ذكر دمذبوح داهل كتابو چه اهل كتاب ذبيحه اوكړى يهود او نصارى نو هغه تاسو له رواه ده دادهغوى سره رعايت وو دادهغوى خصوصيت دې بل څوک پرې نه قياس كيږى-

وَمَنْ يَكْفُرْ بِالْإِيمَانِ ---- دفع دوهم - چه يره دهغوى مذهب به صحيح وى چه دامخکښې څيزونه حلال شو نودهغې جواب-اول باب ختم شو په وضاحت دڅلورومسئلو-

(6) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاة ---- ددې ځائې نه دويم باب دسورة تر " المومنين " (11) پورې-اوپديکښې ذکر دامور مصلحوسره دبشارت اوتخويف اوتشجيع نه- داباب ځکه راوړی چه دامخکښې مسئلې بيانول ګران دی-ځکه چه اوس تاشروع اوکړه اودځلو دمشرکانو نه صاحبزادګانو نه نوړئ اخلې او دزيارت ټهيکداران هغه دِ چيلنج کړل په هغې کښې غټ غټ خلق وی نوسر په کفن ميدان ته ځه-اودس کوه او مونځ دو رکعته کوه چه الله تعالىٰ دِ مدد کوی-ځکه اوس تاپرېږدی نه په نرتوب مسئله بيان کړه زړه کلک ساته الله به ستا حفاظت کوی-توکل په هغه کوه-

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- ذکردامرمصلح -مونځ اودهغې دمقدمې داودس او د اودس فرائض-

(7) وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ --- ترغيب تعميل داحکامو ته پدې احکامو منلو خو تالوظ کړې نونر شه اوبهادر شه او دا اومنه-

(8) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- ترغيب الى التبليغ - نرشه اوبهادر شه لوظ پوره کړه-ددې قسط چه داڅلور مسئلې دی دادالله تعالىٰ دپاره بيان کړه-

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ --- رفع دمانع - يعنى په بيان کښې دِ درته ديوقوم بغض او دشمنى رکاوټ نشى چه وائې دوی ته ئې نه بيانوم-

(9) وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا ---- بشارت - کومو چه دامسئلې اومنلې او بيان ئې کړې نودهغوی خوشحالوته ګوره-

(10) وَالَّذِينَ كَفَرُواتخويف-ددې مسئلو نه انکار کوی او مخالفت کوی نودهغه انجام-

(11) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا ---- تشجيع او بهادرکول زړه ورکول چه زړه دزمرى کړه او بيان اوکړه الله تعالىٰ به ستا حفاظت کوی تاسره الله تعالىٰ ملګرې دې دامثال اوګوره

چه الله تعالىٰ ستاسو څنګه حفاظت کړې وو-داباب په امر مصلح بيان کښې او ترغيب کښې تام شو-

(12) وَلَقَدْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ---- ددې ځائې نه دريم باب تر " قدير " (19) پورې-داپه بيان دمثال دهغه چا کښې چه نقض عهد ئې کړې اودهغوى سزاګانې اوترغيب قرآن او اتباع دنبى عليه السلام ته او رد د شرک فى التصرف- يعنى مونږ وايو چه وعده پوره کړه ددغه احکامو او ماتوئ مه اوګوره چه کومو وعدې ماتې کړې وې دهغوى څه انجام شو اوڅومره سزاګانې ورته ملاؤ شوې وې تاسوبه هم دغه شان شئ-

وَلَقَدْ أَخَذَ اللَّهُ ---- اول آيت کښې ذکردعهد دبنى اسرائيلو نه چه الله تعالىٰ دهغوى داسې لوظونه اغستلى وو-

(13) فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيثَاقَهُمْ ---- اوله نمونه يهوديان دماتونکو دوعدو اوله نمونه اوګوره-چه يهودو وعده ماته کړه نو سزاګانوته اوګوره-

لَعَنَّاهُمْ - اوله سزا-چه لعنتيان شوو-

وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً - دويمه سزا چه بيا پرې مهرراغې او هيڅ به پرې اثر نه کولو-

يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَوَاضِعِهِ- دريمه سزا- چه دالله تعالىٰ په کتاب کښې تحريف شروع کړو-

وَنَسُوا حَظًّا مِمَّا ذُكِّرُوا بِهِ - څلورمه سزا-چه دتورات لوئې باب دحل اوحرمت ترې نه پاتې شو ځکه ديکښې ئې نقصان وو نوهغه ئې پريخودلو-

وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَى خَائِنَةٍ مِنْهُمْ - پنځمه سزا-چه هر وخت ئې خيانت ته په دين کښې ملا تړلې ده-

إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ - عبدالله بن سلام هغه او دهغه ملګرى-

فَاعْفُ عَنْهُمْ - يعنى چه داکوم ثابت شو مومنان شو نوددوى زړې غلطئ معاف کړه-

(14) وَمِنَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَى ---- دويمه نمونه دماتونکو دوعدو او دهغوى سزاګانې-

فَنَسُوا حَظًّا ---- دانجيل باب دحل اوحرمت ترې پاتې شو-
فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ ---- دويمه سزا چه بغض او حسد مينځ کښې سواشو-نوټولې شپړ سزاګانې شو -" فنسوا " پکښې دوه ځلې دې- نوکچرته تاسو وعده ماته کړه نوداسزاګانې به درته ملاؤ شي-
(15) يَا أَهْلَ الْكِتَابِ قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا ---- ترغيب اهل کتاب داتباع دنبی عليه السلام او دقرآن کريم يعنی راشئ اوس توبه اوباسئ اوددې قرآن اوپيغمبر تابعدار شئ نوالله تعالیٰ به درله زبردست انعامات درکړی-تر "صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ "(16) پورې-
(17) لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ ---- زجراهل کتابو ته -دادومره نالائقه دی چه دوی دپيغمبر باره کښې دعيسیٰ عليه السلام څه عقيده لری داددوی هغه پليتئ دی چه دماتولو دوعدې دوجې پکښې راغلی دی-
قُلْ فَمَنْ يَمْلِكُ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا ---- اثبات دتصرف الله لره او رد دشرک فی التصرف چه څنګه عيسیٰ عليه السلام متصرف کيدې شی هغه متصرف کيدلې نشی-تصرف او اختيارات ټول دالله تعالیٰ دی-
(18) وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى ---- بل زجراهل کتابو ته چه دپيغمبر باره کښې څه دځان باره کښې هم څه ځان ډير اوچت حسابوی چه مونږ نيازولی دالله تعالیٰ يو-مونږ له به عذاب نه راکوی دادوی دزړه هغه سختيا او لعنت او دوعدو ماتولو نتائج دی چه خيانتونه پکښې پيداشو-نودهغې جواب کوی-
(19) يَا أَهْلَ الْكِتَابِ ---- ترغيب اتباع دنبی عليه السلام ته - چه الله احسان اوکړو چه ډير وخت نبی نه وو راغلې دهغې نه بعد الله تعالیٰ خپل نبی راوليږلو دبيان دپاره نوستاسو عذر ختم شو نو اوس راشئ او اطاعت او انقياد اوکړئ-دريم باب ختم شو په سزاګانودنقض عهد کښې اودهغوی په قباحتونو-
(20) وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ ----- ددې ځائې نه څلورم باب دسورة او پديکښې مثال دمتکاسلينو او دعاصينو يعنی دهغه خلقو مثال ذکرکوی-چه چا دالله تعالیٰ په حکم

کښې سستی کوله او دپیغمبرنافرمانی ئې کوله چه څنګه سزاورته ملاؤ شوه چه حیران او پریشان شو-نوکه تاسو سستی اوکړه نوداسې سزا به ورته ملاؤ شی-نو وعدې پوره کړئ او ددې پیغمبر اتباع اوکړئ او سستی مه کوئ ګنی نو حیران او پریشان به شئ-

وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ --- دموسیٰ علیه السلام قوم ته نعمتونه یادول-

(21) يَا قَوْمِ ادْخُلُوا الْأَرْضَ الْمُقَدَّسة ---- دنعمتونو په شکریه کښې ورته دجهاد حکم-

(22) قَالُوا يَا مُوسَى ---- دقوم بزدلی خکاره کول-تر (24)قَاعِدُونَ -پورې-

(25) قَالَ رَبِّ إِنِّي لَا أَمْلِكُ ---- دموسیٰ علیه السلام الله تعالیٰ ته عاجزی کول-

(26) قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَة ---- دقوم دبزدلئ او سستئ اود عصیان سزا-

(27) وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ ---- ددې ځائې نه دسورة پنځم باب تر " عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ " (40) پورې-پدیکښې ذکردجزاء دظالم چه دنیاکښې سزا اوجزا او آخرت کښې هم -چه څوک دخپلې دفاع نه کیناستلو نو سر ئې خوړلې دې او ترغیب الی التبلیغ او نیکو اعمالو ته او نهی دنرمئ نه په فسادګروباندې-یعنی چه چا وعده ماته کړې وه نو ملعون شوې دې او متکاسل شو نو اوس که ظالم شوې نو سزا به دې داشی او کینه مه دفاع نه ګنی نو سر به اوخورې لکه چه هابیل خوړلې وو نیک اعمال اوکړئ دا مسئلې بیان کړئ او په ساعی دفساد زړه مه خوږوئ-

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ ---- ددې ځائې نه تر النَّادِمِينَ (31) پورې واقعه دهابیل او قابیل ددوو خبرو له-یو چه هابیل خپله دفاع نه کوله نوهلاک شو-نوتاسو لوظونه پوره کړئ-بیان کوئ اوخپله دفاع کوی-ګنی سربه اوخورئ-ددشمن مقابله کښې چپ مه کینئ-او دویم مقصد سزا دظالم چه قابیل د خاسرینو نه هم شو او فاسدینو نه هم او نورې سزاګانې هم چه دټولو قتلونو سزاوارهم شو نودظلم نه ځان اوساتئ-

مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ(32) دناحق قتل سزا-

(33) إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ ---- دظالم اوساعی دفساد باندې نرمی مه کوئ-سزاورله ورکړئ هغه له دنیا کښې شرم اوآخرت کښې اور دې-

(35) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ ---- ترغيب الى التبليغ او اعمال مرضيو ته-يعنى دفسادختمولو دپاره تاسو بيان اوکړئ او نيک اعمال اوکړئ-مسئله صاف اورسوئ-او دمفسدينو دافساد ختم کړئ-يعنى دمحاربينو مقابله کول ستا دطرفنه جهاد دې-
إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا---- ددې نه تخويف نه منونکو ته تر " عَذَابٌ مُقِيمٌ " (37) پورې-
(38) وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَة ---- دسرقه صغرىٰ سزا پس دسرقه کبرىٰ نه-يعنى څوک ظلم او فساد ته مه پرېږدئ-او سندهى رحمة الله عليه وائى چه "اتقواالله " مخکښې نوتقوىٰ تشه دانده چه ته ګټ کښې کينه بلکه دالله تعالىٰ احکام او حدود په ملک او وطن کښې جارى کړه- دا تقوىٰ ده او بهترينه وسيله ده-
(40) أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ--- رد دشرک فى التصرف-چه اختيارات ټول دالله تعالىٰ دى-نودااحکام دهغه جارى شده دى نو اومنئ او بل ته اورسوى قوانين نافذکول دا تصرفات هم دهغه دى لکه چه دزمکې او آسمان تصرفات دهغه دى-يعنى ستا ملک پارليمنټ او اسمبلى څه دزمکې او آسمان نه بهر نده نو دا به هم دالله تعالىٰ په اختياروى نه که ستا په اختيار-
(41) يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنْكَ ---- ددې ځائې نه شپږم باب دسورة پديکښې اول تسلى او بيا قبائح داهل کتابو او ترغيب فيصلې په کتاب دالله تعالىٰ باندې-
يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ ---- يعنى هرکله چه پداسې انداز باندې خبره اوشوه او بيا هم داخلق نه منى نوزړه ته خفګان راځى نوتسلى نبى عليه السلام له ورکوى-او قباحتونه داهل کتابوذکرکوى-
قَالُوا آمَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ ---- اول قباحت - چه منافقت کوى زړه کښې هغه شان کفر اوشرک دې-
سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ ---- دويم قباحت - جاسوسى کوى-يادشرک باره کښې دروغ روايتونه منى-اومن ګهړت روايتونه منى-
يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ دريم قباحت-

يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ- ځلورم قباحت-چه دخپل مقصد خبره منی او دحق خبره نه منی-
وَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ فِتْنَتَهُ - پنځم قباحت-
لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ - سره دهغوی سزا ذکرکوی-
(42) سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ ---- دا دراروان قباحت دپاره دوباره ذکرکوی-چه " اکّٰلون " دوی نذور دغيرالله خوری اوحرام له دلائل وائی-اولګيادی-اواصل وجه داده چه کتاب الله نه اعراض کوی-
(43) وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ --- زجرپه يهودو-چه دوی دکتاب الله تورات ولې اتباع نه کوی په هغې کنبې هم دغه مسئله ذکرده-
(44) إِنَّا أَنْزَلْنَا التَّوْرَاةَ ---- په خپل وخت کنبې دتورات مقام او دهغې اتباع ته تلقين -
وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ ---- زجر اول هغه چاته چه هغه د الله تعالیٰ په نازل شوی قانون فيصله نه کوی-
(45) وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا ---- په تورات کنبې دځنې نازل شوی احکامو تذکره-او حدود ذکر کوی ځکه چه خلق حدود دشريعت نه بهر ګڼړی چه دا ځمونږ خپله خوښه ده مونځ اودس روژه بهر نه ګڼړی-
وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ ---- دويم زجر فيصله نه کونکو ته په قانون الٰهی-
(46) وَقَفَّيْنَا عَلَى آثَارِهِمْ ---- دانجيل اودعيسیٰ عليه السلام تذکره دخپل دور دپاره-
وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ---- دريم زجر-
(48) وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ ---- تذکره دقرآن کريم او نسخ کول دقرآن نورو کتابونو له-يعنی تورات ،انجيل دادخپل وخت رنړاګانې وې-خؤاوس کتاب راغلې دې چه قرآن کريم دې دِ سره هغه منسوخ شوی - نواوس به فيصله هغه په قرآن کريم وی-نوځنګه دايهود ددې کتاب نه اوړی ، نوکه دوی هرڅه کوی خوته په قانون الهی او کتاب د الله تعالیٰ فيصله اوکړه په بل قانون مه کوه-ددوی به کوشش وی چه تاددې نه

واړوی او "عن بعض" دځنې دحل اوحرمت مسئلې نه به دِ اړوی-خوخبردار ددوی اتباع اونکړی-

(50) أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ---- زجر- چه دقرآن كريم قانون پريږدی نودې په جاهليت پسې روان دې خواه كه اوس تورات او انجيل پسې ولې نه ځی نودهغه به څه حال وی چه په خودساخته قانون پسې روان دی-اوپه جمهوريت پسې روان دی-او دا جمهوريت نظام پوره ګنړی-

وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا ---- ترغيب قانون دالله تعالیٰ ته چه دالله تعالیٰ دقانون نه بل خائسته قانون نشته نوځنګه تاسو بل طرفته روانيږئ-

(51) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا ---- ددې ځائې نه اووم باب دسورة -مخکښې ديهودوقبائح بيان کړل چه دوی دقانون الهی نه اوړی اوحرام نذرونه خوری نواوس دلته وائی چه دهغوی نه بائيکاټ اوکړئ اوهغوی سره دوستانه اوتعلق مه قائموئ-

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا ---- دقطع تعلق اعلان چه مومنانو تاسو ديهود او نصارَوو سره دوستانه مه کوئ-

وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ ---- زجر-زورنه ورکوی هغه چاته چه دهغوی سره دوستانه اوکړی چه دادهغوی ملګرې شو-

(52) فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ ---- زجر منافقانو ته په دوستانه ددوی چه دوی ددنيا دمفادو دوجې نه دکافرو سره او يهودو سره دوستانه ساتی نوانجام به ئې خراب شی-چه کله نمبر دمومنانو راشی نودوی سره به خبرې کيږی بيا به دوی دادوستانه پکار رانشی-اوتاوانيان به شی-تر " خٰسرين "-(53) پورې-

(54) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُم ---- تهديد مومنانو ته ددوستانې ديهودو نصارو نه چه ديهودونصاروو سره دوستانه داارتداد له دعوت ورکول دی نوکه تاسو دهغوی سره يارانه کوی نو الله تعالیٰ به نور مخلص ددين خدمت له پيدا کړی-دالله دين ستاسو محتاج

ندې-او تشجيع ورکوی چه اګر که ملګری دِ اوړی خو ته کلک شه الله به نور مخلصان پيدا کړی-

(55) إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ ---- ترغيب موالاة دالله تعالیٰ او پيغمبر او مومنانو ته-خامخواه تاسو تعلق جوړوی نودمومن دتعلق ځائې او دموالاة هغه دادې دغه ندې نوراشئ دې ځائې سره تعلق برابرکړئ چه غالب شئ-تر " هم الغٰلبون " (٥٦) پورې-

(57) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِينَ ---- دابيا تهديد مومنانو ته او وجه دبائيکاټ چه ستا دين پورې ټوقې کوی او ته ورسره يارانه کوې نوداکوم انصاف دې ستاددين په احکامو آذان وغيره سره خنداکوی بې عقله نوبائيکاټ ترې اوکړه-په (٥٨)کښې د استهزاء ځائې ذکر کوی-

(59) قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ هَلْ تَنْقِمُونَ مِنَّا ---- ددې ځائې نه دسورة اتم باب په قبائحو اوفضائحوداهل کتابو کښې اوزجرونه دوی ته دابدتر مخلوق دې-نوځان سره سوچ اوکړه نوخپله به ددوی په بائيکاټ قائل شې چه دا دوستانې خلق ندې- نو په بائيکاټ داهل کتابو کښې به مجتهد شې- آخر کښې ورته ترغيب ورکوی چه حق بيان کړئ-

قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ ---- زجر اهل کتابو ته او قباحت دهغوی چه دتوحيد دوجې تاسو سره دشمنی کوی چه تاسو دامسائل منلی دی نوځکه تاسو سره دشمنی کوی-

(60) قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِنْ ذَلِكَ ---- بل قباحت چه داشر الناس دی دوی تاسو ته شر وائی خوحقيقت کښې شر او بدتر دوی دی ورسره وجه دبدترئ ذکر کوی-

(61) وَإِذَا جَاءُوكُمْ ---- بل قباحت چه منافقت پکښې دې-

(62) وَتَرَى كَثِيرًا مِنْهُمْ ---- زجر اهل کتابو ته او قباحت دهغوی چه په حراموکښې تادی او تلوار کوی په نذور العباد وغيره کښې او ځان ترې نه بندوی-

(63) لَوْلَا يَنْهَاهُمُ الرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ ---- زجرعلماء سوء ته پس دزجر دعوامو نه چه عوام دغه کارونه کوی او مليان نهی عن المنکرکوی-بلکه التہ "يصنعون"- حراموله دلائل وائی-شيخ القرآن رحمة الله سمط الدرر کښې قبائح باب سره يوعبارت

ذكركوی چه دهغې حاصل دا دې- چه اوس چه کوم خلقو دعلماء لباس اغوستلې دې نوهغوی کښې هم دااوصاف داهل کتابو شته دې چه دین ئې ددنیادپاره ذریعه کړې ده ،اوتحریف کوی او حرام خوری دیتیمانو مال او دقبرونو منختې خوری او نور حرامو دپاره چلونه جوړوی دمړی په تلاوت اجرونه اخلی دشرک اوبدعاتو لیډران دی او په عرسونو او میلادونو کښې لکه دخرونو هنړیږی-چه دین ئې ددنیا ذریعه کړې ده-

یا جاعـل العـــلم لـــه بازیـــا یصطاد بها اموال المساکین

احتـــلت لـــلـــدنیا ولـــــذاتها بـحـیلة تـذهـب بالـدین

فصرت مجنونا بهـا بـعـــد مـــا کـنت دواءً لـلـمجانـیـن

این روایـاتـــک فیـــما مضـــی عـن ابن عون وابن سـیرین

این روایاتـک فـــی ســـردهـــا فی ترک ابواب السلاطـــین

ان قلت اکرهت فذا باطـــــــل زل حمارالعلم فی الطیـــن

" اې علم نه داسې باز جوړونکیه چه په هغې د مساکینو مالونه ښکار کیږی-تا ددنیا او ددنیا دخوندونو حاصلولو دپاره داسې حیله تلاش کړه چه دهغې دوجې دین ختمیږی- ته په خپله ددنیا په محبت کښې لیونې شوې علاوه ددې نه چه ته خپله دلیونو علاج کونکې وې- ستا هغه روایات چرته لاړل چه تا به دابن عون او ابن سیرین نه بیانول-ستا هغه مسلسل روایات چرته لاړل چه هغې کښې به د بادشاهانو دربارونو ته دتلو نه منع کول وو- که ته وائې چه ځه په دی مجبور کړې شوم نو داخبره غلطه ده- بلکه دعلم یو خر په خټه کښې اونختو- "

(64) وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ ---- زجریهودو ته دهغوی په یوقبیحه خبره باندې-چه هرکله ئې رد دمنکر پریخودلو نو امداد غیبی بند شو- نو داسې بکواسات ئې شروع کړل-

وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ ---- داقباحت چه قرآن پرې التېه اثر کوی دومره قبیح دی نو چه دآسمانی کتاب دشمنان شو نودشمنی پکښې راغله-

كُلَّمَا أَوْقَدُوا نَارًا لِلْحَرْبِ ---- تسلي - چه كه دوى ستاخلاف هرڅومره اوربلوى خو الله به هغه ختموى-

آگ انکی انکو کردے گی بون لاتكن فى ضيق مما يمكرون

(65) وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْكِتَابِ آمَنُوا ---- ترغيب او بشارت - چه دې اهل كتابو له پكار دى چه داقباحتونه پريږدى اوپه آسمانى نظام او قرآن ايمان راوړى ځکه دقرآن قائمول دټولو قائمول دى نودادِ بيان كړى-شيطان ورته وسوسه اچوى چه غريبانان به شئ نودهغې دفع چه دحق په بيان كښې دغربت نه مه يريږه جنت به هم دركړى اوددنيا نعمتونه هم دركړى-نو منونكى هغه پكښې كم دى او نافرمانه ډير-

(67) يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ ---- نهم باب دسورة تر " اصحٰب الجحيم "(86) پورې- پديكښې ترغيب الى التبليغ يعنى ديهودو دخبرو پرواه مه كوه هغوى نه منى او اظهار نه كوى نوته خومسئله ظاهركړه اوورسره بياداهل كتابو قباحتونه اوزجرونه ورته ذكركوى-

بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ ---- سره ترغيب تبليغ ته چه خپله ذمه دارى اداكړه-الله تعالىٰ به ستاحفاظت كوى-چه بيابيا اورسوه او ټول اورسوه-

(68) قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ ---- داسې دعوت اهل كتابو له وركړه چه بغيرداقامت ددين دالله نه تاسو ايماندار كيدلې نشئ-

وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ : سره زجرچه دوى نه منى الټه سركشى ئې زياتيږى-

(69) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ---- زجر او بشارت يعنى په نوم نجات نشته -راشئ داماچه كوم كتاب راوړې دې ايمان راوړئ او نيک عمل اوكړئ نجات پديكښې دې-

(70) لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ---- زجراوتخويف -دادومره نالائقه دى چه داضداوعناد دوى ته په ميراث كښې پاتې شوې دې-بلكه داتباع الاهواء چه ده نودوى ته دپلارنيكه نه پاتې شوې ده-رانده كانړه دى- انبياء سره ئ څه سلوک كړې دې-نو وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ-(71) الله تعالىٰ ته ئې اعمال معلوم دى سزا به كړى-

(72) لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَم ---- زجراورد دشرک فی التصرف-چه دانبیاءؑ نه ددوی داانکار حال اودخواهش اتباع چه عیسیٰ علیه السلام ته متصرف وائی-

وَقَالَ الْمَسِيحُ --- رد دعیسیٰ علیه السلام ددوی په خبره باندې هغه په خپله څه وائی-او دوی څه وائی-

(73) لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا ---- دابله فریقه زجر-

وَإِنْ لَمْ يَنْتَهُوا عَمَّا يَقُولُونَ--- سره تخویف چه داشرکی خبرې دِ پرېږدی ګنی تباه به شی-

(74) أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللَّهِ ---- دعوت الی التوبه-ځومره مهربانه بادشاه دې چه ځومره غټ جرم کړې دې بیا هم دعوت توبې ته ورکوی -

(75) مَا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ ---- عجز دعیسیٰ علیه السلام او دهغه دمور- چه هغوی الهه نه دی

انظر --- زجر چه څنګه دلائل دی او دوی څنګه انکار کوی-

(76) قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ---- رد دشرک فی العبادت پس دعجزدمخلوق نه چه عیسیٰ علیه السلام او مورئ او نورمخلوق عاجزان شو -نو څنګه تاسو دهغوی عبادت کوئ او هغوی له نذرونه کوی اورامدد شه ورته وائی نوځان ترې اوساتئ-دعبادت حقدار یوالله تعالیٰ دې-

(77) قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ ---- توبیخ اهل کتابو ته او زجرپه غلو چه هغه ابتداع او بدعات دی چه داسې څیزونه مه راوباسئ او اتباع دخواهش مه کوئ-

(78) لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- تخویف دنیوی - چه ددې غلو دوجې نه مومخکښې څه انجام شوې وو-

(79) كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ ---- زجر په ترک دامر بالمعروف او نهی عن المنکر چه دوی خپل کار پرېخودلې وو-

(80) تَرَى كَثِيرًا مِنْهُمْ ---- زجر منافقینو ته چه دوی داسې خلقو سره یارانې کوی-

(81) وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ ---- اصل حقيقت چه ددوی دعوی دایمان ده او ایمان نشته دي-
(82) لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَة ---- زجر چه علماء سوء په کفر کښې دعوامو نه ډیر سخت دی-یهود علماءوو نو دهغوی حال او نصاری عوام وو نودهغوی حال ذکرکوی اودهغوی دقرآن سره نرمیدل او ایمان راوړل اوبشارت تر (85) پورې-
(86)وَالَّذِينَ كَفَرُوا ---- نه منونکو ته تخویف چه دامسائل نه منی نودوزخ به ئې ځائې شی-
(87) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا ---- ددې ځائې نه لسم باب دسورة تر (108) " الفٰسقين "-پورې-پدیکښې اعاده دمسائل اربعو چه ده کومو دپاره سورة چلولې شوې وو-چه ښکاره شی چه اصل مقصد داوو چه که مینځ کښې زواجروغیره وو هغه ددې دپاره وو-
لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ ---- رد په تحریمات العباد-چه دمخلوق دوجې نه تحریمات کول اعتداء ده نو د الله حلال شوی مه حراموئ-
(88) وَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ ---- یعنی ددغه تحریمات چه کوم تاسو دځان نه کړی دی دهغې استعمال اوکړئ-او یریږئ مه داڅه ضرر نشی درکولې-
وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي ---- تخویف -چه ددې الله تعالیٰ لحاظ اوکړئ او تحریمات ختم کړئ-
(89) لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ ---- مسئله دکفارة الیمین-یعنی که تاسو قسم کړې وی چه مونږبه داشې نه خورو نوهغه قسم مات کړئ او کفاره ورکړئ او هغه څیز استعمال کړئ-او بل داهم چه چونکه حلال حرامولو ته هسې هم شریعت کښې قسم وائی نوچه یوحلال څیز موپه ځان حرام کړو نوداقسم دې نوهغه څیز استعمال کړئ او کفاره ورکړئ-
(90) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ ---- تحریمات الله تعالیٰ - یعنی حرام هغه ندی چه کوم تاسو حرام کړی دی بلکه حرام هغه دی چه کوم الله تعالیٰ حرام کړی دی چه هغه دادی نوداحرام اوګڼړئ اوځان ترې بچ کړئ-

(91) إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ ---- دخمراوميسر دحرمت علت چه شيطان تاسو خرابوى نوځان ترې بند كړئ۔
(92) وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ ---- ترغيب الى الاطاعة - دالله اوديپغمبر اطاعت اوكړئ چه كوم حكمونه كوى چه حراموى نوحرام كړى او نذرونه دبل چاپه نوم مه منئ۔
(93) لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا ---- جواب دسوال مقدر چه تر اوسه كوم حرام خوړلى دى نودهغې به څه كيږى نودهغې جواب كوى -
والله يحب --- بشارت چه دامسئلې اومنې نو محسن به شې او دالله تعالیٰ محبوب به شې۔
(94) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَيَبْلُوَنَّكُمُ ----- تحريمات الله برقرار اوساتئ داهغه تحريمات موقت دى اودهغې علت ذكركوى " لِيَعْلَمَ " سره۔
(95) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- كه چادغه تحريمات الله چه د خاص سبب دوجې حرام وو دهغې ارتكاب اوكړو نودهغه سزابه څه وى۔
(96) أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ ---- دحالت داحرام متعلق دپابندئ حكم پس دحرم دبيان۔ هغه د مكان دوجې خكارحرام اوس دحالت احرام دوجې داوچې خكارحرام كړې دې نودا حرام ساتئ۔
(97) جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَة الْبَيْتَ الْحَرَامَ ---- مسئله دنذورالله تعالیٰ يعنى دالله تعالیٰ دعزتمندو تعظيم برقرار اوساتئ۔
(98) اعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ ---- تخويف اوبشارت چه دغير منختې كوى اوحرمتونه كوى نوهغوى ته يره او چه ځان ترې ساتى نوهغوى ته بشارت۔
(99) مَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ ---- تسلى۔ چه كه نه منى نوپه پيغمبرصرف بيان دې۔كه دوى منى او كه نه منى۔نوترغيب تبليغ ته هم چه ته خپله ذمه دارى اداكړه كمې مه كوه۔

(100) قُلْ لَا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ ---- رد په نذورالعباد - چه دبنده دتقرب اوتعظيم دانوم انتهائی پلیت دي نوهغه دوجې نه هغه څيز پليت شو نودااو نذورالله چه هغه پاک دی برابريدلي نشي-که نذورالعباد زيات دی نو هم پريږدئ-

(101) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ ---- تاديب مومنانو ته- چه هرکله مقصودی بيان شروع وی اودنذورالعباد دادتحريمات ردشروع وی نوتاسو بي ځايه سوالونه مه کوی دبې ځايه سوالونو انجام خه نه وی-

(103) ما جَعَلَ اللَّهُ مِنْ بَحِيرَةٍ ---- رد په تحريمات العباد- چه داقسم څاروی بحيره وغيره دامشرکينو دخپلو الهودپاره حرام کړی وی خونيت او تقرب پکښې نه وو صرف وي به چه پدي دچانظردي نومونږ به ئې پائې وغيره نه استعمالوو-اوسورلی به پرې نه کوو-کچرته دي سره نذرهم تړل شی نوبيا به حراميږی بيابه ئې حکم د حرمت وی چه استعمالول ئې حرام وی-

(104) وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا ---- زجر په اتباع دآباء - چه دوی دقرآن او سنت مقابله کښې دمشرانو اباؤاجداد اتباع کوی-

(105) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ .... ترغيب الى التبليغ- چه تاسو دتحريمات العباد رد اوکړئ او دنذورالعباد رد اوکړئ خپل ځان هم د دوزخ نه بچ کړئ-چه تاسو ددي بيان کوئ-نودمنکرينو انکار اوکفرتاسو ته څه ضرر نشی درکولې-
إِلَى اللَّهِ ---- تخويف - چه الله تعالیٰ له تلل دی نو امر بالمعروف چه تحريمات الله اونذورالله دی دهغې به حکم اوکړئ او رد دمنکر چه تحريمات العباد او نذورالعباد دا کوئ الله تعالیٰ له به مخې له ځئ-

(106) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ ---- " واقعة الحلف " -رد دشرک فعلی کولو نودا خبره هم بيان شوه چه منختې دالله په نوم کوی ځکه کارساز مددګار او عالم په غيبو هغه دي نو اوس که خپله مو قسم کولو اوکه بل ته قسم ورکول وی، نوهغه به دالله تعالیٰ په نوم وی-ځکه داقانون دي چه مقسم به چه په چا قسم کيږی نوهغه به مالک

دنفع او نقصان وی-نودا قسم په غیرالله کول هم یوشرک فعلی دي- که عقیده ورسره تړل شی نوبیاخواعتقادی دي-نوځکه واقعه دجام ذکرکوی چه خپله هم قسم په الله تعالیٰ کوی او بل له چه قسم ورکوی اګر که هغه غیردینه دی نوهغه له قسم دالله په نوم ورکوی دغیر په نوم قسم مه خورئ-" من حلف بغیرالله فقد اشرک "-نور آیتونو کښې واقعه ده مربوط دی-

(109) يَوْمَ يَجْمَعُ اللَّهُ الرُّسُلَ ---- ددې ځائې نه خاتمه دسورة ذکرکوی-رد دشرک فعلی په لسو ابوابو کښې تام شو- چه په چاقسم کیږی هغه عالم الغیب وی او چاله چه منختې کیږی نوهغه به عالم الغیب وی- نو دامشرکان چه چاله منختې کوی نوهغه خوعالم الغیب ندی نونفی دعلم الغیب کوی دنورو نه-

يَوْمَ يَجْمَعُ اللَّهُ ---- نفی دعلم الغیب دټولو انبیاء کرامو نه-نو چه انبیاء کرام په غیبو نه پوهیږی نو بل به څوک پوهه شی -

*علم موسیٰ چونکه شد در غیب بند علم موشے کہ بود اے ارجمند*

(110) إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ ---- دنفی دعلم الغیب په واقعه دعیسیٰ علیه السلام چه نصٰری دعیسیٰ علیه السلام په نوم منختې کوی نوهغه عالم الغیب ندې نوڅنګه تاسو متصرف فی الامور ګڼړئ-

إِذْ قَالَ اللَّهُ ---- دا تمهید اول احسانات الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام ته خپل ذکرکوی اول آیت کښې احسان درسالت او معجزاتو-

(111)وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ ---- احسان دملګرو درکولو چه منونکی مِ درله پیدا کړل-

(112) إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ ---- دا بل احسان نزول د مائدې دتمهید دحوارینو سوال او مطالبه دعیسیٰ علیه السلام نه کول بیادعیسیٰ علیه السلام سوال دالله نه کول او نزول دمائدې اودهغې نه روستو دمعجزې به نه منونکو نزول دعذاب تر آیت (155) پورې-

(116) وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ---- داحساناتو ذكركولو نه روستو اوس اصل خبرې د پاره دوباره " وَإِذْ قَالَ اللَّهُ " ذكر كړو-چه الله تعالیٰ به ترې تپوس دپاره د ذليله كولو دعبادت كونكو دعيسیٰ عليه السلام كوی-

قَالَ سُبْحَانَكَ ---- دعيسیٰ عليه السلام جواب په پنځو شقونو حصو مشتمل دې-

سُبْحَانَكَداول حصه دجواب چه ستامنصب ددې نه ډيراوچت دې-

مَا يَكُونُ لِي - دويم چه ځماسره دامناسب نده " **چھوٹی منہ بڑی بات** "-

إِنْ كُنْتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ - دريم شق - چه كه بالفرض ماوئيلی وی نوتاته به علم وی-

(117) مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَا--- څلورمه حصه دجواب - چه ماخوستاوئيلې خبره كړې ده-

وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا --- پنځم شق چه دوی كه روستوپه ماخه دروغ جوړكړی وی نودهغې نه نه يم خبر - معلومه شوه عيسیٰ عليه السلام عالم الغيب نه دې-

(119) قَالَ اللَّهُ هَذَا يَوْمُ ---- بشارت منونكو دمسئلو دسورت ته او دا صادقان دی-

(120) لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ---- خلاصه دسورت - دزمكې او آسمان هرڅيز دالله تعالیٰ مملوک دی چه څه كوی نو هغه كوی نوعبادت هغه له كوئ نومنخته د الله تعالیٰ په نوم كوئ اودهغه حرامو ته حرام اووايئ دځان نه تحريمات مه كوئ-

## حاصل د سورة

مومنانو چه كوم دحل اود حرمت داحكامو وعدې مو الله تعالیٰ سره كړی دی هغه پوره كړئ-لهذا دځان نه حلال څيزونه مه حراموئ-او دالله تعالیٰ حرامو ته حرام اووايئ اومنخته دالله په نوم كوئ-داعزتمنده گڼړئ او دغيرالله منخته بې عزته ده حرامه ده ځان ترې بچ كړئ-پدې كلک شئ ددې بيان اوكړئ وعده مه ماتوئ لكه ديهودو او نصارو به ذليله شئ او سستی هم مه كوئ-ناكاره مليان هغه ددې مسئلو خلاف كوی نودغه دغلطو خويونوولا ستاسو ددين دشمنان دی-نوبائيكاټ ترې اوكړئ او مسئله اورسوئ ددوی خباثتونه خلقو ته خكاره كړئ آخر بيامسئلې واورئ او په بيان كلک

شئ- ددې مسئلو، عالم الغيب الله دې كار ساز او مالک الله تعالیٰ دې نودهغه دنوم منختې كوئ دبل چانه ، اودهغه حرامو ته حرام اوايئ دځان نه حرمتونه مه كوئ-

**امتيازات**

(1) وضاحت دمسائل اربعو په عجيبه انداز باندې-
(2) دخكارى سپي وغيره دليږلو شرطونه-
(3) حكم د ذبيحې اوجينكو داهل كتابو-
(4) فرائض داودس-
(5) ذكردسزاګانو دنقض عهد-
(6) واقعه دهابيل او قابيل-
(7) ناشنا خباثتونه ديهودو- (8) واقعه دجام-
(9) نفى دعلم الغيب دټولو انبياء كرامو نه-
(10) رد دنصارو په ټولو فرقو باندې او نفى دعلم الغيب دعيسیٰ عليه السلام نه-
تمت سورة المائده- فيامتممها ارزقنا بهاالفائده - واجعلهاصدقة جارية للوالد والوالدة-
17 ذوالقعده 1433 هـ - 3 اكتوبر 2012 ء- يوم الاربعاء 07 : 04 بعد از ظهر

ځه په جيل كښې ناست يم سورة المائده اوله حصه دقرآن كريم دالله تعالیٰ په فضل و كرم سرته اورسيده خدائې پاک دِ داباقى چه تر كهف پورې پاتې ده په خير سر ته اورسوى-الله تعالیٰ دِ ما او ځما ملګرى په خير اوعافيت دجيل نه بهر اوباسى دخپل ددين خدمت دپاره الله تعالیٰ ځمادمور دزړه تسلى اوكړې- خدائې ټولوله ددنيا اودآخرت خوشحالئ وركړې-اوالله تعالیٰ دِ دځماس دمور حفاظت اوكړى او دزړه تسلى دِ ورله اوكړئ او الله دِ پرې آسانه كړى- ځماطالبان دمدرسې استاذان اوملګرى اوځماشيوخ دِ خدائې پاک په دنيا عزتمند كړى-او په آخرت دآفتونو نه دِ په آمان كړى- الله تعالیٰ دِ

ددوی دټولو دعاګاني ځما دپاره قبولې کړی-ځه اې الله ستادبهر نعمتونو ته ډیر محتاجه یم نو ما په خیر او عافیت اوباسه - ماله خوتا بهر جنت راکړې وو نوماته جیل ډیر ګران دې خوستاپه فضل او په قرآن آسان شوې دې-

بسم الله الرحمن الرحيم

## دقرآن كريم دويمه حصه

ددې ځائې نه دقرآن كريم دويمه حصه شروع كيږی-اوله حصه كښې بيان وو چه خالق لكلّ شيئ هوالله تعالىٰ "-چه دنيشت نه شته كونكې الله تعالىٰ دې بل څوک نه نو اوس دويمه حصه كښې چه تر بيت كونكې او دپيدائش نه روستو پالونكې هغه هم الله تعالىٰ دې بل څوک ندې-" المربی لكل شيئ هوالله تعالىٰ "- دخلق نه روستو مرتبه دتربيت وی - يعنی الله تعالىٰ دپيدائش نه روستو تاسو داسې نه يئ پريښودلی بلكه ستاسو تربيت له ئې عجيبه نظام برابر كړې دې نو مخلوق لكه چه پيدائش كښې دالله تعالىٰ محتاج نو دغه شان په تربيت كښې هم دالله تعالىٰ محتاج دې-داحصه دسورة الانعام نه دبنی اسرائيل تر ختمه پورې او دكهف تر ابتداء پورې ده يعنی پدې كښې ټول دولس سورتونه دی-

سورة الانعام مكية
نزولا (۵۵) مصحفا (۶)
رکوعات (۲۰) ایات (۱۶۵)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة الانعام

سورة الانعام مكى سورة دې په نزول كښې پنځه پنځوستم (55) نمبردې پس دسورة الحجر نه نازل شوې دې او په ترتيب دسورتونو كښې شپږم نمبر دې پس دسورة المائده نه۔

## ربط دمخکښې سورة سره

مناسبت دسورة الانعام دمائدې سره په ګنړو وجوهو باندې دې څنې دهغې نه -

**اوله وجه**: سورة المائده كښې نفى دشرک فعلى وه نو په سورة الانعام كښې دشرک فعلى نورجزيات ذكر كوى اودهغې رد كوى۔

**دويمه وجه**: سورة المائده كښې نفى دشرک فعلى اول وه او داعتقادى روستو وه نو سورة الانعام كښې دهغې عكس كوى اول نفى دشرک اعتقادى او بيا نفى دشرک فعلى كوى۔

**دريمه وجه**: سورة المائده كښى نفى دشرک فعلى او اعتقادى اوشو۔خو دلائل نه وو ذكر شوى نو سورة الانعام كښې به مسئله مدللةكړى دلائل عقليه به ډيرزيات ذكركړى۔

**څلورمه وجه** : په سورة النساء كښې معاشره سمه شوه نو مائده كښې داكل و شرب اصلاح اوشوه نو اوس هغه مقصد اعلیٰ چه توحيد اورد دشرک دې هغه ذكركوى چه ددې دپاره داهر څه كيږى چه داترقى اوكړى۔

**پنځمه وجه**: په آخر دسورة المائده كښې اووې چه " لله ملک السمٰوٰت والارض " نوسورة الانعام په اول كښې پرې حمد تفريع كوى چه ددغې ذات له حمدونه اووايه۔ لکه چه

ملک دالله تعالیٰ دې نونور صفتونه هم دالله تعالیٰ دی نوهغه صفتونه ورله بیان کړه چه الحمد لله معنی ده " فاحمدوه "-یعنی دهغه صفتونه اووایه-
دادقرآن قانون دې چه حمد په قدرت او ملک تفریع کوی لکه سورة الجاثیه (27)کښې ملک دې نو په (36 ، 37 ) کښې حمد تفریع کړې دې دغه شان نمل (59) صٰفٰت (182) سورة لقمان (25) سورة یونس (10) سورة المومنون (28) سورة الفاطر (34) بنی اسرائیل (111) العنکبوت (63) الروم (18)-
په سورة کښې رد ادشراکو دې نو ځکه ئې مصدر کړوپه حمد سره-

## دعوی د سورة

دسورة الانعام مرکزی مضمون او دعوی ، مقصد محور او قطب هغه دې " رد دشرک اعتقادی سره د ټولو اقسامو دشرک او سره درد دټولو اقسامو دمشرکینو او رد دشرک فعلی"- ددواړو په رد به دلائل عقلیه قائموی او مناظره دابراهیم علیه السلام سره دقوم خپل "-دا دسورة مرکزی مضمون دې دشرک اعتقادی څلوراقسام دی شرک فی العلم ، فی التصرف ، فی العبادة او فی الدعاء-او مشرکان څلور قسمه ووو - مشرکین بالملائکه ، بالعباد الصالحین ،، بالجن او بالکواکب-یعنی داڅیزونه مشرکانو الله تعالیٰ سره حصه دار کړی وی نو داټول قسمونه دشرک او ټول د مشرکانو رد کوی په دلائلو باندې-

## خلاصه او تقسسم دسورة

دسورة تفصیلی خلاصه او تقسیم لیکل هغه ډیر اوږدیږی ځکه چه داسې یومضمون ګنړو آیتونو کښې نه بوځی بلکه کله دعوی کله دلیل کله زجر کله تخویف کله مطالبه کله داعتراض جواب- ځکه سورة الانعام په یوځل نازل شوې دې یو سبق دې یو تقریر او بیان دې نو قرآن کریم فطری تعلیم دې سبق نه خائی چه استعدادی وی بلکه اصلاح کوی نوګوری چه اوس به اصلاح په څه کیږی کله به دلیل کله په نرمه - تفصیل ددې خبرې مقدمه کښې تیر شوې دې نو مربوط ټول دې خومضمون ئې زر زر

بدلیږی اواوږده خلاصه لیکې نو اوږدیږی- نو مونږه لنډې طریقې سره لیکو بیا په آیتونو سره به دهر آیت تفصیل راشی-

**تقسیم** : سورة الانعام دمضمون په اعتبار سره دوو حصو ته منقسم دې-اوله حصه دابتداء دسورة نه تر " اعلم بالمهتدین " (117) پورې او پدې کښې رد دشرک اعتقادی سره دټولو اقسامو-دویمه حصه د " فکلوا" (118) نه تر آخرتر سورته پورې دې او پدیکښې رد دشرک فعلی کوی-

اوله حصه کښې دابتداء نه توحید او په هغې باندې دلائل ذکرکوی بیاتخویف تر (6) بیا رد په منکرینو درسالت او دقرآن باندې چه اعتراضات کوی او تخویف (11) پورې--بیادلائل او رد دشرک فی التصرف او نفی دشرک فی الدعاء او دلیل وحی او صداقة دنبی علیه السلام او قرآن او زجر اوتخویف تزهید من الدنیا او تسلی-د (38) نه بیا دلائل او رد دشرک فی التصرف او فی الدعاء کوی او نفی دشرک فی العلم او نفی دشفاعت قهریه او ابتلاء بالنعم والنقم ترغیب موالاة دموحدینو ته او دوه امتحانونه په داعی او رد دشرک فی العبادة او تصرف او فی العلم او فی الدعاء تر (74) پورې- بیاد(74) نه دلیل نقلی دابراهیم علیه السلام نه او دهغه مناظره او دهغې نه روستو د اوولسو انبیاؤ بیان چه داټول په توحید راغلی وو بیا زواجر او تخویفات بیا د(95) نه دلائل او (105)کښې بل امتحان په داعی او ادب موحدته په (112)کښې شلورم امتحان او دشبهات درد طریقه چه " التحاکم الی کتاب الله تعالیٰ " -- ختم په تخویف-

دویمه حصه دسورة د" فکلوا" (118) نه تر آخره پدیکښې دمشرکینو دناشنا تحریماتو رد او دنذور العباد رد دا کار ګران دې نو دِ حصه کښې دوه امتحانات هغه سخت ذکر کوی (123،129)کښې- مینځ کښې قرآن ته ترغیب او تخویف ورکوی او دلائل دهغوی نه مطالبه ددلیل هم کوی بیا د " تعالوا اتلوا" نه چه کومو تحریماتو کښې فائده ده هغه ذکرکوی چه هغه دالله تعالیٰ دی - آخر کښې اظهار دعقیدې او ختم په تخویف او بشارت باندې-

## مقاصدالايات وتناسبها

اوله حصه: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي ---(1) ددې ځائې نه تر " بالمهتدين " (117) پورې اوله حصه دسورة پديکښې رد دشرک اعتقادی سره دټولو اقسامو او سره داقسامو دمشرکينو او په هغې دلائل عقليه ، نقليه او وحيه به ذکرکوی-دمخالفينو داعتراضونو جوابونه او هغوی ته زواجر او تخويفات او په داعی چه امتحانات راځی عقبات نودهغې نه دځلور تذکره په اوله حصه کښې به کوی-

الْحَمْدُ لِلَّهِ ---- دعوی دتوحيد- دخدائتوب ټول صفات که د تصرف سره تعلق لری-يادعلم سره يا درامدد شه سره او يا د عبادت او تعظيم سره نو داټول صرف او صرف دياالله تعالیٰ دی-دابل چا له مه ګنړئ پديکښې دالله تعالیٰ شريک او حصه دار نشته کومو خلقو چه پدې صفتونو کښې دالله تعالیٰ سره ملائک يا نيکان بنديان او يا جنات او کواکب ستوری وغيره حصه دار کړی دا سراسر په غلطه دی دوی له ددې نه بالکل برات پکار دي او داخبره څه محض دعوی نده-بلکه پدې باندې ډير دليلونه موجود دی چه د عقل هم دی د وحی هم او دنقل هم نو دادلائل تسليم کړئ او دادعوی اومنئ چه الحمد لله-

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ---- (1)دليل عقلي - اوګورئ داکارونه کونکې محض يو الله تعالیٰ دې که مکان او که زمان او که مکانيات او که زمانيات نودهغې خالق صرف يو الله دې نو لکه چه پدې صفت کښې تنها دې نودغه شان دې نورو کښې هم تنها دې -

ثُمَّ الَّذِينَ كَفَرُوا --- زجر - اوګوره دِ بې انصافو نامرادو او دعقل وهلې شوې ته چه سره ددې چه دغه خبره تسليموی او بيا هم دالله تعالیٰ صفت بل له ورکوی او هغه دالله تعالیٰ سره برابر کړی-

(2) هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ ---(2) دليل عقلي . څه خير دې لږ ځان ته سوچ اوکړه چه ته چاپيدا کړې ئې او داانقلابات درکښې څوک راولی-

ثُمَّ أَنْتُمْ تَمْتَرُونَ - زجر سره ددې نه چه داتسليموی او بيا هم په توحيد کښې شک او دحق پرست سره جهګړه څومره بې انصافی ده-
(3) وَهُوَ اللَّهُ فِي السَّمَاوَاتِ--- (3) دليل عقلی چه لږ دزمکې او آسمانونو نظام باره کښې سوچ اوکړئ چه دااختيارات دچا دی او دا تکوينی امور باران سيلئ ، خوږ طوفان وريځ وغيره دا کارکونکې يو الله تعالیٰ دې-
يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ --- رددشرک فی العلم - نو لکه چه متصرف او کارساز هغه دې نو په هر څه پوهه هم هغه دې- ستا کار به ستا نه پټ شی خو دهغه نه نه پټيږی-
(4) وَمَا تَأْتِيهِمْ مِنْ آيَة ---- زجر په اعراض دقرآن - څومره خکلې دلائل بيان شو خودې بې انصافو ته ګوره چه اعراض او تکذيب دحق ئې خپله وطيره او مشن ګرځولې دې هډو فائده ترې نه اخلی-
(5) فَسَوْفَ يَأْتِيهِمْ ---- تخويف - نو چه په دغه اعراض او تکذيب روان دی اوسميږی نه نو چه مرچکې خورې خله به دِ ترخيږی چه څنګه عمل دغه شان انجام دوی خودا ګپ ګنړی او ټوقې ورپورې کوی خوسزا به اوڅکی-
(6) أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا---- نمونه دتخويف دنياوی- چه داهلاکت څه ناشنا کارندې او دا دِ نه وائی چه په طاقت او مال دولت به خلاص شو لږ دا دِ اوګوری چه تير قومونه څه شو-
(7) وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَابًا ---- زجر په اعراض او انکار دپيغمبر باندې -څومره په عجيبه انداز بيان اوشو دوی له منل پکار وو نو دوی دمنلو په ځائې چه خله وازه کړه نو په پيغمبر اعتراض کوی چه داکتاب ته لږلږ وائې نودهغې جواب چه بيا به مو وې چه سحر (جادو) دې - لوندې ژبې دی په هر طرف ته تاويږی-
(8) وَقَالُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ---- بل زجر په انکار او اعتراض ددوی او دهغې جواب- چه که داپيغمبر وې نو دغه شان يواځې خوار ولې دې بلکه پکار ده چه ده سره په ګاډ اوحفاظت کښې فرشته وې چه ده مسئله کولې او هغې دحق هو آواز کولې-لکه

دمعيارو دفقيرانو چه يو به آوز كولو چه " دا يو دې د طورو او دا بل دې دمعيارو " نو بل به آواز كولو چه " خير راوړئ ايماندارو" ﴿مفتى مسلم صاحب﴾
وَلَوْ أَنْزَلْنَا ---- جواب چه فرشته عذاب له راځى بيا به مو وخت ختم وو-
(9) وَلَوْ جَعَلْنَاهُ مَلَكًا ---- دابل زجر او د اعتراض جواب- اعتراض يا داسې چه دمخكښې سره تعلق لرى چه په شكل دسړى دِ راشى نوهغه خومونږليدلې شو كنه نود هغې جواب-دويم طريقه داسې چه الله تعالىٰ انسان پيغمبر راليږلو نوفرشته ئې ولې نه راليږله-يعنى بشر پيغمبركيدلې نشى- نوجواب چه فرشتې تاسو په خپل شكل نشئ ليدلې نو هغه راتله نوهم په شكل دسړى به وه نو تاسو به بيا وې چه داسړې دې-
(10) وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِنْ قَبْلِكَ ---- صداقة الرسول او تسلى او تخويف - تر " المكذبين " (11) پورې- چه داسې اعتراض كيږى نوداعى خفه كيږى نوقرآن تسلى وركوى چه دحق استاذې ئې ستاپشان اعتراضونه او ټوقې په نورو انبياء پورې هم شوى نوعذاب به راشى او دا څه ناشنا خبره نده نورې نمونې دِ اوګورى-
(12) قُلْ لِمَنْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ ---- (4) دليل عقلى- نوځه لږ ددوى نه تپوس اوكړه چه تاسو څه وايئ ددې باره كښې-
قُلْ لِلَّهِ - دوى به غلى شى نو خه موقع ده ته ورته اووايه چه دهر څه اختيارات دالله تعالىٰ دى-
كَتَبَ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ---- ترغيب - هغه الله تعالىٰ خو مهربانى كوى نو تاسو ولې ځان دغضب مستحق كوئ په شرک سره-
لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ ---- سره تخويف - ورځ راروانه ده نو توحيد اومنئ چه مهربانى درباندې اوشى ګنى نو تاوانيان دى هغه څوک چه په توحيد ايمان نه لرى-
(13) وَلَهُ مَا سَكَنَ فِي اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ---- (5)دليل عقلى - او رد دشرک فى التصرف دتوحيد نه انكار مناسب ندې ځكه چه دهرڅه اختيارات دهغه الله تعالىٰ دى-

(14) قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيًّا--- (6) دليل عقلی - او رد دشرک فی التصرف- څه لږ پداسې اندازترې تپوس اوکړه او دوی پوهه کړه چه خالق دآسمانونو او زمکې الله تعالیٰ دې نو څه خله دخپل نفع او نقصان دپاره دده نه علاوه بل عاجز مخلوق اوګورم چه هغه په رزق کښې هم دالله تعالیٰ محتاج دې ځان له ډوډئ نشی پیدا کولې داځه بې عقله خبره ده- دا څمانه نه کیږی-

قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ ---- (1)دلیل وحی- که تاسو مانه ددې دپریخودلو مطالبه کوئ نو داځما څه خپله مسئله نده داخو دالله تعالیٰ دطرفنه وحی شوې مسئله ده خود ساخته نده او دا امید رانه هم نه کیږی چه ستاسو سره ملګرې شم-

(15) قُلْ إِنِّي أَخَافُ ---- اوکه دامطالبه رانه کوئ چه بیان کښې سستی اوکړه نو دا ګنجائش هم نشته ځکه څه دعذاب نه یریږم-

(17) وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ ---- رد دشرک فی التصرف او اووم دلیل عقلی - چه که تاسو یرول کوئ چه دابه اوکړی او دا به اوکړی نوځمامالک دنفع او نقصان د هرڅه الله تعالیٰ دې دیکښې سوچ اوکړئ او هغه الله تعالیٰ په هرڅا غالب دې هیڅ بنده دالله تعالیٰ دحکم نه بغیر څه کولې نشی-(18) پورې-

(19) قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً ---- شهادت دالله په توحید - ځما دامسئله داسې کمزورې مسئله نده ځکه الله تعالیٰ پدې شاهد دې-داټول دلائل اوګورئ کنه-

وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ ---- (2) دلیل وحی او صداقة دقرآن - الله تعالیٰ ګواه دې دا قرآن بیان کړې دې او پدې توحید ماته داقرآن وحی شوې دې او دا ځما ذمه داری ده چه دا به ټول عالم ته رسوم-

أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ ---- زجر په شرک - سره دداسې قسم دلائلو شهادتونو بیا هم ستاسو عقیده دشرک ده او توبه نه اوباسی-

قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ---- دعوى توحيد ثمرة- څه خودشرک ګواهي نه کوم-او داګواهی خه په صاف میدان کوم او اعلان کوم دتوحید ددلائلو په رنړاکښې -او دشرک نه بیزار یم-

(20) الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ ---- دلیل نقلی - څما دارسالت داڅه نوې خبرې ندی دتیرو امتونو نیکانو عالمان هغې ددې صداقت او ګواهی ورکوی نو تاسو هم اومنئ-

الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ ---- تخویف - اوس چه کوم ضدیان نه منی نوخسران به ئې په برخه شی-

(21) وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى ---- زجر - چه سره دداسې بیان نه او قرآن تکذیب او افتراء نو ددې نه لوئې ظالم بل نشته دې-

إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ - تخویف - که داسې ظالم دقرآن دمشن او دتوحید خلاف کارکوی او دائې څه خیال دې چه کامیاب به شم نو دې خپل مشن کښې نشی کامیابیدلې-

(22) وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ---- تخویف اخروی چه دشرک نه توبه نه اوباسی او تکذیب کوی-نو لږغوندِدقیامت حال مو اوګورئ چه دخپل شرک او شریکانو نه بیزاره يئ او هغه منکېرت روايتونه او واقعات به مو بیا پکار رانشی-نو دادرته الله تعالیٰ نن بیانوی چه اوس ځان سم کړئ چه بیا دانه وایئ چه ماته پته نه وه-

(25) وَمِنْهُمْ مَنْ يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ ---- زجر په انکار دقرآن - چه ځان سمول چرته دقرآن نه فائده نه اخلی دبار بار انکارونو او اعتراضونو دوجې نه ئې هغه دفهم او پوهې طاقت سلب شوې دې - نوقرآن ورته قصې خکاری-

(26) وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْأَوْنَ عَنْهُ ---- زجر په انکار دپیغمبر-لکه چه دقرآن نه فائده نه اخلی نو دغه شان دداعی نه او دقرآن نه خپله هم لرې کیږی او بل هم منع کوی-یا داسې بې انصافه دی چه قام قبیلې غیرت کوی نو دپیغمبر او داعی داذیت نه خلق منع کوی او داتباع نه لرې کیږی ځان ئې هلاک کړو-

(27) وَلَوْ تَرَى إِذْ وُقِفُوا ---- تخويف اخروى - چه لږدخپل عمل انجام او قرآن پسې ارمان په آخرت کښې اوکورئ بيا به دې وخت پسې ارمان کوى خو څه به نه کيږى-

(29) وَقَالُوا إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا ---- زجر په انکار دآخرت- چه اصل وجه داده چه دوى دآخرت نه انکارکوى نودهغې فکر ورسره نشته دې-

(30) وَلَوْ تَرَى إِذْ وُقِفُوا ---- تخويف اخروى تر " الاساء مايزرون " (31) پورې چه بيا به دحقانيت اقرار اوکړئ او په توحيد پسې ارمان اوکړئ خووخت به تير وى-

(32) وَمَا الْحَيَاة الدُّنْيَا إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ ---- تزهيد من الدنيا - دوى چه دآخرت نه منکر کيږى او توحيد نه نو اصل وجه هغه ددنيا غرور دې نو دنيا څه ده اصل آخرت دې-

أَفَلَا تَعْقِلُونَ - زجر اې بې عقلو حقيرڅيز اخلئ او قيمتى پريږدئ-

(33) قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي ---- ددې ځائې نه تسلى سره د تشجيع نه تر " من نباء المرسلين "- (34) سره دتخويف دنيوى- دوى په دنيا مست دى او په انکار ستا په اعتراضونو او بدو ردو باندې کلک دى نو غم مه کوه داځمونږ دپاره دى او ماته معلوم دى او دانورو سره هم شوى دى دنصرت وعده هغه دانبياء کرام سره ده هغې کښې بدلې نه راځى-

(35) وَإِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ ---- تنبيه نبى عليه السلام ته - داحرص مه کوه چه په معجزه به دوى ايمان راوړى - دمعجزو اختيار دالله تعالىٰ دې ددوى په اعراض دومره مه خفه کيږه-

(36) إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ الَّذِينَ ---- بشارت - شته دې د انابت والا چه هغوى قبوليت کوى-

وَالْمَوْتَى يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ ---- تخويف - کافر خودزړه مړه دى نو اوريدل نشته د انابت نو منل به د کومې راشى نوآخرت کښې به ئې پته اولګى-

(37) وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ آيَة ---- زجر په مطالبه دمعجزې - چه دوى منل چرته کوى الته دمعجزې مطالبه کوى-

قُلْ إِنَّ اللَّهَ قَادِرٌ ---- جواب دمعجزې اختيارداللّٰه تعالىٰ دې دپيغمبر اختيار خوندې-

(38) وَمَا مِنْ دَابة فِي الْأَرْضِ ---- (8) دليل عقلي- دپيغمبر اختيار دمعجزو ندې بلکه دهغه په اختيار کښې داسې دلائل بيانول دی نولړ سوچ اوکړئ پديکښې- دمرغو حاجات څوک پوره کوی دوی کوم زيارت له تلی دی چه ته روان ئې-

مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ ---- تخويف - چه عمل دِ ليکلې کيږی هر څه الله تعالیٰ سره دی- الله تعالیٰ له به مخې له ځې-

(39) وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ---- زجر وتخويف - دداسې دلائلو نه فائده نه اخلی نو تيرو دکفر او شرک کښې پاتې شی-

(40) قُلْ أَرَأَيْتَكُمْ إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُ اللَّهِ ---- (9) دليل عقلی - اعتراض : چه دوی نه منی نو څه لړ د دوی نه ددې خبرې تپوس اوکړه- دوی خو هم په دِ وخت کښې دتوحيد فی الدعاء قائل کيږی- چه صرف الله تعالیٰ رامدد کوی چه په څنې اوقاتو کښې الله رامددکوی نو څنونورو کښې بيا ولې مو الله تعالیٰ هير شی-اوشرک ورسره شروع کړئ-ورسره رد دشرک فی الدعاء هم دې-

(42) وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَى أُمَمٍ ---- الابتلاء بالنعم والنقم-ورسره داعی ته تسلی هم ده-دمنکرينو داصلاح دپاره الله تعالیٰ کله په هغوی تکليفات راولی چه دوی عبرت واخلی-او کله پرې خوشحالئ چه ددې شکراداکړی- دِ آيت کښې ابتلاء بالنقم ده-چه په دوی کله ددرياب سخته کله بله سخته ددې مقصد دپاره راوستې شی چه دوی الله تعالیٰ ته عاجزی اوکړی نو دوی دعاجزئ په ځائې لا زړونه سخت شو-او دشيطان اتباع ئې شروع کړه-

(44) فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ ---- ابتلاءبالنعم- کله خوشحالئ زياتې کړی نو چه توحيد اوقرآن ئې پريخودلو نو الله تعالیٰ پرې هرڅه زيات کړل چه دوی په ګناه زړه يخ کړی نو چه عذاب راغې نو بيا دخپلو شريکانو نه نااميده وو-

وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ(45) دعوى دتوحيد - چه مشركان ددې مسئلې دانكار دوجې تباه شو-نو لكه چه هلاكونكې الله تعالیٰ دې نو دغه شان داتول صفتونه دخدائتوب ديو الله تعالیٰ له اومنئ نه كه بل چاله-

(46) قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ ---- (10) دليل عقلى او رد دشرك فى التصرف -چه اوس خو اومنئ تفصيلى بيان درته دتيرو حالاتو اوشو-ځه ستاسو نه تپوس كوم لرتاسو خپله اووايئ چه داقسم تصرفات كونكې بل څوك شته دې-

انْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ ---- زجر سره دداسې دلائلو چه قائل هم شى او اعراض كوى دومره بې انصافه دى-

(47) قُلْ أَرَأَيْتَكُمْ إِنْ أَتَاكُمْ ---- (11)دليل عقلى- دا پشان دنهم دليل آيت 40 دې- د"جهرة" پسې" اغيرالله تدعون" اووايه - چه په سخته كښې دتوحيد قائل كيږئ او بيا انكاركوئ نو لوئې ظالمان يئ او دعذاب مستحق يئ-

(48) وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ ---- جواب دسوال- دا عذاب دِ راوله زر‌ه دِ پرې راله پوخ كړو-نو جواب دپيغمبرانو كار هغه دعوت وركول دى نه كه عذاب - عذاب دالله تعالیٰ كار دې-

فَمَنْ آمَنَ ---- بشارت - چه داكار اوكړئ چه دعذاب نه بچ شئ-

(49) وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ---- تخويف - اوكه په دِ خپل تكذيب يئ او نافرمانى كوئ نو عذاب به درته اورسوى-

(50) قُلْ لَا أَقُولُ لَكُمْ ---- جواب دسوالونو دمشركانو او نفى دتصرف او دعلم د نبى عليه السلام نه-يره ته غريب ئې كنى مونږبه منلې وې-نو جواب " لَا أَقُولُ لَكُمْ" يره مونږته دخزانو ځائې اوخايه- " وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ "- نوداخوراك سخاك ولې كوې نو جواب " لَا أَقُولُ لَكُمْ "- نوآخر ته څه ئې نو جواب " إِنْ أَتَّبِعُ " ځه دوحى تابع يم او دوحى مطابق به دتوحيد بيان كوم -

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي ---- سره زجر - موحد اومشرك او بې ځايه اعتراض كونكې برابر ندى-

(51) وَأَنْذِرْ بِهِ الَّذِينَ ---- تخویف اخروی او نفی دشفاعت قهری-دا بې ځایه اعتراضونه پريږدئ ورځ راروانه ده-بیا به مو څوک سفارشی نه وی نوځان دشرک نه بچ کړئ-
(52) وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ ---- ترغیب الی موالاة الموحدین- یره مونږمنو خو ستاملګری ځمونږ شایان شان ندی-نو دالږطرفته کړه دوی سره مونږ په ناسته بد خکارو نوخبردار دادتوحید ملګری دځان نه لرې نه کړې-
(53) وَكَذَلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ ----- " العقبة الاولیٰ " : اول امتحان په داعی- دادسپک کتلو کله تاته او کله ستا ملګرو ته- دااولنې امتحان دې چه تاته به سپک ګوری- او ستا ملګرو ته-چه لکه داقرآن صرف تاسو ته نصیب کیدلو او توحید - اومونږ داسې غټ غټ سپین روږی ، فلانکې مولوی صاحب چه دهغه اوولس ګزه پټکې دې او دفلانکی کتاب ددرس کښې دومره طالبان ناست وی هغه دامسئله نه کوی او صرف ته دامسئله کوې داسې نورې خبرې نوستا جواب به داوی - چه :
أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِالشَّاكِرِينَ- ماسره دتوحید او دقرآن قدرر وو نو ماله الله تعالیٰ هغه راکړو او فلانکی سره دفلانکی کتاب قدر وو نو هغه له ئې هغه ورکړو-
(54) وَإِذَا جَاءَكَ الَّذِينَ ---- بشارت چه داسې حالاتو کښې ستاخبره اومنی او طالب راشی نو ډیر په مینه ورته هرکلې وایه او زیرې ورکوه-
(55) وَكَذَلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ ---- " العقبة الثانية " : دویم امتحان - دویمه غونډئ چه په هغې به داعی خیژی-اول امتحان صرف تر دې حده وو چه تاته خبره کیدله اوس به درته وائی چه دایوه مسئله دِ موندلې ده-چرته دمور او پلار حقونه بیان کړه دمعاشرې حقوق اوخایه - بس دزیارتونو مسئله ده بله نشته دې نو ستا جواب چه الله تعالیٰ په خپل کتاب کښې وئیلی دی چه دتوحید مسئله بیانیږی نو دتوحید منکرکښې به ځنې نخې خکاره کیږی هغې نخې لا مانه دی لیدلی نو ځکه لاتوحید بس جوم نه دسورة الحج (72) او سورة المدثر(16) آیتونه به ورسره یوځائې کړې-لکه امام ابن قیم ؒ وائی

اذا ذکرت الله توحیداً رایت وجوههم مکسوفة الالوان

(56) قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ ---- دليل وحى او بائيكاټ د كافرو نه ـ رد دشرک فى العبادة - دوى وائى چه بله مسئله بيان كړه نو ته دِ مسئلې له زور وركړه ورته صاف بيان اوكړه- ځه ستاسو دخيالاتو اتباع نه كوم- ځه صاف دليل بيانوم او تاسو دهغې تكذيب كوئ-

(57) مَا عِنْدِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ ---- دفع د شبهې چې يره عذاب راوله - جواب نفى دتصرف دنبى عليه السلام نه او اثبات دتصرف الله تعالىٰ له- ټول اختيارات دالله تعالىٰ دهر قسمه امورو- تر (58) پورې-

(59) وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ ---- رد دشرک فى العلم او دليل عقلى دولسم(12)- كه عذآب راوړلې نشې نودعذاب وخت اوخايه كنه نو جواب چه په هره ذره عالم او حاضر ناظر الله تعالىٰ دې نه كه بل څوک نو ماته پته نشته دې - نو چه عالم الغيب هغه الله تعالىٰ دې نو ستاسو دحاجاتو نه خبردې نودهغه نه خپل حاجات غواړئ-

(60) وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ بِاللَّيْلِ ---- (13)دليل عقلى- لږدِ خپل حال ته سوچ اوكړه په تا كښې دا احوال څوک بدلوى رابدلوى-

ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ---- تخويف اخروى-

(61) وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ ---- (14) دليل عقلى- الله تعالىٰ په هرڅا غالب دې نوغالب ذات ولې پريږدې او عاجز پسې روانيږې-

حَتَّى إِذَا جَاءَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ ---- تخويف دالله تعالىٰ دګرفت نه خلاصيدلې نشې هغه له به ځې بيا به درسره حساب كيږى-

(63) قُلْ مَنْ يُنَجِّيكُمْ ----- (15) دليل عقلى- او رد دشرک فى الدعاء-داهم اعتراض دې لږددوى نه تپوس اوكړه چه سختو كښې څوک رامدد كوى چه ګيرشى نو چه يوځائې دتوحيد قائل شئ او روستو بياشرک كوى يو الله تعالىٰ دې چه ټول مشكلات ختمونكې دې-

(65) قُلْ هُوَ الْقَادِرُ ---- (16) دليل عقلی - قادرالله تعالیٰ دي نودهغه دقدرت نه خو خلاصیدلي نشئ ورسره تخويف هم شو-

(66) وَكَذَّبَ بِهِ قَوْمُكَ ---- زجر - سره دحقانيت دمسئلي او دومره دلائلو تكذيب لويه بي انصافی ده-

(67) لِكُلِّ نَبَإٍ مُسْتَقَرٌّ ---- يره قيامت او عذاب دِ راوله جواب وخت مقرر دي-اوهرڅيز چه انتهاء ته اورسی نو فيصله ئي اوشی-

(68) وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ ---- زجر او قطع تعلق دمشركينو نه - دوی انكار كوی او استهزاء نود دوی مجلس دعذاب او دګناه دي نوددي نه ځان ساته البته كه دعوت او نصيحت وركوي ځان له خبره ده خودهغي نه بعد بيا مه ايساريږه-

(70) وَذَرِ الَّذِينَ اتَّخَذُوا ---- زجر اودبائيكاټ وجه چه دين سره داسي معامله كوی نوهغه دبائيكاټ اهل دی-

وَذَكِّرْ بِهِ-تخويف اخروی او نفی دشفاعت قهری- دداسي خلقو آخری انجام هغه دتباهئ دي-

(71) قُلْ أَنَدْعُو مِنْ دُونِ اللَّهِ ---- رد دشرك فی الدعاء - دمخكښي دلائلو نه صاف داخبره معلومه شوه چه غيرالله درامدد شه وئيلو قابل ندي،نومونږداسي كولي نشو-ستاسو نه او ستاسو دمسئلي نه مو بائيكاټ دي-مونږ ته د الله تعالیٰ هدايت هغه كافی دي-

وَأُمِرْنَا ---- دليل وحی- مونږته ددي بيان دالله تعالیٰ دطرفنه شوي دي-نومونږبه صرف دهغه منو دبل چا نه اودهغه عبادت به كوو دنورو داطاعت نه دځان بچ كولو حكم راته شوي دي-

وَهُوَ الَّذِي إِلَيْهِ ---- تخويف اخروی-تاسو هم دابيان اومنئ كه نه منئ نو پته به مو اولګی-

(73) وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ ----- (17)دليل عقلی- داخبره چه د وحی نه معلوم ده نو دغه شان دعقل نه هم تاسو دي دليل كښي سوچ اوكړئ- اختيارات او علم دالله دي نو څرنګي ورسره تاسو بل حصه دار كوئ-

(74) وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ ---- دليل نقلی دابراهیم علیه السلام او مناظره دهغه-راشه د جدالانبیاء بیان اوکوره چه هغه څنګه دشرک رد کوی او دتوحید بیان کوی-دهغې نه خو عبرت واخله کنه-

(75) وَكَذَلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ ---- ادخال الٰهی احسان په ابراهیم علیه السلام چه دهرڅیز نه دتوحید اثبات کوی دااحسان پرې الله تعالیٰ کړې وو-

(76) فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ ---- مناظره دابراهیم علیه السلام او دهرڅیز عجز بیانول او دقوم پره کول-او دبائیکاټ دشرک او دتوحید اعلان کول تر (79) پورې-

(80) وَحَاجَّهُ قَوْمُهُ ---- دقوم جواب او ابراهیم علیه السلام دخپلو خدایانو نه یرول او د ابراهیم علیه السلام جواب تفصیلی " تعلمون"(81)-

(82) الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ ---- ادخال الٰهی او بشارت موحدینو ته-

(83) وَتِلْكَ حُجَّتُنَا آتَيْنَاهَا ---- غلبه دابراهیم علیه السلام په قوم او داوولسو انبیاؤکرامو علیهم السلام تذکره چه ټولو دادتوحید مسئله وه یعنی دابراهیم علیه السلام خبره باندې دستخط چه دټولو دغه یو بیان وو-

(88) وَلَوْ أَشْرَكُوا ---- قباحت دشرک چه داسبب دحبط عمل دې- عمل ورسره بربادیږی-

(89) فَإِنْ يَكْفُرْ بِهَا ---- زجرکه دوی ددې مسئلې اتباع نه کوی نو الله تعالیٰ به نورنران پیداکړی-چه هغوی به انکار نه کوی-

(90) أُولَئِكَ الَّذِينَ --- دانبیاء داقتداء حکم په توحید کښې - چه دټولو انبیاؤ دغه مسئله وه چه کارساز متصرف یو الله تعالیٰ دې او ددې بیان ئې کړې وو ته هم ددې بیان کوه-

(91) وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ ---- زجر په انکار دقرآن- دومره نالائقه او بې انصافه دی چه داسې زبردست بیان اوشو نو منل پکار وو نو دوی التهه اعتراضونه کوی چه په هیڅ بنده هیڅ کتاب ندې راغلې نوداسوال دوی دیهودو نه زده کړې وو - نوجواب ورته

داسې اوکړه چه استاذان ئې بدنام شی-چه " من انزل الکتاب " - چه په موسیٰ علیه السلام کتاب چا رالیږلې وو-

(92) وَهَذَا كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ ---- صداقة القرآن - دوی دقرآن نه انکار کوی دامناسب ندې قرآن خودوی ته دخیر خودلو دپاره حق کتاب راغلې دې-

(93) وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ---- زجر په تکذیب دقرآن او په انکار چه دداسې بهترین کتاب باره کښې تکذیب اوداسې خبرې کول غټ ظلم دې-

وَلَوْ تَرَى إِذِ الظَّالِمُونَ ---- تخویف او یره چه ددې اعمالو انجام به مو داشی- مال دولت او هغه سفارشیان به مو پکار رانشی دا تر " ماکنتم تزعمون"-(94)

(95) إِنَّ اللَّهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوَى ---- (18)دلیل عقلی نو دغه قیامت درسوایئ نه ځان اوساتئ او پدې دلائلو کښې سوچ اوکړئ-

(96) فَالِقُ الْإِصْبَاحِ ----- (19) دلیل عقلی-

(97) وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ النُّجُومَ ---- (20)دلیل عقلی-

(98) وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَة ----- (21)دلیل عقلی

(99) وَهُوَ الَّذِي أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً ---- (22)دلیل عقلی-هردلیل سره آخر کښې دعوت سوچ فکر اوبیا ایمان ته دې- ترتیب هم دغه شان دې چه اول سوچ او فکر بیا پوهه راشی او بیا ایمان نصیب شی-

(100) وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ الْجِنَّ ---- زجر اورد په مشرکین بالجن والملائکه- چه دې بې انصافو ته ګوره سره ددلائلو نه دالله سره حصه دار جوړوی اوبیا دجناتو نه او دمخلوق نه خومره بې انصافه دی-

سُبْحَانَهُ ---- دعوی دتوحید چه ددوی دشرک رد اوشی-

(101) بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ---- چه داسې ذات سره حصه دار جوړول او نیازولی دادیربې انصافی ده-

(102) ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ ---- نتيجه ددلائلو ثمره دتوحيد چه ددلائلو نه دانتيجه راوتله يعنى دادلائل ددې نتيجې سره بالكل برابر دى نوصرف ديو الله تعالىٰ عبادت اوكړئ دبل چانه-

(103) لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ ---- عظمة دالله تعالىٰ- چه په دنيا كښې دالله تعالىٰ ذات ددې دلائلو نه معلوميږى نور ددنيا سترګې دهغه احاطه نشى كولې نه پدې دلائلو هغه معلوم كړئ-

(104) قَدْ جَاءَكُمْ بَصَائِرُ مِنْ رَبِّكُمْ ---- ترغيب الى القرآن - چه داقرآن زبردست دلائل بيانوى نو راشئ اوفائده ترې واخلې خيرمو خپل دې-

(105) وَكَذَلِكَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ ---- " العقبة الثالثة "دريم امتحان او غونډئ چه داعى په هغې خيژى-تادومره بيان اوكړو اوس به دوى تاته وائى چه " دَرَسْتَ " داډيره ښځوانئ مسئله ده زړه شوې ده چرته نوې خبرې اوكړه-ستاخبره به سپكه خكاره كوى - يا " ممن تعلّمتَ "چه استاذ دِ څوک دې-چه جنګ جوړكړى-نوجنګ به نه جوړوى كنزلې به كوى-خوته كار جارى ساته-

(106) اتَّبِعْ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ ---- دليل وحى څلورم- او ستاجواب چه څه خو دځانه نه وايم بلكه څه دوحى تابع يم ماته الله تعالىٰ داوئيلى دى-څمااستاذ سره ستاسو څه كار ماته خو هغه دقرآن مسئله كړې ده-

(107) وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ ---- زجر په شرک - او تسلى دوى دغه شان شرک كوى نو كه دالله تعالىٰ په زوره ايمان خوښ وې نو دوى به ايماندار كړې وو خوامتحان مقصود دې او تانه به ددوى دانكار تپوس نه كيږى ته څه څوكيدار به دوى نه ئې-

(108) وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ ----- ادب موحدينو ته - چه خبردار دوى به كنځل كوى خو ته كنځل مه كوه نتيجه ئې خرابيږى-

ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ مَرْجِعُهُمْ ---- تخويف-

(109) وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ ---- زجر په مطالبه دمعجزې چه سره ددومره دلائلو دوی بیا هم دمعجزې طلب کوی نو ددوی ایمان ته اراده نشته دې۔

(110) وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ ---- وجه دنه راوړلو دایمان - چه اول ئې بې سوچه انکار کړې وونواوس پرې کلک دی اومهر پرې راغې۔

(111) وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَا إِلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةَ ---- نو اوس که هره معجزه راشی نوایمان نه راوړی ځکه انابت نشته دې او مهرراغلې دې۔

(112) وَكَذَلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا ---- " العقبة الرابعة "-څلورم امتحان چه په داعی راځی چه هرکله دوی په مخالفت داسې کلک شو نو اوس به ستا خلاف ملیان راجمع کوی او کتابونه به راوړی اوفتویٰ به دربانديې لګوی - ددوی به هم بې ایمانه دآخرت ملګری پیداکیږی او په دې به دشاباس آواز خیژی- نو ستا کار به څه وی-

(114) أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا ---- صداقة الکتاب - ته به وائې چه اخواو دیخواکتابونو ته حاجت نشته دې راشئ فیصله به دالله تعالیٰ په کتاب اوکړو عقیده په دې کښې خه واضحه ده -

قرآنٌ سنةٌ لی صیرفیؒبلوت الناس فی هذاالمحک

قرآن او سنت ځمونږه کسوټئ ده پدې مونږ کره او کوټه معلوموو- او شیخ القرآنؒ به فرمائیل چه :

نیست حجت قول ہیچ پیر قول احمد فعل احمد راہگیر

وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ ---- دلیل نقلی په صداقة دقرآن - چه داکتاب خوستاسو فلانکې فلانکې مولوی صاحب هم منی داسې نه ده چه نه منی څوک-

(115) وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا ----- تاسو په نورو کتابونو نسخ راولئ دکتاب الله په کتاب الله نسخ نشی راتلې-

(116) وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ ---- زجر چه دوی وائی چه داډیر دی نو ورته اوایه چې ډیربه ګمراه وی ته به دګمراهو پسې ځئ-

(117) إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ ---- آخرى بيان پدې ختم کړه چه د هدايت والو او په ګمراهو څما رب خه پوهيږی-(اوله حصه په رد دشرک اعتقادی ختم شوه-)

## دويمه حصه

(118) فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ ---- ددې ځائې نه دويمه حصه په رد شرک فعلی کښې- چه عقيده اوزړه دشرک نه پاک کړئ-نودغه شان عمل هم دشرک نه پاک کړئ-او شرکی اعمال پريږدئ- چه هر کله د علم غيب او تصرف صفت د الله تعالیٰ او د عبادت او د دعاء مستحق هغه دے نو دغه شان د حل او دحرمت حقدار هم هغه اوګنړئ خودساخته تحتيمات پريږدئ او "فکلوا ---- "

فَكُلُوا مِمَّا ---- رد په تحريمات العباد باندې- دځان نه تحريمات مه کوئ دالله په نوم حلال شوی خورئ دضرر نه مه يريږئ-

(119) وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا ---- زجر اورد په تحريمات العباد- قرآن تحريمات دالله تعالیٰ بيان کړی دی-نو تاسو ته څه حاجت دې چه ځان نه تحريمات کوئ-

وَإِنَّ كَثِيرًا ---- داهم زجر چه خلق دځان نه تحريمات کوی نو هغوی سره څه دليل نشته-

(120) وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ ---- تلقين پريخودلو دشرک اعتقادی او فعلی ته-

إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ ---- تخويف-

(121) وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ ---- رد په نذورالعباد چه په کومو ښاروو صرف دالله نوم نه وی اغستې ورسره دغيرالله نوم هم وی نو هغه حرام دی-

وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ ---- دشرک فعلی معلّم شيطانان دی انسی اوجنی ددې دلائل ورته خائی- نو د هغوی اطاعت او منل په دغه خبرو کښې دې يعنې شرک صرف د بل عبادت نه دے بلکه دا هم شرک دے-

(122) أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ ---- ترغيب الی القرآن-دشيطان دوسوسو په ځائ راشئ قرآن ته چه دحيات اونور کتاب دې-ددې نه علاوه ظلمت دی او موت دې-

(123) كَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَابِرَ مُجْرِمِيهَا ---- " العقبة الخامسه " :- پنځمه ډيرئ اوامتحان چه کله دِ دشرک فعلي رد اوکړو نو اوس به امتحان راځی - دادمخکښې نه سخت دي- چيرمينان او ملکانان به دِ خلاف شی-دزيارتونو ټهيکداردان هغه به اوس ستاخلاف دقتل سازشونه کوی او دامنجوران به درپسې هغه راوچتوی-

وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنْفُسِهِمْ ---- تسلی :

لاتـكـن فـی ضـيـق مـمـا يـمـكـرون — آگ انکی انکو کردے گی بون

(124) وَإِذَا جَاءَتْهُمْ آيَةٌ ---- زجر په اعراض دقرآن چه ته قرآن بيان کړې نو دوی دمعجزو طلب کوی-

سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا ---- تخويف دوی چلونو او مکرونو سره ستاشان خکته کول غواړی نو دوی به ذليله شی-

(125) فَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ أَنْ يَهْدِيَهُ ---- بشارت - دانابت والو ته اللہ تعالیٰ شرح صدر اوکړی-

وَمَنْ يُرِد ---- زجراوتخويف - ضدی ته دحق مسئله منل داسې ګران شی لکه آسمان ته ختل نو ګند کښې پاتې شی او ګند نه بچ نه شی-

(126) وَهَٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا ---- ترغيب الی القرآن - راشئ داقرآن راواخلئ چه اللہ تعالیٰ ته اورسئ او دګند نه بچ شئ-

(127) لَهُمْ دَارُ السَّلَامِ عِنْدَ رَبِّهِمْ ---- بشارت دقرآن منونکی به جنتيان شی او هر چه نه منونکی دی نو:

(128) وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ---- تخويف اخروی-

(129) وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ الظَّالِمِينَ بَعْضًا ----- " العقبة السادسة " : شپږم امتحان دا آخری امتحان- چه کله دشرک فعلي رد کوې نو اوس به پيران او ملنګان حکّامو-افسرانو ، بادشاهانو ته خبره اوړی چه داسړې ملک خرابوی فساد راولی او خلقوکښې اختلاف خوروی په حکومتی طريقې ستا دختمولو کوشش کوی - نو ستاجواب په

(135) كنبې دا به ستا بهادری چه ځه خپل بیان اوکار نه پریږدم آخری کامیابی به ګورئ چه دچاده-

(130) يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ ---- تخويف اخروی چه دحق پرست خلاف کوی نودابه ئې انجام شی-

(131) ذَلِكَ أَنْ لَمْ يَكُنْ رَبُّكَ ---- حکمت دبيان - چه بیادانه وائی چه مونږته پته نه وه-دابیان ځکه کوو او ټول حالات درته مخې ته کوو- هريوته به دخپل عمل سزا ملاویږی-

(133) وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ ---- تخويف دنیوی ستاسو دعبادت الله ته حاجت نشته اوس راشئ اومنئ ګنی تباه به شئ-اوبیا به ځان نشئ خلاصولې-

(135) قُلْ يَا قَوْمِ اعْمَلُوا ---- دداعی شجاعت اویره ورکول- داسې بیان اوشو دنتیجو نه خبرشوې ځه خپل کار نه پریږدم او تاسو کامیابیدلې نشئ-

(136) وَجَعَلُوا لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ ---- رد په نذورالعباد او دهغې مختلف صورتونه ذکرکوی-چه سره دداسې بیان هم ددوی داعمل دې-

(137) وَكَذَلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ---- دابل صورت اودهغې رد چه دشرکاؤ دپاره اولاد وژل ورته هم خه ښکاری-

(138) وَقَالُوا هَذِهِ أَنْعَامٌ ---- رد دتحریمات العباد - چه دځان نه داسې تحریمات کوی او دهغې مختلف صورتونه ذکرکوی - تقریباً ځلورصورتونه ورله ذکرکوی-

هَذِهِ أَنْعَامٌ ---- یوصورت -

وَأَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا ---- دويم صورت

وَأَنْعَامٌ لَا يَذْكُرُونَ اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا ---- دريم صورت

(139) وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَذِهِ الْأَنْعَامِ خَالِصَة لِذُكُورِنَا ---- ځلورم صورت

(140) قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا أَوْلَادَهُمْ ---- زجر هم په تحریمات العباد او هم په نذور العباد چه داګمراهی او تاوان دې-

(141) وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَ جَنَّاتٍ ---- (24) دليل عقلي- دادليل درته راوړو ددې دپاره چه فصل پيدا کړې الله دې او تاسو منختې دبل چامنئ-
وَلَا تُسْرِفُوا ---- رد په تحريمات العباد او نذورالعباد چه دالله حلالو او پيداشوو کښې دځان نه حرمتونه او دبل په نوم منختې مه کوئ-
(142) وَمِنَ الْأَنْعَامِ حَمُولَةً وَفَرْشًا ---- (25)دليل عقلي - يعنى څاروى هم دالله تعالىٰ پيدا کړى ټول اقسام نه تاسو څنګه حرمتونه دځان نه کوئ-دا دليلونه دلته راوړل ځکه چه دا نذوراو تحريمات دځان نه اکثر دې څيزونو کښې وو-
كُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ ---- رد په تحريمات العباد-
(143) قُلْ آلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الْأُنْثَيَيْنِ ---- مطالبه ددليل عقلي دمشرکانو نه - چه پدې تحريماتو تاسو دليل عقلي راوړئ-چه دحرمت سبب څه دې چه تاسو څه حراموئ اوڅه نه- نو چه داکوم حراموئ نوپدې کښې دحرمت سبب څه دې-
نَبِّئُونِي بِعِلْمٍ ---- مطالبه ددليل نقلي- چه څه عقلي نشته نو نقلي راوړئ نودوحى خو احتمال نشته په تاسو وحى نشى راتلې-
(144) أَمْ كُنْتُمْ شُهَدَاءَ ---- ددليل وحى نفى-
فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى ---- زجر چه بې دليله چه هيڅ قسمه دليل نشته او بيا هم داسې حرمتونه کوى نو لوئې ظالم دې-
(145) قُلْ لَا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ ---- تحريمات الٰهيه او رد په تحريمات العباد سره درد دنذورالعباد نه په " اهلّ " سره - مطلب ستاسو خپل مخترعات پريږدئ بې دليله دى- او راشئ دقرآن بيان اوکورئ-
(146) وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا ---- جواب دسوال - يره يهودو چه ددې نه علاوه حرمتونه کړى وو- هغه مليان وو معلوميږى دااختيار شته دې - نو جواب هغه مونږ دسزا په طور تحريم کړې وو دائمى نه وو-

(147) فَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقُلْ رَبُّكُمْ ---- تخويف چه اوس هم نه منی نو رب ډير مهربانه دي۔نو عذاب ئې هم څه سره سم ندې۔
(148) سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ----- زجرپه ناکاره قول ۔ مشرک سره دليل نه وو چه خله ئې کهولاؤ کړه نو دائې اووې دالکه دده دليل نو پدې خبره ئې زوری چه دوئ وائی که داکار دالله خوښ نه وې نو مونږله به ئې سزا راکړې وه۔او مونږبه ئې ترې لرې کړی وو نوپدې ئې زوری او رټی ئې۔
كَذَلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ---- پخوانی چه په شرک تباه شوی نودادليل دهغوی هم وو نوولې تباه شو۔
قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ مِنْ عِلْمٍ ----- يعنى څه دليل نشته خو صرف اتباع دظن ده۔
(149) قُلْ فَلِلَّهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ ---- اصل دليل دالله تعالیٰ دې تاسو سری هيڅ دليل نشته۔
(150) قُلْ هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمُ ---- مطالبه ددليل دمشرکانو ۔ داداميانو خبرې دی مليان راولئ چه په دليل خبره اوکړی۔
بربهم يعدلون ۔ په سر دسورة اوله حصه کښې هم داسې الفاظ راوړی وو۔ مطلب مشرکان هم په عقيده کښې او هم په عمل کښې غيرالله دالله سره برابروی۔
(151) قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ ---- تحريمات دالله تعالیٰ او وصيت دالله تعالیٰ نبی عليه السلام او مومنانو ته۔ چه الله تعالیٰ ددې څيزونو مخالفت حرام کړې دې۔چه داسې مو اووې نو هرڅه لره ورغې هم اوامرو له او هم نواهيو له چه مخالفت ئې حرام دې نو ددې اتباع اوکړه دادمصالح العباد دپاره الله تعالیٰ حکم اوکړو چه پدې به مو اصلاح راځی داتر " تتقون " (153) پورې۔
(154) ثُمَّ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ ---- دليل نقلی ۔ پدې مسائلو کښې څه تنها نه يم داسې مسائل دموسیٰ عليه السلام کتاب کښې هم وو۔توحيد اورد دشرک اعتقادی او فعلی۔
(155) وَهَذَا كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ ---- دليل وحی او صداقة دقرآن او داڅه دځان نه وايم پدې داسې بهترين کتاب راغلې دې په رد دشرک اعتقادی او فعلی۔

(156) أَنْ تَقُولُوا إِنَّمَا أُنْزِلَ الْكِتَابُ ---- احسان دالله په راليږلو دقرآن باندې۔
(157) فَقَدْ جَاءَكُمْ بَيِّنَة مِنْ رَبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَة ---- صداقة دقرآن۔
فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ---- زجر اوتخويف په اعراض دقرآن چه سره ددې چه دومره بهترين درحمت كتاب دې او انكار تري كوى نو لوئې ظالم دې او دوزخ به ئې ځائې شى۔
(158) هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا ---- تخويف دنيوى - چه نه منئ نو دعذاب انتظار دې-نودعذاب په وخت كښې ايمان قبول ندې۔
(159) إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ ---- تخويف اخروى دمشركينو ډلې مراد دى -
(160) مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَة ----- بشارت او فضل الٰهى چه توحيد قيمتى څيز دې دهرڅه قيمت پرې سوا شى-نو ستا دنيكۍ قيمت به سواكړى نو توحيد اومنه۔
وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَة فَلَا يُجْزَى إِلَّا مِثْلَهَا ---- تخويف اخروى او عدل الٰهى۔
(161) قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي ---- دليل وحى اواعلانات دنبى عليه السلام نه او اظهار دعقيدې۔ داټول اعلانات دليل وحى دې۔
(162) قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي ---- رد دشرك فى العبادة۔
(164) قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَبْغِي رَبًّا ---- رد دشرك فى التصرف - دااعلانات دتوحيد اوكه چه تاسو څوك معبود نكړى۔
وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ---- تخويف اخروى۔
(165) وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ ---- ترغيب - راشئ دنيا ته دپاره دامتحان راغلى يئ نو پوره بيان اوشو نو اومنئ۔
إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ - تخويف كه مو اونه منله نو عذاب۔
وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ - بشارت - كه مو اومنله نو بشارت او مغفرت۔

## حاصل دسورة

اې خلقو ټول دخدائتوب صفات يو الله تعالیٰ له اومنئ-په هيڅ يو صفت کښې دهغه شريک او حصه دار نشته-نه په تصرف کښې، نه په علم کښې، نه په عبادت کښې او نه په دعاء کښې-او داخبره دعقلی دليلونو نه ثابته ده او دوحی نه ثابته ده او ابراهيم عليه السلام پرې مناظره کړې وه او دټولو انبياؤ دغه عقيده وه نو تاسو هم خپلې عقيدې دشرک اعتقادی نه پاکې کړئ-او اې داعی بيان اوکړه امتحانات به راځی خومناسب جواب ورکوه- او چه لکه عقيدې دشرک نه پاکول پکار دی نو دغه شان عمل هم پاک کړئ په خپله خوخه تحريمات مه کوئ او نه دمخلوق په نوم منختې کوئ-داشيطانی تعليم دې- دقرآن تعليم دعقل او نقل په رنړا کښې هغه ددې خلاف دې تاسو سره پدې هيڅ قسمه دليل نشته- محبوب سبحانی ﷺ هم ددې اعلانات کړی دی نودعذاب دراتلو نه مخکښې اومنئ - دادنيا دامتحان ده که مو اونه منله نوالله دعذاب والا دې او که مو اومنله نومغفرت به اوکړی-

## امتيازات

(1)الادلةالکثيرة- ډير دلائل-

(2)رد په ټولواقسامو دمشرکينو-

(3)مناظره دخليل عليه السلام د مشرکانو سره-

(4)العقبات الستة - شپږامتحانات چه په داعی راځی ددعوت ميدان کښې -

(5)دمشرکانو ناشنا تحريمات اودهغې رد-

(6)دمشرکانو نه ددليل مطالبه " قل أٰذكرين" په تحريم اختراعی-

(7) " ولاتسبوا الذين " ادب دبيان-

(8) " ان تطع اکثر من فی الارض" جمهوريت په خطا دې-

(9) وصيت دالله عبادو ته-(151)-(10) اعلانات دنبی عليه السلام دطرفنه -

**تمت سورة الانعام الذی هومن الله فضل وانعام- بعون الله الملک ذی الکرم والاحسان-**

**نن څه ډیرخفه یم سحر چه " وحاجه قومه " آیت مِ لیکلو نو زبیر راغې او فائل ئې راوړو او ګوتې ئې رانه اولګولې داظاهری دپاتې کیدو دلیل وی-خوځماداالله تعالیٰ نه امید دې - ماسره د مورډیرفکر دې -الله دِ دهغې تسلی اوکړی او ان شاء الله تعالیٰ چه تسلی به ورله کوی- خدایه هغې ته صحت عافیت او برکتی عمر نصیب کړې-**

18ذوالقعده 1433 ه - 04 اکتوبر 2012 ء - 07 : 04 **عصر مینګوره جیل --ابوحماس مجتبیٰ عامر بن عبد المتین-**

نزولا (٣٩) مصحفا (٧) — سورة الاعراف مكية — ركوعات (٢٤) ايات (٢٠٦)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة الاعراف

سورة الاعراف مکی سورة دې په نزول کښې يوکم څلويښتم(39) نمبردې- پس دسورة ص نه او په ترتيب دسورتونو کښې اووم سورة دې پس دسورة الانعام نه-

## ربط دمخکښې سورة سره

ربط دسورة الاعراف دسورة الانعام سره په ګڼ ووجوهو باندې دې- ځنې دهغې نه :

**اوله وجه** : په سورة الانعام کښې مسئله مدلَّل شوه يعنی رد دشرک اعتقادی او فعلی اوشو په دلائلو سره نو اوس اعراف کښې وائی چه دامسئله اورسوه تسلی ساته ته کامياب ئ-

**دويمه وجه**: په سورة الانعام کښې په توحيد دلائل عقليه وو ، نقلی کم وو نو په سورة الاعراف کښې نقلی زيات دی او عقلی کم دی-نودلته پرې نقليه ذکرکوی چه تکميل اوشی-

**دريمه وجه**: مخکښې سورة کښې عقبات ستة بيان شو شپږ امتحانات نواوس دې سورة کښې دامتحاناتو والا بيانوی چه په چاامتحانات راغلی وو انبياء کرام عليهم الصلوات والسلام-

**څلورمه وجه**: چه دسورة الانعام په آخر کښې " هل ينظرون " تخويف دنيوی بيان کړې وو (158)کښې نودلته نمونې دتخويف بيانوی دمنکرينو سابقينو-

**پنځمه وجه** : خاتمه دسورة الانعام کښې اووې " وهوالذى جعلكم " نوآخرى آيت کښې " سريع العقاب " او " غفور " نودلته ددواړو نمونې ذكركوى چه چاله عذاب ورکړې وو او چاله ئې نجات ورکړې وو-

**دعوی دسورة**

دسورة مركزى مسئلې چه بيانوى نوهغه درې مسئلې دى-(1) اول مسئله تسلی نبی عليه السلام ته چه دامسئله په استقلال بيانوه او وې رسوه چه کوم تكاليف راځى برداشت ئې کړه خفه کيږه مه-(2) آيت کښې - (2) دويمه مسئله اتباع دماانزل اوکړه-دځان نه تحريمات وغيره مه كوئ(3) آيت کښې . (3) دريمه مسئله چه كارساز متصرف يو الله تعالىٰ دې -نوحاجاتو کښې صرف هغه رامدد کړئ-(29) آيت کښې او (55)کښې- پدې دريو واړو مسئلو به واقعات ذكر كوى - دادرې مسئلې سورة په زبردست انداز بيانوى-

**خلاصه دسورة**

سورة الاعراف خپلې درې واړه مسئلې ذكركوى او په هغې واقعات ذكركوى- انداز بيان دسورة هغه داسې دې-چه ابتداء نه تر " لقوم يشكرون " (58) پورې درې واړه دعوې ذكر كوى-اول 2 آيت کښې اول دعوىٰ چه تسلی ده - 3آيت کښې دويمه دعوىٰ چه اتباع دماانزل اوکړئ- بيا د 4 نه تخويف دنيوى او اخروى سره دمختصر بشارت نه 8 کښې - بيا د 11 نه تر 25 پورې واقعه دابليس او آدم عليه السلام په دويمه دعوىٰ چه اتباع دماانزل اوکړئ-شيطان اونه کړه نو مردود شو - د26 نه رد په شرک فعلی په انعام کښې اول رد دشرک اعتقادى بيا دفعلی او دلته عكس دې-اتباع دما انزل اوکړئ او شرک فعلی مه كوئ-داتر 33 پورې - د 34 نه تر 53 پورې تفصيلی تخويف او بشارت چه چا اتباع دما انزل اوکړه نو هغوى ته بشارت او چه چا اونکړه نو هغوى ته يره-د 54 نه دلائل عقليه په توحيد په دريمه دعوىٰ باندې چه رد دشرک اعتقادى كارساز

مددگار هغه دي نوحاجاتو كښې هغه رامدد كړئ-55 كښې دعوى بيا دلائل دا تر 58 پورې-بيا د 59 نه واقعات په دعوو ذكر كوى-چه نوح ، هود، صالح شعيب عليهم السلام هغه پدې راغلى وو-چه حاجت سركونكې صرف يو الله تعالىٰ دې او دهغوى مخالف الله تعالىٰ غرق كړى وو او د 80 نه تر 84 پورې واقعه دلوط عليه السلام په اتباع دماانزل باندې- داواقعات تر 93 پورې ذكركوى- بيا د 94 نه تر 102 پورې تخويف دنيوى تفصيلاً- د 103 نه واقعه دموسىٰ عليه السلام په اول مسئله باندې چه تسلى ساته په موسىٰ عليه السلام څومره مصائب راغلى وو هغه برداشت كړى وونو ته هم برداشت كړه او مسئله اورسوه لكه چه هغه رسولې وه-تر 162 پورې داواقعات په طريقې دلف نشر غير مرتب سره ذكركوى-اجمال كښې چه دعوې وې ږ نو اول تسلى ، بيا اتباع او بيا توحيد او رد دشرک او واقعات اول په اتباع دماانزل او بيا په توحيد او بيا په تسلئ- داځكه چه په اجمال كښې تسلى مخكښې كړه ځكه انعام ئې مخكښې كړو چه بيان ته تيارشى نو اتباع دماانزل شروع كړى نو ماانزل كښې مسئله دتوحيد ده-نوتفصيل كښې چه كله توحيد بيانول شروع كړى نو خلق به بد رد وائى نو اوس به دتسلئ ضرورت راځى- نو ځكه واقعه دموسىٰ عليه السلام -او تسلى روستو كړه-د 163 نه تر 174 پورې تخويفات ذكركوى او دنااهلو تذكره چه هغوى ددنيا دوجې توحيد پريخودلو- د 175 نه يو بل مثال چه هغه اتباع دماانزل نه وه كړې د 177 - بيا د 178 نه تر آخر تر سورته آيتونه ددرى واړو دعوو سره متعلق لكه چه په سر كښې وو-

په سوره كښې د ګڼړو اقوامو مهلكو تذكره كوى چه هغوى تباه شوى وو-تقريباً دولس مثالونه ذكركوى- (1) واقعه ابليس 11 (2) واقعه قوم نوح عليه السلام 59 نه 64 پورې - (3) عاديان 65 نه تر 72 پورې- (4) ثمود 72 تا 79 (5) قوم لوط 80نه 84 (6) اهل مدين 85 تا 93 (7) قوم فرعون 102 نه تر 136 (8) قوم يعكفون 138 ، 139 (9) عابدين دسخى 148 تا 152 (10) المبدّلين لحكمهٖ والمحرّفين للكتاب- 161 ، 162 (11) اصحاب السبت 162 تا 166 (12) نباالذى اتيناه اٰيٰتنا --- 175 -

په هره واقعه دانبياؤ كښې تشجيع فى التبليغ او تسلى هم شته اګر چلولې شوې ديو مقصد اصلى دپاره وى خو دغه ترې هم معلوميږى-

## مقاصدالايات وتناسبها

(2) كِتَابٌ أُنْزِلَ إِلَيْكَ ---- ذكر داول دعوى دسورة - مسئله دتوحيد په نرتوب اورسوه چه كوم مصائب راځى نوهغه برداشت كړه-

(3) اتَّبِعُوا مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ ---- ذكرددويمې دعوې دسورة - چه اتباع دماانزال اوكړئ او دځان نه تحريمات مه كوئ-

(4) وَكَمْ مِنْ قَرْيَة ---- نه تر ظَالِمِينَ (5) پورې تخويف دنيوى - چه ستاخلاف كوى او تاته تكليف رسوى او اتباع دماانزل نه كوى نو دابه ئې حال شى په دنيا كښې-

(6) فَلَنَسْأَلَنَّ الَّذِينَ ---- تخويف اخروى- چه دابه ئې دآخرت حال شى چه اعمال ئې دالله تعالىٰ نه پټ نه دى او تپوس به ترې كيږى-

(8) فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ ---- بشارت اخروى - چه چا اتباع دماانزل اوكړه نو دهغه انجام به دا شى-

(9) وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ ---- تخويف اخروى سره دوجې دعذاب نه چه دما انزل نه انكار وو-

(10) وَلَقَدْ مَكَّنَّاكُمْ فِي الْأَرْضِ ---- ترغيب اتباع دداعى اود ما انزل ته چه داعى كومه مسئله كوى نو دا اومنئ ځكه مادرله داكړى دى-

(11) وَلَقَدْ خَلَقْنَاكُمْ ---- دااوله واقعه په دويمه دعوى باندې-چه اتباع دما انزل اوكړئ،داعى چه كوم بيان كوى ګنى نو داسې مردود به شئ چه لكه شيطان چه مردود شو او مطرود شو نو دشيطان داتباع نه ځان بچ كړئ ځكه هغه قسم كړې وو چه دوى به دماانزل نه اړوم 16 كښې - نو كه دهغه په لار لاړئ تاسو به هم داسې شئ 18 كښې

- لکه دآدم علیه السلام عاجزی اوکړئ او ندامت- دا واقعه تر وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ (25) پورې ذکرکوی-
وَلَقَدْ خَلَقْنَاكُمْ ---- حکم دسجدې آدم علیہ السلام ته او دابلیس دهغې حکم نه انکار-
(12) قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ ---- دسجدې دنه کولو سبب هغه استکبار-
(13) قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا ---- دما انزل دانکار کولو دوجې نه دابلیس مردود کیدل-
(16) قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ ---- دابلیس دآدم علیه السلام داولاد دګمراه کولو او داتباع دماانزل نه داړولو مکمل اراده او قسم کول چه مهلت ئې دې له غوختلې وو-
(18) قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَدْحُورًا ---- مردودیت دابلیس او داتباع دهغه-
(19) وَيَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ ----- اکرام دآدم علیہ السلام او امتحان-
(20) فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطَانُ ----- دشیطان وسوسه-
(22) فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا ---- دآدم علیه السلام لغزش او دالله تعالیٰ تنبیه ورکول-
(23) قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا ---- دآدم علیه السلام زاری او توبه- نو تاسو هم زاری او توبه اوکړئ-
(24) قَالَ اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ ---- دنیا دامتحان میدان-
(26) يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا ----- رد دشرک فعلی او په تحریمات العباد- تاسو دشیطان حال اولیدلو نوهغه شیطان هغه ستاسو دګمراه کولو عزم کړې دې نوتاسو د هغه په وجه دځان نه تحریمات کوئ نوخبردار په ځان جامې او لباس مه بندوئ لکه چه مشرکینو به طواف په بربنډه کولو دشیطان په قدم قدم مه کیږدئ -
(27) يَا بَنِي آدَمَ ---- تنبیه په عداوت دشیطان باندې - چه دا ستاسو آبائی دشمن دې او خطرناک دې دهغه طرفنه راځی چه ستاسو ګمان هم نه وی او وینئ هم نه تاسو ته بې دینی ددین په شکل ښکاره کوی نو دهغه اتباع نه ځان بچ کړئ-

(28) وَإِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً ---- زجر په شرک فعلی يعنی په تحريمات العباد او رد په دليل دمشرکانو- دادشيطان په تعليم داسې خبرې کوی چه داطواف عرياناً څمونږدپلار نيکه طريقه ده او چه مونږالله نه بندوی نو معلوميږی هغه پرې خوشحاله دي-
قُلْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ ---- سره جواب کوی-
أَتَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ ---- زجر په غلطو او بې دليله خبرو-
(29) قُلْ أَمَرَ رَبِّي بِالْقِسْطِ ---- دريمه دعوی دسورة او دليل وحی په توحيد - چه څمارب ددې حکم په " لااله الاالله "کارساز ومددګار يو الله تعالیٰ دې نوصرف هغه رامدد کړئ او شريک حصه دار ورسره مه جوړوئ-او څه داخبره دځان نه نه کوم داڅما رب ماته کړې ده
كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُودُونَ - ددې مسئلې جواب به ورکوی الله تعالیٰ ته به ځئ-
(30) فَرِيقًا هَدَى وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلَالَةُ ---- نوچه دامسئله بيان شی نوخلق دوه ډلې شی داڅنې دشياطينو په تابعداريئ روان شی-
(31) يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ ----- رد په تحريمات العباد - نو دشيطان په يارانه کښې دځان نه تحريمات مه کوئ لباس کښې هم او په خوراک کښې هم داتحريمات اسراف دې-داختم کړئ-
(32) قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ ---- زجر په تحريمات العباد-چه تاسو ته پدې تحريمات حکم چا کړې دې چه الله تعالیٰ ندی حرام کړی نوبل څوک حرامونکې شته دې؟
(33) قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ ---- تحريمات الله - راشئ الله تعالیٰ داحرام کړی دی نو دِ سره هم رد په تحريمات العباد او په شرک فعلی راغې- چه ولې دځان نه بې دليله تحريمات کوی داخو په تاسو حرام دی چه داسې کار به نه کوی نو ولې کوئ-
(34) وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ---- جواب دسوال - چه يره دوی داسې کارونه او خبرې کوی نو عذاب پرې ولې نه راځی جواب دعذاب وخت مقرر دې او تخويف هم شو-

(35) يَا بَنِي آدَمَ إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِنْكُمْ ---- بشارت - چه داخبره مونږ آدم علیه السلام ته کړې وه چه روستو بچو ته چه انبیاء به وائی چه چا اتباع دماانزل اوکړه او ځان ئې سم کړو نو دهغه به دانتیجه شی-

(36) وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ---- تخویف اخروی - چه اتباع اونکړی نوا نجام ئې اوګوره-

(37) فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ---- زجر چه اتباع نه کوی نو لوئې ظالم دې-نو چه کومه سزا ورله په علم الٰهی کښې او لوح محفوظ کښې مقرر ده هغه به ورته ملاؤ شی-

حَتَّى إِذَا جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا --- ددې نه تخویف اخروی تر نَجْزِي الظَّالِمِينَ (41) پورې - چه اتباع اونکړی او شرک اوکړی نودابه ئې انجام وی-

(38) قَالَ ادْخُلُوا فِي أُمَمٍ ---- دعابدینواومعبودینو په دوزخ کښې جهګړه تر تَكْسِبُونَ (39) پورې-

(40) إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ---- سبب دوزخ ته دتللو او جنت ته تلل محال-

(42) وَالَّذِينَ آمَنُوا --- بشارت اخروی چه اتباع اوکړی نودهغوی دعمل میوه-

لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا ---- دفع دوهم چه دجنت اعمال څه دوس نه بهر ندی-داتر تَعْمَلُونَ (43) پورې-

(44) وَنَادَى أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ----- اول مکالمه د جنتیانو د دوزخیانو سره ، دجنتیانو ددوزخیانو دذلت دپاره آواز کول- ـ

فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ ---- دفرشتو آواز اودظالمانو لعنت او اسباب دلعنت- دا به تخویف هم شی چه ځان ددې دوزخ نه اوساتئ-

(46) وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ---- تذکره داعراف والو او دهغوی دجنت طمع او ددوزخ نه پناه-

(48) وَنَادَى أَصْحَابُ الْأَعْرَافِ رِجَالًا ---- دویمه مکالمه د اعراف والو د وزخیانو سره ، داعراف والو دوزخیانو ته آواز او هغوی له پیغور ورکول-او زورنه ورکول په استهزاء دحق پرستو-

(50) وَنَادَى أَصْحَابُ النَّارِ أَصْحَابَ الْجَنَّة ---- دريمه مكالمه د دوزخيانو دجنتيانو سره او د هغوی نه څه غوختل-
(51) الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَهْوًا وَلَعِبًا ---- زجر اوتخويف - چه پدې وجه جنت حراميږی چه اتباع اونکړی نو يا بې انصافه اوس پريږدئ ګنی دوزخی بی شئ-
(٥٢) وَلَقَدْ جِئْنَاهُمْ بِكِتَابٍ ---- ترغيب الی القرآن - نو دغه مخکښې اعمال چه نافرمانی ده دا پريږده او دداسې كتاب اتباع اوكړه چه هدايت او مهربانی څنګه ده درته اعمال دكاميابئ او ناكامئ خائی-
(53) هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا تَأْوِيلَهُ ---- تخويف اخروی- چه ددې قرآن اتباع اوس نه كوی نو كله به كوئ دقيامت په ورځ خو بيا فائده نه كوی او واپس كيدل هم نشته دې-
(54) إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي ---- دليل عقلی په توحيد- چه دقيامت نه مخكښې تيارې اوكړئ او كارساز مددګاراوبركتونه وركونكې يوالله اوګڼړی داخه ګرانه خبره نده اوګوره دا كارونه تاسو له ځوک كوی-
(55) ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَة ---- دعوی دتوحيد دريمه دعوی دسورة ددې دليل نتيجه داده چه يو الله تعالیٰ رامددكړئ- شرک فساد دې نو دا مه كوئ-
(57) وَهُوَ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ ---- دليل عقلی -
كَذَلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتَى ---- تفريع دقيامت- چه دا هم ددليل نه ثابته شوه-
(58) وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ ---- دزمكې دوه قسمه - نو لكه زمكه كښې داقسمونه نو زړونو كښې هم دوه قسمه ځنې قبول كړی او ځنې قبول نه كړی-لكه دراروانو واقعاتو نه په معلوم شی چه څوک قبول كړی او څوک نه- شكر ګزار فائده اخلی-

*باران كه در لطافت طبعش خلاف نيست — در باغ لاله رويد ودر شور بوم وخس*

ترجمه: دباران دمزاج نه دا خبره خلاف نه ده چه باغ كښې خكلی ګلونه ګل لاله زرغون شی او په خوره ناكه زمكه كښې سخا بوټی-

(59) لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ ---- اوله واقعه په دریمه دعوی- دامسئله چه صرف اللّٰه تعالیٰ رامدد کړئ او هر قسم شرک پریږدئ دا ناشنا نده پدې باندې نوح علیه السلام خپل قوم پدې مسئله راغلې وو-اوداترې هم معلومیږی چه سره دتکلیفونو هغه رسولې وه نو ته هم اورسوه او دهغه مخالف تباه شوی وو نو ستامخالف به هم تباه شي- نو دریمه دعوی پکښې اصل ده او نورې ترې تبعاً معلومې شوې-

(59) يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ ---- دنوح علیه السلام دعوت-

إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ ---- تخویف په صورت دنافرمانئ کښې -

(60) قَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ ---- انکار دسردارانو او معتبرو خلقو-

(61) قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلَالَةٌ ---- دنوح علیه السلام جواب دخیر خواهئ په انداز-

(64) فَكَذَّبُوهُ فَأَنْجَيْنَاهُ ---- دقوم تکذیب او تباهی-

(65) وَإِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ---- دویمه واقعه دهود علیه السلام په دریمه دعوی چه هود علیه السلام هم پدې مسئله راغلې وو نورې دعوې ترې ضمناً معلومه شوې- نور په واقعاتو کښې آیتونه مربوط وی خودپیغمبر بیان وی دقوم انکار او دپیغمبر په خیرخواهئ انداز سره جواب دی- اوآخر کښې دپیغمبر اودایمان دارو نجات او د نه منونکو تباهی-

(73) وَإِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا ---- دریمه واقعه دصالح علیه السلام په دریمه دعوی باندې- دقومونو انکار او تباهی تر " وَلَكِنْ لَا تُحِبُّونَ النَّاصِحِينَ "(79) پورې-

(80) وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ ---- څلورمه واقعه په دویمه دعوی چه اتباع دماانزل اوکړئ او دشیطان اتباع مه کوئ داسې به تباه شی لکه قوم لوط چه تباه شو هغوی اتباع دماانزل نه وه کړې-داللّٰه محرماتو سره دحرامو معامله اوکړئ- داتر (84) پورې-

(85) وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ---- څلورمه واقعه متعلق ددریمې دعوې سره چه شعیب علیه السلام هم دامسئله کړې چه " اعبدوااللّٰه " -دقومونو انکار او تباهی- دانورې

دعوې ترې نه ضمناً معلوميږی-داواقعه " عَلَى قَوْمٍ كَافِرِينَ "-(93) پورې - هره واقعه ورسره تخويف هم شو-

(94) وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَة ---- ابتلاء بالنقم - او التفات دې امت ته - دا تفصيلی يره ذکرکوی چه داعی راشی بيان اوکړی او بيا پرې خه ورځ راولی نو دوی له عبرت اغستل پکار وو نو دادوی دژوند اثار چرهاؤ ګنړی وائی دا راځی الله تعالیٰ ته توجه نه کوی نو عذاب راشی نو په تاسو به هم عذاب راشی او بچ کيدلې نشئ- نويره اوکړئ او سم شئ-او چه نه يريږی نو تاوانی دې (99) کښې - او نمونې او دعوت دعبرت ورته ذکرکوی اوعذاب په 101،102 کښې دهغه چا دپاره چه چا دانبياء نه انکار کولو او دالله لوظ نه پوره کولو نو داټول تخويف دنيوی دې-

(103) ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ مُوسَى ----- شپږمه واقعه دموسیٰ عليه السلام متعلق داولې دعوې سره- چه تسلی ساته په بهادرئ مسئله اورسوه- لکه چه موسیٰ عليه السلام تکاليف برداشت کړی وو دهر طرفنه مصيبت راغلې وو هغه ئې برداشت کړې وو نو هغه زړه نه وو تنګ کړې-نو ته هم زړه مه تنګوه-اوتکاليف برداشت کړه-

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ مُوسَى ---- په اول د واقعه کښې دټولې واقعې خلاصه په لنډو الفاظو سره-

(104) وَقَالَ مُوسَى يَا فِرْعَوْنُ ---- اوله معرکه دموسیٰ عليه السلام دفرعون سره-دفرعون دطرفنه مصائب برداشت کول- داتر آيت (137) پورې-

وَقَالَ مُوسَى ----- د موسیٰ عليه السلام فرعون ته دعوت او خپل منصب خودل-

(106) قَالَ إِنْ كُنْتَ جِئْتَ بِآيَة فَأْتِ بِهَا ---- دفرعون مطالبه دمعجزې-

(107) فَأَلْقَى عَصَاهُ ----- دوه معجزې خودل يو ديرې او بله دبشارت-

(109) قَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ ---- دفرعون داسمبلئ او پارليمنټ دموسیٰ عليه السلام باره کښې جرګه اوخيال او د مقابلې او د دباولوتدبيرونه چه مناظره ورسره کوو تر (112) پورې-

(113) وَجَاءَ السَّحَرَة فِرْعَوْنَ ---- دساحرانو دفرعون نه د مزدورئ مطالبه او دفرعون وعده-
(115) قَالُوا يَا مُوسَى إِمَّا أَنْ تُلْقِيَ ---- مناظره شروع كيدل او دساحرانو دموسیٰ عليه السلام ادب كول-
(116) قَالَ أَلْقُوا ---- ساحرانو ته دكرتب خكاره كولو وينا كول - چه دوی خكاره كړی چه ختم ئ كړم او دهغوئ كرتبونه او خپل زور خكاره كول-
(117)وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى ---- موسیٰ عليه السلام ته تسلی او دساحرانو شكست او ايمان (122) پورې-
(123) قَالَ فِرْعَوْنُ آمَنْتُمْ بِهِ ---- دفرعون سياسی چال چلول او دهمكی وركول-
قَالُوا إِنَّا إِلَى رَبِّنَا مُنْقَلِبُونَ (125) دساحرانو تثبت اوجواب چه اوګوره پس دايمان داساحران ښنګه كلك دی تاسو هم دغه شان كلك شئ-
(127) وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ ---- دوزيرانو دفرعون توجه موسیٰ عليه السلام ته اړول-چه اصل سړې درنه پاتې كيږی-او دفرعون دهمكی-
(128) قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ ---- دموسیٰ عليه السلام قوم ته تلقين دصبر او بشارت وركول-
(129) قَالُوا أُوذِينَا مِنْ قَبْلِ ---- دقوم د موسیٰ عليه السلام له تسلی چه ددې مونږ عادت يو-
قَالَ عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُم ---- دموسیٰ عليه السلام دهلاک دفرعون خوشخبری وركول-
(130) وَلَقَدْ أَخَذْنَا آلَ فِرْعَوْنَ ---- په فرعونيانو دانكار دوجې عذابونه او دهغوی په حق پرست موسیٰ عليه السلام بدفالی نيول او ايمان نه انكار دعذابونو دراتلو تذكره او دهغوی سوالونه موسیٰ عليه السلام ته او نافرمانی تر (135) پورې-
(136) فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ ----- دفرعونيانو هلاكت او دبنی اسرائيلونجات-اوګوره موسیٰ عليه السلام ښنګه مصائب برداشت كړل-دساحرانو دطرفنه هم بيا دفرعونيانو نه هم خوهغه

ځنګه تباه شو او ساحرانو چه ایمان راوړو ځنګه کلک وو دغه شان مصائب برداشت کړه تسلی ساته کامیابی هم ستا ده۔
(138) وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ ---- اوس دموسیٰ علیه السلام معرکه دخپل قوم سره چه دخپل قوم دطرفنه هم مصائب برداشت کړی دی۔
فَأَتَوْا عَلَى قَوْمٍ---- دامصیبت اول چه سره دموسیٰ علیه السلام دمحنت دوی داسې خبرې کولې۔
(139) إِنَّ هَؤُلَاءِ مُتَبَّرٌ مَا هُمْ ---- د قوم مهلک تباه شوی تذکره چه داصنامو عبادت کونکی تباه شوی دی-اوهغوی ته احسان یادول۔
(142) وَوَاعَدْنَا مُوسَى ثَلَاثِينَ لَيْلَةً ---- دموسیٰ علیه السلام بل امتحان ته تمهید - چه دسخی دعبادت کونکو او دسامری دطرفنه راغلې وو۔
وَوَاعَدْنَا مُوسَى- د کتاب راوړلو قانون راوړلو دپاره تلل او دهرون علیه السلام ته کار حواله کول۔
(143) وَلَمَّا جَاءَ مُوسَى لِمِيقَاتِنَا ---- په شوق د دیدار کښې سوال ددیدار الٰهی کول-او جواب دالله تعالیٰ او تفصیل او کتاب حواله کول او دکتاب صفات تر " دَارَ الْفَاسِقِينَ" (145)۔
(146) سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ ---- زجر اوتخویف - چه متکبر او نافرمانه دکتاب الٰهی نه فائده نشی اغستلې او دهغې فهم ورته نه نصیب کیږی او التہ روان دی نو هغوی ته یره ورکوی-تر " مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ " (147) پورې۔
(148) وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوسَى ---- زجر په عبادت دسخی- دموسیٰ علیه السلام په غیر حاضرئ کښې دقوم دعجل یعنی دسخی عبادت- او دهغوی حماقت -
(149) وَلَمَّا سُقِطَ فِي أَيْدِيهِمْ ---- دپوهیدلو نه روستو بیا معافی-دا آخری خبره مخکښې ذکرکړې ده چه دخپل حماقت خپله قائل شوی وو۔
(150) وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَى ---- دموسیٰ واپسی او خفګان۔

(152) إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ ---- تخويف عبادت كونكو دسخى ته-
(153) وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ ---- بشارت تائبينو ته-
(154) وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُوسَى الْغَضَبُ ---- دموسیٰ علیه السلام دتورات بیان کول-
(155) وَاخْتَارَ مُوسَى قَوْمَهُ ---- بل امتحان په موسیٰ علیه السلام دبې ادبو دطرفنه دخپل قوم نه- چه الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته وئیلی وو-چه اویا کسان خوځ راوله چه ددې گناه معافی اومعذرت په کوه طور کښې اوکړی-چه هلته خاص کیفیت دوریځو جوړشو دوی کلام الله واوریدلو په سجده پریوتل روستو ئ وې چه : " حتیٰ نری الله جهرة "-نودهغې سزا ورته ملاؤ شوه دهغې تذکره-
(157) الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ ---- درحمت الٰهی مستحق خلق دا هم دی-چه دنبی علیه السلام تابعداری کوی او داپیغمبر مبشَّر دتورات او انجیل دې-او بشارت چه داخلق کامیاب دی- او ترغیب اتباع دنبی علیه السلام ته چه که رحمت الٰهی غواړئ نو راشئ ددې پیغمبر اتباع اوکړئ-
(158) قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ---- صداقة دنبی علیه السلام او ترغیب دهغه اتباع ته چه هدایت اوس دیکښې دې دائې مینځ کښې ذکرکړه- ځکه مخکښې تذکره راغله نودنبی علیه السلام صداقت ذکرکوی چه څوک دا اونه وائی چه داصرف دعربو پیغمبر دې او دڅه وخته پورې نه بلکه داهمیشه له آخری پیغمبر دې نودده اتباع اوکړئ-

*خوش ترآن باشد که سر دلبراں — درآید درحدیث دیگراں*

(159) وَمِنْ قَوْمِ مُوسَى أُمَّةٌ ---- اشاره ده چه یهودو کښې به څه خلق هغه ددې پیغمبر اتباع کوی لکه عبدالله بن سلام رضی الله عنه او دهغه ملگری-
(160) وَقَطَّعْنَاهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا ---- دبیان نه روستو دقوم موسیٰ علیه السلام تقسیم او بل امتحان په موسیث باندې اول ذکر دنعمتونو بیا دنعمت دبدلونکو سزا-
(161) وَإِذْ قِيلَ لَهُمُ اسْكُنُوا هَذِهِ الْقَرْيَةَ ---- دالله دطرفنه حکم چه داسې اوکړئ-

(162) فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ قَوْلًا ---- نودبې ادبو تبديل په حكم الٰهى كښې اودهغوى سزا-دموسیٰ عليه السلام په واقعه كښې ځومره اقوام مهلكه تباه شوى بيان شو-يوقوم يعكفون په 139،138 كښې دويم عابدين دسخى 148 تا 152 - بل هغه بې ادبه چه زلزله پرې راغله او دابې ادبه 161،162 كښې- او فرعونيان لا ځان له شو-
(163) وَاسْأَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ ---- اوس احوال دمعرضينو ذكركوى او تخويف دنيوى چه چا دحكم الٰهى نه اعراض كړې او اتباع ئې دنبى ددعوت نده كړې نوهغه الله تعالىٰ څنګه تباه كړى دى دهغې مثالونه ذكركوى-
وَاسْأَلْهُمْ ---- دا اول مثال دمعرضينو چه ده حيلو سره ئې حرام حلالول نو څنګه انجام ئې شو - شادوګان ترې جوړشو- داتر (168) پورې-نودنافرمانۍ نه ځان اوساتۍ-هغوى له ئې څنګه سزاددلت وركړې او افتراق تاسو له به هم دركړى- نور آيتونه مربوط دى-
(169) فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ ---- بل مثال دمعرضينو چه ددنيا دوجې نه ئې اتباع دماانزل پرېخوده او په طمع دسيغفرلنا چه مونږ غټ خلق يو الله به مومعاف كوى- دادخو نه بد پيداشو- دمستو نه شوملې اوداسې خبرې شروع كړې-
(170) وَالَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِالْكِتَابِ ---- بشارت چه څوك دعوت اومنى او په كتاب الله منګولې اولګوى-
(171) وَإِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ ---- دازجردغې نااهلو ته چه تاسو خودغردلاندې داتباع وعده اغستلې شوې وه نوولې تاسو اتباع نه كوۍ-
(172) وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ ---- ترغيب الى الاتباع - تاسو ټول اتباع اوكړۍ دانه چه صرف دهغوى نه وعده اغستلې شوې وه بلكه دهربنده نه وعده اغستلې شوې ده دربوبيت دالله تعالىٰ نو اوس دالله تعالىٰ احكام اومنۍ چه دانه وايۍ چه مونږخبرنه وو-
(175) وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِي آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا ---- بله نمونه دمعرضينو چه اوګوره دوعدې خيال ئې ندې ساتلې او اعراض ئې كړې دې او اتباع دماانزل په ځائې ئې اتباع

دخواهش اوکړه نوځه ورسره اوشو-اوځه ئې انجام شو- په (147) کښې ئ داقانون کړو-چه څوک تکذیب کوی نو دابه ئې انجام شی-
(178) مَنْ يَهْدِ اللَّهُ ---- اوس به تولې دعوې رامعاد کوی لکه د سر دسورة-
مَنْ يَهْدِ اللَّهُ ---- دا داول مسئلې سره ته تسلئ سره دعوت کوه هدایت او گمراهی ستااختیار کښې نده دالله تعالیٰ اختیار کښې ده-
(179) وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا ---- دادویمې مسئلې سره چه اتباع نه کوی نوځان لکه دڅاروو بربندوی-
(180) وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى ---- دا دریمې مسئلې سره چه صفات دالله تعالیٰ دی دکارسازیت نو خپل حاجات دهغه نه اوغواړه-
(181) وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ ---- یعنی منونکی ددعوې او دعوت ورکونکی شته دې-
(182) وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ---- تخویف هغه چاته چه دداعی دعوت نه منی-
(184) أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا مَا بِصَاحِبِهِمْ مِنْ جِنَّةٍ ---- اثبات درسالت او زجر په انکار درسالت-
(185) أَوَلَمْ يَنْظُرُوا فِي مَلَكُوتِ السَّمَاوَاتِ ---- منکرینو ته زجر چه اوس نه منی نو کله به منی- مسئله خو بالکل واضحه ده ـ
(186) مَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ ---- وجه دانکار چه مهر پرې لږیدلې دې-
(187) يَسْأَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا ---- زجر په انکار دقیامت چه قیامت منل څه چه الټه اعتراضونه کوی چه کله به راځی- په مختلفو طریقو سره نفی دعلم دقیامت دنبی علیه السلام نه کوی-
(188) قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا ---- نفی دتصرف او علم غیب دنبی علیه السلام نه-چه هغه خپله داسې وائی نودقیامت علم ورله دکوم ځائې نه راغلو دهغه کار تبشیراو انذار دې-

(189) هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَة ---- په خاتمه دسورة کښې نفی داشراکو کوی-اول دِ آيت کښې وائی چه اتباع دما انزل اوکړئ-اودالله ورکړې بچې دهغه غير ته نسبت مه کوئ او دبل په نوم ئې مه منئ داډيره بې انصافی ده- سره دزجر نه په شرک باندې تر (191) پورې-

(192) وَلَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ نَصْرًا ---- رد دشرک فی التصرف- چه دچا په نوم منختې کوی او آوازونه ورته کوی نوهغه عاجزان دی اختيارات ئې نشته دې-

(193) وَإِنْ تَدْعُوهُمْ إِلَى الْهُدَى ---- رد دشرک فی الدعاء - چه که بلنه ورته کوې نوستااجابت نشی کولې-نوولې ورته آوازونه کوې-

(194) إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ---- زجر په دعاء دغيرالله - چه ته ئې رامدد کوې نو هغه خوعاجزان دی-اودرارسيدلو اسباب ورسره نشته دې-

(195) قُلِ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ ---- دداعی بهادری او اظهار دعجز دخدايانو ددوی-

(196) إِنَّ وَلِيِّيَ اللَّهُ الَّذِي ---- دداعی اعتماد په الله تعالیٰ - چه د چا مسئله بيانوم هغه به م مدد کوی

(197) وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ ---- رد دشرک فی التصرف او عاجزی دخدايانو ددوی-

(199) خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ ---- ترغيب دعوت ته او اصول ددعوت سره دتسلئ نه چه په اصولو دتوحيد دعوت ورکوه او کوم تکليفات راځی نوبرداشت کوه-

(200) وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ ---- دفع دوسوسې دشيطان- چه که شيطان دِ غصه کوی او يا د توحيد نه دبلې مسئلې وسوسه اچوی چه بله بيان کړه نو الله تعالیٰ نه پناه غواړه-

(201) إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا ---- بشارت دادالله احسان په متقيانو چه دشيطان څه وسوسه زړه ته راشی-نوفوراً پناه غواړی-

(202) وَإِخْوَانُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِي الْغَيِّ ---- زجر چه داسې هم شته چه په تابعدارئ دشيطان کښې کمې نه کوی-

(203) وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِمْ بِآيَة ---- زجر په انكار دقرآن باندې - چه څومره خكلې بيان دِ سورة اوكړو په عجيبه انداز باندې- بيا هم ددوی بې انصافئ ته ګوره چه اعتراضونه كوی اووائی چه داقرآن ستاخودساخته ګنړی- دا د شيطان د تابعدارئ او تسلط د وجې نه .

قُلْ إِنَّمَا أَتَّبِعُ مَا يُوحَى إِلَيَّ ---- جواب اودليل وحی څه دامسئلې دځان نه نه كوم-داماته الله تعالیٰ وحی كړې ده-

هَذَا بَصَائِرُ مِنْ رَبِّكُمْ --- ترغيب الى القرآن - تر" لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ " (204) پورې-راشئ داعتراضونو په ځائې دِ زبردست كتاب ته غوږ كيږدئ-چه رحمت درباندې اوشی-اول آيت كښې وې داقرآن رحمت دې او دويم آيت كښې درحمت دحاصليدلو طريقه- ابتداء كښې هم ترغيب الى القرآن او دلته هم نوديو بل سره ئې اوتړل-

(205) وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ ---- ترغيب توحيد ته - چه حاجاتوكښې صرف الله تعالیٰ رامدد كوه-اوهيڅ څوک ورسره شريک اوحصه دار مه جوړوئ-دامراد دې د آيت كريمه- نفس ذكر خو مستحب دې او وَلَا تَكُنْ داوعيدپه امر مستحب نه راځی-

(206) إِنَّ الَّذِينَ عِنْدَ رَبِّكَ ---- په توحيد ختم دسورة دې يعنی مقرب فرشتې توحيد منی او دالله تعالیٰ ذكركوی-نوانسان له هډو غافل كيدل ندی پكار-په ابتداء دسورة كښې " كِتَابٌ أُنْزِلَ إِلَيْكَ " نوآخركښې " يُسَبِّحُونَهُ " يعنی " اُنزِل بهذاالدّعوىٰ "- كتاب پدې دعوی نازل شوې دې-

### حاصل دسورة

اې داعی حق عظيم الشان كتاب دانذار دپاره راغلې دې- نو زړه مه تنګوه او اتباع دماانزل اوكړه او مسئله بيان كړه او مسئله داده چه : " وادعوه خوفاً وطمعاً " په حاجاتو كښې يوالله رامدد كړئ يعنی رد دشرک فعلی او اعتقادی اوكړئ-كوم خلق چه اتباع دماانزل نه كوی اودځان نه تحريمات كوی جامې وغيره په ځان حراموی نو لكه

دشيطان او دقوم لوط به تباه شی- او دادعوی دتوحید څه نوې نده پدې نوح،هود،صالح او شعیب علیهم السلام راغلی وو هغوی هم دابیان کړې وو نو ته هم بیان کړه- اودهغوی مقابل تباه شوی وو نو تسلی ساته ستامخالف به تباه شی-اوددې مسئلې په دعوت کښې تکالیف راځی لکه چه په موسیٰ علیه السلام قسماقسم تکالیف راغلی وو نو دابرداشت کړه لکه دهغه مخالف تباه شو ستا هغه به هم تباه شی او معرضینو او نه منونکو ته احوال او مثالونه بیان کړه نوخه داده چه عاجزه مخلوق دې نه حصه دار وی او دقرآن نه دِ فائده واخلی او توحید دِ اومنی لکه چه فرشتې ئې اعلان او بیان کوی-

## امتیازات

(1) دشرک فعلی ناشنا جزیات چه طواف عریاناً وو-

(2) تذکره داعراف والو-

(3) حتیٰ یلج الجمل فی سمّ الخیاط-

(4) فلایامن مکرالله الاالقوم الخسرون-

(5) فاخذهم الطّوفان والجراد " دفرعونیانو دعذابونو تفصیلی تذکره-

(6) قال لن ترانی ولکن انظر-

(7) یجدونه مکتوباً فی التورات والانجیل-

(8) واذ اخذ ربک --- عهد الست

(9) ان الذین اتخذوا العجل -- سزا دمبتدع ذلت-

(10) واقعه دبلعم بن باعور " واتل علیهم "

تمت سورة الاعراف بعون مالک المنیب والجاف ۔

یارب محمد ﷺ ورب ابراھیم والملائکة والروح نجّنی من السجن کمانجیت اصحاب الاعراف وسلّ وثبت قلبی وقلب اھل بیتی سیما والدت المحترمة المکرّمة واعطھا صحة کاملة وعمراً مبارکاً وسروراً وفرحاً فی الدنیا والاخرة مع الوالد المکرّم غفراللّٰہ لہ ۔
19ذوالقعدہ 1433 ھ یوم الجمعة وانا حزین بحزنٍ شدید فقیراً لتثبت الربّ المجید ۔ 27 : 03 ظھر

سورة الانفال مدنية — نزولا (۸۸) مصحفا (۸) — رکوعات (۱۰) ایات (۷۵)

بسم الله الرحمن الرحيم

**سورة الانفال**

سورة الانفال مدنی سورة دې په نزول کښې اته اتیایم (88) نمبر دې پس دسورة البقرة نه نازل شوې دې او په ترتیب دسورتونو کښې اتم (8) نمبرسورة دې پس دسورة اعراف نه۔

**ربط دمخکښې سورة سره**

مناسبت او ربط دسورة الانفال دسورة الاعراف سره په ګڼړو وجوهو باندې دې۔ ځنې دهغې نه۔

**اوله وجه** : هرکله چه مسئله دتوحید په کاملې طریقې سره ثابته شوه په انعام کښې په عقلی دلائلو او په اعراف کښې په نقلی نو چه اوس هم نه سمیږی ،نو کړه خُله بغیر دسوک نه نه سمیږی۔ چه په ترغیباتو واقعاتو زواجرو اونه منله نو دنیا کښې هرڅوک خپل مرتد وژنی نو اسلام هم خپل مرتد وژنی نو دِ سورة کښې وائی چه " قاتلوهم "۔ جنګ اوکړه چه مسئله خوره شی دوی اووژنه او مسئله بغیر دایثار دنفس نه نه خوریږی نو نفس قربان کړه ددې دپاره۔

د آزادئ ناوې په مهر کښې سرونه غواړی
په توحید مئینو ځلمو راشی دا ډولئ پورته کړئ

**دویمه وجه** : مخکښې سورة کښې مقاصد بیان شو توحید،رسالت، کتاب اوآخرت نودِ سورة کښې قواعد دپاره دتیارئ دجهاد دپاره داوچتوالی داسلام او دعزت ددې امت لکه

دتبليغ قواعد چه په انعام کښې بيان شوی وو. نو انعام کښې عقبات سته اعراف کښې واقعات سته او په انفال کښې قواعد سته ذکرکوی.

**دریمه وجه**: په اعراف کښې اصول اصليه بيان شو نو په انفال کښې لواحق او ممدّات بيانيږی-

**څلورمه وجه**: سورة الاعراف کښې ذکرداقوام معذّبو وو چه الله تعالیٰ ورله عذاب ورکړې وو نو دلته هغه تذکره چه معذّب بايدی المومنين دی چه الله تعالیٰ ورله دمومنانو په لاس عذاب ورکړې وو-

**پنځمه وجه**: سورة الاعراف اختتام اوشو په تسبيح او سجده باندې نو دا سورة دهغې سبب دمدافعې ذکر کوی چه ددغې حفاظت په جهاد باندې نو جهاداوکړئ چه دامحفوظ پاتې شی-که دجهاد نه وی نو مونځ او توحيد حفاظت به اونشی-

## دعوی دسورة

دسورة الانفال مرکزی مضمون او محور دعوی هغه ده " الترغيب الی القتال فی سبيل الله تعالیٰ لدفع الشرک وذکر القواعد لها " - يعنی دمومن او موحد مينه راوچتوی جنګ ته چه دتوحيد دخوړولو دپاره جهاد ته تيار شئ او دشرک دفع کولو دپاره او دهغې دپاره به قواعد ذکرکوی " چه تيار شه جنګ ته او قواعد او اصول زده کړه " -

" جهاد او قتال فی سبيل الله اګر چه حسن لغيره دې خو توحيد دومره حسن دې چه په جهاد کښې اګر چه حسن لغيره دې دومره حسن پيداکړې دې چه دځنې حسن لذاته دومره منقبت نشته دې - دادتوحيد کمال دې- " دعوی دسورة په (39) " قاتلوهم حتیٰ لاتکون فتنة " کښې بيانيږی-

## خلاصه او تقسيم دسورة

دسورة مختصر خلاصه داسې ده چه دعوی دسورة قتال دې نو دابتداء نه ددې آداب ذکرکوی داصلاح دپاره - بيا دمومنانو پنځه اوصاف او بياترغيبات قتال ته - دهغې نه

روستو په پنځو اوصافو دمومن او مجاهد پنځه قواعد تفریع کوی او بیا دعوی دسورة بیا شپږمه قاعده نتیجه دپنځو ده - دهغې نه روستو زواجر منافقانو ته او دهغوی پلیتئ - او آداب امیر او مومنانو ته ذکر کوی - تفصیل په تقسیم کښې -

**تقسیم دسورة**: سورة منقسم دې دوو بابونو ته اول باب دابتداء دسورة نه تر " لعلکم تفلحون " (45) پورې - او دویم د " واطیعوا الله " (46) نه تر آخر تر سورته دې-

اول باب : داول باب تفصیل: په اول آیت کښې اوامر ثلٰثه ذکرکوی- یو اصلاح دمینځ دمسلمانانو او تقویٰ او اطاعة دالله او پیغمبر ذکرکوی- بیا 3،2 کښې دمسلمانانو پنځه اوصاف او بشارت د " کمااخرجک " (5) نه تر " عذاب النار " (14) پورې ترغیبات دقتال ذکرکوی-بیا قواعد خمسه مرتب په پنځوصفتونو دمومنانو- اوله قاعده د 15 نه تر 19 - دویمه اودریمه قاعده د 20 نه تر 26 پورې - څلورمه قاعده 27 کښې او پنځمه قاعده 29 کښې بیا 30 کښې مثال دفرقان او زواجر او تخویفات تر 38 پورې - 39 نه تر 44 پورې دعوی دسورة سره دمصارف دغنیمت او دحکمتونو - 45 کښې شپږمه قاعده دمخکښې حاصل او تفریع په هغې-

دویم باب : د 46 " اطیعواالله " نه ترآخرتر سورته دې- پدیکښې څه آداب او دهغې فوائد ذکرکوی او زواجر او پلیتئ دمنافقانو-

دآدابو آیتونه 46، بیا د 47 نه زواجر او تخویفات تر 56 پورې - بیا آداب 58 ایفاء العهود-(3) ادب اعداد اٰلات الحرب 60 کښې -(4) ادب الصلح مع الذین یمیلون الی الصلح 61 کښې - (5) ادب الاعتماد والتوکل علی الله تعالیٰ 64 کښې - (6) ادب التحریض الی القتال 66،65 کښې- (7) ادب التزهید من الدنیا 67 کښې - بیا ترغیبات جنګ ته او هجرت ته- پدې انداز سورة دجهاد بیان کوی-اول قوانین بیا آداب-

## مقاصدالایات وتناسبها

(1) يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ ---- ددې ځائې نه اول باب دسورة تر " لعلکم تفلحون " (45) پورې-پدیکښې صفات خمسه او قواعد پرې تفریع کوی او ترغیبات جنګ ته-
يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ ---- په ذکر دلفظ دانفال اشاره تصحیح نیت ته یعنی داخو سوائی څیز دې ته خو داعلاء کلمة الله خیال ساته-
فَاتَّقُوا اللَّهَ ---- اوامر ثلاثه،درې حکمونه ذکرکوی-چه پرې راروان سورة آسان شی-
فَاتَّقُوا اللَّهَ ---- اول امر -
وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ ---- امرثانی چه دخپل مینځ داتفاق او اتحاد خیال ساتئ-دائې مینځ کښې ذکرکړو چه داپه تقویٰ او اطاعت حاصلیږی او دجهاد دپاره دااهم دې-
وَأَطِيعُوا اللَّهَ --- دریم حکم-
إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ - ترغیب منلو داوامرثلاثو ته چه ایمان ددې په منلو اوتعمیل باعث دې-
(2) إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ ---- پنځه صفتونه دمومنانو-ترغیب له چه جهاد کوې دا ځان کښې پیداکړه نو په قواعدو به عمل کول آسان شی-
إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ ---- اول صفت- چه دالله نه به یره وی اودخپل ګناه فکر به ورسره وی-
وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ ---- دویم صفت - قرآن سره به جذبه ایمانی سوا کیږی چه انفال پرې لوستلې کیږی نو اثر به پرې کوی دا نه چه جون کا تون-
وَعَلَى رَبِّهِمْ --- دریم صفت الاعتماد علی الله - په ځان ،قوت ،کثرت به ئې اعتماد نه وی-
(3) الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ - څلورم صفت - دمونځ پابند به وی-
وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ - پنځم صفت - چه دزکوٰة او مالی قربانئ به هم عادت وی-
(4) أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا ---- بشارت ددې صفتونو والو ته-

(5) كَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ ---- الترغيب الى القتال- تر " وَهُمْ يَنْظُرُونَ " (6) پورې-چه جهاد کښې څه مرګ ندې نودابد مه ګڼړئ جهاد اوکړئ اوګورئ بدر له الله تعالیٰ څنګه ایستلی وئ-

(7) وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ ---- دجهاد حکمت او علت ذکر کوی تر " الْمُجْرِمُونَ " (8) پورې جهاد خو عظیم مقصد او حکمت لری چه احقاق دحق او ابطال دباطل اوشی-نو جهاداوکړئ او روستوکیږئ ترې مه-

(9) إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ ---- بشارت اوخوشحالی دنصرت تر " حَكِيمٌ " (10) پورې- چه پاسه جنګ اوکړه الله تعالیٰ به ستا مدد او نصرت کوی لکه چه بدر کښې کړې وو نو بشارت هم شو او ترغیب هم-

(11) إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً ---- دانمونه دنصرت چه پداسې طریقه به الله تعالیٰ مدد اوکړی چه ستاوهم به نه راځی-او بشارت دربط قلب اوروی چه الله تعالیٰ به ستازړه مضبوط کړی او قدم به دِ کلک کړی-

(12) إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلَائِكَةِ ---- بشارت بارسال الملائکه وبالقاء الرعب فی قلوب الکفار"- الله تعالیٰ به ستا مدد له فرشتې راولیږی پاسه جنګ اوکړه-

*فضائے بدر پیدا کر فرشتے تیری نصرت کو اتر سکتے ہیں گردوں سے قطار اندر قطار اب بھی*

اوستادمخالف زړه کښې به ستا یره اوغورځوی- ځکه کفر اوشرک سبب درعب او یرې دې او سبب دغضې دالله تعالیٰ دې-

(13) ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ ---- تخویف تر " النار " (14) پورې- چه ستا په لاس او دآخرت عذاب ځکه چه دوی مخالفت دالله تعالیٰ او پیغمبر کوی نو دنیائې هم تباه شوه او آخرت ئې هم تباه شو-

(15) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- " القاعدة الاولیٰ " : ددې ځائې نه تر " مَعَ الْمُؤْمِنِينَ " (19) پورې اوله قاعده ذکر کوی- داپه اول صفت دمومنانو مرتب ده - چه اول صفت داوو چه : "اذا ذکرالله وجلت قلوبهم " نو وائی چه کله الله تعالیٰ نه یریږی نو " اذا لقیتم " چه

کله دکافر سره په جنګ کښې مخامخ شوې نو شاه به دقتل ديرې نه ګرځوې- ځکه ستاسو زړونه دالله تعالیٰ نه علاوه دبل چا نه نه يريږی نو ولې بل ته شاه اړوئ-
(16) وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ ---- زجر شاه اړونکو ته او تخويف - چه څوک شاه واړوی دجنګ په ورځ نو دهغه انجام به داشی - البته دوه صورتونه پکښې دسزا نه بهر خائی-
(17) فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ ---- نمونه دنصرت الٰهی- ولې په شاه اوړئ ستاسو الله تعالی څنګه مدد کړې وو-
(18) ذَلِكُمْ وَأَنَّ اللَّهَ مُوهِنُ ---- تشجيع مومنانو ته چه فکر مه کوئ جهاداوکړئ ستاسو مخالف چه کومې حربې او پروپيګندې ستاخلاف کوی هغه هر څه به ختم کړم-
(19) إِنْ تَسْتَفْتِحُوا ---- زجر کافرو ته او مومنانو ته تثبت - چه فتح او کاميابی دادالله تعالیٰ دطرفنه ده نه په ډيروالی اونه په مالونو او مالک دنفع اوضرر الله تعالیٰ دې هغه ستاسو ملګرې دې نو " فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَار "- شاه مه اړوئ-
(20) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ ---- ددې ځائې نه " القاعدة الثانية "-دويمه قاعده مرتب په دويم صفت باندې- دويم صفت وو چه " اذاتليت عليهم اياته زادتهم ايمانا"-نواوس پرې قاعده مرتب کوی چه په آيتونو اثر ايمانی سواکيږی نو اطاعت دالله تعالیٰ اودپيغمبر اوکړئ په هر امر کښې-چه زړونه مو مضبوط شی ځکه مضبوطيا دالله په حکم او په اتباع دپيغمبر کښې ده-
(21) وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ ---- ددې نه زجر تر " مُعْرِضُونَ " ـ(23) پورې- چه دکافر پشان مه کيږئ چه صرف اوری او اطاعت نه کوی- ځکه انابت پکښې نشته دې تاسو اوريدلو سره اطاعت هم اوکړئ او چه اطاعت نه کوی نو هغه " شَرَّ الدَّوَابِّ " دی - يعنی ضد سره مهر راځی نو تاسوضد مه کوئ-
(24) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ ---- " القاعدة الثالثه ": دريمه قاعدة ذکرکوی مرتب په دريم صفت چه : " وعلى ربهم يتوكلون " -چه اوس به مومن ځان سپاری الله تعالیٰ ته- نو چه ځان سپارئ نو اوس استجابت دالله تعالیٰ او پيغمبر اوکړئ- چه کله مو

دجهاد مسئلې ته رابلې نو سستي مه کوئ او په تلواره باندې جنګ له لاړشئ-داقاعده تر " تَشْكُرُونَ"(26) پورې-اطاعت عام وو دهر كار سره ئې تعلق لرلو-

وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ ---- ترغيب چه استجابت اوکړئ الله به استقامت راولی یاتخویف چه استجابت نه کوی نوطاقت دایمان زائله کړی-

وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ---- الله تعالیٰ له به ځئ نو که استجابت مو کړې وو نو جزا ګنی نو سزا-

(25) وَاتَّقُوا فِتْنَةً ---- زجر اوتخويف - چه څوک استجابت او اطاعت نه کوی نو هغه فتنه کښې غورځيږی-جهاد سره فتن دفع کيږی نو جهاد نه کوې نو اثر به ئې تاسو ته هم اورسيږی-ځکه:

بے ادب تنہا نہ خود را داشت بد بلکہ آتش در ہمہ آفاق زد

ترجمه : بې ادبه يواځې ځان خراب نه کړو بلکه اور ئې هر طرفته اوکرلو-

نودفتنو نه ځان په جهاد سره بچ کړئ-

وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ - تخويف اخروی-

(26) وَاذْكُرُوا إِذْ أَنْتُمْ قَلِيلٌ ---- بشارت او تشجيع - چه داستجابت په صورت کښې تاسو دقلت نه او دخلقو دبائيکاټ نه مه يريږئ نه ګورئ الله تعالیٰ ستاسو څنګه مدد کړې وو بيا به مو هم کوی نو شکر اوکړئ او شکر هغه استجابت دې چه جهاد اوکړئ-

(27) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَخُونُوا اللَّهَ ----- " القاعدة الرابعه " : اوس څلورمه قاعده مرتب په څلورم صفت دمومنانو - هغه وو " اقامة الصلوٰة "-چه دمونځ پابندی کوی نو مونځ دعبادات بدنيو نه دې او نفس قربانول دی نو څلورمه قاعده پرې تفريع کوی چه مونځ ګذار سره خيانت مناسب نه دې نو ستاذمه واری جنګ کول دی نو خيانت مه کوئ چه د جهاد نه کينئ- ټول فرائض او ذمه وارئ هغه په ځائې ځائې راوړئ -

(28) وَاعْلَمُوا أَنَّمَا أَمْوَالُكُمْ ---- تزهيد من الدنيا-چه مال ،اولاد تا په خيانت باعث کوی-چه فرائض په ځائې نه کړې نو ستا دپاره امتحان دې دالله تعالیٰ اجر ته ګوره-

(29) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَتَّقُوا اللَّهَ ----- " القاعدة الخامسه ": پنځمه قاعده دامرتب کوی په پنځم صفت باندې چه پنځم صفت وو " وممارزقنهم " چه دمال قربانی ورکوی نو په هغې ئې پنځمه قاعده مرتب کړه دتقویٰ چه متقی هغه دې چه مال او بدن دالله تعالیٰ په دین قربانوی- نوداتقویٰ اختیار کړئ چه الله فرقان ، فتح او امتیازی شان په عالم کښې درکړی-

وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- مثال دفرقان او توهین دکیدالکفار-چه تاسو تقویٰ اختیارکړئ نو فرقان به درکړی- نمونه ئې اوګوره څنګه الله تعالیٰ فرقان درکړې وو او دکافرو کید او مکر هغه ئې دخاورو سره ملاؤ کړې وو-

(31) وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا ---- زجر په انکار دقرآن باندې-چه داداسې بې انصافه دی داسې خبرې دقرآن باره کښې کوی او عذابونه غواړی-

(33) وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ ---- یره الله تعالیٰ ورله عذاب ورکوی ولې نه - نودهغې جواب چه دعذاب نه رکاوټ او مانع موجود دې- چه دالرې شی نو عذاب به ورکړم-

(34) وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ ---- وجه داستحقاق دعذاب- چه دوی مستحق دعذاب دی نو دهغې اسباب ذکرکوی-

وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ---- دایو سبب دې چه دمسجد حرام نه بندول کوی-

(35) وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ ---- دویم سبب چه عبادت ئې هم څه نشته دې-

فَذُوقُوا الْعَذَابَ ---- تخویف او بل سبب چه کفر دې-

(36) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- تخویف اخروی - تر " الْخَاسِرُونَ "پورې - او عمل دکافرو ذکر کوی چه ددین خلاف مالونه استعمالوی نو دابه ئې پکار رانشی-

(38) قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا ---- دعوت دایمان - دجنګ دکولو نه مخکښې ورله دعوت دایمان ورکړه که اومنی نوخه ګنی زړه خبره ده-

(39) وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ ---- دعوی دسورة - چه قواعد دِ زده کړل او کافرمستحق د سزادی او ایمان نه راوړی نو ورکړه ورله سزا او قتال ورسره اوکړه-الله

تعالیٰ به ستا مدد کوی- ځکه هغه نعم المولیٰ دې نو دوی تاسره څه کولې نشی-(40) کښې ترغیب شو چه مدد به دِ الله تعالیٰ کوی-

نور حق شمع الہی کو بجھا سکتا ہے کون جس کا حامی ہو خدا اسکو مٹا سکتا ہے کون

(41) وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ ---- مصارف دغنیمت- چه قتال اوشو او الله تعالیٰ ستاسو مدد اوکړو نو مال غنیمت حاصل شو- نو فتح الله تعالیٰ اوکړه- نو داالله تعالیٰ په قانون تقسیم کړه-

(42) إِذْ أَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا ---- حکمت دجهاد - چه بدر کښې الله تعالیٰ بې وعدو جمع کړئ نو قتال اوشو نو هغې که حکمت څه وو د جنګ او دقاتلوهم حکمت دې چه لِيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْ بَيِّنَةٍ -

(43) إِذْ يُرِيكَهُمُ اللَّهُ ---- تشجیع مجاهدینو ته تر " الْأُمُورُ " (44) چه نران شئ ، بهادران شئ الله تعالیٰ به ستاسو هم مدد کوی لکه چه دهغوئ مدد ئې په دې ناشنا طریقه باندې کړې وو-

(45) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً ---- " القاعدة السادسه ": داقاعده په مخکښې ټولو قواعدو تفریع ده او دتیر نتیجه ده چه داسې کارکول پکار دی اوس ورسره د ذکر دالله تعالیٰ تلقین چه داسبب دنصرت الٰهی دې-

(46) وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ---- دویم باب دسورة اداب دی او دهغې ثمرات او زواجر منافقانو ته-

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ---- اول ادب چه اطاعت کوی او خپلو کښې نزاع مه کوئ-

منفعت ایک ہے اس قوم کی، نقصان بھی ایک ایک ہی سب کا نبی، دین بھی، ایمان بھی ایک
حرم پاک بھی، اللہ بھی، قرآن بھی ایک کچھ بڑی بات تھی ہوتے جو مسلمان بھی ایک
فرقہ بندی ہے کہیں اور کہیں ذاتیں ہیں کیا زمانے میں پنپنے کی یہی باتیں ہیں

فَتَفْشَلُوا ---- دا دنزاع او اختلاف نقصان-

إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ---- بشارت چه اطاعت کوی نو ثمره او فائده به ئې داشی-

(47) وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ ---- زجر - چه د مشرکانو پشان داعمالو نه ځان اوساتئ-داد الله تعالیٰ معیت او نصرت ختموی-

(48) وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ --- بهادری مومنانو ته - چه دکافرو او شیاطینو یوبل سره وعدې دنصرت هغه خداع او دهوکه ده- دهغې مثال اوګورئ چه " وَإِذْ زَيَّنَ " غټ لیډر ئې تیخته کړې ده- نو دابه هسې دهوکې کوی تاسو جنګ کوئ-

(49) إِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ ---- زجر منافقانو ته - چه منافق جهاد ته وتلو په ځائې دمجاهدینو استهزاء کوی-

(50) وَلَوْ تَرَى إِذْ يَتَوَفَّى الَّذِينَ ---- تخویف اخروی د " لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيدِ "-(51) پورې چه ددغې استهزاء او دخبرو انجام به داشی-

(52) كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ ---- تخویف دنیوی- چه دوی چلونه کوی انکار کوی نو داسې فرعونیانو هم دموسیٰ علیه السلام خلاف کړی وو څه فائده ئې نه وه کړې نو دوی که هم څه فائده نشی کولې- نو آخرت څه چه دنیا به ئې هم تباه شی-

(53) ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ ---- سبب دعذاب- الله دچا راحت نه خرابوی خو چه دوی دالله تعالیٰ مقرر شده احکامات بدل کړی نو الله تعالیٰ سزا ورکړی-

(54) كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ ---- تخویف دنیوی- لکه فرعونیانو او نورو قومونه احکامات بدل کړل نو انجام ئې دا شو-

(55) إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللَّهِ ---- زجر - چه سره ددې دومره بیان او تخویفات هم ایمان نه راوړی-نودا شَرَّ الدَّوَابِّ دی-

(56) الَّذِينَ عَاهَدْتَ مِنْهُمْ ---- زجر په نقض عهد دوی دعهد خیال نه ساتی-نو ددوی وعده دې دجهاد کولو نه رکاوټ نه شی-

(57) فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ ---- تشجیع چه داسې خلقو سره داسې کار پکار دې-

(58) وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ ---- ادب مومنانو ته چه " ايفاء العهد " چه حتى الوسع تاسو دوعدې خيال ساتئ چه تاسو ته دوعدې دماتيدلونسبت او نشى خو چه دوى وعده ماته کړى نوبيا ئې خبرکړه چه په دعوى دسورة برابر شئ-
(59) وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- زجرکافرو ته- چه که په دنيا کښې دمسمان نه بچ شئ- دالله تعالیٰ نه نشئ خلاصيدلې-
(60) وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّة ---- دريم ادب مومنانو ته چه " اعدادالات الحرب "- چه دجنګ دپاره تيارې اوکړئ-
تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ ---- دا ددې ادب ثمره او فائده ددنيا- او يوڅ دآخرت ثمره ده -
(61) وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ ---- څلورم ادب مومنانو ته -" الصلح مع الذين يميلون اليها "-چه ستا دطرفنه به دصلح پيغام نه وى خو چه هغوى صلح ته غاړه کيږدى نو ته هم ميلان اوکړه-
وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ---- داپنځم ادب چه اعتماد په الله تعالیٰ ساته- ورپسې ددې آدابو کفايت او نصرت دالله تعالیٰ ذکرکوى-او احسان چه دمومنانو دزړونو مينځ کښې محبت غورځولې دې نو هغه الله تعالیٰ تاله کافى دې او مومنانو له نو په هغه توکل او اعتماد ساتئ دکافر دضرر نه مه يريږئ-تر( 64)پورې-
(65) يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ ---- شپږم ادب " التحريض على القتال " چه دمومنانو دتيزولو دپاره مومنانو ته داسې بيان اوکړه چه خپل قوت او طاقت ورته معلوم شى او نصرت الٰهى تر " مَعَ الصَّابِرِينَ " (66) پورې-
(67) مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى ----- بل ادب " التزهيد من الدنيا " - دقيديانو باره کښې د حکم شرعى - خيال ساتئ ددنيا خيال مه ساتئ -(بدر کښې چه شوى وو هغه اجتهادى خبره وه هغه وخت قانون نه وو-)
(68) لَوْلَا كِتَابٌ مِنَ اللَّهِ سَبَقَ ---- دمعاملې دبدر نه دفع داثم اوګناه چه هغه فيصله دحلت دغنيمتونو مخکښې تيره شوې وه که دافيصله نه وه تيره شوې نوعذاب به راغلې

وو- نو چه غنيمت درله حلال دي نوخورئ دغه غنيمت او فديه چه كوم مواغستي هيڅ حرمت پکښي نشته دي-

(70) يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِمَنْ فِي أَيْدِيكُمْ ---- قيديانو سره داسي انداز سره سلوک اوکړه-چه كوم دايمان اراده لرى نو داسي بيان اوکړه او كه خيانت كوى نو بيا به دِ پرې قادركړې لكه چه اوس ئې قادر كړې-

(72) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا ---- ترغيب الى الجهاد والهجرة والنصرة-چه دسورت دبيان نه خبر شوې نو اوس داعمال كوئ-

وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ ---- ترغيب نصرت ددين ته او دهغې خاص صورت-

(73) إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَة ---- داهم تر غيب نصرت كه تاسو امربالمعروف او نهى عن المنكر او نصرت دينى نه كوئ نو فساد به زيات شى-

(74) وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا ---- بشارت په هجرت او جهاد او نصرت باندې-

(75) وَالَّذِينَ آمَنُوا مِنْ بَعْدُ ---- بعدالهجرة اوس دولاية حق شته دې-

وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ ---- البته دا ولايت او نصرت ددين دې ميراث په رشته تقسيمېږى هغه مقرر دى په دې د ميراث مدار نشته دې-

## حاصل دسورة

اې مومنانو دنيت اودخپل مينځ اصلاح اوکړئ او نصرت الٰهى ته نظر اوکړئ- نيک صفات په ځان كښي راولئ او قواعد دميدان جنګ زده كړئ- كافر مستحق دسزا او دعذاب دي نو دعوت نه روستو كه نه منى نو " قاتلوهم "-جنګ ورسره اوكړئ كه غنيمت راشى نو په قانون الٰهى تقسيم كړئ- الله به ستاسو مدد كوى لكه چه په بدر كښي كړې وو- خودآدابو خيال اوساتئ او دمشركانو او منافقانو داعمالو نه ځان اوساتئ- د دوى كيد او فريب تاسو ته نقصان نشى دركولي لكه چه نبى عليه السلام ته او موسىٰ عليه السلام ته ئې فريبونه كړى وو او څه فائده ئې نه وه كړې نو په هجرت او

جهاد او نصرت باندې کلک شئ-الله تعالیٰ به اجرونه دهغې په دنیا او آخرت کښې درکړی-

**امتیازات**

(1) واقعة البدر تفصیلاً-

(2) القواعد الستة شپږقواعد دمیدان جنګ-

(3) واتقوا فتنة لاتصیبنّ الذین ---

(4) اذیمکربک الذین---

(5) سبب دامن دعذاب (33)-

(6) حماقت دمکې والو-

(7) یوم الفرقان دبدر نوم

(8) اذانتم بالعدوة الدنیا- نقشه دجنګ بدر-

(9) لیهلک من هلک- حکمت دجنګ

(10) اذیریکهم - (43) (11) واذ زیّن الشیطٰن- (48) -

(12) ذٰلک بانّ الله لم یک مغیراً (53) -

(13) فشرد بهم من خلفهم (57)-

(14) واعدّوالهم مااستطعتم (60) -

(15)والّاتفعلوه تکن فتنة فی الارض- (73)

تمت سورة الانفال بعون الله الکبیر المتعال -

20 ذوالقعده 1433 ه یوم السبت 16 اکتوبر 2012 ء وانا فی السجن 30 : 11 صبح

دالله تعالیٰ نه مِ سوال چه دالیکل سر ته اورسوی او الله تعالیٰ دِ دخپلې رضا سبب اوګرځوی-او الله تعالیٰ دِ په عامو مسلمانانو ته فائده ورکړی او الله تعالیٰ دِ ځما

داستاذانو دپاره صدقه جاريه کړی- او ځمادمور اوپلار او رونړو خويندو دپاره خاص کر ځمادمور دپاره چه هغه ځما دوجې بهر ډيره پريشانه ده- الله تعالیٰ دِ دهغې دزړه تسلی اوکړی سره دنورو خفه زړونو-آمين-

نزولها (١١٣) مصحفا (٩) سورة التوبة مدنية ركوعات (١٦) آيات (١٢٩)

## سورة التوبه

سورة التوبه مدنی سورة دې په نزول کښې يوسل ديارلسم (113) نمبردې پس دسورة المائده نه نازل شوې دې - اوپه ترتيب دسورتونو کښې نهم (9) سورة دې پس دسورة الانفال نه-

## ربط دمخکښې سورة سره

دسورة التوبه مناسبت دسورة الانفال سره په مختلفو وجوهو باندِ دې-څنې دهغې نه -

**اوله وجه** : په سورة الانفال کښې قواعد دجنګ ذکرکړل-نو اوس په سورة التوبه کښې اذن عام دجنګ يعنی اعلان عام دجنګ ذکر کوی-

**دويمه وجه**: په سورة الانفال کښې حکم دقتال ذکر شو نو اوس دلته هغه کسان ذکر کوی چه چاسره جنګ کول دی دهغوی اقسام ذکرکوی-

**دريمه وجه**: په سورة الانفال کښې ترغيب الی القتال نو په سورة التوبه کښې ترغيب الی الانفاق چه مال اولګوئ چه جهاد ترقی اوکړی-

**څلورمه وجه** : په سورة الانفال کښې دمنافقانو بيان اجمالاً اوکړو نو اوس دمنافقانو خبائث په تفصيل سره ذکرکوی-

**پنځمه وجه**: په سورة الانفال کښې ترغيب الی القتال اوشو نودلته رفع الموانع چه کوم رکاؤټونه دی نوهغه ختموی-

## دعوی دسورة

دسورة مرکزی مسئله او دعویٰ هغه ده " ترغيب الی القتال بذکرالمقاتل معهم "- يعنی جنګ باندې راتيزول او دهغې اعلان خوپه ذکرداقسام دمقاتل معهم - چه جنګ به چاسره کوې کوم کوم خلق او چاسره څنګه څنګه جهاد دې- او دا درې قسمه خلق دې

مشركان ، اهل كتاب او منافقان نو اول دوو سره دتورې جنګ او منافق سره بائيكاټ او جهادباللسان نو دجهاد هم قسمونه او چه چاسره جنګ كيږى دهغوى هم قسمونه ذكركوى-دانفال نه فرق راغې هلته ترغيب قتال ته وو خو په ذكردقواعدو باندې او دلته په ذكر دهغه چاچه هغوى سره جنګ كيږى-

**خلاصه اوتقسيم دسورة**

مختصره خلاصه دسورة احكام دفرق اربعو اودهغوى داوصافو اونحو تذكره مشركان دهغوى اقسام اواوصاف او اهل كتاب اودهغوى اوصاف او منافقان دهغوى اوصاف او مومنان اودهغوى اقسام به ذكركوى-

**تقسيم دسورة**:سورة ددې فرقو دبيان دپاره منقسم دې څلورو حصو ته اول حصه تر " عليم حكيم "(28) پورې - دويمه د" قاتلوا" (29) نه تر " الكٰفرين " (37) پورې - دريمه د" ياايهاالذين اٰمنوا" (38) نه تر " سميع عليم (98) پورې او څلورمه حصه د " ومن الاعراب " (99) نه تر آخره پورې-

**اوله حصه** : دابتداء نه تر (28) آيت پورې ده او پديكښې ذكردمشركانو دې اودهغوى اقسام او احكام- دمشركانو قسمونه : يو معاهدين بالعهد الغيرالموقت - چه وعده شوې ده وخت ندې مقرر نودهغوى حكم (2) آيت كښې - دويم قسم چه معاهدين بالعهدالموقت - چه وعده شوې ده او وخت مقرر دې دا په (4) آيت كښې ذكر كوى-دريم قسم محاربين چه هغوى سره جنګ دې - (14،5)كښې -څلورم قسم مستامنين چه هغوى امن اوغواړى نو (6) آيت كښې دهغوى تذ كره كوى- د اووم آيت نه تر (28) پورې ترغيبات اورفع دموانع او علل دقتال ذكركوى-

**دويمه حصه** : د (29) " قاتلوا الذين " نه دويمه حصه دسورة تر (37) پورې ده پديكښې ذكردقتال داهل كتابو سره او دهغوى خبائث او پليتئ ذكركوى چه داپليتئ

پکښې دی نوجنګ ورسره اوکړې- تر (35) پورې قبائح داهل کتاب ددواړو حصو تتمه کښې دمشرکینواوصاف بیانوی په آخر کښې -

**دریمه حصه** : د" یاایهاالذین اٰمنوا" (37) نه تر (98) پورې او پدیکښې ذکردمنافقانو - دهغوی پلیتئ ذکرکوی تقریباً شپیتو نه زیاتې پلیتئ ذکرکوی-او هغوی سره دسختئ تذکره-

څلورمه حصه : د(99) " ومن الاعراب " نه تر آخر تر سورته پورې- پدیکښې دمسلمانانو اوصاف او اقسام : چه یو دی المجاهدین په (100)کښې دویم دی متسارعین فی التوبه چه هغوی زرتوبه اویستله دخپل ګناه په (102)کښې-او دریم متکاسلین فی التوبه چه هغوی توبه کښې تاخیر کړې وو (106، 108 ) کښې - نومتکاسلینو ته وائی سستی مه کوه زر توبه اوباسه چه دسابقین الی الجهاد نه شی-اوکه توبه کښې سستی کوې نو منافقت ته به اورسې او چه دمنافقت اوصآف درکښې راغلل نو دیهودو او نصارو صفات به درکښې راشی نو شرک ته به اورسې-قرآن داسې بیان کوی او پدې حصه کښې به ترغیبات قتال ته وی او زواجر منافقانو ته او په آخر کښې مسئله دتوحید چه دکومې دپاره جنګ کیږی-

## مقاصدالایات وتناسبها

(1) بَرَاءَة مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ---- دابتداء نه تر (28) آیت پورې اوله حصه دسورة ده - پدیکښې بیان د اقسام دمشرکینو ذکرکوی او دجنګ علتونه او هغوی چه په کومو اعمالو فخر کوی دهغې ابطال-

بَرَاءَة مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ---- ذکرد معاهدین بالعهدالغیرالموقت-چه کومو مشرکینو سره وعده شوې ده اووخت ندې مقرر نوهغوی ته دبائیکاټ اعلان-

(2) فَسِيحُوا فِي الْأَرْضِ ---- بیان د مهلت دوی ته چه ځان تیار ساتئ-

وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ ---- تخویف مشرکانو ته-

(3) وَأَذَانٌ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ --- د مشركانو نه دبائيكاټ اعلان - په مجمع عام كښې -

فَإِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ ---- ترغيب توبې ته -

وَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ ---- سره تخويف -

(4) إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ----دويم قسم د مشركانو چه معاهدين بالعهد الموقت - چه د وعدې وخت ورسره مقرر دې او بدعهدی ئې نده کړې نودهغوی حکم-

(5) فَإِذَا انْسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ ---- دريم قسم محاربين - چه كومو سره وعده ختم شوه او مهلت ورته ورکړې شو نو دمهلت ختميدو نه روستو دا هم جنګيان شو او چه كوم سره دسره وعده نشته دې نوهغوی سره د جنګ اعلان-

فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ ----- تصحيح نيت چه كه ايمان راوړی نو بيا ئې مه وژنه دضد دوجې -- بس ستا كار اعلاء د كلمة الله سره دې-

(6) وَإِنْ أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ ---- څلورم قسم دمشركانو چه مستامنين دی - چه كوم مشركان امن غواړی نو چه كوم امن اوغواړی نودهغه حكم ذكر كوی-

(7) كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ ----- ددې نه علت دجنګ او رفع دمانع ذكركوی تر " الْمُعْتَدُونَ " پورې -چه دوی دعهد خيال نه ساتی نو ولې نه وژنې؟ چه ددوی پكښې خير وی نو بيا دوعدې خيال ساتی خو ستا يعنی دمومن د خير دپاره بالكل خيال نه ساتی نو اووژنه-

(9) اشْتَرَوْا بِآيَاتِ اللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ---- دويم علت دوی داعمل كوی نو ولې ئ نه وژنې-

(10) وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُونَ - دريم علت ، زياتی كونكی دی نو وژنه يئ - نوداعلل دجنګ ئې ذكر كړل - چه داپليت اعمال دی پكښې نو اوژنه-

(11) فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ ---- ترغيب توبې ته اوصحت دنيت ته-

(12)وَإِنْ نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ مِنْ بَعْدِ عَهْدِهِمْ ---- داهم علت دقتال دمشركينو چه داپليت عمل پكښې دې او ته ئې وژنې نه -

فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ --- ترغيب الى القتال-
أَلَا تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ ---- ترغيب الى القتال - دادرې پليتئ پکښې دى او ته ورته ګورې-اعلان دجنګ او دقتال فوائد-
يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ - فائده اوله
وَيُخْزِهِمْ - دويمه فائده -
وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ - دريمه فائده-
وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ - څلورمه فائده
وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ - پنځمه فائده
(15) أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تُتْرَكُوا ---- ترغيب الى القتال - چه تاسو به صرف په اٰمنّا دغه شان پريخودلې شئ او لا داحالت به نه وى راغلې-
(17) مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَنْ يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ ---- د مشركانو چه په كومو اعمالو فخر وو نودهغې ابطال او رفع دركاؤټ دجنګ - چه يره څنګه ورسره جنګ اوكړو دوى جماتونه جوړوى- نودهغې ابطال چه مشرک ته ګوره او جمات جوړولو ته ګوره-
أُولَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ - سره تخويف ذكر كوى-
(18) إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ - سره حقدار دجمات ذكر كوى-
(19) أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ ---- دبل عمل ابطال او رفع دمانع- يره دوى حاجيانو له اوبه وركوى-اوخيراتونه كوى - نوڅنګه ورسره جنګ اوكړو؟ نودهغې ابطال-
(20) الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا ---- ترغيب الى القتال او بشارت - جنګ اوكړئ چه دااجرونه الله تعالیٰ دركړى- تر " أَجْرٌ عَظِيمٌ " (22) پورې-
(23)يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا آبَاءَكُمْ ---- بائيكاټ دمشركانو نه او رفع دمانع چه يره پدې مشركانو كښې څمونږه رشته داران دى او پلار وغيره دى نودهغې جواب چه بائيكاټ ترې اوكړئ-

(24) قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ ---- زجر ، چه دِ ځیزونو سره مو که دجهاد او دالله او دپیغمبر نه زیات محبت اوکړو نونتیجه به خرابه راشی-

(25) لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَة ---- تشجیع مومنانو ته - چه بهادران شئ او جنګ اوکړئ- او داغم مه کوئ چه مونږه لږ یو تاسو لږ وئ الله تعالیٰ ستاسو مدد کړې وو- لکه په بدر کښې اوډیر وئ خوسخته دربانديِ راغلې وه بیا درله مدد اوکړو لکه حنیین کښې- تر " غَفُورٌ رَحِيمٌ " (27) پورې-داذکر کوی دحنین واقعې ته اشاره کوی او نصرت او تائید الٰهی ته -

(28) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- بائیکاټ د مشرکینو نه چه هرکله مکه فتح شوه نو اوس دِ مشرک حرم ته نه راځی - بائیکاټ ترې اوکړئ-

وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةَ ---- یره که بائیکاټ اوکړو نو تجارت له به راتلل نو کار به خراب شی نو جواب- اوله حصه د مشرکانو باره کښې تام شوه اول کښې هم بائیکاټ او برات او آخرکښې هم -

(29) قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ---- ددې ځائې نه دویمه حصه دسورة او دویمې ډلې سره دجنګ تذکره - چه هغه اهل کتاب دی- او دهغوی پلیت اوصاف ذکرکوی چه دهغې وجې نه دوی سر جنګ واجب دې-

پدې آیت کښې اول علت دقتال داهل کتابو چه دوی کښې داپلیتی ده نو وې وژنئ او جنګ ورسره اوکړئ-

(30) وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ ---- دویم خباثت او علت دقتال دیهودو چه الله له ولد ګرځوی-نعوذبالله-

(31) اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا ---- دریم علت اوخباثت دیهودو -چه دوی دالله نه علاوه نور دشریعت ذمه وار ګڼړی - " اتخاذ الارباب من دون الله -" نو اووژنئ کنه-
لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ - دعوی دتوحید او رد ددوی په خباثت باندې-

(32) يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ ---- څلورمه پليتى او علت دقتال داهل كتابو - چه " اطفاء الحق " چه دحق د مړ كولو كوشش كوى چه دحق او دين رنړا خوره نشى-
(33) هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى ---- د دوى داكوشش عبث دې - الله پيغمبر اظهار له راليږلى دې نو دوى هغه ختمولې نشى-
(34) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْأَحْبَارِ ---- پنځم خباثت او علت دجنګ چه دوى دخلقو مالونه په غلطه خورى او دين نه خلق بندوى-
وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ ---- شپږم خباثت او علت چه دوى مالونه جمع كوى په دين نه لګوى-ورسره تخويف داسې خلقو ته تر " تَكْنِزُونَ " (35) پورې-
(36) إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللَّهِ ---- داتتمه ددوارو حصو ده - پديكښې خباثت دمشركانو ذكركوى- چه دالله تعالىٰ دتحريم او عزت خيال نه ساتى نوجنګ ورسره اوكړئ- اول تحريم دالله تعالىٰ او قانون الٰهى ذكركوى-
قَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً ---- ترغيب الى القتال - او دنصرت الٰهى بشارت-
(37) إِنَّمَا النَّسِيءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ ---- دا خباثت چه ددغه تير قانون الٰهى خلاف كوى حرمتونه په ځائې نه پاتې كوى نو جنګ ورسره اوكړئ-
(38) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ ---- ددې ځائې نه دريمه حصه دسورة تر(98) آيت پورې اوپديكښې بيان دمنافقانو دهغوى پليتئ او خباثتونه هغوى ته زورنې او ترغيبات جهاد ته به ذكركوى-پليتئ تقريباً دشپيتو نه زياتې ذكركوى-
مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا ---- زجر په تكاسل فى الجهاد - چه دامنافق په جهاد كښې سستى كوى په دنيا مئين دې-
اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ دااول خباثت چه ددين مقابله كښې دنيا اخلى-
رَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا دا 2 خباثت چه آخرت ته توجه نو كوى او دنيا اخلى-
(39) إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ --- زجر په تكاسل - كه په دغه عمل كلك شوى نو دابه مو سزا شى-

(40) إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ ---- داهم زجر چه که ستاسو داشک وی چه پيغمبر مونږ ته بيابيادراوتلو وائی - دي چرته مونږته محتاج دي- نوداخيال ختم کړه-
(41) انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا ---- ترغيب الى الجهاد- چه داسستی پريږدئ او فضول اعذار ختم کړئ-جهاد اوکړئ-
لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا ---- (3) دابل خباثت ذکرکوی دمنافق چه دي چرته جهادله اوځی داصرف دراحت او مال بنده دي-
سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ (4)داهم خباثت دمنافق دي -
(5)يُهْلِكُونَ أَنْفُسَهُمْ دابل خباثت-
إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ (6)بل خباثت
(43) عَفَا اللَّهُ عَنْكَ ---- دادمحبت ډکه تنبيه نبی عليه السلام ته - اودخاص واقع خبره ده - ګنی سورة النور کښې فاذن لمن شئت منهم " وئيلی دی هغه قانون دي او دادخاص واقعې خبره ده-
(44) لَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ ---- ترغيب الى الجهاد - چه ايمان دار دجهاد نه ځان نه پټوی-په سخته کښې دامير نه اجازتونه نه غواړی-داهم دخاص واقعې سره ده ګنی قانون دادې چه مومن بې اجازته چرته نه ځی- لکه سورة النور کښې چه قانون ذکردې-
(45) إِنَّمَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ ---- زجر په سستئ او خباثتونو دمنافق-
إِنَّمَا يَسْتَأْذِنُكَ (7) خباثت -
لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ (8) خباثت-
وَارْتَابَتْ قُلُوبُهُمْ (9) خباثت
(46) وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ ---- داهم زجر چه دوی دسره دجهاد دپاره تيارې نه کوی-
وَلَوْ أَرَادُوا (10) خباثت-
كَرِهَ اللَّهُ انْبِعَاثَهُمْ (11) خباثت-
وَقِيلَ اقْعُدُوا (12) خباثت-

(47) لَوْ خَرَجُوا فِيكُمْ ---- داهم زجر چه اول ځی نه جهاد ته چه لاړشی نوفساد کوی-

مَا زَادُوكُمْ (13) خباثت-

وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ (14) خباثت-

وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ (15) خباثت-

وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ سره تخويف چه الله تعالیٰ ته معلوم دی-

(48) لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ ---- زجر چه فتنه باز دی (16) خباثت-

وَقَلَّبُوا لَكَ الْأُمُورَ (17) خباثت-

وَهُمْ كَارِهُونَ (18) خباثت

(49) وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ ---- زجر په تکاسل چه دجهاد نه دپاتې کیدلو دپاره ځان له بهانې کوری-أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوا (19) خباثت-

وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ - تخويف چه دائي کار نودابه ئې سزا شی-

(50) إِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ (20) خباثت-

يَقُولُوا قَدْ أَخَذْنَا أَمْرَنَا (21) خباثت-

(51) قُلْ لَنْ يُصِيبَنَا ---- ددغې جواب او اظهار دعقيدې دمخلص مسلمان-تر "مُتَرَبِّصُونَ" (52) پورې-

(53) قُلْ أَنْفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا لَنْ يُتَقَبَّلَ مِنْكُمْ ---- (22) خباثت

(54) مَا مَنَعَهُمْ --- وجه دعدم قبوليت-

كَفَرُوا بِاللَّهِ (23) خباثت-

وَلَا يَأْتُونَ الصَّلَاةَ --- (24) خباثت-

وَلَا يُنْفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَارِهُونَ (25) خباثت-

(55) فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ ---- دفع دوهم بيا ورته الله تعالیٰ دومره مال او اولاد ولې ورکړې دي او آسوده حال دی نو جواب کوی - چه دا د دوی دعذاب سبب دي او دخاتمې د خرابيدلو-

(56) وَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ (26) خباثت-
وَلَكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ (27) خباثت-
(57) لَوْ يَجِدُونَ مَلْجَأً (28) خباثت
(58) وَمِنْهُمْ مَنْ يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ ---- (29) خباثت-په پيغمبر باندې عيب لګول-
فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا (30) خباثت چه په مال خوشحاله-
إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ (31) خباثت
(59) وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا --- ددغې په ځائې ورله داپكار وو-
(60) إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ ---- بيان دمصارف دمنافقينوداعتراض درد دپاره چه اعتراض ته څه حاجت دې اوګوره چه په دې مصارفو كښې تاسو يئ نوصحيح ده ګنى اعتراض څله كوئ-
(61) وَمِنْهُمُ الَّذِينَ يُؤْذُونَ النَّبِيَّ ---- (32) خباثت-
الَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ اللَّهِ ---- تخويف داسې خلقو ته-
(62) يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ ---- (33) خباثت-ستادرضافكر شته دالله او پيغمبر فكر نشته دې-
(63) أَلَمْ يَعْلَمُوا - تخويف -
مَنْ يُحَادِدِ اللَّهَ (34) خباثت-
(64)يَحْذَرُ الْمُنَافِقُونَ ---- (35) خباثت- چه خپل ګند ورته معلوم دې-د اظهار نه ئې يريږى-
(65) إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ ---- (36) خباثت-
(66) لَا تَعْتَذِرُوا (37) خباثت-
كَانُوا مُجْرِمِينَ (38) خباثت-
(67) يَأْمُرُونَ بِالْمُنْكَرِ (39) خباثت-
وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ (40) خباثت-

وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ (41) خباثت-
نَسُوا اللَّهَ (42) خباثت-
(68) وَعَدَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ ---- تخويف اخروى چه داپليتى كوى نودابه ئې حال شي-
(69) كَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ ---- تخويف دنيوى - چه آخرت څه دنيا ئې هم تباه ده او نمونې دتخويف دنيوى د (70) آخره پورې-
(71) الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ ---- په تقابل كښې دمومنانو تذكره چه دې مخلص مومنانو ته اوګوره دا صفات اختيارول پكار دى-
(72) وَعَدَ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ ---- بشارت دادمومن نتيجه نو عمل كښې څومره فرق او نتيجه كښې څومره فرق-
(73) يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ ---- ترغيب الى الجهاد- چه دداسې پليتو والا سره دهر چا مناسب خه سخته مقابله اوكړه-
وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ - تخويف اخروى-
(74) يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ ---- دادسختۍ قابل دى ځكه چه دوى كښې داپليتۍ دى-
يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ (42) خباثت-
قَالُوا كَلِمَةَ الْكُفْرِ (43) خباثت-
كَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ (44) خباثت-
وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا (45) خباثت-
فَإِنْ يَتُوبُوا يَكُ خَيْرًا لَهُمْ ---- تخويف چه توبه ورله خه ده چه اوس ئې وخت دې-
(75) وَمِنْهُمْ مَنْ عَاهَدَ اللَّهَ ---- زجر بخلاؤ ته او داهم يو قسم دې چه وعدې دالله سره كوى-
(76) بَخِلُوا بِهِ --- (46) خباثت-
وَهُمْ مُعْرِضُونَ - (47) خباثت-
(77) فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ ---- دائې سزا چه دنفاق نه به ورته توبه نصيب نشى-

(78) أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ ---- سره زجر - دوى ته لكه چه ددوى په كار الله تعالىٰ نه پوهيږى څه-

(79) الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ ---- (48) خباثت- چه خپله هم نه خرچ كوى او بل ته هم بد ګورى-فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ (49) خباثت-

سَخِرَ اللَّهُ مِنْهُمْ ---- تخويف چه الله به ورله سزاو وركړى-

(80) اسْتَغْفِرْ لَهُمْ ---- داهم تخويف چه دوى ته بخنه نه كوى-او (50) خباثت-

(81) فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ ---- زجر بخلاؤ ته- (51) خباثت-

وَكَرِهُوا أَنْ يُجَاهِدُوا (52) خباثت-

وَقَالُوا لَا تَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ (53)خباثت-

قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا ---- تخويف چه ددې نه دبچ كيدلو فكر پكار دې-

فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا زجر او (54) خباثت-

(83) فَإِنْ رَجَعَكَ اللَّهُ إِلَى طَائِفَةٍ مِنْهُمْ ---- ادب نبى عليه السلام ته-

إِنَّكُمْ رَضِيتُمْ بِالْقُعُودِ (55) خباثت-

(84)وَلَا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ ---- داهم تخويف او ادب نبى عليه السلام ته چه دعاء ورله مه كوه-

وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ - وجه دنه كولو ددعاء-

(85) وَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ ---- دفع دزوړ وهم-

(86) وَإِذَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ ----زجر په تكاسل باندې-چه دجهاد نه ځان پټوى-

اسْتَأْذَنَكَ أُولُو الطَّوْلِ مِنْهُمْ (56) خباثت-

(87) رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ ---- داهم زجر چه دښځو سره په ناسته خوشحاله دې خوجنګ له نه ځى-وَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ (57) خباثت-

(88) لَكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ ---- ترغيب الى الجهاد- شته دې دميدان ځوانان-نو ځان دميدان ځوان كړه نه دكورچرګه-سره دبشارت-

ـہ خلق الله للحروب رجالاً ورجالاً للقصعة والثريد

ترجمه : الله دجنګونو دپاره څه ځوانان پيدا کړی دی-او څه خلق ئې د کاسو او ثريد (چورئ ) دپاره پيدا کړی-

(89)وَجَاءَ الْمُعَذِّرُونَ مِنَ الْأَعْرَابِ ---- زجر چه دجهاد نه پاتې کيدلو ته بهانې کوی-او (58) خباثت- سَيُصِيبُ الَّذِينَ كَفَرُواسره تخويف-

(91) لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ ---- استثنائيات چه هرناست باندې غضب نشته دې تر (92) پورې-

(93) إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ ---- دا اصل مجرمان اوزجر په تکاسل باندې-

(94)يَعْتَذِرُونَ إِلَيْكُمْ ---- (59) خباثت

(95) سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ ----- (60) خباثت

وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ تخويف چه دابه ئې ځائې شی-

(96)يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ---- (61) خباثت-

(97)الْأَعْرَابُ أَشَدُّ كُفْرًا وَنِفَاقًا وَأَجْدَرُ ---- (62) خباثت

(98) وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَنْ يَتَّخِذُ ---- زجر په بخل- (63) خباثت-

وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَائِرَ (64) خباثت-

عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ --- تخويف چه تباه به شی- داحصه په بيان دمنافقانو کښې تام شوه خباثتونه اوزجرونه وو منافق ته-

(99) وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَنْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ ---- ددې ځائې نه څلورمه حصه دسورة ذکر کوی-په بيان دمومنانو کښې اودهغوی اقسام سره دترغيباتو نه او مقابل کښې به دمنافقانو تذکره کوی لکه چه دمنافقانو هغې کښې دمومنانو تذکره کوله-ختم دسورة په توحيد چه ددې دپاره داقتال دې-

وَمِنَ الْأَعْرَابِ ---- ديکښې دمومنانو صفات -

(100) وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ ---- اول قسم دمومنانو او هغوى ته بشارت چه هغه دى : المجاهدون "چه جهاد ته مخکښې شو او سبقت ئې اوکړو-
(101) وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ ---- زجر منافقانو ته - او تنبيه مومنانو ته چه ګورې په ټولو ګمان دخه اونکړې- مقابل دمومنانو کښې دمنافقانو تذکره-
سَنُعَذِّبُهُمْ مَرَّتَيْنِ --- سره تخويف-
(102) وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ ---- دويم قسم دمومنانو ته چه هغه متسارعين فى التوبه دى-چه په تبوک کښې روستو پاتې شوى وو خوفوراً ئې توبه اويستله-دهغوى دلجوئى په (103) آيت کښې او قبول دتوبې په (104) -
(105) وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ ---- زجر منافقانو ته او تخويف پس دبشارت نه مومنانو ته -
(106) وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللَّهِ ---- دريم قسم دمومنانو چه متكاسلين فى التوبه - چه هغوى توبه کښې سستى کړې وه- نودهغوى حکم-
(107) وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا ---- زجر منافقانو ته چه مومنان خو په خپله غلطئ خفه کيږى او دا خلق خپلې غلطئ له جوازونه ګورى- بل مناسبت چه اوګوره مخکښې بدعمل په نيک نيت باندې خه اوګرځيدو او دمنافقانو خه عمل د بد نيت دوجې ګنده اوګرځيدو-دهغوى دمسجدضرار تذکره او دهغې مقابله کښې دمسجد قباء تذکره-او دمنافقانو دخباثت تذکره تر " عَلِيمٌ حَكِيمٌ " (110) پورې-
(111) إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ---- ترغيب الى الجهاد او آخرت ته په عجيب انداز- خو تفسيرکښې ددې دانداز پته لګى- دالله سره موسودا شوې ده-
(112) التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ ---- دمومنانو اوصاف- او بشارت پدې اوصافو-
(113) مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا ---- ادب مومنانو ته او تخويف مشركانو ته چه مشرک دبخنې اهل ندې نو تاسو ورله بخنه مه غواړئ- يعنى د مومن يو صفت داهم دې چه د مشرک نه بائيکاټ اوکړى او نفرت ترې نه اوکړى- يعنى مشركانو سره جهاد اوکړئ چه

په شرک مړه شی یاپرې مهر اولګی نو بخنه ورله مه غواړئ-خودمهر پته صرف پیغمبر ته په وحی لګی لکه ابراهیم علیه السلام ته چه لګیدلې وه-

(114) وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ ---- جواب دسوال چه ابراهیم علیه السلام چه مشرک پلار له بخنه غوختې وه - نو جواب چه " عَنْ مَوْعِدَة "-

(115) وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا ---- یره الله تعالیٰ پرې مهر ولې لګوی ؟ نو جواب چه الله تعالیٰ هسې مهر نه لګوی تر څو چه وضاحت نه وی شوې خوچه وضاحت نه روستو ضد اوکړی نومهر پرې اولګوی-

(116) إِنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ ---- اثبات دتصرف صرف الله تعالیٰ لره - چه ټول اختیارات دالله تعالیٰ دی- دعلم نه روستو تصرف هم دالله تعالیٰ دې - خو دهغه احکام اومنئ او انقیاد اوکړئ الله تعالیٰ ته اعمال معلوم دی او په بدلې ورکولو قادر دې-

(117) لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ ---- دټولو صحابو شان او دمومنانو شان او ترغیبات دجهاد چه لکه دغه مردمیدانانو ښنګه کارکړې وو تاسو هم هغه شان اوکړئ دمومنانو داولې فرقې ذکر چه المجاهدون وو-

(118) وَعَلَى الثَّلَاثَة الَّذِينَ ---- دهغه متکاسلینو فی التوبه حکم دلته راغې-چه دهغوی معامله روستو کړې شوې وه-نو دلته ئې توبه قبوله شوه-

(119) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- ترغیب الی الجهاد- چه دداسې خلقو اتباع اوکړئ روستو کیږئ مه-

(120) مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَة ---- ترغیب الی الجهاد سره دبشارت - چه څه انصاف دې چه پیغمبر په میدان کښې او تاسو کور اوس چه پیغمبر ناموس باندې ځان قربان نه کې نو ښنګه مسلمان ئې :

نہ جب تک کٹ مروں میں خواجہ بطحاء کی حرمت پر

خدا شاھد ہے کامل میرا ایمان ہو نہیں سکتا

بے عشق محمد ﷺ جتنے محدث ہیں جہاں میں

بخار انکو آتا ہے بخاری نہیں آتی

داترغیب چه په هر عمل الله تعالیٰ اجر درکوی نو پاسه کنه - تر " یعملون" پورې-

(122) وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّة ---- ترغيب الى علم التوحيد والجهاد- دامطلب ندې چه صرف جهاد له ورشئ او علمی کار پریدئ دتوحید او جهاد علم هم حاصلول غواړی نوهغې له هم کسان منتخب کړئ-

(123) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- ترغیب او اعاده دمضمون دسورة- سورة کښې دوه قسمه جهاد وو نو هغہ دواړه ذکرکوی یودسنان دوسلې او بل دلسان دژبې نوهغه ئې دلته راوړل-

(124) وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُورَة ---- چه سورة کښې مومنانو ته کوم بشارت نو دهغې اعاده چه دجهاد په مضمون خوشحاله شی او دائې خوښ وی-

(125) وَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ ---- چه کوم زجر وو متکاسلینو ته نو دهغې دوباره تذکره چه ددوی جهاد مضمون سره ګندونه خکاره شی لکه چه دګندونو تماشه مو اوکړه- دازجر تر " لایفقهون " پورې دې-

(128) لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ ---- ترغیب الی اتباع الرسول - داهم سورة کښې ذکر وو چه دنبی علیه السلام اتباع مه پریږدئ هغه په تاسو ډیر خفه کیږی-

(129) فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ ---- دعوی دتوحید- هغه مسئله په آخر کښې راوړه چه هغې دپاره جهاد کیدلو-

## حاصل دسورة

دالله تعالیٰ دتوحید دسربلندئ دپاره په بهادرئ جنګ اوکړئ- او جنګ چاسره کیږی نو هغه کسان اوپیژنه - مشرکین او اهل کتاب دی کوم چه په جهاد کښې سستی کوی او دپیغمبر دملګرتیا نه پاتې کیږی-نودهغوی ګندونه او پلیتئ اوګوره- لکه دنرانو مجاهدینودپیغمبر په ملګرتیا کښې جهاد اوکړئ- روستو کیږئ مه که په تقاضا ئې

بشريت روستو شوئ نو فوراً توبه کوئ په توبه کښې سستی مه کوئ چه توبه کښې سستی کوی نو رحمت به هم روستو کیږی او جهاد اوکړئ ځکه چه تاسو ته په هر عمل اجر ملاویږی-او ثوابونه الله مو ملګرې دې نو دهغه کلمه اوچته کړئ-

**امتیازات**

(1) اقسام المشرکین-

(2) رفع دموانع دقتال دمشرکینو او علل دهغې-

(3)خباثتونه ډیر دمنافقینو -

(4) ثانی اثنین اذ هما فی الغار اذیقول لصاحبه-

(5) واقعه د تبوک-(6) واقعه د حنین-

(7) ان الله اشتری من المومنین-

(8) ذلک بانهم لا یصیبهم -

(9) ماکان المومنین لینفروا -

(10) عزیز علیه ماعنتم حریص علیکم-

تمت سورة التوبة بعون مالک العروبة والاروبة -

20 ذوالقعده 1432 ه 16 اکتوبر 2012 ء - لیلةیوم الاحد 25 : 09

یامن یری ما فی الضمیر ویسمع انت المعد لکل ما یتوقع

یا من یرجّیٰ فی الشدائد کلها یا من الیه المشتکیٰ المفزع

یا من خزائن رزقه فی قول کن امنن فان الخیر عندک اجمع

فمن الذی ادعوواهتف باسمه ان کان فضلک عن فقیرک یمنع

مسکین الی الله ابوحماس بن عبد المتین

سورة یونس مکیة
نزولا (٥١) مصحفا (١٠)
رکوعات (١١) ایات (١٠٩)

بسم الله الرحمن الرحيم

### سورة یونس

سورة یونس مکی سورة دي - په نزول کښې یوپنځوستم (51) نمبر دې پس دسورة الاسراء(بنی اسرائیل) نه نازل شوې دې-او په ترتیب دسورتونو کښې لسم نمبر دې پس دسورة التوبه نه-

### ربط دمخکښې سورة سره

مناسبت دسورة یونس دسورة التوبه سره په ګڼړووجوهو دې- ځنې دهغې نه :

**اوله وجه** : دسورة التوبه په آخر کښې مسئله دتوحید وه چه " فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ" نو داسورة ددغې مسئلې تفصیل کوی سره ددلائلو نه - نودخاتمې دتوبې تفصیل شو-

**دویمه وجه** : په سورة التوبه کښې ذکر دجهاد وو او هغې ته ترغیبات وو نو په سورة یونس کښې وائی چه جهاد دتوحید دپاره دې- نودتوحید مسئله بیانوی - او مقاصداربعه عالیه چه دهغې دپاره جهادکیږی-

**دریمه وجه** : په سورة التوبه کښې دمشرکینو اقسام ذکر شو-نو دلته دهغوی دشرک بیان چه : هؤلاء شفعاءنا " او دهغوی انجام ذکر کوی-

**څلورمه وجه** : چه کله په سورة التوبه کښې دمشرکینو نه دبائیکاټ اعلان اوشو او هغوی سره دجنګ- نو اوس به هغوی ځان له بهانه ګوری چه مونږ خو خپل شرکاء داسې نه ګڼړو چه ګنی دامالکان او متصرفان دی بلکه مونږ وایو چه داځمونږ دالله تعالیٰ په

دربار کښې سفارشیان دی- چه مونږه دوی ته وایو او دوی الله تعالیٰ ته وائی- نو دهغې رد چه داهم شرک دې-

**پنځمه وجه** : په سورة التوبه کښې اووئیل چه " انما المشرکون نجس " - نو په سورة یونس کښې دمشرکینو نجاست ذکرکوی-چه هغه شرک اعتقادی او فعلی دې-او عقیده دشفاعت قهری ده- ددې وجې نه دوی نجس دی او ګنده دی-چه داکوی-

**دعوی دسورة**

دسورة مرکزی مضمون او دعوی نفی دشرک اعتقادی او فعلی ده او نفی دشرک فی الدعاء پرې آخر کښې تفریع کړې ده- اول رد دشرک اعتقادی کوی بیا رد دشرک فعلی کوی په شان دبقرې او انعام او په عکس دمائدې باندې- ځکه مائده کښې اول رد دشرک فعلی وو او بیا داعتقادی وو-

**خبردارې** :دادعوی حضرت شیخ القرآن رحمه الله تعالیٰ په سمط الدرر کښې لیکلې ده- او دشیخ القرآن مایه ناز شاګردانو کله بل شان ذکرکړې - معلومیږی چه کله شیخ القرآن رحمة الله درس کښې ددې نه بل شان هم ذکر کړې ده - ځکه هغه داسې شاګردان دی چه هغوی دهغه په نقش قدم روان دی - دلته دزیادت دبصیرت دپاره لیکلې شی او بیا خلاصه کښې وجه لیکم-

**دویمه دعوی** : دشیخ القرآن رحمة الله مایه ناز شاګرد چه هغه بل چا سره دسره قرآن وئیلې ندې دهغوی فرزند ارجمند شیخ القرآن مولانا محمد طیب مدظله العالی او دغه شان دهغوی بل شاګرد شیخ القرآن مولانامیرسمیع الحق صاحب مدظله العالی ددرس په دوران کښې ذکر کوی چه دسورة مقصد دې اثبات دمقاصد اربعو عالیو، توحید،رسالت،صداقة الکتاب او ایمان بالاخرة - چه دادسورة دعوی ده-

**دریمه دعوی**: دشیخ القرآن رحمة الله تعالیٰ مایه ناز شاګرد شیخ الاسلام مولانا ولی الله کابلګرامی الشهید رحمة الله تعالیٰ چه هغه به دشیخ القرآن رحمة الله تعالیٰ ته مجتهد فی

القرآن و اودهغوی طرز ته به ئې اجتهادی طرز وئیلو نو هغوی د درس په دوران کښې وئیل چه دسورة دعوی ده رد دشفاعت قهری چه دمشرکانو دګنده عقیده رد کوی- پدې دعوو کښې څه منافات نشته- سورة په ټولو دعوو هم چلیږی چه رد دشفاعت قهری او داعقیده دټولو اشراکو د پاره منبع او سرچشمه ده نومشرک ورسره نور اشراک هم شروع کړی نو ورسره دنورو اشراکو رد دشرک اعتقادی او فعلی هم کوی - نو اول دعوی راغله او دا کارونه مشرک ځکه کوی چه دتوحید او رسالت او قرآن او آخرت نه منکر دي نو دهغې اثبات ورسره هم پکاردې -نو دریمه دعوی هم راغله داسې دعوو مینځ کښې مناسبت شو نو دغه شان به دآیتونو مینځ کښې مناسبت وی او پداسې انداز سورة چلوې نو هم ستاخوخه ده او چلوه- سورة به مربوط روان وی-

## خلاصه او تقسیم دسورة

ځما محترم استاذ شیخ القرآن مولانا میرسمیع الحق صاحب بارک الله فی عمره وصحته ددرس په دوران کښې چه دسورة یونس خلاصه وئیله نو هغه یو واقعه نقل کړه چه حضرت شیخ القرآن علیه الغفران فرمائیل چه ماسورة یونس دتفسیر نه بغیر شپږمیاشتې مطالعه کړو او خلاصې مې لیکلې نو دسورة یونس م یوسل شل (120) خلاصې اولیکلې نو وې مونږپوهه شو چه قرآن په لسو شلو حصار ندې دادذوق او مزا ولې او مطالعې سره تعلق لری-نو ددې سورة خلاصې هم په عجیب طرز دی-

مختصره لنډه خلاصه خوداده چه دابتداء دسورة نه دقرآن کریم مقام او ادله عقلیه په توحید ذکرکوی او هر دلیل سره به توحید ذکرکوی او رد دشرک اعتقادی او فعلی سره د رد دمشهورې شبهې دمشرکینو چه " هؤلاء شفعاءنا "-بیا دتخویف دپاره واقعات ثلاثه ذکرکوی او ترغیب له چه اومنئ ګنی تباه به شی او آخر کښې رد دشرک فی العبادة او فی التصرف او الدعاء او صداقة دقرآن باندې سورة ختموی-

**تقسيم دسورة**: سورة منقسم دې اووه بابونو او يو تتمې ته-چه تتمه د(71) نه تر آخر تر سورته ده - او يا سورة دوه حصې دې اوله حصه تر (71) پورې او پديکښې رد دشرک اعتقادی او فعلی او جواب دشبهې او آخره حصه کښې واقعات دترغيب دپاره او تخويف دپاره ذکرکوی- شيخ القرآن رحمة الله سمط الدرر کښې اوله ليکلې ده نو دهغې تفصيل کوو- چه اووه بابه يو خاتمه يا دوه حصې اوله حصه اووه بابه دويمه حصه کښې واقعات ثلاثه -

**اول باب**: دابتداء نه تر " يکفرون " (4) آيت پورې - پديکښې ترغيب الى القرآن او زجر په انکار درسالت او دليل عقلی په توحيد (3) کښې او تخويف (4) کښې-

**دويم باب**: د(5) " وهوالذی " نه تر " لايفلح المجرمون " (17) پورې او پديکښې اول دليل عقلی (6،5) کښې بياحال دبدبختو او نيک بختو تر لسم پورې - بيا زجر په انکار دآخرت او په انکار دقرآن (15) کښې-

**دريم باب**: د " ويعبدون من دون الله " (18) نه تر " ماکانوا يفترون " (30) پورې- پديکښې اول زجر په شرک او جواب دمشهورې شبهې دمشرکينو بيا زجرونه او دليل عقلی او مثال دقرآن او بشارت او تخويف تفصيلی-

**څلورم باب**: د " قل من يرزقکم " (31) نه تر " وهم لا يعلمون " (54) پورې- پديکښې دلائل اعترافيه ذکرکوی او سخته زورنه په انکار دقرآن (37) کښې او دمهر دزړونو دکفارو تذکره د (42) نه (44) پورې او بيا زجر په انکار دآخرت او نفی دتصرف دنبی عليه السلام نه (49) کښې او بيا زجرونه په انکار دآخرت باندې او تخويف-

**پنځم باب**: د (55) " الا ان لله " نه تر " هوالسميع العليم " (65) پورې او پديکښې رد دشرک فعلی او ترغيب الى القرآن او بشارت -

**شپږم باب**: يو آيت دې (66) کښې چه رابلی نو داظن دې-

**اووم باب**: د (67) هوالذی جعل لکم " نه تر " للکفرين " (70) پورې- پديکښې دليل عقلی او رد دشبهې ، زجر په اتخاذالولد او تخويف-

دا اوله حصه تامه شوه که بابونه نه وائې لکه شیخ القرآن ابو الیمان صاحب مد ظله العالی درس کښې نه وائی نو ستاخوخه ده او مضامین دغه شو دبابونو نه وئیلو سره به صرف آسانتیا راشی نو عوامو ته مه وایه او طلباؤ ته دبصیرت سوا کولو دپاره اووایه-دغه مضامین داولې حصې شو-

**دویمه حصه**: دویمه حصه او تتمه دسورة د " واتل علیهم " (71) نه تر آخرتر سورته ده - پدیکښې واقعات ثلاثه ذکر کوی چه منکرانو له تخویف او ترغیب ایمان ته دې او داعی ته تشجیع ده- چه دمصائب پرواه مه کوه او رد دشرکونو اوکړه لکه چه انبیاء کرامو کړې وو-او امورمصلحه عندالابتلاء (87)کښې ذکرکوی-او بل دفع دعذاب په ایمان نو ایمان ته ترغیب په واقعه دقوم یونس ذکرکوی- او د (103) نه تر آخره نفی دشرک فی العبادة (104) او فی الدعاء (106) او فی التصرف (107) او ترغیب قرآن ته او تسلی په آخر کښې نبی علیه السلام ته-

**مقاصدالایات وتناسبها**

(1) الر تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْحَكِيمِ - اوله حصه دسورة تر (70) آیت پورې او پدیکښې رد داشراک یعنی دشرک اعتقادی او فعلی او اثبات دمقاصد اربعو او جواب دشبهې د مشرکینو یعنی په غلطه عقیده رد- په توحید دلائل ذکر کیږی-

الر تِلْكَ ---- ترغیب الی القرآن - یعنی داراروان مضامین چه بیانیږی نو داداسې کمزوری مضامین مه ګڼړه دا دزبردست کتاب مضمون او دعوی ده په کهلاؤ غوږونو ورته غوږ کیږده-

(2) أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا ---- زجر - چه داسې زبردست کتاب بیان شی نو دانالائقه تعجب شروع کړی چه سړې هم پیغمبر کیدلې شی-او دهغه داعی کار ددوی خیر لټول وی-

وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا ---- بشارت چه اشراک پرېږدی په مقاصد ایمان راوړی او شفاعت قهری نه زړه پاک کړی په " مَا مِنْ شَفِيعٍ إِلَّا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ " ایمان راوړی نو هغوی ته خوشحالی۔

قَالَ الْكَافِرُونَ ---- زجر په انکار دپیغمبر باندې چه پیغمبر ته ساحر وائی نو د ساحر خبره خو څه حقیقت نه لری او دقرآن مضمون او د پیغمبر بیان خو په عقل او نقل او وحی موید دې - اوګورئ لږدعقل دلائل۔

(3) إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي ---- اول دلیل عقلی - چه تصرفات او اختیارات ټول دالله تعالیٰ دی -

مَا مِنْ شَفِيعٍ إِلَّا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ ---- ددلیل نتیجه اثبات دتوحید اول دمشرکینو په عقیده چه ټول کارونه الله تعالیٰ کوی چاته هم څه نه دی حواله کړی-نو بې اجازته سفارشی دکومې راغلو۔

ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ ---- دا پرې تفریع دتوحید چه دغه کارونو کونکې الله تعالیٰ دې نو نور اختیارات او تصرفات هم دالله تعالیٰ دی نو ولې بل ته آوازونه کوئ او اختیارات ورکوئ۔

أَفَلَا تَذَكَّرُونَ - زجر چه ددلیل نه فائده ولې نه اخلئ۔

(4) إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا ---- تخویف - چه که ددغه شرک او شفاعت په عقیده لاړلئ نو الله تعالیٰ ته به مخې ته ځئ۔

إِنَّهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ----- دویم دلیل عقلی- او دا قیامت څه ناشنا نه دې د الله تعالیٰ قدرت او اختیار شته نو انکار ترې ندې پکار۔

لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا ---- فائده دقیامت- او دانه چه قیامت کښې فائده نشته دې - او بشارت او تخویف۔

(5) هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً ----- دویم باب تر (17) پورې۔

هُوَ الَّذِي جَعَلَ ---- دریم دلیل عقلی - د فضاء تصرفاتو ته اوګوره چه دا دچا اختیار دې -

(6) إِنَّ فِي اخْتِلَافِ اللَّيْلِ ---- څلورم دليل عقلي-د زماني تصرفات اوخلقت هم دالله تعالیٰ دي نو دومره سوچ نه کوئ او بل پسې روان يئ او سفارشي بې اجازته جوړوئ-

(7) إِنَّ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ---- تخويف - چه نه منی نو دنه منلو سبب هغه انکار دآخرت دي او دقرآن او ددواړو نه دانکار اصل سبب هغه په دنيا مطمئن کيدل دی نو دا بدبخته دی او حال ئې دغه دي دآخرت-

(9) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ---- بشارت - چه چا توحيد اومنلو او اشراک او غلطه عقيده ئې پريخودله،په " مَا مِنْ شَفِيعٍ إِلَّا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ " باندِ ئې ايمان راوړو نودهغه حال اوګوره-

(10) أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ ---- تفريع دتوحيد په دلائلو باندِ- چه دنيا کښې هم دومون داعقيده ده نوآخرت کښې به هم ددې آواز کوی-

(11) وَلَوْ يُعَجِّلُ اللَّهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ ---- تخويف - چه دا نالائقه ددلائلو نه غافله دی -نو زر عذاب او قيامت غواړی نو مهر پرې لګيدلې او عذاب په موقع راځی نو ورله موقع ورکوم-

(12) وَإِذَا مَسَّ الْإِنْسَانَ الضُّرُّ ---- زجر - چه دا مشرک داخپل حال نه وينی چه مصيبت راشی نو ما رامدد کړی خيال ئې راشی چه داهغه وو چه څه حق پرست يرولم خو چه مصيبت لرې کړم نو بيا شريک او حصه دار جوړول شروع کيږی-

(13) وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَمَّا ---- تخويف د دنيا - چه د تيرو حالات دِ اوګوری چه دايمان دَ نه راوړلو او دشرک کولو او دشفاعت قهری په عقيده ساتلو څنګه تباه شو نو دوی هم چه دغه جرم کوی نو تباه به شی-

(14) ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ ---- ترغيب انقياد ته چه ستاژوند امتحان دې نو الله تعالیٰ درته ګوری نو دهغه دخوخې کار اوکړه-

(15) وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا ---- زجر په انکار دقرآن باندې-چه الله تعالیٰ ستاعمل ګوری نو لکه ستا داعمل شو چه داعی دقرآن نه بندوې خپله نه منل څه چه داعی هم بيان ته نه پريږدې-

إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَى إِلَيَّ ---- دليل وحی-چه څه خو داخبره دځان نه نه کوم بلکه دا ماته وحی شوې ده نو د رد وبدل اختيار ماسره چرته نه راغې-

(16) قُلْ لَوْ شَاءَ اللَّهُ ---- صداقة دنبی علیه السلام - لږخوسوچ اوکړئ کنه-

أَفَلَا تَعْقِلُونَ - زجر - ستاسو عقل وهلې شوې دې - او عقل کے اندھوں-

(17) فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ---- زجر په انکار دقرآن- چه داسې کار کوی نو لوئې ظالم دې -

إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُونَ - تخويف - دوی نه دنيا کښې کاميابيدلې شی او نه آخرت کښې-

(18) وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ ---- دريم باب تر (30) پورې-

وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ ---- زجر او عجز د الهو باطلو - دقرآن دانکار نتيجه دا شوه چه عاجزه مخلوق بندګی شروع کړه او جرم ئې داوو-

وَيَقُولُونَ هَؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا ---- دا عقيده دمشرکانو او شبهه چه څمونږ سفارشيان دی-

قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ ---- جواب چه لکه داسې وی چه الله تعالیٰ ته خپل شريک نو وی معلوم تاسو ئې ورته خايئ - دهغه شريک او حصه دار نشته- سُبْحَانَهُ ---- دعوی دتوحيد او رد ددوی په عقيده باندې-

(19) وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا أُمَّةً وَاحِدَةً ---- کچرته شريک وې نو يو آسمانی کتاب کښې به ئې تذکره راغلې وه- حالانکه چرته نشته- نو شرک از کجا آمد؟ نو " فَاخْتَلَفُوا- دا باغيانو اختلاف اوکړو-

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ ---- نو عذاب ولې نه راځی-نو جواب وخت مقرر دې-

وَيَقُولُونَ لَوْلَا أُنْزِلَ ---- زجر - خوئی بد را بهانه بسيار- وائی مونږ چه کومه معجزه غواړو هغه معجزه راوړه-

فَقُلْ إِنَّمَا الْغَيْبُ لِلَّهِ --- نفی دشرک فی العلم - جواب چه ماته دمعجزې ځائې ندې معلوم نو راوړل خو درکنار-

(21) وَإِذَا أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً ---- زجر په انکار دقرآن - چه دِ ناشکر ته ګوره چه آسوده حال شی نو انکار شروع کړی او په قرآن اعتراضات شروع کړی-

قُلِ اللَّهُ أَسْرَعُ مَكْرًا ---- تخويف چه بدل د مكر به وركړی۔
(22) هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ---- پنځم دليل عقلی او دمخكښي مثال چه تكليف راشی نو الله تعالىٰ رامدد كوی او چه سخته لاړه شی نو شرک شروع كړی نو دومره ددې حالت نه عبرت نه اخلی دا دنيا دختميدلو ده ماله به راځی۔
(24) إِنَّمَا مَثَلُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ---- مثال چه په دنيا مه نازيږه دا خو دختميدلو ده لږ دې مثال كښې سوچ اوكړه۔
(25) وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى دَارِ السَّلَامِ ---- ترغيب - نو داآخرت دسمولو دپاره الله تعالىٰ دتوحيد دعوت دركوی نو دا دعوت قبول كړه كنه چه آخرت دِ برابر شی او بچ شې- نه ګورې:
(26) لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى ---- بشارت - چه چا دعوت دالله قبول كړو او شركونه او دشفاعة قهری عقيده پريخودله او مقاصد ئې اومنل نو دهغوی بهترينه بدله او نتيجه اوګوره۔
(27) وَالَّذِينَ كَسَبُوا السَّيِّئَاتِ ---- تخويف- چه څوک هغه شان روان شو او شركونه وغيره كوی نو دهغه انجام او هغه سفارشيان به ئې بچ نه كړی۔
(28) وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ---- د مشركانو دخپلو شريكانو او سفارشيانو بائيكاټ۔
(31) قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ----- څلورم باب تر (54) پورې۔
قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ---- شپږم دليل عقلی اعترافی- چه ددوزخ نه ځان بچ كړئ څه لږ ددوی نه هم تپوس اوكړه چه ددې كارونو باره كښې دوی څه وائی۔
فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ - زجر - چه ولې دشرک او شفاعت قهری نه ځان ساتی سره داقرار نه به دغه كارونو چه دغه تصرفات الله تعالىٰ كوی۔
(32) فَذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ---- تفريع دتوحيد په دليل- چه ټول اختيارات دالله تعالىٰ شو نو اوس بل له اختيارات منل يا شفيع قهری منل دا ضلالت دې۔
(33) كَذَلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ---- تخويف چه مهر پرې راغلې دې۔

(34) قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ ---- داهم دليل عقلي اعترافي - دا مخکښې تیر شو دويم کښې خو دلته په طريقې داعتراف چه لړد دوی نه پرې دستخط واخله - " اصح الشهادات مايشهد به الاعداء "-

فَأَنَّى تُؤْفَكُونَ ---- زجر نو بيا ولې د الله تعالیٰ دربار نه بل دربار ته اړولې کیږئ-

(35) قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ مَنْ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ ----- دليل عقلي اعترافي-

فَمَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ - سره زجر چه بل شريکول دالله تعالیٰ سره او شفيع قهری ګنړل دا ډيره ناکاره فیصله ده-

(36) وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا ---- زجر باوجود ددلائلو بيا هم شرکی خبرو پسې تلل تش د ګمان تابعداری ده-

(37) وَمَا كَانَ هَذَا الْقُرْآنُ أَنْ يُفْتَرَى ---- ترغيب الى القرآن - چه د ظن تابعداری پريږدئ او راشئ داسې زبردست کتاب اومنئ -

(38) أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ---- زجر په انکار دقرآن - دقرآن د دعوت د منلو په ځائې التہ اعتراضات شروع کړی چه داد ځان نه جوړوې ته-

(39) بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا ---- زجر په عناد - چه هيڅ څه مقابله نشی کولې دمحض عناد دوجې تکذيب کوی-

ذَلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ---- تخويف - تر " بِالْمُفْسِدِينَ " (40) پورې- چه پخوانو هم دغه شان تکذيب کړې وو نو څه حال ئې شو نو هغه شان به ددوی حال شی-

(41) وَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقُلْ لِي عَمَلِي ---- تسلی - چه انکار کوی او ضد او عناد کوی نو په تا باندې څه بوج نشته دې-

(42) وَمِنْهُمْ مَنْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ ---- ددې نه ذکر دختم القلب دوو آيتونو کښې چه د دوی په زړه مهر لګيدلې دې نو فائده دقرآن نه نه اخلی-

(44) إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ النَّاسَ شَيْئًا ---- چه الله پرې مهر اولګولو نو ددوئ څه ګناه دې ؟ نو جواب او دختم القلب علت چه الله تعالیٰ په چا ظلم نه کوی خو چه مرچکې خورې خله به دِ ترخیګی-دوی عناد اوضد کوو نو مهر راغې-

(45) وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ ---- تخویف اخروی- چه دا به ئې دضد او عناد انجام شی-

(46) وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي---- تسلی - چه په دنیا کښې هم دعذاب نه خلاصیدلې نشی-

(47) وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَسُولٌ ---- داعی بیان له راځی لکه چه نورو امتونو ته راځی عذاب له نه راځی-عذاب دانکار په صورت کښې الله تعالیٰ راولی-

(48) وَيَقُولُونَ مَتَى هَذَا الْوَعْدُ ---- زجر - چه دوی به زر وائی چه عذاب راوله کنه ته دعذاب تذکره اوکړې- چه زړه دِ راله اوچوو راوله دا عذاب چه خلاص شو-

(49) قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي ضَرًّا ---- جواب او دلیل وحی په نفی دشرک فی التصرف او نفی دتصرف دنبی علیه السلام نه - ماسره دځان اختیارات نشته نو عذاب او قیامت به څه راولم-دهر څه وخت مقرر دې چه وخت راشی نو عذاب به راشی-

(50) قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُهُ ---- زجر په غوختلو دعذاب- چه عذاب غواړی نو چه راشی نو څه تدبیردخلاصی دِ کړې دې صرف په توحید به خلاصیږی-

(52) ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ---- تخویف-

(53) وَيَسْتَنْبِئُونَكَ أَحَقٌّ هُوَ ---- اثبات دقیامت چه دوی اعتراضات کوی خو دا به راځی-

قُلْ إِي وَرَبِّي ---- اثبات دقیامت په قسم لکه دسورة مریم 68، سبا 3، تغابن 7-

(54) وَلَوْ أَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ ---- تخویف- چه تیارې اوکړئ مال به مو پکار رانشی-

(55) أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ---- پنځم باب تر (65) پورې-

أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ---- اووم دلیل عقلی - تصرفات او اختیارات دهر څه دالله تعالیٰ دی نو دقیامت راتلل څه بعید دی چه تاسو تعجب کوئ او ژوند او مرګ دیو الله تعالیٰ په اختیار کښې دی-

(57) يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ --- ترغيب الى القرآن او دليل وحى-بې ځايه اعتراضونه پرېږدئ او ضد او عناد پرېږدئ- راشئ دا قرآن اومنئ چه د امراضو علاج مو اوشى- دفضول دلائلو په ځائې دقرآن اتباع اوكړئ دادالله تعالىٰ رحمت دې-

(59) قُلْ أَرَأَيْتُمْ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ لَكُمْ مِنْ رِزْقٍ ---- رد دشرك فعلى - اختيارات دالله تعالىٰ دى او قرآن اومنئ نو دوى ته ګوره دځان نه تحريمات شروع كړى او اشراك كوى - چه عقيده دشفاعت قهرى اومنى نو بيا دخپلو سفارشيانو دپاره څه حراموى او څه نذرونه كوى لګيا دى نو قرآن په هغې رد اوكړو چه ولې افتراء كوئ-

(60) وَمَا ظَنُّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ---- تخويف -

اِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ --- امتنان دالله په مهلت وركولو-

(61) وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ ---- رد دشرك فى العلم- لكه چه متصرف الله تعالىٰ دې نو دغه شان عالم الغيب هم يو الله تعالىٰ دې- نو صرف هغه كارساز او مددګار اوګنړه نور شريكان او سفارشيان مه جوړوئ -

(62) أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ ---- بشارت - ددې مسئلې په منلو ولايت ملاويږى-

أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ - منزل دولى-

(63) الَّذِينَ آمَنُوا ---- تعريف دولى-

(64) لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ---- شرافت او كرامت دولى-

(65) وَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ---- تسلى - چه كله ستا دا منزل شو نو اوس دوى بدې ردې وائى او تكليفات در رسوى نو مه خفه كيږه پدې ستاعزت نشى كمولې-

(66) أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ ---- شپږم باب -

أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ ---- رد دشرك فى التصرف باندې اتم دليل عقلى- دا مسئله مدللةده پدې مسئله عزت ملاويږى-

وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِينَ يَدْعُونَ ---- رد دشرک چه اختیارات دالله تعالیٰ شو نو دوی چه څه رامدد کوی نو داصرف ظن دي - څه حقیقت نه لری-

(68) هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ ---- اووم باب تر (70) پورې-

هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ---- نهم دلیل عقلی - چه دظن د اتباع په ځائې ددلیل اتباع اوکړه-

(68) قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا ---- زجر په اتخاذ الولد چه دادومره بې انصافه دی چه سره ددلیل داوریدلو نه داسې خبرې کوی چه دادخدائې نیازولی دی-ددې جوابونه کوی-

(69) قُلْ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ ---- سره تخویف - چه دداسې عقیدې والو انجام-

(71) وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ نُوحٍ ---- ددې ځائې نه دویمه حصه دسورة او خاتمه دسورة - پدیکښې واقعات ثلاثه ذکرکوی دتخویف او ترغیب دپاره-

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ نُوحٍ ---- اوله واقعه دنوح علیه السلام - چه ښنګه هغه په بهادرئ مسئله رسولې وه داسې اورسوه-او مخالفین دِ پریږده چه که نه منی نو داسې به تباه شی لکه چه قوم دنوح علیه السلام تباه شوې وو-

(73) فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَمَنْ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ ---- دقوم تکذیب او تباهی-

(74) ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِ رُسُلًا إِلَى قَوْمِهِمْ ---- اجمالی دډیرو قومونو انبیاؤ تذکره چه هغوی تکذیب کړې وو-نوښنګه تباه شو - دلته واقعات په لنډو ذکرکوی - ځکه دتخویف دپاره دی چه هغوی شرک کړې وو او عقیده دشفاعت قهری نو هغه پکار رانغله نو ستاسو به هم پکار رانشی-

(75) ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ مُوسَى ---- دویمه واقعه دموسیٰ علیه السلام - چه هغه ښنګه مسئله رسولې وه نو قوم تکذیب او هلاکت دهغوی ذکر کوی-آیتونه آسان مربوط دی خو دموسیٰ علیه السلام بیان دهغوی انکار دې او مناظره او حق پرستو ته اذیتونه په 83 کښې او دموسیٰ علیه السلام تلقین دتوکل 84،85 کښې او ذکر دامور مصلحه په وخت دامتحان کښې چه سخته راځی نو توجه الله تعالیٰ ته کوه په 87 کښې-

(88) وَقَالَ مُوسَى رَبَّنَا ---- آخر کار دموسیٰ علیه السلام بد دعاء - او دفرعون هلاکت او تباهی په وخت اوړده کلمه وئیل 90 کښې خو پکار رانغله-نو عبرت اغستل پکار دی-

(93) وَلَقَدْ بَوَّأْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ مُبَوَّأَ صِدْقٍ ---- بشارت بنی اسرائیلو ته-دهغوی نجات - او علم نه روستو اختلاف-

(94) فَإِنْ كُنْتَ فِي شَكٍّ ---- ترغیب قرآن ته او زجر یعنی کتاب کښې شک نشته دې-بې شکه دې خو دادضد اوعناد دوجې نه انکار کوی-نو تاوانیان به شی-

(96) إِنَّ الَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ ---- تخویف چه ضدیان دی او عنادیان دی نو دعذاب په راتلو به اومنی کړه خله بې سوکه نه سمیږی-

(98) فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ آمَنَتْ ---- دریمه واقعه دقوم یونس علیه السلام دپاره دترغیب چه قوم یونس په ایمان بچ شو عذاب رانزدې شوې وو خو راغلې نه وو نو چه ایمان ئې راوړو نو بچ شو- تاسو به هم په ایمان بچ کیږئ نو راشئ ایمان راوړئ-نو دا نور کلو والا دِهم ایمان راوړی چه نجات اومومی کنه-

(99) وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ ---- جبری ایمان مطلوب ندې - او تسلی ورکوی چه ته ولې دومره خفه کیږی - دالله تعالیٰ په زوره ایمان ندې مطلوب او اختیار دالله تعالیٰ دې-

(101) قُلِ انْظُرُوا ---- زور ته څه حاجت دې دلائل موجود دی - خو ضدیان فائده نه اخلی-

(102) فَهَلْ يَنْتَظِرُونَ --- تخویف - چه ددلائلو نه فائده نه اخلی نو دعذاب انتظار دې-کوئ انتظار-

(103) ثُمَّ نُنَجِّي رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا ---- بشارت -

(104) قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ ---- آخر کښې اظهار دخپلې عقیدې چه ماخو دومره تفصیلی بیان اوکړو-او تاسو منئ او که نه منئ خو راشئ څما عقیده واورئ-

يَا أَيُّهَا النَّاسُ ---- رد دشرک فی العبادة-

(106) وَلَا تَدْعُ مِنْ دُونِ اللَّهِ ---- رد دشرک فی الدعاء - چه حاجاتو کښې بل څوک مه رامدد کوه۔
(107) وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ ----- رد دشرک فی التصرف - نو نور سفارشیانو ته څه حاجت دې۔
(108) قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ ---- ترغیب الی القرآن - راشئ دا قرآن دامسئلې کوی نو ددې اتباع اوکړئ فائده ستاسو خپله ده۔
(109) وَاتَّبِعْ مَا يُوحَى إِلَيْكَ - دلیل وحی چه ددې مسائلو وحی کیږی دا خودساخته ندی نو بیان ئې اوکړه۔
وَاصْبِرْ حَتَّى يَحْكُمَ اللَّهُ --- سره تسلی - چه انتظار کوه دفیصلې داللّٰه تعالیٰ او هغه اللّٰه بهتره فیصله کوی۔(اللّٰه تعالیٰ دِ ځما درهایئ هم بهتره فیصله اوکړی او دجیل دمصائبو نه دِ ماخلاص کړی۔ دجیل په تنهایئ کښې داللّٰه په فیصله ناست یم اللّٰه دِ ځما دزړه تسلی اوکړی۔ آمین)۔

**حاصل دسورة**

زبردست کتاب محکم په رد داشراکو اعتقادیو او فعلیو راغلې دې او اهمې مسئلې ثابتوی چه توحید،رسالت،کتاب او قیامت دی او دلائل دعقل او وحی پیش کوی نو دغلطې عقیدې دشرک او عقیده دشفاعت قهری پریږدئ۔ ګنی داسې به تباه شئ لکه قوم نوح او فرعونیان - نجات په ایمان دې لکه قوم یونس چه خلاص شوې وو- نو راشئ په لنډو دا عقیدې واورئ او اتباع اوکړئ فائده مو خپله ده او اې داعی ته بیان کوه او داللّٰه تعالیٰ دفیصلې انتظار کوه۔

**امتیازات**

**(1) ائت بقرآن غیر ھذا-- 15 -**

**(2) فقد لبثت فیکم عمراً - 16 -**

**(3) ماتکون فی شان -**

**(4) الا ان اولیاء اللہ -- منزل ، تعریف، کرامت دولی-**

**(5) تذکرہ دقوم یونس -**

**(6) اودفرعون اوردہ کلمہ 90 کبنبي -**

**تمت سورة یونس بعون مالک الجن والانس**

21 ذوالقعدہ 1433 ھ- یوم الاحد 7 اکتوبر 2012 ء 42 : 14 ظھر

نزولا (۵۲) مصحفا (۱۱) سورة هود مكية ركوعات (۱۰) ايات (۱۲۳)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة هود

سورة هود مکی سورة دې په نزول کښې دوه پنځوستم (52) نمبر دې - پس دسورة یونس نه نازل شوې دې- او په ترتیب دسورتونو کښې یولسم (11) سورة دېپس دسورة یونس نه-

## ربط دمخکښې سورة سره

مناسبت دسورة یونس دسورة هود سره په ګڼړووجوهو باندې دې-

**اوله وجه**: په سورة یونس کښې ډیر رد دشرک فی التصرف او شرک فی الدعاء وو نو په سورة هود کښې رد دشرک فی العبادة او فی العلم دې-چه باب پوره شی-او تکمیل راشی-

**دویمه وجه** : په خاتمه دسورة یونس کښې حکم دتوحید او داتباع دمایوحیٰ وو نو په سورة هود کښې ددې تفصیل کوی-

**دریمه وجه**: په یونس کښې په مسئله دلائل عقلیه وو نو په سورة هود کښې ساوس نقلیه په توحید ذکر کوی-لکه اعراف چه پس دانعام نه وو-

**ځلورمه وجه**: مخکښې سورة کښې دمشرکینو استهزاء ذکر وه-نو دِ سورة کښې جزاء او سزاء دمشرکینو ذکر کوی-

**پنځمه وجه**: مخکښې سورة کښې نفی دشفاعت قهری اوشوه نو پدې سورة کښې پرې تفریع دعبادت کوی چه بل څوک سفارشی بې اجازته نشته دې نو عبادت یو الله تعالیٰ له اوکړه-

### دعوى دسورة

دسورة مرکزی مسئلې چه بیانوی نو هغه څلور دی-
(1) العبادة لله وحده - چه دعبادت حق صرف دالله تعالیٰ دې (2) آیت کښې-
(2) نفی دشرک فی العلم - چه په پټو صرف الله تعالیٰ پوهیږی - (5) آیت کښې-
(3) الترغیب فی التبلیغ - مسئله په بهادرئ اورسوه - (12) کښې-
(4) التسلیة للنبی ﷺ - خفه کیږه مه تاسره دلائل دی -(17) کښې-
داڅلور مسئلې بیانوی دوه مسئلې پکښې فرعی دی چه روستئ دی او دوه مسئلې پکښې اصلی دی اولې دوه مسئلې او دا په عجیب انداز دا سورة بیانوی-د دعوو په مینځ کښې مناسبت هم ظاهر دې : چه عبادت دالله تعالیٰ حق دې ځکه چه هغه عالم الغیب دې په هر څه پوهه دې او دا مسئله په بهادرئ اورسوه که چرته پدیکښې مصائب راځی نو برداشت کړه تسلی ساته کامیابی ستاده- ځکه چه ته په دلیل باندې ئې ستا مخالف به تباه شی-

### خلاصه دسورة

سورة دامسئلې په انداز غریب بیانوی - پدې باندې واقعات دانبیاء کرام علیهم الصلوٰة مرتب کوی- دابتداء نه تر " افلا تذکرون " (24) پورې داڅلور واړه دعوې ذکر کوی او پکښې یو دلیل عقلی او زجر او تخویفات او بشارت-بیا د(25) نه تر (99) پورې واقعات اووه دانبیاء کرامو ذکر کوی په دې مسائل اربعو باندې-اول درې واقعات واقعه دنوح علیه السلام ،او دهود علیه السلام اودصالح علیه السلام دا په اوله مسئله اصلاً چه العبادة لله وحده او نورې مسئلې ترې نه تبعاً معلومیږی نو عالم الغیب هم الله تعالیٰ دې او مسئله په بهادرئ اورسوه لکه چه دِ انبیاؤ رسولې وه او تسلی ساته کامیابی ستا ده-او مخالف به دِ تباه شی-بیا واقعه دابراهیم او لوط علیهما السلام په دویمه مسئله ذکرکوی-چه عالم الغیب یو الله دې- ابراهیم او لوط علیهما السلام په پټو نه پوهیږی-

دفرشتو دحال نه خبر نه شو-پنځمه واقعه دشعيب عليه السلام دا اصلاً په اوله مسئله چه شعيب عليه السلام هم پدې مسئله راغلي وو چه العبادة لله وحده او نورې ترې هم معلوميږى چه هغه مصائب برداشت کړى وو په تبليغ کښې نو ته هم برداشت کړه-بيا واقعه دموسیٰ عليه السلام دتسلئ دپاره ذکر کوى - او دټولو واقعاتو نه روستو (101)کښې ورله نتيجه راوباسى چه هغه خپلو اٰلهو خلاص نه کړل - بيا تخويف او بشارت ذکر کوى- د(112) نه تلقين داستقامت امور خمسه امور مصلحه ذکر کوى چه کلک شه او تخويف دنيوى ذکرکوى او اخروى (120)کښې حکمت دواقعاتو او آخرى آيت خلاصه دټول سورة ده- دسورة څلور واړه مسائل پکښې ذکر کوى-ګويا چه سورة کښې تمهيد ،مقصد او خاتمه دى - تمهيد 24 پورې مسائل پکښې ذکر کوى او مقصد کښې واقعات 99 پورې او خاتمه کښې نتائج د فريقين او خلاصه چه کوم مسائل ابتداء کښې هغه بيانوى-

## مقاصدالايات وتناسبها

(1) الر كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ---- ترغيب الى القرآن - داراروان سورت چه کوم مضامين بيانوى نو دا ډير اهم مضامين دى-ځکه نسخه پرې نه راځى اوصاف صاف دى څه خفا پکښې نشته او راليږونکې هم ډير اوچت نو لهذا دا خه په توجه واورئ-داکتاب څه مسئله کوى؟

(2) أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ ---- دعوى اول چه " العبادة لله وحده " -دا کتاب دا مسئله کوى چه عبادت حق ديو الله تعالیٰ دې دبل چا نه دې-

إِنَّنِي لَكُمْ مِنْهُ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ - صداقة دنبى عليه السلام - ځه ددې مسئلې داعى يم-نو اومنئ-

(3) وَأَنِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ---- ترغيب الى التوبه - راشئ که مخکښې مو د" الا تعبدوا الّا اياه " خلاف کړې وى نو توبه اوباسئ اوس مو وخت دې-

وَإِنْ تَوَلَّوْا ---- تخویف که نه منئ نو عذاب به راشی-
(4) إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ ---- اثبات دقیامت چه داخه بعیده نده الله تعالیٰ به مخې له ځئ-
(5) أَلَا حِينَ يَسْتَغْشُونَ ثِيَابَهُمْ ---- دعوی دویمه - نفی دشرک فی العلم - او عبادت حق ځکه صرف دیو الله تعالیٰ دې چه هغه عالم الغیب دې بل څوک عالم الغیب نشته دې-
(6) وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ ---- داهم مخکښې سره متعلق چه هر میږې،چینجې ورته معلوم دې او رزق ورله ورکوی-
(7) وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ ---- دلیل عقلی په توحید چه عبادت حق ځکه دالله تعالیٰ دې چه دا کارونه هغه کوی-
وَلَئِنْ قُلْتَ إِنَّكُمْ مَبْعُوثُونَ ---- زجر په انکار دقیامت باندې - داسې دلائل بیان شی او دې بې انصافوته ګوره چه دوی ښنکه تپوسونه او اعتراضونه او انکار کوی-
(8) وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِلَى أُمَّةٍ مَعْدُودَةٍ ---- داهم زجر دې چه عذاب غواړی-
أَلَا يَوْمَ يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ ---- تخویف بیا به ئې د مقابلې طاقت اونه لرئ-
(9) وَلَئِنْ أَذَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنَّا ---- زجر چه ددې انسان ناشکره او بې انصافه داحال دې-
(11) إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا ----- بشارت صابرینو ته - ددې مقابله کښې اوګوره شته دې چه مصیبت کښې صبر کوی نا امیدی نه اختیاروی نو دهغوی نتیجه اوګوره - او خوشحالئ کښې مستیری نه بلکه شکر کوی-
(12) فَلَعَلَّكَ تَارِكٌ بَعْضَ مَا يُوحَى إِلَيْكَ ---- دریمه مسئله دسورة الترغیب فی التبلیغ-چه د دوی دا رویه چه دې اولیدله او یا چه کوم اعتراضونه کوی په تا باندې ددې وجې چرته " بَعْضَ مَا يُوحَى " چه هغه مسئله چه دخلقو دمزاج مخالف وی اوالعبادة لله وحده ده داچرته پرې نه ایږدې بلکه صاف بیان کړه اورسوه ستا په ذمه بیان دې منل ندی هغه دالله تعالیٰ ذمه داری ده-

(13) أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ---- زجر په انکار دقرآن - دا بې انصافه په تاسو داسې اعتراضونه کوی او قرآن نه او ستا مسئلې د العبادة لله وحده ته افتراء وائی نو داسې طريقه سره ئې خاموش کړه-

(14) فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكُمْ ----- مقصد دقرآن ورته دعجز وخت کښې بيان کړه چه هغه توحيد دې-

فَهَلْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ - دعوت انقياد ته چه راشئ اومنئ-

(15) مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ---- تزهيد من الدنيا او تخويف- چه دامسئلې نه منی او قرآن نه منی نو په دنيا دهوکه دې نو ددې وجې نه ئې قرآن پريخودې نو آخرت کښې ورله دا دنيا پکار نه راځی او اور به ئې ځائې شی-

(17) أَفَمَنْ كَانَ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّهِ ---- څلورمه مسئله دسورة چه" التسلي "- مسئله رسوه په بهادرئ - ددوی داعتراضونو فکر مه کوه تسلی ساته چه کاميابی ستا ده - ځکه چه ته په دليل باندې ئې - او دنبی عليه السلام په صداقة باندې دليل نقلی ،عقلی او وحی په يوآيت کښې -

عَلَى بَيِّنَةٍ عقلی - وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِنْهُ وحی - وَمِنْ قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَى إِمَامًا - نقلی-

نوهر قسمه دلائل درسره دی نو غم دځه دې-

وَمَنْ يَكْفُرْ بِهِ ---- تخويف- چه سره ددې دلائلو انکار کوی نو هغوئ ته د اور د عذاب يره-

(18) وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ---- زجر اوتخويف اخروی نه منونکو دمسئلو ته اود رسالت- تر " الْأَخْسَرُونَ " (22)-

(19) الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ---- دعذاب سبب-

(20) أُولَئِكَ لَمْ يَكُونُوا مُعْجِزِينَ ---- تخويف چه هغه ذمه داران به ئې پکار رانشی-

(23) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ---- بشارت منونکو ته-

(24) مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ كَالْأَعْمَى وَالْأَصَمِّ ---- د وضاحت دپاره دمنونكو او نه منونكو مثالونه چه كوم دِ په ځان سود دي او ځان دِ په كومه كښې خوښ دي-

(25) وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ ---- اوس په څلورو مسئلو باندې واقعاتِ سبعه ذكر كوى-دا اوله واقعه په اوله مسئله باندِ چه " العبادة لله وحده" اوګوره نوح عليه السلام پدې مسئلې راغلې وو-هغه دامسئله بيان كړې وه او دقوم اعتراضونه اونه منل - په (31) كښې نفى دشرک فى العلم چه دويمه مسئله ده او نفى دشرک فى التصرف ده-بيا دقوم سخت انكار او دنوح عليه السلام كشتئ جوړول اودقوم غرقيدل - چه چا اونه منله نو تباه شو نو " فاصبر" آخره كښې چه تسلى ساته كاميابى ستا ده په نرتوب مسئله اورسوه - نوټول مسائل پكښې راغلل- داواقعه ده ربطونه دآيتونو ظاهر دى تر (49) پورې ده سره صداقة دنبى عليه السلام نه په (49) كښې - چه ته حق پيغمبر ئې ځكه دا واقعات بيانومه-

(50) وَإِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ---- دويمه واقعه دهود عليه السلام په اوله دعوى باندې - چه هود عليه السلام هم ددې مسئلې دعوت كړې وو پدې راغلې وو دا ئې په بهادرئ رسولې نو آخر كښې كاميابى دهغه شوه او عاديان تباه شو - په 55،54 كښې دهود ث بهادرى داتر " قوم هودٍ"(60)-پورې ذكركوى-دواقعې آيتونو كښې دربط او مناسبت خفاء نشته دې - ورسره تخويف هم شو منكرينو ته-چه منكر تباه شوى وو-

(61) وَإِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا ---- دريمه واقعه دصالح عليه السلام په اوله مسئله باندې چه " العبادة لله وحده" پدې مسئله صالح عليه السلام هم راغلې وو او هغه په بهادرئ دا مسئله رسولې وه نو ته هم اورسوه او آخر دهغه قوم چه نه وه منلې نو تباه شو او منونكى خلاص شو په 68،67 كښې تخويف شو او واقعه تر 68 پورې ده- آيتونه واضح دى-

(69) وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَى ---- څلورمه واقعه په دويمه مسئله باندې ذكركوى چه " عالم الغيب صرف الله تعالىٰ دې نه بل څوک "اوګوره ابراهيم عليه السلام

دفرشتو دحال نه خبر نشو-نو بل به څوک په غيبو پوهه شی-دفرشتو راتلل دهغه نه پيژندل او دبچی بشارت او دابراهيم عليه السلام دلوط عليه السلام باره کښې خبره کول-تر (76) پورې-

(77) وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيءَ بِهِمْ ---- دا پنځمه واقعه ده ګويا د مځکښې واقعې ذيل او لمن ده- تذکره دلوط عليه السلام چه هغه هم دفرشتو دحال نه خبر نشونو معلومه شوه چه عالم الغيب صرف الله تعالیٰ دې نه بل څوک - دلوطؑ پريشانی دقوم سرکشی اودفرشتو حقيقت ښکاره کول اودقوم هلاکت تر (83) پورې ذکرکوی-83 کښې تخويف هم شو-

(84) وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ---- شپږمه واقعه دشعيب عليه السلام اصالةپه مسئله اوله باندې چه " العبادة لله وحده" - شعيبؑ هم ددې مسئلې بيان کړې وو او دا مسئله ئې راوړې وه- دهغه بيان او تبليغ او دقوم انکار او دهغوی هلاکت نو ترغيب فی التبليغ او تسلی ترې هم معلوم شوه 95،94 کښې تخويف او واقعه به ختم شی چه ستامخالف به هم داسې تباه شی-

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُبِينٍ(96) اوومه واقعه دموسیٰ عليه السلام په څلورمه مسئله چه تسلی ساته ته په حقه ئې مصائب برداشت کړه - ستا کاميابی ده لکه چه موسیٰ عليه السلام برداشت کړی وو نو کاميابی دهغه وه فرعون تباه او برباد شو نو ستا مخالف به هم تباه او برباد شی-ورسره تخويف هم شو 99 کښې-

(100) ذَلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْقُرَى ---- صداقة الرسول چه تاته ددې پته نه وه داموږتاته بيان کړل -معلومه شوه ته حق پيغمبر ئې-

(101) فَمَا أَغْنَتْ عَنْهُمْ آلِهَتُهُمُ ---- دا مربوط دټولو واقعاتو سره- چه موږ دامخالفين هلاک کړل او مخالفين لره چه کوم ددوی معبودان وو نو هغوی بچ نه کړل-شرک ورلره هلاکت او تباهی سواکړه-لکه سورة الاحقاف 28-

(102)كَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ ---- تخويف دنيوى چه دشرک دا انجام دي نو که دوى هم شرک کوى نو دغه انجام به ئي شي-

(103) إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَة ---- تخويف اخروى او اثبات دقيامت چه عبرت واخلئ آخرت راروان دي او د قيامت هيبت-

(105) فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ- قيامت کښې تقسيم- چه نه منونکى اشقياء او منونکى سعداء او نيک بخته شو-

(106) فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ ---- تخويف اشقياؤ ته چه بدبخته به تباه شى-

(108) وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُوا فَفِي الْجَنَّة ---- بشارت منونکو او سعداؤ ته-

(109) فَلَا تَكُ فِي مِرْيَة ---- تسلى چه دوى هم دمشرانو په طرز روان دى نو تباه به شى تسلى ساته سزا به ورته ملاؤ شى-

(110) وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ ---- تسلى لکه چه ستا کتاب کښې خلاف شوې وو نو دموسىٰ عليه السلام کتاب کښې هم خلاف شوې وو نو څه ناشنا نده-دا ضديان دى-

وَلَوْلَا كَلِمَة سَبَقَتْ ---- جواب دسوال - نو پدې اختلاف کونکو باندې عذاب ولې نه راځى-نو جواب چه وخت مقرر دې-

(111) وَإِنَّ كُلًّا لَمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ ---- تخويف اخروى وخت راروان دي-نو هر چاته به بدله ملاؤ شى-

(112) فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ ---- نو چه واقعات دِواوريدل نو اوس ترغيب استقامت ته او اوامور خمسه امور مصلحه دپاره دتثبت او نصرت الهى چه پدې پنځو کارونو کلک شه الله تعالىٰ به دِ امداد کوى-

فَاسْتَقِمْ- امر اول - وَلَا تَطْغَوْا-- امرثانى دا کار هم کوه-

(113) وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا --- ادب ثالث چه بائيکاټ اوکړئ دظالمانو نه-

نه کيږى د شاهانو ملنګانو سره کلى

چرته عزيز خان چرته ملنګ عبدالرحمان

(114) وَأَقِمِ الصَّلَاة طَرَفَيِ النَّهَارِ ---- امر رابع ادب رابع-
(115) وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ ---- امرخامس - ددې پنځو ادابو لحاظ اوکړئ الله به مدد کوی-
(116) فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُونِ ---- تخويف دنيوی - چه تسلی ساته او په دغه ادابو کلک يه نو لکه چه مخکښې اقوام تباه شوی وو نو دابه هم تباه شی-
(117) وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرَى ---- ددغه کلو په هلاکت کښې الله تعالیٰ ظالم نه وو بلکه هغوی کښې اصلاح يعنی توحيد نه وو-
(118) وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ ---- حکمة داختلاف - چه جبری ايمان مطلوب ندې-او دا دنيا دارالامتحان دې او امتحان په اختلاف کښې دې-
(119) وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ - تخويف - نو اومنئ ولې ځان د دوزخ مستحق کوئ-
(120) وَكُلًّا نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الرُّسُلِ ---- حکمت دواقعاتو دبيان-چه دا واقعات بيان شو نو پدې کښې مسئله هم واضحه شی او عبرت کونکی ترې عبرت هم اغستې شی که عبرت واخلی-
(121) وَقُلْ لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ---- شجاعت دداعی او آخری بيان-چه تاسو خو نه منئ خو ځه ستاسو د نه منلو دوجې خپل کار نه پرېږدم ځه به خپل بيان کوم تاسو خلاف او اعتراضات او مصائب رسوی ستاسو خپل کار ځما خپل کار او دنتائج انتظار تاسو هم کوئ او ځه هم انتظار کوم پته به اولګی-
(123) وَلِلَّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ---- آخری آيت حاصل دسورة- په ابتداء کښې اول دعبادت مسئله او دلته دعلم الغيب مسئله مخکښې کړه- دا دليل ورپسې دعوی - هلته اول دعوی او بيا دليل-چه هغه الله عالم الغيب دې نو نتيجه چه " فَاعْبُدْهُ ، العبادة لله وحده-" إِلَيْهِ يُرْجَعُ الْأَمْرُ كُلُّهُ -دا تسلی ده - چه ستا او دمخالف معامله به الله تعالیٰ ته واپس شی- وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ - ترغيب فی التبليغ - دڅلور واړه مسئلې په آخر دسورة کښې ذکرکړې-

## حاصل دسورة

عظیم الشان کتاب پدې مسئله راغلې دې چه " العبادة لله وحده" او دا څه ناشنا مسئله نده پدې باندې نوح ،هود،صالح او شعیب علیهم السلام راغلی وو-او عبادت ځکه دهغه حق دې چه هغه ذات عالم الغیب دې بل څوک نه - فکر نه کوې ابراهیم او لوط علیهما السلام دفرشتو دحال نه ندی خبر شوی نو بل به څوک خبر شی-نو دامسئله په بهادرئ اورسوه لکه چه دې انبیاؤ رسولې وه ستا مخالف به تباه شی لکه چه ددې انبیاؤ مخالف تباه شوی وو او تسلی ساته چه ته په حقه ئې تاسره دلائل دی- مصائب راځی نو دموسیٰ علیه السلام په حال ځان له تسلی ورکوه- دا واقعات ستا دصداقة نخه ده او تسلی دې پرې هم کیږی نو دمسائل خه په بهادرئ اورسوه-

## امتیازات

(1) وکان عرشه علی الماء

(2) افمن کان علی بینة

(17) په یو آیت کښې درې دلائل په صداقة الرسول باندې-

(3) هم اراذلنا بادی الرای- داباطل خلقو په حق پرستو اودپیغمبر په صحابو اعتراضؤنه-

(4) ساٰ وی الی جبل - دمشرک اعتماد همیشه په غیرالله وی-

(5) بسم الله مجریها ومرسها-

(6) مامن دابة الآّ هو اٰخذ بناصیتها-

(7) الاداب الخمسه 112-

(8) ولذالک خلقهم - داختلاف حکمة -

(9) فلولا کان من القرون اولو بقیة -

(10) وکلاً نقص علیک من انباء الرسل -- واقعات دحکمت -

تمت سورة هود بعون الملک المعبود-الذی هو رحیم ودود-ومالک الفیض والجود-

فيارب افض علينا من بركاتک ورحمتک ونجّنا من قومٍ لدود-آمين-

21 ذوالقعده 1433 ھ 7 اکتوبر 2012 ء يوم الاحد 07 : 04 عصر

په مینګوره جيل کښې ناست دهجران او دفراق غم انتهائی سخت دې الله دِ ماته آسانه کړی- ځکه ځه ددې دبرداشت نه يم ، پدې قرآن مِ تسلی ده-اللّٰهُمَّ اجعل القرآن ربيع صدورنا وذهاب همومنا وغمومنا-

انا المسکين الى الله ابو حماس ابن عبدالمتين رحمه الله الرحيم-

نزولا (۵۳) مصحفا (۱۲) سورۃ یوسف مکیۃ رکوعات (۱۲) ایات (۱۱۱)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة يوسف

سورة يوسف مكى سورة دې په نزول كښې درې پنځوستم(*53*) نمبر دې پس دسورة هود نه نازل شوې دې او په ترتيب دسورتونو كښې دولسم (*12*) نمبر دې هم پس دسورة هود نه۔

## ربط دمخکښې سورة سره

دسورةيوسف مناسبت دسورة هود سره په مختلفو وجوهو باندې دې۔ ځنې دهغې نه:

**اوله وجه** : په سورة هود كښې چه كومې مسئلې بيان شوې وې نو اوس هغه مسائل په سورة يوسف كښې بيانوى په زيات وضاحت سره په واقعه د يوسف عليه السلام باندې۔

**دويمه وجه**: په سورة هود كښې دعوت دانبياء كرام عليهم الصلوٰة وو " اعبدوا ربكم " چه عبادت حق دالله تعالیٰ په فراخه زمكه كښې دعوت وو نو سورة يوسف كښې وائى چه دا دعوت لكه چه انبياء كرامو په ارض واسعه كښې وركړې وو نو په ارض محبوسه يعنى جيل كښې هم انبياء كرامو ددې دعوت وركوو لكه دعوت ديوسف عليه السلام په جيل كښې شو*40* كښې۔

**دريمه وجه** : په سورة هود كښې اووئيل چه تسلى ساته مصائب برداشت كړه آخرى خوشحالى به ستا وى نو په سورة يوسف دهغې نمونه چه يوسف عليه السلام برداشت كړل مصائب او آخرى خوشحالى دهغه شوه۔

ے تندی باد مخالف سے نہ گھبرا اے عقاب
یہ تو چلتی ہے تجھے اونچا اڑانے کیلئے

(الله تعالىٰ دِ ځما دا جیل هم ځما دعزت او دترقئ سبب اوګرځئ په دین کښې دا ظالمان ځما دبې عزته کولو کوشش کوی په دروغه کیسونه جوړولو ته چه په یوسف علیه السلام ئې جوړول خو " انما اشکو بثی وحزنی الی الله " او کیږی هغه چه الله اوغواړی " ان العزة لله جمیعا- ابوحماس عامر)

**څلورمه وجه** : سورۃ یوسف دسورۃ د آخری آیت دپاره دلیل نقلی دې چه په غیبو الله پوهیږی یعقوب علیه السلام ندې پوهه شوې او توکل علیه لکه چه هغه توکل کړې وو او الیه یرجع الامر کله - لکه نتیجه دیوسف علیه السلام چه آخر ورته رونړه په سجده پریوتل نو دآخری آیت دلیل نقلی شو-

**پنځمه وجه** : په سورۃ هود کښې اووې چه عالم الغیب یو الله تعالیٰ دې نو دلته ورسره وائی چه کارسازمتصرف هم صرف یو الله تعالیٰ دې-اوګوره یعقوب علیه السلام او یوسف علیه السلام وائی چه " ان الحکم لله " اختیارات صرف دیو الله تعالیٰ دی نو عبادت دهغه حق دې دبل چا نه نو صرف دهغه عبادت اوکړئ-

## دعوی دسورۃ

دسورۃ دعوی او مرکزی مضمون او مسئله هغه هغه څلور مسائل دی کوم چه دسورۃ هود وو- خو په زیات وضاحت سره یعنی په هغې تنویر دې په ذکر کولو دواقعې دیوسف علیه السلام باندې-اوله مسئله چه عالم الغیب الله تعالیٰ دې-

دویمه مسئله چه کارساز متصرف هم صرف یو الله تعالیٰ دې یعنی اختیارات دالله تعالیٰ چلیږی-

دریمه مسئله صداقة الرسول ﷺ چه نبی علیه السلام دالله تعالیٰ حق پیغمبر دې-

څلورمه مسئله : التسلیة عند المصائب- چه مصائب راځی نو برداشت کوی-او نفی دشرک فی العبادة په 40 کښې - داټولې مسئلې به دواقعې دیوسف علیه السلام نه ثابتیږی او څکاره کیږی به -

## خلاصه دسورة

دسورة دابتداء نه 3 آیت پورې ترغیب الی القرآن او صداقة دنبی علیه السلام - بیا د 4 آیت نه واقعه دیوسف علیه السلام ذکر کوی تر آیت 101 پورې-او په واقعه کښې به نفی دعلم غیب دغیرالله نه او نفی دتصرف دغیرالله نه او صبر په مصائبو کښې لکه چه یعقوب علیه السلام کړې وو-اوهغه ئې دجیل اوکوهی نه وو بچ کړې نه ورته معلوم وو او تضرع او عاجزی دیعقوب علیه السلام او دیوسف علیه السلام 101 کښې - نو ټول انبیاء کرام الله تعالیٰ ته عاجز دی- بیا د102 نه 104 پورې دنبی علیه السلام صداقة او روستو دهغې نه د تسلئ مضمون او ختم دسورة په ترغیب الی القرآن کښې لکه چه شروع کړې وو په ترغیب الی القرآن باندې-

## اشارات دسورة یوسف

شیخ القرآن مولانا محمد طیب طاهری مدظله العالی دسورة ابتداء یا په اختتام کښې اشارات ذکر کوی-چه په سورة کښې نبی علیه السلام ته وائی چه حالک کحال یوسف " ستاحال په شان دحال دیوسف علیه السلام دې دهغې مختلف اشارات دی-

(1) یوسف علیه السلام سره رونړو حسد کړې وو نو تاسره به هم خپل عزیزان او مکې والا قریش حسد کوی-

(2) یوسف علیه السلام خپلو رونړودحسد دوجې نه کوهی ته غورځولې وو او کوهی کښې څه ورځې تیرې کړې وې نو ته به هم دخپلو عزیزانو دلاسه په غارثور کښې څه ورځې تیروې-

(3) یوسف علیه السلام په پردی ملک کښې آباد شو نو ته به هم په پردی وطن مدینه کښې آباد شې-

(4) په یوسف علیه السلام باندې تهمت لګیدلې وو نو په تا باندې به هم تهمت لګی لکه منافقانو چه په عائشه رضی الله عنها لګولې وو-

(5) دتهمت نه روستو ديوسف عليہ السلام صفائی شوې وه نو ستا به هم صفائی کيږی -
(6) يوسف عليه السلام له مِ په پردی وطن کښې عزت ورکړو نو تاله به هم په پردی وطن کښې عزت درکړم -
(7) يوسف عليه السلام په پردی وطن کښې تر آخره پاتې شو نو ته به هم په پردی وطن کښې تر آخره پاتې شې-
(8) يوسف عليه السلام ته رونړه محتاج شوی وو دقحط په وخت نو مکې والا به هم تاته محتاج شی چه ابوسفيان راغلې وو چه مکې والا باندې قحط راغلې وو چه دعاء اوکړه ستا قوم دې که تباه شی نو چاته به دعوت ورکوې-
(9) يوسف عليه السلام ته مِ دهغه رونړه خپو کښې غورځولی وو او معافی ترې غوختلې وه تاته به هم ستاعزيزان خپو کښې اوغورځوم او معافيانې به غواړی-
(10) يوسف عليه السلام هم په آخره کښې رونړو ته وئيلی وو چه " لاتثريب عليکم اليوم "-نو ته به هم وائې چه " لاتثريب عليکم اليوم " يعنی هغه معاف کړی وو بدل نه وو اغستلې نو ته به هم معاف کړې او بدل به نه اخلې-دفتح مکې په ورځ صحابو وئيل چه " اليوم يوم الملحمة " چه نن د غوخو غوځولو ورځ ده نو نبی عليه السلام وې چه " اليوم يوم المرحمة " نن دمهربانئ او دمعافئ ورځ ده-
تلک عشرة کاملة " ولا تدری لعلّ الله يحدث بعد ذالک امراً "

## مقاصدالايات وتناسبها

دسورة دآيتونو مقاصد او مناسبت خو بالکل واضح دې- خو په واقعه کښې به مونږ دسورة مقاصدو ته اشاره کوو چه صرف دانشی چه قصه برائې قصه شی بلکه چه واقعه دکومو مقاصدو دپاره بيانيږی نو چه هغه ترې واضحه شی- نو مناسبت خو دسورة بالکل واضح دې او مجموعی طور مقصد په خلاصه کښې ظاهر شو خو ځائې په ځائې جزوی طريقې سره به نشاندهی اوشی-

(1) الر تِلْكَ آيَاتُ ---- تر لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (2) پورې ترغيب الى القرآن - چه دا راروان مضمون چه کوم راروان دې نو دامعمولی خبره نده- دا د اهمو مسئلو دپاره دليل نقلی دې او دعقيدې اهمې مسئلې واضح کوی نو دعقل نه کار واخلئ او اصلاح دعقيدې ترې اوکړئ-

(3) نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ ---- صداقة النبی **6** - چه ددې نه معلوميږی چه ته حق پيغمبر ئې ځکه واقعات چه بيانوې نو تاته پته نه ده داتاته چا اوئيل نو معلوميږی چه حق پيغمبر ئې-

(4) إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ ---- ددې ځائې نه تر 101 نمبر آيت پورې تفصيلی واقعه ديوسف عليه السلام په مسائل اربعه باندې چه عالم الغيب الله تعالىٰ دې او متصرف هم الله تعالىٰ دې او په مصائب صبر کوه او ته حق پيغمبر ئې- داټول ددې واقعې نه ثابتيږی-

إِذْ قَالَ يُوسُفُ --- تر لِلسَّائِلِينَ *(7)*- ديوسف عليه السلام خوب ليدل او پلار ته بيانول اود پلار ادب خودل او هغه له خوشخبری اوروی او آخری آيت کښې دواقعې عبرتونو او مقاصدو ته اشاره کول چه ددې نه دااهم مقاصد ثابتيږی- نو سوچ ورته کوئ-

(8) إِذْ قَالُوا لَيُوسُفُ ---- ددې ځائې نه تر عَلَى مَا تَصِفُونَ(18) پورې درونړحسد او ديوسف عليه السلام خلاف تدبير اودپلار نه غوختل او هغه کوهی ته غورځول او پلار ته مکر کول او دهغه جواب-اوګوره يعقوب عليه السلام دهغوی په مکر باندې ندې پوهه شوې او پته ورته نده نشته چه ځوې مې په کوهی کښې دې او خپل ځان نه مصيبت لرې کولې نشی- نو معلومه شوه چه کارساز او متصرف او عالم الغيب يو الله تعالىٰ دې- لوئې پيغمبر يعقوب عليه السلام هغه نه پوهيږی- يعقوب عليه السلام په فراق صبر کړې وو نو ته هم کوه-

(19) وَجَاءَتْ سَيَّارَة ---- نه تر نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ(22) پورې- ديوسف عليه السلام دكوهى نه راوتل او دقافلې والو هغه له خرڅول په مصر كښې دګورنر اغستل او كور ته بوتلل-
وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ ---- دا كارونه چا اوكړل معلومه شوه چه متصرف الله تعالىٰ دې - رونړو څه كول او الله تعالىٰ څه كوى - او فهم يوسف او هوښيارتيا تذكره- يوسف صبر كړې نو ته هم كوه-
وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا ---- ددې نه تر مِنَ الْخَاطِئِينَ(29) امتحان دعصمت ديوسف عليه السلام چه دهغه دمالكې دهغه نه بده اراده او ديوسف عليه السلام په عجيب طريقې سره ځان بچ كول- اوداللّٰه تعالىٰ ديوسف عليہ السلام په عجيبه طريقه صفائى كول-داهم يو مصيبت په يوسف عليه السلام راغې- دا د مصرى دور اولہ پرچہ ده چہ د عزت سره تعلق لرى دا ګرانہ پرچہ ده .
(30) وَقَالَ نِسْوَة فِي الْمَدِينَة ---- نه تر حَتَّى حِينٍ(35) د مصرى دور بلہ پرچہ چی په جمع د ښځو مطالبہ كول : بل امتحان ديوسف عليه السلام چه دزليخې دخپل ځان نہ دبدنامۍ نه بچ كولو دپاره تدبيركول او دټولو ښځو يوسف عليه السلام له دبدكارۍ دعوت وركول او ديوسف عليه السلام دهغې نه پنائى غوختل-او دوزيرانو دزليخې دنه صبريدو دلائل ليدل نو يوسف عليه السلام جيل ته كول-(ګناه دچا او جيل ته څوك ځى؟چه زليخا نه صبريږى نو يوسف عليه السلام به جيل ته بوځو- نو بې ګناه ئې جيل ته كړو- هم دغه شان حال ځما دې چه ګناه دفوجيانو دې چه چاپه ئې په مدرسه لګولې ده او هلك پكښې بې ګناه شهيد كړې دې نو وې بره به څه جواب كوم خو په مهتمم به ورله كيس جوړكړو-او بدنام به ئېكړو-چه مونږ دبدنامۍ نه بچ شو-نو " انما اشكوبثى وحزنى الى الله تعالى " دا وخت به هم تيرشى- " سيجعل الله بعد عسرٍيسراً " ځكه ما غريب ته جيل برداشت كول ډير ګران دى- مدرسه ګلان بلبلان او مور خوئندې رونړه بچې دا مِ په زړه هر وخت راوريږى او سترګې مِ داوخكو دارې وهى خو

دالله تعالیٰ په فیصله دزړه نه خوشحاله یم او انتهائی مطمئن یم الله به څما دپاره دخې فیصله کوی او الله تعالیٰ دِ اوکړی)۔

**نالم وترسم که او باور کند که از ترحم جور را کمتر کند**

(36) وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانِ ---- ددې ځائې نه تر بِضْعَ سِنِينَ(42) پورې۔ بل امتحان دیوسف علیه السلام چه هغه دفراست او هوښیارتیا دهغه امتحان دې په وړه سطح باندې۔چه یوسف علیه السلام جیل ته تلل او ورسره د ملګری خوب لیدل دتعبیر نه مخکښې مسئله دتوحید په هر پهلو بیانول او رد دشرک فی التصرف او فی العبادۃ او دقانون دغیرالله او رد دجمهوریت کول په عجیب انداز بیاتعبیر بیانول۔ دیکښې خو مقاصد واضح دی۔

وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّي أَرَى ---(43) ددې نه تر وَفِيهِ يَعْصِرُونَ(49) پورې امتحان دفراست دیوسف علیه السلام په اعلیٰ سطح باندې۔ دبادشاه خوب لیدل او ددرباریانو عاجزه کیدل۔ دجیل ملګری یادیدل او تلل او دیوسف علیه السلام تعبیر او تدبیر او تبشیر بیانول په عجیب انداز 47،48،49 کښې۔ نو چه کامل معصوم شو او کامل هوښیار شو نو اوس راویستل پکاردی چه کار اوکړی۔ نو داسې شه چه الله تعالیٰ درنه کار واخلی۔

(50) وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ---- ددې نه تر وَكَانُوا يَتَّقُونَ (57)پورې۔دبادشاه وینا دآزادولو دیوسف علیه السلام - دیوسف علیه السلام اول خپله صفائی غوختل چه بهر لاړشم بیاڅوک پیغور رانکړی۔ صفائی کیدل او دبادشاه هغه له دمشیر خاص عهده ورکول او یوسف علیه السلام خدمت دعوامو خوخول۔نو چه اوګوره مصائب ئې برداشت کړل نوا لله تعالیٰ کوم ځائې ته اورسوه نو ته هم تسلی ساته " ولاجر الاخرة " سره تسلی چه تاله به هم الله تعالیٰ دغه شان درکړی۔

(58) وَجَاءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ ---- ددې نه تر لَا يَعْلَمُونَ(68) پورې۔ د یوسف علیه السلام بل امتحان دا انتهائی سخت وو . اوس قحط راتلل اود رونړو احتیاجی او دیوسف علیه السلام درور خپل مطالبه کول او احسان کول رونړو سره دهغوی پلار خواته تلل درور

مطالبه دهغه شرط لګول او دتلو تدبير او اختيارات دالله تعالیٰ دپاره وئيل-اوګوره پته ورته نشته چه دادوی سره احسان کونکې او رور غوختونکې څوک دې؟ او تدبير کوی بچاؤ نشی کولې الله تعالیٰ هر څه سپاری-او " فاالله خيرحفظا" وائی چه ساتونکې الله تعالیٰ دې او " ان الحکم الا الله " وائی چه اختيارات دالله تعالیٰ دی-

(69) وَلَمَّا دَخَلُوا عَلَى يُوسُفَ ---- تر إِنَّا إِذًا لَظَالِمُونَ(79) پورې- درونړو دويم ځلی تلل ځان سره بنيامين بوتلل- ديوسف عليه السلام دهغه ايسارولو دپاره په اذن دالله تعالیٰ تدبير کول او هغه ايسارول درونړو په يوسف عليه السلام تهمت لګول دغلا- او منت ورته کول چه دې مه ايساروه يوسف انکار دا هرڅه يوسف عليه السلام کړی دی خو ديکښې خودمختاره ندې عاجزه دې-

(80) فَلَمَّا اسْتَيْأَسُوا مِنْهُ ---- ددې نه تر الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ(87) پورې- درونړو نااميدی ديوسف عليه السلام نه او جرګه او واپسی پلار ته او ديعقوب عليه السلام يو بل امتحان او عاجزی الله ته او انقياد معلومه شوه چه عالم الغيب او متصرف ندې او هغه پدې مصائب صبر کړې دې نو ته هم په مصائبو صبر کوه-

(88) فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ --- نه تر أَجْمَعِينَ(92) پورې-په دريم ځل درونړو راتلل خپل عاجزی ښکاره کول ديوسف عليه السلام په اذن الهی ځان خودل چه اوس ديعقوب عليه السلام امتحان تام شو نو ځان اوخايه درونړو دغلطئ معافی او ديوسف عليه السلام معافی کول او دکور دراوستلو مطالبه کول چه څه اوړئ او خورئ به خو دلته راځئ - نو دغه شان به الله تعالیٰ تاسره هم اوکړی-

(94) وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ ---- نه تر(*101*) پورې- دبشير او زيری والا راتلل ديعقوب عليه السلام په وحی الهی خبر ورکول مخکښې کوهی کښې ندې خبر اوس دمصر نه چه راجدا کيږی خبريږی نو دا وحی ده کنه لکه وائی:

يکے پرسيد ازاں گم کردفرزند    که اے روشن گوہر پير خردمند

ز مصرش بوئے پيراہن شنيدی چرادر چاہ کنعانش نديدی

بگفت احوال ما برق جہان ست گہے پیدا و دیگر دم نہان است
گہے بر طارمِ اعلیٰ نشینم گہے بر پائے پشتِ خود نہ بینم
چه دمصر نه دقمیص بوئ محسوسوي نو نزدې دكنعان په كوهې كښې ولې نه ليدلو- نوهغه جواب وركوى چه ځموږ اوحوال دبريښنا دحال پشان دى چه كله دابريښنا ښكاره شى او كله پټه شى-

نو ځه هم كله دعالم بالا خبرې كوم ( چه وحى اوشى) او كله راته دخپو دلاندې هم پته نه لږى چه وحى نه وى شوى-

درونړو ديوسف دخپل بابا نه داستغفار مطالبه كول او مصر ته تلل ديوسف عليه السلام دخپل پلار او مور اكرام كول او ځان سره په تخت كينول او سجده درونړو دخوب تعبير ښكاره كيدل او آخر كښى ديوسف عليه السلام عاجزى كول - نو دا هر څه چا اوكړل ؟ داكونكې الله تعالىٰ دې هغه عالم الغيب دې څلويښت كاله پلار او مور دبچى نه جدا دى او نه خبر دى او نه څه كولې شى - دادحفاظتونه چاكول او دا كارونه داديو الله تعالىٰ كار دې او انبياء الله تعالىٰ ته عاجزان دى او صبر كوه الله به درله مطلوب دركړى-

(102) ذَلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ ---- صداقة دنبى عليه السلام او نفى دعلم الغيب دهغه نه - چه دا دِ شوک نه وائى چه نبى عليه السلام عالم الغيب دې او پته ورته لگى اوگوره څنگه واقعه اوئيله نو وې دا موږاوئيله نو معلومه شوه چه حق پيغمبر ئې گنى دوحى نه مخكښې تاته پته نه وه-

(103) وَمَا أَكْثَرُ النَّاسِ ---- تسلى - چه دا نه چه ته حق پيغمبر ئې نو چه بيان كوې نوټول خلق به انقياد كوى نه بلكه اكثر هغه به ستا خلاف كوى-

(104) وَمَا تَسْأَلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ---- ترغيب الى البيان- چه دا نقصان ستا ندې چه نه منى ته خو څه مزدورى نه غواړى چه په دوى گرانه ده چه نه منى نه دِ منى تاته خو ډير

کار دې دعالم دپاره دا کتاب اوته ئې نو ته خپل کار جاری ساته چه دوی نه منی نور به اومنی۔

(105) وَكَأَيِّنْ مِنْ آيَةٍ فِي السَّمَاوَاتِ ---- زجر - چه دوی انکار کوی بې انصافه نو ولې دلائل نشته دې نو ددلائلو خو په زمکې او آسمان کښې جال خور دې خو دا بې انصافه انکار کوی۔

(106) وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُمْ ---- زجر په شرک - چه سره ددې نه چه خالق مالک الله تعالیٰ منی او بیا هم شرک کوی او دالله تعالیٰ صفتونه نور چاله ورکوی دومره بې انصافه دی۔

(107) أَفَأَمِنُوا أَنْ تَأْتِيَهُمْ ---- تخویف - نه چه داسې بې انصافه دی نو دوی دعذاب نه ولې بې یرې شو ددې عمل سزا به چرته راشی۔

(108) قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ ---- ترغیب الی التبلیغ-چه دوی نه منی نو ددوی دانکار دوجې دخپل کار مه پریږده- ته دخپل مشن او مقصد په ډاګه بیان کړه۔

وَسُبْحَانَ اللَّهِ- دعوی دتوحید- چه ځما خو داعقیده ده او دا بیانوم نه بل عالم الغیب منم او نه بل متصرف منم -

(109) وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ ---- تسلی - او صداقة د نبی علیه السلام - چه دتا په شان نور هم پدې مشن انبیاء راغلی وو نو ته هم پدې حق پیغمبر ئې او هغوی بیان کړې ته هم کوه۔

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ ---- نمونه دتخویف دنیوی- چه داخلق وو نورو انبیاء مخالفینو ته اوګوری نو ځان به پکښې ورته خکاره شی۔

وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ ---- تسلی - چه آخری کامیابی به ستاسو وی۔

(110) حَتَّى إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ ---- تسلی نبی علیه السلام ته - داسورة دعوی وه- په مصائب صبر کوه لکه چه دې انبیاء کرامو کړې وو آخر نجات اومدد د انبیاء کرامو شوې او مجرمان هلاک شوی دی نو دغه شان به ستا مدد اوشی او ستا مخالف به تباه شی۔

(111) لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَة ---- دعوت الى العبرة- چه سورة كبنبي واقعه بيان شوه نو دا قصه برائې قصه نده بلكه عبرة دې - مقاصد ترې حاصل كړه- مسائل اربعه او د حكومت طريقه ترې زده كړه- داعبرتونه ترې واخله-
مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَى ---- ترغيب الى القرآن- راشى دا قرآن راواخلئ دا دپيغمبر دځان نه نه بيانوى دا خو حقائق دى او چه دا او منئ نو درحمت مستحق به شئ-

## حاصل دسورة

عالم الغيب او متصرف يو الله تعالىٰ دې نه بل څوک - اوګوره يوسف او يعقوب عليهما السلام لوئې لوئې انبياء دى هغه نه متصرفان دى- او نه عالم الغيب دى نو صرف هغه الله عبادت پكار دې نه دبل چا- او كه څه مصائب راځى نو دا برداشت كړه-لكه چه دې انبياء كرامو برداشت كړى خوشحالى به ستا وى ته حق پيغمبر ئې - ځكه داسې زبردست واقعات بيانوې دقرآن كريم په حواله نو ستا منل سبب درحمت او كاميابئ دې-

## امتيازات

(1) اشتمال دسورة په تاريخ قديم باندې-
(2) ذكر دحسد درونړو -
(3) تعبير دخوبونو-
(4) ذكر دعاشق او معشوق-
(5) ذكر دمالك او مملوك-
(6) ذكر دتاجرانو-
(7) ذكر دمكر النساء-
(8) استحباب السجن لدفع الفحشاء-
(9) مسئلةالتوحيد فى السجن-
(10) السياسة-

(*11*) العفو بعد القدرة -

(*12*) اشارات عشره چه کوم تیر شو-

(*13*) صواع الملک -

(*14*) ذکر دغواکانو او فصلونو -

(*15*) وادّکر بعد امة-

**تمت سورة یوسف بعون مالک ومعطی الفرح والسروروالاسف وانا فی السجن مثل یوسف-**

**اللّٰهُمَّ اخرجنی کما اخرجته بالخیر والعافیة -**

*22* ذوالقعده *1433* ھ- *8* اکتوبر *2012* ء - *38* : *11* صبح

نزولا (۹۶) مصحفا (۱۳) سورة الرعد مدنية ركوعات (۶) آيات (۴۳)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة الرعد

سورة الرعد مدنی سورة دې په نزول کښې شپږ نوی (۹۶) نمبردې پس دسورة محمدﷺ نه نازل شوې دې- او په ترتیب دسورتونو کښې دیارلسم (۱۳)نمبر دې پس دسورة یوسف نه-

## ربط دمخکښې سورة سره

مناسبت دسورة الرعد دسورة یوسف سره په ګڼړو وجوهو باندې دې-

**اوله وجه** : مخکښې سورتونو کښې رد دشرک فی العلم والتصرف اوشو نو دې سورة کښې پرې تفریع کوی د نفی دشرک فی الدعاء چه هرکله متصرف الله تعالیٰ دې او عالم الغیب الله تعالیٰ دې نو په حاجاتو کښې صرف هغه یو الله تعالیٰ رامدد کړه بل څوک نه-

**دویمه وجه** : مخکښې سورتونوکښې مسئله ثابته شوه دلائل عقلیه سره په یونس کښې او په نقلیو سره په هود او یوسف کښې نو اوس دهر دلیل سره مشرکینو ته تنبیهات ذکر کوی-

دریمه وجه : ختم دسورة یوسف اوشو په ترغیب الی القرآن نو شروع دسورة الرعد هغه کوی په ترغیب الی القرآن باندې-

**څلورمه وجه** : په سورة یوسف کښې اووی " الا وهم مشرکون" په (۱۰۶)کښې-نو دِ سورة کښې هغه شرک ذکر کوی چه هغه دعاء دغیرالله ده په حاجاتو کښې چه رامدد شه وئیل غیرالله ته په حاجاتو کښې-

**پنځمه وجه** : سورة يوسف (١٠٨)کښې اووې چه " على بصيرة" چه په بصيرت خلق رابلم نو دې سورة کښې هغه بصيرت او دعوت خائې چه په دليل سره نو دلائل ذکر کوی-

## دعوی دسورة

دسورة مرکزی مسئله ده " توحيد فی الدعاء "-يعنی نفی دشرک فی الدعاء چه په خپلو حاجتونو کښې صرف يو الله رامدد کړئ نه بل څوک - دشرک مبدئين او سرچشمې هغه دوه وې يو شرک فی العلم او بل فی التصرف - چه هر کله بل چاله علم اومنی اوتصرف نو بيا په حاجاتو کښې هغه رامدد کوی نو مخکښې هغه نفی کړې نو اوس وائی چه حاجاتو کښې صرف الله تعالیٰ رامدد کړئ نه بل څوک - او عقيده دشفاعت قهری هغه دشرک مبداء وه هغه يونس کښې رد شوې وه-دادعوی دسورة په (٣٦،٣٠،١٥،١٤،١٣) کښې ذکرکوی-

## خلاصه او تقسيم دسورة

مختصره خلاصه دسورة خوداسې ده چه سورة کښې نفی دشرک فی الدعاء ده په ادلو عقليو ، نقليو او وحيو سره-او هر دليل نه روستو تنبيهات او زواجر دی نه منونکو ته او تخويفات او بشارتونه دی-او مثالونه دوضاحت دپاره ذکرکوی دشرک او توحيد او دمنيب او ضدی او دقرآن-

**تقسيم دسورة** : سورة چه خپله مسئله بيانوی په شپږ اندازونو او سبقونو کښې بيانوی يعنی سورة منقسم دې شپږو بابونو ته-

**اول باب** : ابتداء نه تر " قوم هادٍ"(٧) پورې پديکښې اول ترغيب الى القرآن او بيا دلائل عقليه په توحيد چه دهغه حاصل : چه دهرچا يمه خالق هر شې مِ دې مخلوق-خالق دهر څه څه يم که بره دی که خکته- تر (٤) پورې هر دليل سره تنبيه ده- دآيت آخر

کښې بیا زجر او تخویف په انکار دآخرت او په عذاب غوختلو او په انکار درسالت د (۵) نه تر (۷) پورې-

**دویم باب** : د" الله یعلم " (۸) نه تر " بالغدوّ والاصال" (۱۵) پورې-پدیکښې دلائل ذکرکوی اول دلیل چه عالم بکل شیئ هوالله تعالیٰ- عالم په هر څه څه یم که دننه دی که بهر که اندرون دی که بیرون - بیا (۱۱)کښې بل دلیل چه دهغې حاصل چه حافظ دهر څه څه یم که انسان دې که حیوان ورسره تخویف-(۱۲) کښې بل دلیل چه مالک دهر څه څه یم که شین دې که باران - بیا (۱۳)کښې دلیل نقلی او بیا پدې دلائلو دعوی تفریع کوی چه " لهٗ دعوة الحق " (۱٤)کښې او مثال دشرک او بل دلیل چه مخلوق ټول ماته دی منقاد نو ماکړه رامدد-(۱۵) کښې-

**دریم باب** : د" قل من ربّ " (۱۵) نه تر " سوءالدار" (۲۵) پورې-پدیکښې اول دلیل الزامی (۱٦)کښې او مثال دمشرکینو او موحد او تفریع ددعوی چه خالق هغه دې- بیا (۱۷) کښې دلیل عقلی او مثال دکتاب بیا ذکر داعمال دموحد او اوصاف ثمانیه دموحد او درجات اربعه تر (۲٤) پورې- بیا درې صفات دمشرک او تخویف (۲۵)کښې-

**څلورم باب** : د " الله یبسط " (۲٦) نه تر" کان عقاب" (۳۲) پورې- پدیکښې دلیل عقلی او تزهید من الدنیا- او د ( ۲۷) نه زجر په انکار درسالت او بشارت او ترغیب الی القرآن او دعوی دتوحید (۳۰)کښې او زجر معرضینو دقرآن ته او تسلی-

**پنځم باب** : د " افمن هو قائم " (۳۳) نه تر " من واق " (۳۷) پورې-پدیکښې اول دلیل عقلی په اثبات دعلم سره- سره درد دمشرکینو نه په اتخاذ دشرکاء او تخویف (۳٤)کښې او بشارت (۳۵)او (۳٦)کښې دلیل نقلی او دعوی دتوحید او اعتصام بالکتاب (۳۷)-

**شپږم باب** : د " ولقد ارسلنا " (۳۸) نه تر آخر تر سورته - پدیکښې تسلی نبی علیه السلام ته او دفع دشبهات ثلاثو- درې شبهات دفع کوی ستا اولاد دې نو جواب کوی- معجزه راوړه نو " وماکان لرسول " دامخکښې هم تیر شوې ده - دویمه چه که ته پیغمبر ئې نو عذاب راوله نو جواب " لکل اجل " دریم چه که مونږله عذاب مقدر وی نو فائده

به ایمان رانکړی نو جواب چه یمحواالله " بیا تخویف او زجر او په آخر کښې صداقة دنبی علیه السلام ذکر کوی-

## مقاصدالایاتوتناسبها

(۱)المر تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ ---- اول باب تر (۷) آیت پورې اول ترغیب الی القرآن بیا دلائل عقلیه او روستو زواجر دی-

المر تِلْكَ ---- ترغیب الی القرآن - یعنی دا راروانه مسئله دډیر اهم کتاب په حواله بیانیږی-چه په غائبانه حاجاتو کښې درامدد شې قابل صرف یو الله تعالیٰ دې نه بل څوک- نو خه په غور ورته غور کیږدئ-

وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ ---- زجر په نه منلو دقرآن - داسې حق کتاب نه منی - ډیر بې انصافه دی-

(۲) اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ ---- اول دلیل عقلی : او څه وجه ده چه انکار کوی ددې کتاب دمسئلې نه؟چه دبلنې حقدار یو الله تعالیٰ دې پدې کښې سوچ نه کوی دآسمان نظام کښې - چه دا څوک کوی-

لَعَلَّكُمْ - سره تنبیه ورکوی چه خبردار دتوحید دمنلو سره درله قیامت یقین هم دې دلیل ددې دے چې صرف الله تعالیٰ ځکه را مدد کول پکار دی چه کوم ذات دغه کارونه کولې شی نو هغه ستا حاجت پوره کولې شی او تا دوباره بیا راژوندې کولې شی-

(۳)وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الْأَرْضَ ---- دویم دلیل عقلی : چه که آسمان نه فائده نشې اغستلې نو لږغوندې خکته زمکې ته اوګوره او خکته سوچ اوکړه چه داچا کړی دی-

إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ ---- سره تنبیه چه لږفکر اوکړه نو په یو خبره کښې ډیرې نخې دی خو فکر چرته دې-

(۴) وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُتَجَاوِرَاتٌ ---- دريم دليل عقلي- لږدې انقلاباتو ته فكر اوكړه نو يقين به دې راشي چه " له دعوة الحق"-دا اوله مقدمه دپاره دمسئلې او دعوې ثابتولو چه خالق دهر څه ځه يم كه زمكه كه آسمان ، كه بره دى كه خكته ، نو خالق دهر څه ځه يم هر شې ءِ دې مخلوق نو " ماكه رامدد" له دعوة الحق پرې تفريع كړه-لږ دروژې د درس دپنج پير چكر اولګوه چه په خوند پوهه شې-

إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ ---- دا تنبيه په عقل چه دعقل نه خو لږ كار واخلئ-

(٥)وَإِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ ---- زجر په انكار دآخرت چه دومره بې انصافه سره دوضاحت ددې خبرو او ظهور هم داسې خبرې كوى-

أُولَئِكَ الَّذِينَ---- سره تخويف د آخرت چه دا به ئې حال شى چه داسې خبرې كوى-

(٦)وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالسَّيِّئَةِ ---- دويم زجر په غوختلو دعذاب- چه عذاب دپاره ئې تيارې ندې كړې چه حسنة او توحيد دې او غواړى عذاب-

وَإِنَّ رَبَّكَ .... تخويف چه معافى هم كوى خو دعذاب طريقه ورلره هم ورځى - نو كه معافى اونه غوختله نو تباه به شى-

(٧)وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- دريم زجر په انكار درسالت چه التہ په داعى اعتراض شروع كړى سره دوضاحت ددلائلو نه معجزې طلب كوى-

إِنَّمَا أَنْتَ مُنْذِرٌ ---- جواب چه ستا كار بيان دې نه كه معجزې راوړل-

(٨)اللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثَى ---- دويم باب تر (١٥) پورې- ديكښې بيا دلائل چه ځه دا بيانوم دا ځما په وس كښې دى معجزې ځما وس كښې نه دى-او تفريع پرې ددعوې كوى-

اللَّهُ يَعْلَمُ ---- څلورم دليل عقلى تر " وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ " (١٠) پورې- چه عالم په هر څه ځه يم كه دننه دى كه بهر، كه اندرون دى كه بيرون- په ګيډه كښې دهرې زنانه نر دې كه ماده پوهه پرې الله وائى ځه يم او دغه شان " سواء منكم من اسرّ " په هر څه عالم ځه

يم نو " له دعوة الحق يواځې هغه الله كه رامدد" ته اوس هم بل پسې روان ئې يعنى ستادحاجاتو نه خبردار الله تعالىٰ دې نو هغه رامدد كړه-

(١١)لَهُ مُعَقِّبَاتٌ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ ---- پنځم دليل عقلى - ددې حاصل چه دهر چا يمه حافظ هر شې م دې محفوظ نو " ماكه رامدد" ولې بل پسې روان ئې ساتم دِ ځه او حاجات دبل نه غوارې-

إِنَّ اللَّهَ ---- سبب دعذاب چه الله حفاظت كوى نو عذاب ولې وركوى؟ نو جواب: چه دوى ته دعوت دې چه مارامدد كړى نو دوى بل رامدد كوى نو ځكه عذاب راشى-

وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِقَوْمٍ ---- تخويف چه بيا چه كوم رامدد كوې نوهغه دِ خلاصولې نشى-

(١٢)هُوَ الَّذِي يُرِيكُمُ الْبَرْقَ ---- شپږم دليل عقلى : متصرف په هر څه كښې ځه يم - شين دې كه باران نو " له دعوة الحق "-هغې الله لره بلنه ده رشتيا نو هغه كه رامدد-

(١٣)وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ ---- اول دليل نقلى - دا مسئله چه بل څوك درامدد شه قابل نشته - نو داخو فرشتې هم كوى او لګيادى وائى ئې-نو ولې ددې نه انكار كوى ؟ راشه يو الله رامدد كړه- دادليل سره دتخويف نه -

(١٤)لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ ---- دعوى دسورة تفريع په دلائلو هر دليل سره ئې اووايه چه په خوند ئې پوهه شې-

وَالَّذِينَ يَدْعُونَ ---- مثال د مشركينو - په دليل ئې دماغ كار نه كوى نو لر مثال ورته بيان كړه چه كوم مشركان غير رامدد كوى نو دهغې مثال داسې دې-

وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ - دائې نتيجه چه دلائل هم بيان شو او مثال هم اوس هم غير رامدد كوى نو دده نه بل ګمراه نشته دې-

(١٥)وَلِلَّهِ يَسْجُدُ ---- اووم دليل عقلى : چه ټول ماته دى منقاد نو ماكه رامدد-

دهر چا يمه مسجود هر شې م دې ساجد نو " له دعوة الحق" (ويسه شيخ )- سورې دِ دالله تابع دې او ته بل خوا روان ئې-

(١٦)قُلْ مَنْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ ---- دریم باب د (١۶) نه تر (٢٥) پورې-دلیل عقلی او مثالونه او اوصاف دفریقینو سره دنتائجو نه-

قُلْ مَنْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ ---- اتم دلیل عقلی اعترافی- ځه لږ ددوی نه تپوس چه تربیت کونکې څوک دې - دهر چا یمه مربی هرشې مِ دې مربوب نو " لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ "-

قُلْ أَفَاتَّخَذْتُمْ مِنْ دُونِهِ ---- زجر په اتخاذ داولیاء او رد دشرک فی التصرف- سره دداسې دلائلو نه بیا هم ددوی دا بې انصافی چه عاجز مخلوق ته متصرف او کارساز وائی او هغه رامدد کوی-

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَى وَالْبَصِيرُ ---- دوه مثالونه ذکر کوی- اول دموحد او مشرک- او دویم دشرک او توحید-

أَمْ جَعَلُوا لِلَّهِ ---- زجر په شرک-

قُلِ اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ---- ثمره چه خالق یو الله تعالیٰ دې متصرف هغه دې نو بیا نور شریکان جوړول دکومې راغلل- نوصرف هغه رامدد کړئ-

(١٧)أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً ---- نهم دلیل عقلی- او مثال دقرآن - باران وروونکې صرف الله تعالیٰ دې نو هغه رامدد کړه بل څوک نه - او مثال چه باران وریږی نو کندې دهغې مناسب اوبه واخلئ دغه شان دقرآن مثال بیانیږی زړونه دهغې مناسب فائده واخلی- نور دمثال وضاحت په درس کښې کیږی ورسره تسلی موحد ته هم ده-

(١٨)لِلَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنَى ---- مختصر بشارت منونکو ته او تخویف نه منونکو ته ددې مسئلې-

(١٩)أَفَمَنْ يَعْلَمُ ---- تقابل دمنونکی او نه منونکی چه کوم دقرآن دا زبردست بیان چه اوشی دا حق منی او ځان پرې پوهه کوی نو دې د ړوند پشان کیدې شی-

(٢٠)الَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ ---- ددې ځائې نه تر " عُقْبَى الدَّارِ " (٢٤)دومنانو یعنی ددې مسئلې منونکی چه دی نو هغوی د خکلی عملونو بیان چه عقیده خائسته او عمل خائسته اته اعمال ذکرکوی او ورسره څلور درجات دهغوی ذکردبشارت په طور باندې-

(۲۵)وَالَّذِينَ يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ ---- دمشرکینو درېٍ پلیتئ چه عقیده پلیته نو عمل هم پلیت او تخویف شو چه لعنت او سوء الدار-
(۲٦)اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ ---- څلورم باب تر " عقاب " (۳۲) پورې دلیل دعوی دقرآن معرضینو ته زجر او تسلي-
اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ ---- لسم دلیل عقلي - چه ډوډئ څما خورې او رامدد شه بل ته وائې-دهر چا یم رازق او هر شي مِ دې مرزوق نو له " دعوة الحق "
وَفَرِحُوا بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا ---- تزهید من الدنیا - چه څکه انکار کوې چه په دنیا مست ئې نو آخرت تیارې پکار دې دنیا څه دې-
(۲۷)وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- زجر په انکار درسالت دلائلو ته نه ګوری او معجزې طلب کوی-
(۲۸)الَّذِينَ آمَنُوا ---- تر وَحُسْنُ مَآبٍ (۲۹) پورې بشارت او قرآن ته ترغیب نورې معجزې څه کوې پدې قرآن کریم د زړه اطمینان اوکړه دا پوره دې که نه - چه پدې مطمئن شی نو دهغوی مقام اوګوره-
(۳۰)كَذَلِكَ أَرْسَلْنَاكَ فِي أُمَّةٍ ---- تسلي نبي علیه السلام ته- ته دالله تعالیٰ حق پیغمبر ئې لکه دنورو انبیاء کرامو نو محنت اوکړه-
قُلْ هُوَ رَبِّي ---- دعوی دسورة او دلیل وحی - تفریع په دلائلو چه کله دغه کارونه کونکې الله تعالیٰ دې نو څه به هغه رامدد کوم-او هغه ته به خلق رابلم- چه داڅه څه د څان نه نه وایم-
(۳۱)وَلَوْ أَنَّ قُرْآنًا ---- زجر اعراض کونکو دقرآن ته- چه داضدیان او عنادیان که هره معجزه راشی ایمان نه راوړی-
وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- تخویف - کړه خله بې دسوک نه سمیږی نو وخت به راشی-
(۳۲)وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِنْ قَبْلِكَ ---- تسلي- نه منی او اعتراضونه او ټوقې کوی نو دا څه نوې کار ندې-

(۳۳)أَفَمَنْ هُوَ قَائِمٌ ---- پنځم باب تر " واق " (۳۷) پورې - دليل عقلی او زجر او تخويف بشارت دليل نقلی او دعوی او ترغيب قرآن ته-

أَفَمَنْ هُوَ قَائِمٌ ---- يولسم دليل عقلی - چه عالم دهر نفس داعمالو څه يم دلته ئې علم خاص کړو مخکښې عام کړې وو-

وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ ---- زجر مشرکينو ته په جوړولو دشرکاء باندې- نودې شرکاء کښې کمال څه دې خو بې دليله روان يئ-

(۳٤)لَهُمْ عَذَابٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ---- تخويف اخروی چه ددغې عمل دا انجام دې-

(۳۵)مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي ---- بشارت چه د شرک نه ځان بچ کړی نو دهغه انعام-

(۳٦)وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ ---- دويم دليل نقلی - چه دا څه ناشنا خبره خو نده دبنی اسرائيلو علماء هم دامسئله منی-

قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ ---- دليل وحی او دعویٰ دسورة- دا ماته دالله تعالیٰ دطرف نه وئيلې شوې ده څه خودساخته مسئله نه ده-

(۳۷)كَذَلِكَ أَنْزَلْنَاهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ---- ترغيب الى الاعتصام بكتاب الله تعالیٰ- خبردار مشرکين به څه خرافات او منګهړت واقعات راوړی چه بلنه دغير ثابته کړی خو ته دا قرآن کلک او نيسه-

(۳۸)وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا ---- شپږم باب تر آخره جواب دشبهاتو او زجر او تخويف او تسلی-

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا ---- څلور شبهات دفع کوی- ديکښې يوه شبهه زړه ده-او درې نورې دی-

**اوله شبهه** :چه ته دالله تعالیٰ پيغمبر نه ئې ځکه ستا اولاد دې نو دهغې جواب " ولقد ارسلنا " -

**دويمه شبهه** : چه که ته پيغمبر ئې نو معجزه راوړه- نو جواب " ماكان لرسولٍ "-

**دريمه شبهه**: که ته دالله تعالیٰ پيغمبر ئې نو عذاب ولې نه راولې نو جواب " لكلّ اجل"

(۳۹)يَمْحُو اللَّهُ مَا يَشَاءُ ---- څلورمه شبهه : چه كه څمونږ دپاره دعذآب دپاره كوم وخت مقرر وى نو څمونږ ايمان به څه فائده اوكړى-؟نوجواب " يمحوالله " چه دفرشتو په كتاب كښې شرط سره ليكلى دى چه كه ايمان رانه وړى نو عذاب به وى لكه " يؤخركم الى اجل مسمىٰ"-

(٤٠)وَإِنْ مَا نُرِيَنَّكَ ---- تخويف سره دتسلئ چه دا شبهات كوى نو عذاب ورله دې وخت الله ته معلوم دې ستا كار رسول دى نو رسوه-

(٤١)أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ ---- داهم بطور تخويف دمخكښې سره متعلق چه كفر اوشرك رورو كميږى دوى دومره سوچ نه كوى - نو دغه شان به عذاب راشى- اختيارات دالله تعالىٰ دى دهغه فيصله څوک روستو كولې نشى-

(٤٢)وَقَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ---- تخويف په مكرونو خلاف دحق پرست دا شبهات ددوى مكرونه دى نو دا مخكښې خلقو هم كړى وو-

(٤٣)وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- زجر په انكار درسالت څومره په خائسته انداز بيان اوشو ، شبهات دفع شو او بيا هم دوى داسې خبر كوى -څومره بې انصافه دى-

قُلْ كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا ---- صداقة دنبى عليه السلام چه الله تعالىٰ او دهغه كتاب ستا په رسالت شاهد دى او دكتاب علم والا-

## حاصل دسورة

داتوحيد مسئله لكه چه په نقل ثابته ده لكه تيرو سورتونو كښې نو دغه شان په عقل سره هم ثابته ده خالق الله او عالم الله او حافظ الله او متصرف الله تعالىٰ او مسجود الله تعالىٰ رب الله تعالىٰ او نو له دعوة الحق اوس هم دوى بل څوک رامدد كوى نو لوئې بې انصافه دى او تباه به شى او ستا نه انكار كوى او شبهات كوى نو ته قرآن كلك اونيسه ستا دپاره دالله تعالىٰ او دقرآن شهادت كافى دې-

## امتیازات

(۱)الادلة بنمط العجيب-

(۲)يسبّح الرّعد -

(۳)انزل من السماء ماء فسالت اودية ---- مثال عجيب-

(٤)" وتطمين قلوبهم بذكرالله " -- اطمينان قلبى له دالله كتاب كافى دي-

(٥)ولوانّ قرانا سيرت به الجبال-

(٦)جواب دشبهات اربعوواردو په رسالت باندي-

(۷)يمحواالله مايشاء ويثبت-

(۸)سلٰم عليكم بما صبرتم-

(۹)مثال د شرک ١٤ کنبي -

(۱۰)شهادة الله على الرسالة -

تمت سورة الرعد بعون الله الذى له الحمد، الذى لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفواً احد- الذى اسئل باسمه الواحد الاحد وادعوه باسمه الصمد وادعوه باسمه العظيم الوتدالذى ملا الاركان كلّها اوله الامر من الازل الى الابدان يفرّج عنّى ما امسيت فيه وما اصبحت من الكبد-

۲۲ ذوالقعده ۱٤۳۳ ه ۱۸ اکتوبر ۲۰۱۲ء يوم الاثنين ۳٥ : ۰۳ بعداز ظهر

**الهى ما عصيتک من عنادٍ ولـكن شقوتی بلغ المناها**
**ندمت ندامة ارجوا اليکفستغفر زلتی یامن برایا**

نزولا (۷۲) مصحفا (۱۴) سورة ابراهيم مكية ركوعات (۷) ايات (۵۲)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة ابراهيم

سورة ابراهيم مکی سورة دي په نزول کښې دوه اويايم (۷۲) نمبر دې پس دسورة نوح نه نازل شوې دې - او په ترتيب دسورتونو کښې څوارلسم (١٤) نمبر دې پس د رعد نه-

## ربط دمخکښې سورة سره

مناسبت دسورة ابراهيم درعد سره په مختلفو وجوهاتو دې-

**اوله وجه**: هرکله چه مسئله بالکل واضحه شوه او منکرينو ته زواجر هم بيان شو نو اوس پدې سورة کښې ترغيب الى التبليغ چه اوس دا اهم مقصد اورسوه -

**دويمه وجه** : مخکښې مسئله بالکل واضحه ثابته شوه اوس نه منونکو او منکرينو ته تخويف په تيرو نمونو باندې مختصرې طريقې سره چه " ذكّرهم بايام الله "-

**دريمه وجه** : په سورة الرعد کښې مثال ذکر کړې وو نو په ابراهيم کښې هم يو ناشنا مثال ذکرکوی-

## دعوى دسورة

دسورة مرکزی مسئله " الترغيب فى التبليغ "- " لتخرج الناس " (١) چه داخلق دظلمت نه نور ايمان او توحيد ته راوباسه او " ذكّرهم بايام الله "- واقعات د مکذبينو وته بيان کړه-چه اويريږی تير څنګه هلاک شوی دی-دوی بی هم هلاک شی - يعنی دتوحيد بيان دپاره دا تذکير بايام الله ممد دې چه دې سره نصيحت ورکوه کله د دنيوی عذاب او کله د اخروی نه يروه چه دوی کښې يره پيدا شی او اومنی-

## خلاصه او تقسيم دسورة

مختصره خلاصه دسورة خو داده چه ترغيب الى التبليغ دابتداء نه بيا جدال دمشركينو سابقينو دانبياء كرامو سره او يره دآخرت او مثال او دليل نقلي او تخويف اخروى-

**تقسيم دسورة** : سورة تقسيم دسورة شپږ بابونه دى-شپږ سبقه دې اول باب تمهيد دې او آخرخاتمه ده - مينځنى څلور هر يو په لفظ د اَلَم سره اَلَم څلور ځله راوړى دبابونو وضاحت او تفصيل-

اول باب : داول نه تر " حميد " (٨) آيت پورې اول دعوى دسورة بيا دليل عقلى(٢ ) كښې او زجر او تخويف ٤ كښې مقصد دانبياء دراتلو چه دوى بيان له راغلى دى او مصائب پرې راغلى وو تردې چه قومونه هلاک شو - واقعه دموسىٰ عليه السلام ورله مثال كوى-

دويم باب : د " الم ياتكم " (٩) نه تر " الضلل البعيد "(١٨) پورې- پديكښې جدال المشركين مع الانبياء يعنى چه دعوت رسوې نو مشركين به درسره جدال كوى-او دليل دمشركانو چه اتباع دأباء ده او توكل دانبياء او تباهى دمشركينو-

دريم باب : د (١٩) " الم تر " نه تر " فيها سلٰم " (٢٣) پورې- پديكښې دليل عقلى او جدال دمشركانو فيما بينهم - چه دنيا كښې حق پرستو سره انختې وى - دوزخ كښې به خپلو كښې انختى وى او الهه به ترې بائيكاټ اوكړى-او بشارت-

څلورم باب : د " الم تر " (٢٤) نه تر (٢٧) " يشاء " پورې- پديكښې دتوحيد او د شرک مثال ذكر كوى- يعنى الامثلةللفريقين-

پنځم باب : د " الم تر الى " (٢٨) نه تر " ولاخلٰل " (٣١) پورې- پديكښې زجر او تخويف او بشارت متبعينو ته- څلور الم شو اول دوو نه روستو دنيوى او اخروى حالات او څلورم نه روستو صرف اخروى حالات ذكركوى-مينځ كښې مثال شو-

شپږم باب : د (۳۲) نه تر آخره پديکښې دلائل عقليه تر (۳٤) پورې او بيا دليل نقلى تر (٤١) پورې - او (٤٢) نه تخويف شديد سخته يره منکرينو ته ذکرکوى-

## مقاصد الايات وتناسبها

(۱) الر كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ ----- ددې ځائې نه تر " لغنى حميد " (۸) پورې اول باب او پديکښې ددعوې دسورة وضاحت کوى-

الر كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ ---- دعوى دسورة-چه کتاب مونږ ددې دپاره راليږلې دې چه ته خلق د ظلمت دشرک نه نور ايمان ته اوباسه او تذکير دالله تعالىٰ په ورځو ورکړه-

(۲) اللَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ ---- دليل عقلى دتوحيد-چه دادنورايمان او توحيد چه دې نو داځه بې دليله خبره نده حق کيږى چه ده ته دِ خلق اوبللې شى-

وَوَيْلٌ لِلْكَافِرِينَ ---- تخويف اخروى- چه دداسې نورايمان او توحيد نه انکار کوى نو دهغه تباهى-

(۳) الَّذِينَ يَسْتَحِبُّونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ---- سبب دانکار او دعذاب- او زجر په استحباب ددنيا چه اصل وجه د انکار داده چه دوى آخرت پريخودلې دې او په دنيا مئين دى نو داسې کار مه کوى نو ګنى دعذاب مستحق کيږئ-

(٤) وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ ---- دليل نقلى ددعوى دسورة- يعنى لکه چه ته ددې دپاره راغلې ئې چه تبليغ اوکړې او لتخرج- خلق دظلمت دشرک نه نورايمان ته اوباسې نو دغه شان مونږ نور انبياء هم ددې دپاره راليږلى وو چه هغوى قوم ته صاف بيان اوکړى نو هغوى هم مصائب برداشت کړل تردې چه ايام الله پرې راغلل په کافرو باندې- انبياء کرام خو ډير راغلى وو خو ځه يو مثال اوګورئ-

(٥) وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا ---- مثال ددليل نقلى- او وضاحت په واقعه دموسىٰ عليه السلام چه هغه الله تعالىٰ دې له راليږلې وو چه " اخرج قومک او ذکّر" نو هغه دواړه

کړی دی دعوت ئې کړې او وقائع او ایام الله ئې بیان کړی دی ایام نعمتونو او عذآبونو دواړو په معنی راځی نو دا موسیٰ علیہ السلام بیان کړی دی -

إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ ----- بیان اوشی خو ضدی فائده نشی اغستلې نو په حکم د الله تعالیٰ صبار او شکور شئ چه فائده واخلئ-

(٦) وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ ---- دموسیٰ علیہ السلام قوم ته نعمتونه بیانول او دنعمو شکر سره نعمت زیاتیږی-

(٨) وَقَالَ مُوسَى إِنْ تَكْفُرُوا ---- دموسیٰ علیہ السلام دعذابونو نه قوم یرول چه که دنعمتونو ناقدری مو اوکړله نو بیا به عذاب راشی نو دعذاب دنیوی نه ئې قوم یرولې دې که ورپسې کلام دموسیٰ علیہ السلام شی نو آخر کښې دعذاب دآخرت تذکره ده نو دعذاب دآخرت او وقائع اخرویه نه ئې هم قوم یرولې دې خه داده چه دموسیٰ علیہ السلام بیان په " حمید " ـ(٨) ختم شی - او دیخوا التفات شی-

(٩) أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ الَّذِينَ ---- ددې ځائې نه اول لفظ الم او دویم باب دسورة تر " العبید " (١٨) پورې پدیکښې جدال المشرکین مع الانبیاء او ایام الله یعنی وقائع هم دنیوی او هم اخروی ذکر کیږی- چه توحید بیان شی نو قومونه جنګ کوی-او انبیاء څنګه جوابونه کړی دی آخر کار قومونه تباه شوی دی دنیا کښې هم او په آخرت کښې هم-

أَلَمْ يَأْتِكُمْ ---- پدیکښې لنډه د قومونو تذکره او دهغوی دانبیاؤ د دعوت نه انکار په ناشنا طریقه او شک خکاره کول دهغوی په خبره کښې-

(١٠) قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِي اللَّهِ ---- دانبیاء کار جواب دتوحید بیان او وقائع بیانول چه یوخرّکم چه د عذاب نه به بچ شئ-

قَالُوا إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا ---- دقومونو انکار او دلیل اتباع دأباء نیول او دانبیاء نه په توحید ددلیل مطالبه کول- ویسه شیخ صاحب مدظله العالی داسې ځائې کښې فرمائی چه :

*وائے بر قومے کہ بت راسجدہ بے حجت کند* *بارسل گوید کہ* فاتونا بسلطان مبین

بت ته سجده بې دليله کوی او دانبياؤ نه دليل غواړی داسې خلق دِ تباه شی-
(۱۱) قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ ---- دانبياؤ جواب او توکل په الله تعالیٰ باندې په وخت د تکليف ورکولو ددشمنانو کښې دوی لره-
(۱۳)وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِرُسُلِهِمْ ---- دقومونو داخراج او دشړلو دکلونه دهمکی ورکول او يا په خپل غلط دين کښې دداخليدو دعوت-
فَأَوْحَى إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ ---- دقومونو دهلاکت وخت راتلل- او بشارت انبياء ته- يوقوم الله تعالیٰ نفس په ګناه نه تباه کوی خو چه کله دحق د راغورځولو کوشش اوکړی او حق پرستو له وهل اوشړل او بې عزته کول شروع کړی نو عذاب راشی ځکه خو هغه سالک وائی چه:

*چيست خداوند ہر کرا بيندازی بمااندازی*

" اې الله تعالیٰ چه څوک تباه کول اوغواړی نو په مائې تباه کوې يعنی هغه ځما بې عزتی شروع کړی-" دغه شان چه بادشاه موحدين اورته غورځول نو غيبی آواز اوشو چه

*بانگ آمد چونکه کار اينجا رسيد — پائے داری سگ که قهر مار سيد*

" آواز راغې چه کله خبره تر دې راورسيدله نو اې سپيه اوس خپې لرې څه؟ ځما قهر او عذاب رااورسيدلو چرته به تختې-
او ځکه خو وئيلی شوی دی چه :

*تو مشو مغرور بر حلمِ خدا — دير گير د سخت گير د مرترا*

" دالله په صبر مه دهوکه کيږه الله به دِ په مزه اونيوی خو ډير سخت به وی "-
نو خه داده چه :

*زود شود درياب استغفار کن — گريه ہائے ہمچوابر زار کن*

" شابه زر که د استغفار درياب او بيوه او داسې اوژاړه لکه چه وريځ باران ورو ی-"

نو قومونه تباه شو او غرق شو - داشو وقائع ددنيا او عذابونه- ايام پرې راغلل-
(١٦) مِنْ وَرَائِهِ جَهَنَّمُ ---- تخويف اخروى - دااوس وقائع دآخرت ذكر كوى-
(١٨) مَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ ---- مثال داعمال دمشرك- يره مشركانو خو ډير نيک اعمال كړى وو نو جواب شرک ډير ګنده دې هغه هر څه ئې ورله تباه كړل هغه پكار رانغلل-
دريم باب دسورة تر " سَلٰمٌ " (٢٣) پورې او دويم ځل لفظ الم ددې نه روستو دليل عقلى دتوحيد او وقائع ددنيا او بيا د آخرت او جدال المشركين فى ما بينهم - او بشارت-
أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ ---- دليل عقلى دتوحيد - چه پداسې ظاهره مسئله كښې چه زمين وآسمان دهغې دظهور دپاره پيدا شوى دى- ديكښې جدال مناسب ندې چه دې كښې جدال كوى خود به عذاب راځى-

ع خدا ظاهر بارض وآسمانې

إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ ---- تخويف دنيوى - چه د وقائع دنيويو تذكره- چه دا مسئله نه منى نو تباه شى-
(٢١) وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا ---- تخويف اخروى - دمشركينو خپل مينځ كښې جدال په آخرت كښې چه دنيا كښې حق پرستو پسې غيل اوس به آخرت كښې يو بل پسې غاپي- او تبرّى او بائيكاټ دالهو دمشركيو دخپل عابدينو اوس به ديو بل پكار رانشى او هغه مشر شيطان به ترې هم بائيكاټ اوكړى-
(٢٣) وَأُدْخِلَ الَّذِينَ آمَنُوا ---- بشارت - چه چا دامسئله منلې وه نو لږ دهغوى حال اوګوره-
(٢٤) أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا ---- څلورم باب تر " يشاء " (٢٧) پورې - پديكښې دتوحيد او شرک مثال ذكر كوى-او دويم ځل لفظ الم -
أَلَمْ تَرَ كَيْفَ----- دا توحيد مثال او يا دليل نقلى چه داتوحيد دښخوا انبياؤ نه پاتې دى او هغوى ئې بيان كړې دې - چه لكه كهجوره د ځناورو وغيرو نه محفوظه وى او محكم

وی مضبوطه وی نو دغه شان توحيد محکم په جدال دمشرکينو ديته څه نقصان نه رسيږی دېخوانه محکم دې دانبياء وخت نه محکم پاتې دې-او هغوی تبليغ کړې دې داد مخالفينو په اعتراضونو څه نه کيږی-

*من شاخ بلند بارپر از میوہ توحیداز ہر راہ گزرے سنگ زدن عار نداریم*

"ځه دتوحيد دميوې نه ډکه څانګه يم دلا روی دګټې دويشتو نه شرم نه محسوسوم-"

ے په بارداره ونه تل وريږی کانړی

نو ورته ګوره چه بارداره اونه څه کړه

(٢٦) وَمَثَلُ كَلِمَة خَبِيثَة ---- دشرک مثال چه دشرک دپاره ثبات نشته دې - هغه دټينګې نه دې ظاهر کبنې څه خکاری او ختم شی-

(٢٧) يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا ---- ددوارو ډلو نتيجه چه چا توحيد راغستې وی نو کلکې خبرې والا په دنيا او آخر کلک پاتې شی او هغه بل تباه شی-نو نتيجې شوې دواړه-

(٢٨) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ ---- پنځم باب تر " وَلَا خِلَالٌ " (٣١) پورې - او څلورم ځل لفظ دأَلَمْ ددې نه روستوتخويف اخروی او زجر او بشارت-يعنی وقائع اخرويه بيانوی-نو داول او دويم لفظ الم نه روستو هم ايام او وقائع دنيويه وو او هم اخرويه او دآخری څلورم نه روستو صرف اخروی دی او دريم نه روستو مثال وو- يا ورته دليل نقلی اووايه دتيرو انبياؤ نه دا دتوحيد مسئله پاتې شوې ده-

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ ---- زجر په شرک چه انکار اوکړی او دعوت دپيغمبرانو نه دهغوی به داحال شی سره دتخويف نه د " فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى النَّارِ"-(٣١) پورې-

(٣١) قُلْ لِعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا ---- ترغيب الى الاعمال الصالحه- چه راشئ اوس مو وخت دې نو ددې عذابونو نه ځان په دې باندې بچ کړئ-دا اعمال اوکړئ-چه ددنيا او آخرت دوقائعو او عذابونو نه بچ شئ-

(٣٢) اللَّهُ الَّذِي ---- شپږم باب دسورة پديکښې دلائل عقليه او نقلی او تفصيلی تخويف سخت منکرينو ته-

اللَّهُ الَّذِي ---- ددې نه تر " لَظَلُومٌ كَفَّارٌ " (٣٤) پورې دلائل عقليه چه دا دومره كارونه كونكې الله تعالیٰ دې او نعمتونه وركونكې هم الله تعالیٰ دې سره ددې نه بياهم دا مشرک انسان په دعوت دتوحيد کښې دداعی سره جدال کوی او دتوحيدنه انکارکوی دا څومره بې انصافی ده-" إِنَّ الْإِنْسَانَ" به زجر شی-

(٣٥) وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ ---- دليل نقلی - چه اوګوره ابراهيم عليه السلام دا داعاء غوختې وه چه الله ما او ځما اولاد دشرک نه محفوظ کړې-او عاجزی او انکساری دابراهيم عليه السلام چه هغه دتوحيد دپاره څه کړی دی- ښځه او بچې په خوشی بيابان کښې پريخودلی دی- دا ابراهيم عليه السلام په دعاء کښې " رَبَّنَا إِنَّكَ تَعْلَمُ--- او إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ" دا اسم اعظم دی - دا دليل نقلی تر الْحِسَابُ پورې-

(٤٢) وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا ---- اوس تخويف اخروی په آخر دسورة کښې-

وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ نه تر وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْأَمْثَالَ(٤٥) پورې تخويف اخروی چه پس ددليل عقلی او نقلی نه هم انکار کوی نو الله تعالیٰ عالم دې ددوی په اعمالو او سخته سزا به ورکړی-

(٤٤) وَأَنْذِرِ النَّاسَ ---- دا په مينځ کښې مدعی دسورة ده چه تبليغ او انذار اوکړه او ظالمان به دخپلو اعمالو نه په آخرت کښې خبردار شی-

(٤٦) وَقَدْ مَكَرُوا مَكْرَهُمْ ---- دا زجر چه دوی دحق پرستو خلاف دنيا کښې مکرونه کړی وو او د حق پرستو تثبت چه هغه داسې دی لکه جبال- لکه ابوبکر رضي وائی-

" دعاة الحق كالجبال لا تزعزعهم الرياح النكدات "

دحق داعيان داسې وی لکه غرونه - ګنده هواګانې هغه نشی کړولې او خوزولې-

(٤٧) فَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ --- تر سَرِيعُ الْحِسَابِ (٥١) پورې بيا تخويف اخروی او وقائع دآخرت چه ددوی دا مکر هيڅ نه دې - آخرت کښې به ورته سزا ملاؤ شی-

(٥٢) هَذَا بَلَاغٌ لِلنَّاسِ ---- خلاصه دسورة او دعوی دسورة او دعوی دتوحيد-

دا درسولو سورة دې نو " وَلِيُنْذَرُوا بِهِ " - دا تبليغ ته ترغيب شو چه دسورة دعوى وه- او " وَلِيَعْلَمُوا " دعوى دتوحيد چه كومه مسئله درسولو وه اوچه نورئې ورته په سر دسورة كښې وئيلى وو " وَلِيَذَّكَّرَ " دوقائعو او عذابونو بيان نه به عقل مند فائده اخلى نو سورة ئې په يو آيت كښې ذكر كړو-

## حاصل دسورة

تاته عظيم الشان كتاب ددې مقصد دپاه راغلې دې چه خلق دظلمت دشرک نه نور توحيد ته اوباسې او تذكير ورله په ايام الله وركړې- داسې نور انبياء كرام هم راغلى وو دغه كار ئې وو لكه موسىٰ ں دغه كار كړې وو نو مشركين به جدال كوى - لكه انبياء كرامو سره چه كړې وو خو دنيا او آخرت كښې به تباه شى-او دلته حق پرست سره جدال كوى او په آخرت كښې به خپلو كښې جدال كوى او ديو بل نه بيزاره شى - دامسئله دتوحيد محكمه مسئله ده او دا په جدالونو او اعتراضونو څه نه كيږى- شرک هغه سست او بې كاره دې نو موحد كلک پاتې شى- او شرک او مشرک ختم شى-آخرت ئې تباه شى او دنيا هم - نو تاسو په نيک اعمالو ځان دعذاب نه بچ كړئ-او مسئله دتوحيد په عقل او نقل خكاره ده-نو جدال مناسب نه دې-او چه بيا هم څوک انكار كوى نو تباه به شى-آخرت كښې به رسوا شى- نو داسې بيان اوكړه او مسئله دتوحيد واضحه كړه چه نصيحت واخلى-

## امتيازات

(١) التذكير بايام الله تعالىٰ -

(٢) جدال المشركين مع الانبياء-

(٣) بيان او بائيكاټ دشيطان په دوزخ كښې-

(٤) مثال دتوحيد او دشرک په عجيب انداز سره-

(٥) دابراهيم عليه السلام دبچى اود ښځى دپاتې كولو تذكره-

(٦)دعاء دابراهيم عليه السلام دمكي معظمې دپاره او د بچودپاره-

(٧) دعاة الحق كالجبال - وان كان مكرهم لتزول منه الجبال-

(٨) هذا بلٰغ-

(٩) لتخرج الناس من الظلمٰت--

(١٠) لئن شكرتم لازيدنكم-

تمت سورة ابراهيم بعون الربّ الرحيم ، الذى هو مالک يوم الدين-

٢٣ ذوالقعده ١٤٣٣ھ يوم الثلثاء ٣٣ : ١٠ صبح ١٩ اكتوبر ٢٠١٢ ء-

وانا فى السجن حزين وراجى رحمة رب الكريم الذى لااله الا الله العظيم الحليم لااله الا هو رب العرش العظيم لااله الا الله ربّ السمٰوات والارض ورب العرش الكريم فيا كاشف كرب المكروبين اكشف كربنا او ياغياث المستغيثين اغثنا ويامعين المومنين اعنّا او يا رجاء المومنين لا تقطع رجاءنا ويا محب التوابين تب علينا-

ياخير المخرجين اخرجنا مخرجاً مبٰركاً ولا تجعلنا فتنة للقوم الظٰلمين ونجّنا برحمتک من القوم الكفرين .. اٰمين يارب العٰلمين.

نزولا (٥٤) مصحفا (١٥) سورة الحجر مكية ركوعات (٦) ايات (٩٩)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة الحجر

سورة الحجر مکی سورة دې په نزول کښې څلور پنځوستم (٥٤) نمبر دې پس دسورة يوسف نه نازل شوې دې- او په ترتيب دسورتونو کښې پنځلسم (١٥) نمبر دې پس دسورة ابراهيم نه-

## ربط دمخکښې سورة سره

دسورة الحجر مناسبت دابراهيم سره په ګنړو وجوهو باندې دې - ځنې دهغې نه:

**اوله وجه**: په سورة ابراهيم کښې بيان اوشو په عجيب انداز سره نو اوس سورة الحجر کښې تخويف پس دبيان نه چه نه منی نو تباه به شی-

**دويمه وجه**: چه هر کله په سورة ابراهيم کښې تذکير بايام الله اوشو نو دلته زيادت په نزول دعذاب په سابقينو باندې او پنځه اقوام مهلکه ذکر کوی-

**دريمه وجه**: په سورة ابراهيم کښې بيان اوشو نو دلته وائی اومنئ ګنی بيا به افسوسونه کوئ او څه فائده به درنکړی-

**څلورمه وجه** : چه ختم دسورة ابراهيم وو په توحيد باندې نو دلته ترغيب توحيد ته چه دې توحيد پسې به منکرين ارمان کوی-

**پنځمه وجه**: په مخکښې سورة کښې احوال دمبلغينو او منکرينو بيان شو نو پدې سورة کښې دهغوی انجام ذکر کوی-يعنی دا سورة دعاقبت دفعل دپاره دې-

## دعوی دسورة

دسورة مرکزی مضمون او دعوی " التخویف للمجرمین بعذاب السابقین "- چه مجرمان یروی چی چا دبیان نه روستو مسئله نده منلې نو هغه تباه شوی دی-او پنځه اقوام مهلکه ذکر کوی-او په سر دسورة کښې لفظ دکتاب راغلې دې نو دا اشاره ده چه دتیرو قومونو او کتابونو واقعات دی پکښې او لفظ دقرآن دلالت کوی پدې باندې چه ددې امت او کتاب واقعه مخصوصه پکښې شته نو هغه مستهزئین او مقتسمین دی- دا ددې امت او دتیرو کتابونو واقعات ذکرکوی-او چه صرف لفظ دکتاب نو بس دهر آسمانی کتاب تذکره به وی - که قرآن که انجیل او که تورات-

**خلاصه او تقسیم دسورة**

دسورة مختصره خلاصه داده چه د ابتداء نه مقام دقرآن او تخویف - بیا دلائل عقلیه او واقعه دابلیس چه چا انکار کړې وو دهغه انجام -بیا ذکر د اقوام مهلکه کوی پنځو آخر کښې تسلی او تثبت-

تقسیم دسورة : سورة خپله مسئله په دریو اندازونو بیانوی- یعنی سورة منقسم دې دریو بابونو ته -

اول باب : دابتداء نه تر " قوم مسحورون " (١٥) پورې - پدیکښې اول ترغیب الی القرآن ذکر کوی بیا تخویف منکرینو ته چه دا دعوی دسورة ده(٣،٤،٥) بیا د (٦) نه زجر په انکار درسالت او په قرآن باندې او د (١٠،١١) نه تسلی نبی علیه السلام ته-

دویم باب : د " ولقد جعلنا " (١٦) نه تر " العذاب الالیم " (٥٠) پورې او پدیکښې اول دلائل عقلیه تر (٢٥) پورې او بیا د (٢٦) نه اول دلیل عقلی بیا انجام د هغه چا چه استکبار او طغیان دامر الهی نه کړې دې-په واقعه دشیطان او تخویف اخروی او بشارت-

دريم باب : د " ونبئّهم " (٥١) نه تر آخر تر سورته - پديکښې تخويف په ذکر د اقوام خمسو مهلکو ددعوې دسورة دپاره تنوير دې او ختم دسورة په تسلئ او په توحيد لکه دسورة ابراهيم -

**مقاصد الايات وتناسبها**

(١) **الر تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ ----** ددې نه تر (١٥) پورې اول باب دسورت دې - ترغيب الى القرآن او تخويف او زجر -

**تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ ----** ترغيب الى القرآن - چه داراروان مضمون ډير اهم دې - دتيرو کتابونو واقعات پکښې هم دی او ددې کتاب واقعات پکښې هم دی نو لږ په توجه ورته غورکيږدئ- او فائده ترې واخلئ-

(٢) **رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ ----** ترغيب او تخويف منلو ته - چه اومنئ ګنی ارمان به کوئ-

*فردا بشنوی این بانگ زود*      *نعره یا حسرتی واویلتا*

**صبا به زر دا آواز د افسوس او دهلاکت واورې-**

**(٣) ذَرْهُمْ ---- تخويف تر(٥) يَسْتَأْخِرُونَ - پورې چه دعوى دسورة چه نه منى په دنيا باندې غره او دهوکه دی نو وخت به راشى وخت مقرر دې چه دعوى دسورة ابراهيم نه منى نو اوس به پرې عذاب راشى او بيا به ارمانونه کوی-**

**(٦) وَقَالُوا يَا أَيُّهَا الَّذِي ---- زجر په انکار درسالت او په اعراض دقرآن باندې- چه دا د منلو په ځائې داسې خبرې شروع کړی چه دداعى پورې استهزاء کوی چه دا حق دې نوده سره فرشته ولې نه راځی؟ جواب چه " مَا نُنَزِّلُ " چه فرشته خو عذاب له راځی نو تباه به شی-**

**(٩) إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ ---- ادخال الهی- فرمانِ شاهی چه ددوی په انکار او اعتراضونو باندې مشن قرآنی ته نقصان نه رسی دا به الله تعالیٰ سر ته رسوی-**

(١٠) وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا ---- نه ترمَسْحُورُونَ (١٥) پورې تسلي او تخويف چه دغه شان مخکښې انبياءُ راغلي وو خلقو دغه شان انکار کړې وو نو ته خفه کيږه مه او چه ايمان نه راوړي او نه مني نو عذاب به پرې راشي-

(١٤) وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا ---- جواب دسوال - دوی معجزه غواړی که معجزه راشی نو کيدې شی اومنی- جواب - چه ضديان دی که دمعجزې په ځائې خپله آسمان ته اوخيژی هم ايمان نه راوړی-

(١٦) وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا ---- دريم باب د سورة دلائل عقليه او واقعه د ابليس او تخويف او بشارت تر (٥٠) پورې-

دلائل تر " علمنا المستاخرين " پورې دی (٢٤) اول ځل دلائل چه معجزو ته څه حاجت دي دتوحيد مسئله خو صفا واضحه ده دهر څه نه معلوميږی-او ددې خلاصه دوه خبرې دی- چه همه کن بهی وهی - يعنی هر څه کونکې الله تعالیٰ دې- او دويمه خبره چه همه دان بهی وهی-چه په هر څه پوهيدونکې هم الله تعالیٰ دې-تر (٢٣) پورې اوله خبره او (٢٤) کښې دويمه خبره نو چه دهر څه کونکې الله تعالیٰ دې او په هر څه پوهيدونکې الله تعالیٰ دې نو هغه په نورو صفاتو د الوهيت کښې هم يو اوګڼړئ دا خو صاف مسئله ده-

(٢٥) وَإِنَّ رَبَّكَ ---- تخويف اخروی چه دلائل نه منی نو الله تعالیٰ له به ځئ او جمع کيږئ به-

(٢٦) وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ ---- دليل عقلی بل چه څه لږ ځان ته سوچ اوکړه- الله تعالیٰ څنګه دخه نه پيدا کړې ئې بيا شرک او نه منل او دپيغمبران نه انکار ډيره بې انصافی ده-

(٢٧) وَالْجَانَّ ---- دليل عقلی - او جنات اوګوره دځه نه پيدا شوی دی او شيطان هم دجناتو دې او ستاسو دشمن دې-

(۲۸) وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ ---- ددې نه واقعه د آدم  علیہ السلام او ابلیس ذکر کوی ددې مقصد دپاره چه انجام دهغه چا اوګوره چه هغه دحکم الهی نه استکبار او طغیان سرکشی کړې وه - څه انجام ئې شو نو که تاسو اوکړو نو دغه انجام به مو شی-او دویم دې مقصد له چه دلائل موجود دی او تاسو نه منئ نو دا شیطان تاسو ګمراه کوی او تاسو دوزخ ته رسوی نو هغه ستاسو دشمن دې نو اوس دې دلائلو نه فائده واخلئ اومنئ-ګنی دهغه په تابعدارو کښې به تباه شئ-

(٤٣) وَإِنَّ جَهَنَّمَ ---- تخویف چا چه د دلائلو نه انکار اوکړو او صراط مستقیم ئې پریخودلو نو دهغوی انجام به دا شی-

(٤٥) إِنَّ الْمُتَّقِينَ ---- بشارت چه دشیطان داتباع نه ځان بچ کړی او دعوت دانبیاؤ اومنی دلائلو نه فائده واخلی نو دهغوی انعام اوګوره-

(٤٩) نَبِّئْ عِبَادِي ---- مختصر بشارت او تخویف ذکر کوی- اومنئ نو معاف او ګنی نو عذاب به راشی نو اوس دعذآب نمونې ذکرکوی-

وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ (٥١) دریم باب تر آخر تر سورته - پدیکښې اوس نمونې ذکرکوی دتخویف دسورة ددعوې دپاره چه دا واضحه شی- منکر دې اویریږی او که شک ئې وی نوداحوال دمنکرینو دِ اوګوری-پنځه نمونې ذکر کوی-

وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ ---- اوله نمونه دتخویف دقوم لوط ذکر کوی-چه هغوی دعوت ردکړې وو نو څکه تباه شو اول واقعه دابراهیم  علیہ السلام بطور تمهید څکه چه کومې فرشتې دهلاکت دپاره دقوم لوط راغلې وې نو هغوی ابراهیم  علیہ السلام ته زیرې راوړې وو او هغوی سره دقوم لوط باره کښې خبرې شوې وې-تر (٦٠) پورې-

فَلَمَّا جَاءَ آلَ لُوطٍ الْمُرْسَلُونَ (٦١) واقعه دلوط علیہ السلام تفصیلی تر " لِلْمُؤْمِنِينَ " (٧٧) پورې-چه هغوی سرکشی کړې وه-او دعوت ئې نه وو منلې-نو څنګه تباه شو نو دیته اوګورئ او عبرت واخلئ-

وَإِنْ كَانَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ لَظَالِمِينَ (٧٨) دويمه نمونه د اصحب الايكه-تر(٧٩) پورې چه دوی نه وه منلي نو څنګه تباه شو-

وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَابُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِينَ (٨٠) دريمه نمونه داصحاب الحجر- چه هغوی انکار کړې وو نو تباه شو-تر يَكْسِبُونَ (٨٤) پورې-خپلو الهو بيا بچ نه کړل-

(٨٥) وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ ---- دليل عقلي او اثبات دقيامت - چه مسئله بالکل صاف ده اوس هم نه منی او اعتراضات کوی نو ددوی د اعتراضاتو نه مخ واړوه وخت راروان دې دا الله تعالیٰ ته څه ګران ندې-

(٨٧) وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِنَ الْمَثَانِي ---- ترغيب الی القرآن - چه تاله الله تعالیٰ يو عجيب مضمون او کتاب درکړې دا بيابيا بيان کړه- ددوی د اعتراضاتو فکر مه کوه-

(٨٨) لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ ---- تزهيد من الدنيا- چه دقرآن غوندې دولت ملاؤ شو نو دکافرو دنيا ته فکر مه کوه-دنيا څه څيز دې دقرآن او آخرت مقابله کښې-

وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ ---- تسلی چه نه منی نو غم مه کوه-

وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ - ترغيب تنظيم ته او موالاتو دموحدينو ته- موحدين ځان ته راغونډ کړه-

*فرد قائم ربط ملت سے ہے تنہا کچھ نہیں موج ہے دریا میں اور بیرونِ دریا کچھ نہیں*

وَقُلْ إِنِّي أَنَا النَّذِيرُ الْمُبِينُ (٨٩) ترغيب الی البيان او صداقة الرسول چه څه دبيان دپاره راغلې يم-منل نه منل ځما کار ندې-څه به بيان کوم-

(٩٠) كَمَا أَنْزَلْنَا ---- تسلی او څلورمه واقعه ددې امت نمونه- بيان کوه دمخالف فکر مه کوه مقتسمين مِ څنګه تباه کړی وو- دا پدې امت کښې وو ستا مخالف به هم تباه کړم-بيا دمقتسمينو بيان کوی-او يره دآخرت تر (٩٣) پورې-

(٩٤) فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ ---- ترغيب بيان ته چه داعتراضاتو او تکليفونو دوجې مسئله کښې نرمی مه کوه مسئله صاف صاف بيان کړه-

إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ (٩٥) پنځمه نمونه دعذاب- او تسلی چه کومو استهزاء کړی وه- هغوی له ځه پوره یم دا روستئ دوه واقعې ددې امت-داتر " فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ " (٩٦) پورې ذکر کوی-

(٩٧) وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ ---- تسلی چه دوی کوم اعتراضات کوی-نو هغه مونږ ته معلوم دی-ته دتوحید مسئله بیان کړه او عبادت کوه-" حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ "(٩٩) - یعنی ستا دټول عمر کار دغه دې دچا دانکار او نه منلو دوجې کار مه پرېږده-

اندریں راہے تراش وے خراش دم بہ دم تادمِ آخر دمِ فارغ مہ باش

تر آخره سلګئ پورې ستا اوزګاریدل نشته دې- په دوی به عذاب راځی-

مکتب عشق کاانداز نرالہ دیکھا اسکو چھٹی نہ ملی جس نے سبق یاد کیا

## حاصل دسورة

چه د زبردست کتاب دعوت اومنئ داعتراضونو او انکار نه ځان اوساتئ-معجزو ته څه حاجت دې مسئله بالکل واضحه ده په دلائلو باندې - چه چا استکبار او طغیان کړې وو - لکه دشیطان نو انجام ئې څه شو-نو دشیطان په تعلیم مه روانیږئ تباه به شئ- او په دنیا کښې دهلاکت نمونې اوګورئ - پنځه اقوام - اوس هم نه منی او اعتراضات کوی نو تاله الله تعالیٰ لوئې دولت درکړې دې- ددوی دنیا باندې مه دهوکه کیږه او ملګری ځان سره راجمع کړه او مسئله صاف صآف بیان کړه-ستا کار دغه دې تر آخر عمره پورې او دشمنانو له الله کافی دې-

## امتیازات

(١) ربما یودّ الذین کفروا- افسوسونه دکافرو په توحید او قرآن پسې-

(٢) انا نحن نزلنا الذکر- دحفاظت دقرآن کریم وعده-

(٣) من صلصال من حماء مسنون-

(٤) هذا صراط عليّ مستقیم-

(٥) ذکر المقتسمین-

(٦) ذکر المستهزئین-

(٧) ولقد اتیناک سبعاً من المثانی-

(٨) واعبد ربّک حتی یاتیک الیقین-

تمت سورۃ الحجر بعون مالک العزّۃ والقدر-

٢٣ ھ ١٤٣٣ ھ یوم الثلثاء ١٦ : ١٢ ظھر ٩ اکتوبر ٢٠١٢ ء -

الھی عبدک العاصی اتاک

مقرّاً با لذنوب و قد دعا ک

ان تغفر فانت لذالک اھل

وان تطرد فمن یرحم سواک

الھم مغفرتک اوسع من ذنوبی ورحمتک ارجیٰ عندی من عملی

بقلم ابو حماس مجتبیٰ بن عبد المتین سلیم خان صوابی- دھجران دمور او اھل بیت او داھل مدرسه او درس او دبیان دتوحید او دسنت په ارمان په جیل کښې دالله په اسره ناست په قرآن ئې تسلی- الحمد لله -

نزولا (٧٠) مصحفا (١٦) سورة النحل مكية ركوعات (١٦) ايات (١٢٨)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة النحل

سورة النحل مکی سورة دي په نزول کښې اويايم (٧٠) نمبر دې پس دسورة الکهف نه نازل شوې دې-او په ترتيب دسورتونو کښې شپاړسم (١٦) سورت دې-

## ربط دمخکښې سورة سره

مناسبت دسورة النحل دسورة الحجر سره په ګڼړو وجوهو باندِ دې-

**اوله وجه**: په مخکښې سورة کښې ذکر دعذاب وو په مخکښې مجرمانو باندِ نو په دې سورة کښې وائی چه په تاسو به هم راشی يعنی دلته موجوده منکرينو ته دعذاب تذکره-

**دويمه وجه**: سورة الحجر ختم شو په توحيد باندې-نو دلته منکرينو دتوحيد ته دعذاب تذکره-

**دريمه وجه** : سورة الحجر ختم شو په مسئله دتوحيد باندې نو دلته مسئله دتوحيد ذکرکوی په دلائل عقليه باندې - يعنی په مسئله دحجر باندې دلائل عقليه-

**څلورمه وجه**: په سورة الحجر کښې اووې چه " يضيق صدرک بما يقولون "- نو دلته هغه " مايقولون" ذکر کوی چه دوی اعتراضات کوی-

**پنځمه وجه**: په سورة الحجر کښې اووې " ولقد اتيناک سبعاً من المثانی" دقرآن مقام نو دلته په ابتداء کښې دقرآن مسئله ذکر کوی-چه هغه توحيد " ان انذروا انه لااله الا انا "

### دعوی دسورة

دسورة مرکزی مضمون او دعوی ده "نزول العذاب بالمجرمين المعرضين "چه دتوحيد نه په اعراض کونکو عذاب راغي او رانزدې شو په اول ايت کښې دعوه ذکر ده

چونکه دعذاب دراتلو وخت دې نو مسئله دتوحيد چه دعذاب نه دبچ کيدو سبب دې هغه په ناشنا انداز سره بيانيږی په دلائل عقليه ، نقليه ، او وحيه باندې-چه دامسئله اومنئ او شرک پريږدئ چه دعذاب نه بچ شئ-

داسورة مشابه دې دانعام سره په کثرة ددلائل عقليو چه تقريباً ۲۲ دی- لکه چه انعام کښې ۲۵ وو او رد دشرک فعلی او اعتقادی هلته هم اول اعتقادی رد بيا دفعلی او دلته هم دغه شان لکه بقره او يونس او په سورة الانعام کښې هم داتباع دابراهيم عليه السلام تذکره نو دلته هم داتباع دابراهيم عليه السلام تذکره-"واتبع ----" رد داشراکو ذکر کوی-چه شرک سبب دعذاب دې نو ځان ترې بچ کړئ نودعوی دسورة ده نزول دعذآب په انکار کونکو دتوحيد خو دتوحيد مسئله دبچ کيدلو دپاره بيانوی-

### خلاصه او تقسيم دسورة

مختصره خلاصه چه په توحيد ادله متنوعه ذکرکوی-او ذکردنزول دعذآب په معرضينو او رد دشرک اعتقادی بيا آخر کښې رد دشرک فعلی او ترغيب اتباع دابراهيم عليه السلام ته او اصول دعوت- تفصيلی خلاصه او ترتيب په تقسيم کښې-

**تقسيم دسورة:** سورة تقسيم دې اتو بابونو ته - کله استاذان اول اووه بابونه يوه حصه کړی او آخری باب دويمه حصه کړی-په رد دشرک فعلی کښې او اوله په رد دشرک اعتقادی کښې-شيخ القرآن رحمة الله ابواب ليکلی دی په هغه طرز مونږليکو- پديکښې اول ، څلورم، پنځم،شپږم بابونو کښې دلائل عقليه دی څلورابوابو کښې- او دا مختلف قسمه دی بيان به ئې راشی-

**اول باب** : دابتداء نه تر وَهُمْ مُسْتَكْبِرُونَ(٢٢) پورې پديکښې دعوه دسورۀ بيا توحيد اودلائل عقليه چه خالق دهر څه الله تعالیٰ دې - ددې دلائلو دا حاصل دې بيا زجرونه او تفريع پرې د توحيد- او عالم بكل شيئ هوا لله .

**دويم باب** : د(٢٣) "لَاجَرَمَ " نه تر " اَلْبَلٰغُ الْمُبِيْنَ "(٣٥) پورې پديکښې زواجر او تخويف او بشارت-

**دريم باب** : د (٣٦) "ولقد بعثنا" نه تر " لرووف الرحيم "(٤٧) پورې-پديکښې دليل نقلی اجماعی په توحيد او رد په مشركينو باندې او زجر په منكرينو دآخرد ٣٧ نه بيا بشارت او رد دشبهې په رسالت ٤٣ او تخويف-

**څلورم باب**: د (٤٧) " الم يروا" نه تر " لقوم يؤمنون" (٦٤) پورې -پديکښې دويم قسم دلائل عقليه چه ټول الله ته دی محتاج او زجر په شرک او تخويف ٦١ نه او دليل وحی ٥١ کښې ترغيب الی التبليغ او قرآن ته ٦٤ کښې-

**پنځم باب** : د "والله انزل " ٦٥ نه تر (٧٧) "قدير" پورې- پديکښې بل قسم دلائل چه النعم كله من الله تعالیٰ - چه نعمتونه دالله تعالیٰ دی او بيا ورسره مثالونه هم ذكركوی او زجر-

**شپږم باب** : د "والله اخرجكم " (٧٨) نه تر "تسلمون"(٨١) پورې-اوپديکښې چه تذكير بالنعم چه ټول نعمتونه چه كومو ته تاسو محتاج يئ- نو الله دركړی دی او خير او بركت اچونكې الله تعالیٰ دې نو ولې بل پسې روان يئ-

**اووم باب** : د " فان تولو " (٨٢) نه تر " وهم ظٰلمون " (١١٣) - پديکښې اول تسلی نبی عليہ السلام ته او بيا د (٨٤) نه(٨٩) پورې تخويف اخروی او احوال دمشركانو په قيامت كښې او ګواهان قائمول په دوی باندې په ٨٩ كښې دقرآن كريم مقام او دليل وحی او په ٩٠ كښې امور مصلحه چه دافع دعذاب بيا ٩١ نه مثال داعمال دمشرک او بيا زواجر او په ٩٧ كښې بشارت او ترغيب قرآن ته ٩٨كښې - بيا د١٠١ نه زجرونه په ١٠٦ كښې امر بالتثبت چه كلک شئ او په ١٠٧ كښې سبب داعراض چه استحباب ددنيا دې-په ١١٠ كښې بشارت بيا تخويف دنيوی او اخروی-اعراض كونكو ته-

**اتم باب**: د " فکلوا مما---" (۱۱٤) نه تر آخر ترسورته پدیکښې رد دشرک فعلی او زجر مشرکینو ته په تحریمات مخترعو او بیا ترغیب اتباع دابراهیم علیه السلام ته او طریقه دتبلیغ په ۱۲۵ کښې او تسلی نبی علیه السلام ته او اعانة دالله تعالیٰ موحدینو ته-
که اول اووه بابونه یو حصه کوې او صرف دلائل اقسام ښکښې جداکوې نو هم او آخری باب دویمه حصه به شی او که دغه شان بابونه وائې لکه چه شیخ القرآن رحمة الله علیه جوړکړی- نو هم ستا خوخه ده-

**مقاصدالایات وتناسبها**

(۱) أَتَى أَمْرُ اللَّهِ ---- دابتداء نه تر آیت ۲۲ پورې اول باب اول دعوی دسورة - بیا مسئله دتوحیداو په هغې باندې دلائل عقلیه او آخر کښې زواجر-
أَتَى أَمْرُ اللَّهِ ---- دعوی دسورة - چه عذاب الهی راورسیدلو نو تلوار مه کوئ-
سُبْحَانَهُ - ددې نه تر فَاتَّقُونِ (۲) پورې چه دشرک دوجې نه په تاسو عذاب راځی او دا تاسو وایئ چه په ده نبوت ولې راځی نو داخو اختیار دالله تعالیٰ دې چه چاته توحید وحی کوی نو تاسو شرک کوئ او تکذیب دپیغمبر کوئ نو ددې وجې نه عذاب راځی-نو اوس چه کله دعذاب الهی دراتلو وخت دې نو ولې تاسو ځان نه بچ کوئ - نو اوس مسئله دتوحید بیانوی په دلائلو عقلیو او نقلیو او وحیو سره- چه مسئله واضحه ده نو اومنئ چه دعذاب نه بچ شئ-
(۳) خَلَقَ السَّمَاوَاتِ ---- ددې ځائې نه تر يَهْتَدُونَ (۱٦) پورې-اول قسم دلائل چه دټولو حاصل چه خلق دامور عظامو هغه الله تعالیٰ کړې یعنی خالق لکل شیئ هوالله تعالیٰ- دهر څه خالق الله تعالیٰ دې نو ولې ورسره تاسو شریک او حصه دار جوړوئ-دااته (۸)دلائل دی او دټولو دغه حاصل دې- وَعَلَى اللَّهِ سره دعوی دتوحید ذکر کوی او په (۹) ایت کښې ترغیب وَعَلَى اللَّهِ --- چه ددلائلو په رڼاکښې دالار دتوحید واضحه شو

نورېِ دشرک او کفر لارې دېِ-نو تاسو او ستاسو فوائد الله تعالیٰ پیداکړی دی نو صرف ددلائلو نمبرې دی څه خفا نشته دېِ-

(۳)خَلَقَ السَّمَاوَاتِ ---- اول دلیل (٤)خَلَقَ الْإِنْسَانَ ---- دویم دلیل

(٥)وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا ---- کښې دریم دلیل (۱۰) هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ ---- کښې څلورم دلیل

(۱۱)يُنْبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ ---- کښې پنځم دلیل (۱۲)وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ ----کښې شپږم دلیل

(۱۳)وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي الْأَرْضِ ---- کښې اووم دلیل (١٤)وَهُوَ الَّذِي ---- کښې اتم دلیل - حاصل چه خالق لکل شیئ هوالله تعالیٰ-

(۱۷) أَفَمَنْ يَخْلُقُ ---- اوس زجر پس ددلائلو نه - چه تاسو نور الِهه جوړکړی دی نو اله کښې دوه صفته پکار دی - یو چه هغه خالق وی -دویم چه عالم په هرڅه وی نو ستاسو پدې الهو کښې دا صفتونه شته دې نو نه نشته دېِ- نه پکښې خالقیت شته او نه علم نو ولې رامدد کوئ - داتر (۲۱) پورې-

(۱۸) وَإِنْ تَعُدُّوا ---- ستا نعم هم الله پیدا کړی دی - ته او ستا نعم ټول الله تعالیٰ پیدا کړی دی نو ولې بل پسې ځې-

(۱۹) وَاللَّهُ يَعْلَمُ ---- اثبات دعلم کلی الله تعالیٰ لره - چه خالق الله دې نو عالم هم الله تعالیٰ دې -

(۲۰) وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ---- زجر- چه ستاسو په اٰلهو کښې اول صفت چه خالقیت دې هغه نشته دې بلکه په خپله مخلوق دی نو څنګه اٰله شو مخلوق اٰله نشی کیدې-

(۲۱) أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاءٍ ---- زجر - مخلوق څه چه حیات پکښې هم نشته دې او علم هم نشته دې نو څنګه اله شو یه بې انصافو-او علم پکښې هم نشته ځکه " وما یشعرون "

(۲۲) إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ---- دعوی دتوحید - چه په غیرالله کښې دخالقیت او عالمیت صفت نشته دې نو چه دا صرف دالله تعالیٰ دی نو معلومه شوه چه الٰه یکی یو الله تعالیٰ دې - نو خپلو حاجاتو کښې یواځې هغه رامدد کړئ نه بل څوک-

فَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ---- زجر چه سره ددلائلو نه او دالهو باطلو دعجز دخکاره کیدلو نه بیا هم دتوحیدنه انکار دا څومره بې انصافی ده-

(۲۳) لَا جَرَمَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ ---- ددې نه تر" الْبَلَاغُ الْمُبِينُ(۳۵) پورې دویم باب تخویف او زجرونه او بشارت دې پکښې-

لَا جَرَمَ ---- سره تخویف چه الله تعالیٰ ته ددوی اعمال معلوم دی-

(۲٤) وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ ---- زجر په انکار دقرآن چه دتوحید نه دانکار اصل وجه هغه داده چه دقرآن باره کښې ددوی نظریه درسته نده-

(۲۵) لِيَحْمِلُوا أَوْزَارَهُمْ ---- تخویف اخروی- چه دقرآن باره کښې داسې نظریه ده نو نتیجه به ئې داشی-

(۲٦) قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ ---- تخویف دنیوی چه دآخرت څه چه داسې مکرونه دحق خلاف کوی نو دنیا ئې هم تباه ده - نمونه دِ اوګوری-

(۲۷) ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ---- تخویف اخروی- چه آخرت کښې به ددوی هغه الٰهه پکار رانشی-

(۲۸) الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ---- ادخال الٰهی او حالت دمرګ او برزخی احوال ذکر کوی چه دا به دمشرک حال وی -په وخت دمرګ او ځنکدن کښې-

(۲۹) فَادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ ---- دابیا تخویف اخروی دمخکښې تخویف سره متعلق چه دابه ورته اووائی :

(۳۰) وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا ---- اوس تقابل کښې بشارت ذکرکوی چه دکافرو نظریه او نتیجه دې اولیدله نو اوس دموحدنظریه دقرآن باره کښې او نتیجه اوګوره دغه شان حالت په وخت د ځنکدن کښې تر آیت (۳۲) پورې-

(۳۳) هَلْ يَنْظُرُونَ ---- تخويف دنيوى-چه داسې خائسته بيان اوشو او اوس هم نه منى نو انتظار ده څه دې دعذاب نو رابه شى دا څه ناشنا ندې په مخکښې خلقو هم راغلې وو چه تکذيب ئې کړې وو تر يستهزؤن(٣٤) پورې-

(۳٥) وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ---- الزجر للمشركين- دومره دلائلو دبيان سره او دترغيب او ترهيب دبيان نه روستو دې احمقو اوبې عقلو ته ګوره چه دهغه دلائلو مقابله کښې داسې خبرې کوى چه که دالله تعالىٰ څمونږ کارخوښ نه وې نو مونږبه نه وې کړې نو عذاب الهى نه راتلل او مهلت ورکول دادليل درضاګرځوى- داڅومره احمقان دى نو رد پرې کوى-

(٣٦) وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا ---- ددې ځائې نه دسورة دريم باب تر " لرؤوف رحيم "(٤٧) پورې-پديکښې دليل نقلى او زجر او بشارت -جواب دشبهې چه په رسالت وه او تخويف-

وَلَقَدْ بَعَثْنَا ---- دليل نقلى اجماعى- چه دامسئله دتوحيد لکه چه څنګه په عقل سره واضحه ده نو دغه شان په نقل هم ده چه ټول انبياء پدې راغلى وو چه عبادت ديو الله تعالىٰ حق دې نو هغه له اوکړئ- دا اعتراضونه ستاسو فضول دى- نو چه چا نده منلې نو دهغوى انجام څه شو-

(۳۷) إِنْ تَحْرِصْ ---- تسلى- چه دوى نه منى نوخفه کيږه مه-په دوى مهر لګيدلې دې -

(۳۸) وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ ---- زجر په انکار دقيامت باندې-چه سره ددومره خکلى بيان بيا هم دآخرت نه انکار کوى او دائې وجه ده دانکار دتوحيدنه -

بَلَى وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا ---- نه روستو اثبات دقيامت او دوه خبرې چه تاسو وايئ چه قيامت نه راځى نو ولې فائده پکښې نشته نو فائده خو شته دې " لِيُبَيِّنَ"(۳۹) او دويم چه ولې څما قدرت نشته دې نو قدرت مِ هم شته دې دا په ٤٠ کښې-

(٤١) وَالَّذِينَ هَاجَرُوا ---- بشارت مخکښې کلام بطور تخويف وو کفارو ته اوس مقابله کښې مومنانو ته بشارت ذکر کوى تر يَتَوَكَّلُونَ (٤٢) پورې-

(٤٣) وَمَا أَرْسَلْنَا ---- جواب دشبهې چه وارده په رسالت ده- دمنلو په ځائې خله راپورته کړی او اعتراض کوی چه دادعوی دتوحید مونږ ځکه نه منو چه ته انسان ئې کچرته فرشته پيغمبر وې نو مونږبه منلې وې-نو جواب چه د اهل علمو نه تپوس اوکړئ چه دهغوی درسالت باره کښې علم وی-چه ټول انبياء انسانان راغلی دی او حکمت دارسال- يَتَفَكَّرُونَ پورې-

(٤٥) أَفَأَمِنَ الَّذِينَ ---- ددې ځائې نه تر لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ (٤٧) پورې تخويف دنيوی چه انکار په صورت کښې خلاصيدلې نشی په آخر کښې دتخويف دالله صفت لرووف رحيم ذکر کوی دا ځکه چه دادتخويف دبيانولوعلت دې چه الله مهربان دې کيدې شی څوک اومنی- او دعذاب نه ځان بچ کړی- ځکه درته د آخرت احوال په دنيا کښې ذکر کوی-

(٤٨) أَوَلَمْ يَرَوْا ---- ددې ځائې نه څلورم باب تر (٦٤) پورې- پديکښې دويم قسم دليل عقلی او بيا زواجر او (٥١) کښې دليل وحی او تخويف او ترغيب الی القرآن آخر کښې-اوترغيب بيان ته-

أَوَلَمْ يَرَوْا ---- تر (٥٠) پورې او ورسره په ٥٢ او ٥٣ کښې بل قسم دلائل دی چه ټول الله تعالیٰ ته دی محتاج چه بره او خکته چه څه دی نو هغه الله تعالیٰ ته دی محتاج-نو چه ټول الله ته دی محتاج نو معلومه شوه چه الله تعالیٰ په خپلو صفاتو کښې يواځې دې او بل څوک ورسره شريک او حصه دار نشته دې-چه ټول دالله تابع شو نو اٰلِهه څنګه شو-

(٥١) وَقَالَ اللَّهُ ---- دليل وحی او ثمره ددلائلو چه د دومره دلائلو حاصل هغه دادې-

(٥٢) وَلَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ ---- بل دليل عقلی چه ټول الله تعالیٰ ته دی منقاد او عاجزه دی-

أَفَغَيْرَ اللَّهِ ---- زجر سره ده دومره دلائلو دغير نه يريدل او معبود جوړول داحماقت دې-

(٥٣) وَمَا بِكُمْ مِنْ نِعْمَة ----- دليل عقلی بطور زجر - چه په تاسو څه نعم دی ددې ورکونکې الله تعالیٰ دې او دلائل مو اوليدل نو سره ددې دغير نه يريږئ او په تاسو هم

چه تکلیف راشی نو الله تعالیٰ رامدد کوی نو دغه وخت تاسو هم دتوحید قائل کیږئ - بیا چه ختم شی تکلیف نو بیا شریک جوړوئ نو داسې نه وو پکار-
(٥٥) لِيَكْفُرُوا بِمَا ---- تخویف دشرک انجام کفر او ددې سزا به عنقریب اوڅکی-
(٥٦) وَيَجْعَلُونَ لِمَا ---- زجر او رد په شرک فعلی چه شرک اوکړئ نو بیا دخپلو معبودانو دپاره نذر ونیاز هم کوی او تحریمات نو دا څه مناسب ده - دالله تعالیٰ ورکړې مال هغه دبل په نوم منئ څومره بې انصافی ده-
(٥٧) وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ ---- زجر په اتخاذ الولد- چه وائی الله ځان له لونړه نیولی دی او فرشتې دالله لونړه ګنړی داڅومره حماقت دې-
(٥٨) وَإِذَا بُشِّرَ ---- الزامی جواب تر يَحْكُمُونَ (٥٩) پورې- چه اې احمقانو چه الله تعالیٰ ته خو لونړه جوړوئ خو لږځان ته سوچ اوکړئ-
(٦٠) لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ---- دا حاصل- چه څه څه صفتونه هغه دالله تعالیٰ دی او چه څه مذمتونه دی نو هغه دمشرک دی-
(٦١) وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ ---- تخویف چه داسې خبرې کوی نو دالله تعالیٰ نه تختیدلې نشی خو وخت مقرر دې- تر وخت مقرره پورې مهلت ورکولې شی-
(٦٢) وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ ---- زجر سره ددومره قباحتونو نه چه دادا کوی هغه مخکښې قباحتونه ئې معاد کړل -سره ددې نه ځان ته نسبت دجنت کوی-
لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ النَّارَ ---- چه جنت نه په اور به سوزی ددوی دخیال رد شو-
(٦٣) تَاللَّهِ لَقَدْ أَرْسَلْنَا ---- دا تسلی - چه نور انبیاء هم ستا په شان راغلی وو غم مه کوه یواځې نه ئې ستا نورو ملګرو هم داسې سختې برداشت کړی دی-نو هغوی تبلیغ کړې ته هم کوه-او

*هیچ مارا با قبولے کار نیست*

که منی اودِ منی ګنی نه دِ منی-

(٦٤)وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ ---- ترغيب الى القرآن او تبليغ او بيان ته ترغيب- چه كه دوى نه منى نو ته خپل كار مه پريږده تاته قرآن دبيان دپاره راغلې دې- ته خپل كار جارى ساته - شته څه خلق چه هغوى به اومنى-انابت والا دا ضديان دى-
(٦٥) وَاللَّهُ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ ---- ددې ځائې نه پنځم باب دسورة تر قدير (٧٧) پورې-اوپديكښې بل قسم ادله عقليه ذكر كوى-تقريباً شپږ دلائل ذكركوى او مثالونه دوضاحت دپاره ذكركوى-دپنځو حاصل چه نعمتونه ټول دالله تعالىٰ دطرفنه دى - خيرونه او بركتونه وركونكې الله تعالىٰ دې نو څنګه بل پسې روان يئ او بل رامدد كوئ - چه دې نعمتونو ته ګورى او بيا هم بل څوک حصه دار كوى دالله تعالىٰ سره-
وَاللَّهُ أَنْزَلَ ---- چه دباران نعمت الله تعالىٰ دركوى او داوبو-
(٦٦) وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَة ---- دابل قسم او د شيخ ابواليمان په طرز اووايه چه :
غواميښې ګډې او بيزې ته او ګوره

خوړلى دى واخه نو څكلى دى اوبه

او يوطرفته وينې او بل طرفته غوشايه

روان ترينه شوده په شړ رابهيږى

اوته ئې څښې نو دادرله چاكړى دى

(٦٧) وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ ---- او دالا څه ميوو ته اوګوره ، انګوران او كجهورې څومره پستې چه بوډاسړې هم خوړې شى-
(٦٨) وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ ---- اودالا څه مچئ ته اوګوره:

څكلى دى اوبه اوخوړلى دى ګلان

لكئ كښې دى زهر په خله كښې ګبينان

په لا ره دى روان دادرله چاكړى دى-

(٧٠) وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفَّاكُمْ ---- دالا څه ځان ته اوګوره:

ځوانئ نه شوې بوډا روان ئې په همسا
نو داانقلاب درکښې راوستې دې بيا چا
بابا سره همسا وی او ورته وائی-
به انگشت عصابر دم اشارت میکند پیرے که امروز است یافردا جاانیجااست یااینجا
همسا درته اشاره کوی بابا دقبر دِ يا داځائې دې يا داياداځائې دې يادا-" دامِ صرف دمحبت دوجې نه دخپل استاذ هغه الفاظ اوليکل هغه انداز دکوم ځائې نه راوړو دپنج پير درس ته چکر اولګوه - ځکه خو وائی-
گر مصور صورت آں جان جاناں مے کشد در حیرتم که نازش چه شان مے کشد
"يعنی که مصور دجانان تصوير جوړ کړی نو دهغه ناز اداء به دکوم ځائې نه راوړی-"
(٧١) وَاللَّهُ فَضَّلَ ---- دوضاحت دپاره مثال - چه توحيد واضح شی او بطلان دمعبودان باطلو راشی- نو چه تاسو غلامانو له اختيارات نه ورکوئ نو الله تعالیٰ څنګه مخلوق له اختيارات ورکړی-
أَفَبِنِعْمَةِ اللَّهِ ---- زجر- سره ده دومره نعمتونو داسې انکار لويه بې انصافی-
(٧٢) وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ ---- دابل دليل او نعمتونه دې ته لږ سوچ اوکړه-
أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ ---- زجر چه انعامات ټول الله تعالیٰ کړی دی او سره ددې نه دغير عبادت او هغه هم عاجزان - تر (٧٣) پورې-
(٧٤) فَلَا تَضْرِبُوا لِلَّهِ الْأَمْثَالَ ---- زجر چه داځمونږ سفارشيان دی او ډی سی سره چه ملاويږی نو چپړاسی سره به ملاويږې نو دمخلوق غوندې مثالونه مه وايئ-
إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ ---- الله ته ستا حاجات معلوم او ستاسو دهر يو په ژبه پوهيږی او بل کښې دا صفت نشته دې نو څنګه تاسو شريکان کوئ او سفارشيان کوئ-
(٧٥) ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا ---- صحيح مثال - دغه مثال مه بيانوی دا مثالونه اووايئ چه کوم الله تعالیٰ بيانوی اول مثال دالله تعالیٰ او دمعبود باطل چه معبودباطل قادر ندې

عاجزدي او الله تعالیٰ قادر هم دي او ورکونکي هم دي نو دواړه برابر کيدلي شي-او مالک او مملوک برابر کيدي شي- چرې هم نه نو دومره نصيحت نه اخلئ-

(٧٦) وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا ---- دويم مثال داهم يا دالله تعالیٰ او دمعبودباطل او يا دموحد او مشرک مثال-

(٧٧) وَلِلَّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ---- اثبات دعلم غيب الله تعالیٰ لره دي چه هر څه کونکي الله تعالیٰ نو په هر څه پوهه هم هغه دي نو بل به څوک الٰه شي بل څوک معبود کيدي نشي-

وَمَا أَمْرُ السَّاعَةِ ---- تخويف اخروی اومنئ ګنی قيامت به راځی-

(٧٨) وَاللَّهُ أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ ----- ددې ځائې نه شپږم باب دسورة تر " لعلكم تسلمون " (٨١) پورې دلته بل قسم دلائل ذکرکوی چه څه ته محتاج وئ نو هغه ټول الله تعالیٰ درکړی اسباب دعلم په (٧٨) کښې چه داالله تعالیٰ درکړی دی اوکورونه سفر او اقامت په (٨٠) کښې او دغه شان دپټيدو اسباب په (٨١) کښې او (٧٩) کښې متصرف الله تعالیٰ دې نو داهر څه درله الله تعالیٰ کړې نو څنګه تاسو غير معبود ګڼرې- نو چه څه ته محتاج وئ نو هغه درله الله تعالیٰ درکړی دی نو معلومه شوه چه بل څوک الٰه او معبود نشته دې- راشئ او اتباع اوکړئ-

(٨٢) فَإِنْ تَوَلَّوْا ---- ددې ځائې نه تر وَهُمْ ظَالِمُونَ (١١٣) پورې اووم باب دسورة او پديکښې اوس تخويفات ترغيبات او تثبت او زواجر وغيره امور ذکرکيږی-

فَإِنْ تَوَلَّوْا ---- تسلی داعی ته چه ددومره بيانونو او دلائلو نه روستو هم بيا نه منی نو په دوی تف او لعنت دې- ستا ذمه واری صرف بيان دې په دوی مهر لګيدلي دې ځکه چه دادلائل ټول دوی پيژنی او خالق مالک الله ته وائی او بيا هم دتوحيد نه انکار کوی-نو دقيامت حال ئې ګوره-

(٨٤) وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ ---- تخويف اخروی او احوال دمشرکينو په قيامت کښې چه نه منئ نو دابه ئې انجام شی چه عذاب به ترې کم نشی او شريکان به ئې پکار

رانشی او عذاب به ورله دبل شی او دانه چه ګواه به پرې نه وی - ددوی دنفسونو نه به ګواه موجود شی او نبی علیہ السلام به په مکې والو چه تر څه وخته پورې وو نو په هغه عمل به ګواه شی تر (۸۹) آیت تر نیمې پورې-

(۸۹) وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ ---- الدليل الوحی او عظمة دقرآن- چه دامسئله دتوحید خو څه دځان نه نه وایم چه دوی انکار کوی ددوی دانکار ګنجائش نشته دې پدې خو داسې زبردست کتاب راغلې دې نو اومنئ چه دعذاب نه بچ شئ- او رحمت درباندې اوشی-

(۹۰) إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ ---- " بيان الامور المصلحه الدافعة للعذاب "-چه کله دعذاب تذکره اوشوه ددنیا هم او دآخرت هم نو اوس امور مصلحه ذکرکوی چه په هغې سره دفع دعذاب راځی نو دلته هم چه ظلم مه کوئ شرک مه کوئ احسان اوکړئ چه دعذاب نه بچ شئ-

(۹۱) وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللَّهِ ---- ترغيب الى ايفاء العهد- چه وعده پوره کړئ دایمان یعنی - چه ایمان مو راوړو نو دامو عهد اوکړو نو اوس داعهد دپیغمبر او دالله تعالیٰ پوره کړئ او داماتوی مه- یعنی په ایمان کلک شئ چه دعذاب نه بچ شئ-

(۹۱) وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي ---- مثال داعمال دمشرکینو- یعنی چه وعده نه پوره کوی او شرک کوی نو دهغه داعمالو مثال ته اوګوره - نو دهغې پشان خپله وعده مه ماتوئ او اعمال مه تس نس کوئ-

تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ ---- زجر په نقض عهد - چه تاسو وعدې دمال دوجې ماتوئ چه کافرو سره مال زیات دې او هغه حاصل کړئ- نو داخو امتحان دې-

وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ ---- تخويف - چه دقیامت په ورځ به درته پته اولګی-

(۹۳) وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ ---- جواب دسوال - چه دې وعدې ماتونکو له سزا ولې نه ورکوی-نوجواب چه په زوره الله څوک نه مسلمانوی بیا حکمت دابتلاء فوت کیږی دادنیا الله تعالیٰ دارالامتحان پیدا کړې ده-

(۹٤) وَلَا تَتَّخِذُوا أَيْمَانَكُمْ ---- زجر منافقينو ته په نقض عهد- دوباره دا زجر ذكركوى دپاره دزيادت دنقض عهد انجام هغه ډيرناكاره دې او دهغې سزاګاني خائې-

فَتَزِلَّ قَدَمٌ ---- يوه سزا-چه يوه ورځ به خكاره كفر ته لاړشې-يا به ستا دوجې نه نور قومونه هم اوخويږى چه تاته ګورى هغوى به هم چل زده كړى-

وَتَذُوقُوا السُّوءَ ---- دويمه سزا- چه ته ځان په دې چل دتكليف نه بچ كړې نو دابه درته اورسيږى-

وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ- تخويف اخروى- او دريمه سزا چه دادې دآخرت سزا شوه-

(۹۵) وَلَا تَشْتَرُوا بِعَهْدِ اللَّهِ ---- زجر او تشنيع چه دنيا اخلې او عهد ماتوى قرآن پريږدى- چه ددنيا دوجې نه تاسو دالله لوظ مه ماتوى-

إِنَّمَا عِنْدَ اللَّهِ ---- ترغيب الى الاخرة-ددنيا نه آخرت بهترين دې نو هغې ته توجه اوكړئ-

(۹٦) مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ ----- تزهيد من الدنيا - داخو د څه ورځو دنيا ده نو تاسو ديته توجه كوئ او دالله سره دائم نعمتونه پريږدئ-

وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِينَ صَبَرُوا ---- بشارت او ترغيب اعمال حسنو ته - چه نقض عهدپه ځائې او ددنيا دمحبت په ځائې نيک اعمالو ته توجه اوكړئ چه الله زبردست اجراو بدلې دركړى هم په دنيا هم په آخرت كښې داتر يعملون (۹۷) پورې ذكركوى-

(۹۸) فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ ---- ترغيب الى القرآن- دنقض عهد نه دبچ كيدلو او دنيک اعمالو باندې دكلكيدلو نسخه هغه قرآن وو چه نزّلنا عليک تبياناً- نو ته چه قرآن وائى نو دشيطان دشر نه پناه غواړه هغه وسوسې اچوى اګرچه په تا دهغه تسلط نشى راتلې دهغه تسلط هغه په مشركانو راځى نو ته په اصولو كاركوه چه دقرآن بيان دې او داددشيطان ملګرى چه په چا دشيطان تسلط راځى دوى كه څه اعتراضونه كوى نو هغې ته توجه مه كوه دا به لګيا وى لكه-

(۱۰۱) وَإِذَا بَدَّلْنَا آيَةً ---- زجر په انكار دقرآن او پيغمبر باندې - چه دوى به اعتراضات كوى چه تا د دې خپل مشن قرآنى نه واړوى خو پدې پرواه مه كوه-

(۱۰۲) قُلْ نَزَّلَهُ رُوحُ الْقُدُسِ ---- داورته جواب اودقرآن مقام- چه داقرآن تثبت له راغلې دې نو پدې مسلمانان کلکیږی-
(۱۰۳) وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ ---- داهم زجر او جواب دشبهې او اعتراض چه داسې اعتراض به کوی چه داته دبل نه زده کوې نودهغې جواب کوی-
(۱۰٤) إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ---- تخویف چه دا معترضین او نه منونکی دآیات الله په دوی به مهر راشی او عذاب به ورلره دی (۱۰۵) زجر چه افتراء په پیغمبر کوی دوی مفتریان دی او دروغجن -
(۱۰٦) مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ ---- تخویف او امر په تثبت عند الابتلاء - خبردار کافر کوشش کوی په مال او دولت سره او په شبهاتو کولو سره چه تاسو دقرآن او ایمان نه واړوی-او تاسو دا عهد مات کړئ نو خبردار دخپلو اصولو قرآنیو نه مه اوړئ- اوکه هر څومره زور کوی خو چه دِ وانه ړوی مضبوط شئ او چه چا کفر اوکړو او واوړیدلو نو دهغه انجام اوګورئ- دخلې خبره ځان له ده دهغې صرف جواز قدرې دې- هغه هم په خاص حالت کښې چه اکراه ده-
(۱۰۷) ذَلِكَ بِأَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ---- وجه دارتداد - دارتداد وجه چه دوی ایمان پریږدی او وعده ماتوی نو دنیا ورته خائسته خکاریږی-نو ځکه داسې کوی نو نتیجه به ئې داشی -
(۱۰۸) أُولَئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ ---- تخویف چه مهر به پرې راشی او هدایت به ورته نصیب نشی-او آخرت به ئې تباه شی-
(۱۱۰) ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا ---- بشارت څوک چه امتحان کښې کلک شو او هجرت او جهاد ئې اوکړونو هغوی ته خوشحالی- الله تعالیٰ دِ مونږ ته تثبت نصیب کړی په ایمان او په توحید اوپه سنت باندې آمین-دابشارت تر ولایظلمون (۱۱۱) پورې دې او تخویف سره هم لګی-

(١١٢) وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا ---- تخويف دنيوى-دسر دسورة سره اولګوه چه اتیٰ امرالله -- دادې راغې عذاب چه دداسې واضحې مسئلې انکار کوی او عهدونه ماتوی نو عذاب راغې دهغې مثال ورته بیان کړئ او وجه دعذاب تر ظلمون (١١٣) پورې دمکې والو دعذاب تذکره ده- ځکه چه دوی دپیغمبر او دتوحید نه انکار کولو-

(١١٤) فَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ ---- ددې ځائې نه دسورة اتم باب او پدیکښې رد دشرک فعلی او اتباع دابراهیم علیه السلام ته ترغیب او اصول ددعوت او بشارت عظمیٰ موحدینو ته ذکرکوی- چه عقیده دِ دشرک نه پاکه شوه نو اوس عمل هم دشرک نه پاکه کړه-

فَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ ---- رد دشرک فعلی یعنی تحریمات العباد باندې رد کوی - چه اومو لیدل چه الله تعالیٰ دهر څه متصرف او کارساز دې او چاچه ددې مسئلې نه انکار کړې وو نو عذاب پرې راغلې وو نو تاسو دغه اومنئ او تحریمات دځان نه مه کوئ ځکه داکار دالله تعالیٰ دې او مکې والا ځکه تباه شو چه هغوی به دځان نه تحریمات کول نو تاسو دځان نه تحریمات مه کوئ-

(١١٥) إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتة ---- تحریمات الله او رد په نذورالعباد- چه الله تعالیٰ دا حرام کړی دی نو دیته حرام اووایئ - نونذورالعباد الله تعالیٰ حرام کړی دی نو دهغې استعمال مه کوئ او هغه حرام دی او پلیت دی-

(١١٦) وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ ---- زجر مشرکینو ته په تحلیل او تحریم باندې دمخکښې دواړو سره تعلق لری- چه داکار ستاسو غلط دې چه په خپله خوخه څه حراموی او څه حلالوی-لکه نذورالعباد حلالوی نو دا په الله تعالیٰ افتراء ده دالله تعالیٰ حلالو ته حرام وئیل داافتراء ده او دالله تعالیٰ حرامو ته حلال وئیل دا هم په الله تعالیٰ افتراء ده-

إِنَّ الَّذِينَ ددې نه ترعَذَابٌ أَلِيمٌ (١١٧) پورې تخویف داسې کارکونکو-

(١١٨) وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا ---- په یهودو چه کوم ځنې تحریمات شوی وو نو هغه دسزا په طور وو هغه تشریع او شریعت نه وو-

(۱۱۹) ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ ---- بشارت او ترغيب توبې ته-اوس راشئ ددې بد عمل نه توبه اوباسئ الله به مو معاف کړی-

(۱۲۰) إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّة ---- خاتمه دسورة کښې ترغيب اتباع دملت ابراهيمی ته او اصول دبيان او ترغيب بيان ته-

إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّة ---- ددې نه تر وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (۱۲۳) پورې-ترغيب اتباع دملت ابراهيمی ته او دابراهيم مقام يعنی کار اوکړه رد داشراکواوکړه او په ديکښې دملت ابراهيمی پابند شه-

*گر ہوائے ایں سفر داری دلا دامن رہبر بہ گیرو پس بیا*

يعنی اې زړه که پدې لار باندې دسفر کولو خواهش او ارمان لرې نو لمن درهبر اونيوه او هغه پسې روان شه-

(۱۲٤) إِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ ---- جواب دشبهې دمشرکينو- چه که ته په ملت ابراهيمی ئې نو دجمعې دورځې تعظيم ولې کوې پکار ده چه دخالی دورځې تعظيم دې کړې وې ؟ نو دهغې جواب چه ابراهيم عليہ السلام دخالی دورځې تعظيم ندې کړې داخو روستو دقوم موسیٰ عليہ السلام او بيا داختلاف والو خبره ده-

(۱۲۵) ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ ---- ترغيب الی التبليغ او طريقه دبيان خائی - چه هر کله ټول بيان تام شو نو اوس دعوت په اصولو ددعوت اوکړه- بِالْحِكْمَة : اول دليل پيش کړه-وَالْمَوْعِظَة : دويم مخاطب عوام وی نو ترغيب ترهيب سره کار اوکړه-وَجَادِلْهُمْ : دريم چه مخاطب منکر وی او ورسره دليل او شبهه وی نو دهغې جواب اوکړه په اصولو-

(۱۲٦) وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا ---- څلورم ادب - چه دا کارکنانو ته خطاب څوک ددعوت په کار کنځل او بدې ردې کوی نو درګزر اوکړی نو دبدل حق شته خو صبر خه دې نو داکارکنانو او کشرانو ته حکم دې چه دوی دِ داسې کوی کله کله دِ ګذار اوباسی-

(۱۲۷) وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ ---- دامير او داعی مشر ته حکم چه تاسره صبر زيبا دې-که کشران ګذار اوباسی نوخير دې-خو ته صبر کوه-

وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ ---- تسلي چه انکار کوی او ستا خلاف مکرونه کوی نو فکر مه کوه-

*آگ انکی انکو کردے گی بون* لاتک فی ضیق مما یمکرون

*کسے کہ تف زند ریشش بسوزد*

چه ځوک اورله پوکي ورکوی نوخپله ګیره سیزی-

ان الله مع ---- البشارة العظمیٰ للموحدین-دموحدینو اعانت او هغوی ته زیرې لوئي چه ستاسو امداد له الله تعالیٰ پوره دې خو تقویٰ او احسان باندې کلک شئ نو چه الله تعالیٰ دِ ملګرې نو نور څه کوې-

*نور حق شمع الٰهی کو بجھاسکتا ہے کون* *جسکا حامی ہو خداا اسکو مٹاسکتا ہے کون*

چه الله درسره مل نه وی عبدالرحمانه که لښکرې درسره وی یک تنها ئې

**حاصل دسورة**

عذاب دالله تعالیٰ دادې راغې نو دا ځکه چه په تاسو کښې شرک اعتقادی او شرک فعلی دې نو راشئ دپیغمبر علیه السلام دادعوت دتوحید اومنئ او شرک فعلی او اعتقادی پرېږدئ او دا بالکل صاف مسئله ده چه دهر قسم تعظیم لائق الله تعالیٰ دې او درامدد شې لائق هغه دې -ځکه خالق هغه الله تعالیٰ دې او ټول څیزونه هغه ته محتاج دی او دټولو نعمتونو هغه مالک او تاسو چه څه ته محتاج وئ نو هغه ټول الله تعالیٰ درکړی دی نو سره ددې دتسلیم نه انکار عذاب له دعوت ورکول دی نو په دنیا به هم تباه شئ او په آخرت هم - نو وعده دالله پوره کړئ دنیا مه غوره کوئ دقرآن په اصولو روانشئ او رد د شرکونو اوکړئ لکه چه ابراهیم علیه السلام کړې وو چه تاسو په اصولو د دعوت د دعوت کار اوکړی نو الله تعالیٰ به ستاسو مدد کوی او دهغه معیت خاصه به تاسو سره وی-

**امتيازات**

**(١) الادلة المتنوعة - يعنى قسماقسم ادله ذكركول په توحيد باندې-**

**(٢) بيان الامثلة العجيبة - دتوحيد دپاره ناشنا مثالونه ذكركول-**

**(٣) واوحىٰ ربک الى النحل - دګبين دمچئ تذکره-**

**(٤) من بين فرث ودمٍ لبنا خالصاً- دشودو دصفايئ تذکره-**

**(٥) ان الله يامر بالعدل والاحسان- الايات الجامعة-**

**(٦) ولاتقولوا لما تصف السنتكم - دحل او حرمت اختيار دالله تعالىٰ دي-**

**(٧) ولاتكونوا كالتى نقضت غزلها- مثال دعمل دمشرک-**

**(٨) ان تكون امة هي اربي من امة-**

**(٩) اذا قرات القرآن فاستعذ بالله-**

**(١٠) فلنحيينّه حيوة طيبة - بشارت موحدينو ته-**

**(١١) اصول الدعوة په آخر دسورة كښې-**

**تمت سورة النحل بعون الملک الاكمل الذى هو يعطى الجزل والفضل**

٢٤ ذوالقعده ١٤٣٣ هـ يوم الاربعاء ٣٧ : ١٠ صبح ١٠ اکتوبر ٢٠١٢ ء -

**ځه په جيل كښې ناست يم دا سورة مِ اوليکه دالله تعالىٰ نه مِ سوال دې چه ما په خير او عافيت رها کړی سره دټولو جيليانو- دسحر په وخت كښې ماته مدرسه او طالبان ياديږی او ځما زړه انتهائی پريشانه وی-الله تعالىٰ دِ ځما دزړه تسلی اوکړی او ځما دمور او ټول کور والو او طالبانو ملګرو استاذانو او الله تعالىٰ دټولو دعاګانې قبولې کړی او الله تعالىٰ دِ ما خپل بهار او ګلشن له بوځی-الله تعالىٰ ته هيڅ ګرانه نده-ځما ژړا او فرياد صرف الله تعالىٰ له دی او هغه ځما خائسته نګهبان او ساتونکې دې-الله تعالىٰ داليکل قبول کړې- اٰمين يارب العٰلمين-**

نزولا (۵۰) مصحفا (۱۷) سورة بنی اسرائیل مکیة رکوعات (۱۲) ایات (۱۱۱)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة بنی اسرائیل

سورة بنی اسرائیل مکی سورة دې په نزول کښې پنځوستم (۵۰) نمبر دې - پس دسورة القصص نه نازل شوې دې او په ترتیب دسورتونوکښې اوولسم (۱۷) سورة دې پس د سورة النحل نه-

## ربط دمخکښې سورة سره

دسورة بنی اسرائیل مناسبت دسورة النحل سره په ګڼرو وجوهو باندې دې-

**اوله وجه** : په سورة النحل کښې ذکر دعذاب وو او نزول دهغې نو دې سورة په سر کښې هغه دعوی ذکر کوی چه منکر دهغې مستحق دعذاب وی چه سبحٰن الذی ---

**دویمه وجه** : په سورة النحل کښې اول ذکر دعذاب وو-او بیا دعوی اصلی دتوحید ذکر وه-نو په سورة بنی اسرائیل کښې اول ذکر ددعوی اصلی دې او بیا دعذاب دپاره اسبابِ اربعه چه دڅلورو وجو نه عذاب راځی-

**دریمه وجه** : هر کله چه په سورة النحل کښې ذکر دعذاب اوشو په مجرمانو نو دلته اسباب دعذاب خائی چه هغه کومې وجې دی او جرمونه کوم دی چه په هغې عذاب راځی نو څلوراسباب خائی-

**څلورمه وجه**: په سورة النحل کښې ذکر دنزول دعذاب وو په مجرمانو نو دلته امثال او نمونې خائی چه لکه قوم نوح ، بنی اسرائیل ،ثمودیان،مکې والا،قوم فرعون چه په دوی عذابونه راغلی وو-

**پنځمه وجه**: مخکښې یره دعذاب دنیوی وه نو دلته ورسره اخروی هم ډیر ذکر کوی-

شپږمه وجه : آخر دسورة النحل کښې اووې لا تكن فى ضيق --- خفه کیږه مه او چه بنده خفه شی نو سیل له ځی نو راځه چه سیل درباندې اوکړم چه دملګرو ملاقات دِ اوشی او تسلی دِ اوشی-

## دعوی دسورة

دسورة مرکزی مسئله هغه ده " بيان الاموارالاربعة التى يستحق فاعلها العذاب " يعنى هغه څلور اسباب او اصول بيانوی چه دهغې مرتکب او کونکې مستحق دعذاب ګرځی- (۱) الشرک المستمّرة: يعنى هميشه خلاف او شرک کول او توبه نه ويستل دعذاب سبب دې-انکار دتوحيدنه دا سبب دعذاب دې-شرک او فساد دمعاشرې دااول سبب د عذاب دې-(۲)الانکار من آيات الله تعالیٰ دا په ۵۹ کښې - (۳) اخراج الرسل - حق پرست دکلو نه شړل ۷۶ کښې- (٤) الاستهزاء بالرسل - په حق پرستو پورې خاندل او ټوقې کول-۱۰۳- دا اسباب د عذاب دا سورت ذکر کوی-

## خلاصه دسورة

سورة داخپل مضمون چه اسباب اربعه دعذاب دی دا په عجيب انداز بيانوی- دابتداء نه تر " فى الكتاب مسطورا" (۵۸) پورې د اول سبب بيان دې چه شرک دائماً او توحيد نه انکار دا سبب دعذاب دې تر اصل ثانى پورې څو امور ذکرکوی-اول مسئله دتوحيد او دليل وحی (۱) بيا دليل نقلی(۲)کښې او بيا نمونه دتخويف دنيوی ذکرکوی د (٤) نه (۷) پورې چه بنی اسرائيلو فساد کول او واپس کيدل ترې نه توبه نه يستله نو هلاک شو-بيا مقام دقرآن او تخويف اخروی او بشارت د (۱۲) نه دلائل عقليه او تخويف اخروی بيا دنيوی (۱۷)کښې نمونه چه قوم نوح هميشه شرک کړې وو نو تباه شو -بيا ترغيب الى الاخرة او دعذاب نه دبچ کيدلو اسباب د (۲۲) نه تر (٤۱) پورې بيا دقرآن مقام او رد په شرک او زجرونه تر (۵۲) پورې - بيا ترغيب (۵۳)کښې او رد په مشرکينو په (۵۶،۵۷) کښې او تخويف دنيوی-

د (٥٩) " ومامنعنا " نه دویم سبب دعذاب چه " الانکار من ایات الله تعالیٰ سبب لنزول العذاب " دالله تعالیٰ دمعجزاتو نه انکار اود آیتونو نه داسبب دعذاب دې -دهغې نمونه ثمودیان (٥٩)کښې بیا زجر په طغیان (٦٠)کښې او دهغې سبب (٦١)کښې تر (٦٥) د (٦٦) نه دلائل عقلیه چه په غلبه دالله تعالیٰ دلالت کوی تر (٧٠) پورې-چه دومره نعم الله تعالیٰ کړی دی او بیا هم انکارکوی-بیا تخویف اخروی چه دقرآن نه اوړی هغوی ته په (٧١،٧٢)کښې او بیا تحذیر دمداهنة او سستئ نه چه د سستئ نه ځان بچ کړه-(٧٣) کښې-

د(٧٦) " وان کادو لیستفزونک " نه دریم سبب چه اخراج الرسل سبب لنزول العذاب - چه انبیاء کرام او حق پرست دکلو او ملک نه شړل سبب دنزول دعذاب دې دهغې نمونه مکې والا (٧٦،٧٧)کښې بیا ترغیب الی القرآن د (٧٨) نه تر (٨٩) - سره دزجر نه بیا تخویف د (٩٠) نه (٩٩) پورې او دلیل عقلی-

د (١٠١) " ولقد اتینا " نه څلورم سبب دعذاب چه الاستهزاء بالرسل سبب لنزول العذاب په انبیاء کرامو او په حق پرستو پورې استهزاء کول دا سبب دنزول دعذاب دې دهغې مثال قوم فرعون - د(١٠٥) نه ترغیب الی القرآن او ترغیب الی التوحید او دعاء ته-(١١٠) او په آخر آیت کښې توحید او رد په مشرکینو او اهل کتابو او مجوسو ټولو باندې-

**واذا تدبرت**: شیخ القرآن رحمه الله دزیات تدبر او فکر دپاره په قرآن کښې وائی سوچ اوکړه نو دهر دوو سببونو تر مینځه به تخویف دنیوی او اخروی او قرآن ته ترغیب او زجر معرضینو ته چه اعراض دقرآن او پیغمبر نه کوی دا به خواه مخواه وی او ترغیب الی التبلیغ دا هر ځائې شته دې-او اول سبب کښې ذکر دامور مصلحه او رد په مشرکینو شته دې او دلائل نودادغه شان د څلورم نه روستو دعوی دتوحید شته او دویم دریم نه روستو دلائل دی-

او ددريم سبب نه روستو نعمتونه دالله تعالیٰ ذکر دی او دځلورم نه روستو هلاکت دامم مکذبو ذکر دې-دا په اصل اول کښې هم وو- نو سوچ اوکړه وائی سورة په خکلی انداز دا اصول او اسباب بیان کړی دی دزړه اطمینان پرې راځی-

## مقاصدالایات وتناسبها

(١) سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ ---- دعوی دتوحید او په هغې دلیل وحی - چه الله تعالیٰ په ذات او صفت کښې واحداوګڼړئ او دشریک اوحصه دار نه ئې پاک اوګڼړئ-چه داسې نه کوئ بیا به عذاب راځی په نحل کښې ددلیل نه انکار نو عذاب ډیر غټ نه وو دقحط وو او اوس دا معجزه ده که دمعجزې نه انکار اوکړو او دشرک نه مو توبه اونه ویستله نو غټ عذاب به راځی دبدر کبریٰ کښې دقتل-او دلیل وحی هم شو ځکه " سبّحوا" امر دالله دطرفنه دې-اودمعراج دبیت المقدس پورې تذکره - او دبیت المقدس نه تر الی ماشاء الله تذکره دا په نجم کښې ده-او د صحیح احادیثو نه ثابت دې-

إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ---- دلیل عقلی - چه دهر څه اوریدونکې هغه الله تعالیٰ او پوهه پرې الله نو هغه په خپلو صفاتو کښې یو اوګڼړئ-

(٢) وَآتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ ---- دلیل نقلی- چه پدې کښې څه یواځی هم نه یم بلکه دموسیٰ علیه السلام دکتاب هم دامسئله وه بلکه دټول آسمانی کتابونو - دلیل وحی اوشو عقلی اوشو نقلی اوشو او معجزه پیش شوه نو دانکار څه جوازپاتې نشو چه اوس هم دشرک نه توبه نه اوباسی او په شرک دائم او کلک دی نو عذاب به راځی-

(٣) ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا ---- ترغیب منلو ته - چه تاسو دنوح علیه السلام اولاد یئ چه شکر ګذار وو نو تاسو هم قدر اوکړئ او توحید اومنئ چه دعذاب نه بچ شئ لکه چه دهغه اتباع بچ شوی-

(٤) وَقَضَيْنَا إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ ---- نمونه دتخویف دنیوی - چه بنی اسرائیلو ته په کتاب کښې وحی شوی وه د دوه ځلې دفساد نو دهغې نه انکار اوکړو نوعذاب پرې راغې نو

دغه شان اې مکې والو تاسو ته اول دقحط عذاب راغې بیا دعذاب دبدر کبریٰ نو که اوس هم اونه منله نو عذاب دجهنم به شی لکه چه هغوی له وو - دا تر " حَصِيرًا" (٨) آیت پورې- نو خه داده چه دشرک نه توبه اوباسئ-

(٩) إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ ---- ترغیب الی القرآن- راشئ دقرآن کریم اتباع اوکړئ او دې دتوحید لاره خائی چه په دلیل مضبوطه لار ده-

وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ ---- بشارت چه کومو خلقو دادعوی اومنله دتوحید نو هغوی ته زیرې-

(١٠) وَأَنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ ---- تخویف اخروی چه چا ددې دعوې نه انکار اوکړو-او همیشه شرک کوی نو دهغوی انجام دآخرت دې-

(١١) وَيَدْعُ الْإِنْسَانُ بِالشَّرِّ ---- زجر اوتخویف چه دا احمق او مشرک انسان سره ددومره عجیب بیان نه بیاهم دشرک مستمره کولو سره دعوت عذاب له ورکوی او کله په خله هم اووائی چه " اَمطِر عَلَينَا" نو عذاب به راشی دهر خیز وخت مقرر دې-

(١٢) وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ---- دلیل عقلی- چه الله تعالیٰ ستاسو دپاره داسې نظام پیدا کړې نو بیا هم دهغه سره شرک کول دا حماقت دې-

(١٣) وَكُلَّ إِنْسَانٍ أَلْزَمْنَاهُ --- ددې نه تر وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى (١٥) پورې تخویف اخروی - هرکس ته به خپل عمل اوخودلې شی او دبل نه بوج نشی اوچتولې-

وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ --- ددې نه ترخَبِيرًا بَصِيرًا (١٧) پورې تخویف دنیوی- دنیا کښې عذآب پس دپیغمبر دراتلو نه ورکوی چه هغه توحید بیان کړی او دوی تکذیب اوکړی او په شرک دائم پاتې شی نو عذاب راشی لکه په قوم نوح علیه السلام چه راغلې وو چه هغوی شرک مستمرّه کولو او توبه ئې نه ایستله-

(١٨) مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ ---- جواب دشبهې - که مونږ په شرک مستمرّ کښې په غلطه یو اود عذاب مستحق یو نو بیا مونږ له الله تعالیٰ رزق ولې راکوی؟ نودهغې جواب کوی- چه څوک اراده ددنیا کوی او دائې خوخه وی نو په آخرت کښې به عذاب شی او چه څوک دآخرت سعی کوی نو هغې له به په آخرت کښې بدله ملاؤ شی او هر

چه دنیا ده دا خو چه چاله څومره مقدر وی نو دومره ورکوی نو دآخرت کوشش پکار دي ترغیب الی الآخرة پکښې هم شو په شروط (۱۹) کښې دا ټول بیان تر " محظوراً " (۲۰) پورې دي-

(۲۱) انْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ ---- ترغیب الی الاخرة په آخرت کښې لوئې لوئې درجات دی نو دهغې دحصول دپاره کوشش اوکړئ-

(۲۲) لَا تَجْعَلْ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ ---- زجر په شرک او تخویف چه شرک سبب دعذاب دې نو ځان ترې اوساته - او ددې ځائې نه تر (۴۰) آیت پورې امور مصلحه ذکرکوی چه الدافعة للعذاب دی-چه دعذاب تذکره شروع ده-نو دعذاب نه دبچ کیدلو اصول ذکرکوی-- لنډ حاصل : چه ظلم مه کوئ شرک مه کوئ او احسان کوئ-او دظلم شپږ اقسام هغه دلته بندوی چه هغه په سورة المومنون کښې لیکلې شوی دی-هغه ځائې شیخ القرآن رحمه الله تعالیٰ اشاره کړې وه نو مونږهلته تفصیل لیکلې دې- دلته اجمالاً - شیخ القرآن مولانا محمد طیب طاهریؒ صاحب ځما محبوب استاذ هغه ذکرکوی چه دلته ۲۵ اوامراو نواهی ذکرکوی-تقریباً ۱۴ نواهی دی او نهه اوامر دی- نو ۲۵ خبرې شوې نو هغه وائی دا ۲۵ پنځویشت مسئلے زده کړه او عمل پرې اوکړه چه ددین مشر شې او نیکه شې ځکه پنځویشتو کالو کښې سړې نیکه کیږی-چه دولس کاله کښې هلک بالغ کیږی نو چه واده ورله اوکړې نو شپږمیاشتې اقله مده دحمل ده نو بیا چه حمل اوشی نو دولس کاله کښې هغه بالغ نو شپږمیاشتې اقله مده دحمل ده نودبچی بچې به اوشی نوهغه اول نیکه شو او عمر ئې ۲۵ کاله دې-نو پدې امورو سره به دعذاب نه بچ شې-په اول او آخر کښې دشرک نهی ده چه دټولو نه ځان بچ کول غواړی خولوئې سبب دعذاب هغه شرک دې نو ددې نه ځان اوساتئ او دادټولو فسادونو جرړه ده-نور فسادونه ددې نه پیدا کیږی-

(۴۰) أَفَأَصْفَاكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِينَ ---- زجر په شرک چه دومره خکلې بیان دومره بې انصافه خبره کوئ-

(٤١) وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَذَا الْقُرْآنِ ---- ترغيب الى القرآن - چه دا شر او داسې خبرې ځکه کوی چه دقرآن غوندې کتاب نه مخ اړوی نو دِ له دِ راشی چه علاج ئې اوشی-

(٤٢) قُلْ لَوْ كَانَ مَعَهُ آلِهَةٌ ---- زجر په شرک باندې - چه دقرآن نه فائده نه اخلی اودقرآن سره ئې ګند سوا شی-نو غلطې خبرې شروع کړی نو دالله تعالیٰ سره دشریکانو او نورو متصرفانو څه جواز-

(٤٣) سُبْحَانَهُ ---- رد دشرک او بیان دتوحید ترحَلِيمًا غَفُورًا (٤٤) او دلیل نقلی په توحید د وحوشو او طیورو نه او ټول مخلوقاتو نه چه شرک پریږدی ځکه چه دتوحید مسئله کښې دانسان او جناتو نه علاوه بل څوک خلاف نه کوی ټول دا مسئله منی نو تاسو ولې ددې نه انکار کوئ-

اِنَّه كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا-ترغیب چه الله تعالیٰ درته صبر کړې دې ګنی دعذاب مستحق یئ راشئ توبه اوباسئ-

(٤٥) وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ ---- سبب دنه منلو دتوحید تر نُفُورًا (٤٦) پورې - چه دوی ځکه داسې خبرې کوی او اعتراضات کوی چه په دوی مهر لګیدلې دې نو دوی ستا دبیان دقرآن نه فائده نه اخلی - او دتوحید نه متنفّر دی زړونه ئې ګنده دی-

(٤٧) نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِ ---- زجر په انکار درسالت - ستا مجلس کښې څه مخصوص نیت باند کینی او غوږ کیږدی او کوی په تا اعتراضات او تاباندې قسماقسم تهمتونه لګوی - نودا ګمراه دی-

(٤٩) وَقَالُوا أَإِذَا كُنَّا عِظَامًا ---- زجر په انکار دآخرت باندې - تقریباً دمقاصدو اربعو په انکار باندې زجرونه ورکړې شو-ددې ټولو فسادونو جرړه داده چه دوی انکار کوی دتوحید او پیغمبر او قرآن نه نو ځکه چه دوی آخرت نه منی نو ددوی غلطه نظریه او دهغې جواب تفصیلی تر " إِلَّا قَلِيلًا" (٥٢) پورې سره داثبات دقیامت نه-

(٥٣) وَقُلْ لِعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي ---- ترغیب الی التبلیغ- دوی زجرونه او اعتراضات کوی نو کوی به تاسو خپل کار جاری ساتئ او دکنځلو جواب په کنځلو مه ورکوئ ځکه

شیطان هغه دفساد پیداکولو کوشش کوی چه مسئله پاتې شی نو دوی الله ته اوسپارئ الله پرې پوهه دې- " أَعْلَمُ بِكُمْ": دا"بِهِمْ" پکار وو ځکه مکې والا مراد دی خو دعام کولو دپاره صیغه دخطاب کړه-ته څه په دوی وکیل نه ئې چه اوبه منی ستا په بیان او تبلیغ کول دی هغه کوه- د (٥٤) " وَكِيلًا " پورې-

(٥٥) وَرَبُّكَ أَعْلَمُ ---- دلیل عقلی دتوحید- چه عالم په هر څه الله تعالیٰ دې نو څنګه تاسو بل حصه دار جوړوی یعنی بیان کنبې داسې دلائل پیش کوه- د داود علیه السلام کمال هغه په بادشاهت نه وو هغه په توحید باندې وو نو دټولو انبیاء دا توحید بیان وو درجات خو دالله تعالیٰ ورکړه ده-

(٥٦) قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ ---- زجر چه سره ددلائلو اوس نور رامدد کوی چه هر څه باندې پوهه الله تعالیٰ دې نو رامدد شه هم دهغه حق دې ستاسو الهه هغه دڅه مالکان ندی عاجزان دی-

(٥٧) أُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ ---- رد په مشرکینو - چه ستاسو الهه خو په خپله الله تعالیٰ رامدد کوی او دهغه نه یریږی او ځان ورته نزدې کوی-

(٥٨) وَإِنْ مِنْ قَرْيَةٍ ---- تخویف دنیوی- اوس هم نه منی دشرک نه توبه نه اوباسی نو معذب به شی هلاک به شی-

(٥٩) وَمَا مَنَعَنَا أَنْ نُرْسِلَ بِالْآيَاتِ ---- ددې ځائې نه دویم سبب دعذاب ذکر کوی چه انکار دآیات الله تعالیٰ نه سبب دنزول دعذاب دې- چه دمعجزاتو نه او دالله تعالیٰ دنخو او آیتونو نه انکار کوی-نو هغه هلاک شوی دی دهغې نمونه ثمودیان ذکرکوی-چه هغوی دمعجزاتو نه انکار کړې وو نو تباه شوی وو نو که تاسو انکار اوکړومعجزه د اسراء هم راغله او معجزه دقرآن هم ده نو که ددې نه مو انکار اوکړو نو تباه به شئ-

(٦٠) وَإِذْ قُلْنَا لَكَ ---- " الزجر لمن طغیٰ وخالف الرسول ﷺ " داهم داسې بې انصافه دی چه معجزه هسې مسخره حسابوی او دپیغمبر خلاف کوی او طغیان او سرکشی کوی نو بدر کښې به تباه شی-

(٦١) وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ ---- سبب دطغیان او سرکشئ هغه اتباع دشیطان ده نو ددې دپاره واقعه دشیطان ذکر کوی نو شیطان ستاسو دشمن دې تاسو طغیان او سرکشی ته رابلونکې هغه شیطان دې نو دهغه اتباع مه کوئ - او دا اسباب دعذاب پرېږدئ - دا تر "وَكَفَى بِرَبِّكَ وَكِيلًا (٦٥) پورې ذکر کوی-

(٦٦) رَبُّكُمُ الَّذِي يُزْجِي لَكُمُ الْفُلْكَ ---- دلیل عقلی چه الله تعالیٰ تاسو ته داسې نعمتونه درکړی دی-او ستا په نیولو قادر دې نو ولې تاسو دشیطان اتباع کوئ او دالله تعالیٰ اتباع نه کوئ-

(٦٧) وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ---- زجر چه دومره بې انصافه یئ چه تاسو هم په یوځائې کښې دتوحید قائل شئ او چه الله درله نجات درکړی نو تاسو بیا هغه الِهو پسې روان شئ-

(٦٨) أَفَأَمِنْتُمْ أَنْ يَخْسِفَ بِكُمْ ---- تر تَبِيعًا (٦٩) پورې زجر او تخویف چه په شرک ئې زوری او یروی چه ولې دالله نه به خلاص شئ-

(٧٠) وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ ---- داهم زجر چه ټول نعم چه دی نو هغه ځما دطرفنه دی او بیا هم انکار او سرکشی دالله تعالیٰ دآیتونو نه- څومره بې انصافی ده-

(٧١) يَوْمَ نَدْعُو كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ ---- تخویف اخروی هغه چاته چه هغه دآیتونو دالله دقرآن نه انکار کوی او دکتاب الله نه اوړی تر " وَأَضَلُّ سَبِيلًا" (٧٢) پورې-

(٧٣) وَإِنْ كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ ---- تحذير عن المداهنة - یره ورکوی دمداهنة او سستیا نه په بیان دقرآن کښې چه ددوی انکار او اعتراضونو دوجې نه ته چرته آیات الله او کتاب الله کښې او بیان کښې سستی اونکړې ددوی کوشش دغه دې چه تا واړوی - دا تر " نَصِيرًا " (٧٥) پورې ذکر کوی-

(٧٦) وَإِنْ كَادُوا لَيَسْتَفِزُّونَكَ مِنَ الْأَرْضِ ---- ددې ځائې نه دريم سبب دعذاب ذكر كوی- چه هغه دې " اخراج الرسل سبب لنزول العذاب "- پيغمبران او حق پرسته دكلو نه شړل دا سبب دعذاب دې- يعنی دوی په تا اعتراضونه كوی او تكليف رسوی غرض ئې دادې چه دوی ته كلې پرېږدې او تا اوباسی نو دوی به ستا نه روستو پدې كښې وخت تيرولې نشی دوی ته به هم په بدر كښې سزا ملاؤ شی-دا ځمونږ قانون دې تيرو قومونو كښې هم-

(٧٨) أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ ---- ذكر دامور مصلحو او ترغيب الی القرآن- چه مصائب به رسوی نو ته صبر كوه او دا كارونه كوه تاله به اوچت مقام دركړی -

(٨٠) وَقُلْ رَبِّ أَدْخِلْنِي ---- تسلی دوی ستا دويستلو فكر كوی نو ته غم مه كوه او داسې دعاء كوه-دَ وتو په وخت دا دعاء كوه-

*یوسف گم گشتہ بازآید بکنعاں غم مخور کلبہ احزان شود روزے گلستان غم مخور*

" چه يوسف عليه السلام كنعان نه روک شو نو واپس كنعان ته راغې نو غم مه كوه او دا د غم ماحول او سينه به يو ورځ دخوشحالو گلستان شی فكر مه كوه-" الله تعالیٰ دِ ځما غمونه هم ختم كړی او ځما دجيل نه دوتو بندوبست دِ اوكړی - ډير خفه يم نن خو دِ آيتونو او شعرليكلو سره مِ ډيره تسلی اوشوه - الله دِ ځما مور او كوروالو ټولو تسلی اوكړی او الله دِ په ټولو خوشحالی راولی -" آمين-

(٨١) وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ ---- ستا وتل دا به دباطل دختميدلو او دحق دترقئ سبب وی-

(٨٢) وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ ---- ترغيب الی القرآن سره دزجر نه - قرآن خوزبردست رحمت الله تعالیٰ راليږلې دې خو دې ظالمانو ته دانكار دوجې نه زحمت شوې دې-

(٨٣) وَإِذَا أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنْسَانِ ---- داهم زجر چه ددوی يوه پليتی نه ده - دانعام په وخت اعراض كوی نو ورته اووايه چه الله تعالیٰ ته هر څه معلوم دی-

(٨٥) وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ ---- جواب دسوال چه كافر وائی چه كه مونږله ددې سوال جواب راكړې نو ايمان راوړو - نو نبی عليه السلام هم حريص وو چه دوی ايمان راوړی

نو ددې جواب نه نبی علیہ السلام منع شو چه داسې لايعنى خبرو کښې ګوتې مه وهه-داسې خبرو سره چه هغې کښې هيڅ فائده نه وی دوحی برکات ختمیږی- په (٨٦) کښې - دا خو تاله الله تعالیٰ رحمت درکړې دې او لوئې فضل دربانديې شوې -
(٨٨) قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ ---- معجزه قرآنی او ترغيب الى القرآن - چه دايمان دپاره نورو نخو ته څه حاجت دې- او دسوالونو جوابونو ته- معجزه قرآنی کافی ده دوی دِ ددې مقابله اوکړی- چرې هم نشی کولې-

صد ہزاراں دفتر اشعار بود پیش حرفِ اُمیش آں عار بود۔

" په لکهونو دفترونه داشعارو وو او دفصاحت او بلاغت خو د نبی علیہ السلام دامی صفت مخې ته هغه شرمیدلی او عاجزه وو-"
(٨٩) وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ ---- زجر - سره دقرآن دداسې بيان نه د دوی انکار ته اوګوره قرآن هيڅ شک ندې پریخودلې سره ددې نه دوی دایمان دراوړو دپاره حيلې جوړوی او غرضيان دی ځان له څيزونه غواړی-تر (٩٣) پورې-
(٩٣) قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي ---- دټولو اعتراضونو او بهانو او حيلو جواب- چه داکارونه کول دخدائې کار دې - ځه خو انسان يم او پيغمبر يم څه خدائې نه يم-
(٩٤) وَمَا مَنَعَ النَّاسَ ---- زجر چه اوس به بيا اعتراض کوی چه مونږ دبشر رسالت نه منو نو دهغې جواب کوی- (٩٥،٩٦) کښې - چه ځما اوستا مينځ کښې الله ګواه کافی دې-
(٩٧) وَمَنْ يَهْدِ اللَّهُ ---- تخويف اخروی چه دنه منلو او اعتراضونو به دا انجام شی-
(٩٨) ذَلِكَ جَزَاؤُهُمْ ---- سبب دعذاب- او زجر په انکار دآخرت باندې-
(٩٩) أَوَلَمْ يَرَوْا ---- اثبات دقيامت چه ولې الله ته څه ګران دې-؟
(١٠٠) قُلْ لَوْ أَنْتُمْ تَمْلِكُونَ ---- دليل عقلی دتوحيد چه متصرف او کارساز الله تعالیٰ دې - که خزانې تاسو له درکړې وې نو تاسو به چاله څه نه وو ورکړی - " لَوْ أَنْتُمْ "- عام دې هر چاته جنات انسانان-ملائک ټولو ته وائی-چه هغه کارساز متصرف دې نو ولې قيامت راوستل ګران دی څه-

(١٠١) وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى ---- ددې څائې نه څلورم سبب دعذاب ذکرکوی-چه هغه دې " استهزاء بالرسل سبب لنزول العذاب "- انبياء كرام عليهم الصلوٰت والتسليمات پورې او حق پرستو پورې استهزاء کول سبب دعذاب دې-او ددې دپاره نمونه ذکرکوی دفرعونيانو - چه هغوی په موسیٰ علیہ السلام پورې استهزاء کړې وه نو څنګه تباه او برباد شو- تر آيت (١٠٤) پورې دا ذكر كوى-

(١٠٥) وَبِالْحَقِّ أَنْزَلْنَاهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ---- ترغيب الى القرآن - نو اسباب دعذاب پريږدئ او دا قرآن په مسئله دتوحيد نازل شوې دا اومنئ- راشئ دا زبردست كتاب دې دا هم حق او مسائل ئې هم حق-ته بشير او نذير ئې بيان سره دِ کار دې نو ته بيان كوه په دمه دمه واضحه کړه که دوی منی نو او دِ منی که نه منی نه دِ منی-

(١٠٧) إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ ---- دليل نقلی- شته څه مردِ ميدانان او نران چه هغه به اومنی-

ہر بیش گمان مہ بر کہ خالی باش فلنگ خفتہ ے باش

يعنی ځنګل دزمرو نه خالی نه وی-داتر (١٠٩) پورې دليل نقلی ذکر کوی-

(١١٠) قُلِ ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَنَ ---- ترغيب الى التوحيد والدعاء -او حاصل دسورة چه سورت دِ واوريدو نو اوس راشه او يو الله تعالیٰ رامدد کړه او طريقه د رامدد شې چه دالله تعالیٰ صفات الله تعالیٰ له وسیله کړه- او مه ډير تيز غواړه چه بې ادبی رانشی او مشرکين استهزاء اونکړی او مه ډير په مزه چه صحابه بې تعليمه پاتې شی-

(١١١) وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ ---- دمخکښې دپاره دليل او رد په ټولو فرقو مشرکانو اهل كتابو او مجوسو- چه الله تعالیٰ درامدد شې لائق ځکه دې چه ټول صفات دخدائتوب دهغه دی او دهغه څوک شريک او حصه دار نشته او اختيارات هم دهغه دی - شروع دسورت په تسبيح باندې چه الله تعالیٰ هر عيب نه پاک اوګڼړه او ختم دسورة په حمد چه هر کمال دخدائتوب الله تعالیٰ له اوګڼړه-

## حاصل دسورة

عذاب الٰهی نه ځان بچ کول غواړی - دعذاب مستحق هغه څوک وی چه همیشه شرک کوی لکه دنوح علیہ السلام قوم شو او چه معجزاتو او آیتونو نه انکار کوی لکه ثمودیان شو او چه حق پرست دکلو نه اوباسی لکه مکي والا شو او په حق پرستو پورې توقي کوی لکه فرعونیان شو نو داپریږدئ راشئ قرآن راواخلئ او یو الله تعالیٰ رامدد کړئ چه دعذاب نه بچ شئ-او ددنیا او آخرت کامیابی ستاسو شی-

## امتیازات

(۱) الاسباب الاربعة لنزول العذاب-

(۲) واقعة الاسراء-

(۳) تذکره دفساد دبنی اسرائیل-

(٤) اسباب دمدافعت دعذاب ۲۵ اوامر او نواهی -

(۵)وَقُلْ رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ

(٦)قُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ-

(۷) عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا-

(۸) يَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ-

(۹)قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ-

(۱۰) وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلًا-

تمت سورة بنی اسرائیل بعون الرب الجلیل والحمد لله الذی لم یتّخذ ولداً ولم یکن لہٗ شریک فی الملک ولم یکن له ولی من الذّل وکبّره تکبیراً الله اکبر کبیراً والحمد لله حمداً کثیراً وسبحان الله بکرة واصیلاً-

دې ځائې ته شکر دې راورسيدلو دې نه اخوا تر طور پورې ليکلې شوې دې -الحمدلله دادالله تعالیٰ په امداد دکهف نه ما شروع په ۱۴ شوال کړې وه او نن ۲۴ ذی القعده ده - دادجيل لويه تحفه ده او داد الله تعالیٰ لوئې رحمت دې- بهر که ما ټول عمر تير کړې وې کيدې شی دامِ نه وې ليکلې -دادجيل ظاهر برکت الله دِ نور برکتونه راکړی او الله تعالیٰ دِ صبر راکړی او ځما دمور تسلی او دټولو پسماندګانو- او په خير او عافيت دِ ورسره ځما ملاقات اوکړی او مادِ خدائې ددين خدمت له بهر کړی - آمين- ۳ رجب المرجب ۱۴۴۱ھ يوم الاربعاء

۲۴ ذوالقعده ۱۴۳۳ ھ ۱۰ اکتوبر ۲۰۱۲ ء يوم الاربعاء ۲۸ : ۰۳ بعد از ظهر-

## دریمه حصه دقرآن

(۱) **فائده** : ځمونږ دمشائخ ددرس دانداز مطابق قرآن کریم دفهم په اعتبار څلور حصې دي- اوله حصه دپیدائش چه پیدا کونکې الله تعالیٰ دي دهر څه دفاتحې نه دانعام پورې وه- دویمه حصه دپیدا کولو نه روستو تربیت کونکې هم الله تعالیٰ دي دا دانعام نه تر کهف پورې وه- دریمه حصه دتربیت نه روستو خیرونه او برکتونه غورځونکې په هر څه کښې الله تعالیٰ دې- دادکهف نه تر سبا پورې ده- څلورمه حصه دسبا نه تر آخره پورې ده پدیکښې دوه مسئلې دی- یوه چه مالک الله تعالیٰ نو څوک دهغه داجازت نه بغیر شفاعت نشی کولې یعنی نفی دشفاعت قهری نو دهغه عبادت اوکړئ- او دویمه اثبات دقیامت دا تر آخرتر قرآن کریم ده-نو ددې ځائې نه دریمه حصه شروع کیږی چه داحصه دبرکت ده چه برکتونه او خیرونه ورکونکې یو الله تعالیٰ دې- برکتونه دوه قسمه دی یو مادی یعنی بدنی چه اندامونه ټول سالم او چه کوم اندام چه کوم مقصد له پیدا وی نو هغه کارکوی- دویم قسم روحانی چه الله تعالیٰ اوپیژنی او خپل مقصداوپیژنی او بیا ارتباط دنبی علیه السلام سره اوشی - نو پدې سره دده روح ژوندې شی چه کله دا خیر اوبرکت په انسان کښې راشی نو ټول مخلوق بیا دده غلامان شی دملائکو نه هم معتبر شی حیوانات ورته دعاګانې کوی - دابرکت دقرآن په تعلیم راځی چه " انزل علی عبدهٖ الکتاب "- بشریت قرآن پدې طریقه کاملوی - نو ددې حصې دعوی هغه داده چه برکات ورکونکې " المبارک فی کل شئ هوالله تعالیٰ" یو الله تعالیٰ دې دا به اصلاً په سورة الفرقان کښې بیانوی - ددې ځائې نه تر سورة النور پورې ورته تمهید دې لار ورته سموی-

سورة الكهف مكية
نزولا (٦٩) مصحفا (١٨)
ركوعات (١٢) ايات (١١٠)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة الکهف

سورة الكهف مكی سورة دي په نزول كښې يوكم اويايم(٦٩) نمبر دې - پس دسورة الغاشيه نه او په ترتيب دسورتونو كښې يعنی مصحفی كښې اتلسم (١٨) دې پس دبنی اسرائيل نه -

## مناسبت دمخكښې سورة سره

دحضرت شيخ القرآن عليه الرحمة والغفران علم عجيبه او ناشنا وو نو چه كوم راروان ربط هغوی ليكلې دې- نو پدې لږ پوهيدل ګران دی- نو دتمهيد په طور ځان پوهه كول غواړی په يوڅو خبرو باندې-

**اوله فائده** : تسبيح وئيلې كيږی دذات صفت كولو ته- او ذات مقدم وی په صفت باندې لكه سړې اول پيدا شی غټ شی نو بيا عالم كيږی يا تاجر كيږی نو دغه شان پاكی د ذات هم مقدم ده په صفت كولو باندې - او دا هم ده چه په صفت كولو سره دذات د پاكی معلوميږی نو داصفات اوتحميد دليل شی په تنزيه او تسبيح باندې-نو تسبيح مخكښې وی دتحميد نه -

**دويمه فائده** : دالله رب العزت دذات او صفت باره كښې خلق ډير مختلف شوی دی او مختلف مذاهب دی- غټ هغه دوه مذهبونه دی چه كومو ته دلته حضرت شيخ القرآن رحمة الله اشاره كړې ده- يو داچه هغه په عينيت قائل دی چه ذات او صفات بالكل ديو بل سره يو دی متحد دی او څه قسم جداوالې پكښې نشته دې-دويم مذهب والا هغه په غيريت قائل دی او په تعدد چه ذات او صفت بالكل ديو بل نه جدا ګڼړی- دلته

حضرت شيخ القرآن عليه الرحمة والغفران مذهب دعينيت غوره ګرځوی او په غيريت والو باندې ردکوی چه ديکښې عقل له دخله اوګرځوې نو په مختلفو ميدانونوبه بيا چکرې لګوې صرف دومره ده چه تحميد په تسبيح دليل دې يعنې داصفات کماليو والا وی نودهغه ذات دشريک او حصه داريعنې چه دداسې نه بالکل پاک دې دهغه پشان بل څوک نشته دې - اوس چه ربط ته ګورې او دحضرت شيخ القرآن رحمه الله رد ته په ملاحدو ګورې نو حيران به شې-

**دمناسبت اوله وجه** : هر کله چه تسبيح ( سبحن الذى اسرى) نوم دې دپاکوالی دذات او تحميد( الحمدلله ) دذات صفت کولو ته وائی او تسبيح پاکوالې دذات دامخکښې وی په صفت کولو باندې نو دبنی اسرائيل په سر کښې تسبيح او دکهف په سر کښې تحميد ذکر شو دا ځکه چه دا تحميد يعنی صفات کماليه دا دليل شی په تسبيح باندې او داخبره معلومه شی چه په کوم وخت کښې منزه دې نو دغه شان موصوف بصفات الکمال هم دې - داسې نه چه جداجدا دی-او عقل له پکښې څه ګنجائش نشته دې- کچرته په عقل پسې روان شوې نوهغه څه کښې به شروع اوکړې په کومو کښې چه ملاحدوشروع کړې وه په فضولو خبرو کښې ننوتی دی- (لکه په سلم العلوم کښې په مسئله دعلم کښې دولس مذاهب بيانوی) او بيا هغوی دخپلو خلو نه دتعدد او جداوالی خبره اويستله چه دالله ذات او صفت ديو بل نه جداجدا دی-نوځنو بيا دصفاتو نه انکار اوکړو-چه دادتوحيدخلاف کيرى-لکه معتزلو-حيران او پريشان بې دليله ميدان کښې روان دی-ځکه دنقل نه ورسره څه نشته دې کله کينی او کله پاسی نو شو حيران او پريشان ډيرلائق او مناسب پدې خبره چه اونه پيژنی حدونه او پولې دهغه څه چه نازل کړی دی الله تعالیٰ دحق سره جدال کونکی او اوريدونکی دحق نه -

دربط حاصل: چه مخکښې سورة کښې پاکی دذات ده نو دې سورة کښې وائی چه الحمدلله چه کوم ذات منزه دې نو دغه ذات موصوف دې په صفاتو دکمال سره- يعنی چه کوم ذات د نقصاناتو نه پاک دې نو هغه له ټول کمالات هم دی-

**دويمه وجه** : په سورة بنی اسرائيل کښې ئې زړه صفا کړو او سوان ئې کړو په تسبيح سره دپليتو نه اودخِيرو نه - نواوس د دغه ذات صفات بيان کړه چه پدې سره دخکته والی او ژوروالی نه بره درجې ته اورسې( لکه چه پورته عرش ته ددنيا نه رسيدلې وې) او دالله تعالیٰ دهغه کتاب تابعداری اوکړه چه پکښې کوږوالې نشته نو ته به هم درست او برابر شې-

**دريمه وجه** : په سورة بنی اسرائيل کښې دمعراج واقعه وه چه هرکله دشپې دخپل محبوب دروازې له لاړې او په عالی دربار پورې کلک شې او دداسې څيزونو په ليدلو کامياب شوې چه نه عامو سترګوليدلی دی او نه ديو انسان په زړه کښې تيرشوی دی او خيالات دهغې نه سترې دی نو په سورة الکهف کښې وائی چه کومه تحفه اوډالئ ما درکړې ده چه هغه ټول انسانيت له کافی ده او په هغې کاميابی حاصليږی او نظرونه پرې خوشحاليږی چه قرآن دې نو دهغې الله تعالیٰ حمد بيان کړه-

**څلورمه وجه** : سورة الکهف تفصيل دې دخاتمې دبنی اسرائيل په ثابتولو دحمد د الله تعالیٰ لره چه صفات دخدائتوب صرف الله تعالیٰ لره دی او نفی دالوهيت دغير نه کوی-

**دعوی دسورة**

دسورة مرکزی مسئله چه دا سورة دهغې خدمت کوی او چاپيره ترې نه ګرځی نو هغه " نفی علم الغيب عن غيره تعالیٰ وان العبادة لله وحده"- چه په پټو باندې دالله تعالیٰ نه علاوه بل څوک نه پوهيږی- دلائل نقليه به پيش کړی شبهات به ختم کړی- او تفريع به پرې اوکړی چه هرکله په غيبو بل څوک نه پوهيږی نو صرف دهغې الله تعالیٰ

عبادت اوکړی دبل چانه - " وله غیب السمٰوٰت "(٢٦) " ولا یشرک بعبادة ربه احداً " (١١٠)-

## خلاصه دسورة

یعنی سورة الکهف دا مسئله پداسې انداز بیانوی چه دابتداء نه تر آیت (٨) پورې تمهید دې دقرآن مقام تخویف -بشارت او تسلی او ددنیا بې ثباتی بیا دلائل نقلیه ذکر کوی په نفی دعلم الغیب عن غیرالله ه چه دانقلونه دلالت کوی چه په غیبو بل څوک نه پوهیږی ورسره به دفع دشبهاتو هم وی-

اوله واقعه داصحاب کهف دآیت نهم (٩) نه تر (٢٢) پورې-چه اصحاب کهف لوئې اولیاء دی او ددوی ولایت دقرآن کریم نه ثابت دې هغوی دځان په حال ندی خبر نو دبل په حال به څه پوهه شی او اوده اولیاء کرام دی دځان دحال نه ندی خبر نو مړولی به دژوندی او ستا دحال نه څه خبر شی - قرآن داسې ترقی کوی نو ددوی دحال نه شبهه نده پکار-

دویمه واقعه دویم دلیل نقلی او دفع دشبهې چه نبی علیه السلام دلوئې شان والا پیغمبر دې کیدې شی هغه په غیبو پوهیږی نو دادویمه واقعه ذکرکوی چه محبوب سبحانی جناب رسول الله ﷺ دصبا په حال نه پوهیږی - آیت ٣٣ کښې نو " ولا تقولنّ ---" نو چه دټولې دنیا بهتر پیغمبر دصبا په حال نه پوهیږی نو نور څوک به څه پوهه شی-

بیا په ٢٦ کښې دعوی دسورة او ترغیب بیان ته ٢٧ کښې او ترغیب موالاة الموحدین ته چه پدې مسئله کښې درسره ملګرې وې نو دهغوی نه دِ نظرونه ستا اخوانشی بیا تخویف او بشارت او د ٢٣ نه تر ٤٩ پورې خساسة الدنیا بوجوه الثلاثه چه دادنیا تا دآخرت دتیاری نه او ددې مسئلې دمنلو نه بندوی-

اوله وجه : چه دادنیا به ستا نه واغستې شی لکه چه دباغ والا نه چه باغ واغستلې شو د ٣٢ نه تر ٤٥ پورې-

دويمه وجه : ددې دنيا وخت ډير لږدې ٤٦،٤٧ كښې-

دريمه وجه : دا دنيا به دربانديې بوج شى ځكه حساب به ئې درسره كيږى ٤٨،٤٩، كښې-

بيا ذكر دعداوة دابليس چه شيطان درته دنيا خائسته كوى اودقرآن نه دِ بندوى نو ده سره دشمنى پكار ده او بيا يرې او زورنې-تر آيت ٦٣ پورې-

دريمه واقعه او دفع دشبهې : واقعه دموسىٰ عليه السلام او خضر عليه السلام - چه اوګوره موسىٰ عليه السلام لوئې پيغمبر دې هغه دخضر عليه السلام دكارونو نه خبر نشو-چه دادوحى په ذريعه كوى-او دا شبهه دِ نه كيږى چه خضر عليه السلام په پټو پوهيدلو ځكه خضر عليه السلام وائى چه " مافعلته‘ عن امرى "-او الله تعالىٰ وائى چه " علّمنٰه‘ من لدّنا علما"

څلورمه واقعه او دفع دشبهې : چه ذوالقرنين سره دلوئې مملكت او غلبې دقوم په ظاهرى خبرو نه پوهيدلو چه " لايكادون يفقهون قولا"(٩٢) نو په نور څه به څه پوهه شى او دده نه علاوه به نور څوک څه پوهه شى-دآيت (٩٩) نه تخويف او زورنې تر (١٠٦) پورې بيا بشارت اودمسئلې دتوحيد مقام او آخر كښې تفريع چه عالم الغيب الله تعالىٰ دې نو صرف دهغه عبادت اوكړئ دبل چا نه -

## مقاصدالايات وتناسبها

يعنى دآيتونو مقصد او دهغوى مناسبت او رشته خپل مينځ كښې هم او ددعوې سره هم -

(١) الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي ---- تر اتم آيت پورې تمهيد دې- دې آيت كښې " دليل وحى " يعنى داراروانه مسئله انتهائى اوچته مسئله ده - ځكه چه ددې دپاره الله تعالىٰ په خپل بنده كتاب راليږلې دې - نوداحق مسئله ده چه عالم الغيب او متصرف صرف يو الله تعالىٰ دې بل څوک نه نو صرف دهغه بندګى اوكړئ-او چه كوم شبهات ستاسو دى نوهغه ئې ختم كړى دى- ديته په " لم يجعل له عوجا " سره اشاره ده-

(۲) لِيُنْذِرَ بَأْسًا ---- تخويف- يعنى چه كوم خلق دادعوى نه منى نو هغوى له يره وركوى-
وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِينَ ---- بشارت - يعنى چه كوم خلق دادعوى اومنى داكتاب راواخلى او داعملى كړى نو هغوى له خوشحالى -
(٤) وَيُنْذِرَ الَّذِينَ ---- دتخويف اعاده كوى دپاره ددې چه څوک يرول پكاردى چه هغه ورسره ذكر شى- يعنى چه څوک الله تعالىٰ له نائبان او نيازولى جوړوى نو دغه خلق ددوزخ نه يرول پكاردى-
قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا ---- زجر - سره ددې نه چه دومره قيمتى كتاب راغې چه شک او شبهه نه پاتې كوى بيا هم دوى نورو ته رامدد شه وائى او بل چاته عالم الغيب متصرف وائى دومره نالائقه دى-
(٥) مَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ ---- رد په اتخاذالولد - چه داعقيده د دوى بالكل بې دليله ده - نه پرې دوى سره دليل شته او نه ددوى مشرانو سره - نو بل ته عالم الغيب او متصرف او درامدد شې قابل وئيل سره دروغ دى-
(٦) فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ ---- تسلى - چه دومره په خكلى انداز بيان اوشو او ددوى دغلطې عقيدې رد اوشو دعجيبه كتاب په حواله او شبهات ختم شو بيا هم نه منى نو داعى ډير خفه كيږى-نو الله تعالىٰ تسلى وركوى چه دومره غم مه كوه چه ځان هلاک كړې-
(۷) إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَهَا ---- تزهيد من الدنيا - پدې دوو آيتونو كښې ددنيا بې ثباتى نقل كوى- چه دادنيا دابتلاء ده ستا هم امتحان او ددوى هم امتحان خولږوخت پس به ختم شى او دجزاء ميدان به وى نو هريو ته به دهغه دكړو بدل ملاؤ شى-
(۹) أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَهْفِ ---- ددې ځائې نه تر (٢٦) آيت تر ختمه پورې اول دليل نقلى په اصل دعوى دسورة - چه اوګوره اصحاب كهف لوئې اولياء دى هغه دځان دحال نه ندى خبر نو دبل چا په حال به څه خبر شى - او دفع دشبهې هم ده چه كه چا

شبهه كوله چه دااولياء كرام به دخه كمال نه خالى نه وى نو قرآن وائى چه اوده كړى هم الله تعالىٰ دى او ساتلى هم الله تعالىٰ دى - هغوى نه عالم الغيب دى او نه كارساز او متصرف دى لكه په ډيرو آيتونو كښې به " نا ، نا " راشى دا هر څه ماكړى دى-تر آيت تر ختمه پورې دواقعې اجمال او په لنډو ئې ذكركوى -

(١٣) نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ ---- ددې نه تفصيلى واقعه ذكركوى ورسره بشارت داستقامت چه هغوى ايمان راوړو نو الله تعالىٰ ورته استقامت او ربط القلب نصيب كړو-

(١٤) وَرَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ ---- داانعام دربط القلب-

إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ---- دربط القلب نتيجه چه اوس خپل قوم ته دتوحيد بيان كوى او رد دشرك كوى-داصحاب كهف په قوم كښې دوه قسمه شرك وو - يو به ئې غير ته رامدد شې وئيل په مافوق الاسباب امورو كښې - او بل داچه دقانون سازئ - چه غيرالله ئې قانون سازګنړلو نو دوى ددواړو رد كوى- لكه چه اوس پارليمنټ او اكثريت قانون ساز ګنړى-

لَوْلَا يَأْتُونَ ---- چه دومره نالائقه چه بې دليله شې دالله تعالىٰ سره شريكوى نو " فمن اظلم "-

(١٦) وَإِذِ اعْتَزَلْتُمُوهُمْ ---- بائيكاټ داصحاب كهفو داٰلهو باطلو او مشركانو نه - نو الله تعالىٰ دبائيكاټ انعام وركوى-

يَنْشُرْ لَكُمْ : دا اول انعام د بائيكاټ چه دبائيكاټ په انعام كښې به رحمت وركړى-

وَيُهَيِّئْ لَكُمْ ---- دويم انعام دبائيكاټ - الله تعالىٰ به دِ مقاصد آسان كړى-

(١٧) وَتَرَى الشَّمْسَ ---- دريم انعام دبائيكاټ - چه په څنګه انداز الله تعالىٰ دهغوى حفاظت كوى-

(١٧) ذَلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ ---- بشارت - دواقعې داصحاب كهفو سره دخلقو دوه ډلې نو يوې ته بشارت او خوشحالى دهدايت او دويمې ته يره ذكركوى- اوله ډله چه داصحاب

كهفو واقعه واورى نو هغوى داصحاب كهفو په عجز پوهه شى چه دانيكان بنديان عاجزان دى او عالم الغيب ندى- نو داشو " فهوالمهتد " -

وَمَنْ يُضْلِلْ ---- يره - دا دويمه ډله چه دوى داصحاب كهفو واقعه واورى نه چغه كړى چه داخود څه كرامت نه خالى نه وو نو دوى دهغوى په نومونو كښې خير ګڼرى اووائى چه " تفيد من الحرق والهدم " ( ډاكئ ملا) او دهغوى په نوم ككوړى وركوى نذرانې او شكرانې وركوى نو دوى درنړا نه فائده وانغسته نو مهر پرې اولګيده-

(۱۸) وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا ---- داصحاب كهفو حفاظت - الله تعالیٰ دهغوى ظاهرى حفاظت ښنګه كوى دهغې عجيب مناظر-

(۱۹) وَكَذَلِكَ بَعَثْنَاهُمْ ---- نفى دعلم غيب داصحاب كهفو نه - چه الله تعالیٰ راپورته كړل نو ښنګه دلاعلمئ اظهار كوى-

فَابْعَثُوا ---- دامير ليږونكى كس ته آداب بيانول- بِوَرِقِكُمْ : ادب اول چه خپلې پيسې به ځان سره اوړى -

أَيُّهَا أَزْكَى طَعَامًا ---- دويم ادب - چه چرته نذر دغير الله يا دمشرك ذبيحه رانه وړى -

وَلْيَتَلَطَّفْ ---- دريم ادب - چه انداز ګفتګو دِ نرم ساتى چاسره دِ جنګ وغيره بداخلاقى نه كوى-

وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا - څلورم ادب كچرته ګرفتارى دده اوشوه نو نور ملګرى دِ نه خائى-

(۲۰) إنهمْ إِنْ يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ ---- د آخرى ادب فوائد چه اهتمام ورته معلوم شى-

(۲۱) وَكَذَلِكَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ ---- حكمت په راپاسولو او خبرولو دخلقو كښې- چه په توحيد كلك شوې نو هر څه به دِ الله تعالیٰ دفائدې كړى-

(۲۲) سَيَقُولُونَ ثَلَاثَة ---- زورنه په دِ خبره چه دلايعنى مسئلو كښې دبحث نه اجتناب پكار دې لكه شمير داصحاب كهفو چه دا څو كسان وو-

(۲۳) وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ ----- دویم دلیل نقلی او واقعه دنبی علیه السلام دپاره داصل دعوې چه دټولې دنیا نه عظیم پیغمبر هغه دصبا په حال نه پوهیږی نو بل به څوک پوهه شی-او دشبهې جواب هم چه کیدې شی نبی علیه السلام لویه هستی ده هغه به دصبا په حال پوهیږی نو جواب چه هغه دصبا په حال نه پوهیږی- دا اصحاب کهفو واقعه څه لږه پاتې ده- او مینځ کښې داواقعه ذکر کوی دادواعظینو طریقه ده چه یوه اوږده واقعه بیانوې نو چه دهغې مینځ کښې دهغې نه یوه خبره معلومیږی نو هغه واعظ هغه واقعه اودروی او سامعین ځان ته متوجه کړی چه داواقعه یاده لرئ-خو یوخبره بله کومه نودغه شان دلته واقعه داصحاب کهفو نه خبره معلومه شوه - نو وائی چه اې سامعینو که د چا داګمان وی چه نبی علیه السلام دا واقعات بیانوی نو هغه به عالم الغیب وی نو زر ئې اوفرمائیل چه هغه دصبا په حال نه پوهیږی او خپل محبوب ته ادب خائی چه کله دیو کار دکولو اراده اوکړې نو " ان شاء الله " وایه-ځکه ستادارادې نه خلاف کار ظاهرونکې الله تعالیٰ دې لکه نه ګورې اصحاب کهفو ته چه تلی ده څه په اراده وو او اوشو څه ؟ څومره وخت اوده پاتې شو او بیا دهغوی یو ملګرې راغلې څه له وو چه ډوډئ راوړی او اوشو څه-معلومه شوه چه کیږی هغه څه چه الله تعالیٰ اوغواړی-

(٢٤) وَاذْكُرْ رَبَّكَ ---- ادب - چه کله ان شاء الله هیر شی نو چه څه وخت یاد شی نو هغه وخت اووایه دغه پاتې برکت به خدائې درکړی-

(٢٥) وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ ---- بیان د مدې داصحاب کهفو چه څومره وخت غار کښې تیرکړې وو-

(٢٦) قُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ ---- دعوی دسورة او نتیجه دواقعې- چه ددې دواړو واقعو نه معلومه شوه چه په غیبو یو الله تعالیٰ پوهیږی او کارساز او متصرف یو الله تعالیٰ دې- پدې صفتونو کښې ورسره شریک او حصه دار نشته دې-

(۲۷) وَاتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ ---- ترغيب الى التبليغ - دادعوى او دا مسئله تا ته وحی کیږی نو دا صاف صاف بیان کړه-
لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ ---- اهتمام - چه دادعوى دبدليدلو نده- او نسخه پرې نه راځی-
وَلَنْ تَجِدَ ---- ترغیب- اوتخويف چه بیان کړه ګنی دالله عذاب نه خلاصيدلو ځائې نشته دې-
(۲۸) وَاصْبِرْ نَفْسَكَ ---- ترغيب الى موالاة الموحدين- يعنى چه كوم كسان او ملګری تاسره پدې دعوی کلک دی نوهغوی سره کینه او هغوی ته ددې تعلیم ورکړه او هغوی دنظر دلاندې ساته-
تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ---- يره او تزهيد من الدنيا - چه دموحدينو نه تعلق ختم کړې نو لکه ددنيا دارو پشان به غافل شې-
(۲۹) وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ ---- تسلی چه حق صاف بيان شو شبهات ختم شو نو الله تعالیٰ په زوره څوک نه مسلمانوی هرچاته اختيار دې البته نتائج اوګورئ دهرعمل-
إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ نَارًا ---- تخويف اخروی - سره ددلائلو او شبهاتو ختميدلو بياهم نه منی نو داظالم دې او انجام ئې دادې چه دوزخ ورله تيار دې-
(۳۰) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ---- حَسُنَتْ مُرْتَفَقًا(۳۱) بشارت داوس خوشحالی هغه چاته چه دادعوى دزړه نه اومنی او دهغې مطابق عمل اوکړی او لوئې عمل رسول او بيان ددې دعوې دې نو داخلق جنتيان دی او عمل به ئې بې ځايه لاړ نشی-
(۳۲) وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلًا ---- ددې ځائې نه خساسة الدنيا بوجوه الثلاثة تر آيت (٤٩) پورې- دآخرت او دالله تعالیٰ دکتاب نه غافلونکې څيز هغه دنيا ده چه په دنيا مئين شی نو دجنت او دوزخ پرواه نه کوی نو اوس ددنيا سپکاوې او خساسة په درې وجو سره ذکرکوی تر آيت (٤٩) پورې-
وَاضْرِبْ لَهُمْ ---- اوله وجه ددنيا دسپکاوی چه :"الدنيا تؤخذ منك " دادنيا به ستا نه واغستې شی يعنى سحر به درسره وی او ماښام به دغه شان کنګال ناست ئې هيڅ به

درسره نه وی - مثال ورلره باغونو والا ذکر کوی چه دهغه نه دهغه باغونه واغستې شو- (۳۲) او (۳۳) کښې دهغه هغه باغونه او سرمایه ذکرکوی-
(۳٤) فَقَالَ لِصَاحِبِهِ ---- فخر کول دمالدار په مال خپل باندې-او په خپل مال غره کیدل-
(۳٦) وَمَا أَظُنُّ السَّاعة ---- مال سړې دآخرت نه منکر کړی- نو انکار دآخرت نه - " ولئن رددت "- غلط خیال دمالداره چه ځه دلته خه یم نو هلته به هم خه یم کچرته آخرت وی هله-
(۳۷) قَالَ لَهُ صَاحِبُهُ ---- د موحد جواب ورکول او هغه ته خپل حقیقت او دالله قدرت خودل-
(۳۸) لَكِنَّا هُوَ اللَّهُ رَبِّي ---- دموحد خپله عقیده بیانول یعنی که په ما هر رنګه حالت راشی نو ځه دخپل رب ناقدره نه یم-
(۳۹) وَلَوْلَا إِذْ دَخَلْتَ ---- تعلیم د موحد هغه ته دصحیح طرز چه دباغ په ځائې تاله باغ ورکونکی ته توجه پکارده-
(٤۰،٤۱) فَعَسَى رَبِّي ---- دموحد تصرف دالله تعالیٰ ثابتول چه ورکول او اغستل کار دالله تعالیٰ دې او بددعا کول-
(٤۲) وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِ ---- دباغ واله تباهی او دهغه ارمان خو" *اب کیا ہوت جب چڑیا چگ گئی کھیت* "
(٤۳) وَلَمْ تَكُنْ لَهُ فِئَةٌ ---- تخویف او عجز دمال والا اوس ئې مال پکاررانغې مال دالله دعذاب نه خلاصول نشی کولې-
(٤۳) هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلَّهِ الْحَقِّ ---- نتیجه چه تصرف د الله دې نودمال په ځائې هغه ته توجه پکار ده چه انجام خه راوزی- مال طرفته توجه نده پکار ځکه که وانغستې شی نو وخت ئې ډیر لږ دې- نه ګورې راروان حال ته-
(٤٥) وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَاءٍ ---- دویمه وجه ددنیا دسپکاوی چه " الدنیا وقتها قلیل " - چه ددنیا وخت ډیر کم دې - دې مثال ته اوګوره نو پاګل دې چه پداسې

ځيز نازيږی او ددې دوجې دين او قرآن پريږدی نو پکار ده چه توجه ددې په ځائې نيک اعمالو ته اوکړی-

(٤٦) الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينة الْحَيَاةِ ---- تزهيد من الدنيا او ترغيب الى الاعمال الصالحه- چه دنيا پريږده او نيکو اعمالو ته توجه اوکړه- ځکه چه دهغې فائده دائمی ده-او که بيا هم دادنيا نه پريږدې او ورپسې ئې نو دادرله څه فائده نشی درکولې- البته به درباندې وبال شی-او حساب به ئې درسره کيږی- لکه :

(٤٧) وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ ---- دريمه وجه ددنيا دسپکاوی چه " الدنيا تكون وبالاً عليک "- دادنيا به په تا وبال شی فائده درکولې نشی او حساب به ئې درسره کيږی- چه دالله تعالیٰ خواته ځې نو دامال او دولت هيڅ به درسره نه وی او په عمل نامه کښې به دِ هر څه ليک وی-

(٤٩) وَوُضِعَ الْكِتَابُ ---- تخويف اخروی دخپلو کړو بدل به درته ملاؤ شی-

(٥٠) وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا ---- يره اوتحذير دشيطان ددوستئ نه - دادنيا خائسته کونکې اوآخرت داخطرناک حالات هيرونکې او دشرک داعی شيطان دې- او هغه ستاسو آبائی قديم دشمن دې نو تاسو څنګه دهغه اتباع کوئ او الله تعالیٰ چه محسن اعظم دې دهغه اتباع پريږدئ-

(٥١) مَا أَشْهَدْتُهُمْ ---- شيطان دشمن دې او ددوستئ څه جواز ئې نشته دې نو ولې تاسو هغه دوست کوئ-

(٥٢) وَيَوْمَ يَقُولُ ---- زجر په نالائقو مشرکانو دشيطان په تعليم شرک کوی نو په آخرت کښې داشريکان ستاسو نشی پکاريدې-

(٥٣) وَرَأَى الْمُجْرِمُونَ النَّارَ ---- تخويف اخروی- چه دآخرت داور نه مو بيا خلاصون نشته دې -

(٥٤) وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَذَا الْقُرْآنِ ---- ترغيب الى القرآن- چه که دآخرت داور دعذاب نه ځان بچ کول غواړئ نو راشئ قرآن صآف مسئله بيان کړې ده شبهات ئې ختم کړی دی-نو دااومنئ کنه -نو منل چرته دی بلکه:

وَكَانَ الْإِنْسَانُ ---- اول زجر - زورنه چه دا نالائقه دمنلو په ځائې جدال شروع کړی نو چه دې جدال کوی نو دده دځه انتظار دې چه ايمان نه راوړی -

(٥٥) وَمَا مَنَعَ النَّاسَ ---- دويم زجر - چه دده دعذاب انتظار دې چه بس پيغمبر ته وائی چه ته عذاب راوله نو دامطالبه ددوی غلطه ده ځکه چه :

(٥٦) وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ ---- دفع ددغه شبهې چه عذاب دِ پرې راولی - دپيغمبر کار هغه تبشير او انذار دې نه که عذابونه او معجزې راوړل دادالله تعالیٰ کار دې-اصل کښې دجدال مقصد بل دې - دوی په بل مقصد لګيا دی هغه دا چه :

وَيُجَادِلُ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- دريم زجر - چه ددې جدال په ذريعه او غلطو منګهړتو واقعاتو په ذريعه دا دقرآن مشن کمزورې کول غواړی اودائې استهزاء ده- نو ددې کار دوجې نه :

(٥٧) وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ---- زجر په دې جرمونو دوجې لوئې ظالم شو او مهر پرې اولګيدو اوس که ورته دهدايت بيان کيږی- نو هيڅ فائده نه اخلی-

(٥٨) وَرَبُّكَ الْغَفُورُ ---- ترغيب توبې ته - چه دسحر روک ماښام کور ته راشی نو روک ورته مه وايه-

لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ ---- دفع دشبهې چه دومره نالائقه دی نو الله ئې تباه کوی ولې نه ؟ جواب چه دسزا وخت مقرر دې دادعمل ميدان دې-

(٥٩) وَتِلْكَ الْقُرَى أَهْلَكْنَاهُمْ ---- تخويف دنيوی-دآخرت نه مخکښې هم عذاب شته خو په وخت مقرر لکه مخکښې چه وو -

(٦٠) وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِفَتَاهُ ---- څلورمه واقعه او دليل نقلی تر آيت (٨٢) ورې- اومنئ نالائقو جدال مه کوئ قرآن څومره په ښکلی انداز بيان کوی راشئ يو بل دليل واورئ

اوګوره موسیٰ علیه السلام دخضر علیه السلام دحال نه خبر نه شو نو معلومه شوه چه عالم الغیب الله دې او دخضر علیه السلام دحال نه هم شبه مه کوئ ځکه هغه وائی چه " مافعلته عن امری " - او چه دموسیٰ علیه السلام غوندې هستی په غیبو نه پوهیږی نو بل به څوک څه پوهه شی-

علم موسیٰ چونکه شد در غیب بند علم موشے کے بود اے ارجمند

وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِفَتَاهُ ---- ابتداء دسفر دموسیٰ علیه السلام - دموسیٰ علیه السلام سفر علمی دې - یعنی دطلب دعلم دپاره دې نو پدیکښې شیوخ کرام داستاذ او شاګرد ډیر آداب ذکرکوی چه کوم ظاهردی هغې ته به اشاره اوشی- نور درسونو کښې بیانیږی-

لِفَتَاهُ - اول ادب په سفر علمی کښې ځان سره ملګرې روانول- لَا أَبْرَحُ " دوی عزم مصمم یعنی علم له مضبوطه اراده کول- چه بغیر دحصول دعلم نه به کور ته نه راځم او بس کوم به نه -

(٦١) فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ ---- علم سبب دحیات دې نو علامه ورله هم هغه ژوند دمهی ګرځولې شوې ده-

(٦٢) فَلَمَّا جَاوَزَا ---- موسیٰ علیه السلام عالم الغیب ندې - هَذَا نَصَبًا : مقصد نه آخوا ستړې شو-

(٦٣) قَالَ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ ---- دخادم دادب نه ډک جواب ورکول-

وَمَا أَنْسَانِيهُ ---- ادب چه دنامناسب کارونو نسبت الله تعالیٰ ته ندې پکار شیطان ته دِ اوکړې شی-

(٦٥) فَوَجَدَا عَبْدًا ---- مقصدملاویدل- وعَلَّمْنٰه ---- معلومه شوه چه خضر علیه السلام عالم الغیب ندې ځکه الله تعالیٰ وائی چه داورله مونږعلم ورکړې وو-

(٦٦) قَالَ لَهُ مُوسَى ---- دموسیٰ علیه السلام دسبق وئیلو اجازت - نوادب چه شاګرد دِ استاذ ته اووائی چه په درس کښې شریک شم ؟ اجازت دِ اوغواړی-

(٦٧) قَالَ إِنَّكَ ---- دخضر علیه السلام جواب چه صبر نشی کولې-

(٦٨) وَكَيْفَ تَصْبِرُ ---- وجه دبې صبرئ - دانه چه ته صبر نشې کولې -خو څه چه څه کوم هغه به ظاهر کښې ستا په علم کښې غلط وى نو ته به پرې خامخواه رد کوې ځکه ستا کاردغه دې نوتاته به دهغې دحقيقت علم نه وى چه څما داهم وحى ده - خضر عليه السلام هم وائى چه موسىٰ عليه السلام عالم الغيب ندې-

(٦٩) قَالَ سَتَجِدُنِي ---- تابعدارى دموسىٰ عليه السلام - نو شاګرد به استاذ ته خپله تابعدارى خكاره كوى-

(٧٠) قَالَ فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي ---- دخضر عليه السلام شرط لګول - نو استاذ شرط لګولې شى طالب ته-

(٧١ )فَانْطَلَقَا ---- ابتداء دسفر ددواړو روانيدل-

قَالَ أَخَرَقْتَهَا ..... دموسىٰ عليه السلام اعتراض کول - چه شاګرد ته داستاذ کار غلط خكارى نو روستو دخبرو په ځائې او دغيبت په ځائې دِ ورته اووائئ او تپوس دِ اوکړى-

(٧٢) قَالَ أَلَمْ أَقُلْ ---- دخضر عليه السلام هغه زوړ شرط يادول-

(٧٣) قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي ---- عذر پيش کول دموسىٰ عليه السلام او دخضر عليه السلام عذر قبلول- نو چه عذر دشاګرد معقول وى نواستاذ دِ قبول کړى-

(٧٤) فَانْطَلَقَا ---- دويم سفر - او قتلول دخضر عليه السلام يوبدمعاش هلک لره- او اعتراض دموسىٰ عليه السلام -

(٧٥) قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكَ ---- دخضر عليه السلام زوړ شرط يادول-

(٧٦) قَالَ إِنْ سَأَلْتُكَ ---- دموسىٰ عليه السلام شرط لګول- معلومه شوه عالم الغيب ندې-

(٧٧) فَانْطَلَقَا ---- دريم سفر اوده خضر عليه السلام ديوال نيغول او دموسىٰ عليه السلام بطور مشوره خبره کول چه غم دې چه خلاصيږى نور صبر رانه دې کارونو ته نه کيږى-

(۷۸) قَالَ هَذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ ---- دجدايئ اعلان- چه شاګرد په اصولو برابر نه چلیږی نودهغه رخصتول-
سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ ---- دخضر علیه السلام موسیٰ علیه السلام له په حقیقت خبرول هسې نه چه روستو خبرې کوې نو شاګرد د حقیقت نه خبرول - هسې نه چه روستو خبرې کوی چه استاذ مِ دادا کارونه کوی- او پروپیګنډه کوی- دهرې خبرې دحقیقت نه خبرولو نه روستو " ومافعلته عن امری " (۸۲) دخضر علیه السلام نه نفی دعلم غیب-
(۸۳) وَيَسْأَلُونَكَ عَنْ ذِي الْقَرْنَيْنِ ---- څلورم دلیل نقلی او واقعه د ذوالقرنین چه داولیاء او انبیاء کرام دحال نه خبر شوې چه عالم الغیب ندی راشه اوس دیو بادشاه خبره واوره چه سره ددې نه چه لوئې مملکت الله ورکړې دې خودیو قوم په ظاهری خبرو نه پوهیږی نو په نورو مغیباتو به څه پوهه شی معلومه شوه داصفت دخدائتوب الله تعالیٰ نه ولی له ورکړې دې نه نبی له او نه بادشاه له- نو عام خلق به څه په غیبو پوهه شی-
(۸٤) إِنَّا مَكَّنَّا لَهُ فِي الْأَرْضِ ---- ذوالقرنین ته چه سازوسامان ملاؤ شوې وو نو داڅمونږ دطرفنه وو-
(۸۵)فَأَتْبَعَ سَبَبًا ---- د ذوالقرنین هغه ذرائع دالله تعالیٰ ددین ددعوت دپاره استعمالول-
(۸٦) حَتَّى إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ ---- دااولنې سفر دعوتی مغربی اودهغه عجز چه مخامخ ورته دلدل نرمه پلندئ زمکه راغله نو داسې څه ورسره نه وو چه په هغې لاړشی- عاجزه وو-
(۸۷) قَالَ أَمَّا مَنْ ظَلَمَ ---- یره مشرک ته- (۸۸) وَأَمَّا مَنْ آمَنَ ---- خوشحالی مومن ته-
(۸۹) ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ---- دوباره د مشرقی سفر تیارې کول-
(۹۰) حَتَّى إِذَا بَلَغَ ---- په مشرقی سفر کښې د ذوالقرنین عجز چه سخته ګرمی وه چه دانسان ګذاره پکښې ممکن نه وه او هغه خلقو به په غارونو کښې ګذاره کوله کورونه ئې هم نه وو-(۹۱) كَذَلِكَ وَقَدْ أَحَطْنَا ---- اثبات دعلم الغیب الله لره-

(۹۲) ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا --- دریم سفر ددعوت شمالی او په هغې کښې دهغه عجز-
(۹۳) حَتَّى إِذَا بَلَغَ ---- په شمالی سفر کښې عجز - دداسې قوم سره واسطه راغله چه ديو بل په ژبه هم نه پوهيدل دامقصودی مقام په واقعه کښې چه په ظاهری ژبه نه پوهيږی نو په غيبو به څه پوهه شی-
(۹٤) قَالُوا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ ---- دترجمان په ذريعه خبرې کول-
قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي ---- جواب ورکول دذوالقرنين او دسدّ دجوړولو دپاره انتظام برابرول- او دسدّ بيان چه فمااسطاعوا-
(۹۸) قَالَ هَذَا رَحْمَة ---- شکريه دذوالقرنين درب خپل په جوړولو دبند باندې-
(۹۹) وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ ---- تخويف - مسئله بالکل صاف څکاره شوه دلائل قائم شو که دچا څه شکونه وو هغه ختم شو چه اوس هم نه منی نو وخت راروان دې دقبرونو نه به پاسی الله ته به جمع شی-
(۱۰۰) وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ ---- دداسې خلقو دپاره جهنم بالکل مخې ته تيار دې-
(۱۰۱) الَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنهمْ ---- وجه دعذاب چه جهنم ته به ولې ځی ځکه چه ددې دعوې اودقرآن دبيان نه ئې ځان ړوند کوڼ کړې دې نوځکه ئې دوزخ ځائې شو-
(۱۰۲) أَفَحَسِبَ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- زجر- څومره په خکلی انداز بيان اوشو دمسئلې هرطرف واضحه شو دلائل قائم شو شبهات ختم شو او سره ددې نه دکافرو حال ته ګوره-
إِنَّا أَعْتَدْنَا ---- تخويف- چه داسې کارکونکو له دوزخ تيار دې-
(۱۰۳) قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا -- بيان دقباحت دشرک-
(۱۰٤) الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ----- بيان دحماقت او بې وقوفتيا دمشرک -
(۱۰۵) أُولَئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- تخويف اخروی او بيان دبربادېدلو دعمل دمشرک-
(۱۰٦) ذَلِكَ جَزَاؤُهُمْ جَهَنَّمُ ----- وجه دعذاب چه داعذاب په څه سبب دې-
(۱۰۷) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ---- لَا يَبْغُونَ عَنه ا حِوَلًا(۱۰۸) بشارت موحدينو ته چه چاونه منله دسورة الکهف مسئله نو حال دواوريدلو نو اوس دمنونکو حال هم واوره-

(۱۰۹) قُلْ لَوْ كَانَ الْبَحْرُ ---- بیان دعظمة ددعوې - چه الله رب العزت دومره لوئې عالم دې او په دې صفت کښې دهغه څوک شریک او حصه دار نشته دې څکه که (ټول بنیادمان منشیان شی) ټولې اونې قلمونه شی او ټول سمندرونه سیاهی شی( او ټول افلاک سره داووه زمکو نه کاغذونه شی) نو دالله تعالیٰ دعلم تحریر اولیک لکه قطره دسمندر نه هم نشی کولې نو چه دالله تعالیٰ داسې علم دې نو پدې کښې دالله تعالیٰ شریک محال دې-(بلغة الحیران)

(۱۱۰) قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ ---- نفی دعلم الغیب دنبی علیه السلام او بیان دتوحیدچه هرکله دمخکښې سورت نه صاف معلومه شوه چه عالم الغیب او متصرف صرف یو الله تعالیٰ دې بل څوک نه نو بندګی هم صرف دهغه یو ذات اوکړئ او پدیکښې ورسره شریک او حصه دار مه ګرځوئ-

### حاصل دسورة

الله تعالیٰ په خپل بنده زبردست کتاب پدې مسئله رالیږلې دې چه علم الغیب صفت دیو الله تعالیٰ دې پدیکښې ورسره شریک او حصه دار نشته او داسې کتاب دې چه تاسو ته دلائل بیانوی او شبهات ختموی اوګورئ اصحاب کهف لوئې اولیاء دی په غیبو نه پوهیږی دغه شان انبیاء کرام علیهم الصلوٰة والسلام په غیبو نه پوهیږی او بادشاهان هم نه پوهیږی نو چه صاف معلومه شوه چه عالم الغیب یو الله تعالیٰ دې نو صرف یو دهغه بندګی اوکړئ-دشیطان په تعلیم په دنیا مه مستیږئ پدې اعتماد مه کوئ چه دقرآن کریم دشمنان شئ او دالله تعالیٰ سره حصه داران جوړکړئ-ګنی دنیا اوآخرت به مو تباه شی-

**امتيازات دسورة**

**(١) نفی دعلم دغیرالله نه په رفع دشبهاتو عجیبو-**

**(٢) واقعه داصحاب کهفو سره د ذکر دکهف نه -**

**(٣) ولاتقولنّ - تلقین دان شاء الله**

**(٤) اداب ملګری ته چه " فابعثوا احدکم ---"**

**(٥) خساسة الدنیا بوجوه الثلاثة -**

**(٦) واقعه دموسیٰ علیه السلام اودخضر علیه السلام -**

**(٧) اداب دسفر علمی دواقعې دموسیٰ علیه السلام نه -**

**(٨) تذکره دذوالقرنین او دهغه سفرونه -**

**(٩) بیان دسدّ د ذوالقرنین-**

**(١٠) بیان دعظمة دعلم دباری تعالیٰ په ١٠٩ کښې-**

**تمت سورة الکهف بعون الملک القوی والاضعف، اللّٰهُمَّ وفّقنی لتکمیل هذا ،کما وفقت لافتتاح الکتابة -**

**١٥ شوال ١٤٣٣ ھ یوم الاحد بعد العشاء ٢٧ : ١١**

**وانا مسجون فی سجن افواج باکستان ، اللّٰهُمَّ اغفر لی خطایای واخرجنی واصحابی من هذه القریة الظالم اهلها واجعل لنا من لدنک ولیّا واجعل لنا من لدنک نصیراً-**

**١٨ ستمبر ٢٠١٢ ء یوم الثلثاء**

نزولا (٤٤) مصحفا (١٩) سورة مريم مكية ركوعات (٦) ايات (٩٨)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة مريم

سورة مريم مكی سورة دې - يعنی دهجرت نه مخکښې نازل شوې دې- په نزول کښې ځلور ځلويښتم (٤٤) نمبر دې پس دسورة فاطرنه او په ترتيب مصحفی کښې (١٩) نمبردې پس دسورة الكهف نه -

## مناسبت دمخکښې سورة سره

**اوله وجه دمناسبت** : په سورة الكهف کښې نفی دعلم الغيب اوشوه دنيکانو بنديانو نه نو پدې سورة کښې په هغې زيادت کوی چه داټول نيکان بنديان الله تعالیٰ ته عاجزی کوی او په خپلو حاجاتوکښې الله تعالیٰ رامددکوی نو دوی به د نوروخلقو څنګه اٰلهه شی او غائبانه حاجات به پوره کوی لکه چه مشرکان ګمان کوی چه دوی دنفع او دنقصان مالکان دی-

**دويمه وجه** : چه داوجه دمخکښې نه معلومه شوه چه هرکله مخکښې سورة کښې الله رب العزت ځان له علم غيب ثابت کړو په واقعاتو دمخکښنو نيکانو - نو په سورة مريم کښې تصرف ځان له ثابتوی په واقعاتو دغورو او نيکانو مخکښنو باندې - او تصرف او علم الغيب دواړه صفات دالوهيت او خدائتوب دی-

**دريمه وجه** : په خاتمه دسورة الكهف کښې دوه جملې ذکرکړې - يوه " انما الهكم اله واحد " دويمه جمله "ولايشرک بعبادة ربه احداً "- نو پدې سورة کښې ددې دعوې تاکيد چه تيرانبياء کرام عليهم الصلوات والتسليمات به صرف ديو الله تعالیٰ عبادت کولو او الله تعالیٰ سره به ئې شريک نه جوړولو نو ددې دواړو جملو دلائل نقليه شو-

### دعوى السورة

دسورة مريم مرکزی مسئله یعنی چه دکومې مسئلې خدمت وی او دهغې نه چارچاپیره ګرځی- " تضرع المستجیبین الی الله تعالی ونفي التصرف منه م "- عاجزی د غوره او نیکانو خلقو الله تعالیٰ ته او نفی دتصرف دهغوی نه " - وضاحت ددعوې دادې چه نیکان بندیان ټول الله تعالیٰ ته عاجزان وو نو څنګه به کارساز او متصرف او واکدار شی-(٦٥) آیت کښې دعوی ذکر ده-او (٩٣) کښې-

### خلاصه او تقسیم دسورة

سورة مریم داخپله دعوی پداسې انداز بیانوی چه ددې دعوې دپاره دشپږو انبیاء احوال ذکرکوی او بیا دفرشتو عاجزی ذکر کوی-

(١) اوله واقعه دزکریاء علیه السلام چه ده الله رب العزت ته عاجزی کړې وه-نو الله رب العزت ورله نیک بچې یحیٰ علیه السلام ورکړې وو- او په دریو ځایونو کښې په هغه دالله رب العزت سلامتیا وه- د آیت ٢ نه ١٥ پورې -

(٢) دویمه واقعه دعیسیٰ علیه السلام او دمریم علیهاالسلام چه دواړو الله تعالیٰ ته عاجزی کړې وه-او کوم چه ددوی نه ناشنا کارونه او معجزات ښکاره شوی وو نو په هغې کښې ددوی څه اختیار نه وو-د آیت ١٦ نه تر ٣٦ پورې-

(٣) دریمه واقعه دخلیل الله تعالیٰ ابراهیم علیه السلام چه هغه خپل پلار ته مسئله بیان کړې وه- چه :" لم تعبد مالم یسمع ولایبصر ولایغنی عنک شیئاً "(٤٢) دالله نه علاوه د نورو څیزونو بندګی ولې کوئ؟چه نه اوری او نه وینی او نه تالره څه فائده درکولې شی-او عاجزی هغوی الله تعالیٰ ته کړې وه- دآیت ٤١ نه تر ٥٠ پورې-

(٤) څلورمه واقعه دموسیٰ علیه السلام چه هغه الله رب العزت ددې دعوت دپاره غوره کړې وو- ٥١ نه تر ٥٣ پورې-

(٥) پنځمه واقعه داسماعيل عليه السلام چه هغه دالله رب العزت دحکم منقاد او تابعدار وو او ده ځان هم اختيارمند نه وو- ٥٤،٥٥ -
شپږمه واقعه د ادريس چه " ورفعناه مکاناً عليا "- هغه لره دالويه مرتبه مونږ ورکړې وه - دانده چه ګنی ددې درجې د وجې هغه واکدار اومتصرف وو- داخو ورلره هرڅه مونږ ورکړی وو- په آيت ٥٦ او ٥٧ کښې-
په آيت ٥٨ کښې دټولو انبياؤ اجمالاً او په لنډو حالات ذکر کوی چه ټولو به الله ته عاجزی کوله او په سجده به پراته وو-
بيا احوال دفرشتو ذکرکوی چه دوی يوکار هم دالله تعالیٰ دحکم نه بغير نشی کولې او دوی لره څه اختيارات نشته دې لکه هغوی وائی چه : " وما نتنزّل الا بامرربک " مونږ چه زمکې ته راکوزيږو نو دالله تعالیٰ دحکم نه بغير نشو راکوزيدلې- روستو زواجر اوتخويفات ذکرکوی-

## تقسيم دسورة

داسورة دريو حصو ته تقسييم دې-
(١) اوله حصه په بيان دعجز دانبياء کرامو عليهم الصلوات والتسليمات کښې ده- دا د ابتداء دسورة نه تر ٦٣ ايت تر ختمه پورې -
(٢) دويمه حصه په بيان دعجز دفرشتو کښې ده دآيت ٦٤ او ٦٥ کښې او پديکښې دعوی دسورة هم بيانيږی-
(٣) دريمه حصه دآيت ٦٦ نه تر آخرتر سورة پورې ده او پديکښې زجر اوتخويف مشرکانو ته اوخوشحالی منونکو ته بيانيږی-

## تناسب الايات ومقاصدها

(۲) ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ ---- اوله واقعه دزکریا علیه السلام تر آیت ۱۵ پورې-او پدیکښې دهغه عاجزی ذکرکوی-چه هغه ته په بوډاتوب کښې بچې ملاویدل داداللہ دطرفنه وو-او هغه الله تعالیٰ ته عاجز وو-

ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ ---- بیان دمهربانۍ دالله تعالیٰ په زکریا علیه السلام او دهغه عبدیت - مهربانی پرې ځکه شوې وه چه هغه الله تعالیٰ ته زاری کوله لکه :

(۳) إِذْ نَادَى رَبَّهُ ---- بیان ددعاء دزکریا علیه السلام -

(٤) قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي ---- اظهار دعجز دزکریا علیه السلام الله تعالیٰ ته-

وَلَمْ أَكُنْ بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا - بیان دامید اودوفادارۍ خپلې- باء سببیه او مصدر مضاف مفعول خپل ته اوفاعل محذوف دې- نوعبارت داسې شو چه : " بِدعائی ایاک " یعنی ځه ددې وجې نه بدبخته نه یم چه صرف تاته رامدد شه وایم او په حاجاتو کښې تارابلم بدبخت هغه وی چه ستانه علاوه نور رامدد کوی- مشرک نور متصرف منی نو بدبخت شو ځه صرف تا کارساز او متصرف منم-(جواهرالقرآن،بلغة الحیران)

(٥) وَإِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ ---- اظهار دزکریا علیه السلام خپل احتیاج لره-چه ددینی ضرورت دپاره بچې غواړم او بیان دعجز چه ماسره دظاهری اسبابو فقدان دې-

(٦) يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ ---- دبچی دکار تعین کول چه ځما بچې به څه کارکوی-

وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا - دعاکول دهغه دپاره دبچی خپل-

(۷) يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ ---- بیان دقبولیت دالله تعالیٰ دعادزکریا علیه السلام او دبچی زیرې ورکول-

(۸) قَالَ رَبِّ أَنَّى يَكُونُ لِي غُلَامٌ ---- بیان دسوال دکیفیت د زکریا علیه السلام دبچی چه ماته بچې ملاویږی نوپدې حالت دبوډهاتوب به وی کنه ځوانیږم به او ښځه به هم ځوانه شی-

(۹) قَالَ كَذَلِكَ ---- جواب چه پدغه حالت به ئې - او تعجب ته څه حاجت دې - ځکه:

قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ---- لرې كول دتعجب دزكريا عليه السلام -

(١٠) قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِي آيَةً ---- دزكريا عليه السلام دخوشحالۍ دورځې دپاره دنخې تپوس كول-

(١١) فَخَرَجَ عَلَى قَوْمِهِ ---- دعوى دتوحيد چه الله رب العزت دنورو شريكانو نه پاك اوګنړئ يواځې هغه متصرف دې چه ماله پدې حالت كښې بچې راكوى-ديحيىٰ عليه السلام پيدائش ته ماحول دينى جوړول چې په دينى ماحول كښې ستركې اوغړوى.

(١٢،١٣،١٤) يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ ----- ملاويدل دبچى او دبچى خكلى صفات او دهغه كار او ذمه وارى-

(١٥) وَسَلَامٌ عَلَيْهِ ---- احتياجى ديحيىٰ عليه السلام په دريو اهمو ځايونو كښې سلامتيا دالله تعالىٰ ته-

دواقعې نه معلومه شوه چه زكريا عليه السلام الله ته محتاج وو او يحيىٰ عليه السلام هم او كارساز او متصرف يو الله دې-

(١٦) وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ ----- ددې ځائې نه واقعه دعيسىٰ عليه السلام دپيدائش او دمريم او ددواړو عاجزى چه دواړو نه كوم خوارق يعنى ناشنا كارونه خكاره شوى وو نو هغه دالله تعالىٰ په حكم وو دهغوى پكښې اختيار نه وو-

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ ---- بيان دعجز دمريم عليهاالسلام- جداكيدل دمريم دپاره دغسل- نو چه داسې حالت پرې راځى نو څه به متصرف او كاساز شى-

(١٧) فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُونِهِمْ ---- پرده كول اوراتلل دجبرئيل عليه السلام -

(١٨) قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ ----- پناه غوختل دمريم په الله تعالىٰ سره نو چه دالله تعالىٰ پناه غواړى نوهغه څنګه متصرف كيدې شى-

(١٩) قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ ----- بيان دزيرى وركول دجبرئيل دالله تعالىٰ دطرفنه دبچى-

(۲۰) قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ ---- بيان دتعجب دمريم چه ظاهری سبب نشته نو بچې به څنګه وی-
(۲۱) قَالَ كَذَٰلِكِ ---- بيان دپاکئ دالله رب العزت دمريم چه هم دغه شان ده چه تا خوا ته سرې ندي رسيدلي-
وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً لِلنَّاسِ ----- حکمت په پيدائش دعيسیٰ عليه السلام کنبې-
وَكَانَ أَمْرًا مَقْضِيًّا - دحکم پخيدل چه تبديلی پکښې نشته-
(۲۲) فَحَمَلَتْهُ ---- حمل او جدا کيدل دمريم-
(۲۳) فَأَجَاءَهَا الْمَخَاضُ ---- راتلل د دردِ دبچی دراوړلو په مريم- نو چه داحالات پرې راځی نو څنګه کارساز او متصرف اودعيسیٰ عليه السلام پيداکيږی نو چه څوک دبل نه پيدا کيږی نو څنګه به متصرف شی-
قَالَتْ يَا لَيْتَنِي ----- بيان دعجز دمريم-
(۲٤) فَنَادَاهَا مِنْ تَحْتِهَا ---- تسلی ورکول دجبرئيل عليه السلام مريم له-
قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا - انتظام داوبو-
(۲۵) وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلة ---- انتظام دخوراک-
(۲٦) فَكُلِي وَاشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا ---- دظاهری او باطنی تسلئ بيان-
فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا ---- دتهمت نه دبچ کيدلو طريقه او تدبير-
(۲۷) فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُ ---- راتلل دمريم قوم خپل له-
قَالُوا يَا مَرْيَمُ ---- بيان دتعجب دقوم -
(۲۸) يَا أُخْتَ هَارُونَ ---- بيان دزيادت تعجب دقوم چه دپلار اومور طرفنه پاکه څنګه داکار کولې شی-
(۲۹) فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ---- دمريم عليهاالسلام اشاره عيسیٰ عليه السلام ته کول-
قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ ---- دقوم حيرانيدل چه داپکښې لابل شرم داماشوم به څه خبرې اوکړی-

(۳۰) نه تر (۳۳) پورې بیان دعیسیٰ علیه السلام خپل حقیقت خودل او کارخودل او دموړپاکی اوصفائی او خپل احتیاج- نو چه ځوک داسې وی هغه ځنګه ابن الله وی هغه خو عبدالله دې الله تعالیٰ ته محتاج دې کارساز او متصرف ندې-

(۳٤) ذَلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ ---- ادخال الهی دوه آیتونه - الهی فرمان چه ده عیسیٰ علیه السلام حال ته اوګوره چه کوم تاسو واوریدلو نوهغه معبود ځنګه شو چه دوی دیکښې شک کوی-

(۳۵) مَا كَانَ لِلَّهِ أَنْ يَتَّخِذَ ---- دعوی دتوحید او رد دشرک چه ددې بیان نه دامعلومه شوه-

(۳٦) وَإِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ ---- بیان دتوحید په ژبه دعیسیٰ علیه السلام - نوهغه ځنګه اله کیدیشی-

(۳۷) فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِنْ بَيْنِهِمْ ---- نه تر (٤٠) پورې جواب دشبهې او تفصیلی یره او غفلت دظالمانو- دفع دشبهې چه بیا داابن الله وئیل دکوم ځائې نه راغلل نو جواب چه داروستو خلقو دضد دوجې نه اختلاف شروع کړلو-

فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ كَفَرُوا ---- یره داسې قسم خلقو چه سره ددلائلو نه او دعجز او عبدیت دخکاره کیدلو دعیسیٰ علیه السلام نه کفر کوی نودوی له هلاکت -

أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ ----- ددوی دآخرت حال - چه اوس خو ځان ړوند کونړکوی خو آخرت کښې به ورته پته اولږی-

(٤١) وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ ---- ددې ځائې نه تر (٥٠) پورې دریمه واقعه دابراهیم علیه السلام او دهغه عجز-

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ ---- بیان دمنصب دابراهیم علیه السلام -

(٤٢) إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ ---- اولنې دعوت دابراهیم علیه السلام پلار خپل ته چه دغیرالله عبادت پریږده هغه ستا دنفع او نقصان مالکان ندی-

(٤٣) يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي ----- دويم دعوت دابراهيم عليه السلام پلارخپل ته او پدې دعوت کښې مقام خودل او دخپلې اتباع ثمره خودل-

(٤٤) يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ ---- دريم دعوت دابراهيم عليه السلام اوپديکښې يره ورکول او منع کول داتباع دشيطان او دشيطان خباثت خودل-

(٤٥) يَا أَبَتِ إِنِّي أَخَافُ ---- څلورم دعوت يره ورکول-

(٤٦) قَالَ أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِي ---- دابراهيم عليه السلام دپلار ابراهيم عليه السلام ته جواب ورکول او دهمکی-

(٤٧) قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ ---- جواب او بائيکاټ دابراهيم عليه السلام -

(٤٨) وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ---- بائيکاټ دابراهيم عليه السلام دمشرکانو نه او دهغوی دمعبودان باطلو نه -

وَأَدْعُو رَبِّي ---- تضرع او عاجزی دابراهيم عليه السلام نو چه څوک الله تعالیٰ رامدد کوی نوهغه کارساز او متصرف نشی کيدې-

(٤٩) فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ ---- انعام اول دبائيکاټ اسحاق او يعقوب ملاويدل-

(٥٠) وَوَهَبْنَا لَهُمْ مِنْ رَحْمَتِنَا ---- انعام ثانی بچی او نوسی انبياء کيدل-

وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا - انعام ثالث تذکره دخيرپاتې کيدل په روستنوکښې -

(٥١) وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مُوسَى ---- ددې ځائې نه څلورمه واقعه دموسیٰ عليه السلام چه هغه ددې دعوت دپاره غوره کړې شوې وو نوڅنګه متصرف او کارساز شو-

(٥٢) وَنَادَيْنَاهُ ---- ملاويدل دنبوت موسیٰ عليه السلام ته- نوهغه له دا مقام مونږ ورکړې وو- نو هغه څنګه کارساز او متصرف شو-

(٥٣) وَوَهَبْنَا لَهُ مِنْ رَحْمَتِنَا ---- دااحسان په موسیٰ عليه السلام ماکړې وو نوهغه متصرف کيدلې نشی-

(٥٤) وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِسْمَاعِيلَ ---- پنځمه واقعه داسماعيل عليه السلام چه هغه هم الله تعالیٰ ته عاجز وو کارساز اومتصرف نه وو-

اِنه كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ --- (٥٥) وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ ---- يعنى هغه دالله تعالیٰ داحکامو پابند او دځان مالک هم نه وو-

(٥٦) وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ ---- شپږمه واقعه د ادريس عليه السلام اودهغه عجز- وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا -(٥٧) مشرکانو به ګمان کوو چه ددې دوجې هغه کارساز او متصرف وو نو جواب چه درجه هغه له مونږورکړې وه-

(٥٨) أُولَئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ----- دټولو انبياء کرامو عليهم الصلوٰة والسلام عجز او انکسارى چه موسیٰ،اسماعيل،ادريس عليهم السلام او نور انبياء کرام عليهم السلام ټول الله تعالیٰ ته عاجزان وو او جړل به ئې الله تعالیٰ ته-

(٥٩) فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ ---- دفع دشبهې چه ټول انبياء کرام عليهم الصلوات والتسليمات الله تعالیٰ ته عاجزان وو- " نو ***شرک از کجا آمد***"- دابلنه دغيرالله دکوم ځائې نه راغله؟ جواب چه داروستو نااهله راغلل نو هغوى مونځ يعنى بلنه دالله تعالیٰ برباد کړه- او د نفس مزو پسې روان شو-

فَسَوْفَ - سره تخويف يره-

(٦٠) إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ ----- ترغيب توبې ته-

فَأُولَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنة ---- نه تر (٦٣) پورې تفصيلى بشارت او خوشحالى منونکو ددې مسئلې ته او پرېخودونکې دشرک-

مَنْ كَانَ تَقِيًّا (٦٣) سبب دجنت تللو هغه ځان بچ کول دشرک نه دى-

(٦٤) وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ ---- ددې ځائې نه دويمه حصه دسورة په دوو آيتونو کښې ده پديکښې احوال دفرشتو چه فرشتې الله رب العزت ته عاجزان دى-

" عن ابن عباس رضـ : قال قال رسول الله ﷺ لجبرئيل عليه السلام مايمنعک ان تزورنا اکثرمما تزورنا قال فنزلت وما نتنزّل الّا بامرربک -" (بخارى حديث نمبر ٣٢١٨،٤٧٣١،٧٤٥٥)

(٦٥) رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ---- دعوى دتوحيد - ددواړو حصو نتيجه او ثمره ذکرکوی-چه انبياء عليهم السلام عاجزان وملائک عاجز نو معلومه شوه چه رب اومتصرف الله تعالیٰ دي-نو چه متصرف الله تعالیٰ دي نو " فاعبده" صرف ديو الله عبادت اوکړه-چه متصرف غير ګنړی نو بيا عبادت هم دغير کوی دمال اودبدن- ځکه نذر ونياز او بلنه بيا دغيرالله کوی نو چه متصرف دِ يو الله اوګنړلو نو عبادت به صرف ديو الله تعالیٰ وی ځکه چه دهغه دصفتونو پشان دچا صفات نشته دي - نو دي ناشکره ته ګوره ددلائلو په رنړا کښې دمنلو په ځائې څه کوی داسې بې انصافه دی-

(٦٦) وَيَقُولُ الْإِنْسَانُ ---- ددي ځائي نه دريمه حصه دسورة او پديکښې زجر اوتخويف مشرکانو ته او آخر کښې بشارت مومنانو ته- داتر آخر تر سورته پورې ده-

وَيَقُولُ الْإِنْسَانُ ---- زجر په انکار دقيامت - قرآن کريم داسې صفا بيان اوکړو چه نيکان بنديان ټول الله تعالیٰ ته عاجزان او ملائک هم عاجز دی بياهم دا مشرک انسان نه منی نو وجه دنه منلو هغه انکار دقيامت ده چه دقيامت نه منکردي نو قرآن زورنه ورکوی په انکار دقيامت باندې-

أَإِذَا مَا مِتُّ ----- تعجب او استبعاد دمشرک دقيامت نه -

(٦٧) أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنْسَانُ ---- جواب چه دابتداء نه معلوم کړه چه قيامت به راځی-

(٦٨) فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنهمْ ---- اثبات دقيامت په قسم- دايو دهغه سورتونو نه دي چه هغې کښې دقيامت په راتلو قسم شوې دي-

ثُمَّ لَنُحْضِرَنهمْ ---- نه تر (٧٢)جِثِيًّا پورې يره دآخرت چه دوزخ به دِ ځائې شی او ذليل به شي-

ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ (٧٢) دا مختصر بشارت اودعوت اجتناب دشرک چه بچ کيدل ددوزخ نه هغه په تقویٰ دشرک دی-

(٧٣) وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا ---- زجر په انکار دقرآن باندې چه مشرکين ددعوت دتوحيد يعنی دقرآن کريم نه انکار کوی- يعنی ددوی څه يو خباثت ندې-

قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- تهوقې دمشركينو په منونكو دتوحيد پورې-
(٧٤) وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ ----- نمونې دعذاب ددنيا يعنى دنيا پكار نه راځى مخكښې كافر ډير دنيادارو خوتباه شو-
(٧٥) قُلْ مَنْ كَانَ فِي الضَّلَالة ---- جواب داعتراض چه دااوسنى كافر الله تعالىٰ ولې نه تباه كوى نو جواب الله رب العزت مهلت وركړې دې اوحكمت دمهلت واځ چه زيات شى ګمراهئ كښې-
حَتَّى إِذَا رَأَوْا مَا يُوعَدُونَ ----- يره وركول چه دعذاب نه خلاصيدلې نشى يادنيا كښې يا قيامت كښې بيا به ورلره مال او لښكر فائده ورنكړى-
(٧٦) وَيَزِيدُ اللَّهُ الَّذِينَ ---- زيرې اوخوشحالى- په دې طريقې سره دكافر ګمراهى زياته شى او دمومن استقامت او كلكوالې او نيک اعمال- بدله به ورله وركړى-
(٧٧) أَفَرَأَيْتَ الَّذِي ---- زجرپه انكاردقرآن- كارته ئې اوګوره او ګمان ته ئې ګوره - تفصيلى زورنه تر آيت ٨٠ پورې او ورسره يره هم بيانوى چه ماله به راشې او مال به درسره نه وى-
(٨١) وَاتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ ---- زجر مشركانو ته په شرک باندې-
(٨٢) سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ ---- انجام دشرک چه خپل معبودان به دِ خلاف شى- نو ددې شيطان په خودنه او تعليم روان ئې راشه اومنه ګنى دوزخ به دِ ځائې شى-
(٨٣) أَلَمْ تَرَ أَنَّا أَرْسَلْنَا ---- وجه دشرک چه د شيطان اتباع ده-
(٨٤) فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ ---- تخويف-
(٨٥) يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ ---- بشارت مومنانو ته-
(٨٦) وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ ---- تخويف اخروى-
(٨٧) لَا يَمْلِكُونَ الشَّفَاعة ---- رد په زعم اوګمان دمشركانو چه مونږه به دجهنم نه ځمونږه الهه خلاص كړى نو جواب چه دالله تعالىٰ دخوښې نه بغير ځوک خلاصول نشى كولې دشفاعت قانون دې په هغه قانون به كيږى دمشرک دپاره نشته دې-

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا(۸۸) ددې نه تفصيلی زجر او رټنه مشرکانو ته په اتخاذالولد چه دمشرکانو زعم وو او ګمان وو چه دائمونږ الهه داللّٰه محبوبان او نیازولی دی داپه اللّٰه ډیر ګران دی ددوی دوجې اللّٰه خپله مرضی پریږدی نو داشفاعت قهری دې نوددې رد په عجیبه انداز کوی او ددې خبرې قباحت او خطرناکی خائی- تر ۹۲ آیت پورې-

لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا (۸۹) اول قباحت داتخاذالولد-

(۹۰) تَكَادُ السَّمَاوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنه - دویمه خطرناکی او قباحت-

وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ - دریمه خطرناکی او قباحت-

وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا - څلورمه خطرناکی او قباحت-

(۹۲) وَمَا يَنْبَغِي لِلرَّحْمَنِ ---- داللّٰه رب العزت ذاتی منصب هغه داتخاذالولد ندې-

(۹۳) إِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ ---- اصلی دعوی دسورة چه ټول مخلوق اللّٰه تعالیٰ ته عاجزان دی- تر ۹۵ پورې-

(۹۶) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ---- بشارت چه دادعوی اومنی او ددې مطابق عمل کوئ او نورو ته ئې رسوی نو هغوی ته خوشحالی-

(۹۷) فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ ---- ترغیب بیان ددعوې او قرآن ته چه اللّٰه رب العزت تاته آسان کړې دې نو بیان کړه- او مختصر یره-

(۹۸) وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ ---- نمونه دعذاب ددنیا چه ځوانی اللّٰه تعالیٰ دشرک دوجې هلاک کړی نو تاسو به هم هلاک کړی-

## حاصل دسورة

داللّٰه رب العزت غوره بندیان، نیکان بندیان،انبیاء کرام اوملائک ټول اللّٰه ته عاجزان دی نو کارساز او متصرف صرف یو اللّٰه تعالیٰ دې بل څوک نه - منکر ددې مسئلې په دنیا اوآخرت کښې معذّب او منونکی ددې مسئلې په دنیا اوآخرت کامیاب دی-

### امتيازات السورة

(۱) عجزدانبیاء کرام علیهم الصلوات والسلام په ناشنا انداز باندې-

(۲) عجز دملائکو-

(۳) قال انی عبدالله - بیان دماشوموالی دعیسیٰ علیه السلام -

(٤) انی اعوذ بالرحمٰن- پناه غوختل دمریم-

(٥) دعوات اربعه څلور دعوتونه دابراهیم علیه السلام خپل پلار ته-

(٦) واعتزلکم - بائیکاټ دابراهیم علیه السلام او انعامونه دبائیکاټ-

(۷) سلامتیا په انبیاء کرامو په مواطن ثلاثو کښې -(۱٥،۳۳)-

(۸) وان منکم الّا واردها - (۷۱) -

(۹) افرئیت الذی کفر- فخر د منکر په مال او دهغې جواب (۷۷)-

(۱۰) قباحت داتخاذالولد-

تمت سورة مریم بعون الملک الذی ملکه اکمل واتمّ

وانا مسجون فی سجن حیات آباد مینجوره سوات - ۱۷ شوال ۱٤۳۳ ه -

یوم الثلثاء ٤۹ : ۱۰ رات ٤ ستمبر ۲۰۱۲ ء -

سورة طٰهٰ مكية — نزولا (٤٥) مصحفا (٢٠) — ركوعات (٨) ايات (١٣٥)

بسم الله الرحمن الرحيم

### سورة طه

سورة طٰهٰ مکی سورة دې په نزول کښې (٤٥) نمبر دې (پنځه څلویښتم) پس دسورة مريم نه او په ترتيب مصحفی کښې ۲۰ نمبر (شلم ) دې پس دسورة مريم نه -

### مناسبت دسورة دمخکښې سره

**اوله وجه** : هرکله چه دعوی اصلی چه هغه توحيد فی العبادة دې په سورة الکهف کښې ثابته شوه په نفی علم الغيب دعزتمندو نيکانو بنديانو نه او په سورة مريم کښې ثابته شوه په نفی دتصرف دهغوی نه او په عجز دهغوی الله تعالیٰ ته نو په سورة طٰهٰ کښې ددې مسئلې تبليغ او دعوت ته ترغيب چه په بهادرئ سره اورسوه او که تکليفات راځی نوهغه برداشت کړه-

**دويمه وجه** : هرکله چه په سورة مريم کښې عجز دمصطفينؑ بيان شو چه ټول عاجزان وو الله تعالیٰ ته نو په سورة طٰهٰ کښې اووې اُبتلوابالمصائب يعنی په هغه نيکانو بنديانو مصائب او مشکلات راغلی وو نو که دا متصرف او کارساز وو نو مصائب به پرې نه وو راغلی- واقعه دموسیٰ عليه السلام دهغې دپاره مثال کوی- چه دفرعون دطرفنه پرې مشکلات راغلی وو-

### دعوی السورة

دسورة طٰهٰ محور او مرکزی مسئله هغه " تشجيع فی التبليغ " ده- يعنی دادعوی دتوحيد په بهادرئ سره اورسوه اوددې دپاره واقعه دموسیٰ عليه السلام ذکرکوی-چه هغه څنګه ظالم ،سرکشه بادشاه ته مسئله رسولې وه او څنګه سختې او مشکلات ئې برداشت

كړی وو ورسره کلکوالې دساحرانو نومسلمو هم ذکرکوی-چه هغوی همت نه وو بائللې او فرعون له ئې څنګه جواب ورکړې وو-۷۲ دعوی دسورة دويم دريم آيت کښې ذکرده-

## خلاصة السورة

دابتداء دسورة نه دقرآن کريم مقام او دراتللو مقصد او تسلی نبی عليه السلام ته ذکرکوی او دلائل عقليه او مسئله دتوحيد چه کومه د رسولو مسئله ده- بيا دبهادرئ دپاره واقعه دموسیٰ عليه السلام او معرکه دهغه دفرعون سره اوذکر دکلکوالی دساحرانو او دهغې نه روستو بشارت او تخويف دادآيت ۹ نه تر ۷٦ پورې- بيا دهغې نه روستو غضب او قهر دالله تعالیٰ په دشمنانو خپلو يعنې مسئله اورسوه ستادشمن دمسئلې به الله تعالیٰ تباه کړی-د ۷۷ نه ۷۹ پورې اوذکر دموسیٰ عليه السلام دبنی اسرائيلو سره يعنی چه کله الله تعالیٰ بنی اسرائيل ددشمن نه خلاص کړل نو موسیٰ عليه السلام سره ئې څه کړی دی او موسیٰ عليه السلام ترې څنګه مصائبو کښې مبتلاء شوې وو- داد۷۹ نه تر ۹۷ پورې - يعنی دختم تر آيت پورې-بيا ۹۸ کښې مسئله دتوحيد چه کومه درسولو مسئله ده اود ۱۰۰ نه تر ۱۱۲ ترختمه پورې تخويف اخروی او ۱۱۳،۱۱٤ کښې ترغيب قرآن ته او د۱۱۵ نه ۱۲۳ پورې واقعه دآدم علی نبينا ون اودابليس چه دالله حکم مه پريږده لکه چه ابليس پريخودلې وو نومردود شو او مه هيروه لکه چه آدم عليه السلام نه هير شوی وو- ۱۲۳ نه تر ۱۲۷ پورې قرآن کريم ته ترغيب ۱۲۸ کښې يره ددنيا بيا تسلی ۱۳۰ تزهيدمن الدنيا ۱۳۱ او تسلی بعدالبيان-

نوځه آيتونه به دتشجيع سره تعلق لری او څه ددعوی توحيد سره نورتبعی مضامين دی تفصيل به راشی ان شاء الله تعالیٰ- او خائسته عبارت دحضرت شيخ القرآن عليه الرحمة والغفران به په حاصل دسورة کښې اوليکلې شی-

## تناسب الايات ومقاصدها

(۲-۳) مَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآن ---- بيان دمقصد دنزول القرآن او تشجيع اوبهادری - يعنى قرآن كريم دې له ندې نازل شوې چه تاالله په تكليف كښې اوغورځوی-بلكه داتذكره اونصيحت او درسولو دپاره نازل شوې دې خو دامقصد او كار چه سر ته رسوې نو كه چرته پديكښې څه مصائب راشی نو برداشت ئې كړه-ځكه كه مقصدی كار كښې سړی ته مصيبت اورسی نو برداشت كول پكار دی -( بلغة الحيران،جواهرالقرآن)

دويمه طريقه دددې آيتونو داده چه نبی عليه السلام به ډيرزيات عبادت كولو نو الله رب العزت وائی چه قرآن كريم دې له ندې نازل شوې چه ته ځان په شخصی عباداتو كښې ډير ستړې كړې-بلكه داخو بل ته رسولو دپاره نازل شوې- په هغې كښې ځان ستړې كړه-اوكه تكليف راشی نو برداشت كړه-( شيخ الاسلام علامه ولی الله الشهيد رحمة الله تعالیٰ)

(٤) تَنْزِيلًا مِمَّنْ خَلَقَ الْأَرْضَ ---- دلته ترغيب قرآن ته چه دداسې بادشا كتاب دې اوتشجيع اوبهادری وركوی چه كه څه مصيبت راشی نوداقرآن دالله تعالیٰ دې چه خالق الكل او عالم الكل دې نودهغه په كتاب كښې دهغه دطرفنه مصيبت راغې نو څه دومره خبره نده-

*ہر کہ عاشق شد اگرچہ نازنین عالم است نازکی کے راست آید بارے باید کشید*

يعنی هرڅوک چه مئين شو نو اګر چه دټول عالم نيازبين ولې نه وی خودهغه نيازبين توب پكار نه راځی-مصيبت به برداشت كول غواړی-

الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى (٥) نه تر آيت " لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى(٨) پورې- مسئله دتوحيد او هغې باندې دلائل عقليه دوه دلائل دتصرف اودعلم ، حاصل ئې دادې چه دبادشاهۍ په تخت الله تعالیٰ ېخپله دې څوک ئې خپل نائب كړې ندې چه دبادشاهۍ څه حصه ئې هغه ته حواله كړی وی دزمكې او آسمان دټولو څيزونواختيارات هغه صرف ديو الله

تعالیٰ دی اوپه هرڅه عالم دې ستاسو حاجات ورته معلوم دی او ستاسو بلنې اوری نودداسې ذات پداسې مسئلې رسولو کښې تکلیف راشی نوبرداشت ئې کړه-
وَهَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ مُوسَى (٩) ددې ځائي نه تر (٩٨) پورې واقعه دموسیٰ علیه السلام ددو مقصدونو دپاره- یو داسې مسئله اورسوه او تکلیفات برداشت کړه لکه چه موسیٰ علیه السلام مسئله رسولې وه او تکلیفات ئې برداشت کړی وو نو په اعلاء دکلمة الله کښې مصائب برداشت کړه- دویم دعوې دتوحید سره ئې هم مناسبت دې چه کومه دعوی دتوحید ته بیانوې نو هغه دعوی دموسیٰ علیه السلام هم وه-
(١٠) إِذْ رَأَى نَارًا ----- دموسیٰ علیه السلام دنبوت ملاویدو واقعه - دادواقعې ابتداء ده تر (٤١) آیت پورې - پدیکښې اجتباء دموسیٰ علیه السلام یعنی نبوت ملاویدل اودهغه تربیت اومعجزې ورکول اودعاء کول اودعاء دموسیٰ علیه السلام دپاره دپوره کولو دبوج درسالت دالله رب العزت دهغه دعاء قبلول او امتنان په هغه باندې-
د (١٠) آیت نه تر (١٤) پورې نبوت ملاویدل او چه دکومې مسئلې دپاره دموسیٰ علیه السلام اجتباء کیدله چه هغه مسئله دتوحید وه دهغې بیان- یعنی هیڅوک ځما سره شریک فی العبادة مه جوړوه-ځکه متصرف او عالم صرف ځه یم-
(١٥) إِنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ ---- بیان دتیارئ دقیامت او حکمت په راتلو دقیامت کښې-
لِتُجْزَى : بشارت اوخوشحالی-
(١٦) فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنه ا ---- تلقین تیارئ ته او یره نه منونکو دقیامت ته-
(١٧) وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ ---- ملاویدل دمعجزو اوتربیت-
(١٨) قَالَ هِيَ عَصَايَ ---- جواب دموسیٰ علیه السلام او اوږدول دخبرې ځکه دمحبوب سره خبرې اوږدولې شی-
(١٩) قَالَ أَلْقِهَا يَا مُوسَى ---- دالله تعالیٰ په عصا کښې یوه بله فائده خودل-
(٢٠) فَأَلْقَاهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعَى - بیان دمعجزې-
(٢١) قَالَ خُذْهَا ---- واپس کیدل دهمسا خپل اصل شکل ته-

(٢٢) وَاضْمُمْ يَدَكَ إِلَى جَنَاحِكَ ---- ملاويدل ددويمي معجزې- په دوو نخو کښې حکمت دا چه په مار کښې تخويف او په دويمه کښې پړق نو بشارت اوخوشحالی-
(٢٣) لِنُرِيَكَ ---- (٢٤) اذْهَبْ --- بيان دحکمت دملاويدلو دمعجزاتو-
(٢٥) قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِي --- نه تر (٣٢) پورې بيان ددعاء دموسیٰ عليه السلام دپاره داداء کولو دذمه دارئ درسالت ددعاء حاصل چه کوم په ما کښې رکاوټ وی چه داختم شی چه هغوی ځما په خبره پوهه شی او دملګرتيا دهٰرون عليه السلام چه رور راسره ملګرې کړه-
(٣٣)،(٣٤) بيان دحکمت دملګرتيا دهٰرون عليه السلام چه مسئله دتوحيدډيره بيان شی- چه يوغلې کيږی نو بل بيانوی-
إِنَّكَ كُنْتَ بِنَا بَصِيرًا (٣٥) حواله کول دځان خپل الله تعالیٰ ته-
(٣٦) قَالَ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ ---- بيان دقبوليت ددعاء دموسیٰ عليه السلام -
(٣٧) وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ ---- ددې ځائې نه تر (٤١) واصطنعتک لنفسی پورې بيان دشميرلو دالله تعالیٰ احساناتو خپلو لره په موسیٰ عليه السلام باندې- يو دمور په زړه کښې غورځول چه دپيدائش نه بعد صندوق کښې بندکړه-يعنی دپيدائش نه روستو دحفاظت بندوبست(٣٨)- دويم ددشمن په کور کښې حفاظت- دريم دهرچاتاسره مينه کول-ځلورم تربيت په نګرانئ دالله تعالیٰ کښې(٣٩)- پنځم دفرعون دکور نه مور ته واپس کولو بندوبست کول چه دمور تسلی دِ اوشی- شپږم دقصاص دغم نه نجات درکول-اووم د مختلفو غمونو نه خلاصول - اتم په يو خاص نيټه د مدين نه واپسی (٤٠)- نهم اجتباء اوخوخول دپاره دمسئلې دتوحيد (٤١)-
(٤٢) اذْهَبْ أَنْتَ وَأَخُوكَ ---- بيان دابتلاء دموسیٰ عليه السلام دفرعون نه مصائب ئې برداشت کړل -دتبليغ په منصب فائز کول او دموسیٰ عليه السلام اودهٰرون عليه السلام دنبوت زندګی شروع کيدل-دادنبوت دزندګئ اول آداب دی-بيان فرعون ته مسئله بيانول هغه سره بحث کول بيا دفرعون دمناظرې تياری ساحرانو سره مقابله

دهغوی دمناظرې میدان کښې پره کيدل او ایمان راوړل او دهغوی کلک والې او تثبت او تخويف او بشارت داتر ۷۶ آیت پورې بیانیږی دهر تفصیل۔
(٤٢) اذْهَبْ أَنْتَ ---- حکم ملاویدل موسیٰ علیه السلام ته۔
بِآيَاتِي - معجزات به درسره وی۔
وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي - داهم ادب دې چه ځما دتوحید په بیان کښې به سستی نه کوئ۔
(٤٣) اذْهَبَا إِلَى فِرْعَوْنَ ---- چه دچا طرف ته ځې نودهغی دطغیان اوسرکشئ بیان۔
(٤٤) فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا ---- بل ادب - چه وینا نرمه پکار ده۔یعنی مسئله کښې سستی مه کوئ خو الفاظ دادب او نرم یعنی لهجه نرم او مسئله ګرم۔
لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ - بیان دفائدې د دعوت -
(٤٥) قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ ---- بیان دعذر کولو دموسیٰ علیه السلام چه سرکشه دې نو کیدیشی دسره مسئلې ته غوږ اونه نیسی یا پس داوریدلو به زیاتې اوکړی۔
(٤٦) قَالَ لَا تَخَافَا --- دالله تعالیٰ عذر دموسیٰ علیه السلام ختمول په ملګرتیا او معیت خپل۔
(٤٧) فَأْتِيَاهُ فَقُولَا إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ ---- دمسئلې دتوحید سره دویم مشن موسیٰ علیه السلام ته حواله کول چه هغه آزادی دقوم ده۔ راتلل دموسیٰ علیه السلام او مسئله بیانول۔
قَدْ جِئْنَاكَ بِآيَةٍ ---- اظهار دمعجزې - وَالسَّلَامُ --- سره خوشحالی منونکو ته۔
(٤٨) إِنَّا قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَا ---- سره یره تخويف نه منونکو ته۔ یعنی اومنه نو بچ به شې او که انکار دِ اوکړو نو تباه به شې۔
(٤٩) قَالَ فَمَنْ رَبُّكُمَا ---- دفرعون جواب او ځان ناشنا کول د معرفت دالله تعالیٰ نه -
(٥٠) قَالَ رَبُّنَا الَّذِي ---- دعوی دتوحید۔ یعنی دموسیٰ علیه السلام هغه معرفت دالله تعالیٰ کول په آسان انداز - چه پیداکول او مخلوق له روزی ورکول دا کار دالله تعالیٰ دې نوکارساز صرف هغه دې۔

قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُونِ الْأُولَى (٥١) دفرعون سياست او جنګ جوړول دمسئلې دتوحيد او مقصد نه په بل طرف دموسیٰ عليه السلام مخه ګرځول-

(٥٢ )قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي ---- دموسیٰ عليه السلام هوښيارتيا او په چال فريب دفرعون پوهيدل اوځان بچ کول او په هغې کښې هم معرفت دالله تعالیٰ کول-

(٥٣) الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا ...... اول دليل عقلی په توحيد-

(٥٤) كُلُوا وَارْعَوْا أَنْعَامَكُمْ ---- دويم دليل عقلی په توحيد-

(٥٥) مِنها خَلَقْنَاكُمْ ---- دريم دليل عقلی په توحيد-ددريواړو حاصل دادې چه خالق صرف يوالله تعالیٰ دې-چه چاکښې عقل وی نوپدې پوهيږی ديکښې پټه فرعون ته اشاره دبې عقلئ اوشوه او ورسره په آخری دليل کښې يره دقيامت نه هم بيان شوه-

(٥٦) وَلَقَدْ أَرَيْنَاهُ آيَاتِنَا ---- دفرعون په انکار کلکيدل او دهرې معجزې نه انکارکول-

(٥٧) قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا ---- دفرعون يوبل فريب او چال خلاف دموسیٰ عليه السلام چه دې دحکومت اوږې دې او حکومت په لاس کښې اخلې- اودا دهر باطل پرست قانون وی او حق پرست په ځان قياس کوی خپله داسې وی نو په بل هم داسې ګمان کوی ليونې په هرچا دليونی ګمان کوی-

(٥٨) فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِثْلِهِ ---- دفرعون موسیٰ عليه السلام له دمناظرې اومقابلې دعوت ورکول- اودمناظرې شروط ترې هم معلوميږی-يووخت او ځائې به مقرر وی په موعد ټکی کښې اشاره ده- دويم چه خلاف به نه کيږی دهغې نه - دريم سوىً فاصله دمکان به هم برابروی او څلورم علم کښې به هم برابر وی چه دواړو ته معلوم وی-

(٥٩) قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّينة ---- دموسیٰ عليه السلام چيلنج قبلول او ورځ مقررکول داختر چه خلق اوزګار وی اوډير راشی- ځکه دموسیٰ عليه السلام مقصد صرف دملانو جنګ ندې لکه اوس وائی چه په کمره کښې به افهام او تفهيم اوکړو دموسیٰ عليه السلام مقصود هغه اظهار حق دې نو چه خلق ډير وی نوحق به ډيرو ته خکاره شی-

(٦٠) فَتَوَلَّى فِرْعَوْنُ ---- دفرعون دمناظرې دپاره تيارې كول-
(٦١) قَالَ لَهُمْ مُوسَى ---- يره وركول دموسیٰ عليه السلام خپل مقابلينو ته - يعنى حق پرست له پكار دى چه خپل مقابل له دعوت وركړى او بيان ورته اوكړى اوپه هغه خفه شى چه دحق مقابله كول افتراء ده تباه به شئ-
(٦٢) فَتَنَازَعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنهمْ ---- دساحرانو خپلو كښې اختلاف كول او جرګه پټه ساتل-
(٦٣) قَالُوا إِنْ هَذَانِ لَسَاحِرَانِ ---- دساحرانو خلقو له اعتماد وركول چه مونږ‌پېدې جرګه اوكړه-
(٦٤) فَأَجْمِعُوا كَيْدَكُمْ ---- خلقو له دكاميابئ اميد وركول-
(٦٥) قَالُوا يَا مُوسَى إِمَّا أَنْ تُلْقِيَ ---- دمناظرې شروع كيدل اودساحرانو دموسیٰ عليه السلام ادب كول- ځكه دوى دهغه حقيقت معلوم كړې وو او مفسرين وائى چه داادب سبب دايمان شو-
(٦٦) قَالَ بَلْ أَلْقُوا ---- دموسیٰ عليه السلام هغوى ته د اظهار سحر حكم كول او دادسحر اجازت نه وو- بلكه باطلول وو چه دوى پيش كړى چه ځه ئې ختم كړم لكه ته يو باطل پرست ملا ته اووائې چه پيش كړه خپل دليل- ګويا كه داسې ده لكه زجر او زورنه -
فَإِذَا حِبَالُهُمْ ---- دساحرانو اظهار دسحر-
(٦٧) فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ ---- دهغوى د جادو دغښوالى نه ده موسیٰ عليه السلام زړه ته يره راتلل-
(٦٨) قُلْنَا لَا تَخَفْ ---- دالله رب العزت تسلى وركول او دغلبې بشارت-
(٦٩) وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ ---- دالله رب العزت تدبير خودل- اوختميدل دسحر دساحرانو اودهغوى ناكامى-يره ددنيا شوه چه باطل پرست نه كاميابيږى-
(٧٠) فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا ---- دساحرانو ايمان راوړل-

(۷۱) قَالَ آمَنْتُمْ لَهُ ---- دفرعون ساحرانو ته خطاب اودخلقو دهوکه کولو دپاره فریب چه موسیٰ علیه السلام ددوی مشراستاذ دي-

فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ ---- دهمکی دسزا ورکولو -

(۷۲) قَالُوا لَنْ نُؤْثِرَكَ ---- دساحرانو تثبت- داسې کلک شه لکه چه دغه نومسلم کلک شوی وو-

فَاقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ ---- یعنی ستا فیصله به صرف ددنیا ژوند ختم کړی-

(۷۳) إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا ---- دساحرانو دخپلې مناظرې اوسحر بخښنه غوختل په وسیله دایمان باندې او امید دمغفرت دالله تعالیٰ نه -اودفرعون جواب چه " والله خير " هغه وئیلی وو " لتعلمن "-

(۷٤) إنه مَنْ يَأْتِ رَبَّهُ ---- یره دآخرت دعذاب نه قانون الهی ذکرکول-

(۷۵)-(۷٦)وَمَنْ يَأْتِهِ مُؤْمِنًا ---- تر مَنْ تَزَكَّى پورې - خوشحالی منونکو ته دجنت اودحصول طریقه ځان پاکول-

(۷۷) وَلَقَدْ أَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى ---- ددې ځائې نه تر ۷۹ پورې غضب الله علی الاعداء یعنی الله تعالیٰ خپل دشمنان څنګه تباه او برباد کړل نورې نمونې لکه سامری هم تباه شو تر ۹۷ پورې-

(۷۷) موسیٰ علیه السلام ته طریقه خودل-

فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ ---- (۷۸) دفرعون دموسیٰ علیه السلام پسې روانیدل اودهغه اودهغه دقوم تباه کیدل-

(۷۹) وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُ ---- دفرعون دمشن انجام ضلالت-

(۸۰) يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ قَدْ أَنْجَيْنَاكُمْ ---- اوس دموسیٰ علیه السلام ددعوت او تبلیغ دویم رخ چه هغه دبنی اسرائیل سره دی یعنی دموسیٰ علیه السلام دهغوی دطرف نه مصائب برداشت کول دخپلو دطرفنه هم مصائب راغلی وو-امت اجابت پس د امت دعوت نه -

يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ ---- احسان دالله تعالیٰ په بنی اسرائیلو په هلاکت ددشمن او په ملاویدلو دقانون او ورکول دمن او سلویٰ۔

(۸۱) كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ ---- ادب بنی اسرائیلو ته چه استعمال دنعمتونو دالله تعالیٰ سره نافرمانی دالله تعالیٰ مناسب نده۔

وَمَنْ يَحْلِلْ ---- تخویف۔

(۸۲) وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِمَنْ تَابَ ---- دعوت توبې ته او بشارت۔

(۸۳) وَمَا أَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ ---- دموسیٰ علیه السلام دتورات اغستلوله په تلواره تلل چه قوم مِ جداشو قانون ورله پکار دې۔ دالله رب العزت تپوس کول۔

(۸٤) قَالَ هُمْ أُولَاءِ عَلَى أَثَرِي ---- دموسیٰ علیه السلام اطمینان خکاره کول چه ځما قوم ځما په طریقه او نقش صحیح روان دی۔ څه دشکریې اداکولو دپاره په تلواره راغلم چه تا ځمونږدشمن تباه کړلو۔

(۸۵) قَالَ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ ---- دالله تعالیٰ خبرول دموسیٰ علیه السلام دکید او چل دسامری نه ۔ او ابتلاء دموسیٰ علیه السلام دخپل قوم نه ۔

(۸٦) فَرَجَعَ مُوسَى إِلَى قَوْمِهِ ---- واپس کیدل دموسیٰ علیه السلام قوم ته خفه اوغصه۔

قَالَ يَا قَوْمِ ---- بیان دموسیٰ علیه السلام خپل قوم ته۔

(۸۷) دقوم جواب ورکول او خپل عذر او بهانه مخې ته کول۔

(۸۸) فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا ---- چل اوفریب دسامری۔ او زورنه چه سخې ښنګه خدائې شو۔

(۸۹) أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ ---- بیان دزورنې دوی ته۔ زجرورکوی چه سخی کښې دخدائتوب صفت کوم دې۔ یعنی اله هغه وی چه هغه متصرف او نافع اوضار وی اوداسخې خوداسې ندې نو ښنګه اله شو۔

(۹۰) وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَارُونُ ---- دعوت ورکول دهرون علیه السلام دوی ته اوخبرول په ګمراهئ باندې اودعوت دتوحید ورکول اودخپلې اتباع ۔

(٩١) قَالُوا لَنْ نَبْرَحَ عَلَيْهِ ---- دقوم ددعوت رد کول او انتظار دموسیٰ علیه السلام کول -
(٩٢) قَالَ يَا هَارُونُ مَا مَنَعَكَ ---- راواپس کيدل دموسیٰ علیه السلام اواول خپل رور نه ځان خبرول اوهغه ته زورنه ورکول چه ګنی ده ددعوت کارندې کړې-
(٩٤) قَالَ يَبْنَؤُمَّ ---- دهٰرون علیه السلام هغه په حقیقت حال پوهه کول - چه دجنګ جوړیدلو خطره وه-
(٩٥) قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَا سَامِرِيُّ ---- دموسیٰ علیه السلام په حقیقت حال پوهیدل او اصل مجرم او مضر ته توجه کول-
(٩٦) قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا بِهِ ---- دسامری جواب ورکول چه ماستاپه تابعدارئ دډلې اوډپارټئ جوړولو طریقه زده کړې وه- دوی نه وه زده کړې ماخه غرض له تابعداری کوله چه غرض مې پوره شو نو تابعداری درسول مې پریخودله او داځما نفس ماته خائسته کړې وه-
(٩٧) قَالَ فَاذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيَاةِ ---- زجر ورکول دموسیٰ علیه السلام هغه په شرک او اتخاذالاٰلهة باندې او یره دعذاب بیانول چه دا دډلې کوشش کولو نو په داسې مرض به اخته شې چه څوک به دِ خواله نه راځی اودآخرت عذاب دځان له وې -
وَانْظُرْ إِلَى إِلَهِكَ ---- دباطل اِلٰه انجام چه دشرک جرړې غوڅې شی-
(٩٨) إِنَّمَا إِلَهُكُمُ اللَّهُ ---- بیان ددعوی دتوحید داهغه مسئله ده چه دهغې دپاره موسیٰ علیه السلام مصائب برداشت کول دواړه مسئلې بیانوی چه کارساز متصرف هم الله تعالیٰ دې او عالم بکل شيئ هم الله تعالیٰ دې-
(٩٩) كَذَلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ ---- صداقة الرسولﷺ - چه ته حق پیغمبر ئې ځکه ته څمونږ په بیانولو دا واقعات بیانوې چه مخکښې تاته نه وو معلوم لهٰذا مسئله اورسوه-
(١٠٠) مَنْ أَعْرَضَ عَنه --- نه تر إِلَّا يَوْمًا(١٠٤) پورې انکار کونکو معرضینو ته یره دآخرت اوجهنم چه ستا ددعوت نه انکارکوی نو جهنم به ئې ځائې شی بیا به ارمان کوی-

(١٠٥) وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ ---- هركله چه دقيامت تذكره اوشوه نومشركان به كيديشى اعتراض اوكړى چه ددې غرونوبه څه كيږى داغې غټ غرونه به چرته ځى نودهغې جواب تر (١٠٧)وَلَا أَمْتًا پورې- او يا به وائى چه دغرونو شاته او غرونو كښې پټ شو نو جواب :

(١٠٧) يَوْمَئِذٍ يَتَّبِعُونَ الدَّاعِيَ ---- دابيا ترهيب او يره ذكركوى-

(١٠٩) يَوْمَئِذٍ لَا تَنْفَعُ الشَّفَاعة ---- رددشفاعت قهرى او مشركانودزعم باطل رد چه مونږ به ځمونږ الٰهه خلاص كړى-

(١١٠) يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ ---- دليل عقلى په توحيد چه عالم په هرڅيز الله تعالىٰ دې نو ستاسو هرڅه هم الله تعالىٰ معلوم دى-

(١١١) وَعَنَتِ الْوُجُوهُ ---- ذلت دمخلوق دالله مخې ته-

وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا - يره-

(١١٢) وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ ---- بشارت

(١١٣) وَكَذَلِكَ أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا ---- ترغيب قرآن ته چه دكاميابۍ لار صرف داده نو دې قرآن له راشئ- پدې به خلاص شئ-

لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ - فائده دبيان دقرآن-

(١١٤) فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ---- دعوى توحيد قرآن دامسئله بيانوى- اوخلاصه شوه چه " فتعالىٰ الله عمايشركون "- مالک هغه دې- او اوچت اوعالى شان هغه ذات دې دهغه دشان څوک برابر نشته دې-

وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْآنِ ---- ترغيب تبليغ اورسولو دقرآن ته- دنسيان دوجې نه د جبرئيل سره رو رو وئيل هم مشقت دې نو تلوار مه كوه- دعاء كوه الله تعالىٰ به درنه نه هيروى-

(١١٥) وَلَقَدْ عَهِدْنَا إِلَى آدَمَ ---- ددې ځائې نه تر ١٢٣ پورې واقعه دآدم عليه السلام ذكركوى- اشاره ده چه مسئله اورسوه تكاليف به راځى برداشت كړه- لكه موسىٰ عليه

السلام چه برداشت کړې دالله تعالیٰ انقیاد مه پرېږدئ لکه ابلیس چه پرېخودې وو اومه ئې هیروئ لکه چه آدم علیه السلام نه هیر شو نوهغه ته تکلیف اورسیدلو-

(١١٥) دابتداء نه واقعه بیان داعتذار دآدم علیه السلام چه دهغه نه څه شوی وو نوهغه په هیره شوی وو دقصده نه وو نو په هیره سره عصمت ته نقصان نه رسیږی-

(١١٦) وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا ---- بیان تعظیم آدم علیه السلام او انکار دابلیس-

(١١٧) فَقُلْنَا يَا آدَمُ ---- نه تر وَلَا تَضْحَى (١١٩) پورې بیان دمیلمستیا دآدم علیه السلام په جنت کښې او خبرول ددشمنئ دشیطان نه -

(١٢٠) فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ ---- وسوسه غورځول دشیطان آدم علیه السلام ته او چل او فریب دهغه-

(١٢١) فَأَكَلَا مِنها ---- دآدم علیه السلام دشیطان په وسوسه دهوکه کیدل او هغه شجره ممنوعه خوړل-

وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ ---- صورت دعصیان وو عصیان نه وو - یعنی حکم ئې ترسره نه کړو-نو ستړې شو-

(١٢١) ثُمَّ اجْتَبَاهُ رَبُّهُ ---- دآدم علیه السلام دژړا اودفریاد دوجې نه دهغه نور قبولیت مخکښې هم دهغه اجتباء وه خودعبادت اوس ورسره دندامت هغه هم شوه نواجتباء نوره هم سوا شوه-

(١٢٣) قَالَ اهْبِطَا مِنها جَمِيعًا ---- دالله رب العزت آدم علیه السلام دشریعت اودتکلیف ژوند له رالیګل-

فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ ---- بشارت هم ددنیا هم دآخرت په سبب داتباع -

(١٢٤) وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي ---- ددې ځائې نه تر أَشَدُّ وَأَبْقَى(١٢٧) پورې تخویف او یره په نه منلو دقرآن باندې- هم یره ددنیا یادبرزخ او هم دآخرت-

(١٢٩) فلولا كلمة سبقت ---- یره ددنیا اودهغې نمونې چه تاسو نه ګورئ عبرت نه اخلئ-

أَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ ---- دفع دشبهې چه دې اوسنو کافرو له الله ولې عذاب نه ورکوی-جواب وخت مقرر دې-

(١٣٠) فَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ ---- تسلی او تلقین دصبر چه دوی بدې ردې وائی او بکواس کوی نودهغې برداشت کوه-

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ ---- صبرکول ګران دی نوبیان دامورمصلحو چه پدې باندې به آسان شی- اودعوی دتبلیغ هم دغه ده-

(١٣١) وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ ---- تزهید من الدنیا - یعنی مسئله خه په بهادرئ اورسوه ددوی مال او دولت طرفته توجه مه کوه-

(١٣٢) وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ ---- ددنیا دمحبت علاج چه تالره دې طرفته توجه پکارده نه که ددنیا طرفته-

(١٣٣) وَقَالُوا لَوْلَا يَأْتِينَا بِآيَةٍ ---- مطالبه دمعجزې چه ته بیان کوې نودوی به مطالبه دمعجزې کوی-

أَوَلَمْ تَأْتِهِمْ بَيِّنَة ---- جواب چه ستاداپخوانی واقعات بیانول دادصداقت نخه نده څه ؟ چه دوی نورې معجزې طلب کوی-

(١٣٤) وَلَوْ أَنَّا أَهْلَكْنَاهُمْ ---- حکمت دارسال الرسل- چه الله تعالیٰ دبیان اوتبلیغ دپاره انبیاء کرام علیهم السلام ځکه رالیږلی دی چه دخلقو عذر اوبهانه ختم کړی-

(١٣٥) قُلْ كُلٌّ مُتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوا ---- دوی ( مشرکان اونه منونکی) وائی چه لګیا به وی مړبه شی نوخلاص به شو ترې نه - نوجواب چه تاسو هم دیوخبرې انتظار کوی نوکوئ وخت راروان دې- یاځنوبه وې ګورو چه اوښ په کومه ډډه سملی نو جواب پته به اولګی-

## حاصل دسورة

حضرت شيخ القرآن عليه الرحمة والغفران چه په سمط الدرر كښې دعوى دسورة بيانوى نوحاصل دسورة په يوعجيب انداز پيش كوى هغه دعربئ عبارت ډير عجيبه دې هغه اوبيا ئې تفصيلى تشريحى ترجمه وړاندې كولې شى۔

" فاثبتوا وبلّغوا ولاتكونوا تاركين لانقياده ولاساهين ناسين منه كيف وقد نسى ابوكم آدم عليه السلام مامر به فاصابه مااصاب "

" يعنى مسئله دتوحيد په بهادرئ اورسوئ او مصائب برداشت كړئ لكه چه موسىٰ عليه السلام برداشت كړى وو كه دخپلو نه وى او كه دپردو نه وى او كلك شئ لكه چه ساحران كلك شوى وو اودالله تعالىٰ حكم مه پريږدئ لكه چه ابليس پريخودلې وو اومه ئې هيروئ لكه چه ستاسو دبابا آدم عليه السلام نه هير شوى وو نوهغه ته پريشانى رسيدلې وه " -

ځمااستاذ محترم شيخ القرآن والحديث مولانا ميرسميع الحق صاحب چه دحضرت شيخ القرآن رحمه الله په مشرانو اوزړو شاګردانو كښې دې او دومره وخت ورسره بل شاګردندې تيركړې الله تعالىٰ دِ ورلره صحت نصيب كړى او عمر كښې دِ ورلره بركت واچوى هغوى به فرمائيل چه داحاصل دسورة دې كه په سورة كښې دې بل څه اوموندل نو چه بيا راته څه وائى نو اوايه دومره غټ سړې وو حضرت شيخ القرآن -"

## امتيازات دسورة

(۱) كه دقرآن په رسولو كښې تكليف راشى نو څه دومره غټه خبره نده۔

(۲) په تشجيع باندې تفصيلى واقعه دموسىٰ عليه السلام -

(۳) قال رب اشرح لى - ۲۵ داداء الرسالة دپاره دعاء كول۔

(٤) فما بال القرون - ۵۱ فريب دباطل پرست چه دمسئلې نه به دِ اړوى۔

(۵) شروط اوآداب دمناظرې ۵۸،۵۹

(٦) فاقض ماانت قاض- ٧٢ دساحرانو تثبت او جواب فرعون ته-

(٧) ذكر دفريب دسامری اودهغه سزا ٩٦،٩٧-

(٨) ربّ زدنی علما- دعاء دزيادت دعلم دپاره- ١١٤ -

(٩) فنسی ولم نجد لهٗ عزما- ١١٥، تصريح په نسيان دآدم عليه السلام او عصمة دهغه-

(١٠) ومن اعرض عن ذكری- ١٢٤ ، دقرآن دمعرض تنګی د ژوند-

تمت سورة طٰهٰ بعون الله تعالیٰ ، ١٨ شوال المعظم ١٤٣٣ ه -

٥ ستمبر ٢٠١٢ ء يوم الاربعاء ، بوقت عشاء ٢٢ : ١٠ -

ځه په جيل كښې قيديم - انتهائی پريشان يم ځكه دمدرسې داخلې شروع دی او ځه دطلباء كرام دخدمت نه محروم او هروخت مِ مدرسه ، طلباء او ملګری ،استاذان او مور په زړه راوريږی-

حاشا لمجدک ان تقنط عاصيا

الفضل اجزل والمواهب اوسع

دالله تعالیٰ نه اميد لرم چه ان شاء الله تعالیٰ په خپل رحم وكرم مِ ډير زر ددې مصيبت نه خلاص كړی الله تعالیٰ دِ اوكړی- آمين-

سورة الأنبياء مكية — نزولا (۷۳) مصحفا (۲۱) — ركوعات (۷) ايات (۱۱۲)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة الانبياء

سورة الانبياءمكی سورة دي په نزول کښې (۷۳) درې اويايم نمبردې پس دسورة ابراهيم نه او په ترتيب مصحفی کښې يويشتم (۲۱) نمبردې پس دسورة طٰهٰ نه -

## مناسبت دمخکښې سورة سره

**دربط اوله وجه** : دا سورة دسورة الکهف نه تردې ځائې پورې دټول سورتونو نچوړ اوخلاصه ده هغه داسې چه هرکله په سورة الکهف کښې نفی دعلم الغيب اوشوه دمقربينو نه او په مريم کښې اووئيل چه داټول الله تعالیٰ ته عاجزان وو او په طٰهٰ کښې اوئيل چه ابتلاء به راځی غم مه کوه دامسئله په بهادرئ سره اورسوه نودلته وائی چه ټول نيکان بنديانو به ځمونږبندګی کوله او ځمونږ نه به ئې حاجات غوختل آيت ۹۰ چه " کانوالناخاشعين "-

**دويمه وجه** : په سورة الانبياء کښې اکرام الانبياء بعدالابتلاء ذکرکوی چه طٰهٰ کښې اووې چه ابتلاء به راځی نودلته وائی چه دابتلاء نه روستو الله تعالیٰ عزت ورکوی-

**دريمه وجه** : مخکښې سورة طٰهٰ کښې اووئيل چه مسئله اورسوه نو په سورةالانبياء کښې مشرکينو اوغافلينو دتوحيد ته انذار اوتخويف-

**څلورمه وجه** : په سورة الکهف کښې نفی دشرک فی العلم اوپه سورة مريم کښې نفی دشرک فی التصرف اوپه طٰهٰ کښې تشجيع نو دلته نفی دشرک فی الدعاء اونفی دشرک فی العبادة دپاره دتکميل دماسبقه سورتونو نوداسورة دمخکښې سورتونو تکميل ياتفريع

چه غير په غيبو نه پوهيږی-اوکارساز اومددګار ندی-نوصرف دغه يوالله تعالیٰ په حاجاتو کښې رامدد کړئ اوصرف دهغه عبادت اوکړئ-
**خبرداړ :** داوجې دربط اګرچه په سمط الدرر کښې نشته دې خولږپه دقيق نظرسره ترې نه معلوميږی ځکه دلته اوليکلې شوې-

## دعوی دسورة الانبياء

سورة الانبياء چه دکومې مسئلې نه چاپيره ګرځی اودهغې خدمت کوی نوهغه مسئله ده - نفی دشرک فی الدعاء چه غائبانه حاجاتو يعنی مافوق الاسباب اموروکښې مدد صرف ديو الله تعالیٰ نه اوغواړئ-او صرف يودهغه بلنه اوکړئ ددې خدمت په دوو خبرو کوی په انذاز اوزجر مشرکينو او غافلين دتوحيد ته اوپه اکرام دمستيجيبينُ يعنی چه چا دالله تعالیٰ نه مددغوختلې دې نوالله رب العزت دهغوی اکرام کړې دې- دعوی په ۹۰ کښې ذکرده-

## خلاصه اوتقسيم دسورة

تفصيل دخلاصې خوبه په تقسيم کښې راشی-خولنډه خلاصه داسې ده چه د ابتداء نه يره دآخرت او زورنه په انکاردقرآن اودنبی عليه السلام اويره ددنياذکرکوی بيادلائل عقليه په مسئله دتوحيد او نقلی دفرشتو نه اوداجماعی دانبياء کرامو عليهم السلام نه او بيازواجر اودلائل عقليه يره ددنيا اوآخرت بيا تفصيلی احوال دانبياء کرامو عليهم الصلوات والتسليمات اودهغوی اکرام - بيا ختم دسورة دابتداء په مضامينو چه يره اوبشارت اوزورنې زواجردی-

## تقسيم دسورة

داسورة منقسم دې شپږوبابونو ته- يعنی دا سورة دامسئله په شپږو اندازونو بيانوی - شپږسبقونه دی-

اجمالاً داسې: اول باب دابتداء نه تر ۱۵ " خٰمدين " پورې-
دويم باب د۱٦ " وماخلقنا السماء " نه تر ۲۹ " نجزى الظلمين " پورې-
دريم باب د ۳۰ " اولم يرالذين " نه تر ٤۷ " پورې " كفىٰ بناحٰسبين "-
څلورم باب " ولقد اتينا موسىٰ" ٤۸ نه تر ۹٦ " انهم لايرجعون " پورې-
پنځم باب د ۹۷ " حتى اذافتحت " نه تر ۱۰٤ " كنا فعلين " پورې-
شپږم باب د " ولقد كتبنا فى الزبور " ۱۰۵ نه تر آخره پورې-

**تفصيل ددې بابونو**

باب اول : اولنې سبق اولنې باب دابتداء نه تر ۱۵ آيت " خٰمدين " پورې پديكښې اول تخويف اخروى اول آيت كښې بيا ددويم نه تر اتم پورې زجر په انكار دقرآن اوپيغمبر اودفع دشبهاتو اوپه انكار دتوحيد اوپه نهم آيت كښې ترغيب توحيد اوقرآن ته بيا د ۹ نه تر ۱۵ پورې تخويف دنيوى-
دويم باب : دويم سبق د۱٦ آيت نه تر ۲۹ آيت ترختمه پورې " نجزى الظلمين " پديكښې اووه امور ۱٦،۱۷،۱۹ كښې دلائل عقليه په ۱۹،۲۰ كښې نقلى دفرشتو نه ،اورد په مشركينو په ۲۸،۲٦،۲٤،۲۲،۲۱ كښې- ترغيب قرآن ته ۲٤ كښې او نقلى دليل اجماعى دټولو انبياء كرامو عليهم الصلوات والتسليمات ۲۵ كښې - نفى دشفاعت قهرى ۲۸ كښې- او الزام په مشركينو ۲۹ كښې-
دريم باب : د ۳۰ آيت نه تر ٤۷ پورې- پديكښې دلائل عقله ۳۰،۳۱،۳۲،۳۳،٤۲ د مخكښې نه په ترقئ باندې- تخويف دنيوى ٤٦،٤۵،٤٤،۳۵،۳٤ -زجر په انكار درسالت او قرآن ۳٦،۳۷ - زجر په انكاردتوحيد ٤۳- تخويف اخروى ۳۹،٤۰-٤۷ تسلى ٤۱ -
څلورم باب : د ٤۸ نه تر ۹٦ پورې پديكښې دلائل نقليه په دعوى دسورة په ذكرداحوال دانبياء كرام عليهم الصلوات والتسليمات او په عاجزئ دهغوى الله تعالىٰ اودهغوى دادعوى قبلول اودهغوى عاجزى قولاً او فعلاً اومجاهده دهغوى دتوحيد دپاره-

تقريباً اتلس انبياء كرام ذكر كوی- ترغيب په ٥٠ کښې - رد په دليل دمشرکانو ٩٠،٧٣،٥٣ کښې دعوی دتوحيد او ختم هم پدې دعوی باندې ٩٢ کښې اودخلقو اختلاف ٩٣ کښې-
پنځم باب : د ٩٧ نه تر ١٠٤ پورې- پديکښې تخويف او زجر او بشارت مومنانو ته-
شپږم باب : داباب د١٠٥ نه تر آخره پورې - پديکښې بشارت دنيوی اودعوی اصلي په ١٠٨ او١١٠ کښې ترغيب قرآن ته ١٠٦ کښې او اتباع دپيغمبر ته او تخويف په آخر کښې لکه چه په ابتداء کښې وه نو شروع چه په څه وه نوختم هم په هغې سره-
ديادولو دپاره دبابونو لنډ حاصل : اولنې باب ١٥ پورې او پديکښې تخويف اخروی او دنيوی اوزجر په نه منلو دقرآن او رسالت-
دويم باب د١٦ نه تر٢٩ پورې پديکښې دلائل عقليه او نقلي دفرشتو نه او اجماعي دانبياء نه او رد په مشرکينو-
دريم باب د٣٠ نه تر ٤٧ پورې پديکښې دلائل عقليه دمځکښې نه په ترقئ او زجر او تخويف دنيوی او اخروی-
څلورم باب د٤٧ نه تر ٩٦ پورې پديکښې دلائل نقليه تذکره د ١٨ انبياء کرامو او دعوی دسورة چه " کانوا لناعابدين " او " يدعوننا رغبا ورهبا وکانوالنا خاشعين "-
شپږم باب د١٠٥ نه تر آخره پورې پديکښې اصل دعوی بشارت دنيوی او تخويف نه منونکو ته پشان دابتداء دسورة-
حضرت شيخ القرآن رحمه الله تعالیٰ به ددې سورة په آخر کښې دټولو مضامين حاصل ليکلې دې- (١) چه دعوی په ٢٣ آيتونو کښې ده-(٢) دلائل عقليه په اووه آيتونو کښې ، (٣) نقليه د ١٨ انبياء نه دفرشتو او کتب سابقو نه (٤) وحييه په دوو کښې او (٥) زجر په اقوالو دمشرکينو په ١٣ آيتونو کښې او(٦) تخويف په اتو آيتونو کښې (٧) بشارت په لسوکښې (٨) ترغيب قرآن او اتباع دنبی عليه السلام ته په دريو کښې (٩) دليل الزامی

مشرکینو ته دریو کنبې او(۱۰) تسلي نبي علیه السلام او مومنانو ته- چه الله پرې حکم کوی او حکایت دنورو داحوالو سره تسلي نو ټول مضامین پوره لس شو-

## ارتبـــــاط الایات

(۱) اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ ---- ددې ځائې نه تر۱۵ آیت پورې اولنې باب- تخویف اخروی- شروع دسورة په یره چه حساب رانزدې شو او خلق هغه شان شرک کنبې مبتلاء دی تیارې نه کوی-

(۲) مَا يَأْتِيهِمْ مِنْ ذِكْرٍ ---- زجر په غفلت دقرآن چه تیارې څه دوی الته دقرآن نه غافله دی او لوبې کوی-

(۳) وَأَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ ظَلَمُوا ---- زجر په انکاردرسالت چه لکه چه دقرآن نه غافله دی نودغه شان دقرآن دداعی نه هم منکردی اوهغه پورې ټوقې کوی-

(٤) قَالَ رَبِّي يَعْلَمُ الْقَوْلَ ---- وجه دانکار دپیغمبر نه چه پیغمبردامسئله بیانوی نوځکه دوی دهغه نه انکارکوی او ورسره یره هم چه ستاسو په جرګو او مشورو چه خلاف دحق پرست کوئ نوالله تعالیٰ پرې پوهه دې-

(٥) بَلْ قَالُوا أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ ---- دتیرې مسئلې دوجې نه په داعی باندې دااعتراضونه کوی-

(٦) مَا آمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْيَةٍ ---- یره او دعوت ایمان ته چه توحید نه منل سبب دهلاکت دې نوایمان راوړئ-

(۷) وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ ----- جواب داعتراض دمشرکینو چه دوی وئیل چه " هل هٰذا الا بشرمثلکم " نو جواب چه ټول انبیاء کرام انسانان وو نارینه تاسو ته دنبوت علم نشته نو چه چاته علم دې دهغوی نه تپوس اوکړئ-

(۸) وَمَا جَعَلْنَاهُمْ جَسَدًا ---- داهم دمشرکینو دیواعتراض جواب دې چه دوی به وئیل چه داځنکه پیغمبر دې چه خوراک کوی؟

وَمَا كَانُوا خَالِدِينَ - داهم جواب داعتراض چه مړ به شی نوخلاص به شو ترې نه یا په ده خو مرګ راځی نوجواب انبیاء کرام همیشه دپاره په دنیا نه پاتې کیږی چه مرګ پرې نه راځی- نعم ما قال القائل :

لو كانتِ الدنيا تدوم لواحدٍ لكان رسول الله فيها مخلّدا

*اگر دنیا بہ کس پائندہ ے بودی ابو القاسم محمد ﷺ تا قیامت زندہ ے بودی۔*

که دنیا دچا دوجې نه همیشه باقی پاتې کیدې نو ابوالقاسم محمد ﷺ به پکښې ژوندې وې-

(۹) ثُمَّ صَدَقْنَاهُمُ الْوَعْدَ ---- ترغیب توحید ته چه داسبب دنجات دې او انکار ددې نه سبب دهلاکت دې او بشارت او تخویف مختصراً-

(۱۰) لَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا --- ترغیب قرآن کریم ته چه ستادعزت اوشرافت سبب دې نوداقرآن راواخله-

(۱۱) وَكَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْيَةٍ ---- ددې ځائې نه تر (۱۵) خَامِدِينَ - پورې تخویف دنیوی اودهغې نمونه ذکرکوی- چه توحید اوقرآن راواخلئ اوامنئ نوعزتمند به شئ اوکامیاب به شئ ګنی نوداسې به تباه شئ لکه چه مخکښې قومونه تباه شوی وو دشرک اوانکار دوجې نه هغه مال دولت مجلسونو او سردارئ ورلره څه فائده ورنکړه- ارمانونه به ئې کول چه مونږظلم کړې دې-خودغه وخت ئې څه فائده نه کوله-

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ ---- ددې ځائې نه دویم باب دسورة تر ۲۹ أیت پورې - په دعوی دلیل عقلی او نقلی او رد په مشرکانو-

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ --- داداو وروستې آیت (۱۷) دلیل عقلی چه زمکه آسمان څه لوبې خوندی نه دلوبو اسباب دی بلکه داخو ستاسو دپاره عبرتونه دی چه الله تعالیٰ پرې اوپیژنئ-که دلوبو وې نومونږبه هډو پیداکړې نه وې ځان سره به مو ایخې وې-

(١٨) بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ ---- فائده ددلائلو اورد په مشرکانو- دزمکې آسمان پیدائش لوبې ندی بلکه عبرتونه دی چه پدې سره باطل ختم شی نو تاسو دا الهه باطله او شفعاء دکوم ځائې نه پیداکړی دی-

(١٩) وَلَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ---- دلیل عقلی متصرف اوکارساز اختیارمند صرف یوالله تعالیٰ دې-

وَمَنْ عِنْدَهُ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ---- دلیل نقلی دفرشتو نه چه هغوی هم دالله تعالیٰ عبادت کوی او هغه رامددکوی-

(٢٠) يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ ---- داهم ددلیل نقلی حصه ده چه هغه هم الله تعالیٰ دشریکانو حصه دارانو نه پاک ګنړی-

(٢١)أَمِ اتَّخَذُوا آلِهَةً ---- اول رد په مشرکینو اودهغوی دالهو عجز-

(٢٢) لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ ---- دویم رد په مشرکینو او رد دشرک-

فَسُبْحَانَ اللَّهِ ---- دعوی توحید او رد په شرک-

(٢٣) لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ ---- بیان دجلال او قدرت دالله تعالیٰ-

(٢٤) أَمِ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ آلِهَةً ---- دریم رد په مشرکانو-

قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ ---- مطالبه ددلیل دمشرک نه - چه مونږ خو په خپله دعوی دلائل پیش کړلو نوتاسو په شرک دلیل راوړئ کچرته وی عقلی خونشته ځکه عقل ځمونږ تائید کوی نو دوی به عاجز شی-

هَذَا ذِكْرُ مَنْ مَعِيَ --- اجماع دانبیاءکرام علیهم الصلوات والتسلیمات په توحید- توحیداجماعی مسئله وه خو روستو نااهلو په توحید کښې خلاف اوکړو-

(٢٥) وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ ---- دلیل نقلی اجماعی- یعنی دمخکښې خبرې دلیل چه توحید ځکه اجماعی مسئله ده چه ټولوانبیاء ته ددې وحی شوې وه-

(٢٦) وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا ---- څلورم رد په مشرکانو چه اوس به دوی وائی چه څه مونږ سره دهغوی په الهیت اوتصرف دلیل نشته نوراکوز به شی چه مونږورته الهه نه

وايو بلکه دادخدائي نيازولی او نائب دی ددوی الله تعالیٰ خيال ساتی اوخبره ئې رد کوی نه نو دهغې ترديد په پنځو طريقو سره۔

سُبْحَانه - اول رد چه الله تعالیٰ دنائبانو نه پاک دې ځکه نائب هغه څوک نيسی چه هغه عاجز وی اوهغه د عجز نه پاک دې۔

بَلْ عِبَادٌ مُكْرَمُونَ - دويمه وجه د رد چه هغه ځان له عاجزان دی اوددې عجز دوجې الله تعالیٰ دهغوی اکرام عزت کړې دې پدې هغوی مقام حاصل کړې دې۔ دانه چه الهه دی۔ او نائبان دی۔

(۲۷) لَا يَسْبِقُونه بِالْقَوْلِ - دريم رد دالله تعالیٰ دهر حکم منقاد دی۔

(۲۸) يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ ---- وَلَا يَشْفَعُونَ ---- څلورمه وجه د رد رد په شفاعت قهری چه دالله رب العزت نه څوک خلاصولې نشی اودالله دخوخې نه بغير چاله سفارش نه شی کولې۔

وَهُمْ مِنْ خَشْيَتِهِ ---- پنځمه وجه د رد۔ چې دوی دالله نه يريږی۔

(۲۹) وَمَنْ يَقُلْ مِنهمْ ---- الزام په مشرکانو چه چرته انبياء اونيکانو بنديانو دالهيت دعوی نده کړې۔

(۳۰) أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- ددې ځايئ نه دريم باب تر ٤٧ پورې پديکښې دليل عقلی دمخکښې نه په ترقئ زواجر اوتخويفات اوتسلی۔

أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- دليل عقلی۔

أَفَلَا يُؤْمِنُونَ - زجر اودعوت ايمان ته۔

(۳۱) وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ ---- دليل عقلی سفلی۔

(۳۲) وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا ---- دليل عقلی فوقی۔

(۳۳) وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ اللَّيْلَ ---- دليل عقلی آفاقی۔

چه الله رب العزت دادومره کارونه کوی نو کارساز اومتصرف هغه دې نوهغه رامددکړې خو ده کافرو عقل څه چه سترګې هم کار نه کوی - ځکه وائی " او لم یر الذین --- " دومره نه ګوری چه سوچ اوکړی-
(۳٤) وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ ---- جواب دسوال چه ددلائلو نه فائده اغستل درکنار التہ اعتراضونه کوی چه نبی ﷺ په څو ورځوکښې مړ شی داڅنګه پیغمبر دې یا خلاص به شو ترې نو جواب " وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ --- "-
أَفَإِنْ مِتَّ ---- دویم جواب چه ولې دوی څه چټ راوړلې دې چه مری به نه په دوی به هم مرګ راځی-
(۳۵) كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَة الْمَوْتِ ---- بیان دقانون الهی- چه هر ذی روح به مری-
وَنَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ ---- بیان دحکمت په حالاتو مختلفو کښې - په چا غم په چاخوشحالی امتحان دې-
وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ---- دمرګ نه روستو ماته راتلل دی نودکامیاب اوناکام پته به اولږی-
(۳٦) وَإِذَا رَآكَ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- زجر په انکار دپیغمبر باندې چه دادومره نااهله اوس خومنل پکار وو نودوی التہ هغه پورې ټوقې کوی-
وَهُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمَنِ ---- زجر په انکاردقرآن - چه دپیغمبر سره دشمنی دوجې دقرآن کریم نه ده-
(۳۷) خُلِقَ الْإِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ ---- زجر - چه وائی چه عذاب دِ راوله نو جواب تلوار مه کوئ-
(۳۸) وَيَقُولُونَ مَتَى هَذَا الْوَعْدُ ---- زجر په انکار دقیامت چه وائی قیامت به کله راځی-
(۳۹) لَوْ يَعْلَمُ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- (٤٠) بَلْ تَأْتِيهِمْ بَغْتَةً تخویف اخروی یره دآخرت ورکوی بیا به دې خلاصې نه وی " لاینصرون " او " لاینظرون " ورته وائی چه نه به ستادامداد کولو څوک وی او نه به درته بیادمه کیږی -

(٤١) وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ ---- تسلی چه داعی داسې په خه انداز بیان کوی او دوئ داسې اعتراضونه کوی نوزړه ته غم راځی نو الله تعالیٰ داعی ته تسلی ورکوی-
(٤٢) قُلْ مَنْ يَكْلَؤُكُمْ بِاللَّيْلِ ---- دلیل عقلی چه ستاسو محافظ الله تعالیٰ دې -
بَلْ هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ ---- زجر چه دا د توحید او اوقرآن دشمنان دی-
(٤٣ )أَمْ لَهُمْ آلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ ---- زجر په شرک اوپه انکار دتوحید او عجز دالهو باطلو-
(٤٤) بَلْ مَتَّعْنَا هَؤُلَاءِ وَآبَاءَهُمْ ---- زجر - چه دالله تعالیٰ دورکړې شوی نعمتونو نسبت بل ته کوی- دافائدې الله تعالیٰ ورکړې دی او دوی ئې نسبت غیرالله ته کوی -
أَفَلَا يَرَوْنَ ---- تخویف دنیوی- چه دمهلت دالله نه غلطه فائده مه اخلئ مونږدشرک زمکه کموو-
أَفَهُمُ الْغَالِبُونَ ---- یره چه دوی غالب کیدلې نه شی-
(٤٥) قُلْ إِنَّمَا أُنْذِرُكُمْ بِالْوَحْيِ --- د داعی منصب او کار-
وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ الدُّعَاءَ ---- د دوی انکار چه دوی دوحی نه فائده نه اخلی-
(٤٦) وَلَئِنْ مَسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ ---- یره ددنیا چه معمولی عذاب له بیا دتینګې نه يئ- نوراشئ اوس مسئله اومنئ کنه -
(٤٧) وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ ---- یره دآخرت- دنیا خو څه چه آخرت کښې به درسره هم حساب او کتاب کیږی- نوراشه توحید ته تن کیږده او اومنه او داتوحید لکه چه په عقل ثابت وو نو په نقل هم ثابت دې او چه تاسو کوم نیکان بندیان دالله تعالیٰ سره شریکان جوړوئ نوهغه خپله الله تعالیٰ ته عاجزان دی دهغوی احوال او اقوال اوګورئ راروان باب سره مناسبت خکاره شو-
(٤٨) وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى وَهَارُونَ ---- ددې ځائې نه څلورم باب دسورت تر (٩٦) پورې او په دیکښې دلائل نقلیه ذکرکوی چه ټولو انبیاء کرامو یو الله رب العزت رامددکړې وو نوتاسو هم صرف یو الله تعالیٰ رامددکړی او هغې انبیاء کرامو دتوحید دپاره څومره کوششونه کړی دی- نو تاسو هم اوکړئ-

(٤٨) وَلَقَدْ آتَيْنَا ---- نقل دموسیٰ علیه السلام نه -
(٤٩) الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ---- دمتقیانو صفات-
(٥٠) وَهَذَا ذِكْرٌ مُبَارَكٌ ---- ترغیب الی القرآن- چه لکه دتورات دغه دعویٰ وی نودقرآن کریم هم دغه دعوی ده-
أَفَأَنْتُمْ لَهُ مُنْكِرُونَ - زجر په انکار دقرآن چه دمنلو په ځائې انکار کوی-
(٥١) وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ ---- ددې ځائې نه تر (٧١) پورې واقعه دابراهیم علیه السلام چه هغه هم ددې مسئلې دعوت ورکړې وو اوالله تعالیٰ عاجز ته وو او ځنګه الله رب العزت دهغه اکرام کړې وو-
وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ ---- اجتباء دابراهیم علیه السلام -
(٥٢) إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ ---- دعوت ورکول دابراهیم علیه السلام قوم خپل اوپلار خپل ته او رد په شرک -
(٥٣) قَالُوا وَجَدْنَا آبَاءَنَا ---- دقوم جواب ورکول- دایو د دلائلو دمشرکانو نه دې چه اتباع الاباء- *ہمارے بڑے یہ کرتے چلے آئے ہیں۔*
(٥٤) قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ ---- رد دابراهیم علیه السلام په دلیل دهغوی باندې چه ستاسو پلاران او مشران کوم چرته په دلیل د وحی یا دنور څه وو هغه هم بې دلیله روان وو په غلطه تاسو هم-
(٥٥) قَالُوا أَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ ---- تعجب دقوم دخبرې دابراهیم نه چه ګنی دې مونږ سره ګپ لګوی-
(٥٦) قَالَ بَلْ رَبُّكُمْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ---- دابراهیم علیه السلام جواب ورکول اوحقیقت حال خکاره کول-
(٥٧) وَتَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ ---- دابراهیم علیه السلام دهغوی د بتانو دختمولو اراده کول-

(٥٨) فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا ---- دابراهيم عليه السلام خپله اراده سرته رسول او دغه بتان ذره ذره كول - او مشر (غټ) بت الزام دپاره پريخودل -
(٥٩) قَالُوا مَنْ فَعَلَ هَذَا ---- دقوم راواپس كيدل اوهغه چاته ظالم وئيل چه چا داكار كړې وو-
(٦٠) قَالُوا مَنْ فَعَلَ هَذَا ---- دخلقو بيان چه داځوان ابراهيم نه علاوه بل څوک كيديشى-
(٦١) قَالُوا فَأْتُوا بِهِ ---- دخلقو خبره قانون ته برابرول چه څوک پرې ګواهى اوكړى-
(٦٢) قَالُوا أَأَنْتَ فَعَلْتَ هَذَا ---- ابراهيم عليه السلام راوستل او تپوس كول-
(٦٣) قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا ----- دابراهيم عليه السلام په عجيبه طريقې سره دكار اقرار كول چه دوى هم اوشرميږى-
(٦٤) فَرَجَعُوا إِلَى أَنْفُسِهِمْ ---- دخلقو لاجواب كيدل او اوس ځان ته ظالمان وئيل-
(٦٥) ثُمَّ نُكِسُوا عَلَى رُءُوسِهِمْ ---- دقوم سركوزى كيدل او دخپلو الهو عجز پخپله بيانول .
(٦٦) قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ---- (٦٧) أُفٍّ لَكُمْ ---- دابراهيم عليه السلام موقع موندل چه دداسې عاجزان دعبادت فائده څه ده يو الله رامددكړئ او دداسې عاجزانو عبادت دتباهئ سبب دې- " افلاتعقلون " زجر-
(٦٨) قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانْصُرُوا آلِهَتَكُمْ ---- دقوم دابراهيم عليه السلام خلاف سازش جوړول اودخپلو خدايانو دمدد اعلان كول عجيبه خبره ده دپښتنو خبره كله دابئ وار او كله د دادا-
(٦٩) قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا ---- دابراهيم عليه السلام حال دعاجزئ اومجاهده په توحيد كښې مشاهده نو اوس اكرام دهغه چه الله دهلاكت په صورت كښې مدد كوى-
(٧٠) وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا ---- دقوم ناكامى او ذلت-
(٧١) وَنَجَّيْنَاهُ وَلُوطًا ---- اكرام دابراهيم عليه السلام او لوط عليه السلام په نجات -

(۷۲) وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ ---- بچی ورکول اودهغوی عجز او دهغوی اکرام- عجز ئې داوو
(۷۳) او اکرام ئې چه " جعلنا صٰلحين "
(٧٤) وَلُوطًا آتَيْنَاهُ حُكْمًا ---- واقعه دلوط عليه السلام دهغه عاجزی چه ناکاره قوم سره ئې واسطه وه او دهغه اکرام په (۷۵) کښې چه " وادخلنٰه"
(٧٦) وَنُوحًا إِذْ نَادَى ---- دنوح عليه السلام عاجزی-
فَاسْتَجَبْنَا لَهُ ---- (۷۷) وَنَصَرْنَاهُ مِنَ الْقَوْمِ ---- اکرام دهغه - ځه ئې رامدد کړې ووم نو څنګه اکرام مِ ورلره اوکړو-
(۷۷) وَدَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ ---- ددې ځائې نه تر (۸۲) پورې تذکره د داؤدعليه السلام (۸۰) پورې چه دهغه حال اوګوره ماته عاجز او ځما اکرام چه ماورلره څه کړی وو دا " نا ، نا ،نا" راغونډ کړه چه هر څه الله کړی وو-
(۸۱) وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ ---- دې دوو آيتونو کښې حال دسليمٰن عليه السلام او اکرام دهغه ذکردې چه الله رب العزت ورله څه ناشنا څيزونه تابع کړی وو- دلته هم " نا،نا،نا" راجمع کړئ - ځکه شيوخ وائی چه د"نا" والا سورة هر څه کونکې الله تعالیٰ وائی ځه يم-
(۸۳) وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَى رَبَّهُ ---- عاجزی او تضرع دايوب عليه السلام -
(٨٤) فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِنْ ضُرٍّ ---- اکرام دالله تعالیٰ دايوب عليه السلام -
(۸۵) وَإِسْمَاعِيلَ وَإِدْرِيسَ ---- په مختصرانداز سره ددريو انبياؤ حال ذکرکوی چه " کل من الصٰبرين "
(٨٦) وَأَدْخَلْنَاهُمْ فِي رَحْمَتِنَا ---- اکرام دالله تعالیٰ دهغوی-
(۸۷) وَذَا النُّونِ إِذْ ذَهَبَ مُغَاضِبًا ---- ديونس حالاً او قولاً عاجزی څنګه فريادکوی- دغير نه نفی کوی او الله رب العزت دعجز نه پاک ګڼړی او ځان عاجز ګڼړی او محتاج-
(۸۸) فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ ---- اکرام دالله تعالیٰ ديونس او نجات دهغه-

وَكَذَلِكَ ---- دالله تعالىٰ دې خبرې له قانون چه داخه په انبياء كرامو پورې خاص نده بلكه چه څوک هم مارامدد كړى او دا مسئله منى نو څه دهغه اكرام كوم۔
(۸۹) وَزَكَرِيَّا إِذْ نَادَى رَبَّهُ ---- دزكرياءعليه السلام عاجزى اوفرياد چه بچې دالله تعالىٰ نه غواړى۔
(۹۰) فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ ---- دالله تعالىٰ اكرام دزكرياءعليه السلام كول۔
إِنهمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ ---- خلاصه دټول سورة چه دانبياء كرام كار هغه دتوحيد خدمت وو او په هر حالت كښې به ئې څه رابللم او ماته عاجزان وو۔
(۹۱) وَالَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا ---- تذكره دمريم اودهغې دبچى چه هغه هم عاجزان وو حال ئې اوګوره او چه كوم مقام وركړې نو ماوركړې وو دائې اكرام۔
(۹۲) إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمة وَاحِدَةً ---- نتيجه دټولو واقعاتو راوتله چه ټول انبياء كرام په رابللو دصرف يو الله او په توحيد متفق وو نو تاسو هم صرف يو الله تعالىٰ رامدد كړئ۔
(۹۳) وَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنهمْ ---- دفع دشبهې چه هركله په لنډه هم معلومه شوى په ۲۵ كښې چه انبياء كرام په توحيد متفق وو نوداشرک دكوم ځائې نه راغې۔ جواب باغيانو اختلاف اوكړو دضد او عناد دوجې نه نو شرک پيدا شو۔
كُلٌّ إِلَيْنَا رَاجِعُونَ - سره يره ذكر كوى چه ماله به راځى۔
(۹٤) فَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ ---- ترغيب او قانون چه توحيد اومنه ضائع به نشى او نيک عمل بغير دتوحيد نه مفيد ندې۔
(۹٥) وَحَرَامٌ عَلَى قَرْيَةٍ ---- تخويف - چه ددوى دسركشئ دوجې نه په دوى مهر لګيدلې دې نو ايمان او توحيد پدوى بند شو نو دوى اوس دغير دربار ته ګرځى او الله تعالىٰ ته نه راګرځى۔( على توجيه )۔
(۹٦) حَتَّى إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ ---- كله به ايمان راوړى چه داحالت راشى نو بيا به ايمان راوړى۔

(۹۷) وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ ---- ددې ځائې نه پنځم باب تر (۱۰٤) پورې پدیکښې تخویف زجر او بشارت-

وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ ---- سر دسورة سره ئې اولګوه-چه " اقترب للناس حسابهم " یره ده چه وخت رانزدې دې بیا به ارمان کوئ-

(۹۸) إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ---- زجر مشرکینو ته او تخویف - چه دا څنګه اٰلهه دی چه دوزخ ته لاړل-

(۹۹) لَوْ كَانَ هَؤُلَاءِ آلِهَةً ---- د مخکښې زجر برخه-

وَكُلٌّ فِيهَا ---- او (۱۰۰) تخویف دې-

(۱۰۱) إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِنَّا الْحُسْنَى ---- ددې ځائې نه تر (۱۰۳) توعدون پورې بشارت مومنانو ته چه چا توحید منلې وو او په حاجاتو کښې ئې یو الله رامدد کوو نو هغوی ته خوشحالی-

(۱۰٤) يَوْمَ نَطْوِي السَّمَاءَ ---- اثبات دقیامت - چه داهر څه راروان دی شک پکښې نشته دې-

(۱۰۵) وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ ---- ددې ځائې نه تر آخره تر سورته پورې شپږم باب پدیکښې بشارت دنیوی، ترغیب اتباع دنبی علیه السلام ته او دعوی دتوحید-اوتخویف پشان دابتداء دسورة ختم دسورة به هغه څه چه په څه ئې شروع شوې وه-

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ ---- بشارت دنیوی چه په دعوی توحید کلک یئ نو دزمکې خلافت به الله تعالیٰ درکړی-

(۱۰٦) إِنَّ فِي هَذَا لَبَلَاغًا ---- ترغیب الی القرآن- ددې قرآن نه دامسئله زده کیږی او دا درسولو کتاب دې-

(۱۰۷) وَمَا أَرْسَلْنَاكَ ---- ترغیب اتباع دنبی علیه السلام ته چه ددې پیغمبر اومنئ چه کوم دامسئله بیانوی نو دده اتباع سبب درحمت دې-

(۱۰۸) قُلْ إِنَّمَا يُوحَى إِلَيَّ ---- دلیل وحی او دعوی دتوحید- چه پدې مسئله ماته وحی شوې ده چه صرف یو الله کارساز او متصرف دې-
فَهَلْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ - دلائل تام شو نو دایمان مطالبه ترې کوی-
(۱۰۹) فَإِنْ تَوَلَّوْا ---- تخویف چه اوس هم نه منی نو دواړو ته علم دې چه عذاب به راځی البته وخت الله ته معلوم دې-
(۱۱۰) إنه يَعْلَمُ الْجَهْرَ ---- دعوی توحید- چه په هر څه الله تعالیٰ عالم دې نو صرف هغه الله تعالیٰ رامدد کړئ او هغه سره شریک او حصه دار مه جوړوئ-
(۱۱۱) وَإِنْ أَدْرِي لَعَلَّهُ فِتْنة ---- نفی دعلم الغیب دنبی علیه السلام نه -
(۱۱۲) قَالَ رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ ---- تخویف لکه چه په ابتداء کښې وو- چه پیغمبر او داعی الله ته فریاد کوی چه فیصله اوکړه نو ګویا چه په دوی عذاب دراتلو دې-

## حاصل دسورة

مشرکین او غافلین دتوحید دِ اوریکی چه عذاب راغې په دنیا کښې یا په آخرت کښې ددوی الهه ددوی هیڅ مدد نشی کولې هغه ځان له عاجزان دی او ځنې پکښې ځان ددوزخ نه نشی بچ کولې نو دوی به څه بچ کړی-او دعقل او نقل او وحی نه داخبره ثابته ده چه کارساز او مددګار صرف او صرف یو الله تعالیٰ دې نو په خپلو مافوق الاسباب حاجاتو کښې صرف هغه ته رامدد شه اوایئ او چا چه الله تعالیٰ رامدد کړې دې نوهغه الله رب العزت عزتمند کړې اودهغه اکرام ئې کړې دې-

## امتیازات

(۱) اقترب ، انذار اولاً وآخراً په عجیب انداز-
(۲) لوکان فیهما الهة - برهان تمانع (۲۲)-
(۳) ومارسلنا- ۲۵ دلیل نقلی اجماعی-
(٤) تضرع المستجیبین او اکرام دهغوی-

**(٥) فجعلهم جذاذا - ٥٨- ختمول دابراهيم عليه السلام اثآر دشرک-**

**(٦) اذ يحكمٰن فى الحرث - ٧٨ -**

**(٧) انّى مسنّى الضر ٨٣ دعاء دايوب عليه السلام -**

**(٨) دعاء ديونس ٨٧ -**

**(٩) انّكم وما تعبدون - ٩٨**

**(١٠) ولقد كتبنا فى الزبور- (١٠٥)**

**تمت سورة الانبياء بعون من لهٗ الكبرياء - وانا فى سجن مينجوره حيات آباد ،- ربنا اخرجنا من هذه القرية الظالم اهلها واجعل لنا من لدنک وليا واجعل لنا من لدنک نصيراً-**

**١٩ شوال المكرم ١٤٣٣ھ ٦ ستمبر ٢٠١٢ ء يوم الخميس - ٠٧ : ١٠ رات**

سورة الحج مدنية
نزولا (۱۰۳) مصحفا (۲۲)
رکوعات (۱۰) ایات (۷۸)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة الحج

سورة الحج مدنی سورة دې يعنى دهجرت نه روستو نازل شوې دې په نزول كښې يوسل دريم (۱۰۳) نمبر دې پس دسورة النور نه او په ترتيب مصحفى كښې دوويشتم (۲۲) نمبر دې پس دسورة الانبياء نه -

## مناسبت دمخكښې سورة سره

ددې سورة جوړ،رشته،مناسبت او تعلق دمخكښې سورة سره په مختلفو وجوهو باندې دې-

**اوله وجه** : هركله چه سورة الانبياءكښې توحيد اعتقادى بيان شو په احوال دانبياء كرامو سره چه دوى ټول الله تعالىٰ ته عاجزان وو عبادت كونكى او رابلونكى وو نو په دې سورة كښې بيان دې او خودنه دتوحيد ددويم قسم په نفى دشرک فعلى سره-

**دويمه وجه** : هركله چه مخكښې سورتونو كښې نفى دشرک اعتقادى اوشوه دټولو اقسامو دهغې دكهف نه تر انبياء پورې نو پدې سورة كښې نفى دشرک فعلى كوى چه مسئله دتوحيد تامه شى او رد دشرک هم دويځه اوشى-

**دريمه وجه** : هركله چه په سورة الانبياء كښې يره وركول دعذاب عظيم نه په راتلو دقيامت چه " اقترب للناس " - نو پدې سورة كښې دقيامت د مخكښو احوالو نه يو حالت ذكركوى چه " زلزلةالساعة " ده-

څلورمه وجه : هركله چه دمخكښې احوال دمستجيبينو بيان شو نودلته احوال دمنكرينو بيانوى-

**دعوى دسورة**

سورة الحج چه کومه مرکزی مسئله بیانوی نو هغه داده - نفی دشرک فعلی او تشریح دمسائل اربعو چه تحریمات الله ،تحریمات العباد او نذورالله او نذورالعباد دی-

ددعوې لږوضاحت: یعنی چه څنګه دِ زړه دشرک نه پاک شو او پاک پکار دې نودغه شان په عمل باندې او په ظاهرو کارونو داسې کارندې پکار چه دهغې نه دشرک بوئ راځی دیته شرک فعلی او عملی وائی- داسورة رد کوی په شرک فعلی او دشرک فعلی په وضاحت کښې څلور مسائل بیانوی-

(۱) **تحریمات الله تعالیٰ**: ددې مطلب چه حرام هغه دی چه الله تعالیٰ حرام کړی دی که هغه د هر څه نه وی که دخوراک څښاک او دلباس او که زمان و مکان-

(۲) **تحریمات العباد** : دا داول قسم مقابل دې داقرآن رد کوی چه دبندیانو حرمت حرمت نه دې چه څه څیز بندیان په نیت دقربت او نفع اوضرر بې سببه په ځان بند کړی نوداحرام نه دې پدې عقیده دحرمت مه ساتئ داشرک دې اوهغه مخکښې تحریمات الله توحید دې-

(۳) **نذورالله** : دا دریمه مسئله ده یعنی چه دالله تعالیٰ په نوم کومه منخته او نذر اوشو نوهغه عزتمند دې هغه سر ته اورسوئ- داتوحید دې-

(٤) **نذور العباد** : دبندیانو په نوم چه کومه منخته اوشوه دبنده دتقرب او دهغه نه دبې سببه دخیر او شر دطمع په نیت نوداپلیته ده او حرامه ده او شرک دې- نوتحریمات الله او نذورالله پدې کښې توحید شو او تحریمات العباد او نذورالعباد پکښې شرک شو-

دلته مختصر ددې مسئلو تشریح اولیکلې شوه دامسئلې او پدې پوهیدل لږګران دی ان شاء الله ددې مکمل وضاحت سره دمثالونو نه به دسورة المائدې په تشریح کښې اولیکلې شی- ( چونکه دالیکل په جیل کښې کیږی او ماسره پوره مواد هم نشته صرف

سمط الدرر او بلغة الحيران دی نور چه کوم څه داستاذانو نه یاد دی دالله تعالیٰ په فضل نو هغه لیکلې کیږی نو مادکهف نه شروع کړې ده - الله تعالیٰ مِ دجیل نه خلاص کړی او خپل امداد راسره شامل حال کړی نو ټول قرآن دلیکلو اراده ده الله تعالیٰ دِ سر ته اورسوی- آمین)

نودعوی شوه نفی دشرک فعلی او وضاحت دمسائل اربعو-

## خلاصه او تقسیم دسورة

**خلاصه** : دسورة مختصره خلاصه خوداسې ده چه دابتداء نه تخویف په راتلو دقیامت او زورنې مشرکانو ته او بیاتشریح دمسائل اربعو اودهغې نه روستو درد دشرک دپاره بیان دجهاد او ذکر د اقوام مهلکو دپاره دتخویف او بیان دصداقة دنبی علیه السلام او عداوت دابلیس او ترغیب هجرت اوجهاد ته او دلائل عقلیه او زورنې په شرک باندې او دمشرک دشرک او دمعبودان باطلو مثال او دمسئلې درسولو ته ترغیب چه دامسئله اورسوه امداد به ستا الله تعالیٰ کوی - تفصیلی خلاصه په تقسیم دسورة کښې راځی-

**تقسیم دسورة** : دا سورة منقسم دې څلورو بابونو ته یعنی خپله دعوی په څلورو اندازونو او طریقو باندې بیانوی-

اول باب : اولنې باب دابتداء نه تر لسم نمبر آیت پورې - پدیکښې ابتداء نه تخویف 1،2 او بیازجر ٣،٤ کښې او پس دهغې نه دلیل عقلی او په هغې تفریع کول داثبات دآخرت او بیا زجر په ٨ کښې مطالبه دمشرک نه یو د ادلو ثلاثو او ختم دباب په تخویف باندې-

دویم باب : دویم باب دلسم آیت نه تر ٢٥ آیت پورې پدیکښې دوه ځلې زجر مشرکانو ته ١١،١٢ او مثال دمشرک ١٦ کښې ترغیب قرآن ته ١٦ او دلیل عقلی تخویف او بشارت-

دریم باب : د ٢٥ آیت نه تر ٣٨ آیت تر ختمه پورې پدیکښې دعوی دسورة نفی دشرک فعلی او وضاحت دمسائل اربعو یعنی چه په کومو مسائل زواجر اوتخویفات وو -

ځلورم باب : ځلورم باب د ۳۹ نه تر آخر ترسورته او پدیکښې حکم دقتال دپاره دختمولو دشرک او ترغیب او تیزی ورکول امورمصلحو ته په وخت دامتحان کښې ٤١ ـ او تسلی په ٤٢ کښې او ذکر داقوام مهلکو سره دزجر او تخویف نه ترآیت ٤٨ پورې بیا ٤٩ نه صداقت دنبي علیه السلام او ترغیب اتباع دهغه ته او زجر نه منونکو ته او بیان ددشمنئ دشیطان په ٥٢ بیا تخویف او بشارت بیا ٥٨ نه ترغیب هجرت او جهاد ته ـ ددې مسئلې دپاره او ذکر دعللو دقتال ٦١ او رد په مشرکینو په ٦٢ کښې په دعوی دلائل عقلیه په ٦٧ دعوی دسورة او تلقین دکلکوالی او زجر مشرک ته ذکر دمثال دمشرک اود معبود ٧٣ کښې او ترغیب الی التبلیغ په آخر کښې۔
اول باب کښې تخویف په راتلو دقیامت او زجر۔
دویم باب کښې زجرونه په عمل دمشرک او مثال دهغه او تخویف او بشارت۔
دریم باب کښې دعوی دسورة نفی دشرک فعلی په وضاحت دځلورو مسئلو۔
ځلورم باب کښې ددې مسئلې دپاره جهاد نه منونکو له یره ددنیا د نبی علیه السلام صداقة او ترغیب هجرت او جهاد ته او مثال دمعبودینو دمشرک او ترغیب بیان دمسئلې ته۔

### نظم الایات ومقاصدها

یعنی د آیتونو په خپل مینځ کښې او د دعوې سره داسې تړل لکه چه ملغلرې په تار کښې پئیلې کیږی۔
(١) يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ ---- ددې ځائې نه ترلسم آیت پورې اولنې باب دسورة په تخویف زجر او اثبات دقیامت کښې ـ
يَا أَيُّهَا النَّاسُ ----- تخویف اخروی۔ یعنی اې خلقو دالله تعالیٰ دنافرمانئ نه ځان بچ کړئ دهغه نه اویریږئ هغه سره شریک او حصه دار مه جوړوئ نه په عقیده کښې او نه

په عمل او فعل کښې - يعنى دهر قسم دشرک نه ځان اوساتئ وخت راروان دې ډير خطرناک بيا به څه کوئ-
إِنَّ زَلْزَلَة السَّاعة ---- بيان دزلزلې دقيامت -
(۲) يَوْمَ تَرَوْنها تَذْهَلُ ---- بيان دخطرناکئ دزلزلې چه دومره سخته زلزله ده-
(۳) وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ ---- زجر - الله رب العزت مشرک رټى او زورى ئې چه بې وقوفه او کم عقل په توحيد کښې جهګړا کوى او شرک کوى بې دليل او دشيطان په اتباع کښې مست او دقيامت سوچ ورسره نشته -
(٤) كُتِبَ عَلَيْهِ ---- دشيطان داتباع نتيجه په دنيا کښې ګمراهى او آخرت کښې عذاب سخت ګرم-
(٥) يَا أَيُّهَا النَّاسُ ---- دليل عقلى په توحيد او په اثبات دقيامت باندې خبره بالکل واضحه ده شک پکښې ندې پکار خو بياهم احمق شک کوى - او دقيامت نه انکار کوى نوداخو دعقل نه ثابته ده- يعنى چې کله د عذاب نه اويروى نو دوى زر وائى چې قيامت به لا څنګه راځى نو د هغې بيان .
فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ ---- اول دليل چه ستا پيدائش او ابتداء ته اوګوره-
وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً ---- دويم دليل زمکې ته اوګوره-
(٦) ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ ---- تفريع په دلائلو ددوو مسئلو دتصرف او قدرت دالله تعالىٰ چه کارساز او متصرف الله تعالىٰ دغه مخکښې کارونه الله تعالىٰ کوى نودحل او حرمت ذمه دار هم هغه دى او منختې نذرونياز دهغه په نوم اوکړئ- اودويمه خبره قيامت کښې شک مه کوئ چه الله تعالىٰ دغه مخکښې کارونه کوى نو تاسو به دقبرونو نه هم راوچت کړى-او مړى به راژوندى کړى-
(۸) وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ ---- زجر اومطالبه ديو ددريو دليلونو - چه خبره خو بالکل صاف شوه خو بيا هم مشرک جدال او نزاع کوى نو ځه په خپل شرک دِ دليل عقلى راوړى او يا نقلى او يا وحى يو هم نشته دې بې دليله خلق ګمراه کوى نو يره-

(۹) لَهُ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ ---- يره هم ددنيا هم دآخرت-
(۱۰) ذَلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ ---- وجه دعذاب- وائی دا چا ؟ نو دا تا په خپله نو ګیله مه کوه دبله
-
(۱۱) وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ ---- ددې ځائې نه دويم باب تر ۲۵ آيت پورې- پديکښې زجرونه مثال دمشرک ترغيب قرآن ته دليل عقلی او يره او زيرې-
وَمِنَ النَّاسِ مَنْ ---- زجر په حال دمشرک باندې - چه مسئله دتوحيد خو بالکل واضحه ده په هر دليل سره خو بيا هم مشرک دالله تعالیٰ په عبادت کښې شک کوی-
خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ ---- دائې نتيجه ده چه دنيا او آخرت ئې ځان له تباه کړل-
(۱۲) يَدْعُو مِنْ دُونِ اللَّهِ ---- داهم زجر دې او حال دمشرک چه په واضحه څيز کښې شک کوی چه هغه توحيد دې او چه کوم مالکان د نفع او نقصان ندی نو هغه رامدد کوی-
ذَلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ - دائې دبلنې دغيرالله نتيجه ددنيا شوه-
(۱۳) يَدْعُو لَمَنْ ضَرُّهُ ----- داد بلنې دغير الله دآخرت نتيجه چه دا مشرک دغيرالله دنفع او فائدې طمع کوی نفع فائده چرته داخو ده شرک اوکړو او ابدی جهنمی شو ځکه ددوی دا عبادت او بلنه او دوی له نذرو نياز کول دادخسارې نه نه خالی کيږی سراسر نقصان دې-
لَبِئْسَ الْمَوْلَى ---- قباحت-
(۱٤) إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ ---- بشارت په طريقې دمقابله چه مشرک تاوانی شو او موحد هغه فائده بيامونده-
إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ ---- اثبات دتصرف يو الله تعالیٰ لره-
(۱۵) مَنْ كَانَ يَظُنُّ أَنْ لَنْ يَنْصُرَهُ اللَّهُ ---- مثال او علاج دمشرک- چه دده شرک به په څه ختميږی؟ حاصل دعلاج دادې چه مخکښې دوه کسه بيان شو مشرک او موحد نو اوس دمشرک دعلاج طريقه خائې- چه کسان دوه شو يو هغه چه خپلو حاجاتو کښې

غيرالله رامددکوی-او دائې خيال دې چه الله دده امداد نه کوی- دويم هغه دې چه هغه صرف په حاجاتو کښې الله تعالیٰ رامدد کوی نو مشرک ( دريمګړی) ته وائی چه اوس اوګوره اول دمشرک حال اوګوره-چه دهغه داخيال دې چه ځما الله امداد نه کوی ځه به غير رامدد کوم- نو دده حال پوره ملاحظه اوکړه-" بسببٍ الی السماء " اشاره ده دغير الله رامدد کولو يعنی غير دِ رامدد کړی-" ثم ليقطع" چه دغه د غيرالله رامدد کول دِ پريږدی-

بلکه کله غم کله خوشحالی او کله خفګان بيماری او صحت نو وی خوداسې چه مختلف احوال وی او بيا دِ حال دموحد اوګوری چه صر ف الله تعالیٰ رامدد کوی نودهغه حال هم کله يو شان کله بل شان-نو چه ده کله ددواړو په حال کښې سوچ اوکړو نو اوس دِ اوګوری چه پديکښې دغيرالله هيڅ دخله نشته دې هر څه کونکې صرف يو الله تعالیٰ دې او اودِ ګوری چه کومه خبرې دې غصه کوی چه هغه داوه چه غيرالله مه رامدد کوی نوهغه ختميږی او کنه - ( بلغة الحيران ، جواهرالقرآن )

(١٦) وَكَذَٰلِكَ أَنْزَلْنَاهُ ---- ترغيب الی القرآن چه که سوچ نه شی کولې او خپله فکر نشی کولې نو رادِ شی قرآن دِ راواخلی صاف دلائل دی نو فکر دِ پکښې اوکړی-

(١٧) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ----- ترهيب او يره چه ورځ دفيصلې راروانه ده او هر يو الله تعالیٰ ته معلوم دې-

(١٨) أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ ---- بيان دتوحيد او دليل عقلی په طريقه دترقئ سره دشرک دعلاج نه روستو بيان دتوحيد او دليل عقلی چه تاسو چا ته معبودان وائی- دنفع او نقصان او نذر ونياز مالکان ئې ګڼړئ نوهغه ټول الله تعالیٰ ته عاجزان دی-

وَمَنْ يُهِنِ اللَّهُ ---- شرک سبب داهانت دې -

إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ ---- متصرف يو الله تعالیٰ دې نوهغه لره نذر ونياز اوکړئ-

(۱۹) هَذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا ----- حال دمشرک خصومت فی التوحید- ددې نه تر (۲۲) عذاب الحریق-پورې یره دآخرت بیانوی- یعنی چه هرکله علاج هم بیان شو او دلیلونه هم بیان شو نو اوس حال دمشرک بیانوی-

(۲۳) إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ ---- سره بشارت منونکو چه چاشرک پریخودلو او توحید منی اوخوروی نودهغوی جنت ځائې دې-

(۲٤) وَهُدُوا إِلَى الطَّيِّبِ ---- وجه دجنت دتلو چه هغه په توحید روانیدل وو-

(۲٥) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- زجر اوتخویف - دوی دتوحید مخه نیوی او دشرک پرچار کوی نو دوزخ به ئې ځائې شی او بیا دتوحید په مرکز کښې شرک کوی او خوروی-

(۲٦) وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ ---- ددې ځائې نه دسورة دریم باب تر ۳۸ آیت پورې پدیکښې رد دشرک فعلی او وضاحت دځلورو مسئلو-

وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ ----- تعمیر دبیت الله دتوحید دپاره وو یعنی دابتداء نه مونږ حکم کړې وو چه په هیڅ یو فعل کښې دالله تعالیٰ شریک او حصه دار مه جوړوئ- اودلیل نقلی په رد دشرک دابراهیم علیه السلام نه -

(۲۷) وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ ----- یعنی خلقو ته اعلان حج - چه مرکز دتوحید ته حاضری اوکړئ او منافع حاصل کړئ-

(۲۸) وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ ----- ددې ځائې نه تر وروستو (۲۹) آیت ترختمه پورې مسئله دنذور الله تعالیٰ چه دالله په نوم نذراوشی نو محترم دی او دهغې قدر اوکړئ او خوراک ئې جائز دې-

(۳۰) ذَلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللَّهِ ---- بیان دتحریمات الله یعنی دالله حرمتونه په ځائې دی-

وَأُحِلَّتْ لَكُمُ الْأَنْعَامُ ---- رد په تحریمات العباد - چه بندیان ئې حرام کړی نوهغه حرام ندی- الا مایتلیٰ : دا بالتبع ذکر دې-

فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ ---- رد په نذور العباد چه کومې منختې او نذرونه دغيرالله دتقرب دپاره اوشى نوهغه پليت دى او وينا آواز اوچتول ددروغو دى-

حُنَفَاءَ لِلَّهِ ---- دعوت توحيد- او رد دشرک - چه صرف دالله تعالیٰ شئ هم اعتقاداً او هم عملاً او شرک اعتقادى او عملى پريږدئ -

وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ ---- حال او مثال دتباهئ دمشرک-

(۳۲ )ذَلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ ---- ذکر دتحريمات الله او نذورالله بطورتاکيد- دواړو آيتونو کښې-

(۳٤) وَلِكُلِّ أُمة جَعَلْنَا مَنْسَكًا ---- مسئله دنذورالله تعالیٰ چه ديو الله تعالیٰ نوم اغستل غواړى- نه که دبل چا-

فَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ ---- دعوى توحيد ستاسو کارساز او متصرف صرف يو الله دې نو " فله اسلموا" دهغه تحريمات اومنئ اودهغه دنذورو احترام اوکړئ-دبل چا تحريمات او نذور مه منئ-

وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ ---- بشارت تابعدارو ته-

الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ ---- صفات دموحدينو - چه ددې مسئلې محنت کوى-

(۳٦) وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُمْ ---- مسئله دنذورالله تعالیٰ - " کذالک سخرنٰها: " امتنان ترغيب منلو ته-

(۳۷) لَنْ يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا ---- ترغيب الى الاخلاص-

كَذَلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ ---- د احسان دالله تقاضا ده چه صرف د الله تعالیٰ په نوم نذر و نياز کوئ دشريکانو نه غټ اوګنړئ-

وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ -- بشارت موحدينو ته - چه دشرک فعلى نه ځان اوساتى نو دامحسن دې-

(۳۸) إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ ---- ترغيب بيان ته چه حفاظت به ستا الله تعالیٰ کوى دامسئله بيان کړه-

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ ---- زجر - چه ستا څوک خلاف کوی په دې مسئله کښې نوهغه خوّان او کفور دې-

(٣٩) أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ ---- د دې ځائې نه تر آخر تر سورته څلورم باب دسورة چه ددې مسئلې دپاره جنګ اوکړئ- او ترغيب هجرت او جهاد ته-

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ ---- اذن دجنګ - يعنی چه کافران پدې مسئله کښې تاسو سره جنګ کوی او ستاسو مخ نيوې کوی نو تاسو ته دجنګ اجازت دې-

وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ ---- بشارت دنصرت چه الله تعالیٰ به امداد کوی-

(٤٠) الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ ---- وجه دنصرت ځکه دامظلومان دی او جرم ئې صرف توحيد دې-

وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ ---- علت دمشروعيت دقتال چه که جنګ نوې فرض شوې نو دينی ځايونه به روان شوی وې-

وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ ---- وعده دنصرت مشروط په نصرت ددين الهی - يعنی چه ته دالله تعالیٰ ددين مدد کوې الله تعالیٰ به ستا مدد کوی-

إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ - علت دنصرت-

(٤١) الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ ---- بيان دامور مصلحو په وخت دابتلاء کښې او اصول خائی چه د جهاد نه روستو نصرت او فتح راشی نو په زمکه نظام صلوٰة او زکوٰة او امر بالمعروف او نهی عن المنکر قائموی - يعنی شرک به ختموی او توحيد به قائموی جهاد ددې مقصد عالی دپاره دې-

(٤٢) وَإِنْ يُكَذِّبُوكَ ---- ددې ځائې نه تر ٤٥ پورې تسلی داعی ته او دتسلئ دپاره ذکر دتباه شوی قومونو چه دشرک دوجې الله تعالیٰ تيرقومونه تباه کړی وو تسلی ساته کاميابی ستا ده-

(٤٢) أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ ---- زجر او دعوت دعبرت چه ددې قومونو نه دوی له عبرت اغستل پکار دی خو دوی خپل اسباب دعبرت تباه کړی دی-

(٤٧) وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ ---- زجر اوتخويف- عبرت په ځائې مطالبه دعذاب كوى نوعذاب به راځى الله تعالىٰ دخپلې وعدې خلاف نه كوى-
وَإِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ ---- تخويف-
(٤٨) وَكَأَيِّنْ مِنْ قَرْيَةٍ أَمْلَيْتُ لَهَا ---- تخويف ددنيا -
وَإِلَيَّ الْمَصِيرُ - دآخرت يره-
(٤٩) قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ ---- صداقة دنبى عليه السلام او ترغيب دهغه اتباع ته- چه درد دشرک فعلى دپاره الله رب العزت حق پيغمبر راليګلې دې هغه ددې مسئلې بيان كوى دده اتباع سبب دنجات او خلاف سبب دهلاكت دې-
(٥٠) فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ---- بشارت
(٥١) وَالَّذِينَ سَعَوْا فِي آيَاتِنَا مُعْجِزِينَ ---- تخويف چه دپيغمبر اودهغه ددعوت مقابله كوى نو دوزخ به ئې ځائې شى-
(٥٢) وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ ---- ذكر دعداوت دشيطان- چه شيطان د داعى اود دعوت دشمنى كوى پداسې طريقه چه كله داعى دتوحيد او درد د شرک بيان كوى نو شيطان په دوران دبيان كښې دهغه د بيان خلاف دخلقو زړونو كښې قسم قسم وسوسې غورځوى-
فَيَنْسَخُ اللَّهُ ---- دشيطان دوسوسې بې ثباتى- الله رب العزت هغه وساوس ختم كړى اوخپل آيتونه مضبوط كړى دخلقو په زړونو -
(٥٣) لِيَجْعَلَ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ ---- دوه خبرې پرې تفريع كوى او يره هم شوه چه ليجعل دايو خبره چه وسوسې اوغورځيږى نودا اوشى ظالمان خلاف شروع كړى-
(٥٤) وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ ---- او په شبهاتو او وسوسو دفع كوى - الله تعالىٰ دا اوكرى چه اهل علم پوهه شى او منقاد شى- يعنى "من فى قلوبهم مرض والقاسية " دوساوسو تابع شو او مومنان ددې په دفع كښې كوشش كوى اودفتنې نه خلاص شى- دادالله امتحان دې-

(٥٥) وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- يعنى كافر مختوم القلب دعذاب دنيوى ياد اخروى پورې په شک کښې وی۔
(٥٦) الْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِلَّهِ ---- اثبات دتصرف الله تعالیٰ ته۔ رد په مشرکینو چه قیامت راشی نو دالله تعالیٰ نه بیا څوک خلاصول نشی کولې۔
الْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِلَّهِ ---- بشارت۔
(٥٧) وَالَّذِينَ كَفَرُوا ----- تخویف۔
(٥٨) وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ---- ترغیب هجرت او جهاد ته دپاره ددې مسئلې۔یعنی په دې مسئلې کلک شه د پیغمبر علیه السلام دعوت اومنه په وسواسو دشیطان پسې مه ځه کچرته وطن پریخودل راځی نو وطن پریږده او کچرته مرګ پکښې راشی نو الله تعالیٰ به دِ ضائع نه کړی۔
(٥٩) لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُدْخَلًا ---- داهم ترغیب۔
(٦٠) ذَلِكَ وَمَنْ عَاقَبَ ---- ترغیب او وعده دنصرت۔
(٦١) ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ ---- دلیل دنصرت او علت دقتال چه جنګ اوکړی الله به ستاسو امداد کوی لکه چه ورځ شپه کښې دننه کوی نو چه داکار کوی نو دغه شان به تیرې د شرک ختم کړی او رنړا دتوحید به راولی۔
(٦٢) ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ ---- مسئله دتوحید او علت د نصرت - رد په مشرکینو یعنی ددې مسئلې دپاره قتال دې او الله تعالیٰ به ستاسو ځکه نصرت کوی چه دامسئله حقه ده او قانون دالله تعالیٰ دې چه حق په باطل غالب کوی۔
(٦٣) أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ ---- دلیل عقلی په توحید۔
(٦٤) لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ ---- دلیل عقلی په توحید
(٦٥) أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ ---- دلیل عقلی په توحید۔
(٦٦) وَهُوَ الَّذِي أَحْيَاكُمْ ---- دلیل عقلی ورسره اثبات دقیامت۔

إِنَّ الْإِنْسَانَ لَكَفُورٌ ---- زجر چه دالله تعالیٰ کړو ته ګوره او دمشرک انسان ناقدرئ ته ګوره بیا هم شرک کوی۔

(٦٧) لِكُلِّ أُمة جَعَلْنَا مَنْسَكًا ---- دعوی دسورة چه الله تعالیٰ مقررتیا کړې ده نودځان نه تحریمات او نذور مه کوئ په هغه طریقه کار کوی ناقدره او ناشکره انسان ددې خلاف کوی۔

فَلَا يُنَازِعُنَّكَ ---- تلقین دتثبت دخلقو خلاف دِ ددې مسئلې نه بند نکړی او خلقو له ندی پکار چه تاسره دې مسئلې کښې نزاع اوکړی دادنزاع مسئله نده۔ ته دنزاع دبد اخلاقئ خبره مه کوی - ادفع بالتی۔

وَادْعُ إِلَى رَبِّكَ ---- ترغیب تبلیغ ته۔

إِنَّكَ لَعَلَى هُدًى مُسْتَقِيمٍ - بشارت ددنیا۔

(٦٨) وَإِنْ جَادَلُوكَ ---- تسلی چه که ستا خلاف کوی نو الله تعالیٰ ته معلوم دی۔ چه هغوی جدال کوی نو والله اعلم وایه۔ او داهم اووایه الله یحکم -

(٥٩) اللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ---- یره دآخرت او اثبات دتصرف الله تعالیٰ لره -او دالله اعلم دپاره دلیل هم دې۔

(٧١) وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ----- زجر په شرک باندې چه دا مشرکان څومره نااهله دی توحید په ادلو ثلاثو ثابت دې هغه نه منی او شرک باندې هیڅ قسمه دلیل نشته هغه کوی اودغیر الله دپاره نذر ونیاز او عبادت کوی۔

وَمَا لِلظَّالِمِينَ سره تخویف چه څوک به ورلره دخلاصی نه وی۔

(٧٢) وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا ---- زجر په انکار دقرآن او ځان اوچتولو باندې په قرآن بیانونکی باندې۔ یعنی دشرک کولو وجه داده چه دوی کله قرآن واوری صاف صاف نو دهغې نه تنکیری او په موحد باندې حملې کولو ته تیاریږی۔

قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ ---- سره تخویف - چه ددې کار نه بد تر هغه عذاب د اور دې۔

(۷۳) يَا أَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ ---- دوضاحت دپاره دمعبود باطل مثال- يعنى مسئله خو په دلائلو ثابته شوه خو دمعبود باطل دضعف يو عجيبه او ناشنا مثآل-
(۷٤) مَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ ---- زجر چه مشرک داسې کمزورى او ناتوانا دالله تعالىٰ سره حصه دار ګرځوى نو ده دالله تعالىٰ څه قدر او عظمت اوساتلو-
إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ- داپه مقابله دضعف الطّالب کښې چه الله رب العزت قوى او زورآور ذات دې-
(۷۵) اللَّهُ يَصْطَفِي مِنَ الْمَلَائِكَةِ ---- عجز دنيکانو بنديانو - چه مخکښې دمعبود من دون الله عجز بيان شو نو اوس عجز دنيکانو بنديانو ذکرکوى چه انبياء او ملائک دالله تعالىٰ نيکان بنديان ضرور دى خو معبودان نه دى-ځکه چه معبود هغه وى چه هر څه اورى او هر څه باندې پوهيږى او په دوى کښې دا نشته دې داصفت دالله تعالىٰ دې - رد په مشرکانو هم شو چه هغوى نيکانو بنديانو ته الهه وئيل-
(۷٦) يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ ---- بيان دعلم دالله تعالىٰ -
(۷۷) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا ---- ترغيب الى العبادة چه مشرک دغيرالله عبادت کوى تاسو صرف ديو الله تعالىٰ عبادت اوکړئ کامياب به شئ-يعنى مشرکانو تاسو سره مقابله کوله او په مسجد حرام کښې ئې شرک کولو نو تاسو جهاداوکړئ الله به فتح درکړى نو چه الله تعالىٰ فتح درکړى نو تاسو صرف ديو الله تعالىٰ عبادت کوئ-
(۷۸) وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ ---- ترغيب الى التبليغ- ددې مسئلو په رسولو کښې چه درنه څومره کوشش کيږى جانى وى که مالى - که هر رنګه وى نوهغه اوکړئ- ځکه الله رب العزت ستاسو اجتباء ددې دپاره کړې ده - او څه تنګى نشته ستاسو نوم هم پدې دلالت کوى او منصب موهم دغه دې-
فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ ---- دالله تعالىٰ دامداد دحاصلولو دپاره امور مصلحه الله تعالىٰ به ستاسو امداد کوى دمشرک امدادى بئس المولىٰ وو او د موحد امدادى چه دې نو هغه نعم

المولیٰ و نعم النصیر - اللّٰهُمَّ انصرنا یا نعم المولیٰ ونعم النصیر واخرجنا منه هذه القریة الظالم اهلها-

ربنا اخرجنا من هذاالسجن لخدمة دینک وکتابک ولاشاعة التوحید والسنة - اٰمین یارب العلمین-

## حاصل دسورة

مشرکینو له دقیامت دخطرناکۍ نه یره پکار ده دایقینی راروان دې شرک چه په هغې هیڅ قسمه دلیل نشته هغه ورلره پریخودل پکار دی د دوی معبودان من دون الله دوی له هیڅ وس نه لری او نه ده هغوی په بلنه کښې څه فائده شته سوا دخسران نه نو دوی دمرکز دتوحید نه توحید ولې نه زده کوی دالله حرام ته دِ حرام اووائی- او دغیر په نوم دِ نذرونیاز نه کوی داخبره چه توحید دې په عقل او نقل او وحی ثابته ده دوی نه منی او تاسو سره جنګ کوی نو جنګ ورسره اوکړۍ - الله تعالیٰ به ستاسو امداد کوی الله تعالیٰ ددې امداد اهل دې-

## امتیازات السورة

(۱) په بیان دزلزلې دقیامت او دهغې دخطرناکۍ - ۲۰۱

(۲) ناشنا حال دمشرک په ۱۱ کښې -

(۳) علاج د شرک دمشرک ۱۵ -

(٤) تشریح دمسائل اربعو په طرز عجیبه سره -

(٥) بیان دعداوت دشیطان- ٥۲ کښې -

(٦) اذن للذین یقاتلون - په بیان داذن اول دقتال ممتاز دې ۳۹-

(۷) په بیان د علتونو دنصرت باندې- ٦۲،٦۱ کښې-

(۸) لن ینال الله لحومها ۳۷-

(۹) ومن یشرک بالله فکانما ۳۱ -

(۱۰) په ناشنا مثال دذباب ۷۳-

تمت سورة الحج - بعون من يكون لهُ العجّ والثجّ -

پدې وخت ځه په جيل کنبې ناست يم ۲۰ شوال دجمعې ورځ تيره شوه سحر له دخالی ورځ مدرسه او طالبان مِ په زړه داسې راوريږی لکه چه ښنګه داباران وريږی بهر باران دې او نن ډير زيات پريشان يم الله تعالیٰ دِ ما دخپل ددين خدمت دپاره دجيل نه بهر کړی او مادِ په ژوند دطالبانو او علماؤ دمحفل نه او دخپل کتاب دخدمت نه نه جداکوی انتهائی سختې ورځی دی خو الله تعالیٰ راته پدې ليکلو آسانې کړی الله دِ دا ليکل سر ته اورسوی او الله تعالیٰ دِ قبول کړی دا به دطالبانو دپاره تحفه شی- وقت ۰۸ : ۱۰ عشاء

نزولا (٧٤) مصحفا (٢٣) سورة المؤمنون مكية ركوعات (٦) ايات (١١٨)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة المومنون

سورة المومنون مکی سورة دې په نزول کښې څلوراوايم(٧٤)نمبر دې پس دسورة الانبياء نه او په ترتيب مصحفی کښې ديريشتم (٢٣) دې پس دسورة الحج نه -

## ربط دمخکښې سورة سره

مناسبت دسورة المومنون دسورة الحج سره په ګڼړو وجوهو باندې دې - ځنې دهغې نه -

**اوله وجه** : هرکله چه په سورة الحج کښې نفی دشرک فعلی اوشوه او داعمالو دمشرکيو نه وه نو پدې سورة کښې بيان داعمالو دمومنينو دې-

**دويمه وجه** : په مخکښې سورتونو کښې نفی دشرک اعتقادی او فعلی اوشوه نو په سورة المومنون دواړه يوځائې کوی هم نفی دشرک اعتقادی او هم نفی دشرک فعلی نو نفی دشرکَينو يو ځائې کوی خلاصه دماسبق-

**دريمه وجه** : په مخکښې سورة کښې تخويف او يره وه دهغه غټ مصيبت نه چه " زلزلة الساعة " وه نو دې سورة کښې بيان دهغه اعمالو چه په هغې سره ددغه مصيبت نه نجات او خلاصون ملاويږی-

**څلورمه وجه**: په مخکښې سورتونو کښې تخليه وه يعنی بيان دهغه کارونو چه د هغې نه ځان پاکول پکار وو نو په سورة المومنون کښې تحليه ده يعنی بيان دهغه اعمالو چه په هغې سره بنده خائسته کيږی او قانون دادې چه خائسته کول دپاکولو نه روستو وی-

**پنځمه وجه** : په مخکښې سورتونو کښې بيان دصحت دعقيدې وو نو دې سورة کښې تلقين داعمالو چه دعقيدې نه روستو اعمال برابر کړئ-

## دعوی دسورة

دسورة مقصد او مرکزی مضمون هغه اثبات دتوحید په ادلّو ثلاثو سره یعنی په عقلی نقلی وحی سره توحید ثابتوی سره د رد دشرک اعتقادی او فعلی دواړه شرکونه  هم رد کوی- اود موحدینو ( چه څوک دتوحید خدمت کوی او په ملک کښې رائج کوی ) نو دهغوی اعمال او اوصاف او اکرام ذکر کوی-

## خلاصه او تقسیم دسورة

دسورة مختصره خلاصه خو داده چه ابتداء نه  اوصاف دموحدینو او دهغوی کامیابی بیا په توحید دلائل عقلیه او پس دهغې نه  په توحید نقلی دلائل بیا نفی دشرک فعلی او په هغې دلیل نقلی اجماعی بیا صفات دموحدینو او زواجر او تخویفات نه  منونکو ته بیا ادله عقلیه محضه او اعترافیه من الخصم پس دهغې نه  زواجر او تخویفات او ختم دسورة په هغه څه چه په څه شروع شوې وو چه مومنانو کامیاب دی او کافران نه کامیبرې تفصیلی خلاصه په تقسیم کښې ملاحظه کړه-

**تقسیم دسورة** : دا سورة خپله مسئله په پنځو اندازونو او پنځو سبقونو کښې بیانوی یعنی سورة پنځو بابونو ته منقسم دې - تفصیل دبابونو -

<u>اول باب</u> : اول باب دسورت د ابتداء نه  تر ۱۱ یولسم آیت پورې دې - پدیکښې بیان د اوصافو او خو خویونو د مومنانو اول او آخر د اوصافو کښې بشارت دې چه مومنان داسې خلق دې چه هغوی دمشرکانو پشان اعمال نه  کوی چه د ځان نه  تحلیل او تحریم کوی بلکه هغوی پداسې اعمالو خائسته او مزین دی-

شیخ القرآن رحمة الله تعالیٰ چه داباب بیانوی نو هغه فرمائی چه اوصاف دمتقیانو ذکر کوی- او دهغې اصول درې دی یعنی اوصاف ډیر دی خو درې اصول هغې اوصافو لره جمع کوی- یو خشوع الی الله تعالیٰ - نو پدیکښې مداومت دصلاة ذکر کړې دې- دویم

: الاتقاء من الشرک داپه دریم آیت کښې ذکر ده او دریم اصل ترک الظلم یعنی الله تعالیٰ ته عاجزی اوکړئ مونځ کوئ شرک مه کوئ او د ظلم نه ځان بچ کړئ-

فائده : خو قابل غور عبارت دحضرت شیخ القرآن علیه الرحمة والغفران هغه دادې چه هغه فرمائی :

واکتفیٰ بذکر قسمی الظلم ههنا من الاقسام الستة

کما فی سورة بنی اسرائیل - سمط الدرر ۱۱٤

چه دشپږو اقسامو دظلم نه چه کوم بنی اسرائیل کښې ذکر دی نو دهغې نه ئې په دوو دلته اکتفاء اوکړه - اوس هغه شپږقسمه کوم دی؟ او چه کوم دلته په دوو اکتفاء شوې ده نوهغه کوم دی ؟

څما استاذ او شیخ محترم شیخ القرآن والحدیث مولانا میر سمیع الحق صاحب مد ظله العالی وبارک الله تعالیٰ فی صحته وعمره هغه ددې بیان کړې دې او شیخ المشائخ مولانا حسین علی الوانی رئیس القافله رحمه الله تعالیٰ هغه په بلغة الحیران په تفسیر دسورة بنی اسرائیل کښې لیکلی دی ددوارو جامع تقریر داسې سې -

چه ظلم اول په دوه قسمه دې - ظلم مع الخالق او ظلم مع المخلوق نو ظلم مع المخلوق په شپږقسمه دې- (۱) ظلم مع الابوین الاسراء ۲۳ (۲) ظلم مع الاولاد الاسراء ۳۱ (۳) ظلم مع النساء الاسراء ۳۲ (٤) ظلم مع الایتام ۳٤ (٥) ظلم مع عوام الناس فی الکیل والوزن وغیره - الاسراء ۳۳،۳۵ (٦) ظلم مع العوام فی سوء الظن وغیره - الاسراء ۳٦،۳۷ -

اوس دلته چه کوم دوه قسمه دهغه شپږو نه ذکرکړی نوهغه دې ظلم مع النساء چه دزنا نه ځان ساتل دی - آیت ٥،٦ کښې - او دویم ظلم مع العوام چه دوعدې او امانت خیال ساتل پکار دی- ځکه ددې خیال نه ساتل دا هم دهغه کس سره ظلم دې چه دچا دطرف نه وعده وی او دچا دطرف نه امانت وی دا په آیت ۸ کښې ذکر دی- شرک جدا مستقلاً ذکر دې هغه ددې شپږو نه ندې دا ظلم مع المخلوق دشپږو اقسامو نه دوه ذکر دی- هذا ماعندی والعلم عندالله لاتدری لعلّ یحدث بعد ذالک امراً -

دباب خلاصه خو مختصر معلومه شوه چه اول باب کښې اوصاف دمومنانو او هغوی ته بشارت-

دويم باب : دسورة دويم باب دآيت ۱۲ نه تر ۲۲ آيت پورې - پديکښې اول دليل عقلی په خلقت دانسان په هغې تفريع دنفی دشرک فی البرکات ۱٤ چه خيرونه او برکتونه په هر څه کښې غورځونکې الله تعالیٰ دې نو دبل چا په نوم نذر ونياز مه کوئ او دبل چانه مدد مه غواړئ او بيا ذکر دآخری حالت دانسان دپاره دتخويف- چه الله رب العزت داسې کارونه کوی نو ستاسو بيا راوچتول هغه ته گران ندی- اول ابتداء دانسان او بيا آخری حال دانسان تخويف دپاره - بيا دهغې نه روستو نور دلائل عقليه بيان شوی دی- په دويم دليل بعث دقيامت تفريع کوی چه " ماکنّا عن الخلق --- " ۱۷ کښې بيا دريم دليل-

دريم باب : دريم باب دسورة د ۲۳ نه تر ۵۰ آيت پورې پديکښې دليل نقلی په دعوی باندې اول دنوح عليه السلام تر ۳۱ پورې چه هغه ددې مسئلې خدمت کړې وو- بيا نقلی اجماعی په ۳۲ کښې اوتخويف بيا دويم نقلی اجماعی په ٤٤ کښې او تخويف - بل نقلی دليل ٤۵ کښې دموسیٰ عليه السلام او هٰرون عليه السلام نه دهغوی دکتاب نه او دعيسیٰ عليه السلام ۵۰ کښې - نو باب کښې ادله نقليه په دعوی باندې چه دې ټولو انبياء کرامو دتوحيد خدمت کړې وو او رد دشرک-

څلورم باب : دسورة څلورم سبق د ۵۰ نه تر ۷۷ پورې- پديکښې رد دشرک فعلی باندې دليل نقلی اجماعی بيا زجر ۵٤ نه تر ۵٦ بيا صفات دمتقيانو د ۵۷ نه ٦۱ پورې- او بيا تخويف او زجر معرضينو ته په تفصيل سره-

پنځم باب : پنځم باب د ۷۸ نه تر آخره تر سورته پديکښې بيا دلائل عقليه خو اول محضه ۷۸ نه ۸۰ پورې او بيا اعترافيه من الخصم ۸٤ نه تر ۸۹ پورې چه دمقابل پرې دستخط هم اخلی او په هغې تفريع ددعوی په نفی دولد ۹۱،۹۲ - بيا طريقه دتعليم او دتخويف تفصيلاً-

لنډه دا چه اول باب کښې اوصاف دموحدینو دویم باب کښې ادله عقلیه په دعوی دریم باب کښې دلائل نقلیه په دعوی څلورم باب کښې رد دشرک فعلی باندې دلیل نقلی او زواجر او پنځم باب کښې ادله عقلیه محضه او اعترافیه او تخویف-
تمت الخلاصة والتقسیم بفضل الرؤوف الرحیم -

## تناسب الایات ومقاصدها

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ (١) ددې ځائې نه اول باب تر ١١ آیت پورې پدیکښې دکامیابو خلقو اوصاف او بشارت - یعنی مومنانو داسې خلق دې هغوی دمشرکانو رسمونو او اعمالو نه ځان ساته- او پدې اوصاف ځان مزین کوی-
قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ - فلاح او کامیابې هغه په ایمان دې -
(٢) الَّذِينَ هُمْ ---- اول صفت خشوع الی الله تعالیٰ -
(٣) وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ ---- دویم صفت دهر قسم شرک نه اجتناب-
(٤) وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ ---- دریم تطهیر الانفس دځان پاکول-
(٥) وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ ---- څلورم صفت العفة پاکدامنی-
(٨) وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ ---- پنځم صفت الامانة-
وَعَهْدِهِمْ ---- شپږم صفت وفاء بالعهود-
(٩) وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ ---- اقامة ومداومة الصلوٰة اووم صفت دې-
(١٠،١١) هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ - بشارت چه داصفتونه پکښې راشی نو جنت الفردوس به یئ نصیب شی-
(١٢) وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ ---- ددې ځائې نه دویم باب تر ٢٢ پورې- پدیکښې په دعوی دسورۃ دلیل عقلی- چه دعقل دلائل ددې خبرې ګواهی کوی چه الله تعالیٰ په خپلو صفاتو کښې یکتا دې- شریک او حصه دار نه لری-

(۱۲) نه تر (۱٤) پورې دليل عقلی په توحيد په خلقت دانسان باندې- چه الله رب العزت انسان په کوم انداز پيداکړې دې دانسان دپيدائش داسې تفصيل بل سورة کښې نشته دې-

فَتَبَارَكَ اللَّهُ ---- تفريع په دليل باندې - دنفی دشرک فی البرکات چه خيرونه او برکتونه غورځونکې په هرڅه کښې صرف يو الله تعالیٰ دې-نو اې کفارو مشرکانو تاسو دکوم ځائې نه دا برکتونه ورکونکی راوباسئ-

(۱٦،۱٥) دابتداء حال دذکر کولو نه روستو اوس آخری حال دپاره د تخويف چه مرئ به او الله تعالیٰ ته به اودريږئ نو الله تعالیٰ له به څه جواب ورکوئ-

(۱۷) وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ ---- دويم دليل عقلی په توحيد-

وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ ---- تفريع په دويم دليل باندې دبعث بعد الموت چه دومره آسمانونه پيدا کولې شم نو ولې تاسو دوباره نشم پيدا کولې-

(۱۸) نه تر (۲۰) پورې بل دليل عقلی-

(۲۳) وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ ---- ددې ځائې نه دريم باب دسورة تر آيت ٥۰ پورې او پديکښې په دعوی دسورة دلائل نقليه چه تير انبياء کرام هم دبيان دتوحيد او رد د شرک دپاره راغلی وو-

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا---- اول دليل نقلی دنوح عليه السلام نه - بيان دنوح عليه السلام کول خپل قوم ته دتوحيد-

أَفَلَا تَتَّقُونَ ---- زجر-

(۲٤) فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ ---- دقوم دسردارانو رد عمل او اعتراضونه کول -

مَا هَذَا ---- اول اعتراض چه عام انسان دې او دمشرت او سردارئ شوقی دې

وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ ---- دويم اعتراض دبشريت او نبوت منافات-

مَا سَمِعْنَا بِهَذَا ---- سره دريم اعتراض - زمونږ د اٰباء اجداد خلاف دې مونږ ددې مسئلې نه نه يو خبر ځان ته هوښيار وائی چه داخو مونږچرته کتاب کښې ندی ليدلی-

(٢٥ )إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ بِهِ ---- څلورم اعتراض او دفع دشبهې چه دې بيا دومره تکليف ولې برداشت کوی نو جواب چه دې ليونې دې لږانتظار اوکړئ مړ به شی-

(٢٦) قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي .... دنوح عليه السلام مدد غوختل او قوم ته بد دعاء کول-

(٢٧) فَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ ---- د دعاء قبليدل او دکشتئ دجوړولو طريقه خودل-

وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ---- منع کول دالله تعالیٰ نوح عليه السلام له دشفاعت دمشرک نه -

(٢٨) فَإِذَا اسْتَوَيْتَ أَنْتَ ---- په کشتئ دسوريدو ادب- او دقوم هلاکيدلو باندې دشکر د کلماتو وئيلو تعليم-

(٢٩) وَقُلْ رَبِّ أَنْزِلْنِي مُنْزَلًا مُبَارَكًا ---- دکشتئ نه دکوزيدلو ادب-

(٣٠) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ ---- دعوت دعبرت-

(٣٢) فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِنهمْ ---- دويم دليل نقلی اجماعی- دنوح عليه السلام نه روستو هر پيغمبر دا مسئله کړې ده-

(٣٣) وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ ---- دقوم رد عمل او اعتراضونه کول- او وجه دانکار-

وَكَذَّبُوا بِلِقَاءِ الْآخِرَةِ --- يووجه دانکار- وَأَتْرَفْنَاهُمْ ---- دويمه وجه دانکار-

مَا هَذَا إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ --- اول اعتراض

أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ ---- دويم اعتراض چه قيامت ډير دعقل نه بعيد ګنړل تر ٣٧ پورې -

(٣٨) إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ ---- دريم اعتراض چه دې په الله تعالیٰ دروغ تړی-

(٣٩) قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي ---- دپيغمبر طلب دامداد دالله نه او قوم ته بددعاء کول-

(٤٠) قَالَ عَمَّا قَلِيلٍ ---- اجابت دالله ددعاء د پيغمبر او دقومونو هلاکيدل-

(٤٣) مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمة ---- جواب دشبهې چه پدې اوسنو ولې عذاب نه راځی نو جواب دهر قوم دعذاب او سزا وخت مقرر دې-

(٤٤) ثُمَّ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا ---- دريم دليل نقلی اجماعی-

كُلَّمَا جَاءَ أُمة رَسُولُهَا ---- دقومونو انکار او هلاکت-

(٤٥) ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَى وَأَخَاهُ ---- څلورم دليل نقلي دموسیٰ عليه السلام او هٰرون عليه السلام نه - (٤٦)فَاسْتَكْبَرُوا ---- دفرعونيانو انكار او استكبار-
(٤٧) فَقَالُوا أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا ---- وجه دانكار-
(٤٨) فَكَذَّبُوهُمَا ---- په تكذيب دائم پاتې كيدل او هلاكيدل-
(٤٩) وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ ---- نقل دكتاب دموسیٰ عليه السلام نه -
(٥٠) كښې تذكره دعيسیٰ عليه السلام او دمريم چه دواړه عاجز وو- حاصل دباب چه اوګورئ كفارو ته مونږ پيغمبران راليږلي وو هغه ددې دعوې خدمت كړې وو چه كوم اعتراضونه تاسو نن كوئ نو دغه اعتراضونه هغوی كړی وو نودهغوی څه حال شو نو تاسو له پكار دی چه دشرك نه منع شئ ګنې نو دهغوی په شان حال به مو شی-
(٥١) يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا ---- ددې ځائې نه څلورم باب دسورة او پديكښې دليل نقلي اجماعی په نفی دشرك فعلي او زجر او صفات دمومنانو او بيا زجرونه او تخويف-
يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا ---- دليل نقلي اجماعی په رد دشرك فعلي باندې- چه ټول انبياء كرامو عليهم السلام ته الله تعالیٰ ددې وحی كړې وه چه "كلوا من الطيبات " چه دكومو څيزونو تحريم الله نه وی كړې الله نه وی حرام كړی نو هغه خورئ او چه كوم د بنديانو تحريم او منختې وی نودهغې نه ځان بچ كړئ-
(٥٢) وَإِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمة وَاحِدَةً ---- تلقين دتثبت چه دا دټولو انبياء مشتركه يودين دی او څه مورب يم نو ځما عبادت كوی اود غير دنذرونياز نه ځان اوساتئ- رب څه يم نو دتحليل او تحريم اختيار به ځما وی نه كه د بل چا-
(٥٣) فَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنهمْ ---- دفع دسوال چه شرك از كجا آمد - چه هر كله ټول انبياء كرام عليهم السلام په توحيد متفق وو نو دا نذر د عبادو او دغير تحريمات دكوم ځائې نه راغلل نو جواب چه باغيانو اختلاف كړې وو دضد او عناد دوجې نه او دين ئې ټكړې ټكړې كړو - او بيا په خپل غلط طور طريقه باندې مطمئن او خوشحاله هم وو پريخودل ئې نه -

فَذَرْهُمْ ---- نه واخلي تر بَلْ لَا يَشْعُرُونَ (٥٦) پورې زجر زورنه چه دومره دليلونه بيان شو په رد دشرک اعتقادی هم او په رد دشرک فعلی هم او بيا هم دوی نه منی - **وہی مرغی کی ایک ٹانگ**- نو دغه شان په غفلت کښې ئې پرېږده - ددوی دا مال او خوشحالی به هميشه نه وی او دا ګمان دِ نه کوی چه دا په مونږ په مال دولت الله تعالیٰ نعمت کړې دې- بلکه دا استدراج دې اود مهر دوجې دوی حق نه پيژنی- او مال ته خوشحالی او حقانيت وائی -

***مچھلی نے ڈھیل پائی لقمے پہ شاد ہے***

***صیاد مطمئن ہے کہ کانٹا نگل گئی***

(٥٧) إِنَّ الَّذِينَ هُمْ مِنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ ---- دمومنانو اوصاف په مقابله دکافرو کښې چه کافر خو دمال دولت په نشه کښې په غفلت کښې پراته دی- دالله د آيتونو نه انکار کوی او شرک کښې او بد عملو کښې مبتلاء دی - ددې په مقابله کښې دمومنانو اوصاف اوګوره چه دالله نه يريږی-

دابتداء دسورة پشان دلته هم اوصاف ذکر کوی- څه مخکښې بيان شوی وو اوس دلته نورذکر کوی- ګويا دهغه صفتونو اعاده کوی-

(٥٧) إِنَّ الَّذِينَ هُمْ مِنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ ---- يو صفت الخشية لکه خاشعون چه وو-

(٥٨) وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِ ----- دويم صفت الايمان بالايات لکه قد افلح المومنون ،

(٥٩) وَالَّذِينَ هُمْ بِرَبِّهِمْ ----- دريم صفت - اجتناب عن الشرک - شرک نه ځان بچ کول - لکه چه عن اللغو معرضون کښې وو-

(٦٠) وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ ---- څلورم صفت خوف آخرت وعدم الاغترار بالطاعات- يعنی دآخرت نه يره او نه دهوکه کيدل په خپل طاعت او تابعدارئ باندې- لکه چه لامٰنٰتهم وعهدهم راعون وو-

(٦١) أُولَئِكَ يُسَارِعُونَ ---- پنځم صفت المسارعة فی الخیرات- چه نیکو اعمالو ته تلوار او تادی کول- یعنی حرص دنیکو اعمالو - دا بشارت هم شو چه پدې صفتونو موصوف دا سابق بالخیرات دې-

(٦٢) وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا ---- ادخال الٰهی فرمان شاهی الله ذکر کوی چه که چا وئیل چه دخیراتو ته مخکښې کیدل دا به ګران کار وی او غر اوچتول به وی نو الله تعالیٰ وائی چه سبقت دپاره مونږدغره اوچتولو نه وایو خو د اعمالو وینا کوو چه دوس دلاندې دی او دشریعت یو حکم هم دوس نه بهر ندې نو مونږستاسو دطاقت مناسب خبره کوو-

وَلَدَيْنَا كِتَابٌ يَنْطِقُ ---- تخویف - چه د دوئ اعمال لیکلې شوې دی پوره بدله به ملاؤ شی -

(٦٣) بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ ---- زجر - یعنی په غفلت الله تعالیٰ زورنه ورکوی چه دوی دمومنانو داعمالو طرفته چه کوم تیر شی هډو راځی نه بلکه دکفر او شرک نوی نوی رسمونه جوړوی او په هغې کښې ترقی کوی-

(٦٤) حَتَّى إِذَا أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِمْ ---- دا دوه آیتونه ٦٥ سره دا تخویف چه عذاب راشی بیا به چغې اوباسې -

(٦٦) قَدْ كَانَتْ آيَاتِي ---- زجر بانکارالقرآن- یعنی اوس څله چغې اوباسئ چه کله به قرآن کریم بیانیدلو نو تاسو به څه کول تر ٦٨ پورې دا زجر او زورنه اعراض به ئې کوو، استکبار او په قرآن پسې ګپ لګول او سوچ نه کول په قرآن کریم کښې -

(٦٩) أَمْ لَمْ يَعْرِفُوا رَسُولَهُمْ ---- زجر بانکار الرسول - دوی دقرآن کریم دداعی په زندګئ کښې هم سوچ نه کوی او ولې دوی هغه پیژنی نه -

(٧٠) أَمْ يَقُولُونَ بِهِ جِنة ---- بل زجر چه لیونې ورته وائی لکه چه تیرو انبیاء ته داسې وئیلی وو-

بَلْ جَاءَهُمْ بِالْحَقِّ ---- اصل وجه دانکار چه دا د توحید دشمنان دی او دادتوحید مسئله ددوی دمزاج نه خلاف ده-

(۷۱) وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ ---- زجر - چه دوی وائی چه حق دِ زمونږدمزاج مطابق وی- ځمونږاٰلهو لات منات وغیره ته دِ متصرف اوئیلې شی نو دا خو به هرڅه روان شی-

بَلْ أَتَيْنَاهُمْ بِذِكْرِهِمْ ---- مونږدوی ته د لااله الاالله مسئله بیانوو دا خو په تلبیه کښې وائی چه لاشریک لک خو دوی دهغې نه انکار کوی-

(۷۲) أَمْ تَسْأَلُهُمْ خَرْجًا ---- نو آخر دانکار وجه څه ده قرآن کښې نقصان نشته داعی کښې نشته دعوت کښې نقصان نشته دې نو ته خو څه محصول هم نه غواړې چه ګنی دهغې نه تنګ دی- ۷۳ صداقت دپیغمبردعوت هم بالکل دسیدها مشن دې نو اصل نقصان په دوی کښې دې-

(۷٤) وَإِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ --- اصل نقصان ددوی چه د آخرت نه انکار دې-

(۷۵) وَلَوْ رَحِمْنَاهُمْ وَكَشَفْنَا ---- تخویف یره ددنیا تر ۷۷ پورې- چه موجوده عذاب چه قحط دې دا ترې لرې کړو نو هم نه منی نو اوس په بدر کبریٰ کښې به عذاب ورکړو- بیا به ناامیده وی مردار به شی-

(۷۸) وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَ لَكُمُ ---- ددې ځائې نه پنځم باب تر آخره پورې پدیکښې دلائل عقلیه په اصل مدعی باندې زواجر او تخویفات-

وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَ لَكُمُ ---- پدې دریو آیتونو کښې تر (۸۰) پورې دلائل عقلیه محضه یعنی دخصم یعنی مقابل نه پکښې تپوس نشته دې-

قَلِيلًا مَا ---- زجر چه شرک کوئ نو تاسو دالله ددې نعمت څه قدر اوکړو-

وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ - سره ذکر دقیامت -

أَفَلَا تَعْقِلُونَ - زورنه چه دعقل نه دومره کار نه اخلئ- کیا تمهاری عقلوں پر مت ماری هوئی هې-

(۸۱) بَلْ قَالُوا مِثْلَ ---- ددې ځائې نه تر ۸۳ پورې زجر په انکار دقیامت چه عقل نه کار اغستل درکنار التا انکار شروع کړی او لکه دتیرو کافرو پشان اعتراضونه کوی نو دوئ خو خپله هم دالله تعالیٰ پدې راروانو قدرتونو قائل دی نو څنګه انکار کوی-

(٨٤) قُلْ لِمَنِ الْأَرْضُ ---- ددې ځائې نه تر ٨٩ پورې دلائل عقليه الزاميه يعنى چه په هغې كښې دخصم او مقابل اعتراف او اقرار وى چه صفا هغه قول دهغې په منلو كوى او ورسره الزام په هغه وى- چه په دغه طريقه نه منى -نو پدې طريقه ورته بيان اوكړه او دستخط ترې واخله-

قُلْ لِمَنِ ---- سره اول دليل عقلى اعترافى-

(٨٥) سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ---- سره اعتراف او اقرار دخصم او مقابل-

قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ - سره زجر او الزام چه دومره منى نو دومره سوچ نه كار نه اخلئ چه دا نور كارونه كونكې هم يو الله تعالىٰ دې-

(٨٦) قُلْ مَنْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ ---- دويم دليل عقلى اعترافى-

(٨٧) سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ---- اعتراف او اقرار دمقابل-

قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ - سره الزام چه دومره منئ او بيا هم دشرك نه ځان نه بچ كوئ-

(٨٨) قُلْ مَنْ بِيَدِهِ ---- دريم دليل عقلى اعترافى-

(٨٩) سَيَقُولُونَ لِلَّهِ - اعتراف ددوى-

قُلْ فَأَنَّى تُسْحَرُونَ - سره الزام چه اختيارات ټول دالله منئ نو بيا كوم دربار ته دربانديې جادو اوشو اولاړئ او دالله دربار مو پريخودلو-

(٩١) مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِنْ وَلَدٍ ---- تفريع په دلائلو ددعوى دتوحيد په نفى د اتخاذالولد او په نفى دعلم الغيب او نفى دشرك سره- چه ددلائلو نه دامعلومه شوه چه بل اله متصرف كارساز نشته دې صرف يواځې هغه كارساز متصرف دې ځكه هغه عالم الغيب دې-چه دوى كوم متصرفان او شريكان دالله تعالىٰ سره جوړوى الله تعالىٰ دهغې نه بالا وبلند تر دې- چه نسبت خاک را با عالم پاک-

(٩٣) قُلْ رَبِّ إِمَّا تُرِيَنِّي ---- ددې ځائې نه تر لقُدون (٩٥) پورې ددنيا دعذاب نه يره او تعليم داعى ته چه ځان له دبچاؤ سوال كوه-

(٩٦) ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ ---- ددې ځائې نه تر (٩٨) أَنْ يَحْضُرُونِ - پورې طريقه تعليم چه دوی اګر که څومره په سخته نه منی او انکار کوی خو ته نرمی کوه- او چه خلاف کوی نو صبر کوه- او که شیطان وسوسه اچوی دسختئ کولو او یا ددعوت پرېخودلو دهغوی دنه منلو او انکار دوجې نو دالله تعالیٰ پناه غواړه او خپل دعوت جاری ساته دوی نه منی نو وخت راروان دې آخر مرګ به ورله نه راځی-

(٩٩) حَتَّى إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ ---- ددې ځائې نه تفصيلی تخويف دې تر ١١٥ پورې مينځ کښې ١٠٢ کښې مختصر بشارت-

حَتَّى إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ---- يعنی چه مرګ ورلره راشی بيا به ستا دمسئلې دمنلو ارمان اوکړی خو دورځ نه تيرې اوبه واپس بيا نه راځی-

(١٠٠) رد د ده خبرې چه واپسی نشته- وَمِنْ وَرَائِهِمْ بَرْزَخٌ ---- يره دبرزخ-

(١٠١) فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ ---- يره دقيامت چه هلته به دده هغه رشتې ده له فائده ورنکړی فائده ورکونکی توحيد او نيک اعمال دی اودهغې نه دده لمن خالی ده ده سره شرک او بد اعمال دی-

(١٠٢) فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينه ---- مختصر بشارت دا کامياب دی-

(١٠٣) وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينه ---- يره دآخرت تفصيلی او وجوهات به ذکر کړی ددوزخ ده تلو په اعمالو کښې وزن ځکه نشته چه توحيد نه خالی وو-

(١٠٥) أَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي ---- وجه اول ددوزخ ته دتلو- ددوی دواپسئ درخواست او دهغې رد تر (١٠٨) پورې-

(١٠٩) إِنه كَانَ فَرِيقٌ مِنْ عِبَادِي ---- سره ددويمه وجه دعذاب - چه استهزاء وه په موحدينو او قرآن والو پورې نو دموحدينو کاميابی او ددوی رسوائی-

(١١٢) قَالَ كَمْ لَبِثْتُمْ ---- ددنيا دژوند باره کښې تپوس او ددوی هغې له ډير کم ګنړل نو هلته ورته بيا لړاوکم وائی نو اوس پرې ولې دهوکه کيږئ اودقرآن او توحيد انکار کوی- تر (١١٤) پورې-

(۱۱۵) أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ ---- دمشركينو دغلط خيال تردید- چه دوی وېٖ ګنی ځمونږله به شریعت نه راکولې کیږی او په خپله خوخه به زندګی تیرو او بیا به الله تعالیٰ ته تلل نه وی-

(۱۱٦) فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ---- تر آخر تر سورت- دټول سورة نچوړ او دعوی دتوحید چه الله تعالیٰ دشریکانو نه پاک اومنزه دې صرف هغه کارساز او متصرف دې او الملک دې نو نذر او نیاز دهغه اوکړئ او صرف هغه په خپلو حاجاتو کښې رامدد کړئ او دهغه نه طلب مغفرت اوکړئ نو کامیاب به شئ او چه څوک بل چاته کارساز او متصرف وائی او هغه رامدد کوی نو هغه ناکام او برباد دې-

## حاصل دسورة

یو الله تعالیٰ حق او کارساز او متصرف دې نو صرف دهغه عبادت اوکړئ او دهغه نه خپل حاجات اوغواړئ دبل چانه نه - داخبره په عقل او نقل او وحی ثابته ده نو چه چا داومنله او ځان ئې مزین او خائسته کړو پدې نو داخلق کامیاب شو او چه کوم خلق ددې نه انکار اوکړی او شرک دعقیدې او دعمل اوکړی بل څوک په حاجاتو کښې رامدد کړی او بل چاله نذر ونیاز کوی نو دا خلق په دنیا او په آخر کښې تباه او ناکام دی -

نو دا لنډه خلاصه ده چه موحدین په حاجاتوکښې صرف الله رامدد کوی-نو کامیاب شو او کافر چه نور رامدد کوی نو ناکام شو - ( انوار التبیان للقاضی شمس الدین رحمة الله تعالیٰ علیہ )

## امتیازات السورة

(۱) په کثرت داوصافو دومنانو -

(۲) تفصیل دخلقت دانسان ۱۲-

(۳) دلیل اجماعی په رد دشرک فعلی ۵۱-

(٤) په دلائل عقليه اعترافيه باندې ٨٤ تا ٨٩-

(٥) ومن ورائهم برزخ - ١٠٠

(٦) قال اخسئوا- ١٠٨

تمت سورة المومنون بعون رب الحياة المنون -

٢١ شوال المكرم ١٤٣٣ يوم السبت ٨ ستمبر ٢٠١٢ ء ٤٥ : ٠٤ عصر

وانا مسجون برجاء الخلاص رب ادخلنى مدخل صدق واخرجنى مخرج صدق واجعل لى من لدنک سلطانا نصيرا-

الهى تجاوز عن ضعيف قد دعاک
و جاء راجيا يرجو نداک

فانه وان يک يامهيمن قد عصاک
فما سجد لمعبود سواک

سورة النور مدنية
نزولا (۱۰۲) مصحفا (۲۴)
ركوعات (۹) ايات (۶۴)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة النور

سورة النور مدنی سورت دي په نزول کښې يوسل دويم (۱۰۲) نمبر دې پس دسورة الحشر نه او په ترتيب مصحفی کښې (۲٤) نمبر څليريشتم نمبر دې پس دسورة المومنون نه -

## مناسبت دمخکښې سورة سره

دسورة ربط ،جوړ او مناسبت دسورة المومنون سره په مختلفو وجوهو باندې دهغې نه څه وجې دلته ذکر کيږی-

**اوله وجه** : په مخکښې سورة کښې اصلاح دعقيدې اوشوه نو پدې سورة کښې اصلاح دمعاشرې کوی يعنی چه د شرک د هر قسم نه پاک شوې نو اوس معاشره هم دفحشاء نه پاکه که چه توحيد ترقی اوکړی په پليته معاشره کښې توحيد ترقی نه کوی -

**دويمه وجه** : په مخکښې سورة کښې دمومنانو اوصاف مادحه يعنی خکلی صفات بيان شو نو پدې سورة کښې اجتناب عن القبائح چه هسې نه خکلې ځان پدې سخا او ګنده اخلاقو ګنده نه کړې- نو دګنده اخلاقو نه پرهيز اوکړئ-

**دريمه وجه** : په سورة المومنون کښې اووئيل چه " ولهم اعمال دون ذلک " ٦٣ کښې نو په سورة النور دهغې نه څه ذکر کوی چې په مقتداء دمسلمانانو تهمت لګوی چه مسلمانان دخپل مقتداء نه خلاف شی نو خبردار دمنافق مه منئ اودخپل مقتداء اومنئ-

**څلورمه وجه** : مخکښې سورة کښې توحيد او رد دشرک نودې سورة کښې وائی که زړه منور کول غواړې په نور دتوحيد باندې نو راشه دسورة النور احکامات اومنه نوستا زړه ته به نور دتوحيد حاصل شی-

**پنځمه وجه** : دسورة المومنين په آخر کښې اووې چه رب اغفر وارحم نو دلته هغه رحمت دالله تعالیٰ ذکر کوی په راتللو داحکامو سره چه سورة النور دالله تعالیٰ لوئې رحم دې-

**دعوی دسورة**

سورة النور چه دکومې مسئلې خدمت کوی او کوم اصلی مضمون دده دې نو هغه دې : " الاجتناب من الاوصاف المنکرة ورد الرسومات الباطلة " - دغلطو او ناکاره اخلاقو او صفتونو نه ځان بچ کول او رد دغلطو طور طريقو په معاشره کښې - لنډه دا چه سورة النور معاشره دغلطو اعمالو نه او غلطو کارونو نه پاکوی چه معاشره کښې دې فحشاء او پليتی نه وی - نو که داسې شی چه دعوی دسورة النور " دفع الفحشاء " ده چه هغه هر قسمه پليتی وی که موجوده او که راتلونکې وی نو هغه ختموی او که قولی وی او که فعلی وی-

خبردارې : دفائدې په طور يوخبره ليکلې کيږی هغه ده چه انسان الله رب العزت اشرف المخلوقات پيدا کړې خو هر کله چه دې په خپل انسانيت باندې برقرار پاتې شی قرآنی تعليم انسان دفرشتو نه هم بهتر کړی- قرآن تعليم اثر دادې چه انسان کښې ملکيت راشی او سبُعيت درنده والې او حيوانيت دځناورو اخلاق ترې ختم شی هر کله چه کومه معاشره کښې فحشاء سوا شی لکه ديورپ معاشره نو دا د انسانانو معاشره نده په هغې کښې دچا د عزت خيال نشی ساتلې کيدلې چه هرکله مومن دفحشاء مقابله اوکړه دنفس او شيطان نو دې دعامو فرشتو نه بهتر شی نو ديکښې ملکيت پيدا شی نو سورة النور معاشره پاکوی چه سمه دفرشتو معاشره شی عزتونه محفوظ شی نو

فحشاء په دوه قسمه ده اول واقع چه موجوده وی راغلی نو دهغې علاج او دفعیه او دویم متوقع چه رانشی نو دهغې سدّ باب او یوه قولی او بله فعلی د دواړو دفع سورة النور کوی نو سورة وائی چه دپلیتو اوصافو نه بالکل ځان پاک کړه- ( نوټ سندهی ؒ )

**خلاصه او تقسیم دسورة**

**خلاصه**: ابتداء دسورة نه ترغیب دې منلو او عمل کولو ته پدې دسورة بیا تر ۱۰ نمبر آیت پورې څلور احکام دی چه په هغې سره دفع دفحشاء راځی موجوده ته به سزا آئنده له به عبرت شی - بیا واقعه دافک د ۱۰ آیت نه تر ۲٦ پورې چه په احکاماتو عمل کوئ ګنی منافقان دپیغمبر کور هم نه پریږدی- بیا د ۲۷ نه تر ۳٤ پورې اداب سبعه دی د ۳۵ نه مسئله دتوحید چه کومې ته معاشره صفا کیږی او مثالونه بیا په توحید ادله عقلیه د ٤۱ نه تر ٤٦ او د ٤۷ نه تر ۵۷ پورې د مفسد د معاشرې دمنافق ګنده اعمال او دمومن اوصاف حسنه او بشارت او تخویف اود ۵۸ نه اداب ثلاثه تر ٦۱ پورې او اختتام دسورت په ترغیب داطاعت دپیغمبر ته او په توحید او په تخویف منافقانو-

**تقسیم دسورة** : داسورة درې سبقونه دې یعنی منقسم دې دریو بابونو ته -
اول باب تر ۳٤ آیت پورې دویم تر ٤٦ پورې دریم تر آخره - تفصیل دبابونو :
باب اول : اول باب تر ۳٤ آیت پورې کښې سدّ الفحشاء او دفع دفحشاء ذکر کیږی اول آیت کښې ترغیب منلو ته او انقیاد ته - بیا احکامات اربعه لدفع الفحشاء - اول حکم په دویم آیت کښې چه " لاترحموا علی الزانی ای العاصی " - مطلب دا چه په مجرم زړه مه خوږوی د الله تعالیٰ قانون پرې جاری کړئ -
دویم حکم " هذاالفعل لایلیق بالمومنین " - زنا دمومن شایان شان نده په مومن زنا حرامه ده- ۳ آیت کښې-
دریم حکم " حکم من رمی المحصنات " سزا دهغه چا چه هغه په پاکدامنو زنانو تهمت لګوی مخکښې د دوو حکمونو کښې وې چه زنا دِ نه وی فعلاً نو اوس وائی چه

خبرې دزنا دِ هم نه وی چه ځوک فعل دزنا په څلورو ګواهانو نشی ثابتولې نو هغه دې نوم دزنا په خله نه اخلی اوکه وائې غستلو نو اتیا (۸۰) کوړې سزا ورلره ورکړه او بیا ئې چرې ګواهی مه قبلوئ- څلورم آیت کښې-

څلورم حکم " حکم اللعان " - یعنی چه دده خپله ښځه ده او ده سره تړون دې او په هغې ئې تور اولګولو دښځې خاوند څومره آزادی ده خو دهغوی مینځ کښې به هم د زنا تذکره نه کیږی او که اوشوه دلعان حکم پرې جاری کړی- شپږم نه تر نهم پورې- دیولسم آیت تر ۲٦ پورې واقعه دافک او زورنې منافقانو ته او دآخرت یرې او پاکی دعائشې رضی الله عنه ا او صفوان رضی الله عنه - اشاره چه منافقان په پیغمبر هم تهمت لګوی-الله رحم اوکړو چه سورة النور ئې رااولیږلو چه دمنافقانو دتهمت لارې بندې شی نو تاسو پرې عمل اوکړئ-

د ۲۷ نه تر ۳٤ اداب سبعه د حرامو لار حرامه وی-

اول ادب په ۲۷ کښې منع داختلاط دښځې او سړی نه چه غیرو کورونو ته بې د اجازت نه مه ځئ چه د ښځو سره اختلاط نه راځی ځکه اختلاط دهرې فاحشې جرړه ده - چه هر کله داختلاط نه منع اوشوه چه د ښځو او سړو اختلاط دِ نه وی چه کور کښې منع نو بازار او یونیورستئ کښې به څه جواز اولری نو اوس شیطان وسوسه دبد نظرئ غورځوی نو دویم ادب :

دویم ادب " غض البصر للرجال " په ۳۰ کښې چه سړو ته وائی چه نظرونه خکته ساتی-

دریم ادب " غض البصر للنساء " په ۳۱ کښې چه ښځې دِ هم نظر خکته ساتی-

څلورم ادب " ولایضربن بارجلهن " ۳۱ کښې چه داسې کار دِ نه کوی چه زینت پرې بل ته خکاره شی او توجه هغه ځان ته راواړوی-

پنځم ادب " نکاح الایامیٰ " بې نکاحو له نکاح اوکړئ چه فساد ختم شی ۳۲ کښې-

شپږم ادب " والذین یبتغون " غلامان کمول دآزادولو اسباب برابرول چه دې سره بد عملی ختمه شی - ۳۳ کښې-

اووم ادب " ولاتكرهوا فتيٰتكم " د جينكو دپاره دبې حيايۍ اسباب مه برابروئ- ۳۳ چه پدې ادابو عمل اوکړئ او ځان پرې خائسته کړئ نو دفحشاء نه بچ شی- په ۳٤ کښې ترغيب منلو ته او دې احکامو ته -

دويم باب : د ۳۵ نه تر ٤٦ پورې پديکښې مسئله دتوحيد چه دکومې مسئلې منافقان مخ نيوې کوی او دهغې دوجې مقتداء بدناموی نو هغه اظهر من الشمس ده او ددې مسئلې له معاشره صفا کيږی-

دوه مثالونه دعمل دمشرک ۳۹ او ٤٠ کښې او بيا دلائل عقليه په توحيد باندې د ٤١ نه تر ٤٥ پورې او په ٤٦ کښې اهميت دقرآن او ترغيب-

دريم باب : د ٤٧ نه تر آخر تر سورته پورې پديکښې اول خباثت او ګندګی دهغه خلقو چه هغوی په قرآن معاشره نه جوړوی تر ٥٠ پورې بيا ٥١ ،٥٢ کښې په مقابله کښې دمومنانو اوصاف چه هغوی پدې معاشره جوروی نو بشارت او بيا زجر او ترغيب اتباع ته او بشارت په ٥٥ کښې او تخويف د ٥٨ نه تر ٦١ پورې اداب ثلاثه مومنانو ته چه سورة ددې دپاره چلولې شوې دې - د ٦٢ نه ترغيب اتباع دنبی عليه السلام او تخويف منافقانو ته او مسئله دتوحيد باندې ختم شوې-

اول باب کښې دفع فحشاء دويم کښې مسئله دتوحيد دريم خباثت او ترغيب اتباع ته-

تمت خلاصة النور بعون الغفور - ۲۱ شوال عشاء-

## نظم الآيات فى السلك

يعنى د آيتونو داسې طريقې سره پييل او يوځائې کول لکه ملغلرې چه مزی کښې پيئلې شی-

(۱) سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا ---- ددې ځائې نه تر ۳٤ آيت پورې اولنې باب او پديکښی ختمول دپليتئ دی اول ځلور احکامات بيا دافک واقعې تذکره او بيا اداب سبعه اووه آداب-

(۱) سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا ---- دا يو ايت تمهيد دې ټول سورة او دسورة مقام پکښې ذکر کيږی-او منلو ته او عمل ته ترغيبونه دی-
سُورَةٌ - ترغيب اول چه ډير عظيم الشان سورة دې-
أَنْزَلْنَاهَا - دويم ترغيب - چه ددې نازلونکې ذات ډير اوچت دې-
وَفَرَضْنَاهَا - دريم ترغيب چه ددې احکامات قطعی دی- څه شک پکښې نشته- او منسوخ پکښې نشته څوک ئې بدلولې نشی- اوس خلق دسورة النور احکامات بدلوی ځکه خو اقبال وئيلی دی چه :
*خود بدلتے نہیں قرآن کو بدل دیتے ہیں ہوئے کس درجہ فقیہان حرم بے توفیق*
وَأَنْزَلْنَا - څلورم ترغيب - دتوحيد او روښن دلائل پکښې ذکر دی- لکه " الله نور " -
لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ - پنځم ترغيب دعمل کولو فائدې ئې ستاجولئ ته درځی نصيحت به واخلې معاشره به پاکه شی نسب به دِ محفوظ پاتې شی-
(۲) الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا ---- پدې آيت کښې حکم اول داحکام اربعو نه چه هغه دې " لاترحموا علی الزانی ای العاصی " لاتاخذکم سره دا ذکر کوی چه په مجرم باندې ترس مه کوئ چه کوم قانون الله تعالیٰ مقرر کړې دې نو هغه پرې نافذ کړی دې سره به جرم کم شی او ګنی نو جرمونه به زيات شی چه تاسو حدود نه جاری کوئ-
__فائده:__ شيخ القرآن رحمة الله تعالیٰ چه داحکم په سمط الدرر کښې ذکر کوی نو هغه وائی چه " ای العاصی " يعنی هر مجرم او نافرمانه - خبری ئې عامه کړې - دا دحضرت شيخ القرآن رحمة الله تعالیٰ کمال دې پدې حاذق علماء پوهيږی چه دجزياتو نه کلی راوباسی - شيخ القرآن ترې قاعده جوړه کړه چه هر مجرم له دجرم سزا ورکوی چه کومه سزا ورلره الله تعالیٰ مقرر کړې ده او زړه پرې مه خوږوئ- نوقرآن ولې عصيان مطلق نه ذکر کوو نو دا ځکه چه بيا ددې خاص معامله لکه دلته زنا شوه قباحت نه معلوميدلو نو ځکه دزنا تذکره اوکړه- ( من تقريرات شيخ القرآن مولانا سميع الحق صاحب بارک الله فی صحته وعمره )-

إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ ---- ترغيب اجراء دقانون ته-
وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا ---- ادب سزا ورکولو چه سزا په بنده کمره کښې وی نو فائده ئې نشته په عام ځائې کښې چه خلق اوويني چه عبرت ترې واخلي اود گناه نه بچ شی-
(٣) الزَّانِي لَا يَنْكِحُ --- دويم حکم چه " انّ هذا العقل لايليق بالمومنين " - يعنی زنا دمومن شايان شان نده- ځکه چه " حُرم " دا په مسلمانانو حرامه ده-
(٤) وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ---- دريم حکم - " حکم من رمی المحصنات " يعنی سزا د هغه چا چه هغه په پاکدامنو ښځو تهمت لګوی- يعنی چه کله دا معلومه شوه چه زنا په مومنانو حرامه ده او دمومنان دشان نه ډيره لرې ده نو که څوک په يو پاک دزنا تهمت اولګوی نو څلور ګواهان ترې طلب کړئ او که ګواهان ورسره نه وی نو بيا سزا مذکوره ورکړئ- دا ځکه چه دسزا تذکره کمه شی نو چه دکوم شی تذکره نه وی نو دهغې قباحت په ذهنونو کښې زيات وی او چه ډير ياديږی نو هغه سپکيږی نو تذکره د زنا او يو بل ته دزنا کنځل مه کوئ-
(٦ )وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ ---- پدې آيتونو کښې تر (٩) پورې څلورم حکم چه هغه دې " اللعان " يعنی چه سړې په خپله ښځه تهمت اولګوی نو څه به کيږی نو دهغې طريقه چه ګواهان نه وی - اشاره ده چه دښځې او خاوند مينځ کښې آزادی ده خو دوی به هم يو بل ته د زنا ټکې نه يادوی دا دمسلمان دشان سره مناسب نه ده -
(١٠) وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ ---- احسان دباری تعالیٰ په راتلو دسورة النور باندې دالله فضل او مهربانی ده - چه سورة النور ئې راوليږلو چه ستاسو معاشره پاکه شی او عزتونه مو محفوظ شی که دا نوې نو شرميدلی به وی - نه ګورئ منافقان بې دينه خو پاک خلق هم نه معاف کوی او په هغوی تهمت لګوی نو ورپسې واقعه دافک -
(١١) إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ ---- ددې ځائې نه تر آيت ٢٦ پورې زورنې يرې او اٰداب - په عائشه رضی الله تعالیٰ نه چه تهمت لګيدلې وو نو لګونکی د تهمت خو سره منافقان وو دد پروپيګنډې نه يو څو مخلص مسلمانان هم متاثره شوی وو او ځنې چپ

پاتې شوی وو چه مونږ هيڅ نشو وئيلې او اکثر ورد کرې وو چه دا دروغ دی- نو قرآن به زورنې ورکوی منافقانو ته هم او هغه مومنانو ته هم چه کوم پکښې دناپوهئ دلاسه حصه دار شوی وو او چه کوم چپ پاتې شوی وو- دا ادب شو چه په صحابی چا بد وئيل نو حصه دار کيدل خو درکنار خو چپ هم نه پاتې کيږې بلکه دهغې رد به کوې او دصحابی صفای به پيش کوې-

إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ --- دا زجر منافقانو ته-

لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَكُمْ ---- حکمت او فائده په تهمت کښې - هم دعائشې رضی الله عنها او مقام ئې معلوم شو هم دعامو مسلمانانو اداب راغلل-

لِكُلِّ امْرِئٍ مِنهمْ ---- تخويف يره منافقانو ته -

وَالَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ ---- يره دمنافقانو ليډر او اصل جوړونکی دتهمت ته-

(١٢) لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ---- دا زورنه خاموشو مومنانو ته چه ولې تاسو دا تهمت وا وريدلو نو درد نه غلی پاتې شوئ تاسو له پکار وو چه تاسو فوراً وئيلې وې چه مونږ په عام مومن داګمان نشو کولې ځکه دمومن دشان نه زنا لرې ده - او فوراً به مو وئيلې چه دا صاف دروغ دی-

(١٣) لَوْلَا جَاءُوا عَلَيْهِ ---- دا هم زورنه چپو ته چه دانه چه د دوی د دروغژنتيا دليل نه وو دليل ئې وو چه هغه دګواهانو نيش والې وو-

(١٤) وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ ---- دا زجر او زورنه حصه دارو مومنانو ته - تر ١٦ آيت پورې- چه ستاسو دا بې دليله خبرو کښې حصه دار کيدل انتهائی لوئې جرم او دعذاب مستحق کيدل وو پکار ده چه فوراً عذاب راغلې وو خو الله تعالیٰ مهربانی اوکړه او عذاب ئې درنه کړو تاسو له صفا رد پکار وو چه " سبحنک هذا بهتان عظيم "

(١٧) يَعِظُكُمُ اللَّهُ --- آئنده دپاره ادب - چه اوس الله تعالیٰ محفوظ کړئ دعذاب نه خو آئنده چرته ورنزدې نشئ-

(١٨) وَيُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ ---- مقام دسورت-

(۱۹) إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ ---- تهمت جوړونكو ته يره چه منافقان وو او دهغوی مقصد چه فاحشه خوره شی-
(۲۰) وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ ---- احسان په مومنانو او زورنه چه مستحق دعذاب وئ خو الله تعالیٰ مهربانی اوکړه-
(۲۱) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- ادب مومنانو - چه تهمت لګول دا دشيطان اتباع ده نو ځان دشيطان داتباع نه بچ کړئ - او ددې کارونو حکم هغه کوی - الله تعالیٰ معاشره پاکوی-
(۲۲) وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ ---- ادب ابوبکر صديق رضی الله عنه ته - عام هم چه کوم مخلص مسلمانان په ناپوهئ پدې تهمت کښې شريک شوی وو او اوس په خپل کار خفه دی نو دهغوی نه خپل احسانات مه کټ کوئ ستاسو په معافی کولو هغوی ته به الله تعالیٰ تاسو ته معافی اوکړی-
(۲۳) إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ---- ددې ځائې نه تر (۲۵)الْحَقُّ الْمُبِينُ- پورې تخويف او يره دآخرت دعذاب نه منافقانو ته - چه دوی به دخپلو کړو مکمله بدله ملاؤ شی-لعنت او عذاب عظيم-
(۲۶) الْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ --- بشارت اوخوشحالی- د عائشې رضی الله عنها افعال طيب دی .
(۲۷) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- ددې ځائې نه اووه آداب ذکرکوی چه ددې کارونو نه ځان اوساتئ نو دبد کارئ دروازې به بند شی- او تهمتونه به نه لګی-معاشره به پاکه شی-
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- دا ادب اول چه پردی کور ته بې اجازته مه ځئ - چه په زنانه نظر اونه لګی او زنانه سره اختلاط رانشی دشيطان اول کوشش داوی چه هلک او جينئ يوځائې کينوی نو ددې ادب حاصل دا چې مخلوط طرز نه ځان اوساتئ -
تستانسوا : اول ادب داجازت - وتسلموا : دويم ادب -
ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ ---- ترغيب عمل ته چه فائده ئې ستا ده دتهمت نه به بچ شې-

(۲۸) فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا ---- دريم ادب داجازت غوختلو-
(۲۹) لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ ---- حكم دسرائې هوټل وغيره-
(۳۰) قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ ---- دويم ادب : حفاظت نظر - شيطان داختلاط دبنديدلو نه روستو هلک ته وسوسه اچوی چه جينئ ته اوګوره او چوک ته وغيره کښې اودريږه نوحکم دحفاظت نظر-
ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ ---- فائده ئې ستا ده چه زړه به دې دغلطو خيالاتو نه محفوظ او پاک شی-
إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ- نسخه دحفاظت النظر - چه الله په سر حاظر ناظر ګڼړه-
(۳۱) وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ ---- دريم ادب - حفاظت د نظر زنانو له - اوس چه په هلک پابندی اولګيده نو شيطان به جينئ ته وسوسه غورځوی چه دې هلک ته اوګوره نو دهغې بنديز چه جينکو له هم حفاظت د نظر پکار دې دا نه چه دوی آزادې او چه څه کوی نو کوی دې- بيا دزينت څه جزی آداب ذکر کوی-
وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ ---- څلورم ادب - ښځې دِ اظهار دخائست د پاره دپيزار نه ټس نه اوباسی- چه غير خلق ځان ته متوجه کړی - لکه دمستې قچرې- ځکه خطره ده چه دخلقو زړونه به ديته مائل شی-
وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا ---- ترغيب-
(۳۲) وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَى مِنْكُمْ ---- پنځم ادب - نکاح الايامیٰ - چه دفساد جرړه هغه په معاشره کښې د بې نکاحو هلکانو او جينکو زياتيدل نو تاسو د نکاحونو بندوبست اوکړئ چه دفساد مواقع کم شی-
(۳۳) وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ ---- ادب بې نکاحو ته چه تر څو پورې نکاح نوی شوی نو ځان دِ دګناه نه مکمل ساتی-
وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ ---- شپږم ادب - چه که غلام دليک اراده کوی چه څه به دومره پيسې درکړم ما آزاد کړه نو اوکړه ورسره کتابت چه د غلامانو شرح په معاشره کښې کمه شی- او دې آزاد شی ځان له به دنکاح بندوبست اوکړی نو فساد به کم شی-

وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ ---- اووم ادب - چه په وينځو زور دزنا مه كوئ- مطلب دا چه وينځه يا لور خور هغه نكاح غواړی چه ځه نكاح اوكړم او ته خپل څه غرض خدمت او په دنيوی لالچ د وجې هغه نكاح ته نه پريږدې نو دا نكاح ته نه پريخودل دا زور په زنا دې نو داسې مه كوی- اوكه چا پرې زور اوكړو او دنكاح نه ئې بندې كړې او هغوی ځان دزنا نه بچ كړو نو پدې بچ كيدلو دزنا به ورله اجر وركړی او نكاح نه كول به ورته الله معاف كړی-[بلغة الحيران جلد ۲ صفحه ۷۹ تفسير سورة النور]

(۳٤) وَلَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ ---- ترغيب چه دادمنلو كتاب دې پدې به متقيان شئ نو داسورة النور عملی كړئ-

(۳٥) اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ---- دويم باب دسورت تر آيت (٤٦) پورې پديكښې مسئله دتوحيد په هغې دلائل عقليه او نقليه او مثال داعمالو دمشرك - مسئله دتوحيد ځه ذكر كوی چه ددې مسئلې دپاره معاشره صفا كيدله چه توحيد ترقی اوكړی- او بل ځكه چه منافق د داسې مسئلې مخ نيوې كوی چه توحيد ترقی اونكړی نوتهمتونه لګوی نو دا خو اظهر من الشمس ده او پداسې عنوان بل سورت كښې نده ذكر - اشاره ده چه موحده پدې احكامو عمل اوكړې نو زړه به دې دتوحيد په نور منور شی-

اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ---- مسئله دتوحيد په ناشنا عنوان او مثال عجيبه دنور الٰهی
-

(۳٦) فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ ---- دليل نقلی - او دې نور الٰهی دتوحيد دحاصليدلو مقامات چه توحيد دكوم ځائې نه حاصليږی -

(٤٧) رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ ---- دحاملينو دنور چه توحيد والو صفات به څه وی-

(۳۸) لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ ---- بشارت-

(٣٩) وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَعْمَالُهُمْ ---- اول مثال دعمل دمشرک او دفع دشبهې چه لکه ثنګه مسلمانان الله رامدد کوی نو دغه شان نورو مذاهبو والا هم الله تعالیٰ رامدد کوی- نو جواب چه نور قومونه صرف الله نه رامدد کوی بلکه ورسره نور حصه دار کوی نو د هغوی اعمال بې کاره وی نو دبې کاره توب مثالونه - نو دوه مثالونه ذکر کوی اول دهغه اعمالو چه په ظاهر کښې خه خکاری او په حقیقت کښې هغې کښې د فائدې په ځائې ضرر وی لکه په زیارتونو کښې لنګرې ورکول او مسافر خانې ، مهمان خانې جوړول په زیارت جمات جوړول - نو دهغې دا اول مثال-

(٤٠) أَوْ كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُجِّيٍّ ----- دویم مثال د دویم قسم اعمالو چه په ظاهر کښې هم هغه تباه و برباد دی او پشان دظلماتو دی- لکه دمشرکانو په زیارتونو کښې چکلې چلول او چرسونه فوډز او ډمتوب کول - وغیره - نو دا دویم مثال دهغې دی- *بعض ایسے اعمال ہیں کہ نوکِ قلم پہ لانے سے شرماتی ہے۔*

(٤١) أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ ----- ددې ځائې نه تر (٤٥) آیت پورې دلائل عقلیه په توحید باندې - پنځه آیتونه او پنځه دلائل دی - حاصل ئې داوو چه دلیل نقلی اووې چه معبود برحق یو الله دې نو په عقلی کښې وائی ځکه چه کارساز او متصرف صرف یو الله تعالیٰ دې - داټول دهغې دلائل دی - علیم او قدیر راوړی چه عالم او متصرف یو الله تعالیٰ دې-

(٤٦) لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ ---- آیتونه خو صاف بیان شو خو هدایت په اختیار دالله تعالیٰ کښې نو متصرف د الله تعالیٰ سره بل مه جوړوئ-

(٤٧) وَيَقُولُونَ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ ---- ددې ځائې نه دسورة دریم باب تر آخره پورې او پدیکښې دمفسدینو دمعاشرې پلیتئ او هغوی ته یره او د مصلحینو صفتونه او دهغوی کامیابی دآخرت او ددنیا او آداب ثلاثه او ترغیب اطاعت دپیغمبر ته-

وَيَقُولُونَ آمَنَّا ---- ددې نه تر ٥٠ آیت پورې دمنافقانو تهمت لګونکو پلیتی او خباثت چه دوی په خله وائی چه اطعنا او امنا خو حقیقت کښې دوی قانون قرآنی ته تیار ندی

- دخپل فائدې او خير سوچ کوی که هغه په قرآن او اسلام کښې وی نو منی ګنی نو اعراض کوی۔

(٥١) إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ ---- په مقابله کښې صفتونه دمومنانو چه د دوی مقابله کښې مومنان هغه په هر حال کښې تابعداردی نو زيرې دکامیابۍ ورکوی۔ چه هُمُ الْفَائِزُونَ۔ (٥٦) دا دترغيب دپاره چه دغه پريږدۍ دا واخلۍ۔

(٥٣) وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ ---- زجر مفسدينو او روانكارو ته - چه په خله قسم داطاعت کوی او اطاعت نه کوی۔

إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ---- يره چه ستا دزړه دحال نه الله تعالیٰ خبر دې۔

(٥٤) قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ ---- ترغيب الى الاطاعة - چه دخلې دتابعدارۍ په ځائې سمه تابعداری اوکړۍ۔

فَإِنْ تَوَلَّوْا ---- زجر په اطاعت نه کولو باندې چه ځان به خراب کړۍ۔

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ ---- بشارت دنيوی د لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ۔ (٥٦) پورې - چه تاسو په قانون قرآنی کلک شۍ نو ځه به خلافت دزمکې درکړم - ددې انعام ذکر کوی۔

(١) لَيَسْتَخْلِفَنهمْ (٢) لَيُمَكِّنَنَّ (٣) وَلَيُبَدِّلَنهمْ خو شرط دا چه يَعْبُدُونَنِي -

(٥٧) لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- سره يره نه منونکو ته- چه د الله د قانون مخه نيونکۍ کامیابيدلې نشی۔

(٥٨) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- ددې ځائې نه تر ٦١ پورې درې اداب ذکرکوی د اصلاح دمعاشرې او دفع دفحشاء چه په کومه مسئله سورت شروع شوې وو نو هغه آخرکښې راوړله چه سورت هم ددې مسئلې دپاره چلولې شوې۔

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ---- پدې دوو آيتونو کښې ادب اول چه په اوقات ثلاثو درې اوقاتو کښې دِ نابالغه هم او وينځې غلامان هم اجازت اخلی۔

(٦٠) وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي ---- دويم ادب چه دپوخ عمر زنانه چه دهغې جنسي خواهش ختم شوې وو نو ه چيل وغيره غټ پړونې په سر نه کړی نو خير دې البته مکمله پرده اولیٰ ده-

(٦١) لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ ---- دريم ادب - ددې ادابو مقصد نفرت خوروول ندی- بلکه پاکدامنی حاصلول دی - نو که څوک ورله پدې کورونو کښې دخوراک دعوت درکړی نو بالکل دننه تلې شئ- او اداب دکور ته دتلو او دخوراک ذکرکوی-

كَذَلِكَ ---- ترغيب داحكامو تعميل ته -

(٦٢) إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ ---- ددې ځائې نه ترغيب تابعدارئ دپيغمبر ته او بيا مقابله دمومنانو او منافقانو - چه مومن دمجلس د علم کښې د آداب شرعيو لحاظ ساتی - او منافق داسې نه کوی - مومن چه کله نبی عليه السلام اهمه خبره کوی لکه اصلاح دمعاشرې نو دهغې دخوا نه نه ځی-

(٦٣) لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ ---- ادب او تخويف چه منافق د ادب لحاظ نه ساتی - هغه چه اصلاح دمعاشرې کيږی نو روانيږی او مخالفت کوی نو په دنيا او په آخرت کښې ورله سزا-

(٦٤) أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ ---- مسئله توحيد- متصرف الله دې اختيارات دهغه دی نو معاشره به دهغه په قانون جوړيږی نه که د بل چا په قانون باندې- او صرف دهغه عبادت اوکړی- او عالم الغيب هغه دې نو چه څوک مخالفت کوی نو هغه ته معلوم دی- سزا به ورکړی- سورة النور کښې دمسئلې دتوحيد دذکر کولو مقصد هم دادې چه داهم توحيد دې- چه داصلاح دمعاشرې اختيار صرف دالله تعالیٰ دې نه که د بل چا-

## حاصل دسورة

په مومنون کښې خائسته شوئ نو اوس د رزائل او پليت اعمالو نه ځان اوساتئ چه گنده نه شئ- او دپليتئ دختمولو دپاره قوانين اربعه او اداب سبعه - او چه څوک پدې

معاشره نه سموی او فحشاء خوروی نو هغوی ته زورنې دهغوی دناکامۍ اعلان چه تباه او برباد دی - نو اوس به توحید ترقی اوکړی او دا اهم توحید دې چه دالله په قانون معاشره جوړه کړۍ-

**امتیازات**

(١) الاحکام الاربعة لسدّ الفحشاء -

(٢) تهمت لګونکو ته زواجر -

(٣) الاداب السبعه لسدّ باب الزناء-

(٤) الخبیثٰت للخبیثین - ٢٦

(٥) مقام دابوبکر رضی الله عنه - ٢٢

(٦) آیة النور - ٣٥

(٧ ) مثالونه دعملونو دمشرک - ٣٩،٤٠

(٨) والله خلق کلّ دابة من ماء - او اقسام د مخلوق- ٤٥ -

(٩) آیة الاستخلاف - ٥٥

(١٠) اداب ثلاثه - ٥٨ -

(١١) لاتجعلوا دعاء الرسول -

تمت سورة النور بعون الملک الغفور تقبلّها منی یا شکور-

څه په جیل کښې ناست یم انتهائی خفه او پریشان ځکه نن دسبقونو شروع کیدلو ورځ او په نهه کاله کښې دمدرسې نه ځما اوله غیر حاضری ده خو د وس نه مِ نده امید دې چه دطالبانو په دعاء به خدائې زر رهاکړی - ان شاء الله تعالیٰ او خپل چمن او ګلانو له به لاړ شم - الله دِ اوکړی - آمین

٢٢ شوال المکرم ١٤٣٣ه ٩ ستمبر - ٤٧ : ٠٣ عصر

سورة الفرقان مکیة
نزولا (۴۲) مصحفا (۲۵)
رکوعات (۶) ایات (۷۷)

بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة الفرقان

سورة الفرقان مکی سورة دي په نزول کښې دوه څلویښتم (٤٢) نمبر دې پس دسورة يٰس نه او په ترتيب مصحفی کښې ۲۵ نمبر دې پس دسورة النور نه -

## تعلق دسورة دمخکښې سورة سره

مناسبت او ربط دسورة الفرقان دسورة النور سره په ډيرو وجوهو دې څه دهغې نه -

**اوله وجه** : په مخکښې سورتونو کښې دکهف نه تر دې ځائې پورې نفی دشرک اعتقادی وه چه کارساز او متصرف صرف يو الله تعالیٰ دې نو په دِ سورة کښې پرې تفريع کوی نفی دشرک فی البرکات چه برکتونه غورځونکې او خيرونه ورکونکې يو الله تعالیٰ دې بل څوک نه - دا به تر سبا پورې وی-

**دويمه وجه** : چه په مخکښې سورة کښې احوال دمنافقينو ذکر شو نو پدې سورة کښې احوال دمشرکينو ذکر کوی-

**دريمه وجه** : په سورة الکهف کښې اووې چه نيکان بنديان په غيبو نه پوهيږی په مريم کښې وې چه الله ته عاجزان دی په طٰهٰ کښې وئيل چه په هغوی خپله مصيبتونه راغلی وو او په انبياء کښې وئيل چه مونږ به ئې رامدد کولو او منع به ئې کوله د شرک فعلی نه لکه حج کښې او شرک اعتقادی نه هم لکه مومنون کښې او منع به ئې کوله د فحشاء نه لکه په نور کښې نو دا سورة پرې تفريع کوی نفی دشرک فی البرکات - دا دريم حصې دقرآن دعوی هم وه او چه په مقاصد اربعه کوم شبهات راځی نو هغه به رد کړی او دلائل عقليه به پرې قائم کړی-

**څلورمه وجه** : مخکښې نفی دشرک اعتقادی او فعلی اوشوه نو اوس دفع س شبهات کوی - چه مقصد تام شی-

**پنځمه وجه** : مخکښې سورة کښې دفع دفحشاء ظاهره وه ، ظاهری پليتی ختموله نو پدې سورة کښې دفع دفحشاء باطنه چه هغه شبهات شرکيه دی- يعنی دلته پټه پليتی ختموی-

**دعوی دسورة**

دسورة مرکزی مضمون حضرت شيخ القرآن عليه الغفران په ظاهرو ټکو په سمط الدرر کښې په عنوان دعوی او مقصد ندې ليکلې خو دځنو عبارتونو نه صراحةً معلوميږی چه دعوی دسورة " نفی دشرک فی البرکات " ده - ۱،۱۰،۶۱ کښې دعوی دسورة ذکر کوی-

**وضاحت ددعوی** : چه دخير او برکت مالک الله تعالیٰ دې بل څوک خير او برکت نشی غورځولې - خير او برکت څو قسمه دې - يو دنيشت نه شته کول - بچې نه وی پيداکړی ، فصل رازرغون کړی - دويم قسم ساتل او پالل - لکه بچې دمور په پيو ساتل او هغه له انتظام کول او تيغ دهر څه نه محفوظ کول او ساتل - دريم غټول او دفائدې موقع ته رسول لکه بچې لوئې شی ځوان شی او دمزدورئ کولو شی- تيغ غټ شی فصل پوخ شی ددې نه مخکښې پرې څه آفت رانشی- څلورم سنبالول يعنی چه دکومې فائدې دپاره هغه څيز وی هغه ترلاسه هم شی لکه بچې صالح شی تابعدار شی دپلار په فائده راشی فصل سنبال شی ډوډئ ترې پخه شی - ددې نه مخکښې پرې څه آفت رانشی چه ده درمند نه غلا شی يا کور کندو کښې پکښې سپګځ اولګی- بل مثال ډوډئ نه وی ورکړی چه ورکړی نو بيا تا دخوراک اهل کړی بيا ته اوخورې او په هغه موړ شې چه روانې اونکړی - داټول خيرونه مشرکانو دبل چا په لاس کښې ګڼړلی وو راکوی ئې فلانې او ساتی ئې فلانې او غټوی ئې فلانې - قرآن اووئيل چه برکتونه هر قسم صرف ديو الله ته په لاس کښې وی بل چاله دبرکت اختيار نشته دې- نوسورة کښې نفی

دشرک فی البرکات کوی۔ ( از تقریرات شیخ الاسلام مولانا ولی الله الشهید کابلگرامی رحمة الله تعالیٰ علیه تلمیذ رشید شیخ القرآن علیه الرحمة والغفران )

## خلاصه دسورة

سورة کښې بیان دې چه هر قسم خیرونه او برکتونه الله غورځوی نو دا سورت پدې انداز بیانوی چه دابتداء نه دلائل عقلیه بیا زجر ۳ کښې بیا دفع دشبهات په قرآن او پیغمبر تر آیت ۳٤ پورې - مینځ به زواجر او تخویفات او لنډ بشارت راځی۔ بیا د ۳٥ نه تر ٤٠ پورې دلائل نقلیه او نمونې دتخویف - بیا د ٤١ نه تر ٤٤ پورې زجرونه د ٤٥ نه تر ٦٢ پورې دلائل عقلیه په دعوی باندې بیانیږی او ده ٦٣ نه تر آخره پورې اوصاف دعبادالرحمٰن بیانیږی بشارت او تخویف۔

## تناسب الايات ومقاصدها

(۱) تَبَارَكَ الَّذِي ---- دعوی دسورة نفی دشرک فی البرکات -

الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ ---- دلیل وحی - چه پدې مسئله الله تعالیٰ په خپل بنده کتاب رالیږلې دې - او دلیل عقلی هم دې - د انذار دپاره ئې کتاب رالیږلې دې نو الله به مجرمانو له سزا ورکوی او حساب به کوی نو چه کله حساب کونکې او سزا ورکونکې هغه الله تعالیٰ دې نو برکت غورځونکې هم صرف یو الله تعالیٰ دې۔

(۲) الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ ---- پدې یو آیت کښې څلور دلائل عقلیه ذکر کوی - چه مالک الله او نائب او شریک ئې په تصرف کښې نشته او خالق الله تعالیٰ او اندازه کونکې یو الله تعالیٰ دې نو معلومه شوه خیر او برکت هم بل څوک نشی درکولې بې ددې الله تعالیٰ نه -

(۳) وَاتَّخَذُوا مِنْ دُونه آلِهَةً ---- زجر په شرک او په اتخاذ دنورو الهو باندې۔ یعنی سره ددې دلائلو دې نالائقو ته اوګوره چه الله تعالیٰ سره نور د برکت ذمه دار مه جوړوئ او سره ددې نه چه دوی دچا نه دبرکت اومید ساتی نو هغه خپله عاجزان دی۔

(٤) وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- زجر په انکار دپیغمنر او دقرآن چه دوی دپیغمبر ته وائی چه ته دادعوی دبرکت د ځان نه جوړولې-
فَقَدْ جَاءُوا ---- رد په دوی چه تاسو دروغ وایئ-
(٥) وَقَالُوا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ---- اعتراض ددوی په قرآن باندې-
(٦) قُلْ أَنْزَلَهُ الَّذِي ----- سره رد ددوی په اعتراض او دلیل عقلی شپږم په دعوی باندې چه عالم الغیب الله دې نو خیر او برکت هم الله غورځوی-
إِنه كَانَ ---- دعوت توبې ته چه راشئ توبه اوباسئ الله به مو معاف کړی-
(٧) وَقَالُوا مَالِ هَذَا الرَّسُولِ ---- اعتراضات د دوی په پیغمبر باندې -
يَأْكُلُ - دا اول اعتراض چه دې خوراک کوی - او بازار کښې ګرځی-
لَوْلَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ ---- سره دویم اعتراض او شبهه پکار ده چه ده سره یوه فرشته وې-
أَوْ يُلْقَى إِلَيْهِ كَنْزٌ ---- دریم اعتراض -
وَقَالَ الظَّالِمُونَ ---- سره څلورم اعتراض - ددې ټولو اعتراضونو حاصل چه دوی په نبی علیه السلام کښې ددې امورو دوجې رسالت بعید دعقل نه ګڼړلو چه داځمونږعقل نه منی چه داسې سړې دې پیغمبر شی-
(٩) انْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ الْأَمْثَالَ ---- زجر په اعتراضاتو او رد په لنډه طریقه تفصیلی روستو راځی-
(١٠) تَبَارَكَ الَّذِي إِنْ شَاءَ ---- دعوی دسورة په دویم ځل اوجواب دشبهات په طریقې دلف نشر غیر مرتب - یعنی بې ترتیبه - دوی وائیل چه بنګلې او باغ اوخزانې پکار دی ده له نو جواب کوی چه : " ان شاء " - چه ددنیا په بدله کښې به الله تعالیٰ په آخرت کښې خه باغات ورکړی - خیرونه او برکتونه صرف هغه ورکوی-
(١١) بَلْ كَذَّبُوا بِالسَّاعة ---- زجر په انکار دآخرت چه ددې اعتراض کولو اصل وجه داده چه داظالمان قیامت نه منی-

وَأَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ ---- ددې نه تر كثيراً (١٤) پورې تخويف نه منونكو دقيامت ته - چه دوى له عذاب تيار دې-
(١٥) قُلْ أَذَلِكَ خَيْرٌ ---- پدې دوو آيتونو كښې بشارت منونكو ته په طريقه دتقابل سره -
(١٦) وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ ---- تخويف او عجز د الهه باطلو چه مشركان كوم باطل الهه او دبركت ذمه دار جوړوى نو دقيامت په ورځ به ددوى خلاف ګواهى كوى نو ددوى به څه حال وى دا تر آيت (١٩) عذاباً كبيراً پورې-
(٢٠) وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ ---- دمخكښې شبهاتو چه په رسالت وارد كړې وې نو دهغې جواب په طريقې دنقض چه تيرو انبياؤ به خوراک كولو او بازار كښې به ګرځيدل نو ستاسو وينا مطابق دهغوى پيغمبرى هم ثابته نشوه-
وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَة---- تخويف - ديو بل دپاره امتحان يئ او الله رب العزت ليدونكې نو څه جواب به وركوئ-
(٢١) وَقَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ---- د دويم شبهې چه په رسالت ئې كړې وه په (٧) كښې دهغې جواب خو شبهه دوباره ذكركوى ځكه ورسره لږ زيادت كوى-چه او " نرى ربنا "-
لَقَدِ اسْتَكْبَرُوا ---- اجمالى رد - چه چهوڻى منه بڑى بات - وړه خله او غټې خبرې-
(٢٢) يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلَائِكَةَ ---- تفصيلى رد كوى چه فرشتې په كومه ورځ اووينى نو هغه په دوى دعذاب ورځ وى او حجراً محجوراً به وائى-
(٢٣) وَقَدِمْنَا إِلَى مَا عَمِلُوا ---- يره او جواب دشبهې چه دوى خو څه نيک اعمال هم كړى وو نو جواب چه دشرک دوجې نه به هغه اعمال ختم شى-
(٢٤) أَصْحَابُ الْجَنة ---- بشارت چه منونكى دمسئلې دبركت به په مزو كښې وى
(٢٥) وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَاءُ ---- ددې ځائې نه تر (٢٩) خذولاً پورې دقيامت اثبات چه دوى انكار دآخرت كوو دهغې رد چه قيامت به راځى او تفصيلى يره چه ستاسو

برکتیان بیا تاسو نشی خلاصولې او افسوس دمجرمانو په اطاعت شیطان او ارمان کول
په اطاعت دپیغمبر پسې-خو " *اب کیا ہوت جب چڑیا چگ گئی کھیت* "
(۳۰) وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ ---- چه داد دنیا قول شی نو زورنه او زجر په پریخودلو دقرآن
چه دوی برکتیان نور ځکه جوړوی چه قرآن نه راخلی او که قول دآخرت شی نو یره
چه پیغمبر ستاخلاف وینا اوکړی نو څوک به دِ خلاص کړی-
(۳۱) وَكَذَلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ ---- تسلی ده چه داعی دعوت ورکوی ډیر په درد او دلائل او
دوی اعتراضات کوی نو داعی خفه کوی نو قرآن تسلی ورکوی چه دا ستا ددشمنئ
دوجې اعتراضات کوی او دادهر پیغمبر دپاره شوی دی - تالره د دوی مقابله کښې الله
تعالیٰ کافی دې-
(۳۲) وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا ---- زجرپه انکار دقرآن چه دجواباتو او دتخویفاتو نه روستو
دوی له منل پکار دی نو دوی التہ اعتراضات شروع کړل ، چه دا قرآن لږلږ راځی نو
معلومیږی چه ته دځان نه جوړوې-
كَذَلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ ---- سره جواب کوی چه دیکښې مقصود تثبیت یعنی مضبوطیا
ده -
(۳۳) وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ ---- تسلی دټولو اعتراضاتو سره متعلق - چه دوی کوم اعتراض
کوی نو دهغې جواب مونږ تاته وایو-
(۳٤) الَّذِينَ يُحْشَرُونَ عَلَى وُجُوهِهِمْ ---- یره چه دِ معترضینو له دقیامت ددې حال نه
یریدل پکار دی-
(۳۵) وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ ---- ددې ځائې نه تر (٤٠) پورې دلائل نقلیه او نمونې
دتخویف دنیوی - دلائل نقلیه چه اوګوره دا خیر او بې خیرې چا ورکړې وه چه انبیاء له
ئې نجات ورکړو او قومونه ئې تباه کړل معلومه شوه چه برکت دهنده صرف یو الله
تعالیٰ دې-او چه چا دبرکت ذمه دار نورخلق ګنړلی وو نوهغه څنګه تباه او برباد شو- په
(۳۷)کښې اخروی تخویف هم دې-

(٤٠) وَلَقَدْ أَتَوْا عَلَى الْقَرْيَةِ ---- چه دا مكې والا په دغه هلاک شوو قومونو تيريږی او سره ددې نه عبرت نه اخلی- شپږ اقوام ئې ذکر کړی دی-
(٤١) وَإِذَا رَأَوْكَ إِنْ يَتَّخِذُونَكَ ---- زجر - عبرت اغستل چرته دی بلکه الټه په داعی پورې استهزاء کوی-
إِنْ كَادَ لَيُضِلُّنَا ---- هم د زجر حصه ده-
وَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ---- سره يره -
(٤٣) أَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ ---- دا او ورپسې آيت دواړو زجر چه غير ته دبرکت ذمه دار دا دوئ دخواهش خبره دې پدې څه دليل نشته دې-
(٤٥) أَلَمْ تَرَ إِلَى رَبِّكَ ---- سره ددې ځائې نه تر ٦٢ آيت پورې په نفی دشرک فی البرکة باندې دلائل عقليه چه دا خيرونه ورکونکې صرف يو الله دې- دې خيرونو برکتونو ته اوګوره او عبرت تر حاصل کړه-
أَلَمْ تَرَ إِلَى رَبِّكَ ---- دا په مسئله دبرکت اووم دليل دې-
(٤٧) وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ ---- اتم دليل عقلی-
(٤٨) وَهُوَ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ ---- نهم دليل عقلی-
(٤٩) لِنُحْيِيَ بِهِ بَلْدَةً مَيْتًا ---- دمخکنې دليل حصه ده -
(٥٠) وَلَقَدْ صَرَّفْنَاهُ بَيْنَهُمْ ---- زجر چه سره دبيان د دلائل " وهی مرغی کی ايک ٹانگ " دا مشرکان دسې لګئ دی نه نيغيږی-
(٥١) وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا ---- ترغيب نبی عليه السلام ته ده بيان د مسئلې چه مسئله څمونږ دبرکت بيان کړه کچرته څما اراده وه چه په هر کلی کښې پيغمبر راوليږم دتوحيد دبيان دپاره نو کړی به م وو خو داسې م او نه کړل او ته م دټول عالم دپاره تا قيام قيامت نبی کړې چه داټول اجر وثواب تاله درکړم نو دا بوج م په تا واچوو نو مسئله بيان کړه- دا دليل په ختم نبوت هم دې-

(٥٢) فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ ---- اصول دعوت- كافر به درته بله مسئله مخې ته كوى-چه دبركت مسئله بيان شى خو مسئله بيان كړه-

وَجَاهِدْهُمْ بِهِ ---- ترغيب بيان او تعليم دقرآن ته-

(٥٣) وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ ---- لسم دليل عقلى-

(٥٤) وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا ---- يولسم دليل عقلى-

(٥٥ )وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ---- زجر په شرک - چه سره ددومره دلائلو دا نالائقه عاجزه مخلوق دالله سره حصه دار كوى او دخير بركت ذمه وار ئې ګڼړى او دهغې دپاره بيا قسما قسم عبادتونه كوى- دالله خلاف ئې دشيطان مرسته اوكړه-

(٥٦) وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا ---- په رسالت باندې دشبهاتو سره متعلق چه دوى كله خزانه كله فرشته كله معجزه غواړى نو جواب چه ستا منصب خو دا ندې ته خو صرف بشير او نذير ئې معجزات وغيره اختيار دالله تعالىٰ كښې دى-

(٥٧ )قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ ---- چه دوى نه منى نو ركاوټ څه دې ولې ته ترې څه مزدورى غواړې-

(٥٨) وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي ---- ترغيب بيان دمسئلې ته ورسره دولسم دليل عقلى- چه ته ددوى دانكار او اعتراضاتو دوجې مسئله مه پريږده صاف مسئله بيان كړه او ددوى مصائب الله ته حواله كړه-ستا به الله تعالىٰ مدد كوى-

وَكَفَى بِهِ ---- سره تخويف - چه ددوى په حال الله خبردار دې-

(٥٩) الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ ---- ديارلسم دليل عقلى-

(٦٠) وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اسْجُدُوا لِلرَّحْمَنِ ---- زجر چه باوجود ددومره دلائلو نه دتسليم او منلو ځائې د دوى نفرت سوا كيږى-

(٦١) تَبَارَكَ الَّذِي ---- څوارلسم دليل عقلى سره دذكر ددعوې نه دريم ځلى-

(٦٢) وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ ---- پنځلسم دليل عقلى

(٦٣) وَعِبَادُ الرَّحْمَنِ الَّذِينَ ---- ددې ځائې نه اوصاف دعبادالرحمٰن په هر " الذين " سره اته قسمه د نیکانو ذکرکوی - او اشاره به وی چه په آخرت کښې برکت ورکونکې هم الله تعالیٰ دې لکه چه دنیا کښې برکت ورکونکې الله دې - نو ده آخرت برکتونه به الله تعالیٰ دې خلقو له ورکوی چه پکښې دا صفتونه وی-

الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا ---- یو صفت

(٦٤) وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ ---- سره دویم صفت -

(٦٥) وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا ---- سره دریم صفت -

(٦٧) وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا ---- څلورم صفت -

(٦٨) وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ ---- پنځم صفت- ورسره ترغیب توبې ته او تخویف تر آیت (٧١) پورې - په (٧٠)کښې دشرک او کفر نه توبه - او په (٧١)کښې دعامو بد عملو نه توبه-

(٧٢) وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ ---- شپږم صفت

(٧٣) وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا ---- اووم صفت

(٧٤) وَالَّذِينَ يَقُولُونَ ---- اتم صفت

(٧٥) أُولَئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَة ---- سره بشارت چه داخلق د آخرت دخیرونو مستحق دی-

(٧٧) قُلْ مَا يَعْبَأُ بِكُمْ رَبِّي ---- تخویف چه کفر او شرک نه پریږدی او سره ددومره دلائلو نه برکت ذمه دار بل څوک ګڼړی نو خامخواه به عذابونه راځی-

## حاصل دسورة

په وحی او په عقل او په نقل دا خبره ثابته شوه چه " تبرک الذی --- " دخیر اوبرکت ورکونکې صرف یو الله تعالیٰ دې هم په دنیا کښې او هم په آخرت کښې او مشرکانو چه نور دبرکت ذمه دار جوړکړی دی-هغه عاجز دی د قیامت په ورځ به ددوی خلاف وی او چه دوی اعتراضونه کوی تکلیفات رسوی او انکار کوی نو دوی به په دنیا او

آخر کښې سزاوار شی- او بیا به ارمان کوی - ته ددې پرواه مه کوه په الله تعالیٰ ځان سپاره او مسئله بیان کړه-

سورة کښې نفی دشرک فی البرکت باندې پنځلس دلائل عقلیه او دغه شان شپږ نقلی یو وحی او جواب دشبهاتو په مقاصد اربعو او کثیر تعداد کښې زورنې بیان شوې او تخویف منکرینو ته-

## امتیازات دسورة

(۱) درې ځله مسئله او دعوی د تبارک-

(۲) د ډیرو شبهاتو چه په مقاصد اربعه واردیدیل دهغه جواب-

(۳) عجز دالهو باطلو- ۳

(٤) وقال الرسول یربّ --- ۳۰-

(٥) افسوس او ارمان د ظالم - ۲۷ ، ۲۸ -

(٦) اوصاف دعبادالرحمٰن-

تمت سورة الفرقان بعون الملک الرحمٰن

۲۳ شوال المکرم ۱٤۳۳ ه - ۱۰ ستمبر ۲۰۱۲ ء یوم الاثنین - ۲٤ : ۱۲ دوپهر .